اشرف العطايا

پښتو

شرح المطول

مؤلف:
مفتي عطامحمد ديوبندي

نشر کونکي اداره:
عبدالستار ميموريل
ويلفئير ايسوسي ايشن (رجسټرډ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

اشرف العطايا
پښتو
شرح المطول

مؤلف:
مفتي عطامحمد ديوبندي

نشر كونكي اداره:
عبدالستار ميموريل
ويلفئير ايسوسي ايشن (رجسترډ)

تول حقوق د مؤلف سره خوندي دي هيچاله دیو جزء د
چاپولو اجازت هم نسته.

د کتاب نوم.....اشرف العطایا پښتو
شرح المطول
د مؤلف نوم:.....مفتي عطامحمد
اشاعت:.....دربیم(اگست۲۰۱۵)
صفحات:..... ..... ۶۸۶
تعداد.....۱۱۰۰
نشر کونکي اداره:عبد الستار میموریل ویلفیر اپسوسي
ایشان(رجسترډ)
رابطه.....۰۳۲۳-۳۸۱۳۸۸۹
خرڅونکي اداره.....مکتبة سلطانية کوته

Maktaba Tul Ishaat.com

فہرست

Error! Bookmark n ..... ❁
4 ..... صفحہ نمبر ۱
25 ..... صفحہ نمبر ۳
46 ..... صفحہ نمبر ۴
61 ..... صفحہ نمبر ۵
89 ..... صفحہ نمبر ۷
107 ..... صفحہ نمبر ۸
125 ..... صفحہ نمبر ۹
145 ..... صفحہ نمبر ۱۰
178 ..... صفحہ نمبر ۱۳
209 ..... صفحہ نمبر ۱۴
223 ..... صفحہ نمبر ۱۵
239 ..... صفحہ نمبر ۱۶
253 ..... صفحہ نمبر ۱۷
272 ..... صفحہ نمبر ۱۸
321 ..... صفحہ نمبر ۲۱
342 ..... صفحہ نمبر ۲۲
364 ..... صفحہ نمبر ۲۳
385 ..... صفحہ نمبر ۲۴
397 ..... صفحہ نمبر ۲۵
420 ..... صفحہ نمبر ۲۶
437 ..... صفحہ نمبر ۲۷
454 ..... صفحہ نمبر ۲۸
485 ..... صفحہ نمبر ۳۰
520 ..... صفحہ نمبر ۳۲
Error! Bookmark not defined. ..... صفحہ نمبر ۳۳
551 ..... صفحہ نمبر ۳۴

صفحہ نمبر ۳۵ 558
صفحہ نمبر ۳۶ ..... Error! Bookmark not defined.
صفحہ نمبر ۳۷ 574
صفحہ نمبر ۳۸ 582
صفحہ نمبر ۳۹ 589
صفحہ نمبر ۴۰ 596
صفحہ نمبر ۴۱ 601
صفحہ نمبر ۴۲ 606
صفحہ نمبر ۴۳ 613
صفحہ نمبر ۴۴ 616
صفحہ نمبر ۴۵ 621
صفحہ نمبر ۴۶ 627
صفحہ نمبر ۴۹ 646
صفحہ نمبر ۵۱ 654
صفحہ نمبر ۵۲ 657
صفحہ نمبر ۵۳ 659
صفحہ نمبر ۵۵ 666
صفحہ نمبر ۵۶ 669
صفحہ نمبر ۵۷ 671
صفحہ نمبر ۵۸ 675
صفحہ نمبر ۵۹ 675
صفحہ نمبر ۶۰ 678
صفحہ نمبر ۶۱ 679
صفحہ نمبر ۶۲ 680
صفحہ نمبر ۶۳ 681
صفحہ نمبر ۶۴ 682

Maktaba Tul Ishaat.com

الحمد لله الذى نور قلوبنا ببيان المعاني علي وفق اعتبار المناسب و مقتضي الحال.و القي لطائف الفصاحة و البلاغة في الصدورو الاذهان. و شرح بال ارباب الاذهان لايضاح المعاني الكلم بديع البيان، ونور قلوب اصحاب التدقيق والتبيان لتنوير مباني الاحكام باقوى البرهان. و اعذب تسنيم صب علي عطاش عقول العالمين تسنيم تمجيده.وأيد نبيه باعطاء دلائل الاعجاز و شيد د ينه بالاسلوب الحكيم. و الصلوة والسلام الاتمان الاكملان علي سيد المبعوث بكتاب اعجز بيلا غته مصاقع خطباء قطحان.محمد سيد الاخيار مظهر الكل من الطاف الرحمان. و علي آله و اصحابه الذين هم معيار الدين و الذين هم بدور معالم الدين و شموس عوالم الايمان، و بذلوا جهد هم في اعلاء الدين علي الاديان.و حاربوا في تنفيذ احكامه بالسيف والقلب و اللسان والسنان. اما بعد فيقول العبد الفقير الي رحمة السميع والبصير عطامحمد بن عبدالغفار لما وجدت المطول مغلقافراثده و مستورا خرائده و مشتملا علي الصعوبات، منطويا علي التدقيقات البعيدة من اذهان طلاب الوقت الحاضر و محشي بحواشي المشكلة محتاجا الي الكشف،الوضاحة و البيان وماوجدت شرحا كافيا لمقاصده و مطالبه و كافيا لاسيما للحواشي الدقيقة في البشتو و لا في اللغت الاخرى فاومات الي قلم التحرير لسواد وجوه الصحائف سنة ١٣٢٩ هـ.فقبله ايماني و سود وجوهها لكن اغر علي الزمان قبل ان اترتب الصحائف و تركت بلدا و نقلت الي بلد آخرى، و بعد هذا جعلت الصحائف في زوايا الضياع و النسيان. و بعد مرور سنين ذكرت الصحائف لترتيب الكتاب لكن ما وجدتها لدى معطيا لاحد رفقائى للتصحيح. و جهدت ان احصل الصحائف. بفضل حصلت الصحائف ناقصا اوراقه و ضعيفا عباراته في القرأت.لكن ان اكمل و ارتب الحمدلله الآن لديك . يا قاري شرحي و آخذ النفع التمس منك ان لا تنسيني في دعائك الخير، و ان لا تنسي الذين يجاهدون في سبيل الله بالسيف و القنابذة خصوصا امير المؤمنين ملا محمد عمر ادام فيضه و اطال الله عمره لخدمة الاسلام باللسان و السنان. و التمس منك ان وجدت خطا في شرحي فلرضاءالله صححه و ان انبتني بهذا. جزاك الله.

صفحه نمبر ١ :

عبارت

الحمد(مبتدآ) لله(جار ومجرورموصوف)الذى(موصول)الهمنا(فعل، فاعل اومفعول) حقائق(مضاف) المعاني(مضاف اليه مفعول) و(عاطفه) دقائق(مضاف)البيان(مضاف اليه مفعول).و(عاطفه)خصصنا(فعل فاعل او مفعول)ببدائع (مضاف) الايادى (مضاف اليه) و(عاطفه) روائع(مضاف)الاحسان(مضاف اليه).اتقن(فعل و فاعل) بحكمته(

مضاف و مضاف اليه د اتقن متعلق) نظام(مضاف) العالم(مضاف اليه مفعول) على(حرف جار) وفق(مضاف) ما(موصول) اقتضه(فعل و مفعول) الحال(فاعل).

ترجمه

توله ستاينې دي هغه رب ته ثابتې وي چې هغه موږ ته د معانيو د حقائقو او د بيان د باريکيو ښول کړي دي. او موږ يې په نادرو ښکاره او ډيرو پټو نعمتو نو سره خاص کړي يو. او په خپل حکمت سره يې تدبير د عالم د هغه څه مطابق مضبوط ګرزولي دي د کوم چې حال تقاضي کوي.

تشريح

اول: مشکل الفاظ: الهم: دلته ددې څخه مراد ښول دي يعني موږ ته يې ښولي دي. **حقائق:** دغه د حقيقة جمعه ده هر هغه شي چې په ده سره شي ، شي جوړيږي. او دلته مطلقې ثبوت ځني مراد دی. **معاني:** د معنې جمعه ده هر هغه څه چې د يو شي څخه قصد يږي. **دقائق:** دغه د دقيقة جمعه ده لطيف او باريک. او دلته مراد اثبات د مدعې په دليل سره دی. **البيان:** هغه فصيح خبرې چې هغه تعبير د هغه شي څخه وي چې هغه د يو کس په زړه کې وي. **خصص: تخصيص** دا دی چې پرته دده په بل څه کې موجوده نه وی. **بدائع:** د بديعة جمعه په معنې سره د نادر دی. **الايادی:** د ايد جمعه ده او ايد بيا د يد جمعه ده لاس او دلته مراد نعمت دی.

روائع: په دې کې دري احتمالة دي.[1]: اجوف واوی مشتق د **روع** څخه دی په معنې سره په **تعجب** کې داچولو دی يعني هغه نعمو تونه چې په تعجب کې اچونکي دي.[2]: اجوف يايي د ريع څخه دی په معنې سره د نماء او زياتوالي دی يعني زيات نعمتونه.[3]: د **رائع** جمعه ده لکه کواهل د کاهل جمعه ده . **الاحسان:** بهله کومه عوضه شي ورکول. **اتقن:** مضبوطه کول او محکمه کول. **حکمت:** انصاف، علم او دکار سموالي او دلته مراد اراده ده. **نظام:** د نظم څخه دی د ملغرو په تار سره پيودولو ته ويل کيږي. او دلته طريقه او تدبير د عالم مراد دی. **عالم:** هغه څه چې په ده سره شي معلوميږي. جمعه يې **عالمين او عوالم** راځي. **وفق:** موافقت.

حل العواشي

حاشيه نمبر[1]:

په دې حاشيه کې څو تحقيقه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تحقيق اول: بيان د معنى لغوى او اصطلاحي د الهام: په **لغت** كي الهام مطلقي خبرتيا او علم راوستولو ته ويل كيږي. بيا عام تر دې په طريقه سره د استفاضې فكريې وي او كه دغه ډول نه وي. او الهام په **عرف** كي و اچولو ته د خبر د طرف څخه د الله ﷻ په زړه كي د بنده بيله ترتيب د صغرى او كبرى ته ويل كيږي.

﴿**فائده**﴾: علم په مجهول شي باندې په ډيرو طريقو سره رائي. د هغو طريقو څخه څه لاندې ذكر كيږي.

۱): علم په طريقه سره د الهام رائي دا ډول چې يو كس په يو شي باندې علم نه لري. نو الله ﷻ دده په زړه كي هغه وروا چوي. او د دغه كس په هغه مجهول شي باندې علم راسي. لهذا په الهام كي استفاضه فكريه نه وي.

۲): علم په طريقه د نظر رائي دا ډول چې نظر كونكي ته يو شي مجهول وي نو بيا دى صغرى او كبرى ته د دې لپاره ترتيب ور كړي چې ده ته علم په هغه مجهول شي باندې حاصل سي.

سوال: استفاضه فكريه څه ته ويل كيږي؟

جواب: و دې ته ويل كيږي چې نظر كونكي صغرى او كبرى ته ترتيب وركړي. او دى په دغه ترتيب سره د الله ﷻ څخه طلب د فيضان د علم په نتيجه باندې كوي.

سوال: نظر صحى څه ډول علم په مطلوب باندې فائده كوي؟

جواب: ددې په كيفيت كي اختلاف دى. څلور د اعتبار ور **مذهبونه** په كي سته د هغو **تفصيل** لاندې راتلونكي دى.

۱): **علامه اشعري** رحمه الله تعالى فرمائي نظر علم په مطلوب باندې په طريقه سره د عادت فائده كوي. (يعني د الله ﷻ عادت په دې باندې راغلې دى چې دى علم ورسته تر نظر په مطلوب باندې وركوي).

۲): **معتزله** فرمايي نظر علم په مطلوب باندې په طريقه سره د توليد فائده كوي. او معنى د توليد داده چې فعل د بنده وجود لره د بل فعل واجبونكي وي. او صنع لره د بنده دخل په كي نه وي. لهذا نظر كونكي تخليق د نظر و كړي بيا د دغه نظر څخه توليد د علم وسي.

۳): **حكماء** فرمايي نظر علم په مطلوب باندې په طريقه د قابليت او د اعداد فائده كوي. (يعني الله ﷻ فيضان د علم په هغه كس باندې كوي چې هغه استعداد او قابليت د علم په

نتیجه باندې لري. ځکه نظر په کامل توګه سره ذهن تیاروي. او بیا په ده باندې فیضان د علم په نتیجه باندې کوي).

۴): **امام رازی** رحمه الله تعالی فرمایي ورسته تر نظر علم په نتیجه باندې واجب دی که څه هم مخکې تر نظر واجب نه دی. **(کذا فی مسلم الثبوت ۱۴)**

دوم تحقیق: بیان د معنی مرادی د الهام: د الهام څخه مراد معنی لغوي ده نه اصطلاحي.

درېیم تحقیق: بیان د تکلف: د الهام څخه په مراد ولو کې د معنی اصطلاحي تکلف دی. ځکه ډیري مسائلي د علم المعانی او د بیان نظری دي. او علم په دوي باندې په طریقه سره د نظر وي نه د الهام. لهذا په مراد ولو کې ئې دا ډول تکلف دی.

۱): اکثر مسائلي د فنینو نظری دي. او لږ بیله استفاضه فکریه وي. او علم په دوي باندې په طریقه د الهام وي. لهذا شارح تغلیب د لږو په ډیرو باندې ورکړي. او دغه تغلیب د لږو په ډیرو باندې تکلف دی.

۲): شارح په دې کې مبالغه کړېده چې دغه مسائلي د فنینو ما ته ډیري روښانه دی. او علم زما په دوي باندې عین الهام دی. او دغه مبالغه کول تکلف دی.

۳): شارح تشبیه د علم په دغه فنینو باندې د الهام سره ورکړېده. او وجه د تشبیه ئې دا ده: لکه څه ډول په الهام کې فهمول د ملهماتو (چې د هغو الهام کول کیږي) په کامل ذکاوت سره وي. دغه ډول علم د شارح په مسائلو د دغه فنینو په کامل ذکاوت سره دی. لهذا شارح اطلاق د اسم مشبه به په مشبه باندې وکړی. او دغه تکلف دی.

څلورم تحقیق: د حقیقت د معنا ګانو بیان:

حقائق د حقیقة جمع ده. او حقیقت په لغت کې وصف په معنی سره د اسم فاعل دي. او ددې قول څخه اخیستل سوی دی "حق الشی بمعنی ثبت" شي ثابت سو. او یا په معنی سره د اسم مفعول دی (ای المثبتة) او ددې قول څخه د عربو اخیستل سوی دی "حققتُ الشی بمعنی اثبتُ الشی". ما شي ثابت کړی. او د د بیانینو په اصطلاح کې بیاو دي ته " الکلمة الثابتة او المثبتة فی مکانها" رانقل سو. حقیقت په معنی سره د ماهیت هم راځي (یعنی ما به الشی هو هو). (المنة الکامل)

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځم تحقیق: بیان د معنی مرادی د حقائق:

د حقیقت څخه په عبارت کې مراد مسائلي دی. او دغه مراد ول ئې بناء په دې مشهور قول باندې دی: حقیقت د هر علم مسائلي د هغه علم دی. او مراد ول د مسائلو د حقیقت څخه په دوو وجهو سره ذی.

۱): حقائق په معنی د ثابتة یا مثبتة دی. او د معاني څخه امور مراد دی. او اضافت د صفت و موصوف ته دی. أی الامور الثابتةاو المثبتة. او دغه پرته د مسائلو بل څه نه دی.

۲): مراد د حقیقت څخه ماهیت دی. او ماهیت د علم پرته د مسائلو بل څه نه وي.

﴿فائده﴾: علامه چلپي وایي: د حقیقت څخه که معنی لغوی مراد سي او که په معنی د ما به الشی هو هو سي په دغه دواړو تقدیرو اضافت د معانی و حقائق ته اضافت بیاني دی.

سوال: که چیري حقیقت په معنی لغوي سره سي نو بیا اضافت د حقائق و معانی څه اضافت د صفت و موصوف ته دی. او دغه اضافت بیاني نه دی. نو بیا د علامه چلپی دغه خبره چې دغه هم اضافت بیاني دی څنګه صحی سي؟

جواب: په اضافت د صفت و موصوف باندی کله کله اطلاق د اضافت بیاني کیږي. لکه په دغه خبره سره چې علامه موسی بامیاني او ملا حسن په بیان کې د فصل خطاب تصریح کړیده. (الجلبی، المفصل)

شپږم تحقیق: بیان د سوال او جواب: **سوال اول:** که چیري د حقیقت څخه مراد ماهیت سي نو په دغه تقدیر بیا جمعوالي د حقائق نه صحی کیږي. ځکه شي لره یو حقیقت وي نه متعدد. ځکه که چیري یوه شي لره متعدد حقیقتونه ثابت سي. نو په دغه تقدیر دغه شي به د درو حالو څخه خالي نه وي.

۱: دغه شی به په هر حقیقت سره حاصلیږي. دغه باطل دی. ځکه په دغه تقدیر تحصیل د حاصل رائي دا ډول چې څه وخت دغه شی په یوه حقیقت سره حاصل سي نو حصول د دغه شي بیا په هغه بل حقیقت سره پرته د تحصیل د حاصل بل څه نه دی. ځکه ماهیت او حقیقت د شی کاملونکي وي. او څه وخت چې دغه شی په یوه حقیقت سره کامله سي نو بیا بل حقیقت ته حاجت نه وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲: یا به په یوه سره حاصلیږي. او دغه هم باطل دی. ځکه هغه حقیقت چې په هغه سره دی نه حاصلیږي د هغه ځخه به استغناء راسي او دغه استغناء د ذات د ذاتي ځخه ده . او دغه باطل دی.

۳: یا به دغه شی په مجموعه سره د دغه حقائقو حاصلیږي او دغه هم باطل دی. ځکه په دغه صورت کي خلاف المفروض لازميږي دا دول چې مجموع په حیثیت سره د مجموع یو حقیقت دی او حال دا چې موږ دوی د وه حقیقت فرض کړی وه.

جواب: خلاصه د جواب داده چې دلته عبارت په تقدیر سره د مضاف دی. اصل عبارت دا دول دی "**حقائق مسائل المعاني**" لهذا هري مسئلې لره حقیقت سته. د دغه وجي حقائق ئې جمع راوړی.

دوم سوال: څه وخت چې مراد د حقائق ځخه مسائلي سوي نو په دغه تقدیر موضوع او مبادی ته د علم اجزاء د علم ویل صحی نه دی. ځکه دغه د واړه مسائلي نه دي؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې مبادی او موضوع ته د علم اجزاء د علم ویل بناء بر مسامحه دی. او دغه تسامح په دې باندي بناء ده چې علم دیر زیات احتیاج و مبادی او موضوع ته درلودی د دغه احتیاج د وجي دوی ته اجزاء د علم مسامحتاً ویل سوه. (تلخیص المحصل ۴۲)

اتم تحقیق: بیان د تدبر: په تدبر کي وطرف ته د نه صحی والي د تقدیر د مضاف په عبارت کي ورته اشاره ده. ځکه علامه چلپي په عبارت کي مراد د حقائق ځخه مسائلي کړي دی. نو په تقدیر د عبارت معنی د عبارت دا دول جوړیږي "مسائل مسائل المعاني" او دغه اضافت د شي و خپل ځان ته دی. او دغه باطل دی. ځکه اضافت یو نسبت دی منتسبین متغایرین غواړي؟

اصل جواب اول: د عبارت په صحت کي و تقدیر ته د مضاف ضرورت نسته. ځکه عبارت بیله دې هم صحی دی. ځکه چې د معاني ځخه مراد فن اول دی . او فن اول لره مسائلي سته . او په جمعوالي سره د حقائقو اشاره ئې ودې ته کړیده چې هره مسئله په منزله سره د یو علم ده . (کذا قال علامه بشر رمی)

جواب دوم: د معاني ځخه مراد فن اول دی . او دیري مسائلي لپاره د فن اول سته. لهذا په اعتبار سره د حقائقو د مسائلو حقائق ئې په صیغه سره د جمعي راوړي. (کذا قال علامه عبد الحق)

حاشیه نمبر۲:

سوال: براعة الاستهلال څه ته ویل کیږی؟

جواب: براعت الاستهلال یو مرکب لفظ د براعت او استهلال څخه دی. براعت مصدر دی ویل کیږی "برع الرجل اذا فاق علی اصحابه" څه وخت چې به یو کس په خپلو ملګرو، سر او چته سونو دغه وینا به بیا کېد ه. او استهلال هغه آواز دی چې یو کس د اولي ورځې د میاشتې د لیدلو په وخت کې ووهی. او یا هغه آواز دی چې کوشنی یې تر پیدائش ورسته د اول ځلی لپاره ووهي. او په اصطلاح کې په مقدمه کې داسې الفاظو راوړلو ته ویل کیږی کوم چې آګاهي د راتلونکي مقصد په اړه ورکوي.

سوال: براعت دلته په کوم شي سره وجود موندی؟

جواب: کله د درو فنونو (علم المعاني،علم البیان،علم البدیع) د نومونو څخه یو نوم یا دوو یا د ټولو نومونه ذکر سي. او کله کله بیا د هغه کتابو نومونو ذکر سي کوم چې په دغه فن کې (په کوم کې چې اوس دغه تصنیف تر سره کیږی) و شهرت ته رسېدلي وی،او کله کله بیا د دغه فن د اصطلاحاتو نومونه ذکر سي، لهذا په دغه ټولو سره براعت تر سره کیږی.

حاشیه نمبر۳:

په دې حاشیه کې څو تحقیقه دی.

تحقیق اول: بیان د دقائق البیان:

دقائق د دقیقة جمع ده. او دقیقة د دقة څخه اخیستل سوې دی. او دقة باریکي ته ویل کیږي - او د دې قول څخه د عربو اخیستل سوي دی "دق الشی صار دقیقاً" (شی غامض او پټ سو). او په اصل کې دقة د غلظة (سختوالي) مقابل دی. او دلته د دقائق څخه د دوم فن مسائلي مراد دی. او بیان په اصل کې مصدر دی. او په معنی سره د ظهور دی. او بیا د هغه شي (خبرې) لپاره اسم و ګرزیدي چې په هغه سره ښکاره والي د شي ژاځي. او اوس مراد ځنې فن ثاني دی.

دوم تحقیق: بیان دوجې د تخصیص د دقائق د بیان سره:

دلته چاره د بیان څخه د یوې فائدې نسته. د غه فائده په بیان کې د فرق ترمینځ د حقیقت او د دقیقت ده. خلاصه د فرق داده چې حقیقت د شي اصل د شي وي. او دقیقت هغه نکات او اسرار وي کوم چې په اصل کې د دغه شي وي. (بغیة الکامل للروحانی رحمه الله ۶۹). خلاصه داسوه: حقیقت

Maktaba Tul Ishaat.com

بالنسبت و دقیقت ته داسي دی لکه مفرد بالنسبت و مرکب ته. ځکه کوم شي چې په مفهوم کې د حقیقت معتبر دی هغه شي سره د یوه قیده په مفهوم کې د دقیقت معتبر دی. **انتهی ما فیه الفائدة**. اوس بیان د تحقیق دادي چې تخصیص د دقائق د بیان سره دوو وجهورا غلي دی.

اول وجه: په بیان کې تر حقیقت زیات اعتبار سته داډول چې په مفهوم کې د معاني کوم شي (مطابقته لمقتضی الحال) معتبر دی دغه شي سره د یو بله قید په مفهوم کې د بیان (ایراد المعنی الخ) معتبر دی. (کذا قال علامه عبد الحکیم علی الصفحة ۳۸)او دغه ډول په مفهوم کې د دقائق هم زیاتوالي معتبر وو. د دغه وجې شارح دقائق د بیان سره راوړي.

دوم وجه: څه وخت چې په مفهوم کې د بیان زیاتوالي معتبر وو نو بیان د مرکب غوندي او حقیقت د مفرد غوندي سو. اوتا مخکې داخبره وپیژندله چې دقیقت د مرکب او حقیقت د مفرد غوندی دي. د دغه وجې شارح د بیان سره دقائق راوړي.

دریم تحقیق: سوال: په کوم طریقه سره چې شارح فن معاني او فن بیان ذکر کړي دی (ای حقائق المعانی و دقائق البیان) په دغه طریقه باندې ئې فن بدیع ولې ذکر نه کړي؟

جواب اول: په نه ذکر کولو کې ئې اشاره و دې خبرې ته ده چې اعتبار و فن بدیع ته نسته. ځکه بدیع بلاغت نه فائده کوي. او دغه ډول د بلاغت د فائده کولو څخه خارج دی.

دوم جواب: د بدیع و ذکر کولو ته ضرورت نسته. ځکه څه د اهل معانیو څخه بیان او بدیع دواړه په بیان سره مسمی کوي. لهذا دلته په ذکر کولو سره د بیان اشاره و فن بیان او بدیع دواړو ته ده.

څلورم تحقیق: په حقائق المعانی کې ددوم احتمال بیان: د معانیو څخه صور ذهنیه مراد دی. او د بیان څخه هغه خبرې مراد دی چې په دوی سره بیان د دغه صورو ذهنیو راځي. نو بناء په دغه تقدیر (چې د معانیو څخه صور ذهنیه مراد سئ) په حقائق المعانی کې و دې ته اشاره ده چې مبدأ فیاض په مور باندې فیضان د صورو ذهنیو کړي دی. او په دقائق البیان کې بیا و دې ته اشاره ده چې مور بیا په طالبانو د دغه صورو ذهنیو فیضان په واسطه سره د الفاظو کوو.

پنځم تحقیق: سوال: اضافت د بیان و دقائق ته صحی نه دی. ځکه دغه اضافت، اضافت بیاني دی. او په اضافت بیاني کې مضاف او مضاف الیه سره متحد وي. او دلته اتحاد نسته. ځکه حقائق جمع او بیان مفرد دی؟

جواب: اضافت د دقائق و بيان ته صحي دی. ځکه بيان مصدر دی. او په مصدر کي افراد، تثنيه او جمع سره برابر دی. (الکافيه). لهذا دلته مصدر په معنی سره د جمعی دی.

شپږم تحقيق: د ابتدأ سره د تأليف دوجي د مناسبت بيان:

سوال: که چيري حقائق په معنی سره د صورو ذهنيو سي. او بيان په معنی سره د منطق فصيح سي نو بيا د ابتدأ سره د تأليف ډير مناسبت لري. او که چيري حقائق او بيان په معنی سره د فنينو سي نو بيا د ابتدأ سره د تأليف ډير مناسبت نه لري. د دې څه وجه ده؟

جواب: که چيري د معانيو څخه صور ذهنيه مراد سي نو بيا مناسبت ئې په دې وجه سره زيات دی چې په تأليف کي د دو شيانو ضرورت وي.

۱): د مؤلف په ذهن کي به صوری ذهنيه وی.

۲): مؤلف به د دغه صوری ذهنيو اظهار کوي.

خلاصه داسوه چې شارح په اول عبارت کي و اول ته اشاره وکړه. او دوم ته ئې بيا په دوم کي اشاره و کړه. اوس که چيري د معانی څخه فن اول مراد سي بيا دغه اشاره نه راتله. د دغه وجهي اول تقدير د اول سره د تأليف ډير مناسبت لري. ففکر و تشکر.

اوم تحقيق: بيان د وجي د تخصيص:

خلاصه دا ده چې دقت د هغه شی صفت واقع کيږي چې په هغه کي زيات اعتبار وي. دغه صفت واقع کيده ئې تر دې ښکاره دی چې صفت لپاره د هغه شي واقع سي چې په هغه کي زيات اعتبار نه وي. دغه خبره په دوم تحقيق کي تيره سوه. لهذا په راوړلو کي د دقائق د بيان سره اشعار په دې سره دی چې د دقت صفت واقع کيده د هغو الفاظو لپاره چې هغه مختلف په اعتبار سره د وضوح او د خفاء د دلالت وی اظهر تر دې دی چې دغه دقت صفت لپاره د صورو ذهنيو واقع سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

واورد رأفته فرق الانام فى طرق الانعام والافضال * والصلاة على نبيه محمد خير من نبع من ضنضئ الكرم والسماحة * واشرف من نبع من دوحة اللسن والفصاحة * وعلى آله واصحابه الذين بهم تلألأ غرة الحق واشرق وجه الدين * واضمحل دجى الباطل ولمع نور اليقين

و(عاطفه) اورد(فعل ماضي سره د فاعله) رافه(باء حرف جار، رآفت مضاف و ه ته دی)فرق(مضاف) الانام (مضاف اليه مفعول به) فی(حرف جار) طرق(مضاف) الانعام(مضاف اليه) و(عاطفه) الافضال(معطوف مضاف اليه). و(عاطفه)الصلوة(مبتدآ) على(حرف جار) نبيه(مضاف و مضاف اليه) محمد(بدل يا عطف بيان لپاره د نبي دی) خير(صفت لپاره د محمد مضاف) من(موصول مضاف اليه) نبع(فعل ماضي سره د فاعله) من(حرف جار) ضنضي(مضاف) الكرم(مضاف اليه ، معطوف عليه) و(حرف عاطفه) السماحة (مضاف اليه معطوف). و(حرف عاطفه) اشرف(مضاف صفت ثاني) من(موصول مضاف اليه) نبغ(فعل ماضي سره د فاعله) من(حرف جار) دوحة(مضاف) اللسن(مضاف اليه) و(عاطفه) الفصاحة(مضاف اليه معطوف). و(حرف عطف) على(حرف جار) آله(مضاف و مضاف اليه معطوف عليه) و(حرف عطف)اصحابه (مضاف سره د مضاف اليه، معطوف موصوف) الذين(موصول ،صفت) بهم(جار ومجرور) تلألأ (فعل ماضي)غرة(مضاف) الحق(مضاف اليه ،فاعل) و (حرف عطف)اشرق(فعل ماضي) وجه(مضاف) الدين(مضاف اليه، فاعل) و(حرف عطف) اضمحل(فعل ماضي) دجي(مضاف) الباطل(مضاف اليه فاعل) و(حرف عطف)لمع(فعل ماضي) نور(مضاف) اليقين(مضاف اليه فاعل).

ترجمه

او ده په خپل رحمت سره د خلکو تولي په لازو کي د ښکاره او د باطني نعمتونو کي داخلي کړي. او رحمت دي دده په نبي وی چي نوم يې محمد او بهتره د هغه چا دي چې هغوی د اصل څخه د عزت او جود راوتلي دي. او غوره د هغه چا دي چې هغوی د فصاحت اود بلاغت د درختي څخه را ښکاره سوی دي. او دده په آل او اصحابو باندې چې د کومو په سبب تندی د حق و زلېدی. او مخ د دين روښانه سو. او تيارې د باطل لرې سوې او د يقين او ايمان نور وزلېدی.

تشريح

اورد: داخلول. رافة: رحمت. فرق: د فرقة جمعه ده په معنې سره د تولی دی. الانام: اسم جمع د اناس من غير لفظه ده په معنې شره د خلکو دی. طرق: د طريقة جمعه ده لاري. الانعام: ښکاره نعمتونه. الافضال: د فضيلة جمعه ده باطني اوپټ نعمتونه. نبع: د نبوع څخه دی په معنې سره د خروج دی. ضنضي: اصل دشي او دلته حضرت آدم عليه السلام مراد دی. الكرم: عزت. السماحة

جود، مروت. **اشرف**: غوره. نبغ: ظهوراو بنکاره کېدل. **دوحة**: هغه درخته چې غټه او سره غورېدلې وي. او جمعه يې دوح او جمع الجمع يې دواح راځي. او دلته مراد حضرت ابراهيم و اسماعيل عليهما السلام دي. **اللسن**: د لسن څخه دی په معنې سره د فصاحت او بلاغت دی. **تلألأ**: ماضي د باب څخه د تفعلل رباعي مزيد دی. په معنې سره د زلېدولو دی. **نمرة**: د آس په تندی کې هغه سپين ټکی چې زيات تر درهم د مقدار وی. او مراد هر واضح شي وی. **الحق**: مطابقت د حکم د واقع سره. **اشرق**: روښانه کول. **وجه**: مخ. **الدين**: هغه وضعه الهي چې عقلمند و ته په خپل ښه اختيار سره د خير و طرف ته بېولنکي وی. او د دغه نسبت کله الله ته وسي د وجي د صادروالي دده څخه. او کله يې نبي ته د دې وجي وسي چې دده څخه دغه بنکاره سوی وی. او کله يې آئمو ته په دې وجه سره وسي چې دوی د دې اتباع کوي. **اضمحل**: لرې کول. **دجي**: تيارہ. **الباطل**: عدمي مطابقت د حکم د واقع سره. **لمع**: روښانه کول. **نور** هر هغه کيفيت چې خپله هم او بل لره هم روښانه کونکي وی. **اليقين**: هغه پټنګه عقيده چې د واقع سره مطابق وی او دلته مراد ايمان دی.

تشريح

حاشيه نمبر ۴:

سوال: تخصيص و څه ته ويل کيږی؟

جواب: تخصيص د يو شي په بل شي پورې دې ته ويل کيږی چې دغه يو شي په دغه بل شي سره داسي خاص وګرزول سي چې دغه اول شي د دغه دوم شي څخه وبل چا ته تجاوز کړی نه وی. لهذا دغه اول شي ته مقصور او دوم شي ته مقصور عليه ويل کيږی.

سوال: د تخصيص، خصوص او يا د دغه ماده څخه کوم بل فعل وی نو د دغه د راتلو په صورت کې باء پر چا داخليږی په مقصور او که په مقصور عليه باندی؟

جواب: پر مقصور عليه باندی داخليږی لکه ويل کيږی "خص المالُ بزيدٍ" يعنې مال تر زيد خاص سو، لهذا مالدار صرف او صرف زيد دی د زيد څخه سېوا بل څوک مالدار نه دی، لهذا دلته زيد مقصور عليه دی، او پر دغه باندی باء داخله سوېده.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: مگر په عبارت کي باء پر مقصور علیه داخلَ نه ده بلکه پر مقصور باندی داخلَ سوېده، ځکه بدائع مقصور او ضمیر د متکلم مع الغیر مقصور علیه دی، لهذا دلته باء پر بدائع داخله سوېده نه پر مقصور علیه باندی نو دا څرنګه؟

جواب: اکثر په استعمال کي هم دغه ډول ده چې باء پر مقصور داخلیږی نه پر مقصور علیه باندی لکه په دې الٰهي قول کي "يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ. (سورة ال عمران ۷۴)" یعني الله په خپل رحمت سره هغه څوک خاصوی چې دی یې و غواړی. اوس په دغه آیت مبارکه کي مقصور رحمت او مقصور علیه "من یشاء" دی. او دلته باء پر مقصور داخلَ سوېده.

سوال: په دغه صورت کي آیا دغه تخصیص په خپلَ اصلِ معني باقي پاته وی او که د دغه څخه کومَ مجازی معني مراد وی؟

جواب اول: په دغه صورت کي تخصیص متضمنَ معني لره د تمیز وی لهذا تقدیر د عبارت دا جوړیږی "میزنا ببدائع الایادی مخصصا ایاها بنا" یعني الله جل جلاله موږ ېې په نعمتو نو سره جلا کړو په داسي حال کي چې ده دغه بدائع تر موږ پورې خاص کړه. لهذا په عبارت کي ذکر سوې باء اصله لپاره د میز ده نه د تخصیص.

جواب دوم: په دغه صورت کي تخصیص مجازاً په معني سره د تمیز او جلا کوني وی نو تقدیر عبارت دا جوړیږی "میزنا ببدائع الایادی". او په تمیز په صورت کي بیا مقصور او مقصور علیه خبره د مینځ لاړه سي.

سوال: دلته په بدائع کي څه ته اشاره ده؟

جواب: په دغه کي اشاره و دریېم فن ته ده چې هغه عبارت د علم البدیع او بدائع څخه دی.

سوال: په حقائق المعاني او دقائق البیان کي اشاره و اول او دوم فن ته وه نو آیا دغه بدائع هم د هغو غوندی و دریېم فن ته اشاره ده؟

جواب: نه دغه ډول نه ده ځکه د معاني او دغه ډول د بیان په صورت کي د فنِ اول او دوم مسائلي اخیستل کېدای سي دا ډول " حقائق مسائل فن الاول و دقائق مسائل الفن الثاني " مګر د بدائع څخه مسائلي اخیستل کېدای نه سي لهذا دا ډول ویل کېدای نه سي " خصصنا بمسائل فن ثالث الایادي الخ ". لهذا دغه فرق وجود لری. البته په براعت کي دا شرط نه وی چې هغه لفظ چې

پر اصطلاح او یا پر نامه د فن کوی د هغه څخه به مسائلِ اخیستل کېدای سي بلکه محض په هغه لفظ راوړلو سره براعت ترلاسه کېدای سي.

حاشیه نمبر د:

سوال: روائع د چا جمعَ ده؟

جواب: په دغه کي دوه احتمالَ سته.

۱: دغه د رائعةٌ جمعَ ده.

سوال: دغه اجوف واوی او که یائي دی؟

جواب: دواړه کېدای سي، که چیرې واوی سي نو دغه به د روع څخه وی، او روع و تعجب ته ویل کیږی لکه څرنګه په عربُ کي ویل کیږی" رَاعَنِیَ الشَّیْءُ" یعني زه شي په تعجب کي واچولم، نو تقدیر د عبارت داجوړیږی" خصصنا بِمُعْجِبَاتُ الاحسان". او که چیرې دغه د یائي څخه سي نو دغه بیا نماء او زیاتوالي ته ویل کیږی، لکه ویل کیږی "خصصنا بِزَائِدَاتِ الاحسان".

سوال: په "الاحسان" کي الف لام د چا لپاره دی؟

جواب: دغه لپاره د استغراق دی.

سوال: روائع اضافت و الاحسان ته کوم یو دی؟

جواب: دغه اضافت بیاني دی.

سوال: اضافت بیاني په تقدیر سره د من وی نو مضاف د مضاف الیه څخه بعض وی لکه "خاتم فضة" او حال دا چي احسان جمعَ نه ده او مضاف جمعَ د. دغه جمعَ څه ډول د غیرِ جمعِ څخه یو فرد و گرزی؟

جواب: دلته احسان یا په معني عطیة دی یعني هغه شي چي چا ته ورکول سوی وی. او دغه الف لام استغراقي دی نو معني یې داسوه "روائع من کل العطیات".

۲: دغه جمعَ د "رائعٌ" ده.

سوال: هر هغه فواعل چي وصفي او پر صفت دلالت کوی هغه مؤنث د فاعلة راځي نه د فاعل، لهذا د مذکر وصفي جمعِ پر فواعل راتلای نه سي البته فاعل اسم پر فواعل وزن راتلای سي، لهذا دلته فاعل اسمي (رائع) پر فواعل جمعَ سوی دی نو دغه څرنګه تر سره سوی دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

اول جواب: دلته دغه فاعل وصفي پر ځای د فاعلِ اسمي ګرزېدلي دی ځرنګه د فاعلِ اسمي جمع پر فواعل وزن راتلای سي دغه ډول دلته فاعل صفتي هم راغلي دی.

دوم جواب: فاعلِ صفتي چې صفت لپاره د عقل لرونکي شیانو نه وی بلکه د هغه شیانو لپاره وی کوم چې د عقل څخه بې برخي وی نو د هغه جمعَ پر فواعل راتلای سي (سهوا د دروصیغو څخه "فارس فوارس، هالک هوالک، ناکس نواکس، او دغه راتلنه یې شاذ ده). ځرنګه چې رائع صفت لپاره د غیر ذوی العقل دی په دغه وجه یې جمعَ پر فواعل راغلې ده کوم چې صحی ده.

حاشیه نمبر۶:

سوال: "اتقن" په عبارت کې څه تر کیبي حیثیت لری؟

جواب: دغه صله لپاره د "الذی" ده. لهذا د موصول لپاره په دغه عبارت کې دوې صله دي.

۱: الهمنا". ۲: "اتقن".

سوال: دغه دوم صله پر اول باندی ولي عطف سوې نه ده.

جواب: دلته اصل مقصد تعریف او ستاینه د رب ده. او دلته دوه هغه شیان یې مستقل ښوونه ده پر کوم چې د الله ستاینه بیانیږی، لهذا خلاصه داسوه چې دلته هر یو د محمود علیه (هغه شي چې پر هغه ستاینه بیانیږی) څخه مستقل توګه مقصود دی، ځرنګه چې عطف پر استقلال د معطوف دلالت نه کوی. بلکه پر اتباع د معطوف لپاره د معطوف دلالت کوی. او دغه د مقصود څخه په خلاف وو په دغه وجه مصنف عاطف نه راوړی.

حاشیه نمبر۷:

سوال: په دغه حاشیه سره محشي څه ښوونه غواړي؟

جواب: دلته لغوی معناګاني د الفاظو ښوونه غواړی. چې خلاصه یې دادی. ۱: انام: دغه اسم جمعَ ده په معني سره د خلکو دی. ۲: افضال: مصدر د باب څخه د افعال دی او په معني سره احسان دی.

سوال: اضافت د "طرق" و انعام ته کوم اضافت دی؟

جواب: دغه اضافت د مشبه به و مشبه ته دی، لهذا "طرق" مشبه به او "انعام" مشبه دی. اصل عبارت داډول دی "ادخلهم فی الانعام و الافضال کالطریق فی عموم الورود" یعني الله جل جلاله انسانان

په خپل رحمت سره په انعام او افضال کې داسې داخل کړه لکه پرلاره، لهذا لکه پرلاری باندې عام او خاص تولې ځي دغه ډول انعام او افضال هم و تولو ته رسي. لهذا عموم الورود علاقه د تشبیه ده.

حاشیه نمبر ۸:

سوال: په عبارت کې "محمد" څه واقع سوی دی؟

جواب: دغه عطفِ بیان لپاره د "نبیه" دی.

سوال: آیا دغه "محمد" صفت لپاره د "نبیه" جوړېدلای نه سي؟

جواب: بالکل جوړېدلای نه سي ځکه "محمد" علم دی. او د علم په هکله نحات فرمایي چې دی موصوف جوړېدلای سي نه صفت.

سوال: آیا دغه "محمد" بدل د "نبیه" څخه هم جوړېدلای سي او که نه؟

جواب: نه، ځکه دلته مقصد د مصنف د "نبیه" (چې صفت لپاره د رسول خدا، دی) وضاحت کونه ده. او دغه وضاحت کونه د عطفِ بیان په صورت کې راتلای سي نه د بدل، ځکه په عطفِ بیان کې اصل مقصد وضاحت کونه وی البته د نسبت تکرار هم ضمناً راځي (داډول چې دغه نسبت یو ځلي مفسر او بیا عطفِ بیان ته سوی وی). مګر په بدل کې اصل مقصد تقریر او اثبات د نسبت دی او وضاحت ضمنا راځي. ځرنګه چې دلته مقصود بالذات د مخکني صفت وضاحت مقصود وو په دغه وجه دغه عطف بیان و ګرزېدی نه بدل.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: "خیر" په عبارت کې څه ترکیبي حیثیت لری؟

جواب: دغه صفت لپاره د "محمد" دی.

سوال: آیا دغه صفت لپاره د "نبیه" جوړېدلای نه سي؟

جواب: نه، جوړېدلای نه سي ځکه که چیری دی صفت لپاره د "نبیه" وای نو بیا قاعده داده چې صفت تر عطف بیان مخکې او متصل د موصوف سره وی، ځرنګه دلته متصل سوی نه دی نو د دغه څخه دا معلومه سوه چې دغه صفت د "نبیه" نه دی.

سوال: "نبع" په عینِ مهمله سره څه ته ویل کیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دغه راوتولو ته ویل کیږی، دغه صیغه ماضي او ګرزدان یې دا دول دی: نبع ،ینبع وینبع وبسع،نبْعا ونُبُوعا ونعانا، فهو نابع،والمفعول منبوع منه نبع الماءُ: خرج من العَيْن.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: "الصّنْعيُ "څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه و "اصل" ته ویل کیږی.

سوال: اضافت د" صنعي" و الکرم ته کوم اضافت دی؟

جواب: په دغه کي دوه احتمالَ سته.

۱: دغه اضافت لامي دی که چیری د "مضاف" څخه حضرت آدم، یا ابراهیم او یا اسماعیل علیهم السلام مراد سي،نو په دغه صورت کي معني دا جوړیږی " اصل الکرم" یعني اصل لپاره د کرم او سماحت چي دغه اصل حضرت آدم علیه السلام دي. لهذا معني دا جوړیږی" غوره د هغه چا دي کوم چي د اصل څخه د کرم او سماحت زا وتلي دي".

۲: دغه اضافت بیاني، اضافت د عام و خاص ته دی او په دغه صورت کي مبالغه مقصود ده نو عبارت دا جوړیږی "منشأ چي هغه کرم او سماحت ده. لهذا دی غوره د هغه څخه دي کوم چي د منشأ څخه راوتلي دي کوم منشأ چي بعینه کرم او سماحت دی.

سوال: په دغه صورت کي مبالغه څه دول تر لاسه کیږی؟

جواب: دا دول چي دلته تجرید راغلي دی ځکه دلته مضاف (صنعي) په معني سره د اصل دی او اصل ذات وی، او کرم فرعَ د ذات ده، مګر د دغه ذات د کامل کمال په وجه دی د ذاتیت څخه خالي و ګرزېدی او دی منشأ لپاره د ذات و ګرزېدی لکه پلار لپاره د اولاد.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: "غرر" په اصل کي څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه په اصل کي د آس په تندی کي و هغه سپین ټکي ته ویل کیږی کوم چي تر درهم زیات وی. بیا عاریتاً لپاره د هر هغه استعمالیږی کوم چي واضح او معروف وی.

سوال: "حق" دغه صیغه د صفت مشبه هر هغه کلام چي دده سره واقع موافق وی ، او صدق هر هغه کلام دی چي دَی د واقع سره موافق وی. لهذا د حق او د صدق تر مینځ فرق دادی چي په صدق کي موافقت د واقع سره معتبر دی. او په حق کي موافقت د واقع د کلام سره معتبر دی.

حاشیه نمبر۱۲:

سوال: دین څه ته ویل کیږی؟

جواب: هر هغه الهي وضعَ کوم چي عقلمند په خپل ښه اختیار سره دذاتي خیر و طرف ته بهونکي وی.

سوال: ددغه دین نسبت و چاته کیږی؟

جواب: ۱: کله کله ددغه نسبت و الله جل جلاله ته په دې وجه وسي چي دغه دین ده وضعَ کړی او صادر یې کړی دي.

۲: او کله کله یې و نبي ته په دې وجه وسي چي ددغه دین ظهور دده په توسط سره تر سره سوی دی.

۳: کله کله ددغه دین نسبت و امامانو ته په دې وجه وسي چي دوی ددې اتباع کوي.

حاشیه نمبر۱۳:

سوال: ضوء او نور څه ته ویل کیږی؟

جواب: نور: هر هغه کیفیت چي په خپله هم روښانه وی او بل لره هم روښانه کونکي وی.

ضوء: روښانتیا. ددوی تر مینځ فرق دادی چي ضیاء په روښانتیا کي تر نور قوی وی په دغه وجه په دې الهي قول کي و لمر ته د ضوء نسبت سوی دی: هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُورًا﴾ [یونس: 5]. او بعضو بیا ویلي دي چي ضوء واصلي روښانتیا او نور وعرضي روښانتیا ته ویل کیږی.

سوال: یقین څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه و علم ته ویل کیږی کوم چي په شک سره د مینځ ځي په دغه وجه الله جل جلاله په یقین سره موصوف کېدای نه سي.

عبارت

و(عاطفه) بعد (ظرف قائم مقام د شرط) فان(حروف مشبه بالفعل) احق (مضاف)الفضائل(مضاف الیه ، معطوف علیه،اسم) بالتقدیم (جارومجرور) و(عاطفه) اسبقها(مضاف و مضاف الیه معطوف) فی(حرف جر) استیجاب(مضاف) التعظیم(مضاف الیه) هو(ضمیر فصل، یا اسم ثاني) التحلي(مرفوع خبراول) بحقائق(جار ومجرور مضاف) العلوم(مضاف الیه معطوف علیه) و(حرف عطف) المعارف(معطوف) .و(حرف عطف) التصدی(خبر دوم) للاحاطة (جار ومجرور) بما(جار ومجرور) فی

Maktaba Tul Ishaat.com

(حرف جر) الصناعات (مجرور) من(حرف جر بياني) الكت(مجرور ، معطوف عليه) و(حرف عطف) اللطائف (معطوف).
لا(حرف لنفي الجنس) سيما(مضاف و مضاف اليه اسم) علم البيان(بدل د ما څخه او خبر محذوف دی) المطلع(صفت لپاره د
علم البيان) علي(حرف جر) نكت(مضاف)نظم(مضاف) القرآن(مضاف اليه) . فانه(حرف مشبه بالفعل سره د اسمه) كشاف
(موصوف خبر) عن(حرف جر) حقائق(مضاف) التنزيل(مضاف اليه) رائق(صفت لپاره د كشاف) . مفتاح(د رپيم خبر) لدقائق
جار ومجرور مضاف) التأويل(مضاف اليه) فائق(صفت لپاره د مفتاح). تبيان(څلورم خبر) للدلائل(جار سره د مجرور مضاف)
الاعجاز(مضاف اليه).

ترجمه

ورسته تر حمد او صلوت مناسب تره په مخكي كولو سره د فضيلتو څخه او مخكي تره په مستحق والي كي د تعظيم د فضيلتو څخه ښائسته كول په حقائقو سره د تصديقاتو او تصوراتو دی او عرضېدل دی لپاره د احاطه كولو په هغه باريكيو او لطائفو چې هغوی په علومو كي دي خصوصا علم بيان چې هغه د قرآن پر نكتو باندې اطلاع ورکونكي دی. څكه دې پر په تعجب كي اچونكي ښكاره كونكي د قرآن د حقائقو دی. او اعلي كيلي لپاره د باريكيو د تأويل دی. د بلاغت د رازو اود اعجاز د دلائلو لپاره بيان سره د دليله دی.

تشريح

الفاظ ومعاني: احق: مناسب. الفضائل: د فضيلة جمعه ده خوبي،زياتوالي، په مرتبه كي اوچتوالي. اسبق: د تفضيل صيغه په معني سره د وړاندي والي دی. استيجاب: مستحقوالي، حاصلول. تحلي: ښائسته كول. علوم: تصديقات، علوم كليه، مركبات. المعارف: تصورات، جزئيه، بسائط. تصدي: يو شي ته عارضېدل ،وړاندی كېدل. للاحاطة: چارچاپېره كېده. الصناعات: د صنعت جمعه ده په لغت كي كار ته د لاس ويل كيږي او په اصطلاح كي هغه علم چې په كيفيت سره د عمل تعلق لری ويل كيږي. او مقصود دده څخه دغه عمل وی. او دلته مراد ځني علم دی. النكت: داغ، په مځكه كي د كيندو لو اثر. او دلته مراد مسائلي د علومو دي چې په باريک نظر سره ثابتيږي. اللطائف: د لطيفة جمعه ده په معني سره د باريكي. او دلته مراد دلائل د مسائلو دي. لا سيما: خصوصا. المطلع: اطلاع ورکونكي، اطلاع راوستونكي. نظم القرآن: د كلما تو داړول مرتبول چې معناګاني يې په ترتيب سره وی او د عقل د تقاضي موافق دلالت كونكي وي. كشاف: د مبالغي صيغه ده ډير كشف او ښكاره كونكي. حقائق: د حقيقة جمعه ده. التنزيل: قرآن. رائق: صفا كېدل ، په فضيلت او ښوالي كي اوچته كېدونكي. په تعجب كي

اچونکي. مفتاح: کیلي. چابي. لدقا نق: د دقیقة جمعه باریکي. التأویل: په لغت کي راګرزولو ته ویل کیږي. او په اصطلاح کي ګرزول د لفظ د ظاهر څخه و غیري ظاهره ته ویل کیږي. فائق: اعلي. تبیان: هغه بیان چي سره ددلیله وی. الاعجاز: مصدر د باب څخه د افعال دی غیر په مثل دده د راوړولو څخه عاجزه کولو ته ویل کیږي.

حاشیه نمبر۱۴:

په دې عبارت کي څو بحثه دي.

اول: بیان دبعد: بعد ظرف زمان دی او ددې څلور حالته دی په درو کي دی معرب او په یوه حالت کي دی مبني دی.

۱: معرب: څه وخت چي دده مضاف الیه ذکر وی.

۲: معرب: څه وخت چي دده مضاف الیه بالکل محذوف وی نه په لفظ او نه په نیت کي معتبره وی.

۳: معرب: مضاف الیه محذوف مګر دهغه په بدل کي تنوین ورکول سوی یي.

۴: مبني: مضاف الیه په اعتبار د لفظ محذوف مګر د نیت په اعتبار سره معتبر وی لهذا په دغه وخت کي د غه مبني برضمه وی.

سوال: واو د څه لپاره دی؟

جواب: د اختصار دمراعت کولو په خاطر اما حذف سو او واو دده په ځای قائم مقامه وګرزېدی. ددغه وجي دده په جواب کي فاء راوړل سوه.

دوم: بیان فاء ورسته تر بعد: سوال: دلته دفاء راوړل صحی نه دي ځکه فاء څو قسمونه لري او د هغو څخه یو لاهم دلته صحی نه دي.

۱: **عاطفه:** فاء عاطفه هغه وخت رائي چي ورسته تر دې په هغه څه عطف وی چي هغه مخکي تر دې وی او دلته مخکي تر دې معطوف علیه نسته.

۲: **تفریعیه:** دا هغه وخت رائي چي مخکي تر فاء مفرع علیه وي او حال داچي دلته دغه ډول نه ده.

۳: **تعلیلیه:** دا هغه وخت چي مخکي تر فاء معلول وی او حال داچي دلته دغه ډول نه ده.

۴: **جزائیه:** دا هغه وخت رائي چي مخکي تر دې شرط وی او دلته دغه ډول نه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دلته فاء جزائیه ده او دلته ظرف (بعد) په ځای د شرط ولاړ دی لکه په دې قول الهي کې " و إذ لم يهتدوا به فسيقولون هذا إفك قديم (سورة الاحقاف 11) ". لهذا لکه څه ډول چې د شرط په جواب کې فاء راځي دغه ډول دده په ځای د قائمقام په جواب کې هم فاء راځي.

دوم جواب: فاء راوړل په اعتبار د توهم د اما راغلیده. یعني د شارح په وهم کې دا راغله چې دلته اما سته نو ده په جواب کې اما راوړه ورسته چې یې وکته نو اما نه وه لهذا د غه ته توهم د اما ویل کیږی.

﴿فائده﴾: سوال: شارح دلته بعد په خطبه کې د څه مقصد لپاره راوړی دی؟

جواب: دلته دی د پنځو شیانو بیان ورسته تر بعد بیا تر آخره پوری د خطبې کوي.

۱: په فن کې د بلاغت مصنف ولې د غه تصنیف وکړی.

۲: باعث د تصنیف کولو په دغه خاص متن باندې څه دی.

۳: وجه د ورسته والي د شرحې اول او دوم ځلي څه دی.

۴: د سلطان محمد کرت هراتي مدح ویل.

۵: د خپل شرحې تعریف او مدح کول.

حاشیه نمبر ۱۵:

سوال: مراد په "العلوم" او "المعارف" سره کوم شي دی؟

جواب: په دغه کې څو احتمالات وجود لري.

۱: مراد په علومو سره تصدیقات او په المعارفُ سره تصورات دي.

۲: مراد د "العلوم" څخه د کلیاتُ ادراک کونه او "المعارف" سره مراد ادراک الجزئیات دي.

۳: مراد په "العلوم" سره ادراک د مرکباتُ او مراد په "المعارف" سره ادراک د بسائطُ مراد دی.

۴: "المعارف" عطف تفسیر لپاره د "العلومُ" دی.

حاشیه نمبر ۱۶:

سوال: صناعات جمع د صناعة ده او صناعة څه ته ویل کیږی؟

جواب: په عرف خاص کې صناعة هر هغه علم دی د کوم چې تعلق د کیفیت او ډول سره د عمل وی. او مقصود د دغه علم څخه دغه عمل وی.

سوال: نُکت و څه ته ویل کیږی؟

جواب: نکت د نُکة جمع ده. او نکته ماخوذ ددې قول څخه د عربُ ده" نکت في الارض" داهغه وخت ویل کیږی څه وخت چې دغه مځکه په لرګي یا په مثل سره ددې په یو بل شي سره و کیندل سي نو بیا په دغه مځکه کي اثر وکړل سي .او په اصطلاح کي و باریک او دقیق شي ته ویل کیږی کوم چې په جور فکر او سوچ سره ثابتیږی. او دغه دقیق شي ته په دې وجه نکته ویل کیږی چې څرنګه د دقیق شي په هکله د سوچ او فکر وهولو په مهال انسان مځکه په لرګي سره وهي او په هغه سره اثر په مځکه کي وکړل سي نو ورسته تر دغه، دغه دقیق شي ثابتَ سي ، لهذا دغه مځکه کیندنه آله لپاره د اثبات ددغه دقیق شي وی نو دغه مسمي کونه دحاصل د شي په نامه سره د آله دی.او دغه دقیق شي ته لطیفه هم ویل کیږی څه وخت چې ددغه دقیق شي څخه په نفس کي خوشحالي او سرور پیدا سي.

" النَّكْتُ : أنْ تَضرِبَ في الأرْضِ بقَضِيبٍ فَيُؤَثِّرَ " بطَرَفِهِ "

حاشیه نمبر ۱۷:

دریم: لإسیما: دلته څو شیان د بیان وړ دي.

الف: صیغوي بیان: دغه په اصل کي سِیو (په سکون سره د یاء) او یا سِوی (په سکون سره د واو) دی.بیا واو په یاء سره بدل سو او یاء په یاء کي مدغمه سوه نو سیّ ځني جوړ سو. او دغه په وزن د مِثل دی.(ملاجلال ص۱۱،ح۷)

ب: د معني بیان: ددې معني لغوی "**لامثل**" ده.او عبارت دا جوړیږي "لامثل علم البیان فی الاحقیة و الاسبقیة". اوپه اصطلاحي کي "خصوصا" ته ویل کیږي. او تقدیر د عبارت به داجوړ سي "خصوصا علم البیان فی الاحقیة و الاسبقیة".

ج: ترکیبي بیان: سوال: د سیّ ترکیبي حیثیت څه دی؟

جواب: سيّ معرب او یا مبني ده که چیري سيّ مضاف و خپل ما بعد ته سي نو بیا دغه معرب ده ځکه اسم د لا لنفي الجنس چې څه وخت مضاف وی نو دغه په دغه وخت کي معرب منصوب وی. او که چیري ما په تقدیر سره دتنوین سي نو په دغه وخت کي سيّ مضاف نسي واقع کیدلای ځکه دده ورسته ما چې په تقدیر سره دهغه تنوین ده چې هغه منع کونکي د اضافت

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه دی او څه وخت چې اسم د لا چې مضاف نه وی نو دغه په دغه وخت کې مبني پر فتحه وی.

سوال: ما بعد د ما څه ترکیبي حیثیت لري؟

جواب: په دې کې اختلاف دی.

جمهور: سيّ اسم د لا او په ما بعد کې دري احتماله وی.

۱: ورسته تر ما مضاف الیه او ما زائده سي. او یا ما زائده نه سي بلکه ما مضاف الیه او هغه څه چې ورسته تر ما وی هغه بدل د ما څخه سي. په دغه وخت کې ما نکره غیر موصوفه ده.

۲: مرفوع خبر د مبتدا محذوفي لپاره سي. او مبتدأ دلته لفظ د هو دی. لهذا مبتدأ سره د خبرې جمله اسمیه ده. او ما که چیرې نکره موصوفه سي نو دغه جمله به د دې لپاره صفت سي. او که چیرې دغه ما موصوله سي نو په دغه تقدیر به جمله بیا صله سي. او تقدیر د عبارت به دا ډول سي "لاسیما هو علم البلاغة".

۳: منصوب بناء بر مفعول به لپاره د "اعني" مقدر سي. نو تقدیر د عبارت دا سو "لاسیما اعني علم البلاغة".

او یا تمیز د سيّ څخه کوم چې تام په ما چې په تقدیر سره د تنوین دی.

﴿فائده﴾: سوال: په دغه درو کې کوم تقدیر اولي دی؟

جواب: ورسته د سيّ چې مجرور سي دغه په دو وجهو سره اولي دی.

۱: دغه د حذف څخه محفوظه وی په خلاف د مرفوع او د منصوب کېدو د صورت.

۲: که چیرې ما زائده نسي نو په دغه صورت کې کله کله ما بعد د سيّ ذوی العقول راسي. نو په دغه وخت کې اطلاق د ما په ذوی العقول رائي او حال داچې ما لپاره د غیر ذوی العقول وضعه سوی دی. او که چیرې زائده سي نو بیا یې اطلاق په ذوی العقول بالکل نه رائي. لهذا د دغه اطلاق د نه راتلو د وجې دغه تقدیر د جر اولي دی. انتهى ما فيه الفائدة

اخفش: سيّ اسم لپاره د لا او خبر یې ما واقع کیږي. په دغه وخت کې ما نکره موصوفه واقع کیږي. ځکه لا لنفي الجنس اسم نکره غواړي نو خبر به یې هم نکره وی ځکه مبتدآ نکره او خبر معرفه راتلل ممنوع وی. (سيد زاهد علي الجلال ۷۱) او دغه د حاشیې نمبر ۱۷ ده.

صفحه نمبر ۳:

عبارت

ايضاح لمعالم الايجاز و آثار الفصاحة * تلخيص لغوامض مشكل كتاب الله تعالى
ومعضله * تقريب للغوص على فرائد مجمله ومفصله * قواعده كافية في ضوء
المصباح الى انوار التأويل * موارده شافية عن التهاب الاكباد الى اسرار التنزيل * به
ظهر لباب آثار تراكيبه وصفى * ومنه عذب عباب بحار اساليبه وصفى
لايدرك الواصف المطري خصائصه * وان يكن سابقا في كل ماوصفا

ايضاح(څلورم خبر دی) لمعالم(جار ومجرو مضاف او متعلق د ايضاح دی) الا يجاز(مضاف اليه) و (عاطفه)آثار(مجرور مضاف عطف په لمعالم الايجاز دی) الفصاحة (مضاف اليه) .تلخيص(پنځم خبر دی) لغوامض(جارومجرور مضاف، معطوف عليه) مشكل(مضاف) كتاب(مضاف) الله(مضاف اليه) .و(حرف عطف) معضله(مضاف و مضاف اليه معطوف). تقريب (شپږم خبر) للغوص(جارومجرو متعلق د تقريب دی) علي(جار) فرائده(مضاف ومضاف اليه مجرور،مبدل منه) مجمله (مضاف ومضاف اليه معطوف عليه بدل) و(عاطفه) مفصله(مضاف ومضاف اليه بدل).قواعده(مضاف و مضاف اليه مبتدأ، صفت ثاني لپاره د علم البيان او صفت اول المطلع وو) كافية(خبر) في(جار تعلق تر كافية پورې لري) ضوء(مضاف) المصباح(مضاف اليه) الي(جار تعلق تر ضوء لري) انوار(مضاف) التأويل(مضاف اليه). موارده(مضاف و مضاف اليه مبتدأ درېيم صفت دی) شافية(خبر،متعلق) عن(جار) التهاب(مضاف) الاكباد(مضاف اليه) الي(جار تعلق تر التهاب لري) اسرار(مجرور مضاف) التنزيل(مضاف اليه). به(جار ومجرو تعلق د ظهر سره لري) ظهر(فعل ،څلورم صفت ،معطوف عليه) لباب(مضاف،فاعل) اثر (مضاف)تراكيبه(مضاف و مضاف اليه) و(عاطف)صفا(فعل معطوف). و(عاطف)منه(جار ومجرور تعلق تر عذب لري) عذب(فعل، معطوف،پنځم صفت) عباب(مضاف ، فاعل) بحار(مضاف) اساليبه(مضاف و مضاف اليه) و(عاطف)صفا(فعل، معطوف).شعر(خبر لپاره د مبتدأ محذوف): لا يدرك(فعل) الواصف(موصوف ،فاعل) المطري(صفت) خصائصه(مضاف و مضاف اليه مفعول به)* و(وصليه) ان يك(از افعال ناقصه ،ضميري اسم دی) سابقا(خبر) في(جار) كل(مجرور مضاف) ما(موصول) وصفا(فعل و فاعل،عائد محذوف).

ترجمه

وضاحت كونكي د هغو علاماتو دي چې هغوي په ايجاز باندې دلالت كونكي دي. هغه مخفي او سختو ځايو ته د قرآن شكاره كېدونكي ذي هغه قرآن چې دی مشكل دی(چلپي ۱۴).او په عباراتو كې د نښتولو لپاره ژندې كېدونكي دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې لپاره چې اطلاع پرې مجمل او مفصلو ملغرو د قرآن راسي (فيض الفتاح ۱۳). دد غه علم قواعدې کافي دی لپاره د حاصلولو د رونا د هغه عقل نیاره چې دې و حاصلولو ته د انوار و د قرآن محتاجه دی (الفیض ۱۳) . دد غه علم په سببلې شفاء د هغه خلکو ر ځې پې د هغو اینې لپاره د حصول د اسرارو د قرآن بلبدلې. دده په سبب د قرآن د تراکیبو د اثارو خلاصه بنکاره او کامله سوه. او دد غه علم څخه خوږ سیلاب د قرآن د لارو د دریابو څخه خوږوالي او صفاوالي دی. د صفت په بیانولو کې مبالغه کونکي کس دده د اوصافو ادراک نسي کولای * که څه هم دی ترقي کو نکي په وصف بیانولو کې وی.

تشریح

ایضاح: وضاحت کونکي. معالم: د معلم جمعه ده علامت. **ایجاز**: مختصروالي د عبا رت بیله حذفه. **تلخیص**: تفعیل په معني سره د فاعل دی ، بنکاره کونکي، خالص کونکي، مختصر کونکي. غوامض: د **غموضة** جمعه ده پټ. **مشکل**: سخت. **معضل**: سخت. گران، پټ. **تقریب**: نزدې کونکي. **غوص**: د ملغرور یا ددې نه پرته د بل څه د راهیستولو لپاره و دریاب ته ننوتل. **فرائد**: د فریدة جمعه ده یکتا ملغره، قیمت بها ملغره. **مجمل**: هر هغه شي چې دده مراد خفي وی. **مفصل**: هرهغه شي چې دده مراد بنکاره وی. **قواعد**: د قاعدة جمعه ده هر هغه حکم کلي چې دده څخه د خپل جزئیاتو د احکامو استنباط کول کیږي. **کافیة**: کافي. **ضوء**: رونا. المصباح: څراغ او دلته عقل مراد دی. **انوار**: د نور جمعه ده. **موارد**: د مورد جمعه ده اوبو ته د تلو ځای. **شافیة**: لرې کونکي، شفاء وزکونکي. التهاب: سوزل، سوزېدل. الاکباد: د کبد جمعه ده اینه. **اسرار**: د سر جمعه ده پټ خبره او راز. **تنزیل**: قرآن. **لباب**: خلاصه. **آثار**: د اثر جمعه ده علامت. تراکیب: د ترکیب جمعه ده هغه څه چې د اسناد په توسط دوې یا زیاتې تر دې کلماتي مرکبي کړي. **صفا**: د ضفو څخه دی کامل. **عذب**: د عذوبت څخه مشتق دی خوږوالي. او دلته بنکاره کول مرادی دی. **عباب**: د عب جمعه ده د سېلاب پورته کېده، او دلته مراد محسنات لفظیه او معنویه مرادی دی. **بحار**: د بحر جمعه ده دریاب. **اسالیب**: د اسلوب جمعه ده لار. **صفا**: د صفوي څخه دی پاک. **لا یدرک**: ادراک نسي کولای. **الواصف** : صفت بیانونکي. **المطری**: د اطرار څخه دی مبالغه کونکي په بیانولو کې د صفت. **خصائص**: د خصوصیت جمعه ده. **سابقا**: سبقت کونکي. وړاندې کېدونکي.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱ :

سوال: د "التبیان" او "بیان" تر مینځ څه فرق وجود لري؟

جواب: ددوی تر مینځ معنوی او لفظي دواړه فرق سته، په بیان کي تاسو وجود نه لري او په تبیان کي بیا وجود لري. او معنوی فرق یې دادی چي دا یو قاعده ده چي په لفظ کي د زیاتوالي څخه زیاتوالي په معني کي راځي. لهذا بیان محض یو وضاحت وی، او تبیان بیان سره د دلیل وی نو په معني کي د تبیان زیاتوالي او زیادت وجود لري.

سوال: "تبیان" کوم صیغه ده؟

جواب: دغه مصدر د "بَیَّنَ" باب څخه دی. او د قیاس موافق باید دغه په فتحه سره د تاء "تَبْیَان" و گرزی، مگر په کسره سره یې راتگ خلاف القیاس دی. بَیَّنَ یُبَیِّنُ ، تَبْیِیْنًا وتِبیَانًا ،فهو مُبَیِّنٌ،والمفعول مُبَیَّنٌ.

حاشیه نمبر۲:

سوال: معالم د کوم شي جمع او څه ته ویل کیږی؟

جواب: "مَعَالِم" د "مَعْلَم" ده،هر هغه شي چي په ده سره دلیل پر بل شي باندی ویل کیږی. او دی د دلیل په توگه وړاندی کیږی. او دغه ډول هر هغه اثر په کوم سره چي لاړ معلومیږی ورته ویل کیږی.

حاشیه نمبر۳:

سوال: "غوامض" د چا جمع او څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه د غَامِضٌ جمع ده، او کلام غامض و هغه کلام ته ویل کیږی کوم چي پټ او مقصد یې نه معلومیږی. او کوم چي د فهم څخه لری وی،او دکلام معنی د فهم څخه لری کیدنې ته ویل کیږی،او دغه مقابل د واضح دی.او ددغه باب مصدر غموضة دی. او غموضة د باب څخه د "ظَرُفَ" مصدر دی.او غموضة اشکال د خبری پټ والي او د خبری معني نه معلومیدلو ته ویل کیږی.او د لفظ معني پټه سي او درک یې نه لگیږی.غَمُضَ یَغْمُض ، غُمُوضًا ، غَماضةً ، وغُمُوضةً فهو غامِض. غَوامِضُ : جمع غامِضة و غامِضٌ(لهذا غوامض د مذکر او مؤنث دواړه جمع کیدای سي)

حاشیه نمبر۴:

سوال: معضل څه ته ویل کیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دغه مفعول د باب څخه د افعال دی. او دغه د عربُ ددې قول څخه مأخوذ دی "اعضل الامر"، دغه به هغه وخت ویل کېدی چې یو شي به سخت وو او د هغه څخه به مقصد په آسانۍ سره نه سو ترلاسه کېدای. لهذا معضل مشکل او سخت شي ته ویل کیږی. أعضل، يُعضل، إعضالاً ،فهو مُعْضل ، والمفعول مُعْضل.

حاشیه نمبره:

سوال: "الی انوار التأویل" څه ترکیبي حیثیت لری؟

جواب: په دغه کې دوه احتمالاً سته. ۱: دغه حال د ضوء څخه دی نو تقدیر د عبارت داډول جوړیږی "ضوء المصباح ممالاً الی انوار التأویل". یعني د عقل رڼا په داسي حال کې چې میل کونکې و انوار ته د تأویل وی. ۲: دغه صفت لپاره د ضوء دی نو تقدیر د عبارت داجوړیږی "ضوء المصباح الممال الی انوار التأویل" یعني هغه رڼا د عقل کوم چې مائل کړل سوې وه و طرف ته د انوارُ د تأویل.

﴿فائده﴾: أمالَ يُميل ، أمِلْ ، إمالةً ،فهو مُميل ،والمفعول مُمَال(للمتعدّي).

سوال: د "المصباح" څخه څوک مراد دی؟

جواب: د دغه څخه مراد عقل دی.

سوال: انوار التأویل څخه څوک مراد دي؟

جواب: د دغه څخه وجوه او طرقِ د تأویل مرادی دي یعني هغه تفسیر کوم چې د عربي قواعدُ موافق وی.

سوال: "وجوه ته د تأویل" ولي انوار ویل کیږی؟

جواب: د دې دوې وجې کېدای سي. ۱: دغه طرقِ د تأویل په مثل سره د انوارُ دی لکه په انوارُ سره څرنګه تیارې لرې کیږی دغه ډول په وجوه سره د تأویل شبهات لری کیږی کوم چې د تیارو غوندی دي. ۲: لکه څه ډول چې نور ته نفس خوشحالیږی دغه ډول وجوه ته د تأویل هم خوشحالیږی.

حاشیه نمبر ۶:

سوال: "موارد" څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه صيغه د ظرف ده يعني و اوبو ته د تلو ځای.د اوبو د چيښولو ځای. موارد، جمع موردة، اسم مكان من ورَدَ / وَرَدَ على.

سوال: "الى الاسرار" د چا متعلق دی؟

جواب: ددغه تعلق د "التهاب" سره لری

سوال: "التهب" متعدی په "على" سره کيږی،نه په "الى" سره؟

جواب: دلته "التهب" متضمن معنی لره د اشتياق (شوق لرنه) دی. او دغه په "الى" سره متعدی وی ، نو اصل عبارت داډول دی "التهاب الاكباد مشتاقين الى اسرار التنزيل".يعنی اِينه په داسی حال کی بليږی چی دوی شوق و اسرارُ ته د تأويل لری.اشتاقَ / اشتاقَ إلى / اشتاقَ لـ يشتاق ، اشْتَقْ ، اشتياقاً ، فهو مُشتاق ، والمفعول مُشتاق .

سوال: "لباب" څه ته ويل کيږی؟

جواب: "لباب" د "لب" جمعَ ده يعنی د شی خُلص.

سوال: مراد په "اثار تراكيب التنزيل" سره څوک دی؟

جواب: په دغه کی دوه قولَ دی.۱: علامه چلپی: مراد د اثار څخه معاني وضعيه او معاني ثانويه دواړه مراد دي.۲: علامه معزالدين: محض معاني ثانويه چې عبارت د خواصُ او مزاياؤ (د کوم چې تقاضي حال کوی) څخه دی مراد دي، نه معاني وضعيه ځکه د هغه تعلق د لغت سره دی او علم اللغة د هغه څخه بحث کوي نه علم المعاني.او دغه ډول دغه اثار د تراكيبُ نه وی ځکه آثار زائد تر اصل شي وی او معاني وضعيه زائد نه وي.

حاشيه نمبر۷:

دلته محشي محض د "التهب" معنی بنئي، لهذا التهاب بلولو او بلبدولو ته ويل کيږی. لهذا ويل کيږی" التهبت النارُ" يعني اور بل سو .

حاشيه نمبر۸:

سوال: "المطری" کوم صيغه ده؟

جواب: دغه صيغه د اسم فاعل د باب څخه د افعال ده.او په معني سره د ډير زيات تعريف کونکي دی. اطرى يُطرِي ، أطْرِ ، إطراءً ، فهو مُطرٍ ، والمفعول مُطْرَى.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: د "خصائص" مفرد څرک دی؟

جواب: ددغه مفرد دري شيان کېدای سي. ۱. خصيصة ۲. خصاصة ۳. خاصيه. او خصيصة هر هغه شي ته ويل کيږی کوم چې خاص تر يوه شي پوری وی او د بل شي سره شريک نه وی.

سوال: "ما وصفا" کي کوم "ما" دی؟

جواب: په دغه کي دوه احتمالَ وجود لري؟

۱: "ما" موصوله ده په معني د الذی ده نو په دغه صورت کي "وصف" صله ده او دلته د تقدير ضرورت سته ځکه په صله کي عائد و موصول ته غواړی نو عبارت به دا ډول وی "الذی وصف به".

۲: ما مصدريه ده. او په دغه صورت کي د تقدير ته ضرورت نسته. ځکه دغه "ما" حرف وی او حرف ته د ضمير راجع کولو ضرورت نه وی.

سوال: په "وصفا" کي دغه الف د څه لپاره دی؟

جواب: دغه لپاره د اشباع دی. او اشباع په لغت کي د کولو او مړ ډلو ته ويل کيږی او دلته مراد دادی چې د کلمه د اخری حرف حرکت دومره کش سي چې د هغه څخه حرف پيدا سي لکه په موجوده صورت کي د "وصفَ" آخری حرکت دومره کش سو چې د هغه څخه الف جوړ او پيدا سو.

سوال: معني د شعر څه جوړيږی؟

جواب: معني يې داده "يعني په وصف بيانولو کي مبالغه کونکي کس هم د علم البلاغة د فضائلُ ادراک او بيان کولای نه سي که څه هم دی د دغه شي وصف په غير متناهي توګه سره بيان کړی.

عبارت

ثم (عاطف) **انه** (حرف مشبه بالفعل. ه ضمير اسم دده دی) **قد وقع** (فعل فاعل، خبر لپاره د ان دي) **في** (جار) **ايدی** (مضاف) **جماعة** (مضاف اليه ،موصوف) **هم** (مبتدأ) **اسراء** (مضاف، خبر) **التقليد** (مضاف اليه) **فطفقوا** (فعل مقاربه، ضمير د جمعي اسم) **يتعاطونه** (فعل، فاعل، مفعول خبر لپاره د فعل متقاربه دی) **من** (جار) **غير** (مضاف) **توثيق** (معطوف عليه، مضاف

الیه) و(عاطف) تسدید(معطوف) یحومون(فعل .فاعل، خبر دوم) فی(جار) تحریر(مضاف) مقاصده(مضاف و مضاف الیه) حول(مفعول مطلق،مضاف) القیل(معطوف علیه، مضاف الیه) و(عاطف)القال(معطوف). و (عاطف)یقتصرون(فعل، فاعل، معطوف په یحومون باندی دی) من(جار) تقریر(مضاف) لطائفه(مضاف الیه) علي (جار تعلق د یقتصرون سره لری) ذکر(مجرور، مضاف) المقام(معطوف علیه، مضاف الیه) و(عاطف) الحال(معطوف). لا یخرج(دغه یوه مستقل جمله ده او دغه ددوی د یوبل حال د بیانولو لپاره ده.فعل) عن(جار) ربقة(مضاف) التقلید(مضاف الیه) اعناقهم(مضاف و مضاف الیه، فاعل لپاره د لایخرج دی) حتي(جار په تقدیر سره د ان) تسرح(فعل) في(جار) ریاض(مضاف) التحقیق(مضاف الیه) احداقهم(مضاف و مضاف الیه فاعل) .و(عاطف)لایر تفع(فعل) غشاوة(فاعل، مضاف) التعصب(مضاف الیه) عن(جار) بصائرهم(مضاف و مضاف الیه) حتي(جار) ینطبع (فعل) دقائق(مضاف، فاعل) التعقل(مضاف الیه) في (جار) ضمائرهم(مضاف و مضاف الیه). کل(دغه یو مسقله جمله ده او ددوی دیو بل حال د بیانولو لپاره راوړل سوې دی.مضاف،جمله امسیمه معطوف علیه) بضعتهم(مضاف و مضاف الیه ، مضاف الیه لپاره د کل دی) اللجاج(معطوف علیه، خبر) و(عاطف)العناد(معطوف). و(عاطفه) جل(مضاف، مبتدأ) صناعتهم(مضاف و مضاف الیه، مضاف الیه لپاره د جل دی) الا نحراف (خبر)عن(جار) منهج(مضاف) الارشاد(مضاف الیه) . فهیهات(فاء جزائیه لپاره د شرط محذوف او هغه شرط دادی لما کان حالهم ما ذکر فهیهات،اسم فعل بمعني فعل ماضي اعني بعُد) التنبه(فاعل،معطوف علیه لپاره د التفطن) للرمزة(جار و مجرور موصوف) الدقیقة(صفت، صفت مشبه) الشان(فاعل). و(عاطف) التفطن(معطوف) للمحة(جارومجرور موصوف) الخفیة(صفت مشبه، صفت) المکان(فاعل).

ترجمه

ورسته تر دي دغه فن د هغه تولې په لاس ورغلي کوم چې د تقلید بندیانول. نو دوی اخیستل د دغه فن بېله مضبوطي او مستقیموالي شروع کړی.دوی بېله تحقیق او تدقیقه لیکل د مقاصدو د علم البلاغة شروع کړل.او د وی د علم البلاغت د باریکیو دبیان په ځای په لفظ د حال او مقام کفایت کول شروع کړل.او دوی د خپلو غاړو څخه د تقلید ورغندی نه هیستي که یې چیرې هیستلي وای نو دوی به په باغو کې د تحقیق د سترګو تور غرولي وای. او دوی د خپلو سترګو څخه د تعصب پردې نه لرې کولې که یې لرې کړې وای نو دوی به د تصوراو علم البیان دقائق(یا مدر

Maktaba Tul Ishaat.com

کات د عقل) په زړونو کې نقش کړی وای. ددوی ټوله، سامان سرکښي او عناد وو. او ترټولو غټ حرفت ددوی د هدایت د لارې څخه میل کول او اوښتل ول. نو د هغه باریکي اشاري فهمول ډیر لږ وو د کوم چې شان خفي وو. او پوهیدل د هغه باریکي نکتې لږ وو کومه چې پخپله خفي وله.

تشریح

وقع: واقع سوه. **اسراء:** د اسیر جمعه ده بندي. **التقلید:** د بل کلام بېله دلیل پوښتولو منل. **طفق:** شروع کول. **یتعاطون:** د تعاطي څخه دی اخیستل. **توثیق:** احکام، مضبوطي، بهروسه. **تسدید:** مستقیموالي. **یحوم:** ګرزېدل. **تحریر:** لیکل، کلام د زوائدو څخه پاکول. **مقاصد:** اصول او قواعد. **حول:** چارچاپېره. **القیل والقال:** دغه دوه اسمونه په معني سره د قول دی. **یقتصر:** کفایت کوی. قصره کېده. **تقریر:** د عبارت په توسط سره د یو شي بیانول. **لطائف:** د لطیفة جمعه ده باریک. **المقام و الحال:** هغه شي چې یو خصوصیت را وړولو ته داعي او بلونکي وی لکه د منکر انکار کول داعي لپاره د تأکید دی. **لا یخرج:** نه وتل. **ربقة:** وړغندی. **تسرح:** څرېدل. **ریاض:** د روضة جمعه ده باغ. **احداق:** د حدقة جمعه ده د سترګي تورواليه. **لایرتفع:** نه پورته کوی، نه لرې کوی. **غشاوة:** پرده. **التعصب:** دلیل د ښکاره کېدو څخه ورسته د حق نه منل. **ینطبع:** نقش کېدل. **التعقل:** تصور. **ضمائر:** د ضمیر جمعه ده زړه. **بضاعت:** هغه حصه د مال چې د تجارت لپاره لېږل کیږی. **اللجاج:** په دښمني کې دوام کول. په دښمني کې پر مخ تګ کول. **العناد:** سرکښي. **جل:** غټوالي. **صناعت:** کسب، حرفت. **الانحراف:** میل کول. **منهج:** ښکاره لار. **ارشاد:** هدایت. **هیهات:** دغه اسم فعل دی په معني سره لرې والي دی. **التنبه:** پوه کېده، پوهیدل. **رمزة:** هغه اشاره چې په شوندانو یا په ورځه سره وی. **دقیقة:** باریک. **شان:** حال، قصد او دلته د رمزة الدقیقة الشان څخه هغه اشاره مراده ده کوم چې مقصود خفي وی. **التفطن:** فهمول. **لمحة:** سرسري کتل. **خفی:** پټ. **المکان:** ځای، او دلته هغه لطیفه نکته مراده کوم چې پخپله خفي وی.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۹:

سوال: "لم انه قد وقع" دغه پر چا عطف دی؟

جواب: دغه عطف پر دې قول د شارح دی "فانه کشاف".

سوال: دغه "ثم" د څه لپاره راوړل سوی دی؟

جواب: دغه لپاره د استبعاد ده.

سوال: "ثم" لپاره د استبعاد ده ددې څه مطلب دی؟

جواب: ددې مطلب دادی" :هو استبعاد مضمون ما بعدها عن مضمون ما قبلها وعدم مناسبته له. وتارة يعبر عن هذا المعنى بتفاوت مرتبة ما بعدها عما قبلها. قال الرضى في شرح الكافية لابن الحاجب : وقد تجيء في الجمل خاصة لاستبعاد مضمون ما بعدها عن مضمون ما قبلها، وعدم مناسبته له.(كذا في منة المنعم في شرح صحيح مسلم ۱/ج 1 – المقدمة – صلاة الحوف) يعني د راتلونکي جمله مضمون د مخکني جمله څخه جلا وی او د دوی ترمینځ مناسبت نه وی . او عقل داسي کړنه لری بولي (يعني تر معطوف ورسته د معطوف کړنه لری بولي. لکه دلته چې د دغه فن دومره عظيمَ شان دی نو اوس عقل دا لری بولي چې ددې ورسته دي دغه فن دداسي خلکو په لاس کي (پورپوزی)، لکه په دې الهي قول کي : ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ .(سورة المؤمنون)يعني بيا مورِ ددغه نطفه څخه د وينې يوه ټکره جوړه کړه، بيا ددغه وينې د ټکره څخه د غوښې يوه ټکره جوړه کړه بيا مورِ ددغه غوښې د بعضُ اجزاء څخه هډوکي جوړ کړه. بيا مورِ پر دغه هډوکو غوښه راوستل، بيا ورسته تر دغه ټولو انقلاباتو ورسته مورِ په دغه کي د روح اچولو ورسته يو جلا غوندي مخلوق جوړ کړي کوم چې د مخکني حالاتُ څخه ډير جلا دی، ځکه مخکني انقلابات په يوه جماد شي کي تر سره کېده او اوس يو ساه لرونکي انسان جوړ سو. لهذا په دغه آيت کي عقل دا ډير لری بولي چې د جماد شي څخه حسين انسان پيدا کړل سي. نو دلته "ثم" د استبعاد لپاره ده چې د معطوف مضمون د معطوف د مضمون څخه ډير جلا دی. والله اعلم بالصواب

د محشي بيان: دغه قول صحت نه لری ځکه که چيری دغه عطف سي نو د عطف په صورت کي د معطوف عليه چې کوم حکم وی نو هغه حکم د معطوف هم وی. او حال دا چې دلته خبره دغه ډول نه ده ځکه معطوف عليه علت لپاره د مخکني بحث دی چې هغه دادی "لا سيما علم البيان الخ". او معطوف د هغه لپاره علت جوړېدلای نه سي ځکه معني به دا جوړ سي "په فضائلُ کي تر ټولو په مخکي کېدلو سره حقدارَ او په فضائلُ کي تر ټولو د تعظيم حقدار خصوصاً علم بيان دی ځکه دی دداسي خلکو په لاس کي پرپوتی دي کوم چې د تقليد قيديان دي الخ. لهذا د معني عدمِ صحت په وجه دغه عطف پر سابق نه دی بلکه دغه عطف د قصه پر قصه دی (زيات تريوې جمله وي او په دغه کي څو جملې د يوه مقصد لپاره راوړل سوی وي او څو بيا د بل مقصد لپاره راوړل سوی وي ، نو بيا ددغه يوه غرض لپاره راوړل سوی جمله پر هغه بل غرض لرونکي جملو باندی په دې وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

عطف سي چي ددغه اغراضُ تر مينځ مناسبت وي. لهذا دلته د معطوف عليه څخه تر لاسه سوی غرض مدحَ او صفت کونه د علم البيان ده او د معطوف څخه تر لاسه سوی غرض دادی چي دغه فن په وجه د کمزورۍ خلکو په لاس کي د پرېوتو په وجه ضائع سوی وو. اوس ددغه دوو اغراضُ ترمينځ مناسبت دادی چي دغه طلبوی چي ددغه فن په زدکړه مشغولَ سي او ددغه فن حفاظت و کړل سي.)

حاشيه نمبر ۱۰:

سوال: تعاطي څه ته ويل کيږی؟

جواب: دغه مصدر د باب څخه د تفاعل دی. په لاس سره اخيستو لو ته ويل کيږی. تعاطی يتعاطی، تعاطَ، تعاطيًا، فهو مُتعاطٍ، والمفعول مُتعاطًى.

سوال: دلته يې "تعاطي" ولي استعمال کړه؟

جواب: دغه مناسبت د "وقع في الايدی" سره لری. دادول چي ددوی په لاس کښېوتي او بيا يې په لاسونه سره اخيستي، لهذا دواړه ځای د لاس خبره ده. او په دغه سره ددوی ډير اهانت وسو ځکه په دغه کي اشاره و دې ته ده چي دوی د سوچ و هولو اهل نه وه بلکه په لاس يې اخيستي لکه نور عام شيان.

سوال: دغه جمله " فطفقوا الخ" په عبارت کي څه حيثيت لری؟

جواب: دغه تفصيل لپاره ددې جمله " ثم انه قد وقع الخ" دی. لهذا دغه فاء لپاره د تفصيل ده، په دغه سره تفصيل ددې خبری بيانيږی چي ددوی و لاس ته د راتلو په صورت کي دوی څه کول. لهذا دغه ځای د تفصيل ورسته تر اجمال دی، لکه په دې الهي قول کي فاء لپاره د تفصيل ورسته تر اجمال راغلې ده" : وَنَادَى نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي (الهود:۴۵). اوس په دغه آيت مبارکه کي نادی نوح الاية اجمال او فقال الاية يې تفصيل دی. نو دلته فاء په محل کي د تفصيل واقع سوی وی. دغه دول " فطفقوا" کي هم فاء په محل کي د تفصيل واقع سوی دی.

﴿فائده﴾ :الواو استئنافيّة (نادى نوح ربّه) مثل نادى نوح ابنه، الفاء عاطفة (قال) فعل ماض، والفاعل هو (ربّ) منادى مضاف منصوب، حذف منه أداة النداء، وعلامة النصب الفتحة المقدّرة على ما قبل الياء المحذوفة للتخفيف.. والياء المحذوفة مضاف إليه (إنّ) حرف مشبّه بالفعل (ابني) اسم إنّ منصوب وعلامة النصب الفتحة المقدّرة على ما قبل الياء.. والياء مضاف إليه (من أهل) جارّ ومجرور بخبر إنّ والياء مضاف إليه الواو عاطفة (إنّ وعدك) مثل إنّ ابني، والفتحة ظاهرة (الحقّ) خبر إنّ مرفوع الواو عاطفة (أنت) ضمير منفصل مبنيّ في محلّ رفع مبتدأ (أحكم) خبر مرفوع (الحاكمين) مضاف إليه مجرور وعلامة الجرّ الياء جملة: (نادى نوح...) لا محلّ لها استئنافيّة. وجملة: (قال...) لا محلّ لها معطوفة على جملة نادى وهو عطف تفسير أو تفصيل.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: "یحوم" کوم صیغه ده؟

جواب: دغه صیغه د فعل مضارع ده. او دغه و گرزېدلو ته ویل کیږی. حام / حامَ علی یَحُوم ، حَمْ ، حَوْمًا وحَوَمانًا ، فهو حائم ، والمفعول محوم علیه.

سوال: دلته حرفِ عطف ولي راوړل سوی نه دی، او دغه په ترکیب کي څه حیثیت لری؟

جواب: دغه دوم خبر لپاره د "فطفق" دی. او "واو" اشاره و عدمِ استقلال ته د معطوف. څرنګه چي "یحوم" یو مستقل خبر وو په دغه وجه دی مدخول د "واو "عاطفه نه و گرزول سو.

سوال: "قیل او قال" کوم الفاظ دي؟

جواب: دغه دواړه اسمونه دي او دوی په معني سره د قول دي. او معني د دې عبارت " دورانهم حول قیل و قال" دا دی چي دوی د نامعلومِ کس مختلف اقوال او یا د یو معلوم کس اقوال رانقل کوي مګر دوی په خپله د تحقیق کولو توان نه لری او دوی په تحقیق نه پوهیږي.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: "لا یتجاوزون الخ" د دې جمله څه معني ده؟

جواب: معني یې داده چي دوی صرف لفظ د حال او مقام پیژندل نور په معني او مقصد سره د دوی نه پوهیدل، یعني دوی پوهان نه ول.

سوال: حال څه ته ویل کیږی؟

جواب: هر هغه شي چي هغه داعي د یو خصوصیت وی لکه انکار داعي د تأکید دی. نو دغه انکار ته حال ویل کیږی.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: "ربقة" و څه ته ویل کیږی؟

جواب: وړغندی کوم چي وغاړې ته د حیوان ور اچول کیږی. رِبْقَة :- جمع رِبَقات ورِباق ورِبَق ورِبْق : عَقْدٌ او قَید من حبل ، او حلقة تشدُّ بها الغنم الصغار لئلا ترضع.

سوال: "تسرح" څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه څرولو او پوولو ته ویل کیږی. سَرَحَ یَسرَح ، سَرْحًا وسُروحًا ، فهو سارِح.

سوال: تعصب څه ته ویل کیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: " د یو چا یاری کول، کومک کول، د یو چا ملا ترل، یو څوک خوشحالَ کول. عضُ / یعضُ (یعضِب ، یعضُبُ ، فهو مُتعضِب ، والمفعول مُتعضَب له.

حاشیه نمبر۱۴:

سوال: تعصب څه ته ویل کیږی؟

جواب: عصبیت ته ویل کیږی یعني همکاری او طرفداری د یو چا کول. اود یو چا ملا ترړو ته ویل کړ. ی. عصبيّة :1: اسم مؤنث منسوب إلى عَصَب. 2 : مصدر صناعيّ من عَصَب.

سوال: "غشاوة التعصب" کوم اضافت دی؟

جواب: دغه داسي دی لکه اضافت د ربقة و تقلید ته. لهذا دغه اضافت د مسبب و سبب ته دی نو تعصب سبب لپاره د غشاوة دی.

سوال: "بصائر" مفرد څوک دی؟

جواب: دغه جمعَ د بصیرت ده. لهذا بصیرت په زړه کي داسي دی لکه سترګي په سر کي. لهذا بصیرت قلبي فعل دی.

حاشیه نمبر۱۵:

سوال: "ضمائر" و څه ته ویل کیږی؟

جواب: "ضمائر" د ضمیر ده. او ضمیر په اصل کي هغه خبری ته ویل کیږی کوم چي سړی یې په زړه کي ساتي .او ورسته بیا د ضمیر اطلاق پر هغه شي وسو په کوم کي چي دغه پټ شي ساتل کیږی کوم ته چي زړه ویل کیږی.

حاشیه نمبر۱۶:

سوال: "کل بضاعتهم" څه ترکیبي حیثیت لری؟

جواب: دغه بیان لپاره د مخکني شي دی ، او بضاعت و هغه حصې ته د مال ستا ویل کیږی کوم چي ته د تجارت لپاره هستوې.

حاشیه نمبر۱۷:

سوال: "رمز " څه ته ویل کیږی؟

جواب: په ورځو سره و یو شي ته اشاره کولو ته ویل کیږی. او مقصود د دغه اشاري څخه خفي وی لهذا په "الدقيقة الشان" سره موصوف کولو کي حسن او ښه والي وجود لری ځکه دغه تصریح بما علم ضمناً ده.

سوال: "شان" کوم صیغه او څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه په اصل کي مصدر دی او په معني سره د طلب او قصد دی. ویل کیږی "شانتُ شانه" یعني ما قصد وکړی دده قصد. او ورسته بیا په دغه سره هغه شي چي مقصود وی په شأن سره مسمی سو او دغه مسمي کونه د مفعول په نامَ سره د مصدر ده. ځکه دغه شي طلبیږی او قصدیږی په دغه وجه ده ته شأن ویل کیږی. او دغه ډول دغه مقصود ته امر هم ویل کیږی او دغه هم مسمي کونه د مفعول په نامه سره د مصدر ده، ځکه اصل دغه مقصد مأمور به وی مګر ده ته امر ویل کیږی. والله اعلم بالصواب. شانَ يَشين ، شِنْ ، شَيْنًا ، فهو شائن ، والمفعول مَشين.

سوال: "لمحة" څه ته ویل کیږی؟

جواب: په سپک نظر سره کتني ته ویل کیږی کوم چي په جور نظر سره نه وی. او د دغه څخه مراد باریکَ نکته ده. او دمکان د خفاء څخه مراد دادی چي دغه شي په خپله خفي دی. ځکه د مکان په پټ والي سره په خپله دشي پټ والي رائي. لهذا خفاء د نفس لازمَ د خفاء سره د مکان ده نو دغه کنایه د خفاء نفسي څخه ده. لَمْحَة :- جمع لمَحَات ولمْحَات : اسم مرّة من لمَحَ / لمَحَ إلى : نظرة عاجلة وسريعة أو إشارة أو تلميح.

سوال: شارح رحمه الله په دې قول کي "او النفطن" د "واو" د راوړلو پر ځای یې د "او" راوړل خپل کړل؟

جواب: "او" دلته لپاره د عموم د نفي راوړل سوی دی دا ډول چي "مهمات" په معني سره د نفي دی او تر نفي ورسته چي "او" راسي (که څه هم دی په اصل کي د احد الامرين لپاره وی مګر) په اکثرو استعمالاتو کي عموم د نفي فائده کوی. او په دغه صورت کي استعمال یو د معطوفین (معطوف او معطوف علیه) څخه یې نفي کونه مرجوح خبره ده. پاته "واو" چي ورسته تر نفي راسي نو دلته یو د معطوفین څخه نفي کونه او دواړه معطوفین نفي کونه سره برابر دی، لهذا دلته دا احتمال هم وی چي دواړه دي نفي وی او دا احتمال هم وی چي یو د معطوفینُ څخه دي نفي وی، البته که چیرې ورسته تر "واو" "لا" راوړل سي نو دغه تصریح په نفي سره د دواړو ده. څرنګه دلته نفي د

Maktaba Tul Ishaat.com

كل او ددواړو مقصود وي په کوم سره چې "او" شبکاره وو نه واو په دغه وجه يې "او" راوړي لکه په دې الهي قول کې: ولا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِماً أَوْ كَفُوراً .(سورة الانسان ٢٤)

و«ولا تُطِعْ» مضارع مجروم بلا ناصبه مستتر و«مِنْهُمْ» متعلقان بالفعل و«اٰثِماً» معمول به و«أَوْ» حرف عطف و«كَفُوراً» معطوف على اٰثما والجملة معطوفة على ما قبلها.اوس دغه "او" دلته لپاره د عموم د نفي و معطوف عليه او معطوف دواړو ته دی.

عبارت

و(عاطف) اني(حرف مشبه بالفعل سره د اسم) بعد(ظرف تعلق د بعثي سره لري) ما(مصدريه) قضيت(فعل سره د فاعله) من(جار) بعض (مضاف)الفنون(مضاف اليه) وطري(مفعول به) و(عاطف، عطف په قضيت باندې دی) اجلت(فعل سره د فاعل) في(جا ر) مستودعات (مضاف) اسراره(مضاف و مضاف اليه) قداح(مضاف ، مفعول به لپاره د اجلت دی) نظري(مضاف ثاني و مضاف اليه)،بعثي(فعل سره د مفعوله، د ان خبر دی) صدق (مضاف، فاعل ، معطوف عليه) الهمة(مضاف اليه) في(جار، تعلق د الهمت سره لري) الار تقاء(مضاف اليه) الي(جار، تعلق د ارتقاء سره لري) مدارج(مضاف) الكمال(مضاف اليه) و (عاطف) فرط(مضاف ، معطوف) التشغف(مضاف اليه) بأخذ(جار ومجرور مضاف،تعلق د فرط سره لري) العلم(مضاف اليه) من(جار) افواه(مضاف، تعلق د أخذ پورې لري) الرجا ل(مضاف اليه) علي(جار) الترحل(مجرور،تعلق د بعثي سره لري) الي(جار تعلق دتر حل سره لري) الجرجانية (مجرور مضاف، او دغه اضافة الحال الي المحل دی،موصوف) خوار زم(مضاف اليه) محط (مضاف، صفت،معطوف عليه) رحال(مضاف ثاني) الافاضل (مضاف اليه) و(عاطف) مخيم(مضاف، معطوف) ارباب (مضاف ثاني) الفضائل(مضاف اليه) صرف(فعل، او دغه جمله دعائيه ده، معطوف عليه) الله(فاعل) عنها(جار ومجرور) بوائق (مضاف ، مفعول به) الزمان(مضاف اليه) و(عاطف) حرسها(فعل فاعل سره د مفعوله) عن (جار) طوارق(مضاف ، اضافة الموصوف الي الصفة) الحدثان(مضاف اليه) .فشمرت(فاء عاطفه عطف په بعثي دی، فعل سره د فاعله) عن(جار) ساق(مضاف) الجد(مضاف اليه) الي(جار تعلق د شمرت سره لري) اقتناء(مضاف، معطوف عليه) ذخائر(مضاف ثاني) العلو م(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف) المعارف(معطوف). و (عاطف، عطف په اقتناء د ی) افتلا ذ (مضاف)الاناسي(مضاف اليه) من(جار تعلق د افتلاذ سره لري) عيون(مجرور مضاف اللطائف(مضاف اليه).و (عاطف عطف په شمرت دی)صرفت (فعل و فاعل)شطرا (مفعو ل) من(جار) الزمان (مجرور) الي(جار) الفحص(مجرور تعلق د صرفت سره لري) عن(جار) دقائق(مضاف) علم البيان(مضاف اليه) اراجع(فعل سره د فاعله دغه بل جمله لپاره د بيان د حال د شارح دی) الشيخ(مفعول به ، موصوف) الذين(موصول) حازوا(فعل سره د فاعله، صله) قصب(مضاف، مفعول به) السبق(مضاف اليه) في(جار) مضماره(

مضاف سره د مضاف اليه) و(عاطف عطف په راجع دی) اباحث(فعل د فاعل) الحذاق(مفعول به موصوف) الذين(موصول، صفت) غاصوا(فعل و فاعل).

ترجمه

ورسته تردي چي ما د بعضو فنونو څخه خپل حاجت پوره کړی ،او د خپل نظر غشي مي په هغو ترکيبو کي وکړزوی په کومو کي چي د علم البيان اسرار محفوظه او هيښول سوی وه نو زما پخته عزم زه د کمال په لارو کي په ختو لو باندی پاڅولم.او د خلکو د خولو څخه د علم د اخيستولوزما زيات شوق درلولو زه د خوارزم و بنار جرجانيه ته په تلو باندی وهڅولم.داسي جرجانيه بنار چي دی فضلاء د سفرد درېدو خای وو او د اهل العلم د خبموددرلو خای وو الله دي ددغه بنار د حوادثو د زمانېو څخه لري ولری.اود پيښو څخه دي يې وساتي. نوما د تصديقاتو او تصوراتو د خزانو د لاس راوړولو لپاره او دباريکيو د سترګو څخه د کسي راخيستولو لپاره خپلې پاڅې راپوته کړلې.او ما د خپل عمر يوه حصه د علم البيان د دقائقو په تفتيش کي وښندي. او ما و هغه استاذانو ته رجوع کوله کومو چي د علم البيان په ميدان کي د مسابقې لرګي يو ځای کړی وه. او ما د هغو پوهانو سره بحث کوی کومو چي د علم البيان په قيمتي ملغرور باندي غوتې خورلې وې.

تشريح

په دغه عبارت کي څو شيان د بحث ورديدي.

اول: د لغاتو بيان: قضی:پوره کول ،اداکول، اخيستل.**وطر**:حاجت، ضرورت.**اجلت**:د اجالة څخه دی ګرزول. **مستودعات**:د مستودعة جمعه ده محفوظه سوی.**قداح**:د قِدح جمعه ده بېله پره او نصل غشي.**نظري**:زما نظر، او دغه اضافت د مشبه و مشبه ته دی يعني زما اداسي نظر چي هغه په تيزي کي په مثل سره د غشي دی. **بعث**:باعثه کول ، پاڅول، جيګول. **صدق**:رښتني. **الهمة**:.پوخ عزم، کلکه اراده. **الارتقاء**:ختل، ترقي کول. **مدارج**:د مدرجة جمعه ده ستره لاره. **فرط**:زيات، تر حد تجاوز کول. **الشغف**: زيات محبت، زياته مينه، د محبت د وجي د زړه بې قراری او سوزېدل. **افواه**:د فوه جمعه ده خوله. **الترحل**: نقل کېدل. **الجرجانية**:منسوب بسوي جرجان. په قاموس کي نويشته دی چي دغه يو بنار د بنارو څخه د خوارزم دی او دغه په اصل کي يو عجمي لفظ دی "کرکانج"او بيا هغه و عربي ژبي ته رانقل سو او جرجان ځني جوړ سو .او په نورو کتابو کي نويشته دی چي جرجان په خوارزم پاچاهي کي يو بنار دی و هغه ته ارکنج ويل کيږي.لهذا جرجانيه يو بنار دی چي منسوبه و هغه جرجان ته دی چي هغه په يو ولايت کي د خوارزم واقع دی.**خوارزم**:دغه يو غټ مملکت دی چي د جيحون په غاړه واقع دی.او په خراسان کي يو بل بنار په نامه سره د جرجان دی کوم چي يزيد

Maktaba Tul Ishaat.com

بن مهلب بن ابي صفره جوړ کړيدی. لهذا اضافت د جرجانيه و خوازم ته لپاره د وضاحت دی.
محط: ځای د درېدو. ځای د پراو کولو، ځای د اچولو. **رحال**: د رحل جمعه ده سفر، د انسان د سکونت ځای. **مخيم**: د خيمې د درولو ځای او دلته مراد د امقيم والي ځای دی. **ارباب**: خاوندان، اصحاب. **الفضائل**: د فضيلة جمعه ده. **صرف**: لری کول، دفعه کول. **بوائق**: د بائقة جمعه ده مصيبت. **حرس**: ساتل. **طوارق**: د طارقة جمعه ده هغه واقعه او غم چې په وخت کې د شپې پيښيږی. **الحدثان**: مصدر دی پيښېدل. يا پيښېدونکي کار. **شمر**: پايځې، رانغښتل. **ساق**: پنډی. **انجد**: کوشش. **اقتناء**: حاصلول، لاس ته راوړل. **ذخائر**: د ذخيرة جمعه ده هغه شي چې د ضرورت د وخت لپاره جمعه کيږي او هيښول کيږي. **العلوم**: تصديقات. **المعارف**: تصورات. **افتلاذ**: اخيستل. **الاناسي**: د انسان جمعه ده. او دغه په اصل کې اناسين وو بيا خلاف القياس نون په ياء سره بدل سو. د سترګې کسي. **عيون**: د عين جمعه ده سترګه. **اللطائف**: جمعه د لطيف ده. باريک. **صرف**: ښندل، صرفول. **شطر**: حصه. **الفحص**: بحث او تفتيش کول. **اراجع**: يو وبل ته رجوع کول. **الشيوخ**: د شيخ جمعه ده هغه کس چې د هغه عمر تر پنځوس کاله لوړ وی. بيا تر آتيا کاله يا تر مرګ پوری" بناء په اختلاف باندې "دی شيخ وی. او نن صبا ئې دير ځلي په هغه کس اطلاق کيږي چې هغه په يو فن کې د فنونو ماهر وی. او په اصطلاح کې د شريعت هغه کس ته ويل کيږي چې هغه د سنت مطابق ژوند تيرونکې او ختم کونکې د بدعاتو وي. او دلته مراد د شارح استاذان دي. **حاز**: جمعه کول، يو ځای کول. **قصب**: د قصبة جمعه ده لرګي. **السبق**: وړاندی کېده. **مضمار**: ميدان. **اباحث**: بحث کول. **الحذاق**: د حاذق جمعه ده هوښيار، پوه. **غاص**: و درياب ته لپاره د ملغرورو راهيستلو داخلېدل او دلته مراد ننوتل او داخلېدل دی. **غرر**: هر واضح شي.

دوم: د استعارو بيان: ۱: **قداح نظري**: شارح د نظر تشبيه د هغه چا سره ورکړه چې د هغه سره غشي وی. لهذا شارح مشبه، نظر مشبَه او صاحب د غشي مشبه به دی. لهذا ذکر مشبه (نظر) او مراد هم دغه مشبه (نظر) دی. څه وخت چې ذکر د مشبه او مراد هم دغه مشبه وی نو دغه استعاره بالکنايه وی. او د صاحب سره د غشي، غشي لازم وی. او دلته شارح لازم

(غشي) د مشبه به(صاحب د غشي) و مشبه(نظر) ته ثابت کړی دی دغه تخیلیه ده . او مناسب (گرزول او غوځول) د مشبه به يې و مشبه ته ثابت کړی دی دغه تر شیحیه ده. (چلپي ۱۹)

۲: **بعثني صدق الهمة**: شارح د پوخ عزم تشبیه د هغه کس سره ورکړېده کوم چې د رښتیني خبر ی خبر ورکو نکي وی. لهذا مشبه شارح او مشبَه پوخ عزم او مشبه به مخبر صادق او علاقه د تشبیه بقاء ده لکه څه ډول چې رښتني خبر باقي پاته وی دغه ډول عزم هم دی. لهذا ذکر مشبَه (عزم) او مراد هم دغه ده دغه مکنیه ده. او لازم (رښتني) د مشبه به(د رښتني کس) يې و مشبه (عزم) ته ثابت کړی دی دغه تخیلیه ده.

۳: **فشمرت عن ساق الجد**: شارح د جد تشبیه د هغه کس سره ورکړېده چې هغه لره پنډی وی. لهذا مشبه شارح مشبَه جد او مشبه به صاحب الساق دی. او علاقه د تشبیه اعتماد دی لکه څه ډول چې په پنډی اعتماد کول کیږي دغه ډول په جد باندې په مهمو کارو کې کیږی. ذکر مشبه(جد) او مراد هم دغه ده دغه مکنیه ده. او لازم (ساق) د مشبه به و مشبه(جد) ته ثابت کړی دی دغه تخیلیه ده. او مناسب (تشمیر) د مشبه به يې و مشبه ته ثابت کړی دغه تر شیحیه ده.

﴿فائده﴾: سوال: استعاره څه ته ویل کیږي؟

جواب: په لغت کې د یو چا څخه یو شي په خواست اخیستولو ته ویل کیږي. او په اصطلاح کې تشبیه ته د یو شي د بل شي سره بیله د ذکر کولو ته د " اداتو د تشبیه" ته ویل کیږي. او ددې څلور قسمونه دي.

اول: مصرحه: هغه لفظ "چې لپاره د مشبه به وی " ذکر سي او مراد دده څخه مشبه وی. لکه وویل سي " **ضربتُ الاسد فی الغرفة**" ما په صنف کې زمری وواهي. اوس دلته طالب علم مشبَه او زمری مشبه به دی. ذکر مشبه به او مراد ځني مشبه دی.

دوم: مکنیه: ذکر د لفظ د مشبه او مراد ځني دغه مشبه ته ویل کیږي.

دریم: تخیلیه: په کلام کې لازم د مشبه به ثابت ول لپاره د مشبه ته ویل کیږي.

څلورم: ترشیحیه: د مناسب د مشبه به ثابتول لپاره د مشبه ته ویل کیږي.

د استعاره څلور ارکان وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱): مُشَبَّه: ددو شیانو ترمینځ تشبیه ورکونکي.
۲): مُشَبَّه: هغه شي چې دده تشبیه د بل سره ور کول کیږي.
۳): مشبه به: هر هغه شي چې دده سره د بل شي تشبیه ور کول کیږي.
۴): د تشبیه وجه: هر هغه شي چې دده په وجه سره د یوه شي د بل شي سره تشبیه ور کول کیږي.

حل الحواشي

حاشیه نمبر۱۹:

سوال: "قداح" څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه د قِدح جمعَ ده، دغه و لرګي ته د غشي ویل کیږی چې دغه لرګي صفا سوی نه وی. لهذا د غشي جوړونه داسي تر سره کیږی چې دغه یو واری و توږل سي بیا یې په سر کي تېره اوسپینه ورکول سي کوم ته چې نصل ویل کیږی. لهذا ددغه تراشلو مخکي چې کوم لرګي د غشي وی دغه ته قِدح ویل کیږی. او څه وخت چې غشي تیار سي نو دغه ته بیا سهم ویل کیږی

(عود خشبٌ في طرفه نصل يُرمى به عن القوس)

سوال: دلته شارح د سهم پر ځای قدح ولي راوړه؟

جواب: که یې چیری دغه راوړی وای نو ددې مطلب بیا دا جوړیدی چې زما نظر پرته ددغه علم البیان تام او پورا وو، او څه وخت چې یې قدح راوړه نو بیا ددغه مطلب دا جوړیږی چې زما نظر ناقصَ او پورا نه وو بلکه په دغه فن سره به پورا سي، لهذا په دوم صورت کي د علم البیان تعریف راتلي په دغه وجه ده دغه صورت خپل کړي.

او یا خبره داده چې دده نظر پرته ددغه فنَ هم کاملَ وو مګر ده دغه لفظ د قدح لپاره د خپلي عاجزی په خاطر وویي چې زما نظر کمزوری دی که څه هم په حقیقت کي تام دی.

حاشیه نمبر۲۰:

سوال: "في الارتقاء" دغه جار او مجرور دی دغه تعلق د چا سره لری؟

جواب: ددغه تعلق د "الهمة" سره دی. او همت و پخې ارادې، او پوخ عزم ته ویل کیږی.

حاشیه نمبر۲۱:

سوال: مدارج منتهی الجموع صیغه ده نو ددغې مفرد څوک دی؟

جواب: دده مفرد مدرجة دی، او دغه لاری او مذهب ته ویل کیږی.

سوال: په دغه عبارت کې کوم استعاره ده؟

جواب: دلته شارح د کمال تشبیه د لوړ غره سره ورکړیده، لهذا شارح مشبه او غر مشبه به او کمال مشبَه دی. او علاقه د تشبیه لوړ والي دی لکه څرنګه غر لوړ وی دغه ډول کمال هم لوړ او عالي وی. نو ذکر مشبه او مراد هم دغه مشبه دی نو دغه مکنیه ده. او ختنه و اوچت غره ته د دغه غره سره مناسبَ دی نو دغه و مشبه ته ثابتَه نه استعاره ترشیحیه ده.

حاشیه نمبر ۲۲:

سوال: خوارزم چیرې دی؟

جواب: دغه یو غټ او مشهورَ مملکت دی کوم چې د جیحون سره واقع دی او په دغه کې ډیر ښارونه وجود لري.

سوال: د "جرجانیة" څه مطلب دی؟

جواب: په "جرجانیة" کې یاء نسبتي ده یعني منسوب بسوی جرجان. دغه د خوارزم یو ښار دی. او په اوسني زمانه کې دغه په خوارزم سره مشهورَ دی.

سوال: شارح جرجان ولي خوارزم ته مضاف ګرزولي دي؟

جواب: څرنګه چې په خوارزم کې دواقع جرجان ښار څخه سهوا یو بل ښار په نامه سره د جرجان وجود لری کوم چې په خراسان کې دی نو د هغه څخه د جلا کولو په خاطر یې مضاف و خوارزم ته و ګرزوی چې دلته جرجان د خوارزم مراد دی نه د خراسان.

حاشیه نمبر ۲۳:

سوال: "مخیم" کوم صیغه او څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه صیغه د ظرف د باب څخه د تفعیل دی او دغه په معني سره د ځای د اقامت کوني دی. او په عربو کې ویل کیږی "خَیَّمَ بالمکانِ" (دغه د باب څخه د تفعیل دی) یعني اقامت یې وکړی. خیّم / خیّم علی یُخیّم ، تخییمًا ، فهو مخیّم ، والمفعول مُخیّم – للمتعدّي.

حاشیه نمبر ۲۴:

سوال: "طوارق" څه ته ویل کیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: هغه حادثه چې د شپې پېښيږي. ځکه وخت چې به يو کس د شپې مهال راغلي نو عرب به ويل "طرق فلانٌ". طارق (اسم) الجمع: طُرّاقٌ، أطْرَاقٌ، طوارقُ الطَّارقُ: الحادثُ، أو الحادثُ ليلاً

سوال: شارح ولې "طوارق" ذکر کړي او نور حوادث چې د ورځې پېښيږي ذکر يې نه کړل؟

جواب: ځکه اکثری حوادثي د شپې پېښيږي او د دوی ځغه ځان ساتنه سخت وی. په دغه وجه يې ذکر کړه.

حاشيه نمبر ۲۵:

دلته محشي د يو څو الفاظو معناګاني ښوونه غواړي. ۱: ويل کيږي" شمر ازاره" فلان کس خپل پرتوګ راپورته کړی. جد: کوشش.

سوال: "الي اقتناء" جار و مجرور تعلق د چا سره لری؟

جواب: دغه تعلق د "شمر" سره لری.

سوال: د "شمر" صله "الي" نه راځي، بلکه د دغه صله "عن" راځي او حال دا چې دلته په عبارت کې واقع سوې ده؟

جواب: دلته "شمر" متضمن و معني ته د ميل دی، تقدير د عبارت داډول دی" شمرت عن ساق الجد مائلا الي اقتناء ذخائر العلوم" يعني ما خپل پرتوګ د پوندې څخه د کوشش راپورته کړی په داسي حال کې چې زه ميل کونکي و حصول ته د ځزانو د علومُ وم. او د ميل صله "الي" راځي. نو که چيرې الي" صله لپاره د شمروای نو بيا ستا اعتراض وارد بدل پر ځای وو.

شمر: ش م ر: الشَّمْرُ الاختيال في المشي وبابه ضرب و شَمَّرَ إزاره تَشْميراً رفعه يقال شَمَّر عن ساقه وشمر في أمره أي حفّ و انْشَمر للأمر و تَشَمَّرَ أي تهيأ و التَّشْميرُ الإرسال من قولهم شَمَّرَ السفينة أي أرسلها وشمر السهم أي أرسله المعجم: مختار الصحاح.

حاشيه نمبر ۲۶:

سوال: دغه لفظ إنسان او که أنسان دی؟

جواب: دغه انسَان دی او جمع يې اناسی، اناسية او آناس راځي. او دغه کَسِي (مردمک) ته ويل کيږي. لکه ابن منظور په لسان العرب کي فرمايي: والإنسان أيضا : إنسان العين ، وجمعه أناسي . وإنسان العين : المثال الذي يرى في السواد .(لسان العرب ـ حرف الألف – أنس– الجزء رقم۱) إنسان العين: (شر) الحدقة ؛ الفتحة التي يمرّ فيها الضّوء إلى داخل العين ، وتُشع وتضيق تبعًا لشدّة الضّوء . المعجم. عربي عامة إنْسانٌ : جمع : أناسيُّ ، أناسِيةٌ

(المعجم الغني) .دغه په اصل کي اناسين وو بيا نون خلاف القياس په ياء سره بدل سو او ياء په ياء کي مدغم سوه نو "اناسيّ" ځني جوړ سو .او دلته مراد په خپل تورو الي دی.

سوال: په "لطائف العيون" کي کوم اضافت دی؟

جواب: دغه اضافت د مشبه به و مشبه ته دی اصل عبارت داوول دی" اللطائف الشريفة بمنزلة العين في الانسان" يعني هغه مفيدی لطائف کوم چي د سترګو غوندی په بدن کي د انسان دي. نو معني د عبارت دا جوړيږی"ماهغه غورَد لطائفُ ځخه د اخيستولو لپاره پائځې راپورته کړي.او افتلاذ واخيستولو ته ويل کيږی.

حاشيه نمبر ۲۷:

اراجع د مفاعله باب ځخه دی او دغه دلالت پر رجوع د طرفينُ کوی يعني تګ راتګ وو.

سوال: دغه شارح په حرف عطف سره ولي نه راوړی؟

جواب: ځکه دغه د بل حال د شارح بيان دی . لهذا دغه يو مستقلَ بيان دی په دغه وجه يې حرف عطف را نه وړی کوم چي دلالت پر فرعيت او اتباع کوی.

حاشيه نمبر ۲۸:

سوال: مضمار څه ته ويل کيږی؟

جواب: مضمار و ميدان ته ويل کيږی. د عربُ عام عادت داوی چي څه وخت دوی د آسانُ مسابقه به کول، نو دوی به د ميدانُ په پای کي يو لرګي و دروی. کوم آسپکي چي دغه لرګي د زغاستي په وخت کي پورته کړی نو هغه مخکني شمار سي نو دی به تر نورو آسپکيانو غوره بلل کيدی، او ده ته به انعام ورکول کيدی. او دلته دغه کنايه په يو فن کي د کمال حاصلوني ځخه ده.

صفحه نمبر ۴:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com



و(عاطف) كثيرا(صفت، موصوف يي محذوفه دى أعني حياكثرا. لهذا دغه ظرف لپاره د يخالج دى) ما(رانده، تأكيد لپاره د معني د كثرة دى). كان(فعل ناقص. ضمير شان اسم دده دى او يخالج يې خبر دى). يخالج(فعل) قلبي(مضاف و مضاف اليه ، فاعل) ان(مصدريه) اشرح(صيغه متكلم،فعل و فاعل، منصوب په نزعه سره د خافض دى) تلخيص(مضاف، مفعول،موصوف لپاره د المنسوب دى) المفتاح(مضاف اليه) المنسوب(صفت) الي(جار) الامام(موصوف) العلامة(صفت اول، عمدة(مضاف، صفت ثاني) الاسلام(مضاف اليه) قدوة(مضاف، صفت ثالث) الانام(مضاف اليه) افضل(مضاف، صفت رابع) المتأخرين(مضاف اليه، موصوف)المتبحرين(مضاف اليه، صفت) جلال (مضاف، صفت خامس)الملة(مضاف اليه ،معطوف عليه) و(عاطف) الدين (معطو ف) محمد(بدل،موصوف) بن(مضاف، صفت)عبدالرحمن(مضاف و مضاف اليه .صفت، القزويني (صفت اول) الخطيب(صفت دوم) بجامع(جار ومجرور ،مضاف) دمشق(مضاف اليه)اقاض(فعل ما ضي)الله(فاعل) عليه(جار ومجرور تعلق د اقاض سره لرى) شآبيب (مضاف ف، مفعول) الغفران(مضاف اليه) و(عاطف) اسكنه (فعل ، فاعل و مفعول) فراديس (مضاف، مفعول) الجنان(مضاف اليه) اذ(تعليليه) قد(حرف للتحقيق) وجدته(فعل و فاعل و مفعول) مختصرا(مفعول دوم ، موصو ف) جامعا(صفت ثاني)لغرر (جار ومجرور، مضاف،معطوف عليه لپاره قواعده دى)اصول(مضاف دويم) هذا(اسم اشاره موصوف، مضاف اليه) الفن(صفت) و(عا طف) قواعده(مضاف و مضاف اليه ،معطوف) حاوياً(صفت ثالث) لنكت(جار ومجرور ، مضاف) مسائله (مضاف و مضاف اليه، معطوف عليه) و(عا طف) عوائده(مضاف و مضاف اليه ، معطوف). محتويا(صفت رابع) علي(جار) حقائق (مجرور) لباب(مضاف) اراء(مضاف دوم) المتقدمين(مضاف اليه) منطويا(صفت خامس) علي (جار) دقائق(مجرور، موصوف)هي(مبتدا،صفت) نتائج(مضاف، خبر) افكار(مضاف ثا نى) المتاخرين(مضاف اليه) مائلا(صفت سادس) عن(جار) غاية (مجرور، مضاف،معطوف عليه) الاطناب (مضاف اليه، و(عاطف) نهاية(مضاف،معطوف) الايجاز(مضاف اليه) لائحا (صفت سابع، صيغه اسم فاعل) عليه(جار ومجرور)مخائل(مضاف، فاعل لپاره د لائحا دى،معطوف عليه لپاره دلائل دى) السحر(مضاف اليه) و (عاطف) دلائل (مضاف، الاعجاز(مضاف اليه). شعر(خبر لمبتدأ محذوف): ففي(جار، خبر مقدم) كل(مضاف) لفظ (مضاف اليه) مه(جار و مجرور) رونق (مبتدأ مؤخر)من(جار) المعنى (مجرور) * و (عا طف) في(جار) كل (مجرور، مضاف)سطر(مضاف اليه) مه(جار ومجرور، عقد(مبتدأ) من (جار) الدرر(مجرور)

ډير ځلي به زما زړه زما سره په دې کې نزاع کوله چې زه د هغه تلخيص المفتاح شرح وليکم د کومې چې نسبت و پيشوا، ډير علم لرونکي، په اسلام کې په ده اعتماد کېدلو او د خلکو پيشوا او غوره د متأخرينو وو کوم چې ډير جور، تلونکي وه، عظمت د ملت او ددين وو، نوم يې محمد او زوی د عبدالرحمن اووسېدونکي د قزوين ښار وو. ددمشق په يوه جامعه کښې خطيب وو. الله دي په ډير غفران را نازل کړی. او جنت الفردوس دي دده ورنصيب کړی. ځکه ما دې په داسې حال کې ومومې چې دی مختصر او دډغه فن په واضح دلائلو او قواعدو لره جمعه کونکي وو. او باريکو مسائلو او په فوائدو لره دډغه فن يو ځای کونکي وو. او مشتمله په هغه حقائقو وو کوم چې خلاصه د منقدمينو د تصوراتو وه. او مشتمل په دقائقو وو کوم چې نتيجه د افکارو د متأخرينو وه. او ميل کونکي د ډير اوږدوالي او د ډير لنډوالي څخه وو. او په ده باندې د سحر علاماتي او د اعجاز دلائل ښکاره وه. **شعر:** ده په هر لفظ کې د مقصود يو باغ وو * او په هره ليکه کې دده د ملغرولو اميل وو.

تشريح

کثيرا ما: ډير ځلي. يخالج: نزاع کول، جګړا کول. امام: هغه کس چې دَی د خلکو پيشوا وي. او خلک په ده په سي په کاروبار يا په احوالو کې اقتداء کوي. العلامة: صيغه د مبالغې ده ډير علم درلونکي. عمدة: هغه څوک چې په ده باندی اعتماد کيږي. قدوة: پيشوا. انام: خلک. المتبحرين: د تبحر څخه دی په يوشي کې ډير ننوتل، او تللل. جلال: غټي مرتبې والا. الملة و الدين: دغه دوه د ذات په اعتبار سره متحد او فرق ا عتباری لری. شرعي احکام په دې حيثيت سره چې ددوی طاعت کول کيږي دغه ته دين ويل کيږي او په دې حيث چې دوی په ورقو کې نويشته کيږی نو دغه ته بيا ملت ويل کيږي. القزويني: منسوب بسوی قزوين. دغه يو ښار دښارو څخه دايران دی. الخطيب: خطاب کونکي، خطبه ويونکي. دمشق: په کسره سره د دال او په فتحه سره د ميم دغه يو ښار د شام دی او دغه د حضرت ابراهيم عليه السلام يو حبشي غلام جوړ کړی کوم چې نمرود وحضرت ابراهيم عليه السلام ته هغه مهال هبه کړی وو چې دی د اور څخه روغ رږمټ راووتی. افاض: راتوپول. شايب: د شوبوب جمعه ده ډير والي د يوشي. الغفران: بخښنه، پوټول. او غفران الهي دادی چې الله جل جلاله خپل يو بنده د عذاب څخه وساتي. اسكن: د سکني څخه دی سکونت او مقيم والي. فردوس: د فردوس جمعه ده، په لغت کې هغه باغ ته ويل کيږی چې په هغه کې انګور او خرما وی وي. او دلته مراد د جنت لوړی مرتبې دي. الجنان: د جنت جمعه ده باغ. جامعا: جمعه کونکي. اصول: هر څه چې په ده باندې بل شي بنا کيږي، دلائل. حاويا: مشتمل.

Maktaba Tul Ishaat.com

عوائد: د عايدة جمعه ده گټه ،منفعت. محتوى جمعه کول. لباب: خلاصه. منطوى: يوځاى کونکي.
نتائج: د نتيجة جمعه ده د يوشي حاصل. افکار: د فکر جمعه ده. مائلا: ميل کونکي. غاية: انتها.
الاطباب: ډير اوږدوالي. لائح: ښکاره کېدونکي. مخائل: د مخيلة جمعه ده هغه څه چې په خيال کې وضعه کيږي. او دلته مراد علاماتي دي. السحر: هر هغه شي چې د هغه مأخذ بار يک وي. دا يو داسي عمل دی چې دده د کولو ورسته الله جل جلاله يو د عقل خلاف شي پيدا کړي.
روض: باغ. المني: د منية جمعه ده مطلوب او مقصود. سطر: ليکه. عقد: امپل. الدرر: د درة جمعه ده ملغلري.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

سوال: "کثيراً" په څه وجه منصوب گرزېدلي دی او د غه ډول "ما" د څه لپاره دی؟

جواب: په دغه کې څو وجوهات کېداى سي

۱: دغه منصوب بناء بر ظرف دی. اصل عبارت داډول دی "في کثير"، لهذا دغه نصب يې په تقدير سره د "في" دی. او يا دغه ظرفيت يې بناء بر موصوف محذوف دی يعني "زمناً کثيراً، حيناً کثيراً" يعني ډير وخت. او "ما" د عموم د تأکيد لپاره اضافه سوی دی.

۲: دغه صفت لپاره د حذف سوی مصدر دی. لهذا تقدير د عبارت داډول دی "مخالفةً کثير" په دغه صورت کې دغه مفعول مطلق لپاره د راتلونکي فعل يعني "يخالج" دی.

سوال: اسم د "کان" او خبر لپاره ده څوک دی؟

جواب: اسم يې ضمير شان دی. او ورسته جمله "يخالج" ده. اصل عبارت داډول دی "کان يخالج کثيراً ما".

حاشيه نمبر ۲:

سوال: "يخالج قلبي ان اشرح" دغه څه ترکيبي حيثيت لري؟

جواب: "مخالجة" په معنې سره د حرکت کولو او د اضطراب او بې قراری دی. په دغه صورت کې دلته دوه تقدير د ترکيب وجود لري. ۱: "قلبي" دغه فاعل لپاره د "يخالج" دی، او "ان اشرح

ظرف مجازی په تقدیر سره د "في" دی. تقدیر د عبارت داډول دی "يخالج قلبيَ في ان اشرَح" یعني زما زړه په دې خبره کې حرکت کوی چې زه شرح ونویشتنه کړم.

۲: "قلبي" ظرف مجازی په تقدیر سره د "في" دی او "ان اشرح" یې فاعل دی، اصل عبارت داډول دی "يخالج في قلبيَ ان اشرَح". یعني زما په زړه کې دا حرکت او اضطراب وو چې زه شرح ونویشته کړم. خالج يخالج، مُخالجةً، فهو مُخالج، والمفعول مخالج.

﴿فائده﴾: دغه ټوله په هغه صورت کې تر سره کیږی څه وخت چې د ظرف مجازی څخه "في" حذف کونه روا سي. نو په دغه دواړه صورتونه کې نصب بنا ء بر نزع الخافض ده.

سوال: ظرف مجازی څه ته ویل کیږی؟

جواب: هر هغه شي چې هغه زمان او نه مکان وی بلکه مدخول د "في" وی. لهذا دغه ته ظرف مجازی ویل کیږی.

حاشیه نمبر ۳:

سوال: قزوین چیری دی؟

جواب: دغه یو غرني ښار پر باډر او سرحد د دیلم واقع دی. قزوین بکسر الواو من بلاد الجبل نفر الديلم.

(القاموس 260/4 ب)

مدينة مشهورة تقع على سفوح جبال البرز بإيران غربي مدينة طهران. ينسب إليها عدد كبير من العلماء منهم الإمام الراعي أبو القاسم عبد الكريم القزويني، وأبو عبد الله محمد بن ماجة صاحب كتاب السنن المعدودة من الكتب الستة في الحديث. (البداية والنهاية ٢٢٠/٢ج)

وقع مدينة قزوين على مسافة تبلغ 135 كيلو متر في الشمال الغربي من مدينة طهران في هضبة سلاسل جبال البرز ، وسبب وجودها في أهم طرق المواصلات الإيرانية، و وجود صحراء واسعة وذات زراعة محاصيل عالية الجودة وجمال رائع .يرجع القدم التاريخي لمدينة قزوين على أساس أحد المخطوطات إلى أواسط الألف الخامسة قبل ميلاد المسيح (ع) وعلى أساس بعض المخطوطات الأخرى ترجع إلى عصر الساسانيين في تاريخ إيران . على مايبدو أن (شابور ذو الأكتاف 310 _ 371 ميلادي) لمنع هجوم الديلميين كان قد أمر بإعمار قلعة وعلى هذا الأساس قد أسست هذه المدينة.

الديلم: بالأصل كانوا أهل بادية وترحال يسكن الديلم الرحل ما بين الفلوجة والقائم وفي الربيع يخيم الديلم البدو الرحل في الصحراء السورية, اما الديلم المستقرون فهم يسكنون ما بين الرمادي والقائم على ضفتي نهر الفرات. في القرن الثامن عشر بدأت عشائر الديلم المستقرة بالهجرة نحو الشرق حتى ووصلوا إلى الفلوجة وجنوب بغداد. كانت إمارة قبيلة الديلم شبة دوله ذات حُكم ذاتي ترسل مندوبين إلى الدولة العثمانية في إسطمبول، وتتعامل معها تعامل الدول الأخرى, لم تكن للدولة العثمانية سيطرة فعلية على ارضهم, ازدهرت مناطق هذه القبيلة في القرن الثامن عشر، وتواصلت هجرتها واستيطانها للمناطق الزراعية والرعوية على ضفاف دجلة والفرات، وسيطرت على المناطق وأخضعت القبائل الأخرى في المنطقة. (الكاتب القرنسي أميل ابولي (ايام الحكم العثماني،عشائر قبيلة الديلم ص102)

قزوین د ایران یو ښار دی کوم چې په عراقِ عجم کې واقع دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

، عراق عجم نام تاریخی ناحیهای در مرکز ایران است که از غرب به کوههای زاگرس، از شرق به کویر، و از شمال به کوههای البرز منتهی میشود. کرمانشاه، همدان، اصفهان، ری، قزوین و کاشان، قم، تفرش از شهرهای عمده این ناحیه بودهاند. (Encyclopaedia of Islam, vol.۲)

حاشیه نمبر ۴:

سوال: دمشق چیری دی او اولني چا جوړ کړی؟

جواب: دغه په کسره سره د دال او په فتحه سره د میم "دِمَشق"، او کله کله بیا په کسره سره د میم هم وی "دِمِشق". دغه د حضرت ابراهیم علیه السلام هغه غلام جوړ کړي وو کوم چې حضرت ابراهیم علیه السلام ته نمرور هغه وخت هبه کړی چې دی د اور څخه روغ رمټ راووتي. او ددغه غلام نوم دمشق وو نو دغه تسمیه په اسم سره د باني او جوړونکي ده.

حاشیه نمبر ۵:

سوال: "فرادیس" څه ته ویل کیږی؟

جواب: فرادیس پر وزن د مفاعیل دی. دغه وزن د منتهي الجموع دی. او د دغه مفرد فردوس دی. او فردوس په اصل کي هغه باغ ته ویل کیږی په کوم کي د خورما او انګورو درخت وي او دلته مراد اعلي درجاتِ د جنان دی، او جنان د جنة جمعَ ده او جنت په معني سره د باغ دی.

حاشیه نمبر۶:

سوال: : "محتویا" څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه صیغه د اسم فاعل د بابَ څخه د افتعال دی. او دغه په معني سره د اشتمال او متضمن کېدني دی او دغه دوِل په معني سره د جمعَ کوني دی. حوی / حَوَی علی یحوي ، احْوِ ، حوایةً ، فهو حاوٍ ، والمفعول محويّ – للمتعدّي.ویل کیږی: حوَی الشّیءَ / حوَی علی الشّیءِ : ضمّه واشتمل علیه ، جمعه ، احتواه. احتوی / احتوی علی یحتوي ، احتَوِ ، احتواءً ، فهو مُحتَوٍ ، والمفعول مُحتَوًی.لهذا احتوی په مثل سره د حوی دی. او دغه متعدی په علي سره وی.

سوال: انطوی څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه مطاوع د طوی دی. او طوی جمعَ کولو او پېچولو ته ویل کیږی.(طوی فانطوی) جمعَ یې کړی نو جمعَ سو . وپېچي نو وپېچل سو .او دغه هم متعدی په "علي" سره وی.طوی یطوي ، اطْوِ ، طيًّا ، فهو طوٍ ، وطيَّانٌ ، وهي طيَّا والجمع : طِواءٌ ، والمفعول مَطويّ وطُوِيَ. طوی الکتابَ : لفّ بعضه فوق بعض طوَی الورقةَ / الساطَ / قطعةَ القماش / رکبتیه / الشراعَ.انطوی / انطوی علی یَنطوي ، انْطوِ ، انطواءً ، فهو مُنطوٍ ، والمفعول مُنطوًی علیه.

حاشیه نمبر۷:

سوال: دغه د چا شعر دی؟

جواب: دغه د رشیدالدین الوطواط شعر دی، څه وخت چي دده ملګری په نامه سره صدر الدین یو کتاب ده ته ورو لېږي نو رشید الدین دهغه په هکله دغه شعر ووایي.

حاشیه نمبر۸:

سوال: ددغه شعر د مشکلُ الفاظُ معناګاني بیان کړه؟

جواب: "روض": دغه د روضة جمعَ ده.شینګیاه او ښائسته باغ. روضة: (اسم) الجمع : رَوْضات و روضات و رَوْض و رِياض. الرَّوْضةُ : الأرضُ ذاتُ الخُضرة. الرَّوْضةُ : البُستانُ الحَسَن.

منی د منیة جمعَ ده.په معني سره د آرزو او امید ، مطلوب او مقصد.

عِقد : آمیل. عقد: (اسم) الجمع:عُقُودٌ العِقْدُ:خَيْطٌ يُنْظَمُ فيه الخَرَزُ ونحوهُ يُحيطُ بالعُنُقِ انفرط عِقْدُهم : تفرّقوا واختلفوا،تشتّتوا.

Maktaba Tul Ishaat.com

دُرر: ملغلری. ذرة (اسم) الجمع ذرّات و ذُرٌ و ذُرر. الذَّرّة . واحدة الذَّرّ . وهي اللؤلؤة العظيمة. (ناصر)

عبارت

وكان يعوقني عن ذلك أنّي في زمان أرى العلم قد عُطّلت مشاهده ومعالمه، ودُثرت مصادره وموارده، وخلعت عذاره ومراسه

مفعول ثاني كان محذوف ده ... ای ان کان محذوفا

وعفت أطلاله ومعالمه، حتى استفتح بعمومِ الفضل على الأقوال، واستوطن الأفاضلُ ذوابلَ الخمول بتلهفهم، وما زلت أرى أطلاله

ای قرحت ده العقل ، ر ا الفروب ده الاستيطان فتحا او الطرح ا ای اندرست ده

العلوم والفضائل، وبيتأسفني مرارة تكاثر احوال الأذكياء والأفاضل، وهكذا يذهب الزمان على العين بقذى العلم، ويدير على الأثر

جمع الذكي من الأذكاء وهو جمع ة المؤنث ، ر ج

ترکیب

و(عاطف) كان(فعل ناقص، ضمير شان دده اسم دی او خبر يې يعوقني دی) يعوقني(فعل و مفعول) عن(جار) ذلك (مجرور) اني(حرف مشبه بالفعل، ياء اسم دده دی، او دغه فاعل لپاره د يعوقني دی) في(جار، تعلق د اړی سره لري) زمان(مجرور، اړی(فعل سره د فاعله، خبر لپاره د انی دی) العلم(مفعول اول) قد(حرف للتحقيق) عطلت(فعل، مفعول ثاني لپاره د اړی دی. معطوف عليه لپاره د سدت دی) مشاهده(مضاف و مضاف اليه، معطوف عليه، فاعل) و(عاطف) معاهده (مضاف و مضاف اليه، معطوف، و(عاطف) سدت(فعل) مصادره(مضاف و مضاف اليه، فاعل، معطوف عليه لپاره د موارده دی). و(عاطف) موارده(مضاف و مضاف اليه، معطوف، و(عاطف) خلت(فعل) ديازه(مضاف و مضاف اليه، فاعل، معطوف عليه) و(عاطف) مراسمه(مضاف و مضاف اليه، معطوف). و(عاطف) عفت(فعل) اطلاله(مضاف و مضاف اليه، فاعل، معطوف عليه) و(عاطف) معالمه(مضاف و مضاف اليه، حتى(جار) اشفت(فعل) شموس(فاعل، مضاف الفضل(مضاف اليه) على(جار) الاقول(مجرور). و(عاطف) استوطن(فعل، الافاضل (فاعل، ذوالحال) زوابا(مضاف، مفعول) الخمول(مضاف اليه) بتلهفون(فعل و فاعل، حال) من(جار) اندراس(مضاف، اطلال(مضاف ثاني) العلوم(معطوف، مضاف اليه) و(عاطف) الفضائل(معطوف) . و(عاطف) يتأسفون(فعل و فاعل، عطف به يتلهفون باندی دی) من (جار، انعكاس(مضاف اول) احوال(مضاف ثاني) الاذكياء(مضاف اليه، معطوف عليه)و(عاطف)الافاضل(معطوف). و(عاطف) هكذا (په معنی د مثله دی مبتدأ) يذهب(فعل، خبر) الزمان(فاعل) على(جار) العين(مجرور) . و(عاطف) يقذى(فعل) العلم(فاعل) فيه (جار ومجرور). و(عاطف) يدرس(فعل) الاثر (فاعل).

ترجمه

او زه ددغه شرحي دليکولو څخه دې خبرې منعه کولم چې زه په يو داسې زمانه کې وم چې ما وليدل چې د علم د حاضرېدولو او د پېژندولو ځايونه معطل سوي وه، او د علم د رجوع کولو او د راتللو ځايونه بند سوي ول، او د علم ښارونه او د اثر ځايونه خالي سوي ول، او د علم پاتې آثار او علامات زاړه سوي ول، ترډاسي وخته پورې چې د علم لمرونه او لوېدولو ته ژمنې سوي ول، او علماؤ د ګمنامي کونجان نيولي ول، او دوی د علومو او کمالاتو د آثارو په زړېدو باندې غم کوي، او دوی د ذهينو او کمالاتو د خاوندانو د حالاتو په بدلېدولو باندې خوابدي ول، او دغه ډول ازماني سره د اوښکوتګ کوي، او په دې کې علم فنا کېدی او علامات يې زړېدل.

تشریح

بعوق: منعَ کول. عطل معطل کېده. مشاهد: د مشهد جمعه ده اسم مکان په معني سره د ځای د حاضرېدو. او مراد مدارس دي. معاهد: د معهد جمعه ده اسم مکان په معني سره پېژندی ځای او مراد کتابونه دی. سد بندېدل. مصادر: د مصدر جمعَ ده او دغه د صدر څخه دی په معني سره د ځای د رجوع کولو او مراد استاذان دی. موارد: د مورد جمعه ده. ځای د راتلو او مراد طالبان دي. خل: خالي کېده. دیار: د دار جمعه ده د استوګنې ځای. مراسم: د مرسوم جمعه ده اسم ظرف مکان دی. ځای د اثر. اوپه دغه دوارو (دیار، مراسم) سره د د طالبانو د وسېدولو ځایونه مراد دی. عف: د عفوي څخه دی محوکېده. زېږېدل. اطلال: جمعه د طلل ده د ښار د خرابېدو څخه ورسته کوم څه چې د ښار د آثارو څخه پاته سي دغه پاته سوي اثارو ته طلال ویل کیږي. او مراد اثر د علم دی. معالم: د معلم جمعه ده علامت. او مراد شهرت د علم دی. اشف: د شفي څخه مأخوذ دی. قریب کېدل، نزدې کېدل. شموس: د شمس جمعَ ده لمر. مراد علماء دي. الفضل: علم. الافول: غروب. استوطن: د استیطان څخه دی. وطن جوړول. وطن نیول. الافاضل: علماء. زوایا: د زاویې جمعه ده کونج. الخمول: ډیر زیات غفلت. یتلهفون: د تلهف څخه دی غم کول. اندراس: محو کېدله. اطلال: جمعَ د طلل ده. یتأسفون: د هغه کار په نه کولو سره غمجن کېده دکوم کول چې ضروري وی. انعکاس: بدلېدل. احوال: د حال جمعَ ده. الاذکیاء: د ذکي جمعه ده ذهین. الافاضل: د افضل جمعَ ده هغه څوک چې زیاتوالي په علم کې لري. یذهب: تلل. علي: په معني سره مع دی. العبر: په فتحه سره (عَبر) جمعه د عبرة ده اوښکي. اوپه کسره سره (عِبر) جمعه د عبرة ده په معني سره د اعتبار. یفني: د فناء څخه دی فاني کېدل. الاثر: علامت.

حل الحواشي
حاشیه نمبر ۹:

سوال: عطلت د کوم باب څخه دی؟

جواب: دغه د تفعیل باب څخه دی. معطلَ ګرزېدل، فارغ کېدل. عطّل. یعطّل، تعطیلاً، فهو مُعطِّل، و المفعول مُعَطَّل.

مشاهد: دغه د مشهد جمعَ ده، ځای د حاضرېدلو، ځای د لیدلو. مشهد: (اسم) الجمع: مشاهدُ اسم مکان من شهدَ منظر، مَرْأی؛ مکان المشاهدة.

Maktaba Tul Ishaat.com

معاهد: جمعَ د معهَد ده هغه خای چې د هغه په سبب څوک پیژني. معهد (اسم)الجمع معاهد المعهد معهد الناس ومشهدهم جمع معاهد:اسم مکان من عهد دلته مراد د مشاهد او معاهد څخه علماء او مدارس او کتابونه دي.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: "مصادر" څه ته ویل کیږي؟

جواب: مصادر جمعَ د مصدر ده، او مصدر د صَدَرَ څخه دی، او صدر رجوع ته ویل کیږي. او مراد د مصادر او مواردُ څخه استاذان او شاګردان دي. مصدر: (اسم) الجمع : مصادر المصدر: اسم مکان من صدر / صدر إلى / صدر عن / صدر في / صدر من : ما يُصدَرُ عنه الشيء. مصدر الرزق : أسباب العيش وموارده.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: دغه شعر د کومَ کتابَ څخه دی؟

جواب: دغه شعر د حماسه دی او دغه په ځای کې د شکایت کولو ویل کیږي. او "و هکذا" په اصل کې "فهکذا" وو. بیا فاء په واو سره بدلَ سوه نو "و هکذا" جوړ سو.

دغه شعر مدوَّر دی. او مدَور هرهغه شعر وی چې د هغه یو داسې بیت وی چې په هغه کې د بیت دواړې مصرعه په یوه لفظ کې سره شریکاني وی ، لکه دلته ددغه شعر په آخری بیت کې اولنې او آخرنې مصرعه په یوه لفظ کې چې "یفنی" دی سره شریک دي. "یَفْ" د اوِل مصرعه آخری حصه او "نی" د دوِم مصرعه اولنې حصه ده.

یدرس الاثر :اثر ختمول، اثر ختمبدل. دغه لازمي (زورپدل) او متعدی (زورول) دواړه راځي.

درس : [د ر س]. (فعل : ثلاثي لازم). درسَ ، يدرُسُ ، مصدر دُرُوسٌ ، درْسٌ . درَسَ الرَسْمُ :- : عفا ، امحى ، ذَهَب أثرُهُ. درس درَسَ، يدرُس ، دَرْسًا ودُروسًا ، فهو دارِس ، والمفعول مدروس (للمتعدّي) .- • درَسَ الرَّسمُ / درَسَ المكانُ امحى وذهَبَ أثرُه ، خلق وبلي :- قَبْرٌ دارِسٌ ، - { وليَقُولُوا دَرَسْتَ } [قرآن]

او ددې شعر مطلب دادی چې د علما، او د مدارسُ ختمېدنه او کمزور کېدنه تر دغه زمانې پورې خاص نه ده بلکه دغه د په خوا څخه راروانَ سلسله ده.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: "عبر" په فتحه سره د عین او که په کسره سره د عین دی؟

جواب: دواړه کېدای سي.

۱ : په فتحه سره د عين دغه د غه جمعَ د عبرة ده په معني سره د او ښکو . عبرة (اسم) الجمع : عبرات و عَبَرات و عِبر العَبْرةُ : الدَّمْعةُ قال أن تقبض لك ما أبكي ولا عبْرة بي : أي أبكي من أجلك ولا حزن لي في حاصّة نفسي ، يُضرَبُ للرجُل يشتدُّ اهتمامه بشأن أخيه وإيثاره.

۲ : په کسره سره د عين دغه جمعَ د عبرة په معني سره د اعتبار ده. عبْرة :جمع عبرٌ،عبرات. العِبْرةُ :هو الاتّعاظ والاعتبارُ بما مضى

سوال: "على العبر" اصل په حماسه کې وجود لري او که نه؟

جواب: ښکاره خبره داده چې دغه شعر چيرې چې په حماسه کې نقل سوی دی هلته دغه "على العبر" نسته نو د دغه ځخه دا معلوميږي چې دغه اضافه د شارح د طرف ځخه ده . او مقصد د شارح د دغې اضافه ځخه تضمين دی. او تضمين د بل چا شعر او يا نثری کلام خپل کلام حصه ګرزول او په داسي توګه راوړل چې ځوک په دغه پوه نه سي چې دغه جلا جلا کلامونه دی. لهذا په دغه شعر کې دغه لفظ اضافه سو نو دغه تضمين دی.

سوال: "على العبر" کې "على" په کوم معني سره دی؟

جواب: دلته "على" په معني سره د "مع" دی ، لکه په دې الهي قول کې "آتى المال على حبه" يعني مع حبه". نو دلته معني د شعر دا جوړيږی " زمانه په داسي حال کې تبريږی چې د دې سره او ښکې ملګری کيږی. (که چيرې عبرة په معني سره د اوښکو سې) او يا يې معني دا جوړيږی" زمانه په داسي حال کې تبريږی چې دا سره د هغه شيانو سره وی د کوم ځخه چې عبرت اخيستل کيږی.

عبارت

لكن لما رأيت توفر رغبات المحققين على تعلم هذا الكتاب وتحصيله وامتداد أعناقهم نحو الإحاطة بجمله وتفاصيله والتزهم قد حرموا توفيق الاهتداء الى ما فيه من مطويات الرموز والاسرار أقدم بقع له شرح يكشف عن وجوه خزائنه الاستار ترى بعضهم تعاطيه قد اكتفوا بما فهموه من ظاهر المقال من غير أن يكون لهم اطلاع على حقيقة الحال وبعضهم قد تصدّوا والسلوك طرائقه من غير

ترکيب

لکې(حرف مشبه بالفعل. ضمير يې اسم دی) لما(معني حين، اسم شرط منصوب په جواب سره دی او دی همیشه مضاف و ما بعد جملې ته وی) رأيت(فعل و فاعل) توفر(مضاف، مفعول اول) رغبات(مضاف ثاني) المحصلين(مضاف اليه) علي(جار) تعلم (مجر

Maktaba Tul Ishaat.com

ور، مصاف) هذا(موصوف) الكتاب(صفت) و(عاطف) تحصله(مضاف و مضاف اليه،عطف به تعلم باندې دی)، و(عاطف) امداد(مضاف، عطف به توفر باندې دی) اعاقفهم(مضاف و مضاف اليه) نحو(مضاف، ظرف لپاره د امداد دی) .لاحاطه (مضاف اليه، تحمله(جار ومجرور، مضاف و مضاف اليه، معطوف علیه تعلق د الاحاطة سره لری) و(عاطف)تفاصيله(مضاف و مضاف اليه، معطوف). و(عاطف)اكثرهم(مضاف و مضاف اليه، مبتدأ) قد حرموا (فعل و فاعل، خبر) نو فيق(مضاف، مفعول) الاهداء(مضاف اليه) الي(جار) ما(موصول ، مبتدأ و خبر محذوف هو ثابت) فيه(جار و مجرور) من(بيان) مطو بات(مضاف) الرموز(مضاف اليه، معطوف علیه) و(عاطف) الاسرار(معطوف). اذ(تعليليه ده لره محل د اعراب نه وی) لم نفع(فعل) له(جار و مجرور) شرح(فاعل، موصوف) يكشف(فعل و فاعل) عن(جار) وجوه(مضاف)خرانده(مضاف و مضاف اليه) الاستار (مفعول) ترى(فعل وفاعل) بعض (مضاف، مفعول اول) منعا طيه(مضاف و مضاف اليه) قد اكتفوا(فعل و فاعل ، مفعول دوم) بما(جار، موصول) فهموه(فعل و فاعل و مفعول) من (جار) ظاهر(مضاف) المقال(مضاف اليه) من(جار) غير(مضاف، مجرور) ان(مصدريه) يكون(فعل ناقص) لهم(جار ومجرور، خبر مقدم) اطلاع(اسم) علي(جار) حقيقة(مضاف) الحال(مضاف اليه). و(عاطف) بعضهم(مضاف و مضاف اليه، مبتدأ) قد تصدوا(فعل و فاعل) لسلوك(مفعول،مضاف) طرائقه(مضاف و مضاف اليه) من(جار) غير(مضاف) دليل(مضاف اليه). فاصلوا(فعل وفاعل) كثيرا(مفعول)و (عاطف)صلوا(فعل و فاعل) عن(جار) سواء (مضاف) السبيل(مضاف اليه).

ترجمه

مگر څه وخت چې ما زياتوالي د شوق د طالبانو د زده کړې او د حاصلولو د دغه کتاب وليدی. او د دوی غاړې غزول و طرف ته د احاطې کولو په مجملاتو او مفصلاتو د دغه کتاب وليدل. او زياتو د دوی څخه په تحقيق سره په خپلو ځانو باندې توفيق د لار موندلو و هغه څه ته چې په دغه کتاب کې ول حرام کړی وو او هغه سخت اشاري او پټ رازونه وه. ځکه د دغه کتاب لپاره يو داسې شرح ليکل سوی نه ول کومې چې د دغه کتاب د ناوکوبو د مخانو څخه پرده لری کړی وی .ته به يو څه د اخيستونکو څخه ووينې چې دوی کفايت په هغه څه کوی کوم چې د ښکاره قولونه څخه فهموی ښه دي چې دوی لره تنبيه او معلومات په حقيقت حال باندې وی. او څه د دوی څخه ښه دليله تګ په لاره باندې د دغه کتاب لپاره وراندې سوی ول.نو دوی د پر ګمراه کړل او خپله هم د سمې لاري څخه ګمراه سوله.

تشريح

اول: دالفاظُ معناګاني: توفر: زيات. **رغبات**: درغبت جمع ده ارداه چې سره د رضاوی، شوق. **المحصل**: حاصلونکي. **تعلم** :زدکړه. **امتداد**: غزول، اوږدول، **اعناق**: د عنق جمعه ده غاړه. **نحو**: طرف. **جمل**: د جملة جمعه ده په معنې سره د اجمال. او دغه ضد د تفصيل دی. **تفاصيل**: د تفصيل جمعه ده. **حرم**: حرامول، منع کول. **توفيق**: د خير اسباب برابرول. **الاهتداء**: د هغه شي موندل چې هغه و مقصود ته رسونکي او وصل کونکی وی. **مطويات**: د مطوية جمعه ده مشکل، ګران، پيچيده. **الرموز**: د رمز جمعه ده اشاره. **الاسرار**: د سر جمعه ده پټ شي. هغه شي چې پټيږي. **اذ**: دغه د حرمان لپاره علت دی. **يكشف**: ښکاره کول. **وجوه**: د

وجه جمعه ده مخ . **خرائد**: د خريدة جمعه ده ناوکي، ښائسته ښځه. **الاستار**: د ستر جمعه ده پرده. **متعاطی**: اخيستونکي. **اکتفی**: کفايت کول. **فهم**: فهمول. **ظاهر**: ښکاره. **المقال**: مصدر د قال دی، قول. **اطلاع**: مصدر د افعال دی تنبيه ورکول. **تصد**: عارضېدل، وړاندي کېدل. **السلوک**: تلل. **طرائقه**: د طريقة جمعه ده لاره. **اضل**: ګمراه کول. **ضل**: ګمراه کېدل. **سواء السبيل**: سيده لار.

دوم: داستعارو بيان : امتداد اعناقهم: که چيري د هم ضمير راجع و رغبات المحصلين سي نو بيا په عبارت کي استعاري دی. شارح د طالبانو د شوق تشبيه د غاړې والا کس سره ورکړېده. لهذا شارح مشبه او رغبات المحصلين مشبَه او ذو عنق مشبه به او علاقه د تشبيه وړاندی کېده دی. لکه څه ډول چي ذو عنق خپل مقصود و حاصلولو ته وړاندی کيږي دغه ډول رغبات المحصلين ول لهذا ذکر مشبه(رغبات) او مراد هم دغه مشبه دی دغه مکنيه ده. او لازم(عنق)د مشبه به(ذو عنق) يې و مشبه ته ثابت کړی دی دغه تخيليه ده.

وجوه خرائد: شارح دمشکلو مسئلو تشبيه د ناوکي سره ورکړېده. لهذا مشبه شارح او مشبَه مسائلِ او مشبه به ناوکي او علاقه د تشبيه پټوالي دی لکه څه ډول چي ناوکي پټه وی دغه ډول مشکلي مسائلي دي . لهذا ذکر مشبه به(خرائد) او مرا مشبه دی دغه مصرحه ده.

حل الحواشي

حاشيه نمبر۱۳:

سوال: "لکن" لپاره د استدراک رائي نو دلته استدراک د چا څخه دی؟

جواب: دلته "لکن" د مخکنيو عباراتو څخه د استدراک په حيث راغلي دی دا ډول چي د شارح د مخکني خبرو څخه دا معلوېدل چي شارح په شرحَ ليکولو کي لهوالتيا نه لری نو اوس دلته يې د لهوالتيا لرلو خبره سرګنده وی.

سوال: رغبت او دغه ډول دغه نور مشکل الفاظ څه معنا ګاني لری؟

جواب: رغبت هغه ارادې ته ويل کيږی کومَ چي د خوښتيا سره مَل او ملګری وی. او ويل کيږی "رَغِبَ في الشيء" يعني د شي اراده يې وکړه. رَغِبَ فلانٌ رغبَ رَغبًا ، ورَغْبَةً ، ورُغْبَةً : حَرَصَ على الشيء وطمع فيه. رَغِبَ الشيء ، ورَغِبَ في الشيء: اراده. (المعجم الوسيط) او دغه ډول ويل کيږی "ارتغب في الشي" ارْتَغَبَ يَرْتَغِبُ

Maktaba Tul Ishaat.com

ارتاعاً فهو مُرتَعِب. و ارتعب الشيء، وارتَعَبَ في الشيء رَغبةً (المعجم الوسيط) يعني دشي اراداه يې وکړه. لهذا ارتغب په مثل د رَغِبَ دی.

امتداد اعتاقهم: غاړی او .دول او غزول.امتدَّ / امتدَّ في يمتدّ ، امتِدادً / امتدَّ ، امتدادًا ، فهو مُمتدّ ، والمفعول مُمتدّ فيه امتدَّ العمرُ وعمرُه طال. او دلته دغه د کمال میل او پورا میلان څخه کنایه ده.

څمل: دغه د جملة جمعَ ده او جملة د اجمال څخه ده او اجمال ضد د تفصيل دی. او جمله ته په دې وجمله وايي چې دغه جمله فائده په يو ځای والي سره د مفرداتو ورکوي نه په تفصيل او جلا جلا کېدلو سره د مفرداتُ. جُملة: (اسم) الجمع : جُملات و جُمَل الخَمْلَةُ : جماعة كل شيء ، والجملةُ (عند النّحاتين والنّحويّين) : كُلُّ كلام اشتمل على مُسْنَدٍ ومُسْنَدٍ إليه والجمع : جُمَلٌ اخذ الشيء جُمْلَة . منجمّعًا لا متفرّقًا ، : مجتمعًا دفعة واحدة لا مُنَجَّمًا مُتفرّقًا

سوال: شارح ته دا ډول وينا په کار وه "بجملته و تفصيله" ځکه مخکني عبارت کې ده دا ډول ويلي دي "و تحصيله" لهذا دغه موافقت د مخکني کلام سره دی. او دغه اولي او ښه کار دی چې په نثری کلام کې سجعَ برقرارَ پاته سوې وی. مګر د دغه سره بيا شارح دغه تر سره کړې نه ده، دغه ولي؟

جواب: ځکه په دغه کتاب کې يو مجمل او يو مفصل نه وو بلکه زيات وه،او پر زيات باندی د جمع دلالت تر ټولو واضح دی په دغه وجه د جمعَ راوړه او اشاره يې وکړه چې ټولو مجملاتو او مفصلاتو ته د کتاب باندی احاطه کوني ته دوی پورا پورا مائلَ وه.

حاشيه نمبر ۱۴:

سوال: "محصلين" څخه څوک مراد دي؟

جواب: هغه څوک چې دوی قصد د ذدکړی لری.

سوال: د مخکني عبارت څخه "عطلت مشاهده و معاهده الخ" دا معلومیږی چې مدرسې بندي سوي وې او طالب علمان نه وه . او د دې عبارت څخه "رأيت توفر رغبات المحصلين" بيا دا ښکاری چې طلباء زيات وه. او طلباء چې وې نو مدارسِ هم شتون او وجود لري. لهذا دغه ننی او موجوده کلام د مخکني کلام سره تضاد لری؟

جواب: د مخکني کلام څخه حقيقت حال مراد نه دی بلکه مبالغه د دې خبری څخه ده چې خلکو و دغه فن ته توجه نه کول. لهذا مبالغه په عدم توجه کې وه. او مقصد بندش د مدارسُ او ختم

والي د طلباؤ نه و. او د ذکر سوی عبارت څخه بیا حقیقي حال مراد دی. لهذا تناقض وجود نه لري.

حاشیه نمبر۱۵:

سوال: "ترى بعض متعاطيه" دغه کوم کلام دی؟

جواب: دغه استیناف بیاني دی او جواب د یو سوال مقدرَ څخه دی دلته سوال داکېدی چې ښوونکی دد غه فن په کوم حال کې وه نو شارح جواب ورکړي الخ.

سوال: "اکتفوا" کي ضمیر مرفوع متصل راجع و "بعض" ته دی. او "بعض" مفرد او ضمیر ورته د جمع راجع سوی دی. لهذا د مرجع او ضمیر ترمینځ موافقت نسته کوم چې باطل دی؟

جواب: لفظ د "بعض" دوه حیثیتَ لري. ۱: لفظ د بعض: په دغه اعتبار سره دغه مفرد دی په ده کي کومَ نښه او علامه ذ جمع وجود نه لري. ۲: معني د بعض: دغه جمعَ ده ځکه بعض تر یوه زیات وی. لهذا په اعتبار د لفظ مفرد او په اعتبار د معني جمعَ ده لکه لفظ د "کل" چې په اعتبار د لفظ مفرد او په اعتبار د معني جمعَ ده. لهذا که چیرې لفظ د "بعض" معتبر سي نو بیا ضمیر د مفرد ورته راجع ګرزی او که معني د "بعض" مرادَ سي نو بیا ضمیر د جمع ورته راجع ګرزی، څرنګه چې دلته معني د "بعض" مدنظر ګرزېدلي ده نو په دغه وجه ده ته د جمع ضمیر راجع سوی دی لکه په دې الهي قول کي "وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ. (سورة یاسین 40)

«وَكُلٌّ» الواو استئنافية و مبتدأ «في فَلَكٍ» متعلقان بيسبحون «يَسْبَحُونَ» فعل مضارع مرفوع والواو فاعل راجع الى كل،او الى مضاف محذوف أى كلا هولاء، والجملة خبر والجملة الاسمية استئنافية لا محل لها.

حاشیه نمبر۱۶:

سوال: محشي وایي که چیرې شارح په ځای د "طائفه،طرقه" ویلي وای نو دغه ویناپه ئې تر وینا د "طرائقه" ډیر ښکاره وای. ځکه په "طرائقه" کي ډیر احتمالات سته. او دی د ډیرو معناګانو محتمل دی. او په "طرقه" کي ډیر احتمالات نسته. او هر هغه لفظ چې په هغه کي د ډیرو احتمال نه وي. د دغه لفظ استعمال ډیر ښکاره تر استعمال د هغه لفظ وی چې په هغه کي احتمال وي. ځکه د محتمل په صورت کي مراد والي د معنی مرادي پته وی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: استعمال د لفظ غير محتمل هغه وخت ښکاره ترهغه ترڅو استعمال د محتمل وی چيرې چې قرينه په معنائي مرداي موجود نه وی. او دلته دغه ډول نه ده بلکه دلته قرينه په معنې مرادي باندې موجوده ده او هغه لفظ د "السلوک" دی. ځکه سلوک د لاری راځي نه د بل څه.

طريقة (اسم) الجمع: طرائق، طُرُق. 1: طريقة: طريق. 2 - طريقة: سيرة. 3 - طريقة: مذهب. 4 - طريقة: طبقة. 5- طريقة: حالة. 6- طريقة: خط في الشيء. 7 - طريقة: نسيجة طويلة من صوف أو شعر. 8- طريقة: عمود المظلة. 9- طريقة: نخلة طويلة. 11- طريقة: شريف القوم وسيدهم. للمفرد والجمع (المعجم الرائد)

صفحه نمبر ۵:

عبارت

اختلست من اثناء التحصيل فرصا * مع ما انجرع من الزمان غصصا * وطفقت اقتحم موارد السهر غائصا في لجج الافكار * والتقط فرائد الفكر من مطارح الانظار * وبذلت الجهد في مراجعة الفضلاء المشار اليهم بالبنان * وتارسة الكتب المصنفة في فن البيان * لاسيما دلائل الاعجاز واسرار البلاغة * فلقد تناهيت في تصفحهما غاية الوسع والطاقة * ثم جمعت لشرح هذا الكتاب ماذلل صعاب غويصاته

ترکیب

فاختلست(فاء به جواب کې دلما راغلې ده.فعل و فاعل) من(جار) الثناء(مضاف) التحصيل(مضاف اليه) فرصا(مفعول) مع(مضاف) ما(مصدريه) انجرع(فعل و فاعل) من(جار) الزمان(مجرور) غصصا(مفعول) فطفقت(فاء عاطفه ، او عطف په اختلست باندې دی طفق فعل مقاربه دی. تاء يې اسم دی) اقتحم(فعل و فاعل) موارد(مضاف، مفعول) السهر(مضاف اليه) غائصا(حال د ضمير څخه د اقتحم دی) في(جار) لجج(مضاف) الافكار(مضاف اليه) و(عاطف) التقط(فعل و فاعل) فرائد(مضاف) الفكر(مضاف اليه) من(جار، تعلق د التقط سره لري) مطارح(مضاف) الانظار (مضاف اليه) و(عاطف) بذلت(فعل و فاعل، عطف په اختلست دی) الجهد(مفعول) في(جار) مراجعة(مضاف، مجرور) الفضلاء(موصوف مضاف اليه) المشار(صفت، صيغه مفعول) اليهم(جار ومجرور، نائب فاعل) بالبنان(جار ومجرور) و(عاطف) ممارسة(عطف په مراجعة دی) للكتب(جار ومجرور، موصوف) المصنفة(صفت، مفعول سره د نائب فاعله) في (جار) فن(مضاف) البيان(مضاف اليه) لاسيما(لا حرف لنفي الجنس، اسم، مضاف، ما موصول مبني پر سکون په محل کې د جر دی) دلائل(مضاف، معطوف عليه، خبر لپاره د مبتدأ محذوفې دی يعني هو) الاعجاز(مضاف اليه) و(عاطف) اسرار(مضاف) البلاغة(مضاف اليه) فقد تناهيت(فعل و فاعل،عطف په بذلت دی) في(جار) تصفحهما(مضاف و مضاف اليه) غاية(مضاف، منصوب نزع الخافض) الوسع(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف) الطاقة(معطوف) .

ترجمه

ما د حاصلولو دزماني د مينځ څخه يو څه وخت راواخيستي، سره ددې چې ما د حوادثو څخه دزماني تحمل د واقعاتو کوی.نو ما د ناخوبي په ځايو کې ننوتل په داسې حال کې شروع کړه چې زه په څيو کې د افکارو مې غوتې وهلې. او

د غه ډول د نظر ډېرې وتو د ځايږ څخه ما د فکر ملغلري راپوته کېده شروع کړل. او ما کوشش وهغه علماؤ ته د تلو کوي چې کومو ته په سرو سره ګوتو اشاري کړل سوی ولي. او دهغه کتابو د کتولو کوشش مي کوی کوم چې په دغه فن کي د بيان ليکل سوی ول. خصوصا دلائل الاعجاز او اسرار البلاغت. نو زه په اعتبار د انتها، د خپل محنتو پای ته د پلټولو ددغو دوو کتابو ورسېدم.

تشريح

اول: بيان دلغا تو: احلس: بروزن اجتمع، فعل ماضي پيدا کول، په چم سره يو شي حمله کول، چل کول. اثناء: جمعه د ثني ده، د شي ما بين. التحصيل: حاصلول. **فرصا:** فرصت، فراغت. اتجرع صيغه دمتکلم د باب څخه د تفعّل ده، او تجرع څخه دی لرلر چينبل. **غصص:** جمعه د غصة دی، هر هغه شي چې هغه په ستوني کي ودريږی. **طفق:** شروع کول. **اقتحم:** صيغه دمتکلم ده، داخليدل، ننوتل. **موارد:** د مورد جمعه ده، د ننوتولو ځای. **السهر:** ناخوبي. **غائص:** بروزن فاعل دی غوټه خورل. **لجج:** د لجة جمعه ده څپې. **الافکار:** د فکر جمعه ده. **التقط:** صيغه د متکلم د باب څخه د افتعال دی، پر مځکه پروت شي پورته کول. **فرائد:** د فريدة جمعه ده. **مطارح:** د مطرح جمعه ده، صيغه د ظرفي مکان، هغه ځای چې و هغه ته شيان ورغوزول کيږي. **الانظار:** د نظر جمعه ده استدلال، د مجهول شي د حاصلولو لپاره معلوم شيانو طلبول. **بذلت:** صيغه د متکلم ده، صرفول، خرڅول، ښندل. **الجهد:** کوشش. **مراجعة:** مصدر ميمي، رجوع کول. **المشار:** چې اشاره کول سوې وی. **البنان:** جمعه د بنانة ده د ګوتي طرفونه. د ګوتو سرونه. **ممارسة:** مصدر د ماس دی، استعمالول، مطالعه کول. **تناهيت:** صيغه متکلم پر وزن د تفاعل ده، و آخر ته رسېدل. **تصفح:** بروزن د تفعل دی، نظر کول په ورقو کي، پلټنه. **غاية:** پای. **الوسع:** کوشش.. **الطاقة:** طاقت.

دوم: د استعاري بيان: موارد السهر: دلته شارح د مسائلو تشبيه د هغه ځای سره ورکړېده چې په هغه خلک راځي. لهذا مشبه شارح، مشبّه مسائلي او مشبه به موارد او علاقه د تشبيه ورود دی. لکه څه ډول چې په مواردو خلک واردږي دغه ډول په مسائلو باندي نظرونه. لهذا ذکر مشبه به (موارد) او مراد مشبه ده دغه مصرحه ده.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې حاشيه کې څو تحقيقه دي.

تحقيق اول: سوال: محشي وائي که چيري د شارح دغه ډول عبارت "فضلوا وا ضلو" وېلې واى نو دغه ډول ويا ډير ښکاره وله؟ځکه د خپل ځان ګمراهي په وجود کې تر بل د ګمراه کولو مخکې وى. ځکه يو کس چې په خپله ګمراه نه وي دغه کس بل نه ګمراه کوي. لهذا دغه کس به يو واري په خپله ګمراه کيږى بيا به دى بل ګمراه کوي. لهذا ضلال په وجود کې تر اضلال مخکې دى. نو د ذکر د طبعي سره د موافقت په خاطر شارح لپاره په کار وه چې ده په ذکر کې هم ضلوا مخکې کړي واى. او دغه موافقت تر عدمي موافقت اولى دى؟

جواب: شارح خپل کلام د کلام الهي سره د موافق راتللو په خاطر اضلال يې تر ضلال مخکې کړي. او هغه کلام الهي دادي" وَلا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِنْ قَبْلُ (أى قبل البعثة) و أَضَلُّوا كَثِيرًا(ممن شايعهم على ردعاء التثليث) وَ ضَلُّوا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ(بعد البعثة) (سورة المائدة77) او موافقت د کلام الهي سره اولى دي.

تحقيق دوم: بيان د قول د معزالدين: خلاصه دده د کلام داده چې په دوې وجې سره اضلال په ضلال باندې مخکې سوې دى. او دغه مخکې والي دوه قسمه راتلاى سي.

۱): ضلال سره د "عن سواء السبيل" په اضلال باندې مقدم کړل سي.

۲): ضلال ېيله د "عن سواء السبيل" په اضلال باندې مقدم کړل سي.

په اول تقدير باندې **قافيه** ددې قول سره د شارح "**غير دليل**" نه حاصليږي. او په دوم تقدير باندې بيا تغير د **نظم** د قرأن رائي. ځکه په قرأن کې داډول راغلى دى "**ضلوا عن سواء السبيل**" او دا ډول نه دى راغلى "**و اضلوا عن سواء السبيل**" ددغه دوو وجو څخه شارح اضلال په ضلال باندې مخکې کړي.

﴿تنبيه﴾: په **قافيه** کې اشاره و دې ته ده چې ته تصور په نه حاصلېږي و کې د قافيه او په تغير راتلو کې په نظم کې د قرأن وواهه.

﴿فائده﴾: تعريف د قافيه :ددې په تعريف کې دوه قوله راغلي دي.

۱) : **علامه خليل:** وائي "ان القافية عبارة عن الساكنين فى آخر البيت مع ما بينهما من الحروف المتحركة و مع المتحرك الذى قبل الساكن الاول" (قافيه و دې ته ويل کيږي چې په بيت کې د آخري حرف ساکن څخه

بیا تر اول ساکن پورې او سره د هغه حرف متحرک چې مخکې تر دغه ساکن اغلې وی ، سره د هغه حروفو متحرکه چې ترمینځ دغه ده، و ساکنینو وي)

۲): **علامه اخفش**: فرمائي "انها الكلمة الاخيرة من البيت (آخری کلمه ته دبیت قافیه ویل کیږي).

مثال: ابو امه حی ابوه یقاربه" اوس په دغه بیت کې قافیه په نیز د خلیل د "**قاف**" څخه بیا تر "**هاء**" پورې ده. او په نیز د اخفش بیا قافیه لفظ د "یقاربه" دی.(مختصر الشافی۳۳)(شرح الحامی ۴۰، ج۴) او دلته مراد د قافیه څخه موافقت د آخری لفظ د یوې جملې د آخری لفظ سره د هغه بلې جملې دی.

حاشیه نمبر۲:

سوال: "فاخلست" باندی فاء داخلَ ده نو دغه کوم فاء ده؟

جواب: دغه فاء جزائیه ده. لهذا " فاخلست" جواب د "لما رأیت" ده.

سوال: "ما اتجرع" کې "ما" کوم "ما" ده؟

جواب: دغه ما مصدریه ده. او "تجرع" په غړپ غړپ چیښلو ته ویل کیږی. تجرّعَ یتجرّع ، تجرّعًا ، فهو مُتجرّع ، والمفعول مُتجرّع تَجَرَّعَ الْمَرِيضُ الدَّوَاءَ : شَرِبَهُ شَيْئاً فَشَيْئاً ، بَلَعَهُ رَشْفَةً بَعْدَ رَشْفَةٍ كُنْتُ أَشْعُرُ شُعُورَ مَنْ يَمْضَغُ الحَصَى أَوْ يَتجرّعُ الدَّوَاءَ الْمُرَّ.

سوال: کذا التفهم الخ" په دغه سره محشي څه ښوونه غواړی؟

جواب: هغه دلته خاصه د باب د تفعل بنئي چې دغه تفعل کله کله لپاره د عمل رائي یعني دلالت پر دې خبری کوی چې اصلِ فعل یوځلي څخه ورسته بل ځلي (حصل مرة بعد مرة) حاصل سوی دی. او ددغه باب څخه تفهم هم دی. ګواکي فهمونکي ته فهم د یو مسئلې ورسته تربل فهم حاصلیږی. (الجاربردی شرح الشافیة ۵۰) لهذا په دغه صورت کې تدریج معتبر وی.

سوال: غصص د چا جمع ده؟

جواب: غُصَص جمع د غُصّة ده هر هغه شي چې په ستوني دریږی او نه تیریږی.

حاشیه نمبر۳:

سوال: موارد السهر څخه څه مراد دی؟

جواب: هر هغه ځای مراد دی چیرې چې د طلبونکي لپاره بیداری او بې خوابي په کار وی د دې لپاره چې د مقصد و لاس ته په راوړلو کې کامیابي وموندی.

Maktaba Tul Ishaat.com

لحج لُحَه (اسم) جمعَ يې دري دولَ راځي: لُحَ ، و لُحځ ، و لحاځ. لُحَهُ الأمرِ معظمه او دغه په معني سره د ابو د مينځ او د ډيرو او زياتو او بو دی. او هغه او به چې څپې وهي.

سوال: لحج الافکار "دغه کوم اضافت دی؟

جواب: دغه اضافت د مشبه به و مشبه ته دی

التقاط: راپورتکول دهر هغه شي چې پر مځکه پروتوی. التقط يلتقط ، التقاطاً ، فهو ملتقط ، والمفعول ملتقط

1 - إلتقط الشيء : جمعه من هنا ومن هنا . 2 - إلتقط الشيء : عثر عليه من غير قصد ولا طلب . 3 - إلتقط الشيء : لقطه . 4 - إلتقط : « اللقاط »، وهو السنبل المتروك : جمعه. (المعجم الرائد)

حاشيه نمبر۴:

سوال: ممارسة څه ته ويل کيږی؟

جواب: کوشش کونه په ډيرد کت سره موندنه. مارس يمارس ، مرانا ومُمارسةً ، فهو ممارس ، والمفعول مُمارس . - • مارس الشخصُ الشيءَ عالجه وزاوله ، قام بعمله :- تكتسب المهارة بالممارسة : بالاحتكاك والتدريب ، - مارس سلطته : فرضها ، - يمارس التجارة منذ صغره ، - مارس ضبط النفس :- • طبب ممارِس : طبيب متدرّب ، - ممارس عامّ : طبيب حديث التخرّج . (اللغة العربية المعاصر)

حاشيه نمبر۵:

دلائل الاعجاز او اسرار البلاغة د شيخ عبدالقاهر دوه کتابونه دي.

عبارت

بايد الوسع والطاقة ❁ نجمعت لشرح هذا الكتاب مايذلل صعاب غوامضه الآية ❁ ويسهل طريق الوصول الى ذخائر كنوزه المخفية ❁ واودعته فرائد نفيسة ونخبت بها كتب القدماء ❁ وفوائد شريفة جمعت بها اذهان الاذكياء ❁ وغرائب نكت اهتديت اليها بقوة التوفيق ❁ ولطائف فكر انتخذتها من عين التحقيق ❁ وتمسكت في دفع اعتراضاته بذيل العدل والانصاف ❁ وتجنبت في ردماورد عليه عن مذهب الحي والاعتساف ❁ واسرت الى حل اكثر غوامض المفتاح والايضاح ❁ ونبهت على بعض مافوقع من اشباح افاضل العلامة في شرح المفتاح ❁ واومأت الى مواضع زلت فيها اقدام الآخذين في هذه الصناعة ❁ واغضت عما وقع ببعض متعاطي هذا الكتاب من غير بضاعة ❁ ورفضت التأسي بجماعة حطروا تحقيق الواجبات ❁ ومافرضت على نفسي سنتهم في تطويل الوصول

ترکیب

ثم(حرف عطف به اخلست دی) جمعت(فعل و فاعل) لشرح(جار ومجرور،مضاف)هذا(موصوف)الكتاب (صفت) ما(موصوله) يذلل(فعل و فاعل) صعاب(مضاف) عو يضاته(مضاف و مضاف اليه، موصوف) الاية(صفت). و(عاطف، به بذلل دی) يسهل(فعل و فاعل) طريق(مضاف، مفعول) الوصول(مضاف اليه) الى(جار) ذخائر(مضاف) كنوزه (مضاف و مضاف اليه، موصوف) المخفية(صفت)

و(عاطف،عطف په جمعت دی) اودعته (فعل، فاعل، مفعول) فرائد(موصوف) نفیسه(صفت اول،وشحت(فعل ، صفت دوم) بها(جار ومجرور) کتب(مضاف،فاعل) القدماء (مضاف الیه)و(عاطف، عطف به فرائد دی) قد اند(موصوف، سریعه(صفت اول) سمحت(فعل) بها(جار ومجرور) اذهان(فاعل، مضاف) الاذکیاء(مضاف الیه) و(عاطف، عطف په فرائد دی) غرائب(مضاف موصوف) نکت (مضاف الیه) اعتذیت (فعل و فاعل) الیها(جار ومجرور) بدور(جار ومجرور، مضاف) التو فیق(مضاف الیه، و(عاطف)لطائف (مضاف، فقر (مضاف الیه،موصوف) أحدثتها(فعل، فاعل ، مفعول) من(جار) عس(مضاف) التحقیق(مضاف الیه) و(عاطف، عطف به اودعته دی) تمسکت(فعل و فاعل) في(جار) دفع(مضاف)اعتراضاته(مضاف ومضاف الیه) بذیل(جارومجرور، مضاف) العدل (مضاف الیه، معطوف علیه) و(عاطف) الانصاف (معطوف). و(عاطف، عطف به تمسکت دی) تحنت (فعل و فاعل) في(جار) ردا(مضاف) ما(موصول) اورد(فعل) علیه(جار ومجرور، نائب فاعل) من(جار) مذهب(مضاف) البغي (مضاف الیه، معطوف علیه) و(عاطف) الاعتساف(معطوف) و(عاطف، عطف په تمسکت دی) اشرت(فعل و فاعل) الي(جار) حل(مضاف اول) اکثر(مضاف دوم) غوامض(مضاف درییم) المفتاح(مضاف الیه) و (عاطف، عطف په نهت دی)اومأت(فعل وفاعل) الي(جار) مواضع(موصوف) زلت(فعل) فیها(جار ومجرور) اقدام (مضاف، فاعل) الأخذین(مضاف الیه) في(جار) هذه(موصوف الصناعة(صفت) و(عاطف، عطف په اومات دی) اغمضت (فعل و فاعل) عما(جار ومجرور، موصول) وقع(فعل و فاعل) فیض (جار ومجرور، مضاف) متعاطي(مضاف دوم) هذا(موصوف) الکتاب(صفت) من(جار) غیر(مضاف) بضاعة (مضاف الیه). و(عاطف،عطف په اغمضت دی) رفضت(فعل و فاعل) الناسي(مفعول) بجماعة(جار ومجرور، موصوف) حظروا(فعل وفاعل) تحقیق(مضاف، مفعول) الوا جبات(مضاف الیه) و(عاطف) ما فرضت (فعل وفاعل)علي(جار) نفسي(مضاف و مضاف الیه) مستهم(مضاف و مضاف الیه، مفعول) في(جار) تطویل (مضاف)الواضحات(مضاف الیه) .

ترجمه

بیا ما دد غه کتاب د شرح کولو لپاره هغه شیان جمع کړل کومو چې دد غه کتاب د مشکلاتو سختي آسانه کول. او دد غه کتاب د معناګانو وذخیرو ته د رسېدولو لاري یې آسانه کولې. او ما په دغه کې هغه محبوبې ملغلري کښېنولې په کومو سره چې د قدماؤ کتابونه ښائسته وه.او غوره فائدې په کومو سره چې د ذهینو خلکو ذهنو سخاء کړېول. او غریبې نکتې کومو ته چې زه په نور سره د توفیق ورسېدم. او هغه لطیفې نکتو ته د کلام کوم چې ما د عینِ تحقیق څخه اخیستي وې. او ما په دفع کې دهغه اعتراضاتو چې په مصنف به وارد ېدل لمن د عدل او د برابرۍ ونیولې.او په ردولو کې د هغو اعتراضاتو چې په دغه مصنف وارد ېدل په کړې اوناحقي لارې باندې د تلو څخه لرې سوم.او ما د اکثرو پټو ځایو ته د مفتاح او د ایضاح اشاره وکړل. او ما تنبیه په بعضو هغو ځایو ورکړه په کومو کې چې دقطب الدین شېرازي څخه په شرح کې د مفتاح تسامح واقع سوېدلې.او ما هغه ځایو ته اشاره وکړل په کومو باندې چې د اخیستونکي په دغه فن کې پښې ښوېدلې. او ما چشم پوشي په هغو شیانو وکړل کوم چې د بعضو څخه دد غه کتاب د اخیستونکو څخه بېله سامانه واقع سوي ول.او ما د هغه جماعت اقتداء کوله پوریښول کومو چې د هغو شیانو تحقیق پرې هیڅې وو د کومو بیان تفصیلا واجب وو. او ما د دوی لاره په اوږدوالي کې د واضح شیانو په ځان فرض نه کړل.

تشریح

Maktaba Tul Ishaat.com

بذلل: د ذل څخه ده ، سختي آسانه کول. **صعاب**: جمعه د صعوبة ده. سختي. عويصات: د عويصه جمعه ده. مشکل. **الاية**: انکار کونکي. بسهل: فعل مضارع، آسانه کول. طريق: لار. الوصول رسېدل. ذخائر: د ذخيرة جمعه ده هغه شي چې د ضرورت لپاره محفوظه کيږي. کنوز: د کنز جمعه ده، هغه پټ سوی شي. المخفية: پټ. اودعت: فعل ماضي متکلم، هيښول. نفيسة: د تنفيس څخه محبوب او مرغوب شي. وضحت: فعل ماضي، صيغه د متکلم د توشيح څخه ده ښائسته کول. فوائد: د فائدة جمعه ده هر هغه شي عام تر دې چې علم او که بل شي وي چې هغه اخيستل کيږي اويا ورکول کيږي. **شريفة**: غوره. **سمحت**: فعل ماضي، سخا کول، ښه ځواني کول. **اذهان**: د ذهن جمعه ده هر هغه عقلي قوت چې په هغه سره عقل دشيانو دادراک کولو مستعد گرزي. **الاذکياء**: د ذکي جمعه ده پوه. **غرائب**: د غريب جمعه ده نادر. **فقر**: د فقرة جمعه ده هر هغه گڼه چې پر طرز د شمزی د هلوکي جوړه سوې وي. او دلته مراد د کلام نکتې دي. **عين**: سترگه. التحقيق: د کلام په دليل سره ثابتول. تمسک: د مسک څخه دی، تعلق او اعتصام او نيول. بدليل: لمُن. **العدل**: د ظلم ضد. **الا نصاف**: برابري. **تجنبت**: صيغه متکلم فعل ماضي، لرې کېدل. **مذهب**: تگ لاره. **البغي**: د حق څخه اوښتل. **الاعتساف**: پرته د هدايت په بل لار باندې تلل. **اشرت**: صيغه متکلم فعل ماضي. ما اشاره وکړه. **غوامض**: د غامضة جمعه ده، پټ سوی شي. **اومأت**: په ورځه يا شونډانو سره اشاره کول. **زلت**: فعل ماضي غائب. ښوېدلي وه. **اقدام**: د قدم جمعه ده، پوښنه. **الأخذين**: اسم فاعل، اخيستونکي. **اغمضت**: فعل ماضي صيغه متکلم، چشم پوشي کول. **متعا طي**: وړاندي کېدونکي. **بضاعة**: د تجارت سامان. **رفضت**: فعل ماضي صيغه د متکلم، پر ريښول. **التاسي**: دأسو څخه ده، اقتداء کول. **حظروا**: فعل ماضي صيغه د متکلم ده. پر ريښول. منعه کول. **الواجبات**: د واجب جمعه ده، د تحقيق څخه د واجباتو هغه شيان مراد چې د هغو تفصيلا تحقيق کول لازم وي. **سنت**: تگ لاره.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۶:

سوال: "ثم" د څه لپاره دلته راوړل سوېده؟

جواب: دغه عاطفه او لپاره د استبعاد ده. او استبعاد و دې ته ویل کیږی چې عقل معطوف د معطوف علیه څخه لرې او بعیدَ بولي. دلته هم ددې جملو څخه (اخلستُ الخ) دا ښکاری چې مصنف فارغ نه وو ، وخت یې نه درلودې او دې د مصائبُ سره مخامخ وو ،نو په داسې حال کې یو کاملَ شرح لیکل عقل لرې بولي ، مګر ددې خبرې څخه "جمعت لشرح" دا معلومیږی چې دغه شرح ډیر کاملَ ده کومَ چې ډیر وخت غواړی او فارغ زړه غواړی.لهذا عقل دغه خبره د مخکښې خبرې څخه لرې بولي.

حاشیه نمبر۷:

سوال: صعاب او عویصات څه ته ویل کیږی ؟

جواب: صِعاب جمع د صعب ده. او ددغه معنې ده مشکلَ او سختَ. او دغه ډول عویصات د عویص جمعَ ده او دغه هم په معنې سره د مشکل دی.

سوال: دغه اضافت د شي و خپل ځان ته دی، او دغه صحت نه لرې ځکه اضافت یو نسبت طرفین متغایرین غواړی کوم چې دلته نسته؟

جواب: په دغه کې اختلاف دی، کوفین یې روا او بصرین یې نا روا بولي.د بصرینُ د مذهب موافق جواب دادی چې دلته اضافت د شي و خپل ځان ته راغلې نه دی بلکه اضافت د عام و خاص ته دی ځکه صعاب څخه مطلقاً مشکل مراد دی او د عویصات څخه هغه افراد مراد دي کوم چې په مشکلوالي کې و پای ته رسېدلي وی. لهذا صعاب عام او عویصات خاص دی نو دغه اضافت د عام و خاص ته لپاره د بیان د مضاف په مضاف الیه سره دی.

صَعْب: جمع صِعاب،مؤصغْبة: صفة مشبّهة تدلّ على الثبوت من صعُبَ / صَعُبَ على : عسر شديد أيّ ممتنع ، نقيض ذَلُول :- اختيار ! / رجلٌ صَعْب ، - أحسن وسيلة للتغلُّب على الصّعاب اختراقُها ، - جملٌ صَعْب : لا ينقاد :

حاشیه نمبر۸:

سوال: عین التحقیق څخه مراد څوک دی؟

جواب: دلته د عین درې معنې کېدای سي .۱: عین په معنې سره د نفس دی "نفس التحقیق" یعنې نفسِ تحقیق. نو معنې دغه سوه چې ما دغه لطائف د نفسِ تحقیق څخه راخیستي دی نه د گمان او اندازه څخه. نو ددغه لطائفُ مدار په خپله تحقیق دی نه گمان.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲: دلته عین په معني سره د خیار او غوره دی یعني د بهترین تحقیق څخه. ۳: دلته عین په معني سره د سرو زرو دی، بناء بر دغه اضافت د عین و تحقیق ته، اضافت د مشبه به و مشبه ته دی یعني د تحقیق څخه کوم چې د سرو زرو غوندی دی.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: په دې قول کې (کانه التسویة) د کاف راوړل صحت نه لري. ځکه معنی د انصاف خپله تسویه ده. او معنی ئې "کانه التسویة" نه ده، یعني په مثل د تسویه نه ده؟

جواب اول: خلاصه د جواب داده چې "انصاف" مصدر په معنی سره "نصف کردن" دی. او انصاف په خپله تسویه نه ده. او س خلاصه دا سوه چې "تسویه" او "اعطاء النصف" په نصف کردن باندې یو اثر مرتب دی. نو دوی دواړه په انصاف باندی اثرِ مرتبَ دي نه په خپله انصاف. لهذا راوړل د کاف صحی دی.

دوم جواب: خلاصه ددې جواب داده چې انصاف مقابل د ظلم دی. لکه و دغه خبری ته چې محشي په "کذا" سره اشاره کړیده. او ظلم و تجاوز عن الحد ته ویل کیږي. او انصاف "عدم التجاوز عن الحد" ته ویل کیږي. او تسویه او اعطاء النصف لازم د عدم التجاوز عن الحد سره ده. او دوی نفسِ انصاف نه دی حتی چې بیا اعتراض وارد سي.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: "حظروا" دغه معلومَ او که مجهولَ صیغه ده؟

جواب: په دغه کې دوه احتمالَ سته. ۱: دغه مجهولَ صیغه ده نو معني یې دا کیږی چې دوی منعَ سوی وه.

سوال: "تحقیق الواجبات" څه ترکیبي حیثیت لری؟

جواب: دغه د قبیله څخه د حذف او ایصال دی یعني حذف د حرفِ جر سوی دی او مجرور و فعل ته راژندې سوی دی، لهذا تقدیر د عبارت داوړل دی "من تحقیق الواجبات" ورسته تر دغه "من" حذف سو، او "تحقیق الواجبات" و فعل ته راژندې کړل سو.

۲: دغه معلومَ صیغه ده نو فاعل یې ضمیر متصل دی او "تحقیق الواجبات" مفعول لپاره د فعل دی.

حاشیه نمبر ۱۱:

په دې حاشیه کې څو تحقیقه دی.

تحقیق اول: د مراعات النظیر د تعریف بیان: مراعاتُ النظیر و دې ته ویل کیږي "یو شی د خپل مناسبه سره جمع کول" ۔ او دغه مناسبت به مناسبت د توافق وی نه د تضاد لکه په دې قول کې د الله ﷻ "و الشمس و القمر بحسبان" (محصر المعانی ۴۲۹)

تحقیق دوم: د ایهام د تعریف بیان: ذکر کېده د یو داسي لفظ چې هغه لره دوې معناګاني وي یوه د هغو معناګانو څخه ژندې او هغه بله لري وي. (محصر المعانی ۴۵۶)

دریم تحقیق: د الفاظو د لغوی معناګانو بیان: رفض په لغت کې ترک ته ویل کیږي. **سنت** و لاري او **جماعت** ټولي ته د خلکو او **فرض** وجوب ته ویل کیږي. **واجب** لازم او **حظر** منع ته ویل کیږي.

څلورم تحقیق: د الفاظو د اصطلاحي معناګانو بیان: رفض د رافضي فرقې صفت دی. سنت و الجماعة د اهل اسلام یوه ټولي ده. فرض، واجب او حظر د اهل الفقه د اصطلاحاتو څخه دي.

پنځم تحقیق: د مراعات نظیر سره د ایهام په مذکوره الفاظو کې بیان: خلاصه ددې تحقیق داده چې سنت والجماعة او رفض مناسبت سره لري. ځکه دغه دو اړې د اسلامي فرقو څخه دي. فرض، واجب او حظر مناسبت سره لري. ځکه دغه ټولي فقهي اصطلاحاتي دی. او په دغه الفاظو کې ایهام دغه ډول دی چې د دغه الفاظو لغوي معناګاني لري او اصطلاحي معناګاني ژندې دي. او دلته مراد لغوي معناګاني دي نه اصطلاحي. او د لري معناګانو مراد ول ایهام دی.

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

وحين فرغت عن تسويد الصحائف بتلك الملاطف (سعر) رماني الدهر بالارزاء حتى فؤادي في غشاء من نبال * فصرت اداة اصابتين سهام * فكسرت النصال على النصال * وذلك من توارد الاخبار لتقاعم الصابر في المشاتر والاخوان * عند تلاطم امواج الفتن في بلاد خراسان (سعر) لاحبذا ديارها حل الشباب كمبتي واول ارض مس جلدي ترابها * فلقد جرد الدهر على اهاليها سيف العدوان * واباد من كان فيها من السكان * فو يدع من اوطانها الادمنة لم تكلم * ولم اوف * ولم يبق من خربها الا قوم بالية في (سعر) كان لم يكن بين الحجون الى الصفا * انيس ولم يسمر بمكة سامر

ترکیب

و(عاطف، عطف به جمعت دی)حين(ظرف زمان مضاف و ما بعد جملي ته دی او په دې کې عامل رماني دی) فرغت(فعل و فاعل) عن(جار) تسويد(مجرور، مضاف) الصحائف(مضاف اليه) بتلك(جار ومجرور، موصوف) اللطائف(صفت) شعر(خبر لمبتدأ محذوف). رماني(فعل و مفعول) الدهر(فاعل) بالارزاء(جار ومجرور) حتى(حرف ابتدا) * فؤادي(مضاف و مضاف اليه، مبتدا) في(جار، خبر) غشاء(مجرور) من(جار) نبال(مجرور). فصرت(تفريعيه فعل ناقص و اسمه) اذا(ظرفيه شرطيه، مضاف و ما بعد جملي ته دی او تعلق دخيل جواب سره لري) اصابتي(فعل و مفعول، شرط، او خبر د فعل ناقص لپاره دی) سهام(فاعل) تكسرت (فعل، جواب د اذا دی) النصال(فاعل) على(جار) النصال(مجرور). و ذالك(مبتدأ) من(جار، خبر) توارد(مجرور، مضاف) الاخبار (مضاف اليه) بتقاعم(جار و مجرور، مضاف، تعلق د توارد سره لري) المصائب(مضاف اليه) في(جار) العشار(مجرور، معطوف عليه) و(عاطف) الاخوان(معطوف). عند(ظرف لپاره د رماني دی) تلاطم(مضاف اول) امواج(مضاف دوم) الفتن(مضاف اليه) في(جار) ديار (مضاف)خراسان (مضاف اليه) لاسيما(ترکيبه سبق). شعر(خبر لمبتدأ محذوف): ديار(مبتدأ، موصوف) بها(جار و مجرور)حل(فعل) الشباب(فاعل) تميمي(مفعول)* و(عاطف) اول(مضاف) ارض(مضاف اليه،موصوف) مس(صفت، فعل) جلدي(فاعل) ترابها(مضاف و مضاف اليه، مفعول). فلقد(تعليل، لام للتأكيد) جرد(فعل) الدهر(فاعل) على(جار) اهلها(مضاف و مضاف اليه) سيف(مضاف، مفعول) العدوان(مضاف اليه). و(عاطف) اباد(فعل) من (مو صول، فاعل) كان(فعل ناقص، اسم) فيها(جار ومجرور، خبر) من(جار) السكان(مجرور) فلم(عطف به حرد دی) يدع(فعل) من(جار) اوطانها(مضاف و مضاف اليه مجرور) الا (حرف استثناء) دمنة (موصوف،فاعل لپاره د يدع دی) لم تكلم(فعل و فاعل) من(جار) ام (مضاف) اوفي(مضاف اليه) . و(عاطف) لم يبق(فعل) من(جار) خربها (مضاف و مضاف اليه) الا(حرف استثناء) قوم(فاعل) بلدح(جار ومجرور) عجفي(صفت لپاره د قوم دی). شعر: كان(للتشكيك) لم يكن(تامه بمعني وجد) بين(مضاف) الحجون(مضاف اليه) البجاز(جار) الصفاء(مجرور)*انيس(فاعل د لم يكن لپاره دی) و(عاطف) لم يسمر(فعل) بمكة(جار ومجرور) سامر (فاعل).

ترجمه

او څه وخت چې زه د دغه لطائفو په ورقو باندې د ليکولو څخه فارغ سوم. شعر: زه زماني په غمو او مصيبتونو سره و ويشتم نو د اسي وخته پورې * چې زما زړه د غشي په پرد و کې پټ سو. زه د اسي وګرزېدم چې څه وخت به ما ته غشي رسېدی نو د غشي و سپينه به په و سپينه سره ماتېدل. او د دغه ويشتل يې په دې وجه و چې ما ته به د دې خبر رسېدی چې

زمانقوم او وروسته په غټو غمو سره ککړ سوی دي. په وخت کې د فتنو د ټپو په ښارو کې د خراسان خصوصاً شعر: هغه ښار چې په هغه کې خوان د خپلې کوشنۍ والۍ تعویز خلاص کړی * او هغه اولنۍ مخکه چې ماپه ست ورسره موښتې وو. او په تحقیق سره زمانې د دغه ښارو په وسپدونکو باندې د ظلم توره د تیکې ځکه هیستلې وه. او د دغه ښار د وطنو ځکه بل ځه پاته نه وو پرته د هغو اثارو ځکه چې هغوی خبرې د ام اوفي د طرف ځکه نه سوې کولای او د دغه د ټولې ځکه په بلدح ځای کې پرته د ډنګرو بل ځوک په ته نه وو. کواکې د حجون ځکه بیا تر صفا پورې یو الفت کونکې پاته نه وو. او په دغه کې قصه کونکې نه وو.

تشریح

حن: وخت. **فرغت**: فعل ماضي متکلم، زه فارغه سوم. تسود: مصدر د تفعیل باب دی، لیکنه، اتور ول. الصحائف: د صحیفة جمعه ده د کتاب ورقه. رمی: فعل ماضي غائب، ویشتل. الدهر: زمانه. **ارزاء**: جمعه د رز ده، مصیبت، غم. **فؤاد**: زړه. **غشاء**: پرده. **نبال**: د نبل جمعه ده عربي غشي. **تکسرت**: صیغه غائب فعل ماضي معلوم، ماتېدل. **النصال**: د نصل جمعه ده د غشي، توري، چاقو او د چارې او سپینه. **توارد**: یو تربله سره ورسته. **الاخبار**: د خبر جمعه ده. **تفاقم**: مصدر د باب ځکه د تفاعل دی. غټ، اوچت. **العشار**: د عشیرة جمعه ده، قبیله، قوم. **الاخوان**: د اخ جمعه ده ورور. **تلاطم**: مصدر د باب ځکه د تفاعل دی، ټپې وهل، یو د بل سره موښتل. **امواج**: د موج جمعه ده ټپه. **الفتن**: په کسره سره د فتنة جمعه ده، فساد. **دیار**: د دار جمعه ده د ځکونت او استوګنې ځای. **خراسان**: په طرفي مشرقي کې د ایران یو ښار دی. حل: د حلول ځکه دی نازیلېدل، راتلل، خلاصول. الشباب: ځوان. نعیمي: د ویري ځکه د ژغورنې په خاطر کوم تعویذ چې د کشنیانو په غاړه زوړانده کیږي. مس: موښتل. **جلد**: پوست. تراب: خاوره. **جرد**: کښل. العدوان: دښمني. **اباد**: دال یا راء سره، وژنه. **السکان**: د ساکن جمعه ده وسپدونکي. **لم یدع**: پورې نښوی. **اوطانها**: د وطن جمعه ده د وسپدولو ځای. **دمنة**: د یو ځای تر خرپدو ورسته د خلکو پاته آثار. هغه مځکه چې خلکو آباده کړې وی او په هغو کې د دوی ځارویو موچارې کړی وي (اساس). **حزب**: ټولې. **ببلدح**: غیر منصرف نوم د یو ځای دی. **عجفي**: د عجیف جمعه ده، ډنګر. **الحجون**: په لاندې حصه کې د مکې یو غر دی. **الصفاء**: په لوړ طرف کې د مکې یو غر دی. **انیس**: الفت او محبت کونکي. **لم یسمر**: د شپې قصې نه بیانولې. سامر: د شپې قصې کونکي.

حل الحواشي

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر ۱۲ :

سوال: "حين فرغت" څه ترکیبي حیثیت لري؟

جواب: "حين" ظرف زمان دی او مضاف و مابعد ته دی، نو دغه مضاف سره د مضاف الیه ظرف لپاره د راتولنکي فعل يعني "رماني" دی نو دغه پورا جمله پر "جمعت لشرح هذا الكتاب" باندی عطف ده.

حاشیه نمبر ۱۳ :

سوال: "الارزاء" څه ته ویل کیږی؟

جواب: مصیبت، غم. أرزاء : جمع رَزء. رزأ يرزأ ، رُزْءًا ورِزْءًا ، فهو رازئ ، والمفعول مَرْزوء :- • رزأ الشّخص أصابه بمصيبة . • رزأ مالَ شريكه : أخذ منه شيئًا فنقصه . المعجم: اللغة العربية المعاصر). رزْء : رزء 1 - مصدر رزأ ورزِىء . 2 - مصيبة شديدة ، جمع : أرزاء . (المعجم: الرائد)

غشاء : پرده. غشاء: (اسم) الجمع : غِشاءات و أغْشِية الغِشاءُ :: غطاءٍ ، غلاف ، ما يُغلّف به جسمُ الحيوان والنّبات ، كالجلد والوبر والرّيش والحراشف واللّحاء، وضع على الحديد غشاء رقيقًا من الدّهان.

النبال: غشي. نبل: (اسم) الجمع : نِبالٌ ، و أنبالُ النّبْل : السّهامُ أصابه نَبْلُ الدّهرِ : حوادثُه.

سوال: شارح وئي "رماني" و وايي يعني زما بدن يې ویشت. او بیا يې "فوادی" و وايي يعني زما زړه يې ویشت دغه ولي؟

جواب: دغه اشاره و دې خبره ته ده چې حادثات په بنکاره توګه پر بدن راځي مګر په حقیقت کې اثر پر زړه کوی.

سوال: "اذا اصابتني" دلته شارح اذا ولي راوړی؟

جواب: اذا پر تحقق دلالت کوی. ځرنګه چې مصیبتونه واقع سوی او متحقق وه نو په دغه وجه يې د تحقق لفظ "اذا" راوړی. او د وزن د ساتولو لپاره يې سهام پر ځای د سهم راوړي. نصل د نیزې د توری او چاړه و او سپینې ته ویل کیږی. نصل: (اسم) الجمع : نِصالٌ ، و أنْصُل ، و نُصُولٌ النّصْل حديدة الرُّمح والسّهم والسِّكّين.

سوال: معني د شعر څه جوړیږی؟

جواب: معني د شعر داده "زماني زه د مصيبتو نو په نېزو وويشتم تر داسي وختَ پورې چې زما زړه پت سو داډول چې زه داډول و ګرزېدم چې که چيرې زه په بل نېزې ويشتل سوی وای نو بيا به نېزه ما ته رسېدلې نه وای بلکه نېزه به پر نېزه موښتې وای او هغه به ماته سوې وای.

حاشيه نمبر ۱۴:

سوال: خراسان په اصل کې څه ته ويل کيږي؟

جواب: خراسان په اصل کې مشرق ته ويل کيږي. ورسته تر دغه د ايران يو ښار په دغه نامه سره ونومول سو. ځکه دغه ښار د ايران په مشرق طرف کې د عراق او فارس واقع دی په دغه وجه دغه ښار ته خراسان نومول کيږي.

حاشيه نمبر ۱۵:

سوال: "بها" په دغه کې "باء" په معني سره د "في" دی. او تميمه په معني سره د هغه تعويذ ده کوم چې په غاړه د کوشني ددې لپاره څړيږي چې کوشني و نه وهريږي. او دغه قول "حلها في تلک الديار" کنايه ددې خبرې څخه ده" خپل کوشني والي په دغه وطن کې تېر کړي تر داسي وختَ پورې چې دی هلته ځوان سو". او اول نقيض د آخر دی. او "اول الارض" عطف پر "ديار" دی. او "جلدی" مفعول لپاره د "مس" دی. او فاعل د دغه "ترابها" دی او فاعل ورسته تر مفعول ددې لپاره راوړل سو چې دغه "ديار بها" موافق و ګرزی يعني "ديار بها، ترابها". اوس که چيرې "جلدی" فاعل او "ترابها" مفعول و ګرزول سي نو دغه د عرف خلاف ده چې پوست خاورَ مسَ کړي. او "مس التراب جلده" کنايې د زېرېدنې څخه ده.

صفحه نمبر ۶:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

فطرحت الاوراق فيروايا الهجران ✻ ونسجت عليها عناكب النسيان ✻ وضربت بيني وبينها حجابا مستورا ✻ وجعلتها كان لم يكن شيئا مذكورا ✻ والى الله المشتكى من دهر اذا اساء اصر على اساءته ✻ وان احسن ندم عليه من ساعته ✻ ثم الجأني فرط الملال وضيق المجال الى ان قطن ارض الروم ✻ وتحوني رفع الى حضن ✻ حتى انحت بمعروسة هراة ✻ جاها الله تعالى عن الآفات ✻ ومنح الله تعالى عينها على جنة النعيم ✻ بلدة طيبة ومقام كريم (سجع) فلقد جمعت فيها المحاسن كلها ✻ واحسنها الايمان والدين والا من فشاهدت ان قد سطعت انوار العلم والهداية ✻ وخمدت نيران الجهل والغواية ✻ وظل الملك ممدودا ✻ ولواء الشرع بالعز معقودا ✻

ترکیب

فطرحت:عطف به رماني باندي دي.فعل و فاعل) الاوراق(مفعول) في(جار) زوايا(مضاف، مجرور) الهجران(مضاف اليه) و(عاطف، عطف به طرحت باندي دي) نسجت(فعل) عليها(جار ومجرور) عناكب(مضاف، فاعل)النسيان(مضاف اليه) فصربت (عطف به طرحت باندي دي، فعل وفاعل) بيني(مضاف و مضاف اليه،معطوف عليه) و(عا طف)بينها(مضاف و مضاف اليه) حجابا(موصوف، مفعول) مستورا(صفت، و(عا طف،عطف به طرحت باندي دي) جعلتها (فعل، فاعل و مفعول) كأن(تشكيكيه) لم يكن (فعل ناقص، ضمير يي راجع و اوراق ته دي او مزكر والي يي به اعتبار د خبر دي، اسم) شيئا (موصوف، خبر) مذكورا(صفت. و الي(جار، خبر مقدم) الله(مجرور) المشتكي(مبتدأ) من(جار) الدهر(مجرور) اذا(ظرف) اساء (فعل و فاعل،شرط)اصر(فعل وو فاعل، خبر)علي(جار) اساء ته(مضاف و مضاف اليه).و(عاطف، عطف به اساء باندي دي) ان (شرطيه) احسن(فعل و فاعل، شرط) ندم (فعل و فاعل، جزاء) عليه(جار ومجرور) من (جار) ساعته(مضاف و مضاف اليه، مجرور)، ثم(عاطف، عطف به طرحت باندي دي) الجأني(فعل و مفعول) فرط(مضاف، فاعل) الملال(مضاف اليه) و(عاطف، عطف به فرط باندي دي) ضيق(مضاف، فاعل)مضاف اليه) الي(جار) ان(مصدريه) تلفظي(فعل و مفعول) ارض(فاعل) الي(جار) ارض(مجرور) و(عاطف، عطف به تلفظي دي) يجرني (فعل ومفعول)رفع(فاعل) الي(جار) خفض(مجرور) حتي(جار) انحت(فعل و فاعل) بمعروسة(جار ومجرور) هراة(مضاف اليه) حماها (فعل و مفعول) الله(فاعل) عن(جار) الافات(مجرور) ففتح(عطف به انحت دي، فعل) الله(فاعل) عيني(مضاف و مضاف اليه، مفعول) منها(جار و مجرور) علي(جار) جنة(مضاف) النعيم(مضاف اليه) بلدة(موصوف، عطف بيان يا بدل دد جنة النعيم شخه دي)طيبة(صفت) و(عاطف،عطف به بلدة دي) مقام(موصوف) كريم (صفت).شعر:لقد جمعت(فعل ماضي مجهول) فيها(جار ومجرو) المحاسن(نائب فاعل) كلها(مضاف و مضاف اليه، تاكيد)✻ و(حاليه، حال د محاسن شخه دي) احسنها(مضاف و مضاف اليه، مبتدأ) الايمان(معطوف عليه، خبر) و(عا طف) اليمن (معطوف اول) و(عاطف) الامن(معطوف). فشاهدت(عطف به فتح دي، فعل و فاعل) ان(مصدريه) قد سطعت(فعل) انوار(مضاف، فاعل) العلم(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف)الهداية(معطوف) .وخمدت(عطف به سطعت دي) نيران(فاعل، مضاف) الجهل(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف) الغواية(معطوف) و(عاطف، عطف به سطعت دي) ظل(فعل ناقص) ظل(اسم،مضاف) الملك(مضاف اليه) ممدودا(خبر)، و (عاطف، عطف به ظل دي) لواء (مضاف، اسم) الشرع(مضاف اليه) بالعز(جار ومجرو) معقودا(خبر).

ترجمه

ما د جدائي په کونجانو کي ورقي وغورزولي. او په هغو باندي دهيري جولاګيانو جان وغږوي. نو ما زما او د ورقو په مابين کي پټيدونکي پرده جارکړل. او ما دادول وګرزولي چې کواکي نو نبي ذکر سوی نه وي. نو الله ته د زياتي څخه شکايت کوم چې څه وخت دا بدی کوی نو په دغه دم کوی او څه وخت چې په ډکوی نو په هغه باندي او هغه ساعت اپښمانتيا کوی. بيا زه زياتوالي د خفګان او تنګدلي و دې نه مجبوره کړم چې زه به يوه سخکي و بلي نه غورزولم. او لوړوالي و طرف ته د لاندی کښولم. تر دې وخته پورې چې ما خپله اوښه په هغه مخکه کي چې هرات وو چرکه کړه کومه چې الله د مصائبو څخه ساتلې وې. الله دي دغه مخکه د آفتو څخه وژغوری. نو الله جل جلاله دده د بنار د طرف څخه زما ستړګي په جنت باندي وغورولي. دغه يو ښه بنار او د عزت ځای و. **شعر:** په تحقيق سره په دغه کي ټوله ښېګڼي جمعه سوي ولي* او دهغو څخه غوره ايمان، برکت او آمن وو. نو ما د علم او د هدايت نور احتمالي ولیدی. د ناپوهي او د ناحقي لاري اور مړ وليدي. او د پاچاهي سايې مي غځيدلې وليدلې. او د شريعت بيرغونه په عزت سره مي ترلې وليدلې.

تشويح

طرح: غورزول. زوايا: د زاوية جمعَ ده، کونج. الهجران: پورې کول، قطعه کول. پورښتل. نسخت: فعل ماضي غائب، ودل، جارول. عاتب: جولاګي، غمځي: النسيان: هېرۀ. ضربت: فعل ماضي غائب، درول، وهل. المشتكي: شكوه كونكي، شكايت كونكي. اساء: بدي کول. اصر: اصرار کول. دوام کول. اساء ت: بدی. ندم: پښيمانه کېده. ساعت: ګړی. الجأ: فعل ماضي غائب، مجبوره کول. فرط: زياتوالي. الملال: خفګان. ضيق: تنګي. اليال: زړه. تلفظ: فعل ماضي غائب د تفعل څخه دی، غورزول. تجر: فعل ماضي غائب، کښول. رفع: لوړوالي. خفض: کښتوالي. انخت: صيغه متکلم، چوکول، پورې هستل. محروسة: د مصائبو څخه محفوظه. هراة: د افغانستان يو بنار دی. حما: فعل ماضي غائب، حفاظت کول. الافات: د آفت جمعه ده مصيبت. فتح: فعل ماضي غائب، خلاصول. طيبة: ښه، خوندور. اليمن: برکت. شاهد: فعل ماضي، په ستر ګو سره ليدل. سطع: فعل ماضي غائب پورته کېده، ښکاره کېده. خمد: فعل ماضي غائب، مړ کېدل. نيران: اور. الجهل: ناپوهي. الغواية: په هغه لار تلل چې د مقصود ته رسانده نه وی. ظل: صار. ظل: سايه. الملك: په ضمه سره د ميم پاچا هي. ممدودا: اوږده. لواء: بيرغ. الشرع: په لغت کي اظهار ته ويل کيږي او په اصطلاح کي هغه مخصوصه طريقه ته ويل کيږي کومه چې په بيان د نبي ﷺ سره مشروع سوی وي. العز: عزت. معقود: ترلې سوی.

Maktaba Tul Ishaat.com



تركيب

و(عاطف، عطف به ظل دى) عاد(فعل) عود(مضاف، فاعل) الاسلام(مضاف اليه) الي(جار) رواه(مضاف و مضاف اليه) و(عاطف،عطف به عاد باندى دى) اض (فعل) روض(مضاف،فاعل) الفضل(مضاف اليه) الي(جار) مانه (مضاف ومضاف اليه) و(عاطف، عطف به أص باندى دى) نظم(فعل) شمل(مضاف،مضاف) الخلائق(مضاف اليه) بعد(ظرف، مضاف) الشتات (مضاف اليه). و(عاطف، عطف به نظم باندى دى) و صل(فعل) حبلهم(مضاف و مضاف اليه، فاعل) عقيب(مضاف) البنات(مضاف اليه) و (عاطف، عطف به وصل باندى دى) استظل(فعل) الانام(فاعل) بظلال (جار ومجرور، مضاف) العدل(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف) الاحسان(معطوف). و(عاطف، عطف به استظل باندى دى) ارتعوا(فعل و فاعل) في(جار) رياض(مضاف) الامن(مضاف اليه،معطوف عليه) و(عاطف) الامان(معطوف). كل(مضاف،مبتدا)ذالك(مضاف اليه) بعيامن(خبر، جار ومجرور، مضاف) دولة (مضاف) سلطان(مضاف) الاسلا م (مضاف اليه). ظل(فعل) الله(فاعل) علي(جار) الانام(مجرور) مالك(خبر لمبتدأ محذوف، مضاف) رقا ب(مضاف) الامم(مضاف اليه). خليفة(خبر لمبتدأ محذوف، مضاف) الله(مضاف اليه) في(جار) العالم(مجرور). حامي(خبر لمبتدأ محذوف،مضاف) بلاد(مضاف) اهل (مضاف) الايمان(مضاف اليه). ماحي(خبر لمبتدأ محذوف، مضاف) اثار(مضاف) الكفر (مضاف اليه) و(عاطف ،عطف به كفر باندى دى) الطغيان(معطوف). ناصر(مضاف، خبر لمبتدأ محذوف) الشريعة(مضاف اليه، موصوف) القويمة(صفت). سالك(مضاف، خبر لمبتدأ محذوف) الطريقة(مضاف اليه، موصوف) المستقيمة(صفت). باسط(مضاف، خبر لمبتدأ محذوف) مهاد(مضاف) العدل(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف) الانصاف(معطوف).هادم(مضاف، خبر لمبتدأ محذوف) اساس (مضاف) الجور(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف) الاعتساف(معطوف عليه). والي(مضاف، خبر لمبتدأ محذوف) لواء(مضاف) الولاية(مضاف اليه) في(جار) الافاق(مضاف اليه). مالك(مضاف، خبر لمبتدأمحذوف) سرير(مضاف) الخلافة(مضاف اليه) بالاستحقا ق(جار ومجرور). المجتهد (خبر لمبتدأ محذوف) في(جار) نصب(مضاف، مجرور) سرادق(مضاف) الامن(مضاف اليه، معطوف عليه) و(عاطف) الامان(معطوف). الممتثل(خبر لمبتدأ محذوف) لنص (جا رومجرور، مضاف) ان(حرف مشبه بالفعل) الله (اسم) يأمر (فعل،فاعل) العدل(مفعول به،معطوف عليه) و (عاطف)الاحسان(معطوف). الخالص(خبر لمبتدأ محذوف) طويته (مضاف و مضاف

الله. فاعل لباره د خالص دی) في(جار) اعلاء(مضاف) کلمة(مضاف) الله(مضاف اليه). الصاد قرحر لمبدأ محذوف) سه(مضاف و مضاف اليه.فاعل) في(جار) احياء(مضاف) سنة(مضاف) رسول(مضاف) الله (مضاف اليه)

ترجمه

د اسلام خوشبو خپلي تازګي ته راوګرزېده.او باغچه د علم او فضل د خپولو اوبو ته راوګرزېده.تربت وپرک سه ی، خلک سره یو خای سوه.دپرې کېدو څخه ورسته رسي سره متصله سوه.او خلک د عدل او د احسان د سایې طلب وکړي.او دوی خای په باغ کې د امن جوړ کړی وو .د غه ټوله د اسلام د پاچا برکت وو .الله دي دی سایه په خلکو باندی وګرزوی.د امت د غاړو مالک وو.په عالم کي د الله خلیفه او نائب وو .د مؤمنانو د بنارو محافظ وو.د کفر او د سرکښي د اثارو لرى کونکي وو .د مستقیم شریعت نصرت کونکي وو.په حق لار ه تلونکي وو. د عدل او د انصاف فرش یې غوړولي وو .د ظلم اود کجروی بنیاد یې نړولی وو. په اطرافو کي د پاچاهي د بیرغ مالک وو .په سبب سره د مسحق والي دی دپاچاهي د تخت مالک وو .د امن وامان د خیمو په درولو کي کوشش کونکي وو.دی اتباع کونکي ددې نص وو :الله تاسو په عدل او نېکي سره امر کوی.د الله د کلمې په لوړولو کي یې نیت صفا وو .او د رسول مقبول د سنتونو په ژوندي کولو کي ربښتن وو.

تشریح

دلته دوه شیان د بیان ورډي.

اول: بیان د لغاتو: عاد: په فتحه سره د عین په معني سره د رجوع کولو دی. **عود:** په ضمه سره د عین په معني سره د هغه لرګي دی چې پرې سوی وی،عطر، هډوکي. **روائ:** ښائسته منظر،تازګي. **آض:** په اصل کي اَيَضَ وو بیا یاء په الف سره بدل سوه نو آض جوړ سو ،راګرزېدل. **روض:** باغچه. **مائ:** په اصل کي موه دی. بیا واو په الف او هاء په همزه سره بدل سوه نو ماء ځني جوړ سو .اوبه. **نظم:** جمعَ کول. **شمل:** هر هغه شي چې پاشل سوی وی، هر هغه شي چې سره یو خای سوی وی. **الخلائق:** د خلیقة جمعَ ده،هغه مخلوقات چې الله پیدا کړی دي. **الشتات:** خورېدل. **حبل:** رسي. **عقیب:** ورسته **البتات:** پرې کېده. **استظل:** سایه طلبول. **الانام:** جمعه د ناس من غیر لفظه ده،خلک. **ظلال:** سایه. **ارتبع:** صیغه د فعل ماضي غائب،کور او خای جوړول، تیارول،په یو خای کي په موسم کي دسپرلي قیام کول. **میأمن:** جمعه د یمن خلاف القیاس ده ، برکت. **دولة:** مصدر جمعه یې دول ده، حکومت کولو طریقه کار، حکومت. **سلطان:** پاچا. **رقاب:** درقبة جمعه ده غاړه. **الامم:** د امت جمعه ده،ټولی. **خلیفة:** جمعه یې خلفاء ده،هغه کس چې بل یې په یو کار کي په خپل خای ودروی. **العالم:** جمعه د علم ده ،پرته د الله جل جلاله. **حامي:** محافظ. **بلاد:** د بلد جمعه ده بنار. **ماحي:** لرى کونکي. **اثار** :داثر جمعه

Maktaba Tul Ishaat.com

ده. علامه. الكفر: ضد د ايمان دی، د الله د نعمتو څخه انکار کول. الطغيان: سرکښي، د حد څخه تجاوز کول. ناصر: نصرت کونکي. القويمة: مستحکم. سالک: تلونکي، چلونکي. باسط: غوړونکي. مهاد: فرش. هادم: ماتو نکي. اساس: بنياد. الجور: ظلم، د حق څخه ميل کول. الاعتساف: کجروی. والي: مالک. لواء: بيرغ. الولاية: مصدر دی، پاچاهي. الافاق: د فق جمع ده، طرف. سرير: تخت. الاستحقاق: مستحقه کيدە. المجتهد: په يوه شي کي کوشش کونکي. نصب: دول. سرادق: جمعه د سردقة ده، هغه پرده چي په غولي باندی د سراي درپۍ خيمه. الممثل: بيانونکي، عمل کونکي. نص: هغه شي چي په هغه باندی دلالت کول بنکاره وی. الخالص: د خلوص څخه دی، صفا. طويت: نيت، احياء: ژوندی کول. سنة: لار.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

سوال: اباد و څه ته ويل کيږی؟

جواب: د غه و هلا کولو ته ويل کيږی او د غه ډول ابارة هم و قتلولو ته ويل کيږی. آباد يَبِد، أبَد، إبادةً فهو مُبِد، والمفعول مُباد أفناد أعْداءهُ أهْلكَهُمْ، دمَّرهُمْ، سحَقَهُمْ أباد الجيْشُ أعْداء الوَطن عَنْ آخرهِمْ. أبَرَ: (فعل) أبر أبْرًا، وإبارًا، وإبارةً.

حاشيه نمبر ۲:

اول: سوال: دمنة" څه ته ويل کيږی؟

جواب: د منة د کور څخه پاته سوی اثار ته ويل کيږی. او ام اوفي د شاعر د محبوبه کنيه ده.

دمنة: (اسم) الجمع: دمنات و دِمَن و دِمَن الدِّمنةُ: طَلَل؛ ما تبقّى من آثار الناس أو الديار. **حزب: توليي.** بحومانة الدراج، المتثلم: دا دواړه د ځايو نومان دی. بلدح: دغه د يو ځای نوم دی. او په دغه قول کي د شارح "دمنة لم تتكلم من اماوفي" اشاره و اولني حصه ته د شعر د زهير ابن ابي سلمى ده او هغه شعر دادی "أمِن أم أوفى دمنة لم تكلّم"

سوال: بلدح منصرف او که غير منصرف دی؟

جواب: دغه غير منصرف ددو علتونو د وجي څخه دی. ۱: علميت. ۲: په دغه دوم علت کي دوه احتمالونه کيدای سي. ۱: تأنيث په دې وجه چي دغه نوم د بقعه دی. ۲: وزن الفعل. حُكه اصل "بلدح فلان" يعني فلانکي کس د وعده خلاف ورزی وکړه. عجفي: د عجيف جمع ده لکه

"مرضی" د مریض جمع ده. او عجف و ډنګرو الي ته ویل کیږي. او اعجف ډنګر ته ویل کیږي. نَدح . يَندَح اغيا ويَندَح و يَندَح وعد ولم يَنجز عدته و يَندَح أهوى بسهمه إلى الأرض المعجم الوسط

دوم: بیان د شعر: [illegible] من ام اوفی: په دغه قول کې دوه تأویله دی.

۱): دغه عبارت په تقدیر د حذف د مضاف دی. لهذا تقدیر د عبارت دا ډول کیږي "امِنْ مَنازِلِ اَمْ اَوْفَى دِمْنَةٌ لَمْ تَكَلَّمِ" او بناء پر دغه تقدیر معنی د شعر دا جوړیږي "آیا د منازلو څخه د ام اوفی داسي آثار سته کوم چې جواب د ام اوفی د طرف څخه و هغه چا ته نه ورکوي چې هغه ددوی څخه سوال کوي. او شاعر دلته استفهام په باره کې د اثارو ددې وجې څخه کړي دی چې اثارو ډیر تغیر خوړلي وو. نو گواکي شاعر دغه اثارو نه پیژندل او بیا ئې استفهام ددوی په هکله و کړی.

۲): دغه تقدیر په حذف د مضاف او د مضاف الیه دی. په دغه تقدیر شعر دا ډول جوړیږي "اَمِنْ آثارِ مَنازِلِ اَمْ اَوْفَى دِمْنَةٌ لَمْ تَكَلَّمِ". او معنی ئې دا جوړیږي "آیا د أثارو څخه د منازلو د ام اوفی داسي اثار سته چې هغوی و سائل ته جواب نه ورکوي."

دریم: بیان ددې قول "الا قوم بيلدح عجفى": دغه د عرب د متلونو څخه یو متل دی. او دغه قول هغه وخت ویل کیږي چې یو کس په خپلو اقرباؤ باندې غم کوي. او اول ویونکي ددغه قول بهیش وو. اصل قصه دا وه بهیش د فزاره قبیلې اوښان پوول. او د اشجع قبیلې څخه یو ټولي په دوی باندې حمله وکړه. او د بهیش شپږ وروڼه ئې ور قتل کړل. او بهیش ژوندی پاته سو. او بیا دغه ټولي د اشجع قبیلې ددوی ټوله اوښان حلال کړل. او دوی وویل "ما اطيب يومنا" (زمونږ څه ښه ورځ ده). په دغه وخت کې بهیش په خپلو اقرباؤ باندې د غم د کولو په حالت کې وویل "لكن يبلدح قوم عجى". (مولانا عبد الرحمن البشريني)

حاشیه نمبر ۳:

سوال: كان لم يكن "دغه کلام بناء بر څه دی؟

جواب: دغه تضمین دی یعني د غیر کلام د خپل کلام داسي حصه جوړول چې بیا د خپل او ددغه غیر د کلام ترمینځ فرق پاته نه سي، لهذا دلته شارح اصل د عمرو بن حارث جرسمي د

Maktaba Tul Ishaat.com

شعر یوه حصه د خپل کلام حصه ګرزولي ده (کوم چې ده دغه شعر هغه وخت وو اتني چې دوی د مکې څخه و یمن ته ولاړل. اوده دغه وینا د غم کولو په حالت کې وکړه). اصل شعر داډول دی.

وَكُلّ وَلاءٍ اَلْبَيْتَ مِن بَعدِ نائِبٍ نَطُوفُ بِذالِكَ الْبَيْتِ وَالْحَيْرُ ظاهِرُ ○ فاخرجنا منها الملك نقذرة ○ كذالك يجزي بالانسان نقذورة

مل بخن كُنّا أَهْلَها فَأزالَنا صُرُوفُ اللَيالي وَالْخُدُودُ الْعَواثِرُ ، عداء الآباء في شرح منظومة الآداب - سبه الوفا من بطن بالشعر ج1 ص191، السيرة

والمحلف للفارضي - المحلد الأول من الموثلف والمحتلف ج1 ص57، والسيرة النبوية لابن هشام - السيرة النبويه لابن هشام ج1 ص121، يعني موږ وږ

سته دنابت بن اسماعیل علیه السلام د کعبه متصرفین او متولیان وو *موږ په دغه کعبه باندې طواف کوي او خیر ښکاره وو. مونږ الله ﷻ په سبب د خپل تقدیر وهیستولو *دغه ډول په انسان باندې هغه شیان جاري کیږي کوم چې دوی په تقدیر کې وي. هو موږ اهل د کعبه وو او موږ هلاک کړو *د شپو تبریدو او ساقط سوي بخت.

جَحون په فتحَ سره نوم د هغه غره دی چې په پای کې د کعبه واقع دی. او صفا په اصل کې سخت او کلک ډبرې ته ویل کیږي. ویل کیږي چې پر دغه ډبر باندې حضرت آدم علیه السلام راکښته سو نو دغه ډبره دده د لقب (صفي الله) په مناسبت په صفا سره مسمي کړل سوه. انیس او مؤنس الفت کونکي. اَنِسَ بِ يَأنَسُ،أُنسًا ، فهو أنيس ، والمفعول مأنوس به أنس بصديقه أنس به ، سكن إليه ، ودهت ، وحشه ، ألفه وارتاح إليه أنس بلقاء صديقه:أنس به ؛ فرح وسعد به. /أُنْسٌ: (فعل) أُنسَ يؤنِس . تأنيسًا ، فهو مُؤنِس ، والمفعول مُؤنَس أُنس جارة : لاَطَفَهُ وَأزال وَحْشَتَهُ.

او سمر د شپې قصه کولو ته ویل کیږي.سمر : س م ر : السَّمَرُ و السَّامَرَةُ الحديث بالليل وبابه نصر و سَمَرًا أيضا بفتحتين فهو سامِرٌ و السَّامِرُ أيضا السُّمَّارُ وهم القوم يسمرون كما يقال للحجاج حاج و الشَّمِيرُ بمعنى الشمير وهو الإرسال وفي حديث عمر رضي الله تعالى عنه { ما يقر رجل أنه كان يطأ جاريته إلا لحقت به ولدها فمن شاء فليمسكها ومن شاء فليسمرها } قال الأصمعي أراد التشمير بالشين فحوله لي السين و السُّمْرَةُ لون الأسْفَر تقول منه سَمُرَ بضم العين وكسرها سُمْرَةً فيهما و اسْمَارَّ اسْمِرارًا مثله و السُّمْراءُ بالمد الحنطة و الأسْمَرَانِ الماء والبر وقيل الماء والريح و السُّمْرَةُ بضم الميم من شجر الطلح والجمع سَمُرٌ بوزن رجل و سَمُراتٌ و اسْمَرّ في القلة و الِسْمَارُ معروف تقول سَمَرَ الشيء من باب نصر و سَمْرَةً أيضا تَسْمِيرًا و السُّمَيْرَةُ ضرب من السفن المعجم: مختار الصحاح

سوال: "الي الصفاء" څه ترکیبي حیثیت لري؟

جواب: دغه حال د حذف سوی مضاف څخه دی، معني دا جوړیږي" زه و ځایونو ته حجون داخل سوم حال کون د دغه ځایونو چې پر صفاء ختمیدل. ګواکي تر هغه ځای پورې کوم الفت کونکي نه وو. او هلته کوم د شپې قصه کونکي نه وو.

سوال: دلته شاعر سامر ولي خاص کړی د بل چا ذکر يې نه وکړی او دا سې يې نه وويل چې انسان نه ول؟

جواب: دغه د عربو عادت وو چې دوی به د شپې قصه کولې. نو شاعر هم د خپل عادت موافق وويل چې قصه کونکي نه وو مطلب دا چې انسانان هلته نه ول. که وای نو بيا به هرو مرو قصه کونکي کس هم وای.

دريم: تفحص د حاشې: "لمناسبة الجر و الرفع فافهم"

﴿فائده﴾: الاسف: غم. **سکان:** وسيدونکي. **الصفا:** صفا په اصل کې يوه ښوی ډبره ده. **الانيس:** الفت کونکي. **سامر:** هغه کس چې ورسته د ماخستن د لمانځه قصې کوي.

دوم: د شاعر بيان: دغه د عمر بن الحارث شعر دی. او ده دغه شعر په غم کې د فراق د مکه ويلي دی. او قوم دده د مکه څخه جلا سو. ځکه خزاعه قبيله مخکې تر قريشو وسيدونکي او خدمت ګاران د حرم وه.

حاشيه نمبر ۴:

سوال: حجابا مستوراً "دغه قول صحت نه لری. ځکه د دې معنې داده چې پرده پټه سوې. او حال دا چې پرده پټيدونکې وی نه پټه سوې؟

جواب: دلته مستور په معنې سره د ذا ستر ده يعنې پټه ونکې لکه ويل کيږی "سيل مفعم" يعنې سيل ذا افعام يعنې طوفان ډکيدونکي دی. أفعم يُفعم ، إفعامًا ، فهو مُفعِم ، والمفعول مُفعَم أفعم الإناءَ : ملأه وأتمّ ملأه ، مفعَمٌ بالسعادة. / سَيْل [مفرد]: ج سُيُول (لغير المصدر): مصدر سال.

او يا دلته دغه پردې ته مستور ويل بناء بر مبالغه ده يعنې دغه يو داسې پرده ترديې ورهغه خواته بل پرده او يا پردې وې. لهذا دغه پرده په بلې پردې سره پټه وه.

حاشيه نمبر ۵:

سوال: د شارح دغه عبارت "ای بجزئی" صحی نه دی. ځکه کشوالي خپل ځان ته او دفع غير ته وی. او دلته د شارح مقصد دادی چې زه پورتوالي د خپل ځان څخه غورځولم. او دا ئې مقصد نه دی چې زه پورته والي خپل ځان ته کشولم؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې دغه عبارت صحی دی. ځکه ذکر جراو مراد ځنې دفع ده.

سوال: شارح ولې اولاد جر پر ځای دفع ذکر نه کړل؟

Maktaba Tul Ishaat.com

اول جواب: خلاصه د جواب داده چې دغه نه ذکر کول ئې د وجې څخه د يو ې نکتې دی. او هغه نکته داده چې جر او رفع مناسبت سره لري. ځکه دواړه اعراب دی. د دغه مناسبت د وجې ئې رفع ذکر کړه نه دغه.

دوم جواب: دلته مصنف په مخکني عبارت کې "تلفظي" وويلي او لفظ و غورزولو ته ويل کيږي او د لفظ مقابل رفع ده ځکه رفع و راپورته کولو ته ويل کيږی څرنګه چې مخکي لفظ ذکر سوی وو نو دلته يې رفع ذکر کړه. او د يوه مقابل د بل مقابل په مقابل کې ذکر کونه حسن و کلام ته ورکوي په دغه وجه شارح دغه رفع مختار کړل.

حاشيه نمبر۶:

سوال: رفع او خفض دغه دواړه صفتونه دي نو موصوف ددوی څوک دي؟

جواب: مکان.

سوال: مکان ذات او رفع او خفض مصدر دي کوم چې پر حدث باندی دلالت کوی لهذا مصدر صفت لپاره د ذات جوړيدلای نه سي؟

جواب: دلته دوی دواړه په معني سره د مفعول دی يعني مکان مرفوع او مکان مخفوض. او په دغه کلام کې اشاره و دي خبری ته ده چې دغه حرکت زما په اختيار کې نه وو. بلکه دغه يو غير اختيارِ حرکت وو. او په لفظ، جر او خفض په يو ځای کولو کې حسن وجود لری ځکه دغه په مينځ کې د لفظ او دده د احوالُ جمعَ والي دی.

حاشيه نمبر۷:

سوال: انخت په څه معنی سره دی؟

جواب: دغه ماضي د باب څخه د افعال او مأخوذ ددې قول څخه دی "انخت الناقة فاستناخ" ما اوښه چوکه کړه او هغه هم چوکه سوه. او دغه فعلِ متعدی دی. أناخ / أناخ يُنيخ ، أنِخ ، إناخةً ، فهو مُنيخ ، والمفعول مُناخ أناخَ بالذكاني :أقام به.

سوال: دلته د "اناخ" مفعول نسته آيا دلته دی په معني لازم سره دی؟

جواب: نه دی متعدی او مفعول يې محذوف گرزېدلی دی او يا متروک. او اصل عبارت داوو ل دی" انخت الابل" يعني ما خپل اوښ چوک کړی. او دلته مراد ددغه څخه اقامت کونه ده يعني زه په هرات کې مقيم و گرزېدم.

حاشیه نمبر ۸:

اول: سوال: خلاصه د سوال داده "من" په "مما" کې د من د اقسامو څخه کوم قسم دی؟

جواب: خلاصه د جواب داده "من" په "مما" کې لپاره د تجرید یا په معنی سره د "فی" یا سببیه دی. په اول تقدیر معنی د عبارت دا ډول جوړیږي "الله ﷻ چې زما سترګې په جنت خلاصې کړي. دغه خلاصوالي ابتداءً ددغه ښار څخه وو". او په دوم تقدیر معنی دا جوړیږي "الله ﷻ په دغه ښه ښار کې زما سترګې پر جنت باندې خلاصې کړي." او په دریم تقدیر معنی د عبارت دا جوړیږي "الله ﷻ زما سترګې په سبب د دغه ښار پر جنت باندې خلاصې کړي."

﴿فائده﴾: که چیرې **من** لپاره د تجرید سي نو په دغه صورت کې په دې کې اختلاف دی چې آیا دغه تجرید یوه مستقله معنې د من ده. او که په دغه وخت کې (چې من لپاره د تجرید وی) من ابتدائیه وی. حقه خبره دا ده چې **من** لپاره د تجرید **من** ابتدائیه وي. او دغه یو مستقل قسم د **من** نه دی (مختصر المعانی ۴۶۶، ح۹)

﴿تنبیه﴾: من که چیرې په معنی سره د فی سي نو په دغه صورت کې هم کلام بناء په تجرید دی لکه په دې قول کې د الله ﷻ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ. (سورة الفصلت 28)

التجرید: في قوله تعالى: (النَّارُ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ). أي هي بعينها دار إقامتهم، على أن في للتجريد، كما قيل: في قوله تعالى: (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ)

والتجريد: أن ينتزع من أمر ذي صفة آخر مثله، مبالغة فيها، فقد انتزع من النار دارا أخرى سماها دار الخلد.

دوم: تعریف د تجرید: هر هغه شی چې خاوندديو صفت وی د هغه څخه د یو داسي شي انتزاع وسي چې هغه او دغه موصوف په دغه صفت کې سره مثل وي. دغه انتزاع ئې مبالغتاً وي "لکه رایت من زید اسد". زید اوس یو شي او موصوف په یو صفت (شجاعت) سره دی. او دده څخه د یو بل شي انتزاع (زمری) وسوه چې هغه شي (زمری) په مثل سره د زید په شجاعت کې دی. لهذا دغه انتزاع ته تجرید ویل کیږي. (مختصر المعانی ۴۶۶)، (کذا ۲۸، ح ۳)

حاشیه نمبر ۹:

سوال: بلدة طيبة" څه ترکیبي حیثیت لري؟

جواب: دغه عطف بیان لپاره د "جنة النعيم" دی.

سوال: دغه عطف بیان د څه لپاره راوړل سوی دی آیا د وضاحت او که د مدح لپاره؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دغه لپاره د مدح راوړل سوی دی.

سوال: دغه عطف بیان د "بلده طیبه" لپاره د "جنة النعیم" صحت نه لری ځکه په عطف بیان کې دا شرط دی چې دغه به معرفه وی، او دلته دغه ډول نه ده نو د عطف بیان قول کونه کوم صحت نه لری؟

جواب: په دغه کې اختلاف دی علامه زمخشری د کلام څخه دا معلومیږی چې د معرفه عطف بیان نکره راتلای سي. لکه دده ددې قول څخه معلومیږی. " ماء صدید" أنه عطف بیان، وإليه ذهب الطبري والزمخشريُّ. يقول الطبري: (وقوله ﴿ويُسْقى مِنْ ماءٍ صَدِيدٍ﴾، يقول: ويسقى من ماء، ثم بيّن ذلك الماء حل ثناؤه وما هو، فقال هو "صديد"، ولذلك رد "الصَّديد" في إعرابه على "الماء"، لأنه بيانٌ عنه) ويقول الزمخشري: (فإن قلت: ما وجه قوله تعالى مِنْ ماءٍ صَدِيدٍ؟ قلت: صديد عطف بيان لماء، قال ويُسْقى مِنْ ماءٍ فأبهمه إبهاما ثم بينه بقوله صَدِيدٍ وهو ما يسيل من جلود أهل النار ينحَزُّعُهُ يتكلف جرعه ولا يكادُ يُسيغُهُ.

﴿أو كفارة طعام مسكين﴾ قال أبو علي ﴿طعام﴾ عطف بيان لأن الطعام هو الكفارة. انتهى، وهذا على مذهب البصريين لأنهم شرطوا في البيان أن يكون في المعارف لا في النكرات فالأولى أن يعرب بدلا. (إعراب القرآن لابن سيده ٣٥١/ج٣)

بصریین: دوی په عطف بیان کې تعریف شرط بولي. لهذا ددوی د قول موافق "بلده طیبه" بدل د "جنة النعیم" څخه دی.

راجح قول: محشي وایي چې قول د زمخشری معتبر دی لهذا دغه عطف بیان دی.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: کریم "کومَ صیغه ده؟

جواب: دغه صیغه د صفت مشبهه ده او مأخوذ ددې قول څخه دی "کَرُمَ الرجلُ" فلان کس جید او غوره او ښه سو. او دغه نقیض د لوم "ملامتیا" دی. کَرُمَ یَکرُمُ، کَرَماً وکَرامةً فهو کریم والجمع: کِرامٌ، وکُرَماءُ وهي کریمة والجمع: کرائم کَرُمَ الْجَوْهَرُ: کان نفیساً، ثمیناً کَرُمَ الرَّجُلُ: جاد، کان جواداً، کریماً./ لامَ یلوم، لُمْ، لَوْمًا، فهو لائم والجمع: لُوَّمٌ، ولُيَّمٌ وهو أیضاً لَوَّامٌ، ولَوْمةٌ ولَوَّامةٌ، ولُوَمةٌ وذالك مَلُومٌ، ومَلِيمٌ، والمفعول ملوم لامه: عذله، كذّره بكلام لما قام به من عمل أو قول غير ملائمس، أنّه ووبّخه وأخذه

سوال: "کریم" صفت لپاره د مقام گرزول صحت نه لری ځکه "کریم" صفت لپاره د انسان راځي؟

جواب: دغه گرزونه مجازاً ده. د "مقام کریم" معنی دادہ "کریم اهله". لکه په دې قول کې "کتاب کریم" اصل دا دول دی "کتاب کریم صاحبه".

۲: دغه ددې قول څخه مأخوذ دی کبت الارض دغه به هغه وخت ویل کیږی چې کښت د مځکې به متکلم صاف کړی.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: نیران" څه ته ویل کیږی؟

جواب: نیران دغه اجوف واوی دی ځکه دده تصغیر نُوَيْرَةٌ رائي. بیا واو ما قبل کسره نو واو په یاء سره بدل سو نو نیران جوړ سو. او دغه د نار جمع ده لکه انوار د نور جمع ده. نار (اسم) الجمع: نیرانٌ و أنْؤر

غواية: په هغه لار باندی تلنې ته ویل کیږی کوم چې سړی و مقصد ته نه رسوی. غوى يغوي، اغو، غيًا وغَوايةً وغوايةً، فهو غاوٍ. وغويّ، وغيّانٌ والجمع: غُواةٌ، وغاوون، وهي غاويةٌ والجمع: غاوياتٌ والمفعول مَغْوِيّ – للمتعدّي.

حاشیه نمبر ۱۲:

په دې حاشیه کې څو تحقیقه دی.

اول: بیان د عبارت: ظل الملک: په دې عبارت کې دوه احتماله دی.

۱): په ضمه سره د میم او په سکون سره د لام په معنی سره د پاچاهي دی. او په دې تقدیر الملک د هغه شرع سره مناسبت لري چې هغه په دې عبارت (ولواء الشرع) کې راغلې ده.

۲): په فتحه سره د میم او په کسره سره د لام په معنی سره د پاچا دی. او په دغه تقدیر مناسبت د هغه اطلاق او وینا سره لری کوم چې د ظل په سلطان باندې سوې ده.

دوم: بیان د استعاره: ملک که چېرې په معنی سره د پاچاهي سي نو بیا شارح تشبیه د پاچاهي د ونې (درخت) سره ور کړې ده. او وجه د مشابهت آرامتیا ده. لهذا شارح مُشبِه او پاچاهي مشبَه، ونه مشبه به او علاقه د تشبیه آرامتیاده. نو ذکر مشبَه (یعنی الملک) او مراد هم د غه مشبَه ده دغه استعاره بالکنایه ده. او شارح لازم (یعنی سایه) د مشبه به لپاره د مشبَه ثابت کړې ده دغه استعاره تخیلیه ده. او که ملک په معنی سره د پاچا سي نو بیا شارح تشبیه د پاچا د سایې سره په سبب کې د راحت ورکړیده لکه څنګه چې عادل پاچاه سبب د راحت وي دغه ډول سایه هم ده.

دریم: د فافهم بیان: په فافهم کې اشاره و دې ته ده چې ته په دې خبره کې فکر وواهه چې ملک په ضمه سره د میم څنګه مناسبت د اطلاق سره لري. او په فتحه سره د میم بیا څنګه

Maktaba Tul Ishaat.com

مناسبت د شرع سره لري. خلاصه داده چې په حديث کې راغلي دی "چې عادل پاچا د الله جل سايه ده". لهذا په حديث کې په پاچا باندې د سايې اطلاق سويدی. لهذا ملک په فتحه سره د ميم مناسبت د دغه اطلاق سره لري. او ملک په تقدير د ضمې د ميم د شرعي سره مناسبت په دوه ډول سره لري.

۱): ملک مصدر او شرع هم مصدر ده. لهذا د دوی مناسبت په مصدريت کې دی.

عزة: (اسم) مصدر عزّ لهُ العِزّةُ : الغَلَبَةُ ، العِزّةُ ، المنافقون آية 8 وَلِلّهِ العِزّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلمُؤمِنِين (قرآن) العِزّةُ . الحمِيَّةُ والأنفَةُ عزة الجانب : القوّة والمنعة والسُّمُوّ/// عزة. [ع زُ] (ع مص) ارجمند گرديدن . (از منتهى الارب). ارجمند شدن . (دهار). عزيز شدن . (از اقرب الموارد) (تاج المصادر بيهقى). ا ا قوى شدن بعد خوارى .(از منتهى الارب) (از اقرب الموارد). ا ا صعيف شدن ،از اضداد است . (از اقرب الموارد). ا ا كمياب شدن . ا ا روان گرديدن آب . ا ا روان شدن آنچه در زخم بود. (از منتهى الارب) (از اقرب الموارد). عِزّ. عَزازة. رجوع به عز شود.

حاشيه نمبر ۴:

په دې حاشيه کې څو تحقيقه دی.

اول: بيان د اقسامو د ابتدأ: ابتدأ په دري قسمه ده.

اول قسم: حقيقي: هر هغه شي چې مقصود او ترغير مقصود ترد وارو مخکې وي.

دوم قسم: عرفي: هر هغه شي چې محض ترمقصود مخکې وي نه ترغير مقصود . او د ابتدأ دغه قسم يو اورد شي دی.

دريم قسم: اضافي: تر مقصود مخکې او تر غير مقصود مخکې وي او که نه وي.(حاشي ۴،ص۴) (معرفت للامام علي قاري ۱،ص۳۷).(شرح ملا حامي ۱)

دوم: سوال: خلاصه د حديث دا ده چې د حديث د حمد "(حديث مرفوع) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ،حَدَّثَنَا ابْنُ مُبَارَكٍ ،عَنِ الأَوْزَاعِيِّ،عَنْ قُرَّةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ،عَنِ الزُّهْرِيِّ،عَنْ أَبِي سَلَمَةَ،عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "كُلُّ كَلَامٍ أَوْ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَا يُفْتَحُ بِذِكْرِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ ،فَهُوَ أَبْتَرُ أَوْ قَالَ أَقْطَعُ".(رواه احمد في مسنده، الرقم: ۸۵۱۰)(سنن ابي داود، الرقم: ۴۲۰۲)،(سنن ابن ماجه، الرقم: ۱۸۹۴)،(مسند أحمد بن حنبل، الرقم: ۸۵۱۰)،(صحيح ابن حبان،۱،۲)،(السنن الكبرى للنسائي:۹۸۸۷)،(سنن الدارقطني، ۷۶۴، ۷۶۵)،(السنن الكبرى للبيهقي:۵۳۱۹)،(مسند الموطأ للجوهري:۱)،(مصنف ابن ابي شيبة:۲۶۱۰۲)،(معجم ابن الأعرابي:۳۶۷)،(نزهة الخاطر فيس حديث عن أبي القاسم اليهوي من الأكابر لرشيد الدين العطار:۵۷)،(الأول من المنتخب من كتاب السبعيات:۱)،(الجزء السادس من المشيخة العتادية ۲۹)،(الجزء من أمالي ابن السماك:۴۶)،(الجامع لأخلاق الراوي وآداب السامع للخطيب:۱۲۳۶)،(الجامع لأخلاق الراوي وآداب السامع للخطيب:۱۲۳۷)،(أدب الإملاء والاستملاء لابن السمعاني:۶۱)،(أدب الإملاء والاستملاء لابن السمعاني:۶۲)،(إتارة الفوائد:۱)،(شعب الإيمان للبيهقي:۴۰۵۶)،(الإرشاد في معرفة علماء الحديث لأبي يعلى الخليلي:۹۴)،(تاريخ دمشق لابن عساكر:۴۶۸۹)،(التدوين في أخبار قزوين للرافع:۳۵۱)،(حلية الأولياء ۴۲)،(طبقات الشافعية الكبرى:۱،۲،۵،۶،۷)،(شكر الله على نعمه للخرائطي،۱۷)،(الزهد وصفة الزاهدين لابن الأعرابي۱)،(الدعوات الكبير للبيهقي:۱)،(الفقيه والمتفقه للخطيب:۵۲۴)،(معرفات امام علي قاري ۳۷/ ح۲۱)،او د حديث د بسم الله (كل أمر ذى بال لا يبدأ فيه بسم الله الرحمن الرحيم فهو أقطع " .(كتاب الأربعين للحافظ الرهاوى) حسن .(الأذكار 1/94) قال الإمام النووى فى " الأذكار " 1 / 94 : و قد روى موصولا كما ذكرنا و روى مرسلا و رواية الموصول جيدة الإسناد).((بيضاوى ۴) تر مينځ تعارض راغلي دی. او دغه دفع د تعارض څه ډول ده؟

جواب: د بسم الله ﷺ په حدیث کې د ابتدأ ثخه ابتدائي حقیقي یا عرفي مراد ده. او په حدیث کې د حمد مراد د ابتدأ ثخه ابتدائي اضافي یا حقیقي مراد ده. نو اوس تعارض دفع سو. (کذا في العرفات ۳۷/ ج ۱)، (حاشیة ۵)(النصوص ۳/ ج ۲)

عبارت

بسم الله الرحمن الرحيم. الحمد لله افتتح كتابه بعد التيمن بالتسمية بحمد الله سبحانه تعالى اداء لحق شيء مما يجب عليه من شكر نعماءه التي تالبق عد الحصر اثر من اثارها الحمد هو الثناء باللسان على الجميل سواء تعلق بالفضائل او بالفواضل والشكر فعل ينبئ عن تعظيم المنعم بسبب كونه منعما سواء كان كرا باللسان او اعتقادا ومحبة بالجنان او عملا بحدمته بالاركان فمورد الحمد هو اللسان وحده او متعلقه يعم النعمة وغيرها ومورد الشكر يعم اللسان وغيره ومتعلقه يكون النعمة وحدها فالحمد اعم باعتبار المتعلق واخص باعتبار المورد والشكر بالعكس وهنا تحقق تصادقهما في الثناء باللسان في مقابلة الاحسان وتفارقهما في صدق الحمد فقط على الوصف بالعلم والشجاعة وصدق الشكر فقط على الثناء بالجنان في مقابلة الاحسان والله اسم للذات الواجب الوجود المستحق لجميع المحامد والذي الابهام الحقيقي الذي اوالارتفاع وانحطاط اما بالنظر الى المفهوم او الاستحقاق الحمد

ترجمه

قوله ثناء او صفتونه الله جل جلاله لره ثابت دي: مصنف رحمه الله د الله په نامه سره د برکت حاصلولو ورسته د خپل کتاب شروع د ځښتن په تعریف سره د هغه شي د حق د ادا اینې لپاره وکړه کوم چې په ده باندې واجب وو، او هغه اداینه د شکر په بدل کې د الله د نعمتونو ده، د کوم دانارو څخه چې تصنیف ددغه کتاب دی. او حمد ستاینه: دیو چا د هغه په ښه کارونو باندې په واسطه سره د ژبې ده، عام تر دې ددغه ستاینې تعلق د هغه کارونو سره وي دکوم په مفهوم کې چې نسبت و بل ته اخیستل سوی او که نه وی. او شکر د یو چا د ښې ګڼې د کولو په وجه یو داسې کار کونه ده په کوم سره چې د هغه کونکي عزت او لوینه معلومیږي، عام تر دې د غه کار کونه په ژبه، عقیده، د زړه په محبت سره او یا که عملا یعني د انامونو په خدمت کوني سره وی. لهذا حمد محض په ژبه سره راځي، او دده تعلق د نعمت او پرته د نعمت د ټولو سره راتلاى سي. او شکر په ژبه او په پرته د ژبې سره راځي مګر دده تعلق محض د نعمت سره راتلاى سی. لهذا د حمد په اعتبار د هغه شي چې دی تعلق ورسره نه سی عام دی او په اعتبار د هغه شي چې دی

Maktaba Tul Ishaat.com

خني صادريږي بيا خاص دی. او شکر دده برعکس دی. يو ناوس حمد او شکر دواړه په هغه صورت کې سره يو ځای کيږي په کوم کې چې تعريف او ستاينه په بدل کې د احسان او د نېکۍ ګڼي وی. او حمد د شکر ځخه په هغه صورت کې جلا کيږي په کوم کې چې ستاينه په ژبه د يوچا په علم او ميرانه باندی تر سره سوی وی. او شکر بيا په هغه صورت کې جلا کيږي په کوم کې چې ستاينه په زړه سره په مقابل کې د احسان وی. لفظ الله نوم د هغه ذات ليارو دی د کوم چې وجود واجب او حقدار د ټولو ستاينو دی په دغه وجه سره مصنف د الحمد للخالق او الحمد للرازق او په مثل دووی وينا يې ونه کړه د کومه ځخه چې په وهم کې داخبره راځي چې الله د ستايني حقدار والي په وجه سره د يو وصف لری نه د بل وصف.

تشريح

اول بحث: سوال: څه وخت چې يو کتاب د تصنيف په صورت کې وړاندی کيږی نو مخکې تر دې چې په مقصود سره شروع وسي په حمد سره ددې ليارو راتګ کيږی چې په دغه تصنيف کې په نامه سره د الله برکت حاصل سي او دغه کار د بسم الله په وينا سره تر لاسه سو. ځکه حمد د الله د صفاتُ کمالیو بيان وی او دغه په بسم الله سره حاصل سو، لهذا د مقصد تر لاسه کېدو نې ورسته بيا د الحمد لله و وينا ته حاجت پاته نه سو، نو مصنف ولې حمد د الله بيا راوړی؟

جواب: افتتح کتابه: شارح فرمايي: دلته د حمد وينا ورسته تر بسم الله د يو بل واجب د اداينې ليارو ترسره سوېده، په مصنف د شکر اداينه لازمه وه ځکه په ده باندی څښتن باری تعالي يو عظيم احسان کړی دی چې هغه تصنيف ددغه کتاب دی. لهذا د شکر د اداينې ليارو مصنف الحمد لله وويل.

سوال: لکه څه ډول اداينه د شکر په ابتداء کې د کتاب کېدای سي دغه ډول په مينځ کې د کتاب او په آخر کې د کتاب هم کېدای سي، نو مصنف د کتاب ابتداء ددغه کار ليارو ولې خپله کړه؟

جواب: الى تاليف هذا المختصر: ددغه کتاب تصنيف د شکر اداينه په ابتداء کې لازمه ګرزوی ځکه دغه تصنيف يو اثر د الهي نعمت دی او د نعمت د شکر اداينې حق دادی چې دغه په ابتداء کې ددغه نعمت ترسره سي. ځکه په ورسته کولو کې دا خطر سته چې شاکر دې ددغه شکر په اداينه نه و توانل سي دا ډول چې دی مړ سي او يا عقل دده لاړ سي او دغه ډول نور

عوارض نو بیا به دده په ذمه د دغه واجب ادا اینه پاته سي په دغه وجه د نعمت ابتداء د شکر د ادینې لپاره مناسبه او ورته دی.

سوال: حمد څه ته ویل کیږی؟

جواب: الحمد هو الثناء الخ...: حمد په لغت کې ستاینې ته ویل کیږی. او د دغه ډول په ژبه سره د یو چا د هغه په ښه کارونو باندی د هغه ستاینې ته هم ویل کیږی. او په اصطلاح کې کونه د هر هغه کار ده په کوم سره چې د انعام کونکي تعظیم معلومیږی دغه کونه یې د منعم د انعام کوني په وجه سره وی .لهذا د حمد اصطلاحي او د شکر لغوی معني یوه ده.ورسته تردې په حمد کې دوه شیان وي: ۱: په کوم سره چې اد اینه دده رائي او هغه خاص دی کوم چې ژبه ده. ۲: د کوم سره چې د حمد تعلق رائي او هغه عام تر نعمت او پرته دده دواړه کېدای سي.

د شکر بیان: په لغت کې دده معني او د حمد اصطلاحي معني یوه ده. په اصطلاح کې د هغه تولو شیانو چې د هغو انعام الله جل جلاله په انسان کړی دي په هغه څه کې صرفونه ده د کوم لپاره چې ددوی تخلیق سوی وي. لهذا د حمد او د شکر ترمینځ د عموم و خصوص من وجه نسبت شتون لری.

د یوځای والي ماده: خالد و زید ته کالداری ورکړلې نو په دغه ورکړه زید د خالد ستاینه په ژبه سره وکړه. اوس دغه حمد هم دی ځکه په ژبه سره یې اداینه تر سره سوېده او شکر هم دی ځکه په بدل کې د احسان دغه ستاینه ده.

د حمد د طرف څخه جلاوالي: زید ته الله جل جلاله میړانه ورکړېده نو خالد دی د میړاني په وجه په ژبه سره وستایي. اوس دغه حمد دی ځکه اداینه یې په ژبه سوېده او شکر نه دی ځکه په بدل کې د احسان نه دی.

جلاوالي د شکر د طرف څخه: خالد د زید سره احسان وکړي د دغه احسان په وجه زید دده معتقد سو او ستاینه یې په زړه سره وکړه نو دغه شکر دی ځکه په بدل کې د احسان دی مګر حمد نه دی ځکه په ژبه سره نه دی.

دوم بحث: د ربط بیان: بحمد الله: په دغه کې باء جاره تعلق د افتتح سره لری. اداء لحق شیء: دغه منصوب بناء بر مفعول له دی دغه علت لپاره د افتتح دی. مما یجب علیه: په علیه کې ضمیر مجرور و مصنف ته راجع دی. او من په مما یجب او په من شکرنه کې دوه احتماله لری.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱: اول من د تبعیض لپاره دی (یعني دغه شي بعض د هغه څه څخه دی کوم چې په ده باندې واجب دی) او دوم د بیان لپاره دی، لهذا دغه من بیان لپاره د لحق ضمیر دی، لهذا د مما یجب څخه مراد شکر کامل دی. او شکر کامل ددې څخه عبارت دی: بنده هغه ټوله شیان چې الله جل جلاله د هغو په ده باندې انعام کړی دی په هغه څه کې صرف کړي د کوم مقصد لپاره چې ددوی پیدا ینه سوېده. یعني په ژبه، په زړه، او په اعضاؤ په مجموعه سره اداینه د شکر. او ددې شکر کامل یو حصه د شکر اداینه په ژبه سره ده. نو معني داسوه: چې اداینه د حق د شي راسي کوم چې بعض د هغه کامل شکر څخه دی کوم چې په ده باندې واجب دی او هغه شي (چې بعض د واجب دی) شکر لساني دی.

۲: اول من بیاني او دوم تبعیضي دی. لهذا دلته د شي څخه مراد شکر لغوی او مما ددہ بیان دی او من شکر نعمانه څخه مراد شکر کامل دی. نو معنی د عبارت دا جوړه سوه: اداینه د حق د شي راسي (شکر لغوی)، او دغه شي شکر لغوی دی کوم چې بعض د شکری کامل څخه دی. الخ: موصول صفت لپاره د نعمانه دی.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۵:

په دې حاشیه کې دوه تحقیق نسته.

اول: بیان د معنی د تیمن: تیمن په معنی سره د تبرک (مبارک بلل، برکت لاس ته راوړل) دی. او صاحب د مجمع البحرین ویلي دی چې تیمن په مشهور لغت کې یو شي په حیث سره د تبرک نیولو ته ویل کیږي. تبرک: برکت. ملابست. ملاصقیت. اتصال. استعانت: کومک.

تَيَمَّنَ: [ي م ن]. (فعل: خماسي لازم متعد بحرف). تَيَمَّنْتُ، أَتَيَمَّنُ ، تَيَمَّنْ ، مصدر تَيَمُّنٌ .1.:- تَيَمَّنَ بِقُدومِهِ:- .تفاءَلَ .2 .:- تَيَمَّنَ بِالوَلِيِّ الصَّالِحِ :- : تَبَرَّكَ بِهِ .// .تيمن . إتَ ى َم ُمَ] (ع مص) تبرک . (تاج المصادر بیهقی) (زوزنی) (از اقرب الموارد). تبرک کردن . (منتهی الارب) (ناظم الاطباء). بابرکت شدن . (غیاث اللغات) (آنندراج). ا ا به فرخندگی گرفتن . (تاج المصادر بیهقی) (زوزنی) (دهار). به فرخی و فرخندگی گرفتن . شگون نیک زدن . خجسته شمردن. (یادداشت بخط مرحوم دهخدا). ا ا مبارک شمردن . (منتهی الارب) (ناظم الاطباء) (از اقرب الموارد). و منه الحدیث : یجب تیمن فی جمیع امره ماستطاع . (اقرب الموارد). ا ا مردن . ا ا برسوی راست نهادن مرده را در گور. (منتهی الارب) (ناظم الاطباء) (از اقرب الموارد). ا ا خویشتن را به یَمَن منسوب کردن . (منتهی الارب) (ناظم الاطباء) (از آنندراج) (از اقرب الموارد). ا ا به برکت دعا خواندن کسی را. (منتهی الارب) (ناظم الاطباء)

دوم: سوال: شارح لفظ د تيمن ولي زيات کړي. او سره ددې ظاهره زياتوالي د لفظ د تيمن وو. ځکه په مقابل کې د بسم الله (الحمد لله) لفظ د تيمن نسته، لهذا په مقابلُ شيانو کې برابرې افضلَ ده کومَ چې دلته وجود نه لري؟

جواب: شارح زياتوالي د لفظ د تيمن ودې خبرې ته د اشاره کولو لپاره وکړي چې په بسم الله سره شروع کونه د تيمن او تبرک لپاره ده. عام تر دې باء لپاره د ملابست، داستعانت او که د صله لپاره د فعل مقدر سي. ځکه ملابست او استعانت په برکاتو سره د بسم الله وي. او په بسم الله سره ابتدأ کونه په هغه شي کې د برکتناکي د ترلاسه کولو لپاره سوی دی د کوم چې شروع په بسم الله سره سوې ده.

﴿فائده﴾: ملابست: والملابسة،هي المصاحبة،وهي الإلصاق أيضاً فهذه مترادفات في الدلالة على هذا المعنى،و الملابسة هو تعليق الشيء بالشيء واتصاله به. يعني د يو شي تر بلَ شي پورې معلقَ کېدل او د هغه سره متصلَ کېدل. نو دلته د کتاب ټوله اجزاء د نامه سره د الله جلا جلاله متصلَ کېدل او د هغه سره معلقَ کېدل. نو په دغه صورت کې به په نامه سره د الله په ټوله اجزاؤ کې د کتاب تبرک ترلاسه سي.

استعانت: کومک غوښتل، مدد او معاونت غوښتل. دغه باء چې د استعانت لپاره وی دغه عموماً پر آله باندې داخليږي ځکه استعانت په آله سره ترلاسه کيږي لکه سافرتُ بالطائرة. اوس باء په بسم الله کې که چيرې لپاره د ملابست او ملاصقت سي نو پر دغه تقدير زيات تعظيم د نامه دالله ترلاسه کيږي، او په صورت کې داستعانت دغه ډول نه ده ځکه دغه باء پر آله داخليږي. نود الله جل جلاله نوم ظاهراً آله ګرزول سوې ده نو په دغه کې تعظيم د نامه د الله جل جلاله تر لاسه نه سو. او علماؤ دا جواب ورکړي دي ځرنګه چې پرته د آلې د کار مکملَ ونه په صحي توګه سره تر سره کېدای نه سي دغه ډول شرعاً و فعل ته اعتبار تر هغه وختَ پورې نه ورکول کيږي چې د دغه ابتداء په بسم الله سره سوې نه وی. لهذا په آله حقيقتاً فعل موقوفَ وی او پر نامه د الله شرعا موقوفَ دی نو نوم د الله مشابه د آله سره سو په دغه سره تعظيم ته خلل نه رسي هغه وخت به ګرزېدی که چيرې دغه نوم حقيقتاً آله ګرزول سوې وای. او که چيرې باء لپاره د صله او د فعل د متعدی کولو لپاره سي نو بيا افتتاح د کتاب به پر برکت سره د بسم الله وسي.

حاشيه نمبر ۶:

په دې حاشيه کې څو تحقيقه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اول: بیان د ما: په "ما" کې "ما" موصوله، موصوفه، د عهد ذهني، جنس او هم د استغراق لپاره کېدای سي. اوس که چیري "ما" لپاره د جنس سي. او مراد د شکر څخه مطلق شکر سي نو په دغه وخت کې اول "من" بیانیه او دوم من بیانونکي لپاره د "لما یحب" دی. او که چیري د شکر څخه کامل شکر مراد سي نو بیا دوم من تبعیضي دی. او که چیري "ما" لپاره د استغراق سي نو اول من تبعیضیه او دوم من بیانونکي لپاره د شي دی.

﴿فائده﴾: که چیري "ما" لپاره د عهد سي نو معنی دا ډول کیږي "ادا، لحق الواجب المعهود و هو مطلق الشکر". او که چیري لپاره د جنس سي نو معنی دا جوړیږي "ادا، لحق جنس مایجب علیه و هو مطلق الشکر". او که ما استغراقیه سي نو معنی دا جوړیږي "ادا، لحق جمیع افراد مایجب علیه و هو مطلق الشکر".

دوم: بیان داقسامو د شکر: شکر په دوه قسمَ دی.

اول: کامل: هر هغه شکر چې دی په مجموع اعتقاد، ذکر، او د جوارحو په عمل سره وجود تر لاسه کوي.

دوم: مطلق: هر هغه شکر چې په یوه سره د دغه درو، په دوو سره د دغه درو او په مجموعه سره د دغه درو وجود ته رائي.

دریم: **سوال:** خلاصه د سوال داده که چیري "ما" لپاره د استغراق سي نو باید دوم "من" بیان لپاره د "لما یجب" سي نه لپاره د شي. ځکه دغه من "لما یجب" ته قریب دی؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې بیان د مبهم شي لپاره رائي. او په "لمایجب" کې ابهام نسته. ځکه ما په خپل عموم سره معین او معلوم دی. او دغه ډول بیان د عام په خاص سره صحی نه وی. ځکه بیان به د مبیَن سره مساوي وي. او په صورت کې د بیان لپاره د "لما یجب" مساوات نسته.

﴿فائده﴾: هر هغه شي چې هغه خپلو ټولو افرادو لره عام سي دا ډول چې دده یو فرد لا هم وتلي نه وي، په دغه عموم سره دده ابهام لرې کیږي. او دغه شي معین وي نه مبهم. (کافیه ۱۹)

حاشیه نمبر ۷:

په دغه حاشیه کې دري تحقیقه دی.

اول سوال: دمنعم شکر هر وخت واجب دی. او مصنف شکر دمنعم دخپل تصنیف په ابتدأ کي ادا کوي. ددغه تخصیص څه وجه ده؟

جواب: خلاصه د جواب داده چي تصنیف یو اثر دآثارو څخه دنعمتونو دی. او دغه اثر (تصنیف) په وخت کي دتألیف ورپه یادونکي ددغه نعمتونو دی. او څه وخت چي یو سړي ته نعمتونه ورپه یاد سي نو په دغه وخت کي دمنعم شکر ادا کول واجب سي. ددغه وجي مصنف په شروع کي د تصنیف شکر ادا کړي.

دوم سوال: دشکر اداینه په دې سره هم راتلای سوه چي مصنف دغه شکر په ما بین د تصنیف دخپل کتاب ادا کړي وای نو مصنف ولي په ابتدأ کي دخپل تصنیف ادا کړي؟

جواب: په اول وخت کي دواجب په اداینه سره کامل امتثال د واجب رائي ددغه وجي مصنف په ابتدأ کي شکر ادا کړي.

دریم سوال: ستا ذکر سوي شیان د شکر د ادا کولو تقاضي کوي نه د حمد د ادا کونی، نو دلته مقصود د شکر ادا کونه ده نه د حمد؟

جواب: مصنف حمد ددو وجو ذکر کړي.

۱): مصنف دحمد اود شکر ترمینځ دعموم و خصوص من وجه وموجود والي ته داشاره کولو لپاره د شکر پر ځای حمد ذکر کړي. او دوی دواړه په ذکر سوي ماده باندي صادقیږي.

۲): امتثال په حدیث سره د راتلو د وجي.

حاشیه نمبر۸:

سوال: شارح رحمه الله تر ثناء ورسته ولي "اللسان" قید ذکر کړی دي، او حال دا چي ثناء خپله پر دغه قید باندی د لسان دلالت کوي؟

اول جواب: خرنګه بیان د ثناء په ژبه سره رائي. نو شارح ددغه حقیقت بیان وکړی. لهذا دغه قید لپاره د بیان د حقیقت دی، او په بیان کي د حقیقت کوم څه حرج وجود نه لری.

دوم جواب: دغه لپاره د بیان د مقصود دی ځکه کله کله د ثناء څخه مراد هغه شي وی کوم چي په ژبه سره نه واردیږی لکه په حدیث کي رائي" :حدیث مرفوع) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ ، حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ ، عَنِ الأَعْرَجِ ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنْ عَائِشَةَ ، قَالَتْ : فَقَدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، لَيْلَةً مِنَ الْفِرَاشِ ، فَالْتَمَسْتُهُ فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ ، وَهُوَ

Maktaba Tul Ishaat.com

في المسجد، وهما منصوبتان، وهو يقول: "اللّٰهُمَّ أعوذ برضاك من سخطك، وبمعافاتك من عقوبتك، وأعوذ بك منك، لا أحصي ثناءً عليك أنت، كما أثنيت على نفسك". (رواه المسلم، كتاب الطهارة، باب ما يقال في الركوع والسجود، الرقم ٧٥٦)، (جامع الترمذي ٣٤٣٩)، (سنن أبي داود ٧٤٦)، (سنن النسائي الصغرى ٨٧، ١٠٨٠، ١١١٧، ٥٤٦٧)، (سنن ابن ماجه ٣٨٣٩)، (موطأ مالك رواية يحيى الليثي ٤٩٥)، (مسند أحمد بن حنبل ٢٣٧٥٥)، (صحيح ابن خزيمة ٦٣٧، ٦٣٩، ٦٥٥)، (صحيح ابن حبان ١٩٧١، ١٩٧٢)، (المستدرك على الصحيحين ٧٨٦)، (مسند أبي عوانه ١٤٨٣)، (العسد المسجر على صحيح مسلم لأبي نعيم ٩١٤)، (السنن الكبرى للنسائي ٦٨٠) لهذا پد دغه حديث کې مراد د ثناء څخه اظهار د کمال صفاتُ مراد دی. لهذا په ثناء کې دغه احتمال هم وو نو مشارح لسان لفظ ددې لپاره ووایي چې دلته کوم شي مقصود دی د هغه اظهار او بیان تر سره سي.

سوال: جمیل پر وزن د فعیل دی دغه یوه مشتقي صیغه ده او مشتقي صفت دده لپاره موصوف وی نو دلته د جمیل لپاره موصوف څوک دي؟

جواب: موصوف دلته حذف سوی دی. اصل عبارت داؤول دی "الفعل الجمیل".

سوال: دلته شارح ولي د حمد په تعریف فعل مقید په اختیاری سره نه کړی او حال دا چې دغه ټپّ کار وه ځکه که چیرې دغه قید را نه وړل سي نو بیا مدح په تعریف کې د حمد داخلیږی. نو تعریف مانع د اغیارُ څخه نه ګرزی؟

جواب: ښکاره خبره داده چې هغه ته فعل ویل کیږی کوم چې د فاعل په اختیار کې یې کړنه وه او د کوم کار کړنه چې د فاعل په اختیار کې نه وی هغه ته فعل نه ویل کیږی. لهذا ښکاره د فعل څخه اختیاری وی نو شارح پر دغه ښکاره والي باندی کفایت وکړی په دغه وجه "اختیاری" قید یې ذکر نه کړي.

سوال: الله جل جلاله خپل حمد په صفاتُ ذاتیو باندی فرمایلي دي. لهذا دغه صفاتِ ذاتیه اختیاری لپاره د الله جل جلاله نه دی نو دغه حمد دی مګر پر اختیاری فعل نه دی، نو دلته تعریف د جمد جامع خپولو افرادُ ته نه سو او د تعریف عدمِ جامعیت باطل دی؟

اول جواب: دغه صفاتِ ذاتیه د اختیاری افعالُ غوندی دي لکه څه ډول مختارَ فاعل په کړنه کې چاته محتاجَ نه وی دغه ډول په دغه صفاتُ سره په موصوفیت کې الله جل جلاله د چا محتاجَ نه دي. لهذا دغه د اختیاری افعالُ غوندی دی. نو حما پر اختیاری افعالُ ویل کیږی او دغه ډول پر هغه هم ویل کیږی کوم چې د اختیاری افعالُ غوندی وي.

دوم جواب: د فعل اختياري څخه مراد دادی چې محمود في الحمله فاعل مختار وی بیا عام تردي په دغه افعالو کې مختارَ وي او که نه وي نو الله جل جلاله فاعلِ مختارَ دي. لهذا دده حمد پر ذاتي صفاتُ باندی حمد دي.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: سواء کوم صیغه ده او څه ترکیبي حیثیت لري؟

جواب: محشي فرمایي چې دغه اسم په معني سره د مصدر دی، او صاحب د لسان العرب دغه مصدر بللي دي او دغه دوِل مفسرینُ حضراتو (ويقال فلانٌ وفلانٌ سواءٌ أي متساويان وقَوْمٌ سواءٌ لأنه مصدر لا يثنى ولا يجمع قال الله تعالى ليسوا سَواءً أي ليسوا مستوين الجوهري وهما في هذا الأمر سواءٌ وإن شئت سواءان وهم سواءٌ للجمع وهم أسْواءٌ وهم سواسيةٌ أي أمثالٌ مثل يعابيةٍ على غير قياسٍ) دغه مصدر او په معني سره د فاعل دی یعني مستوی. او دغه خبر مقدم مبتدأ يې مؤخر ده. تقدیر د عبارت دادول دی "تعلقه بالفضائل و تعلقه بالفواضل سواء" یعني مستویان.

سوال: "تعلق" فعل دی، او فعل څرنګه مبتدأ واقع کیږي؟

جواب: دلته د فعل څخه مراد حدث دی ځکه لفظ د "تعَلق" د زماني څخه خالي دی لهذا مراد ددغه څخه حدث دی. نو ذکر فعل مراد د حدث دی. او حدث مبتدأ واقع کېدای سي.

سَواء :- جمع أسْواء وسَواسٍ وسواسية (على غير قياس): 1 - مِثل ، نظير :- هذا سواءُ ذاك ، - ليس سواءً عالمٌ وجهولٌ : متساوٍ ، - سواء عندي هذا الفريق أو ذاك : بيّان ، لا فرْق ، - هم سواسية في الجود / النحل :- • سواءٌ بسواء : لا فرق بينهما أو بينهم ، - سواءٌ / سواءٌ عليّ / سواء عليّ أفعلت أم لم تفعل : لا فرق ، متساوٍ عندي ، - على السّواء / على حدٍّ سواء : دون أي فرق ، بالتساوي ، - مررت برجل سَواء والعدم : وجوده وعدمه سواء . 2 - مُسْتَوٍ :- مكان / أرض سواء ، - رجل سواء القدم : باطنها مستوٍ ، ليس لها أخمص ، - ثوب سواء : مستوٍ طوله وعرضه ، - { سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ } .

سواء. ا سَ ا (ع ص ، ا) يكسان . (ترجمان القرآن ترتيب عادل بن علی). برابر. (مهذب الاسماء). راستاراست . برابر. (منتهی الارب) (آنندراج) : سواء لمن خالف هذا الامر صلی ام زنی ؛ راست راست است که هر که خلاف امامت ما بکند... (النقض ص 261). ا ا مثل . مانند. (منتهی الارب) (آنندراج).

حاشیه نمبر ۱۰:

په دغه حاشیه کې دري تحقیقه دی.

اول: بیان د "مزایا": "مزایا" د "مزیة" جمع ده. او "مزیة" په لغت کې فضیلت ته ویل کیږي. او کله کله د مجاز په توګه سره نعمتونه ځني واخیستل سي. (منجد ۷۶۰، غیاث اللغات ۶۲۹)

دوم: بیان د تعریف د فضائل او د فواضلو: فضائل: دا د فضیلة جمعه ده. او فضیلت هر هغه نعمت ته ویل کیږي کوم چې متعدي و بل ته نه وي د مثال په توګه علم.

Maktaba Tul Ishaat.com

فواضل: د غدد فاضلة جمع ده . هر هغه نعمت چي بل ته متعدي وي لکه ورکړه. (میراسباعوحی ۳/ج۱.

﴿فائدہ﴾: فضائل: هر ذاتي خصلت او صفت. ظاهري نعمت او دنيوي نعمت ته ويل کيږي.

فواضل: متعدي نعمت، نعمت باطني او آخروي نعمت.

سوال: مراد د تعديه څخه څه دی؟

جواب: مراد دادي چي دده په مفهوم کي نسبت و بل ته اخيستل وسي وي.

حاشيه نمبر ۱۱:

سوال: په شکر جناني (اعتقادی) کي بالنسبت وشاکر اونه غيرشاکرته انباء او اظهار راتلای سي. بالنسبت و شاکر ته په دې وجه نه سي راتلای چي په دغه صورت کي انباء د شي د خپل ځان څخه راځي. ځکه شکر جناني د منعم د عظمت د اعتقاد درلولو څخه عبارت دی. او د تعظيم څخه (هغه تعظيم چي په شکر کي د منعم راغلي دی) مراد اعتقاد د عظمت دی. لهذا اعتقاد عظمة المنعم او اعتقاد العظمة سره يو دي. او دوم په دې وجه سره صحی نه دی چي اعتقاد يو داسي پټ شي دی چي په هغه باندي علم پرته د شاکر نه سي راتلای. اوس که شاکر و غير ته اطلاع په اعتقاد باندي په قول يا په فعل سره ورکړي . او يا د غير شاکر په دغه باندي اطلاع په توسط سره د الهام راسي. يا د شاکر څخه يو کس و غير شاکر ته خبر ورکړي. نو دغه قول، فعل، الهام او اخبار په حقيقت کي شکر دی نه اعتقاد.

جواب: خلاصه د جواب داده چي شکر جناني عبارت ددې څخه دی "د منعم په صفاتو کمالیو سره د متصف والي عقيده درلول". او د تعظيم څخه عرفا مراد دادی "د منعم د عظمت حق ادا کونه". لهذا نسبت د اعتقاد و اداء ته نسبت د سبب و مسبب ته دی. نو انباء، د شي د خپل ځان څخه نه راغله. او د انباء څخه مراد دلالت معنی ده "کون الاعتقاد بحيث لو علم ،علم به المنعم عه" يعنی که چيري د يو کس څخه مانع پورته سی او علم ئې پر اعتقاد راسي نو علم ئې پر دې باندي راځي چي د منعم د حق ادا اينه سويده. "لهذا انباء و غير شاکر ته ثابت سوه. (حاشيه عبد علی مرزا قطبيه ۱)، (جديده ۲۱)، (شرح عالمی ۱۵۸/ج۱)

حاشيه نمبر ۱۲:

سوال: خلاصه د سوال داده چې تقسیم د فعل و اعتقاد ته نه صحی کیږي. ځکه اعتقاد یو کیفیت د کیفیاتو څخه دنفس دی. لهذا اعتقاد دمقولې څخه دکیف دی. اوهغه څه چې د مقولې څخه د کیف وی هغه د مقولې څخه د فعل نه سي کېدلای؟

بیان د تأمل: په تأمل کي و جواب ته اشاره ده. خلاصه د جواب داده چې اعتقاد یو فعل د افعالو څخه د نفس دی نه یو کیفیت د کیفیاتو څخه د نفس. لهذا دلته فعل عام مراد دی عام تردې فعل د ژبې دزړه او که د جوارحو وی.

﴿فائده﴾: داعتقاد څخه مراد دادي: شاکر په دې سره یقین وکړي چې منعم په صفاتو کمالیو سره متصف دی. او اعتقاد په خپله قطع او یقین نه ده (لکه په دغه سره چې صاحب مجمع البحرین قول کړي دی "اعتقدت کذا. ای عقدت علیه قلبی و ضمیری".) او دغه خبره ښکاره خبره ده چې عقد القلب پرته د قطعي څخه یو بل شي دی. بلکې په ډیرو ځایو کي قطع سبب لپاره د عقد القلب ګرزي. خلاصه داسوه چې اعتقاد په اصل کي عقد القلب دی او کله کله قطع او یقین په طریقه سره د تسمیه د سبب په نامه سره د مسبب په اعتقاد سره مسمی سي. لهذا سائل و دې ته کتنه کړې ده چې اعتقاد قطع او یقین ته ویل کیږي. او جواب ورکونکي بیا و دې ته کتنه کړیده چې اعتقاد فعل القلب (عقد القلب) دی. (کذا قال الیامانی فی شرحه)

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: خلاصه دسوال داده چې "فالحمد اعم" محض تکرار دهغه مخکني عبارت "فمورد الحمد الی قوله و متعلقه یکون النعمت و غیرها" دی. او تکرار ښه نه وي؟

جواب: خلاصه دجواب داده چې دغه ذکر سوي عبارت تکرار نه دی. ځکه هغه مخکني عبارت لپاره د بیان د نسبت ترمینځ د مورد او د متعلق د شکر او د حمد راوړل سوي دی چې ددوی ترمینځ نسبت د عموم و خصوص مطلق دی. او دغه ذکر سوي کلام په هغه مخکني کلام ددې لپاره تفریع سوي دی چې ددې خبري بیان راسي چې د شکر دمفهوم اود حمد د مفهوم ترمینځ نسبت د عموم و خصوص من وجه دی.

حاشیه نمبر ۱۴:

سوال: لفظ دالله اسم لپاره د ذات بلل یو اتفاقي خبره ده او که په دغه کي اختلاف سته؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: په دغه کې اختلاف ستة. شارح يې اسم لپاره د ذات بولي او صاحب البيضاوي يې فرمايي: و لاظهر انه وصف فن اصله لكنة للغالب الخ. خلاصه دده د قول داده" که چيرې لفظ د الله وضع لپاره د مخصوص ذات سې نو په دغه لفظ سره دالله به دلالت په ذات د الله جل جلاله ممکن وی (حکه هر اسم پر خپل مسمي باندې دلالت کوی). او دلالت د لفظ د الله پر ذات باندې باطل دی (ځکه په دغه دلالت سره د مسمي شناخت تر لاسه کيږي او د ذات الهي شناخت موږ ته نه سي تر لاسه کيداى). لهذا لفظ د الله د ذات لپاره موضوع بلل باطل دی. نو د دغه ځخه معلومَ سوه چې لفظ د الله علم او نوم د ذات الهي لپاره نه دی. بلکه دغه په اعتبار د اصل وصف وو بيا دغه لفظ په شانِ الهي کې دومره استعمال سو چې دغه د علم غوندې لپاره د الله و گرزېدی لهذا د علم غوندې شکل يې خپل کړي.

حاشيه نمبر ۱۵:

سوال: د "ذا" مشار اليه څوک دی؟

جواب: لفظ د الله اسم د معين ذات لپاره دی. لهذا عبارت معني دا جوړيږي" په دغه وجه سره چې لفظ د الله علم لپاره د معين ذات دی په دغه وجه "الحمد للخالق الخ" يې نه ووايي حتي چې داسي يې هم نه وويل "الحمد للمتصف بجميع صفات الكمال".

حاشيه نمبر ۱۶:

سوال: خلاصه د سوال داده چې د "مما يوهم" لفظ لره په عبارت کې ضرورت نسته. ځکه په مشتقي باندې د حکم کېدو لوپه صورت کې د حکم په مشتقي سره متعلق کېدنه دا فائده کوي چې مبدأ او مأخذ د دغه مشتقي علت لپاره د دغه حکم دی. لهذا څه وخت چې "الحمد للخالق" ويل سو نو دغه دا فائده کوی چې دالله جل جلاله د حمد د مستحق کېدني علت خلق دی. لهذا "مما يو هم" لره ضرورت نسته؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې دلته دوه شيان دی.

۱): په وجه د خلق د الله ﷻ د حمد مستحق کېدنه. (لهذا دلته د مستحقوالي علت په خلق کې حصر نه دی)

۲): الله ﷻ محض په وجه سره د خلق مستحق د حمد دی (لهذا دلته د مستحقوالي علت په خلق

کې حصر دی). خلاصه داسوه چې "الحمد للخالق" اول فائده کوي. او دده څخه دده وه توهم کیږي. لهذا زمونږ خبره یه دوم کې ده نه په اول کې.

حاشیه نمبر ۱۷:

سوال: مونږ دا خبره نه منو چې د "الحمد لله" د وینا په صورت کې دا معلومیږی چې ذات د الله جل جلاله مستحق د دغه حمد او ثناء دی ځکه په کلام کې کوم داسې شي نسته چې هغه دلالت پر دغه استحقاق وکړي، او دغه دلیل که "الحمد للخالق" او پرته د دې یو بل مشتقي وویل سي نو په دغه صورت کې هم کوم داسې شي نسته چې هغه دلالت پر دې خبره وکړي چې استحقاق د حمد په وجه د یو وصف دونَ وصف دی، ځکه په عبارت کې کوم داسې شي نسته چې پر دغه استحقاق باندی دلالت وکړي؟

جواب: په عبارت کې داسې یو حرف ستاسو کوم چې پر استحقاق باندی دلالت کوی او هغه حرف لام جاره دی کوم چې وضع سوی لپاره د استحقاق دی. نو څه وخت چې "الحمد لله" وویل سي نو د دغه څخه دا معلومیږی چې ذاتِ الهي مستحق د حمد دی. او دغه استحقاق یې په حیث د کوم صفت نه دی. او څه وخت چې "الحمد لخالق" وویل سي نو بیا دا معلومیږی چې محمود مستحق د دغه ثناء په اعتبار د دغه وصف دی کوم چې ورسته تر لام جاره راغلي دي یعني که چیرې خالق راغلي وو، لکه "الحمد للخالق" نو دلته دا معلومیږی چې محمود مستحق د حمد په اعتبار سره د خلق او تخلیق دی نه د په اعتبار د بل وصف.

سوال: تخصیص د څه څخه معلومیږی دا ول چې د الله د وینا په صورت کې دا معلومیږی چې ذات د الله محض د ذاتیت په حیث د حمد مستحق دی نه په اعتبار د وصف. او د وصف د وینا په صورت کې محض د دغه وصف په اعتبار د حمد مستحق والي معلومیږی چې د دغه وصف په اعتبار مستحقَ دی نه د بل وصف په اعتبار سره؟

جواب: دغه په الف لام سره د "الحمد" فائده کیږی ځکه دغه لام استغراقي دی نو معني داسې چې هر هر فرد د حمد.

سوال: شارح دلته دا ول وینا ولي تر سره کړه چې "الحمد للخالق" او په هغه صورت کې چې مشتقي ذکر ورسته تر لام سي نو په دغه صورت کې توهم د دې خبرې رائي چې محمود د حمد

Maktaba Tul Ishaat.com

په اعتبار سره د دغه وصف مستحق دی نه د بل وصف. او حال دا چې دغه خبره او قاعده کلي ده چې که چیرې حکم پر یو مشتقي باندې و سي نو د دغه حکم علت او منشأ به مصدر د دغه مشتقي وی نو د "الحمدللخالق" په صورت کې دا خبره یقیني ده چې محمود مستحقَ د حمد په وجه د خالقیت دی نه په اعتبار د بل وصف. لهذا د وهم پر ځای یې باید داسې یو لفظ ذکر کړی وای کوم چې دلالت په یر یقین باندې کوی؟

جواب: دغه خبره چې الله جل جلاله د حمد مستحقَ محض په اعتبار د هغه وصف دي کوم چې منشأ او مصدر د هغه مشتقي دی کوم چې ورسته تر لامِ جاره راوړل سوی دی، دغه حکم په اعتبار د حقیقت یو باطل حکم دی ځکه د الله جل جلاله د جنسِ حمد مستحقَ کېدنه محض په اعتبار د یو وصف نه دی دا دول چې الله جل جلاله د دغه وصف په اعتبار مستحقَ دی او د بل وصف په اعتبار بیا نه دی. لهذا د غه خبره باطلَ ده نو د دغه باطلَ څخه د ځان ژغورولو په خاطر دا تأویل ممکن دی (په هغه صورت کې چې د ذات پر ځای مشتقي ذکر سي) حامد دغه وصف په دې وجه ذکر کړی دی چې دغه اهم دی نو د اهمیت د ښوولو لپاره یې ذکر کړي، نه د دې لپاره چې محمود په اعتبار د دغه وصف مستحق دی نه په اعتبار د بل وصف (دغه جواب صحی جواب دی). لهذا د دغه جواب په صورت کې بیا هم د تخصیص د حمد په اعتبار د دغه وصف توهم کېدی نو په دغه وجه شارح د توهم لفظ وو ایي نه یو داسې لفظ چې هغه یقیني وی.

صفحه نمبر ۹:

عبارت



ترجمه

بلکه په ذاتي استحقاق باندی ددلالت کوني ورسته مصنف وړاندي والي و انعام ته ددې لپاره و
کړي چي خبر تيا په دي خبره باندی راسي چي الله د ذات او هم د صفاتو په اعتبارد حمد مستحق
دي.مصنف حمدمخکي کړي،خکه دغه مقام د حمد په شان کي دډيرې غم خوردني تقاضی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوي کښر دي، که څه هم د الله د نوم ذکر کونه او یادونه په خپل اعتبار سره د اهمیت وړ ده. تردي ن
ربات صاحب د کشاف په دي خبرې سره تصریح کړېده چې په دغه کې هم دلالت په خاصوالي
سره د حمد د ذات الهي سره دی. او دغه د الله جل جلاله سره وړ دی. او په دي سره د اشکاره سود
چې د صاحب کشاف تګ و دي خبرې ته چې په الحمد کې لام لپاره د جنس دی نه د استغراق
داسي نه دی لکه ډیرو چې ددغه خبرې وهم کړی دي چې د صاحب کشاف دغه خبره بناء په دي
ده چې دی د بندګانو د کارونو خالق الله نه بولي(کوم چې د معتزلو مذهب دی او دی هم معتزلي دي) نو
ټوله ستاینې و الله ته راجع نه دي(ځکه څه وخت چې د یو بنده ستاینه دده په کار و سي نو دغه ستاینه و الله ته نه
راجع کېږي ځکه دغه په کار د بنده ده نه د الله). بلکه دغه وینا په دي وجه ده چې حمد د هغه مصدرونو
څخه یومصدر دی کوم چې پر خای د فعل ولاړ وی. او اصل دده منصوب والي وو. او بیا د نصب
څخه و رفع ته تګ کونه ددې لپاره وسوه چې دلالت په همېشه والي اواثبات باندی راسي. اوفعل
په حقیقت باندی دلالت کوی نه په استغراق باندی. نودغه ډول هغه شي چې دده پر خای ولاړ
وی هغه هم دلالت پر حقیقت کوی. اوپه دغه کې نظر دی ځکه د فعل پر خای نکره مصدر ولاړ
دی د مثال په توګه "سلام علیک". اوس دلته د لام د راتلو څخه مانع نسته کوم چې د استغراق لپاره
کېدای سي. پس ښه خبره داده چې په الحمد کې الف و لام لپاره د جنس کېدنه په اعتبار و عقل
ته د وړاندی کېدني ښکاره او استعمال یې عام دی. خاص بیا په مصدرونو کې. اوپه وخت کې د
استغراق د قرینو د خفي والي په صورت کې. اویا دغه خبره په دې باندی بناء ده چې الف لام پر ته
د تعریف بل څه نه فائده کوی. او اسم پرته د مسمی په بل څه دلالت نه کوی. نواوس په دغه
وخت کې استغراق نسته. او په "ما انعم" کې ما مصدری دی، او موصوله نه دی، ځکه دغه موصوله
کېدنه یې د لفظ اومعنی ددواړو په اعتبار سره فاسد دی. د لفظ په اعتبار سره ددې وجي باطل
دی چې د موصوله کېدنې په صورت کې و تقدیر ته احتیاج راځي. اوهغه به داډل وی "انعم به".
اودغه تقدیر په معطوف علیه کې نه سي راتلای. اودغه معطوف علیه "علم" دی ځکه "عالم نعلم" مفعو
ل لپاړه د "علم" دی. اوکوم چا چې دا خبره کړېده چې علم په اصل کې "علمه" دی او "لم نعلم" بدل دد
غه ضمیر څخه دی. اویا دغه خبر مبتدأ یې محذوف ده. او یا په تقدیر سره د "اعنی" منصوب دی.
دغه خبره کونه د مشقت څخه خالي نه ده. اود معنی په اعتبار سره بیا په دي وجه سره فاسددی
چې ستاینه په هغه انعام او ورکړی" کوم چې د الله د صفاتو څخه یوصفت دی "ښه ترهغه ستاینې
ده کوم چې په نعمت باندی راغلی وی.

سوال: د الله جل جلاله دنوم تر الحمد مخکي کونه مناسبه ده، ځکه الله د ذات نوم دی او الحمد وصف دي. او ذات مخکي تر وصف وی (ځکه اول ذات راځي ورسته تر هغه بیا دی موصوفه په یو وصف سره ګرزي). او دغه ډول په مخکي کوني سره د لفظ د الله خاص والي د حمد د الله سره راځي (ځکه هغه شي چې د هغه مرتبه ورستني وی د هغه په مخکي کولو سره تخصیص راځي او دغه دلته مطلوب دی)؟

جواب: وقدم الحمد: ۱: دغه مقام د حمد دی، او په مقام کي د حمد مقصود د الله جل جلاله موصوف والي په یو وصف سره وی. نو دلته مناسبه داده چې دغه وصف اول ځلي و الله لره ثابت سي او دغه پرته د الحمد د مخکي کوني نه راځي (ځکه که چیرې لفظ الله مخکي سي نو بیا اول دا اړه وصف ثابت نه سو بلکه ورسته سو).

۲: موږ دلته داخبره نه منو چې محض په مخکي کولو سره د لفظ د الله تخصیص راځي، بلکه دغه تخصیص د الحمد د مخکي کوني په صورت کي هم راځي (ځکه لام په الله کي لپاره د تخصیص دی او الف لام په الحمد کي د جنس لپاره دی، نو معني دا سوه چې جنس حمد خاص د الله سره دی. لهذا دلته تخصیص حاصل سو نو مخکي کوني لره د لفظ د الله ضرورت پاته نه سو. او شارح د دغه خبرې "چې د حمد مخکي والي هم تخصیص فائده کوی" لپاره یې د علامه زمخشرۍ خبره وړاندی کړه. او وې ویل: علی ان صاحب الکشاف...

سوال: صاحب کشاف وویل چې په الحمد کي الف لام لپاره د جنس دی نه د استغراق. او دغه خبره ده د خپلې عقیدې د تائید لپاره کړېده. ځکه دی د معتزلو څخه دی او معتزله دا عقیده لري چې بنده د خپلو افعالو خالق دی نه الله. لهذا بنده چې یو بنه کار وکړی او بیا یو څوک د ده ستاینه د دغه کار په وجه وکړی نو دغه هم حمد دی، مګر الله لره نه بلکه دغه بنده لره ثابت دی. لهذا که چیرې الف لام استغراقي سي نو بیا به هر هر فرد حمد و الله لره ثابت سي نه یو بنده لره. په دغه وجه دی الف لام جنسي بولي ځکه د جنس که څه هم بعض افراد و بل لره ثابت سي د مثال په توګه د حمد که څه هم بعض افرادو بندګانو لره ثابت سي بیا هم دا وبل کېدای سي چې جنس حمد الله لره ثابت دي (ځکه څه وخت چې د یو شي زیات افراد و یو چا لره ثابت سي نو بیا د دغه زیاتو ته د اعتبار ورکولو په خاطر جنس ثابتونه د هغه لپاره صحی ده)؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دغه خبره د سره صحی نه ده چې صاحب کشاف الف و لام د جنس لپاره په ګرزولو سره د خپلې عقیدې اظهار کړی دی، ځکه الف لام لپاره د جنس کېدو لو په وخت کې یو فرد هم پرته د الله بل چا ته ثابتېدلای نه سي. ځکه که چیرې ثابت سي نو د هغه فرد په ضمن کې جنس هم ثابتیږي. لهذا د جنس د یو فرد د ثابتېدو لو په صورت کې بیا هغه جنس خاص د یو بل چا پورې نه سي کېدای، د مثال په توګه یو فرد حمد پرته د الله بل چاته ثابت سي نو بیا جنس هم خاص تر الله پورې نه سي کېدای (ځکه د هغه فرد په ضمن کې حمد هغه کس لره ثابت سویدی). لهذا ځکه وخت چې صاحب کشاف دا خبره وکړه چې الف لام لپاره د جنس او خاص د الله سره دی ددې مطلب دادی چې دی ټوله افراد د حمد هم الله لره ثابت بولي.

سوال: نو دی بیا ولې الف لام د جنس لپاره بولي نه د استغراق ددې څه وجه ده؟

جواب: دلته مقصد بنو ونه ددې خبرې ده چې حمد مصدر و لاړ په ځای د هغه څه دی (فعل) کوم چې دلالت په حقیقت کوی نه په استغراق. لهذا څه وخت چې اصل دلالت په حقیقت کوی نو دده پر ځای باندی ولاړ نیه هم پرې د غه حقیقت باندی دلالت کوی نه پر استغراق (ددې لپاره چې زیاتوالي د قائمقام په اصل شي باندی را نه سي). لهذا اوس دا خبره ثابت سوه چې مقصد د صاحب الکشاف په الف و لام لپاره د جنس په بلولو سره د خپل مذهب اظهار کونه نه ده بلکه مقصد یې برابر پاته کېدنه د قائمقام د اصل سره ده.

سوال: الحمد لله په اصل کې څه دی؟

جواب: الحمد په اصل کې "حمدتُ الله" دی بیا فعل سره د فاعلَ حذف او مفعول دده پر ځای و درېدی.

سوال: مفعول خو منصوب او حال دا چې دلته حمد مرفوع دی دا ولې؟

جواب: شي په اخپل اصل باندی تر هغه وخت پورې پورېښول یې اصل دی ترڅو پورې دده څخه د اوښتولو کوم سبب، او وجه موجود سوی نه وی. او دلته د اصل څخه د اوښتولو وجه موجوده ده هغه داده چې هغه جمله اسمیه چې په اصل کې د فعلیه څخه وجود تر لاسه کړی دلالت پر دوام او همېشګي کوی. په خلاف محض فعلیه او جمله اسمیه چې معدوله نه وی. ځکه د غه دواړی د همېشګي په توګه دلالت په دوام نه کوی بلکه کله یې کوی او کله بیا داسې نه وی. لهذا د غه ځای د تعظیم او دوام دده سره مناسب دی.

سوال: دفعل څخه د قائمقامه کېدو په صورت کې هغه مصدر چې نکره وی کفایت کوی. لهذا په نکره سره دغه مقصد تر لاسه سو. اوس تر قائمقامه کېدو ورسته په حمد الف و لام د یو بلې فائدې لپاره چې استغراق دی راوړل سو نو په دغه صورت کې زیاتوالي د قائمقام په اصل باندی لازم نه سو ځکه اصل مصدر نکره وو (او هغه د فعل غوندی په حقیقت باندی دلالت کوی نه په بل څه باندی) نه معرفه. او استغراقیت هغه معنې ده چې په الف و لام سره ورسته د قائمقامه کېدو تر لاسه سوه. لهذا ددې قول معنې "انما هو المصدر النكرة" داده چې د قائمام توب لپاره مصدر نکره کافي دی، او ددې مطلب دا نه دی چې د مصدر معرفه قائمقام والي صحی نه دی ځکه کله کله هغه مصدر چې معرفه په لام سره وی په ځای د فعل و دریږی د مثال په توګه چې دغه قول الهي "الحمدلله" منصوبه وویل سي؟

جواب: مورږ دا خبره نه منو چې دلته قائمقام د فعل مصدر نکره دی بلکه قائمقام یې معرفه دی ځکه دلته کېد ای سي چې اصل "حمدت الحمد لله" وو نو بیا دغه معرفه پر ځای د فعل ودرېده، او دغه معرفه قائمقامه (الحمد لله) په حقیقت دلالت کوی نه په استغراق ددې لپاره چې د نائب زیاتوالي په اصل باندی را نه سي دا ډول چې اصل محض په حقیقت او قائمقامه په حقیقت باندی د دلالت کولو سره سره په استغراق هم دلالت کوی.

سوال: دعلامه کشاف د کلام دوې وجې بیان سوی وې.[1] : الف لام لپاره د جنس په بلولو سره ده خپل مذهب اعتزال اظهار کونه مقصد وه.

[2] : الحمد قائمقام د فعل دی الخ. او دغه دواړې وجې کمزوری دي، او شارح د اولي وجې و کمزورۍ ته په دې قول "ليس مبنيا" سره او دوم ته یې په دې قول سره "فيه نظر" اشاره وکړه نو اوس د صاحب الکشاف د قول صحی مصداق څه شي دی؟

جواب: د صاحب الکشاف د قول د مصداق د بیانولو لپاره دوې وجې بیان سوی دي.

۱): مبني على المتبادر: څه وخت چې الف و لام راوړل سي نو په دغه صورت کې متبادره او ښکاره الف لام لپاره د جنس کېدنه وی خاص بیا چې الف و لام په مصدر باندی راسي. ځکه مصدر په حقیقت او حدث باندی د دلالت کوني لپاره وضع سوی دی او دغه په وحدت او ډیر والي باندی دلالت نه کوی (حتی چې بیا استغراق مراد سي). لهذا د مصدر د راتلو په صورت کې ښکاره

Maktaba Tul Ishaat.com

جنس خصوصا بیا هلته وی چیری چې قرینه د استغراق موجوده نه وی لکه دغه چې زمورږ په بحث کې ثابتَ ده .ځکه دغه مقام د مدحې دی او ددغه سره مناسبه مبالغه ده او مبالغه په جنس سره زیاته تر صورت د استغراق حاصلیږی.ځکه جنس په هر هر فرد د محامد و او په ټولو باندی په دواړه توګه سره دلالت کوی هم په یوه یوه او هم په ټولو ، او استغراق محض په هرهر یوه دلالت کوی نه په ټولو باندی.لهذا د حمد په مقام کې د جنس قرائنې او علاماتې تر علامې د استغراق ښکاره دي. نو په دغه وجه سره الف لام لپاره د جنس کېدنه یې تر استغراق کېدنې ښکاره ده.

سوال: مورږ دا خبره نه منو چې د حمد په مقام کې الف و لام لپاره د جنس کېدنه یې ښکاره ده بلکه په خطابي مقاماتو کې استغراقیت مناسبه دی عام تر دې دده مدخول مصدر او که پرته دده وی.او دغه ډول د استغراق قرینه خفي بلنه مورږ نه منو بلکه دغه مقام خطابي یې قرینه ده اوددغه سره استغراق ډیر زیات مناسبَ دی،ځکه دغه مقام د حمد مقام خطابي وی او د مقام خطابي سره استغراق مناسبه وی او دغه په استغراق سره ښه حاصلیږی؟

جواب: جنس حقیقت او استغراق مجاز دی ځکه د جنسیت فهمونه د نفسي لفظ څخه د مصدر ده او د استغراق فهمونه د مقام څخه ده.او هغه شي چې د نفسي لفظ څه فهمیږی هغه حقیقت وی او کوم چې د مقام څخه فهمیږی هغه مجاز وی او حقیقت تر مجاز غوره دی.

۲):لام په تعریف او اسم په خپل مسمی باندی دلالت کوی نو د الف لام مدخول که چیری ماهیت من حیث هي وو (لکه په جنس کې لکه مصدر) نو دغه الف لام بیا د ماهیت مطلقَ تعین فائده کوی.او که چیری ماهیت په حیثیت د وحدت وی(یعني فرد منتشر یعني یو فرد د افرادو څخه یې مدلول وو مګر هغه متعین نه وی لکه په اسم جنس کې) نو بیا تعین د وحدت فائده کوی.نو خلاصه دا سوه چې الف لام تعین د هغه شي کوی کوم چې معني او مدلول د هغه چا وی په کوم چې دی داخل سوی وی. او معني دده د مدخول کله ماهیت من حیث هی وی او کله بیا ماهیت من حیث وحدت وی نه بل څه نو دلته (الحمد لله) معني د مدخول استغراق او هر هر فرد نه دی نو دغه مراد ول او اخیستل خپلول د مجاز او پورې ښول د حقیقت دی او دغه بېله قرینې نه سې کېدلای او دلته قرینه پر استغراق نسته نو په دغه وجه دلته مراد استغراق نه بلکه جنس دی.

سوال: په "ما انعم" کې ما راوړل صحت نه لري ځکه بېکاره مراد د ما څخه ما موصوله وی او دغه موصوله کېدنه دلته نه په اعتبار د لفظ، (ځکه ما موصوله احتیاج و تقدیر ته د عائد په صله کې لري ځکه صله یو مستقله جمله وی او احتیاج و بل ته نه لري او حال دا چې صله تعلق د موصول سره لري او دغه تعلق ورکونکي عائد وی نو په صله کې د عائد وجود ضروری دی نو عبارت به "انعم به" جوړ سي او دغه باطل دی ځکه راتلونکي عبارت کوم چې معطوف دی هغه به باطل سي هغه دا دول چې په معطوف کې چې علم البیان دی هغه به "علم البیان به" جوړ سي نو دوم مفعول د علم لپاره به سي او حال دا چې د "علم" دوم مفعول هلته "ما لم تعلم" دی. نو "به" دوم مفعول د هغه لپاره گرزول باطل دی. نو په صله کې د عائد هیښول هم باطل دی نود مالپاره د موصول کېدنه هم باطله ده) اونه په اعتبار د معني صحت لري (ځکه که چیرې ما مصدریه سي نو مدخول دده به په معني سره د مصدر سي نو ما انعم به په معني سره د انعام سي لهذا اداینه به د حمد په انعام او نعمت پرورکړه راسي او د نعمت ورکړه د منعم فعل دی. او که چیرې ما موصوله سي نو بیا به د حمد اداینه په نعمت راسي ځکه معني یې داکېږي په هغه څه دده ستاینه ده کوم چې ده د هغه ورکړه کړیده او ورکړه یې د نعمت کړیده، لهذا دغه حمد په نعمت سو او نعمت په ورکړه مرتبیږي او ورکړه د منعم ده نو اوس دلته دوه شیان مینځ ته راغله. ۱: ورکړه. ۲: نعمت. ورکړه د منعم صفت دی او نعمت د منعم صفت نه بلکه دده په صفت چې ورکړه ده مرتبیږي. نو حمد په وصف الهي باندی غوره تر دې دی چې دده په وصف نه بلکه پر هغه مرتب وي په دغه وجه ما مصدریه تر ما موصوله کېدو کمزوری ده).

سوال: ورکړه پرته د نعمت نه تر سره کیږي. لهذا مصنف ورکړه ذکر او نعمت یې ذکر نه کړي د دې څه وجه ده؟

جواب: د نعمت نه ذکر کونه یې دوو وجو څخه وکړه.

اول: ذکر کونه یې دوه دول ده. ۱: یو څه دوو څخه ذکر کول. ۲: ټوله ذکر کول. اوس عبارت د دوو د ذکر کولو څخه قاصره دی ځکه الله جل جلاله فرمایي: وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ. (سورة النحل ۱۸) یعني که چیرې تاسو د الله نعمتونه وګڼی نو تاسو دغه نه سي کولای. لهذا داسي یو عبارت نسته چې هغه سره بیان د الله د نعمتونو راسي په دغه وجه مصنف ذکر نه کړه.

دوم: ټوله خو نه سي راتلای. اوس که چیرې بعض دوو څخه ذکرسی نو بیا به په ټوهم کې دا راسي چې حمد الهي دده د هغو صفاتو سره خاص ده کوم چې ذکر سوی دي او دغه خبره صحت نه لري. ځکه الله د ټولو صفاتو په اعتبار سره د ستایني لائقت لري.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: که چیرې خبره دغه ډول سې چې د ذکر کولو په صورت کې د تخصیص توهم راځي نو بیا مصنف ولې بعض د نعمتونو څخه ذکر کړه، د مثال په توګه نعمت د بیان، نعمت د شرعي قوانینو، نعمت د نبي را هستولو او دغه ډول. لهذا دغه ذکر کونه یې د څه مقصد لپاره ده؟

جواب: مصنف رحمه الله عجیبه لاره خپله کړیده چې ده اولني مفعول د "علم" ذکر د دغه وجې نه کړي چې د ذکر کولو په صورت کې توهم د اختصاص راتلي، او ورسته یې بیا یو څه نعمتونه ذکر کړه ددې لپاره چې اشاره و هغه نعمتونوته راسې په کومو باندې چې انساني ژوند ولاړ دی. لهذا د دغه شیانو او اوچت مرتبه والي و طرف ته د اشاره کولو په خاطر یې ذکر کړه.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

په دې حاشیه کې دوه تحقیقه دی.

اول: د استحقاق ذاتي او وصفي د تعریف بیان: داستحقاق ذاتي درې ډوله تعریفونه سوې دی.

۱): محض د ذات مستحق والي ښکله لحاظ ولو دیو وصف وي دا ډول چې په دغه مستحق والي کې د ذات وصف لره هیڅ قسم دخل نه وي.

۲): هر هغه استحاق چې په اعتبار د ټولو صفاتو کمالیو وی.

۳): هر هغه اسحقاق چې په ده کې لحاظ د خصوصیت د وصف نه وي.

﴿فائده﴾ په اول تعریف کې نظر دی. ځکه استحقاق پرته د جمیل او وصف په بل څه نه وي. لهذا د لحاظ کولو څخه د وصف که څه هم اجمالا وي چاره نسته. ځکه جمیل د ارکانو څخه د حمد دی. (کذا قال ملا احمد فی شرحه لشرح العقائد ۱)،(مجموعة الحواشی البهیة ۲/ج۱) انتهی ما فیه الفائدة.

تعریف د استحقاق وصفي: هر هغه استحقاق چې د هغه سره لحاظ ولو دیو خاص وصف وي.

دوم: بیان د ارکان د حمد: حمد لره پنځه ارکان دی.

۱) **: حامد:** هغه کس چې هغه د بل کس تعریف کوي او ذاسې کلام وائي چې هغه په تعظیم د محمود دلالت کوي.

۲) **: محمود:** هر هغه کس چې دده صفت کول کیږي.

۳): **محمود به:** هغه تعریفي کلماتي چې د یو کس د ستایني لپاره استعمال سي.

(۴): **محمود علیه:** هر هغه شي چې دده په مقابل کې حمد واقع کیږي. او دی باعث پر حمد وي.
(۵): **حمد:** په دغه ستاینې چې کوم اثر مرتبیږي هغه ثنه حمد ویل کیږي (التصریح شرح التوضیح و التنویح ۵۳)، (شرح لملا محمدموسی ۳۳۱/ح۱)

حاشیه نمبر ۲:

په دې حاشیه کې څو تحقیقه دی.

اول: دمقام د اهمیت بیان: دغه مقام په امر ذی بال کې د شروع کولو (تألیف الکتاب) کې دی. او دغه خبره مخکې تېره سوه چې د هر امر ذی بال شروع په حمد سره و نه سي هغه امر اجزم او بې برکت دی. نو تقدیم د حمد تقاضی د مقام (شروع په تألیف کې د کتاب) ده. لهذا حمد لره عارضي اهمیت حاصل سو. او دغه عرضي اهمیت تقاضی د غم خوردني په شان سره د حمد کوي (کذا قال مولانا محمد علی فی شرحه ۱۵/ج۱)

دوم: سوال: خلاصه د سوال داده چې اهتمام په شان سره د حمد عارضي او اهتمام په شان سره د نامه د الله ﷻ ذاتي دی. او ذاتي سره تقدیم زیات مناسبت لري. او که چیري نوم د الله ﷻ مقدم نه سي نو باید مؤخر تر حمد هم نه سي؟

جواب: خلاصه دجواب داده چې "الحمد" مبتدأ او "لله" یې خبر دی. او اصل په مبتدأ کې تقدیم دی. لهذا مصنف تګ په اصل باندې کړیدي. او کوم اهتمام چې په شأن سره د حمد وو د دغه اهتمام تعارض دهغه اهتمام سره راغلي چې هغه په نامه سره د الله ﷻ دی. او دغه یوه مشهوره قاعده ده چې څه وخت ددوو شیانو ترمینځ تعارض راسي نو هغه دواړه ساقطیږي. لهذا دغه دواړه اهتمام ساقط سوه. او په تقدیم کې یوه ته لا هم اعتبار نسته. بلکې یو درېیم شي ته اعتبار ورکړل سو چې هغه تقدیم په مبتدأ کې دی.

دریم: قول د معزالدین خان بیان: دده مقصد دوې خبرې کېدای سي.

(۱): رد په ملا زاده باندې دی: خلاصه ددغه رد داده چې ساقط کېدل په وخت کې د تعارض هغه وخت رائي چې د دغه دوو شیانو ترمینځ برابري وي. اودلته د اهتمام په شان سره د حمد او د اهتمام په شان سرهٔ د نامهٔ د الله ﷻ برابري نسته. ځکه ذاتي تر عرضي قوي وي. او د عرضي او د قوي ترمینځ د تعارض د راتلو په صورت کې ادني پرېښول کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲): جواب د اصل اعتراض څخه: **جواب اول:** خلاصه د اصل جواب داده چې اهمیت عرضي اولي په معتبر ولو سره تر اهمیت ذاتي دی. ځکه بلاغت په کلام کې عبارت د "مطابقة الكلام لمقتضى الحال مع فصاحته" دی. او حال "مقام چې شروع في التأليف" تقاضی د تقدیم د حمد کوي نه د نامه د الله ﷻ. (كذا قال مدرس افغاني في شرحه ۱۵/ح۱)

دوم جواب: د وصف تقدیم په ذات باندې هغه وخت جائز دی څه وخت چې د غه وصف تر دغه ذات پرې خاص وي. (هداية النحو ۲/ح۲)

حاشیه نمبر ۳:

خلاصه د دغه حاشیې داده چې په "الحمد لله" کې به داسې تخصیص وي لکه په "لله الحمد" کې او یا به نه وي. په اول تقدیر تقدیم لپاره د اهتمام په شان سره د حمد سویدي. او په دوم تقدیر بیا تقدیم لپاره د نه قصد ولو د اختصاص سوی دي. فتفكر.

حاشیه نمبر ۴:

سوال: خلاصه د سوال داده چې تعارض په مابین کې د قول د کشاف او د عقیدې د علامه کشاف راغلي دی. ځکه ده وویل چې په "الحمد" کې الف لام لپاره د جنس دی. او جنس استغراق لره مستلزم دی. خلاصه د علامه کشاف د قول داسوه ټوله محامد خاص تر الله ﷻ پورې دی. او علامه کشاف د معتزلو څخه دی. او ددوی عقیده داده چې د بندګانو فعل د بندګانو مخلوق وی. خلاصه دا سوه چې څه محامد په افعالو د بندګانو ویل کیږي دغه ټوله بندګانو لره ثابت سوه نه الله ﷻ لره. ځکه د بندګانو د افعالو خالق الله ﷻ نه دی. لهذا د ده د عقیدې څخه دا معلو میږي چې ټوله محامد الله ﷻ لره ثابتې نه دی؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې دلته دوه شیان دی.

۱): د بندګانو د افعالو خالق بندګان دي.

۲): دوی ته په خالقیت باندې الله ﷻ قدرت ورکړي دی. لهذا خالقین بندګان او قدرت ورکونکي الله ﷻ دی. لهذا ددغه محامدو "چې په افعالو باندې د بندګانو ویل کیږي "رجوع و قدرت ورکونکي ته کیږي. نو گواکي دغه محامد په افعالو د بندګانو محامد په قدرت باندې د قدرت ورکونکي دي. او قدرت ورکونکي الله ﷻ دی. لهذا د علامه د قول او د عقیدې ترمینځ تعارض نسته. او که چیرې قدرت ورکونکي په افعالو باندې هم بندګان سې نو بیا د

جواب خلاصه داده چې تا دغه مخکې وپيژندل چې د حمد يو رکن محمود عليه دی. او محمود عليه د هغه شي څخه عبارت دی چې هغه قائم په محمود په سي وي. او په دغه کې شک نسته چې جميل پرته د الله ﷻ په بل چا کې نه موجوديږي. بيا عام تر دې دغه جميل فعل او که صفت وي. دوم واضح دی. ځکه صفات ذاتيه د الله ﷻ خالي د نقص او د عيب څخه دی. ځکه صفات عين الله ﷻ دی. او اول (جميل چې فعل محض وي په غير کې د الله ﷻ نه موجوديږي) دغه خبره ثابت ده. ځکه د فعل حَسن د حُسن څخه د فاعل پيدا کيږي. او دغه تا وپيژندل چې الله ﷻ کامل مطلق دی. خلاصه دا سوه چې هغه فعل چې هغه حسن محض وي ادغه هم د الله ﷻ څخه پيدا کيږي. نو الله ﷻ هم کامل فعلا او هم صفتاً دی. او دده پرته نه فعلاً او نه صفتاً کاملَ دی. ځکه ددوی افعال او صفات سره نقص وي. لهذا پرته د الله ﷻ بل څوک د حمد مستحقَ نه دي. ځکه الله ﷻ کامل او د ده نه پرته کامل نه دی. (مرزا قطيه ۲/ح۱، مع زيادتی)

حاشيه نمبر۵:

سوال: کما توهمه "دغه په ترکيب کې څه حيثيت لری؟

جواب: په دغه کې دوه اختمالَ سته.

۱: کاف په معنې سره د مثل دی. او دغه صفت لپاره د مصدرِ محذوف دی. اصل عبارت داډول دی "ليس ما ذهب اليه مبنياً بناء مثل ما توهمه کثير من الناس" (ترکيب: "ليس" حروف مشبه بالفعل. ضمير يې اسم "ما ذهب اليه" دی او مبنيا ضمير په کې مستتر فاعل، او "بناء" موصوف "مثل" مضاف، "ما" موصول، "توهم" فعل "ه" ضمير د مفعول "کثير" فاعل دي، لهذا فعلِ فاعل، مفعول سره د متعلقاتُ جمله فعليه صله لپاره د موصول سوه. موصول سره د صله صفت لپاره د "بناء" دی. موصوف سره د صفت مفعول مطلق لپاره د "مبنيا" دی. مبنيا اسم فاعل سره د فاعل سره د مفعولِ مطلق شبه الجمله خبره لپاره د "ليس" دی).

۲: دغه حال دی او په دغه صورت کې هم کاف په معنې سره د مثل دی، نو تقدير د عبارت دا جوړيږی "ليس ما ذهب اليه مبنيا مماثلا لما توهمه کثير من الناس". او س په دغه مثال کې "مماثل" حال د ضمير څخه د "مبنيا" دی کوم چې و "ما ذهب اليه" ته راجع دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده﴾: **تصحی د حاشیه:** الحار و المجرور في موقع المصدر ، أی لیس مبنیا بناء مثل ما توهمه کثیر من الناس الخ .(فیض الفتاح ۵۷/ح۱)

تنبیه تقع (کما) بعد الجمل کثیرا صفة فی المعنی، فتکون نعتا لمصدر أو حالا، ویحتملهما قوله تعالی (کما بدأنا أول خلق نعیده) فإن قدرته نعتا لمصدر فهو إما معمول لنعیده، أي نعید أول خلق إعادة مثل ما بدأناه..... وإن قدرته حالا فذو الحال مفعول نعیده، أي نعیده مماثلا للذی بدأنا.(معنی اللبیب ۲۳۷/ح۱)

حاشیه نمبر۶:

سوال: الحمد لله په اصل کي څه وو؟

جواب: دغه په اصل کي "حمدتُ الله" وو ،بیا فعل سره د فاعلَ حذف او مفعول دده پر ځای و درېدی.او په دغه مصدر کي اصل نصب وو (ځکه دی مفعول مطلق په اصل کي دي)مګر ددغه سره بیا هم دی مرفوع و ګرزېدی ددې لپاره چې د مرفوع په صورت کي به دغه جمله اسمیه و ګرزی او هغه جمله اسمیه چې وجود یې د فعلیه څخه تر لاسه کړی وی هغه پر دوام او ثبات دلالت کوی لکه په "سلام علیک" کي. نو دغه دوام و لاس ته د راوړلو په خاطر دغه منصوب مصدر مرفوع و ګرزول سو.

حاشیه نمبر۷:

مقصد د محشي بیانونه ددې خبری ده چې فعل پر حقیقت او حدث باندی دلالت کوی نه پر استغراق باندی،لهذا مصدر کوم چې ددغه فعل پر ځای ولاړ دی دغه به هم پر حقیقت دلالت کوی نه پر استغراق. ځکه که چیری دغه مصدر د حقیقت سره سره پر استغراق هم دلالت وکړی نو زیادت د قائمقام به پر اصل دا دول راسي چې اصل پر حقیقت او قائمقام د حقیقت سره ېره پر استغراق هم دلالت کوی. او د قائمقام زیادت پر اصل باندی روا نه دی. نو مصدر دلالت پر استغراق کونه هم روا نه ده.

حاشیه نمبر۸:

سوال: الکثیر الشائع" څه ترکیبي کیفیت لری؟

جواب: دغه عبارت بناء پر هغه نسخه ده په کوم کي چې "الکثیر" لفظ وجود لری نه موجوده نسخه په کوم کي چې دغه لفظ وجود نه لری. بهر حال دغه "الشائع في الاستعمال" صفت لپاره د "المتبادر

الي الفهم" دی. نو معني د عبارت دا جوړيږی" الف لام لپاره د جنس کېدنه د لفظ څخه و فهم ته داسي متبادرَ او ښکاره ده کوم چي شائع په اعتبار د استعمال دی.

سوال: دغه صفت لپاره د احتراز او که د حقيقت دی؟

جواب: په دغه صفت سره احتراز د هغه شي څخه راځي کوم چي متبادرَ خو د لفظ څخه وی مگر دده استعمال زيات نه وی لکه د مجازِ متعارف په صورت کي لکه په دې قول کي "لا تاكل من هذه النخلة". او س د نفسِ لفظ څخه د نخلې متبادرَ او ښکاره دغه خبره ده چي زه به دغه درخت نه خورم (او دغه معني حقيقي د لفظ ده) په دغه وجه که چيرې د قسم اخيستونکي مقصد هم د دغه درخت خورنه وی نو دغه نيت يې صحت لری، مگر په باب کي د قسم مراد ونه د درخت د خورلو شاذ او نادرَ وی بلکه مراد مېوه د درخت د خورما وی. لهذا معني حقيقي د مجازِ متعارف په صورت کي متبادرَ د لفظ څخه خو وی مگر کثير الاستعمال دغه حقيقي معني نه وی بلکه نادرَ وی نو په کثير الاستعمال په قيد سره احتراز د مجازِ متعارف په صورت کي د معني حقيقي څخه راغلل.

﴿فائده﴾: يو لفظ په معنيَ حقيقي کي استعمالېږی مگر د دغه سره د دغه لفظ مجازی معني متعارفَ وی نو په دغه صورت کي د امام ابو حنيفه رحمه الله تعالی ابداً په وړاندی پر معني حقيقي باندی عمل کونه اولي ده. مگر د صاحبينُ رحمهما الله د دې په هکله دوه قولَ راغلي دي.[1]: پر يو داسي معني نه عمل کېږی کوم چي حقيقي او دغه معني مجازی دواړو ته شاملَ وی يعني عموم المجاز.[2]: پر مجاز متعارف باندی عمل کونه اولي ده. لهذا که چيرې يو کس قسم واخيستي چي زه به د دغي درخت څخه خورک نه کوم نو دلته د درخت حقيقي معني په خپله درختَ ده يعني زه به دغه درختَ نه خورم. او معني مجازی يې مېوه د دغي درخت ده. او دغه مجازی معني يې متعارفَ ده. لهذا د لفظ څخه حقيقي معني متبادرَ ده مگر دلته د قسم په صورت کي دغه حقيقي معني اخيستل نادرَ ده. لهذا دغه حقيقي معني متبادر مگر نادرَ ده نه کثير الاستعمال. په دغه وجه که چيرې د قسم اخيستونکي نيت د درخت څخه خورک مراد وی نو بيا دغه معني اخيستل کېږی البته که يې نيت هيڅ نه وو نو بيا مجازیَ معني مراد ېږی.

سوال: متعارف څه معني لری؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب:ددغه په هکله دوه قولَ د مشائخُ راغلي دی. ۱: **مشائخ بلخ**: متعارف څخه مراد غالب في التعامل دی يعني حقيقت که څه هم مستعمل دی مګر ددغه حقيقت په مقابل کي مجاز ډير مستعمل او پر ده عمل کونه ترسره کيږی. ۲: **مشائخ د عراق**: متعارف څخه مراد غالب في التفاهم دی يعني څه وخت چي لفظ ويل سي نو ددغه لفظ څخه انتقال د ذهن و مجازی معني ته ترسره کيږی. او د لفظ څخه مجازی معني متبادرَ او ښکاره وی (الحساني)

حاشيه نمبر ۹:

په دې حاشيه کي څو تحقيقه دی.

اول: په تقيد د قرائنو په مرجعه سره د محشي بيان:ددې تحقيق د زدکړي مخکي د يوې فائدې زدکړه مهمَ ده. هغه فائده داده چي په دې عبارت(لا سيما عند خفاء قرائن الاستغراق) کي دوې ډلي دي.

۱): **علامه فنری، و چلپي**:دوی و دې ته تللي دی چي د قرائن الاستغراق څخه قرائن مجوزه مراد دی نه مرجعه. ځکه د شارح ددې قول څخه (انه المتبادر الی الفهم) دوی دا فهمولېده چي د تبادر الی الفهم څخه مراد تبادر الی الفهم من المقام مراد دی(يعني د شارح مقصد دادي چي د مقام څخه متبادره او ښکاره جنس دی).لهذا د فهمولو څخه ورسته دوی وويل:د قرائنو څخه قرائن مجوزه مراد دی. ځکه که چيري مراد مجوزه نه سي بلکې مرجعه سي نو معنی ئې بيا دا جوړيږي: په سبب سره د مقام متبادره و فهم ته جنس دی. عام تر دې د استغراق قرائني موجودی وي او که نه وي.او دغه خبره صحی نه ده .ځکه د استغراق لپاره مقام قرينه مرجعه ده.او څه وخت چي مقام قرينه مرجعه لپاره د استغراق وي نو په دغه وخت کي متبادره د مقام څخه استغراق دی نه جنس.

۲): **وحيد الزمان علامه سيالکوتي**:د قرائنو څخه مرجعه مراد دی نه مجوزه. او د شارح ددې عبارت څخه مراد "انه المتبادر الی الفهم"متبادره د لفظ څخه دی نه د مقام څخه. انتهی ما فيه الفائدة.(کذا قال البشرينی فی شرحه ۵۲) . اوس خلاصه د تحقيق داده چي د علامه عبد الحکيم مقصد په دغه عبارت سره "قرائن مرجعة" رد پر علا فنری کول دی.خلاصه رد داده چي مراد د قرائنو څخه مرجعه دی نه مجوزه. ځکه د شارح مقصد د مخکي څخه منع د استغراق ده . اوس که

چيري د قرائنو څخه مراد مجوزه سي نو بيا د شارح دغه مقصد نه حاصليږي . ځکه څه وخت چې قرائني د استغراق موجودي وي په دغه وخت کې هم حمل پر استغراق باندې نه کيږي . حتي چې بيا ئې شارح منع وکړي. او د شارح مقصد دغه دول حاصليږي چې مراد د قرائنو څخه مرتحه سي. ځکه په وخت کې د موجود والي د قرائنو مرجحو حمل پر استغراق باندې کېدي. نو شارح دغه حمل مخکې تر استغراق منع کړي. فتفكر. (شرح مولوى عبد الرحمن ۵۲)

دوم: بيان د مقصد د شارح په دې عبارت سره (بخلاف ما اذا كانت القرائن): **مقصد د محشي په** دغه عبارت سره بيان د "لا سيما" دی. او بيان ئې دا دول دی چې مقصد د شارح د "لاسيما" څخه دا وو چې حمل پر استغراق باندې نه کيږي که څه هم قرائني د استغراق موجودي وي. ځکه د لفظ څخه متبادره جنس دي. د استغراق و تبادر او د مقام و تبادر ته اعتبار نسته. ځکه جنس حقيقت او استغراق مجاز دی. (عبد الغفور ۴،ج۴). اود مرجح (ترجيح ورکونکي شي) د موجود والي نه پرته مجاز ته تګ نه کيږي. او دغه د محشي مقصد ددې عبارت "بخلاف اذا ما كانت" څخه دی. فتفكر فكرا عميقا حتى وصلت الى الصواب. (كذا قال عبد الرحمن فى شرحه ۵۲/ج۱)

دريم: سوال: زه دلته د جنس شائعوالي نه منم. بلکې دلته استغراق شايع دی؟

جواب: زمونږ دلته د شيوع څخه مقصد شيوع د لفظ څخه دی نه د مقام څخه . او دلته متبادر والي د جنس قوي دی. ځکه د جنس فهمېدل د لفظ څخه وی. او د استغراق فهمېدل ضعيفه دی. ځکه د استغراق فهمېدل د قرينې څخه وي. او هغه قرينه مقام ده. خلاصه دا سوه چې د کوم شي فهمونه د لفظ څخه وي د هغه شي قوي والي تر هغه شي وي چې د هغه فهمونه د قرينې څخه وي.

سوال: خلاصه د سوال داده چې مونږ د استغراق د قرينې خفي والي نه منو. ځکه دلته يو داسي معني موجوده نه ده چې هغه اولى تر استغراق (د حمد سره) وي. لهذا قرينه د استغراق داسي ده لکه د غره په سر باندې اور. (حاشيه سيد ۵)

جواب: خلاصه د جواب داده هغه اختصاص چې په توسط د جنس تر لاسه سي هغه لزوم د هغه اختصاص سره لري کوم چې په توسط د استغراق تر لاسه سي. لهذا کوم اختصاص چې استغراق فائده کوي هغه اختصاص جنس هم فائده کوي. دلته نه اور او نه غرسته فضلا تر دې چې اور دي د غره په سر وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

څلورم: د مقام خطابي تعريف: ۱): هر هغه مقام چې په هغه کې قضايا خطابيه کفايت کوي. او دغه قضايا ظن لره فائده کونکي وي. يا هر هغه مقام چې په هغه کې مجرد ظن کفايت کوي.

۲): هر هغه مقام چې په هغه کې ظن طلبول کيږي.

د مقام استدلالي تعريف: ۱): هر هغه مقام چې په هغه کې هغه قضايا وي چې مفيد يقين لره وي کفايت کوي. (عبد الغفور شرح ملا جامي ۲۱)، (مختصر المعاني ۱۶۹)

۲): هر هغه مقام چې په هغه کې هغه يقين طلبيږي کوم چې په برهان سره وجود ته راځي. (تلخيص مفيد ۸۲)

حاشيه نمبر ۱۰:

لام پر تعريف او اسم پر خپل مسمي باندې دلالت کوي نو د الف لام مدخول که چيرې ماهيت په حيث د ماهيت وو (لکه په جنس کې لکه دغه چې د مصدر په صورت کې وي) نو دغه الف لام بيا د ماهيت مطلق تعين فائده کوي. او که چيرې ماهيت په حيث د وحدت وي (يعني فرد منتشر يعني يو فرد د افرادو څخه يې مدلول وي مګر هغه متعين نه وي لکه په اسم جنس کې) نو بيا تعين د وحدت فائده کوي. نوخلاصه داسوه چې الف لام تعين د هغه شي کوي کوم چې معني او مدلول د هغه چا وي په کوم چې دي داخل سوی وي. او معني دده د مدخول کله ماهيت من حيث هي هي وي او کله بيا ماهيت من حيث وحدت وي نه بل څه نودلته (الحمد لله) معني د مدخول استغراق او هر هر فرد نه دي، نودغه مرادول او خيستل خپلول وهم دي ځکه دغه د حقيقت پوربښول او د مجاز خپلول دي، او دغه بيله قرينې نه سي کېدلای او دلته قرينه پر استغراق نسته نو په دغه وجه دلته مراد استغراق نه بلکه جنس دي.

سوال: که چيرې دغه خبره ثابت سي چې الف لام تعريف فائده کوي نو بيا الف لام لپاره د عهدي خارجي به تعين د يو فرد فائده نه کړي. ځکه دغه فائده کونه په مثل د استغراق ده کوم چې په الف لام سره فائده کيږي. او حال داچې دغه خبره تسليم سوېده چې الف لام لپاره د عهدي خارجي تعيين فائده کوي نو بيا الف لام استغراق ولې فائده کولای نه سي؟

جواب: الف لام لپاره د عهد خارجي او الف لام لپاره د استغراق تر مينځ فرق وجود لري هغه دادول چې عهد خارجي معني حقيقي د الف لام ده دادول چې ده مخکې وفرمايل "ان كان مسماه

الماهية من حيث الوحدة" لهذا ددغه وحدت د قيد څخه دا معلوميږي چې عهدي خارجي معني حقيقي لپاره د الف لام ده. پاته استغراق دغه معني مجازي لپاره د الف لام ده. نو دعهدِ خارجي په صورت کې قرينه نه احتياج نه وي او د استغراق په صورت کې و قرينه ته ضرورت وي.

حاشيه نمبر ۱۱:

سوال: "على" په دې قول کې د شارح "على ما انعم" د څه لپاره دی؟

جواب: دغه تعليله دی او ورسته تر ده راغلې "ما" مصدريه ده. او هغه شي چې د هغه د علت د بيان لپاره "على ما انعم" روا ړل سوی دی هغه انشاء دحمد ده. نو اصل عبارت دا ډول دی "انشأت الحمد لأجل انعامه" يعني زه انشاء د حمد په وجه سره دده دورکړي کوم.

حاشيه نمبر ۱۲:

دلته محشي دا خبره ښوونه غواړي چې که چيرې "ما" په "ما انعم" کې موصوله سي نو صله به يې جمله سي. او څه وخت چې صله جمله وي نو په جمله کې د يو داسي شي وجود ضروري وي کوم چې عائد او راجع و طرف ته د موصول وي. نو اوس دغه عائد به په صله کې په صورت کې دمجرور وي. او دغه مجرور (سره د جار) په صله کې مقدرَ کېدای سي او که نه په دغه کې اختلاف دی.

شارح: دغه مقدرَ داسي نو په دغه صورت کې تقدير د عبارت به دا ډول وي "على الذى انعم به". او دغه ډول وينا صحت نه لري ځکه دغه معطوف عليه لپاره ددې قول "علم من البيان ما لم تعلم" دی، او هر هغه شي چې په معطوف عليه کې مقدر وي هغه به په معطوف کې هم مقدر وي او دلته دغه جار او مجرور په معطوف کې مقدرونه محالَ ده لکه دغه چې مخکې په تشريح کې بيان سوه. نو دغه جار او مجرور په معطوف کې مقدرونه محالَ ده د دغه محال والي په وجه د "ما" موصوله کېدای نه سي.

امام مرزوقي: دی فرمايي چې په صله کې عائد په صورت کې د جار او مجرور مقدرَ کېدای نه سي نو په دغه وجه دغه "ما" موصوله کېدای نه سي ځکه که چيرې سي نو دغه به په صورت کې د مجرور وي او په صورت کې د مجرور دې عائد مقدرونه روا نه بولي نو "ما" موصوله هم کېدای نه سي. لهذا دلته د موصوله د نفي علت دادی چې د عائد مقدرونه په صله کې محالَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ده. سره بیا د شارح و دې قول ته من عذره الخ ضرورت نشته ځکه د دغه ځخه دا معلومیږی چې په معطوف علیه کې خو دغه عائد د مجرور په صورت کې مخ ډای سي مګر دغه نه صحت د ما موصولې یې په وجه د معطوف دی اوحال داچې دلته په مو ده صورت کې په خپله په معطوف علیه کې هم عائد مقدر پدای نه سي.

حاشیه نمبر ۱۳:

په دغه حاشیه کې محشي پر شارح اعتراض کوي چې مورد ا خبره نه منو چې په معطوف کې د جار سره د مجرور مقدر ونه متعذر ده ځکه دغه متعذر نه بلکه ممکن ده دا دول چې په معطوف علیه کې " علي ما انعم به" دا دول وویل سي او په معطوف کې هم دغه "به" مقدر سي نو تقدیر د عبارت به دا دول جوړ سي "علی الذی انعم به و علمني به من البیان ما لم یعلم" یعني په وجه سره د هغه شي چې ده یې انعام کړی دی او په وجه سره د هغه عقل چې پر هغه باندی ذد کړه موقوف ده مورد ته یې ښوونه د هغه شي تر سره کړه کوم چې مورد ته معلوم نه وو. او دغه خبره صحی ده. څرنګه چې په معطوف کې د "به" د مقدرونې د صحت وجه موجود ده که څه هم په دغه کې تکلف وجود لری، په دغه وجه شارح نه دا دول وینا په کار وه "چې دغه (به) په معطوف کې مقدرونه یې بناء بر تکلف ده لهذا د تکلف د وجې دغه "ما" موصوله کېدای نه سي".

حاشیه نمبر ۱۴:

سوال: "الذی هو من اوصاف الخ دغه څه ترکیبي حیثیت لری او د څه لپاره را وړل سوی دی؟

جواب: دغه صفت لپاره د "انعام" دی او وجه د امکنیت د ښوولو و طرف ته اشاره ده، خلاصه د کلام د محشي داده: په اصل کې ستاینه د یو ذات د هغه پر اوصافو ی. او د الله جل جلاله د اوصاف څخه یو انعام او ورکړه و مخلوق ته ده. نو ستاینه پر انعام ببله کوم واسطه وی. او که چیری ستاینه پر نعمت وی نو دغه نعمت بالذات صفت الهي نه دی بلکه دغه نعمت پر وصف الهي چې انعام دی باندی یو اثر مرتب دی دا دول چې منعم ورکړه وکړی نو پر هغه ورکړه نعمت مرتب سي. او وصف الهي انعام دی او پر انعام بالذات ستاینه تر سره کیږی، او پر نعمت په واسطه سره د انعام ستاینه تر سره کیږی. او کوم ستاینه چې پر وصف د منعم تر سره کیږی هغه پر زړه ډیر اثر تردې کوی چې دغه ستاینه پر نعمت تر سره سي. لهذا د "ما" موصوله

په صورت کې ستاینه پر نعمت وی او د "ما" مصدریه په صورت کې پر انعام وی نو په دغه وجه "ما" مصدریه ګرزول تر "ما" موصوله ګرزولو غوره دی.

حاشیه نمبر (۱۵):

سوال: عبارت ولې احاطه پر الهي نعمتونو باندې کولای نه سي؟

جواب: د الله جل جلاله د نعمتونو د ذکر کولو څلور طریقې دي.

۱: بعض تفصیلي ذکر سي په دغه صورت کې کوم عبارت چې د هغه په توسط بیان د دغه بعضو نعمتونو سوی وی هغه عبارت قاصر د احاطه څخه پرتولو نعمتونو دي. ځکه د بعضو نعمتونو په ذکر کولو سره د پرتولو نعمتونو ذکر کونه تر سره کېدای نه سي.

او دغه ډول دغه حمد د وجې د نعمتونو ذکر کیږی (لکه څه دول چې په علی ما انعم کې علی تعلیله دی). اوس د څو نعمتونو د مفصل ذکر کولو په صورت کې کېدای سي هغه نعمت پاته سي چې د هغه په وجه حمد ذکر کیږی. لهذا د دغه بعضو مفصل ذکر کولو فائده و نه لرل.

۲: پرتېل نعمتونه تفصیلاً ذکر سي دغه هم کېدای نه سي ځکه دغه د انسان په طاقت کې نه دي لکه الله جل جلاله په خپله فرمایي "ان تعدوا نعمة الله فلا تحصوها". ځکه شمېر نه هلته ممکن ده چې انسان ته هغه معلوم وی او انسان ته د الله د نعمتونو شمېر معلوم نه دی نو بیا به یې بیان څرنګه تر سره کړي.

۳: نعمتونه د الله جل جلاله اجمالاً پرتله ذکر سي د دې ډول "الحمد لله علی جمیع نعمه".

۴: بعض د الهي نعمتونه څخه اجمالاً ذکر سي د دې ډول وویل سي "الحمد لله علی بعض نعمه". په دغه دواړه صورتونو کې احاطه ناقصه ده ځکه دغه احاطه اجمالي ده. او په اجمال کې نقصان تر تفصیل وجود لري. لهذا په دغه صورت کې د شارح خبرې صحت پیدا کړي چې عبارت د ذکر کولو څخه د الهي نعمتونو قاصر دی.

سوال: د اختصاص تو هم څرنګه رائي؟

جواب: په دغه لورو څلورو صورتونو کې محشي اولني دوه یې یو ګډلي دي او هغه دوه دادي. ۱: پرتله تفصیلاً ذکر کول. ۲: بعض تفصیلاً ذکر کول. ځکه دوی دواړه په دې کې سره شریک دي چې د پرتلو د ذکر کولو په صورت کې هم بعض ذکر کیږی. ځکه که یو انسان پرتله

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر کونه و غواړی او ذکر یې کړي نو دده ذکر سوي نعمتونه به په حقیقت کې د ټولو نعمتونه څخه بعض وي. لهذا په دغه صورت کې به بعض ذکر سي او دغه ډول که د سره بعض ذکر کونه و غواړی نو په دغه صورت کې به هم ددغه بعضو ذکر کونه تر سره سي. اوس په دغه درو صورتونو کې د توهم د راتګ صورت دادی چې کوم نعمتونه ذکر سوه نو د هغه د ذکر کېدنې په صورت کې به په وهم کې دا خبره راسي چې حمد خاص تر دغه نعمتونو دي کوم چې ذکر سوی دي او هغه نعمتونه کوم چې ذکر سوی نه دي د هغه په مقابل کې حمد نه ترسره کیږی. او حال دا چې دغه توهم باطل دی.

سوال: که چیرې ټوله نعمتونه اجمالاً ذکر سي نو په دغه صورت کې توهم د تخصیص څرنګه راځي؟

جواب: زما په وړاندی دا ډول راځي (والله اعلم بحقیقة الحال) چې ددغه وینا صورت به دا ډول وی الحمد لله علی جمیع انعامه "تو دلته په وهم کې دا خبره راځي چې حمد وینا خاص تر "جمیع انعامه" د وینا ده. که ددې څخه سېوا بل ډول وینا تر سره سي نو بیا دغه حمد د هغه په مقابل کې تر سره کېدای نه سي او دغه ډول د "بعض نعمه" د وینا په صورت کې. او حال دا چې حمد "جمیع النعم" سره هیڅ یو تخصیص نه لری.

حاشیه نمبر ۱۶:

په دغه حاشیه سره محشي د سوال بیان کوي، خلاصه د سوال داده: که چیرې خبره دغه ډول سي چې د ذکر کولو په صورت کې د تخصیص توهم راځي نو بیا مصنف ولې بعض د نعمتونو څخه ذکر کړه، د مثال په توګه نعمت د بیان، نعمت د شرعي قوانینو، نعمت د نبي را هستولو او دغه ډول. لهذا دغه ذکر کونه یې د څه مقصد لپاره ده؟

صفحه نمبر ۱۰:

عبارت

اليه في بقاء النوع بما انه ان الانسان مدني بالطبع اي محتاج في تعيشه الى التمدن

وهو اجتماع عدد معين نوعه يتعاونون في تحصيل الغذاء واللباس

والمسكن وغيرها وهذا موقوف على ان يعين كل واحد منهما حبه ما في عهده ولا

لا تفي المعدن مات المعقولات المصورة وذلك بالكتابة مشقة فانهم استقصا علينا بعلم

البيان وهو العلم الذي يقصد به على الصور ليعرف هذا الاجتماع انما ينتظم اذا كان بينهم

توصل به الى فهم الجميع عليه لان كل واحد لشتى ما يحتاج اليه بعضهم على من يراه فوقع الحوار

على التعبير فيختلف الامر الاجتماع والمعاملة والعدل لا يتناول الجزئيات التي لا يحصل الا بالحس

من قولهم اين كليزه وهو علم الشرائع ولا بد لها من واضع يقرر لها علما بينا غير منتشر الخطأ

وهو الشارع ثم الشارع لا بد ان يستحق الطاعة وهو انما يتقرر بايات تدل على

ان الله بعثه وعصمه بالمعجزات وهو علم الكلام اصل جميع ادلتنا على نبينا عليه السلام القرآن الفارق

بين الحق والباطل فقوله وعلم عطف الخاص على العام عناية لزوم اعادة لا استبدال التوسع

على حالة فهم البيان كما اشير اليه فقوله فانتظم على الشرائع الى البيان من البيان بيان لقوله

ما لم يقم قدم عليه رحمه الله بعض الصحابة والصوفية على سيدنا محمد خير من يطلق الصلاة عليه شيء الشارع

المقنن القوانين الكلية الذي هو علم الشرائع والاصول الى قوله اشارة الى القواعد التي

لا بد للحكمة وهو علم الشرائع على ما فسر به الكشاف لفظا وتنبيه على ان غيره بمعزل عن نفسه

وترك القياس لان هذا العلم لا يصل الا بالله وفصل الخطاب اشارة الى النهج الاقوم الاتم

وقد اكرام البيهقي فصل وعين فصل الخطاب من بين الكلام الطيب الذي يوزن

ترجمه

اومصنف منعم به ذکر ددي وجي څخه نه کړه چې عبارت ددوی د ذکر کولو څخه عاجزه دی، او دغه دول د ستاینې سره دبعضو نعمتونو د ذکر کولو په صورت کې د تخصیص د راتلو د توهم څخه د خان ژغورنې په خاطر یې ذکر نه کړه. او دغه دول چې په نه ذکر کولو په صورت کې اور بدونکي و هر ممکن صورت ته تګ و کړي. ورسته تر دغه مصنف بیا یوځه منعم به ذکر کړه په دغه سره یې اشاره و هغه شیانو ته و کړه کومو ته چې انسان په خپل ژوند ټبرولو کې محتاج وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې خبرې بيان دا د ی چې انسان په خپل ژوند کې و اجتماعيت ته محتاج دی ددې لپاره چې د اجتماعيت په صورت کې دوی يود بل سره کومک وکړی او دوی د خورک اوجامې په تر لاسه کولو کې سره ملګری سي. او دغه په دې باندی موقوفه ده چې ددوی ځخه هر يوهغه څه و پيژني کوم چې دهغه بل په زړه کی دي. اوپه اشاره سره نيستي شيان او عقلي شيان نه سي بيانېدلای. اوپه ليک سره ددغو شيانو په بيانونه کې مشقت اوسختي وجود لری. نو الله جل جلاله په انسانانو باندی نعمت د بيان وکړي. او بيان هغه خبرې دی په کوم سره چې د زړه غوټه خلاصيږی. او ور سته تردې دغه اجتماعيت هغه وخت په ځای پاتيږی څه وخت چې ددوی په مينځ کې عدالت او انصاف معامله وجودلری په کوم باندی ټوله سره يوخا ی کېدای سي. ځکه هر يو د خپل د ضرورت د شي طلب کوی. اوخښم په هغه چاکوی کوم چې هغه مانع په حصول کې ددغه مقصد واقع کيږی. نو په دغه صورت کې په بل ظلم کېدنه راځي. اوپه دغه سره اجتماعيت اوددوی تر مينځ د معاملاتو خرابوالي راځي. او عدل وجزئي شيانو ته کوم چې محصور نه دي شاملېدلای نه سي. نو په دغه صورت کې و ګلي قوانينو ته ضرورت پاته سو. نو په دغه صورت کې د يوداسې ذات ځخه چاره نسته کوم چې داسې اصول وضع کړي کوم چې د خطاء ځخه ژغورل سوی وي. او هغه شارع عليه السلام دي. او په دغه وخت کې بيا چاره ددې ځخه نسته چې شارع به دده په اتباع کېدنې سره ممتاز وي. او دغه امتياز په هغه قرآنوسره راځي کوم چې دلالت په دې کوي چې شريعت د عليه السلام شريعت الهي دي او هغه قرانني معجزې دي. اوتر ټولو اوچت معجزه قرآن ده کوم چې د حق اود باطل تر مينځ جلاکونکي دي. ﴿نبودنه يې کړ بده﴾ براعت استهلال ولاس ته د راوړولولپاره دغه عطف د خاص په عام باندی يې خپل کړي، اودغه ډول د بيان د عظيم نعمت کېدنې باندی د خبر تيا ور کولو په خاطر لکه دغه ته چې په دې قول الهي کې اشاره سوېده ده(انسان يې پيدا کړي اوهغه ته يې نبودنه د بيان وکړه) ﴿ چې هغه بيان دی﴾ دغه بيان ددې قول لپاره دی ﴿هغه څه چې مور نه پيژندل﴾ دغه يې د سجعې د برابری په خاطر مخکې کړي. ﴿اورحمت الهي دي زمور پر سردار محمد ﷺ باندی دي وي کوم چې غوره ترينه د هغو ځخه دي کومو چې بيانونه د صواب او د نبو کارونو اود افعالو کړ بده﴾ دغه د عليه السلام لپاره دعاء ده کوم چې شرعي قوانين وضعه کړی دي. ﴿ او بهترين د هغو ځخه دي کومو ته چې حکمت ور کول سوی دي﴾ په دغه کې و قوانينو ته اشاره ده ،ځکه حکمت د صاحب الکشاف د قول موافق دعلم الشرائع ځخه عبارت دي. او په لفظ کې د "اوتي" و دې ته اشاره ده چې دغه د الله ﷻ د طرفه ځخه

دی نه د خپل طرف څخه. اوفاعل د فعل یې په دې وجه سره ذکر نه کړي چې ددغه فعل د فاعل کېدني صلاحیت پرته د الله بل څوک نه لري. ﴿او خطاب مفصل﴾ په دغه کې و معجزې ته اشاره ده. خکه فصل جلاکولو ته ویل کیږی، و واضح کلام ته فصل ویل کیږی په معنی سره د مفصول (جلا سوی اوواضح کلام). لهذا فصل خطاب هغه ښکاره د هغه کلام څخه وی کوم چې پاک کړز ېدلې وی اوپه هغه سره مخاطب پوهیږي. او په ده باندی دغه مقصد پټ نه وی. او یا په معنی سره د اسم فاعل دی یعني د خطاب څخه هغه جلاکونکي تر مینځ د حق او باطل او د ښه او د بدو. مصنف ورسته تر دې و هغه چا ته دعاء کوي کومو چې د شارع علیه السلام کومک د احکامو په نافذولو او دغه ډول و ځلکو ته په رسولو کې کړ بده.

تشریح

سوال: د تعلیم اود زدکړی نعمت ورسته تر انعام دغه ذکر کونه یې مستدرکه ده ځکه نعمت په انعام کې داخل دی دا ډول چې نعمت وی نو انعام به رائي. او انعام ښه نعمته نه سي راتلا ی. لهذا څه وخت چې مصنف انعام ووایي نو دغه څخه نعمت په خپله ښکاره سو نو بیا دوم ځلي راوړل مستدرک وی؟

جواب: دغه استدراک په هغه صورت کې وی چیرې چې اضافه کونه د دوم ځلي لپاره ښه کومې ګټې وی او دلته دغه ډول نه ده، ځکه دلته یې ذکرکونه د براعت استهلال لپاره سوېده. او دغه ډول په دې خبرې آګاهي ورکونه ده چې بیان ډیر یو اوچته مرتبه لرونکي الهي نعمت دی.

سوال: براعت استهلال څه ته ویل کیږی؟

جواب: براعت الاستهلال یو مرکب لفظ د براعت او استهلال څخه دی. براعت مصدر دی ویل کیږی "برع الرجل اذا فاق علی اصحابه". څه وخت چې به یو کس په خپولو ملګرو سره اوچته سونو دغه وینا به بیا کېده. او استهلال هغه آواز دی چې یو کس د اولي ورځې د میاشتې د لیدولو په مهال ووهي. او یا هغه آواز دی چې کوشني یې تر زیږېدني ورسته د اول ځلي لپاره ووهي. او په اصطلاح کې په مقدمه کې داسي الفاظو راوړولو ته ویل کیږی کوم چې آګاهي د راتلونکي مقصد په اړه ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: د "من" راوړل په "من البيان" کې صحت نه لري، ځکه دغه من به یا بیانیه، یا تبعیضیه اویا به تعلیله وی او دلته یو لاهم صحی نه دی. ځکه د بیاني په صورت کې مخکې هغه شي غواړی د کوم چې بیان په "من" سره کیږی او دلته هغه شي نسته. او تبعیضي هم صحت نه لري ځکه تبعیضي هلته رائي چې مخکې دده کل وی، او تعلیلي مخکې معلول غواړی او دلته هیڅ لاهم نسته؟

جواب: دغه من بیاني دی او مبین یې ورسته ذکر سویدی.

سوال: مبین مخکې ذکر کیږی مګر مصنف د څه وجې ورسته ذکر کړی دي؟

جواب: "علم" او "ما لم تعلم" تر مینځ د سجعې د حصول په خاطر ورسته راوړنه تر سره سوېده، او دغه د سجعې تر لاسه کول یو ښه کار دی.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

سوال: "يتعاونون" څه تر کیبي حیثیت لري؟

جواب: دغه استیناف بیاني دی او په اصل کې جواب د یو سوال مقدر څخه دی، تقریر د سوال دادی چې انسانان به په دغه اجتماعي حالت کې څه تر سره کوي او دوی و دغه اجتماعي حالت ته ولې محتاج دی؟

جواب: دوی به په دغه یوځای والي کې یو د بلَ سره تعاون تر سره کوي. لهذا د تعاون کولو لپاره دوی سره یو ځای کیږی.

سوال: دغه "يتعاونون" حال جوړېدل صحت نه لري؟

جواب: هو، دغه حال جوړېدل یې صحت نه لري. ځکه که چیری دغه حال سي نو په ذوالحال کې دري احتمالَ وجود لري.

۱: ضمیر د "محتاج" چې راجع و. انسان ته دی. اوس که چیری حال د دغه ضمیر څخه سي نو تقدیر د عبارت داجوړیږی "محتاج حال كونه يتعاونون الخ" یعني انسان په داسي حال کې چې یو د بلَ کومک سره کوي احتیاج لري. او دغه خبره صحت نه لري، ځکه څه وخت چې دوی کومک سره

کوي نو بيا احتياج د مينځ ځي. ځکه احتياج هلته وی چي تعاون او کومک د يو د بلَ سره نه کوی.

۲: ذوالحال هغه ضمير دی کوم چي متصل د اجتماع سره دی يعني "اجتماعه" نو په دغه صورت کي به معني دا جورَ سي "اجتماع الانسان حال کونه يتعاونون" يعني يو ځای والي د انسان په داسي حال کي چي دوی يو د بلَ سره تعاون او کومک کوی. او دغه خبره صحت نه لری ځکه مقصد دادی چي دغه انسان د نورو سره کومک کوی. او دا مقصد نه دی چي دغه انسان يو وازی د نورو سره کومک کوي. نو دلته دوې معناګاني دي. ۱: يو انسان د نورو سره کومک کوی. ۲: انسانان په خپلو کي کومک سره کوي. نو مقصد دوم معني ده نه اولَ، او د حال په صورت کي اولَ معني ترلاسه کيږی.

۳: ذوالحال "بني نوع" (په دې قول کي "بني نوعه") جورِ سي نو دغه هم صحت نه لری ځکه معني د عبارت به داجورَ سي "بني نوع حال کونه يتعاونون" يعني بني نوع د انسان په داسي حال کي چي دوی يو د بلَ سره کومک کوی. نودغه خبره دمقصودَ خلاف ده. لهذا دلته دوه شيان دي. ۱: بني نوع "انسانان" دبل انسان سره کومک کوی. ۲: بني نوع "انسانان" په خپلو کي کومک سره کوی. او ذلته مقصود اولَ خبره ده چي بني نوع "انسانان" ددغه بل انسان سره کومک کوی نه داخبره چي دغه بني نوع "انسانان" په خپلو کي کومک سره کوی. لهذا په دغه درو سرو صورتونو کي مقصودی معني نه تر لاسه کيږی په دغه وجه دغه "يتعاونون" حال جورِ بدلای نه سي.

حاشيه نمبر ۲:

سوال: په کتابت کي ولي مشقت وجود لری؟

جواب: ځکه په کتابت کي و غير ضروری آلاتُ ته ضرورت وی د مثال په توګه کاغذ. قلم او سياهي، کوم چي د انسان سره ضروری نه دی. بلکه ډير کسان بيله دې ژوند تيروی. مګر په بيان او خبرو کي کومُ آلاتو ته ضرورت نه وي بلکه محض و ساه (تنفس) ته ضرورت وی کوم چي د ژوند سره لازم دی. او يو انسان بيله دغه ژوند تيرَ ولای سي. دغه ډول په ليکولو کي ضرر هم

Maktaba Tul Ishaat.com

ستـ هغه داډول چې یوه د راز خبره وی او هغه و لیکل سي او بیا هغه د بل چا و لاس تـه لاړه سي نو په دغه کې ضرر دی په خلاف د خبرو خکه هغه د خبرتیا ورسته وجود بیا نه لری.

سوال: د شارح رحمه الله د کلام څخه دا معلومیږی چې کتابت او لیکنه او دغه ډول اشاره که چیری وضعَ د معناګانو لپاره سي نو بیا و الفاظ ته ضرورت نه پاتیږی او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده خکه په دغه صورت کې بیا هم و الفاظ ته ضرورت وجود لری. خکه د کتابت او اشاره بنوونه او ذکرِه راځي او دغه دواړه بیله الفاظ تر سره کیدای نه سي. لهذا د اشاره او کتابت څخه د مقصد فهونه بیله الفاظ راتلای نه سي؟

جواب: خبره د شارح صحت لری پاته ستا اعتراض جواب دادی چې فهمونه محض پر الفاظ موقوف نه ده بلکه پر تکرار د شي سره د قرائنُ باندی موقوف ده عام تردې دغه که الفاظ او که پرته د دوی وي، لهذا شي چې مکرر سي او قرینه وجود هم لری نو په دغه سره فهم د مقصد تر لاسه کیږی د مثال په توګه یو کس و خوني او د بیت و د تنه ته اشاره وکړی او هلته یو کتاب پروت وی پرته د هغه بل څه نه وی نو د دغه څخه دا معلومیږی چې دلته مراد د اشاره کونکي دغه کتاب راوړنه ده. لهذا لکه څرنګه د الفاظ په توسط فهمونه د مقصد په تکرار سره د الفاظ سره د قرائنُ راتلای سي داډول چې زید وهل کوی نو ته و هغه چا ته ووایې چې هغه عربي نه پیژني او زید پیژني او هغه ویني هم " زید بضرب" لهذا دغه لفظ مکرر سي نو د دغه څخه سامع په قرینه سره د مقام مقصد و فهموی. دغه ډول په تکرار سره د اشاره او کتابت سره د قرینه مقصد فهمول کیږي.

حاشیه نمبر۳:

سوال: د منطق څخه مراد څوک دی؟

جواب: د منطق څخه ظاهری خبری مراد دي کوم چې واضح او جلا او د دوی تر مینځ التباس او ګډوډی نه وی لکه د مرغانو په آوازونو کې ګډوډی وی نو انسان د دوی په آوازونو سره نه پوهیږی. او دغه خبری بنکاره کونکي د هغه شي وی کوم چې د انسان په زړه کې وی. او په دغه خبرو سره د زړه شي په دې سبب معلومیږی چې دغه خبری وضعَ سوی د معانګانو لپاره دي نو د دغه الفاظ په دغه مقصود باندی د دلالت په وجه د زړه مقصد معلومیږی بیا عام تردې دغه واضع د الفاظ لپاره د مقاصدُ او معناګانو الله جل جلاله وي (لکه بعض علما، چې په دغه

سره قول کوي) او که واضع د دغه لغاتُ انسان او اهل اللغت وي (لکه بعض علما، فرمايي چي واضع د الفاظ انسان دی).

حاشیه نمبر ۴:

سوال: "والعدل" دغه په عبارت کي څه حیثیت لري؟

جواب: دغه جمله ابتدائیه (جمله ابتدائیه هر هغه جمله ده په کوم سره چي ابتداء د کلام سوی وی) ګواکي دلته دا دول وویل سوه چي څه خت د انسانانو په مینځ کي ظلم او زیاتي تر سره کیږی نو دغه مهال و عدل ته ضرورت سته، لهذا په هر هر کار کي و عدل ته ضرورت سته. او کارونه غیر متناهي او په شمیر کي راتلونکي نه دی په دغه وجه و کلي قانون ته ضرورت وجود لري.

سوال: دغه عطف پر "المعاملة" کېدای نه سي؟

جواب: عطف کېدای نه سي ددې دوې وجې دي.

۱: ځکه که چیرې دغه عطف سي نو بیا معطوف او معطوف علیه مبتدأ او "یتناول" به خبر سي (معني به داجوړ سي چي معامله او عدل و غیر محصورو جزئیاتُ ته شاملُ ګرزېدلای نه سي) په دغه صورت کي د ضمیر او د مرجع تر مینځ موافقت وجود نه لري ځکه په دغه صورت کي په یتناول کي مستتر ضمیر راجع و عدل او معامله ته دی، نو مرجع دوه (معامله، عدل) او ضمیر د مفرد دی کوم چي صحت نه لري، لهذا "عدل یتناول" جمله ابتدائیه ده.

۲: ځکه که چیرې عطف سي نو بیا به معني داسي چي معامله او عدل و غیر متناهي جزئیاتُ ته شاملېدای نه سي لهذا وقانون کلي ته دوی دواړه احتیاج لري. په دغه صورت کي به معامله هم و کلي قانون ته مجتاج و ګرزی او حال دا چي معامله و قانون ته محتاجَ نه ده ځکه معامله و دې ته ویل کیږی "د خپل ضرورت شي د بل څخه اخیستل او د هغه په بدل کي خپل هغه شي ورکول چي تر دغه اخیستونکي زیات سوی وی". لهذا دغه څه قانون ته احتیاج نه لري. پاته عدل دغه وقانون ته احتیاج لري ځکه عدل په معامله کي برابری ساتولو ته ویل کیږی. لهذا په ورکړی درکړي کي برابری ساتولو کي قانون ته ضرورت وی چي برابر څرنګه رائي او قانون یې څه دی. خلاصه دا سوه چي عدل و قانون او معامله و قانون ته ضرورت نه لري. او که

Maktaba Tul Ishaat.com

چيرى "عدل" عطف پر معامله سي نو بيا به معامله هم و قانون ته محتاج و گرزى كوم چې صحت نه لرى. لهذا دغه عطف كونه بناء بر وهم ده.

الجملة الابتدائية وهي الواقعة في ابتداء الكلام اسميةً كانت أو فعلية، اسميةً كانت أو فعلية، هنا تسمى: استئنافية، وأيهما أعمّ الابتدائية أعمّ، كل استئنافية ابتدائية ولا عكس، لمَ أعمّ؟ لأنها مفتتحة بالمبتدأ ولو كان لها محل من الإعراب. زيدٌ أبوه قائمٌ، أبوه قائمٌ هذه ابتدائية ولا محل لها من الإعراب، وزيدٌ أبوه قائمٌ هذه جملة ابتدائية، ومستأنفة، وأبوه قائمٌ جملة ابتدائية لا مستأنفة، لذلك قال: في الابْتداء سمّها اسْتِئَافيةً ...وقلنا الاستئافية على نوعين عند النحاة، أو الجملة الاستئنافية نوعان: المفتح بها النطق، والمنقطعة عن ما قبلها، المنقطعة عن ما قبلها، هذا الاستئناف الذي يبحث عنه النحاة. * مثال للمنقطعة عن ما قبلها {إِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيعاً} [يونس: 65] هذه ليست مقولة خاص، وإنما هي جملةٌ مستأنفة استئنافاً نحويّاً يعني: منقطعة عن ما قبلها. * مثال للمفتح بها، نعم. -فواتح السور- مثل {إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ} [الكوثر: 1] ثم قال: وبَعْدَ حتّى وفي الابْتِدَائِيَّةْ لمَ نص على بعد وحتى؟ لم نص؟ في خلاف، لأن الجملة الواقعة بعد حتى بعضهم يرى أنها ليست استئنافية يعني: لا تقع استئنافية البتة، والجمهور على أن حتى لها ثلاثة معانٍ، ثلاثة معان: الأول: جار. الثاني: عاطفة. والثالث: ابتدائية. وهذه هيَ التي محل نزاع بين الجمهور، والصحيح أنها تكون ابتدائية، تكون ابتدائية، يعني: يقع بعدها الجملة الاسمية مكونة من مبتدأ وخبر. (شرح نظم قواعد الإعراب ١٠/ح١)

حاشيه نمبر٥:

د دغه دوې معناګاني كېداى سي .١: لا بد: چاره نسته، جلا والي نسته. خامخواه. په دغه صورت كې دغه "بد" مأخوذ د عربو ددې قول څخه "بُدَّه" فلانكي دغه شي جلا كړي. او دغه بد ثلاثي مجرد ، تفعيل او تفعل دريې سره دِول استعماليږى. او تفعل يې مطاوع د تفعيل ده.

لا بُدَّ انْ / لا بُدَّ انْ / لا بُدَّ وانْ : حتمًا أو من الضروريّ ، لا بُدَّ منه : لا مهربَ ولا مفرَّ منه ، لا محالة ، مِنْ كلّ بُدّ : لا محالة ، لا مناص ولا محيد . على اي وجه كان شَيْءٌ لا بُدَّ مِنْهُ : لاَ مَناصَ مِنْهُ ، لاَ مَفَرَّ ، لاَ مَهْرَبَ إذا كانَ لاَ بُدَّ.

بَدَّدَه تَبْديداً(فصل) : فَرَّقه فتَبَدَّدَ : تَفَرَّقَ . يُقال : شَمْلٌ مُبَدَّد . وتَبَدَّدَ القومُ : تَفَرَّقُوا . وبَدَّه يَبُدُّه بَدّاً : فَرَّقه . وبَدَّدَ زَيْدٌ : أعيَا أو نَصِبَ وهو قاعدٌ لا يَرْفُد نقله الصاغانيّ . وجَاءَتِ الخَيْلُ بَدَادٍ بَدَادٍ وذَهَب القومُ بَدَادٍ بَدَادٍ أي واحداً واحداً مَبنيّ على الكسْر لأنّه معدولٌ عن المصدر وهو البَدَدُ.(تاج العروس)// [ابد] مبدد (ع ق مركب) (از: «لا» + «بد») به معنى چاره نيست . علاج نيست . (زمخشرى). لامحاله . ناچار. (حاشيه ٥ لغت نامه ٥ اسدى نخجوانى). لاعلاج . بى چاره . هر آينه . (حاشيه ٥ فرهنگ اسدى نخجوانى). لاجرم . ضرورةً. بالضرورة. ناگزير

٢: لاعوض: يعني د دغه عوض او بدل نسته او په دغه صورت كي دغه مأخوذ د "بُدّ" څخه دى كوم چې په معنى سره د عوض دى. لهذا په دغه صورت كي "لا" التى لنفي الجنس "بد" يې اسم او "لها" يې خبر، او "من القوانين" تعلق د "بد" سره لرى. نو په دغه صوت كي معنى داجوړيږى "عوض د كلي قوانينو څخه ثابت لپاره د جزئياتُ نسته ، يعني جزئيات پرته د دغه قوانينو كوم عوض نه لرى. لهذا دغه عوض د دوى لپاره ضرورى دى. والله اعلم بحقيقة الحال.

البُدُّ: النَّصِيبُ من كل شيء. و البُدُّ العِوَض. (المعجم الوسيط) /// ۱. چاره؛ گزير. ۲. عوض. ۳. جدايي. ۴. بت. ۵. بتخانه. لابد ناچار؛ ناگزير.

حاشيه نمبر۶:

سوال: معجزه څه ته ويل کيږي؟

جواب: دعادت څخه مخالفَ شي د نبوت د دعوی کونکي پر لاس دده د تصديق لپاره يې الله جل جلاله ښکاره کړی دغه کار ته معجزه ويل کيږي. لهذا دغه شي ته "په دې حيث چې په ده سره د مقابل عاجزول راځي" معجزه ويل کيږي او دغه شي ته "په دې حيث چې دی علامه پر صداقت د دعوې دی" بيا آيت ويل کيږي. معجزه. ا م ُ ج ِ ز / ز ِ ا (از ع ِ ا) چون خرق عادتی از نبی صادر شود که خلق از آوردن مثل آن عاجز آيد آن را معجزه گویند و چون از ولی خرق عادتی پيدا گردد آن را کرامت خوانند و چون خرق عادتی از کافر به ظهور آيد آن را استدراج گویند. (آنندراج) (غياث). آن چيزی که مردم از آوردن آن عاجز باشند مانند خرق عادتی که از انبيا صادر می گردد و شگفت و چمراس و فرجود نيز گویند. (ناظم الاطباء). امر خارق العاده ای که مايه ٔ خير و سعادت باشد مقرون به دعوی نبوت و غرض از آن آشکار ساختن صدق کسی است که مدعی رسالت از جانب خداست. (از تعريفات جرجانی). امر خارق العاده اعم از ترک يا فعل مقرون به تحدی با عدم معارضه، و به عبارت ديگر معجزه امر خارق العاده ای است که بر دست مدعی نبوت ظاهر شود موافق دعوی او. (از کشاف اصطلاحات الفنون). ج، معجزات؛ پس قوه ٔ پيغمبران معجزات آمد. (تاريخ بيهقی چ ادیب ص 93).

حاشيه نمبر۷:

سوال: قرآن معجزه او بيا اعلي ولي ده؟

جواب: قرآن معجزه ده لکه دغه خبره چې په علم الکلام کې ذکر سوې ده (نو هلته دې يې وجه وکتل سي). او پاته دا خبره چې دغه تر ټولو اعلي ده ځکه قرآن پر ټولو هغه شيانو مشتمل دي د کوم ُ پر تر سره کولو سره انسان په دنيا او هم په آخرت کې کاميابي تر لاسه کولای سي، لهذا په قرآن سره د خوشبختي او کاميابي دروازه خلاصيږی. څرنګه د انسان لپاره په داو رو جهانُ کې کاميابي ولاس ته راوړل يو اعلي مقصد دی کوم چې په قرآن سره پيژندل کيږی په دغه وجه قرآن د ټولو معجزو څخه اعلي دي. او دغه ډول قرآن په هره زمانه او په هر ځای کې او پر هره ژبه جاری پاته وی په دغه وجه دغه اعلي معجزه ده پاتي معجزه د عليه السلام دغه ډول نه دي.

حاشيه نمبر۸:

په دې حاشيه کې څو شيان د بيان ورديږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اول: د مفعول له تعريف: هر هغه شي چې هغه ذهناً (په ذهن کې) سبب او باعث په کرنه باندې د يو کار وي. بيا د غه مفعول له په دوه قسمه دي.

۱): **حصولي:** د فاعل د فعل په صادرولو او کولو کې ده لره دخل وي. لکه زموږ په دې قول کې "قعدت عن الحرب جبناً". اوس د متکلم په ناسته ترسره کولو کې بزدلي لره دخل سته.

۲): **تحصلي:** ذهناً (يعني په اعتبار د ذهن) ده لره د فاعل د فعل په ترسه کولو کې دخل وي او په خارج کې دې بيا باعث پر دغه کار نه وي. لکه زموږ په دې قول کې "ضربته تأديبا". اوس تأديب (ادب ورکونه) په وجود ي خارجي کې د ضرب دخل نه لري. ځکه تأديب په خارج کې ورسته تر ضرب راځي نه مخکې. (هداية النحو ۳۲/ح۱)، (شرح الماياني ۲۷۰/ج۱)

دوم: سوال: دلته مصنف دوه شيان "رعاية، تنبيها" راوړي دي. د دوی څخه کوم يو مفعول له دي؟

جواب: دوی دواړه مفعول له دي، "رعاية" د اولني قسم څخه د مفعول له دی. او "تنبيها" د دوم قسم څخه د مفعول له دی. خلاصه داده چې مصنف رحمه الله داغونښتل چې اشاره و دې خبرې ته وکړي چې بيان او چت مرتبه لرونکي شي دی. او دغه اشاره په صورت کې د عطف د خاص پر عام باندې تر لاسه کيږي. او په دغه سره په خپله مصنف په فن ثامن کې تصريح کړې ده "ان ذكر الخاص بعد العام انما يكون منبها على فضيلته و مزيته اذا كان ذالك بطريق العطف دون الوصف". نو مصنف عطف د خاص پر عام باندې وکړي. لهذا په دغه عطف کونه باندې باعث دغه تنبيه تر لاسه کونه وه. او د دغه عطف کولو په صورت کې لفظ د بيان هم وجود لري نو په دغه سره بيا براعت استهلال هم راغلي. لهذا په دغه عطف کونې باندې براعت استهلال مرتب سو. نو دغه ورسته تر عطف تر لاسه سو. نود براعت استهلال و لاس ته په راوړلو کې عطف لره دخل راغلي.

سوال: د برأعت استهلال رعايت کول غايه بلل لپاره د عطف د خاص پر عام باندې صحی نه دی. بلکې براعت استهلال غايه لپاره د "بيان" د لفظ دراوړلو ده؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې په فعل باندې باعث کله يو شي او کله بيا څو شيان وي. (يعني د فاعل مقصد کله حاصل د يوه شي وي او کله بيا د څو شيان وي) بناء په اول کله فاعل هغه

لاره خپله کړي چې هغه رسېدونکي د دغه شي ته وي. او بنا، په دوم بیا داسي لاره اختیار کړي چې هغه د دوی ټولو ته رسېدونکي وي. نو اوس په دغه مقام کې مخکې تر لیکولو د دغه معطوفو جملو مقصد د مصنف د کتاب په شروع کې د براعت استهلال لاس ته راتلنه. او اشاره راتلنه وسترو الي ته د نعمت د بیان وه. نو مصنف هغه لاره خپله کړه چې هغه دغه دواړو ته په یوه پلا رسېدونکې ده. هغه طریقه داده چې ربط د تعلیم د بیان د انعام سره په واو سره ترسره کړي. ځکه صرف ذکر د بیان براعت واجبوي نه اشاره و سترو الي ته د بیان. نو مصنف د دغه دوو د حاصلېدولو په خاطر ارتباط د تعلیم د بیان د انعام سره ورکړي. نو اوس سوال دفع سو. ځکه په یوه پلا د براعت رعایت او د اشاره دراتلو قصد والي فرض سوي دی. او په دې کې شک نسته چې دغه بېله ذکر سوي عطف حاصلېدلای نه سي. او دغه د حاشیې خلاصه ده. فتفکر و تشکر. (الشرح للموسی ۲۷۱/ح۱).

حاشیه نمبر ۹:

سوال: خلاصه د سوال داده چې "ما لم تعلم" ته په عبارت کې ضرورت نسته. ځکه په دې قول سره "علم" د ده د "مالم تعلم" څخه استغناء راغلېده. ځکه تعلیم پرته د معلوم د بل څه سره تعلق نه نسي. نو غیر معلوم لازم د تعلیم سره دی. او د ملزوم د ذکر څخه لازم معلومېږي؟

اول جواب: خلاصه د جواب داده چې د ذکر څخه د "علم" "مالم تعلم" نه معلومېږي. ځکه غیر معلوم (چې معلوم نه وی) په دوه قسمه دی.

۱: صعب (سخت. مشکل) المأخذ وي.

۲: سهل (آسانه) المأخذ وي دا دول چې دغه نامعلوم شي ته زمور قوت او اجتهاد په حسب د عرف ورسېږي. او د تعلیم سره اول لازم دی نه دوم. او دلته په کلام کې د مصنف مراد اول دی. اوس که چېرې "مالم تعلم" حذف سي نو بیا توهم ددې کېږي چې دغه علم سهل المأخذ دی. او دغه ذکر سوې خلاصه ددې قول څخه د الله ﷻ "وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا (سورة النساء: ۱۱۳) "اخیستل سوېده. (شروح التلخیص ۴۱/ح۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب دوم: خلاصه ددې جواب داده چې د تصريح فائده داده چې الله ﷻ مونږ د جهالت د ظلمت او تيارو څخه و نور ته د علم راهيستلي يو. لهذا په دغه سره ښکاره سوه چې بيان يو نعمت دی. (شرح للسوسی ۲۷۷/ج۱)

حاشيه نمبر ۱۰:

مقصد د محشي پر مصنف د تلخيص اعتراض کونه ده، خلاصه د اعتراض داده چې په عبارت کې د مصنف يو مبهم "ما لم نعلم" او يو مبين او بيان وجود لرى کوم چې "من البيان" دى. ځکه په "من البيان" سره د "ما لم نعلم" بيان تر سره سوى دى. او مبهم مخکې او بيان تر دغه مبهم ورسته وي. ځکه د مبهم په نفس کې په شبه توګه سره واقعيت هلته راځي چې تر دغه مبهم ورسته دده بيان راوړل سي. لهذا دلته دوه شيان دي. ۱: جهت د لفظ. ۲: جهت د معنى. لهذا د جهت لفظي د رعايت کولو په صورت کې "من البيان" مخکې کول په کار دى ددې لپاره چې دده موجوده عبارت سجع (لفظي شي دى) د مخکني عبارت سره برابر سي او د جهت معنوى لحاظ ساتولو په صورت کې بيا "من البيان" ورسته تر "ما لم نعلم" کول په کار و، ددې لپاره چې تر مبهم ورسته بيان راسي او حال دا چې مصنف جهت لفظي ته پر جهت معنوى باندى ترجيح ورکړيده.

حاشيه نمبر ۱۱:

سوال: خطاء وضد ته د صواب ويل کيږي. او د صواب څخه څه مراد دى؟

جواب: په دغه کې دوه احتماله دي.

۱): د صواب څخه مراد دادى چې صواب په خبرو کې وي. او په دغه خبرو کې د بلاغت او فصاحت په اعتبار سره خطاء نه وي. او د دغه معنې مرادونه د مقام سره موافقت لرى دا دول چې په دغه سره براعت استهلال راځي (ځکه دغه مقام د خطبې او د ديباچې د هغه کتاب دى چې هغه په فن کې د معاني دى. او د معاني د کتاب په خطبه کې لفظ د بلاغت راوړل براعت استهلال دى) يا دا دول چې په دغه مقام کې لفظ د نطق راغلي دى.

۲): مراد د صواب څخه مطابقوالي د خبرو د واقع سره او پاکوالي د خبرو د دروغو څخه دى. او په دغه صورت کې مسئله د براءت د انبياؤ د دروغو څخه ده.

حاشيه نمبر ۱۲:

سوال: مصنف رحمه الله دلته ولي لفظ د "اوتي راوړي، د دغه راوړني څه وجه ده؟

جواب: د دغه لفظ په راوړلو کي د دې خبرې ښوونه ده چې دغه حکمت د کوم څخه شرائع او شریعت مراد دی د نبي د خپلِ طرفَ څخه نه وی بلکه دغه د جانبَ د الله جل جلاله وی. لهذا واضع د شریعت بني نه بلکه الله جل جلاله وی نو د دغه خبرې د ښوونې لپاره لفظ د "اوتي" راوړل سو.

سوال: دلته ښکاره داخبره ده چې شارح دلته باید داډول وینا "لفظ اوتی تنبیه علی انه لیس من عند نفسه بل من عند ربه" "تر سره کړي وای، ځکه دلته "من عند نفسه" بلا واسطه معلومیږی، ځکه "اوتي" فعل مجهول او نائبِ فاعل یې "من" دی. نو د فعلِ مجهول په صورت کي نائبِ فاعل بېله کومې واسطه معلومیږی. او په دغه صورت کي فاعل په خپله ذکر سوی نه وی بلکه دی نسیاً منسیاً حذف سوی وی او په داسي صورت کي فاعل په واسطه سره د قرینه معلومیږی نو دلته د الله جل جلاله د طرف نه کېدنه په واسطه سره ددې قرینه معلومیږی چې شریعت د طرفَ د نبي نه بلکه د الله جل جلاله د طرفَ څخه وی. لهذا "من عند ربه" په واسطه سره د قرینه معلوم سو. کوم شي چې بېله واسطه معلومیږی هغه مقدم تر هغه شي وی کوم چې په واسطه سره معلومیږی؟

جواب: ۱: خبره دغه ستا ډول ده مګر دلته د آدب د خیال ساتولو په خاطر "من عند ربه" مخکي تر "من عند نفسه" سو.

۲: د "من عند ربه" په صورت کي اثبات دی ځکه دغه د الله جل جلاله د طرفَ څخه ده، او "من عند نفسه" په صورت کي نفي دی. ځکه دلته نفي ددې خبرې راغلي دی چې دغه د نبي د طرفَ څخه نه دی. څرنګه اثبات تر نفي غوره دی په دغه وجه مثبت پر منفي مخکي کړل سو.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: دغه تنبیه "په دې خبره ورکول چې ورکړه د حکمت د الله جل جلاله د جانبَ څخه وی" د معلوم په صیغه سره راوړل "افضل من اتی الله الحکمة" یې غوره تر مجهول په صیغه سره راوړلو باندې دی، مګر د معلوم صورت مصنف رحمه الله خپل نه کړي نو دغه ولي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د مجهول يه صورت كي د يو شي وطرف ته اشاره كونه وه هغه دا چي دلته دغه خبره معلوم سي چي شريعت وركول د الله جل جلاله كار دى نه د بل چا. او دغه مقصد د معلوم په صورت كي نه تر سره كېدى په دغه وجه يي د مجهول د صيغي صورت يې خپل كړي.

تراءى يتراءى ، تراء ، ترائيًا ، فهو مُتراءٍ تراءى فلان : نظر إلى وجهه في المرآة ونحوها تراءى في مرآته نظر فيها تراءى الشيء ظهر وبدا ، يتراءى لي أن مصلحتك في إكمال تعليمك : يبدو لي ذلك ، تراءى القومُ : أبصر بعضُهم بعضًا : التقيا.

حاشيه نمبر ۱۴:

سوال: دلته فصل الخطاب په څه معنې سره دى؟

جواب: دلته د فصل الخطاب څخه معجزه مراد ده، او فصل په معنې سره د تميز او خطاب په معنې سره د كلام دى.

سوال: فصل مصدر او په ده سره خطاب موصوف گرزېدلي دى نو دغه صحت نه لرى ځكه خطاب پخپله فصل نه بلكه فاصل او يا مفصول وى؟

جواب: په دغه كي دوه قولَ راغلي دي.

۱: دلته عبارت بناء بر مجازِ لغوى دى (دلفظ څخه هغه معنې اخيستل د كوم لپاره چې لفظ وضعَ سوى نه وى) نو فصل په معنې سره د فاصل او يا د مفصول دى. لهذا فاعل او مفعول دواړه ذات سره د صفتَ وى نو په دغه سره خطاب موصوفَ گرزوني كي څه حرج نسته.

۲: دلته مجازى عقلي مراد دى (نسبت د شي و غيرِ ما هو له ته) نو په دغه صورت كي بناء د عبارت بر مبالغه ده ځكه خطاب خو خپله تميز نه دى بلكه فاصل او يا مفصول دى. لهذا دلته فصل په خپله معنې اصلي سره پاته دى مگر په دغه سره شي موصوفَ نه گرزى مگر دلته گرزېدلي د ى نو كوم چې شي ته نسبت په كار و هغه ته سوى نه دى نو دغه مجازى عقلي دى. او دغه هم د اهل المعاني په وړاندى مطلوب وى لكه علامه سيبويه د خنساء په دې شعر كي فرمايي "فإنما هي إقبال وإدبار" چې دغه اوښه ډير زيات مخ او شاگرزول او دغه پر دې داسې غالبَ گرزېدلي و چې ددې پرته د دغه اوښي بل حال نه و نو گواكي دغه اوښه د مخ او شاه گرزولو څخه جوړه سوې وه نو شاعر وويل چې دغه اوښه په خپله مخ او شا گرزونه گرزېدلېده.

المجاز العقلي هو إسناد الفعل أو ما في معناه إلى غير ما هو له لعلاقة بينهما مع وجود قرينة مانعة من الإسناد الحقيقي. يكون الإسناد المجازي إلى سبب الفعل أو زمانه أو مكانه أو مصدره أو يكون بإسناد المبني للفاعل إلى المفعول أو المبني للمفعول إلى الفاعل

حاشیه نمبر ۱۵:

سوال: په فصل الخطاب سره اشاره و معجزه ته ده، د دغه خبرې څخه دا معلومیږي چې فصل الخطاب په خپله معجزه نه ده بلکه په دغه سره و معجزه ته اشاره ده؟

جواب: هو، ځکه فصل الخطاب عام و قرآن او پرته د قرآن د فصحاؤ او بلغاؤ و کلام ته هم شاملَ دی. لهذا د فصلِ الخطاب یو فرد قرآن دی او هغه معجزه ده نو په فصل الخطاب سره و هغه ته اشاره ده. نو د فصل الخطاب مطلقاً معجزه نه ده بلکه د دغه یو فرد چې قرآن دی هغه معجزه ده.

حاشیه نمبر ۱۶:

دلته شارح رحمه الله فصل په معني سره د مشتقي و نه ګرزوی او داسي یې نه وویل "الکلام البین" او داسي یې هم نه وویل "الخطاب المفصول"، "الکلام المفصول" لکه دغه خبره چې شارح په مختصر المعاني کې کړیده نو د دغه نه ویولو وجه یې داده چې دلته شارح د دې خبرې تعین کونه غواړي چې اضافت د فصل و خطاب ته دغه اضافت د صفت و موصوف ته دی او دغه اضافت په معني سره د "من" دی یعني "البین (فصل) من الکلام(الخطاب)".

حاشیه نمبر ۱۷:

تلخیص: پاکول، بیانول. ښکاره کول.

تلخیص. [تَ] (ع مص) بیان کردن. (منتهی الارب) (ناظم الاطباء). بیان کردن و شرح دادن و تقریب کلام و خلاصه کردن آن. یقال: لخصت القول؛ ای اقتصرت فیه و اختصرت منهُ مایحتاج الیه. (از اقرب الموارد). خلاصه کردن. (آنندراج). ‖ خلاصهٔ چیزی را گرفتن: لخص الشیء، خلصهُ؛ ای اخذ خلاصتهُ. (از اقرب الموارد). ‖ پیدا و روشن. (منتهی الارب) (ناظم الاطباء). ‖ ویژه و بی آمیغ گردانیدن. (منتهی الارب) (ناظم الاطباء). پاک و صاف کردن. (آنندراج)

حاشیه نمبر ۱۸:

په دغه حاشیه کې دوه شیانو بیان دی.

اول: بیان د مشابهاتو: تعریف د متشابه: مراد د لفظ په هغه اوریدونکي "چې پیژندونکي د لغت وي" لفظ پټ وي، دا ډول چې اوریدونکي ئې په طلب او نه په تأمل سره ادراک کولای سي. مګر وروسته تر بیان د شارع په محکم عبارت سره دغه پټ والي پاته نه سي. (تفسیر المظهری ۸/ج۲). او په متشابهاتو کې دوې ډلې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱): د الله ﷻ څخه سېوا په تأويل د دغو مشابهاتو علم نه لري. او د غه ډله په دې آيت مبارکه کې "ما يعلم تأويله الا الله و الراسخون في العلم" پاره نمبر ۳، سورت: آل عمران" وقف په الا الله باندې کوي.

۲): د الله جل جلاله څخه سېوا نور هم په تأويل د دوي علم لري. او د غه ډله وقف په لفظ د "العلم" کوي. او دوی وايي چې په "و الراسخون في العلم" کې **واو** لپاره د عطف دی. او اوله ډله ئې لپاره د استيناف بولي. (جلالين ۴۶/ج۱)، (المظهري ۱۰/ج۲)

دوم : سوال: خلاصه د سوال داده چې د اولې ډلې د رائي په بنياد د خطاب لپاره ذکر سوې تفسير قرآن ته شامله نه دی. ځکه په قرآن کې هغه مشابهات دي چې هغه دوی نه سي فهمولای. لکه په دغه سره چې قرآن ناطق دی "منه آيات محكمات هن ام الكتاب "؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې مستفاد ددې قول څخه "و افضل من اوتی فصل الخطاب" دا دي چې الله ﷻ نبی عليه الصلوة و السلام ته واضح کلام ور کړي دی. او په دې کې شک نسته چې په استقامت کې د دغه معنی دا کفايت کوي چې څه د هغه کلام څخه "چې نبي عليه السلام ته ورکول سوي دی" مفصول او واضح دی. ځکه د مصنف په کلام کې هغه څه نسته چې دلالت په استغراق باندې کوي.

حاشيه نمبر ۱۹:

تبيين: دغه په معني سره د معرفت او علم راتللو دی. ويل کيږی تبينتَ الشيءَ" يعني ته په شي پوه او علم دي پر راغلي. نو معني د خطاب الكلام دا جوړيږی : دغه کلام خالص او خلاص ډ هغه شي څخه دی په کوم سره چې ابهام رائي او سختوالي او ګرانوالي د فهمولو د مراد جوړوی.

تبيّن: (فعل) تبيّنَ يتبيّن، تبيُّنًا،فهو متبيّن، والمفعول متبيّن-للمتعدّي تبيّن الشيءُ مطاوع بيّن : بان ، ظهر واتّضح ، ثبت بالدليل وتأكّد تبيّن وجهَ السّداد / تبيّن وجهَ الصّواب : عرفه.

صفحه نمبر ۱۱:

عبارت

الى العباد بقوله على آله واصحابه اهل بيته لانه اهيل يصغر على اهل في لغته او يعرب باعراب

وعن الكسائي سمعت عربيا صحيحا يقول اهل و اهيل و آل و اويل الا اطهار جمع طاهر

كصاحب واصحاب وصحابة كما في الاحياء جمع خير للتشديد اما بعد فلما كان اصل مهما كان

شيء بعد تحميد الثناء وتحقيق كلمة اما اسم فعل هو المبتدأ وصل هو الشرط تضمنت

معناها فاقتضتها معنى الشرط لزمتها الفاء اللازمة للشرط غالبا تضمنتها معنى الابتداء

لزمها الصدق الملازم للابتداء فجيء بالفاء ليقدر ما كان بقاءه ليقدر ما كان يسوغ لهذا

زيادة تحقيق وفي احوال متعلقات الفعل وما ناظرة في بمعنى الذي المتعلق باستعمال الشرط يليه

فعل ما يناظره ومعنى ان يسبق الى الوقوع امر توقع غيره والفاء يكون مثل او فوهم منه بعضهم

انه حرف شرط كاذا الا ان او لا استفاء الثاني لانتفاء الاول لما ان النبي الثاني ليس بدون الاول و

الاولى ما قدمنا على البلاغة هو علم المعاني والبيان وانما علم وانما بها هو البديع من اجل العلوم

قدر اوادها سر الاحاجة الى تخصيص العلوم بالعربية لانه يحصل بها اجل العلوم

باجل ما انفقه من العلوم اجل ما سواها وجعلها من هذه الطائفة مع ان هذا ادعاء منه

وكل حزب بما لديهم فرحون اذ به اي بعلم البلاغة وتوابعها لا بغيرها من العلوم تعرف

حقائق العربية واسرارها فانها كالميزان لاحد العلوم سر اذ به يكشف عن وجوه الاعجاز في

نظم القرآن استاذا فانها من اجل العلوم قدرا لان الكلام انما يكتسب اشرفه المعجز لكون في

ترجمه

﴿او دده په آل دي الهي يې رحمت وي﴾. اصل د آل په دې دليل سره چې دده تصغير اهيل راځي اهل دی، بيا استعمال د آل د شرافت لرونکي کسانو سره خاص سو. اود کسانې څخه روايت سوی دی چې ده د يو صحرائي څخه دا وينا "اهل و اهيل ، آل و اويل" وار بدل. ﴿کوم چې پاک دي﴾ دغه د طاهر جمعه ده لکه اصحاب د صاحب جمعه ده. ﴿اودده په ملګرو باندی کوم چې په اصلاح او دين کې غوره دي﴾ دغه د خير مشدد جمعه ده. ﴿ورسته تر دغه څه وخت چې﴾ د "اما" اصل "مهما يكن من

Maktaba Tul Ishaat.com

شيء بعدالحمد و الثناء "دی نو "اما" په ځای د اسم "کومه چې مبتدأ ده " اود فعل شرط ولاړ دی.او دی په دواړو معناګانو باندی مشتمله دی،نو د شرط و معنی ته د متضمنوالي په وجه دده سره فاء کومه چې د شرط سره لازمه وی لازم سوه.او دده و معنی ته د ابتدأ د متضمن والي په وجه دده سره د اسم یو ځای والي لازم سو کوم چې د مبتدأ سره لازم وی ددې وجې چې حق د هغه شیانو حتی الامکان ادا سي د کومو په ځای چې اوس "اما" ولاړ دی. او ددغه تفصیل د فعل د متعلقاتو په بحث کې راتلونکی دی .او"لما" ظرف په معنی سره د "اذا" دی اودی د شرط غوندی هلته استعمالیږی څه وخت چې ده ته فعل ماضي ورځرمه وی. عام تر دې دغه فعل ماضي لفظي او که معنوی وی. او علامه سیبویه رحمه الله فرمایي: "لما"د یو شي د بل شي دواقع کېدو په خاطر دواقع کېدنې لپاره استعمالیږی .اودغه په مثل د"لو" دي. او ددغه څخه د بعضو خلکو په وهم کې دا خبره ورغله چې "لما" حرف شرط دی لکه "لو". صرف فرق یې دومره سته چې "لو" ددوم منتفي والي د اول د منتفي والي په وجه سره وی.او "لما"ددوم د ثابت والي د اول د ثابت والي په وجه سره وی. او ددغه وجه مخکې تېره سوه.﴿علم البلاغت﴾ دغه علم المعاني، او بیان دي ﴿او د علم البلاغت توابع﴾او دغه فن بدیع دی.﴿د غټو علومو څخه د مرتبې په لحاظ سره دی او د رازو په حیث بیا باریک ترینه دی﴾. او علوم د عربیت سره وخاص کوني ته څه کومه اړتیا نسته ځکه ده علم البلاغة د ټولو علومو ستر بللی نه دي بلکه یو ټولې د علومو څخه یې ستره تر پاته نورو بللېده،او علم البلاغت یې ددغه ټولې څخه وګرزوی.او سره ددغه دا یو ادعاء دده د طرف څخه ده.او هر ټولې په خپل شي سره خوشحاله وی.﴿ځکه په ده سره﴾ یعني په علم البلاغت او دده په توابع سره نه په نورو سره د علومو﴿د عربیت باریکي او نکتې پیژندل کیږی﴾ نو د رازو په اعتبار سره دی د باریکو علومو څخه دی. ﴿او د قرآن په نظم کې د موجودو مخانو څخه د معجزه کولو پردې لرې کونکي دي﴾نو د علومو څخه د رتبې په لحاظ سره ستر دی. ځکه مراد په کشف الاستار سره پیژندنه ددې خبرې دې چې قرآن عاجزه کونکي دي ځکه قرآن د بلاغت په اوچت ترینه مراتبو کې دي. ځکه دی په داسي باریکیو، رازونو اوخاصیاتو باندی مشتمله دي کوم چې د انساني طاقت څخه وتلي دي.اوقرآن عاجزه کېدونکي دغه خبره پیژندل وسیله وتصدیق کولو ته د علیه السلام په هغه ټولو شیانو کې ده په کومو سره چې ده علیه السلام راتګ کړی دي ددې لپاره چې دده اتباع وسي نو بیا په دنیا او آخرت دواړو کې کامیابي راسي. نو علم البلاغت او دده توابع د

ستروعلومو څخه سوه. څکه معلوم ددوی د ستروم‌عنوماتو څخه. دي. او غرض ددغه علم البلاغت دا علی اغراضو څخه دی. د علم ستر والي په ستر والي سره د معلوم اود غرض وی.

تشریح

سوال: مصنف رحمه الله په "اله" باندی "علی" ولي راوړي اوده په "سیدنا" باندی معطوف نه و ګرزوي؟ او حال دا چي په حدیث کي رائي "من ذکر علی بیني وبین آلي لم ینل شفاعتي" یعني هر چا چي زما اوزما د آل تر مینځ علی راوړی نوهغه به زما د شفاعت څخه محرومه وی. نو دلته مصنف د هغه کسانو څخه وګرزېدی کومو ته چي د علیه السلام شفاعت نه په وربرخه کیږی؟

جواب: د علی په راوړولو سره مصنف رد په شیعه ګانو (لعنة الله علیهم) باندی وکړي څکه دوی کلمه د علی د علیه السلام او د آل تر مینځ نه راوړی. او حدیث څخه جواب دادی چي دغه حدیث نه بلکه یو موضوعي روایت دی.. الطرة علی الفرة للآلوسي محمود ص12 – 14 المطبوع سنة 1301هـ.

(ص:11 – حاشیة: 1)، قال إسماعیل حقي الإستانبولي –رحمه الله– في [روح البیان (7/ 221)]: ((ینبغي أن یقول المصلي: (اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد) باعادة کلمة (علی) فإن أهل السنة التزموا إدخال (علی) علی الآل ردا علی الشیعة فانهم منعوا ذکر (علی) بین النبي وآله وینقلون في ذلك حدیثا وهو: "من فصل بیني وبین آلي بـ: عَلَی؛ لم ینل شفاعتي"))، وقال العجلوني رحمه الله– في [کشف الخفاء کشف الخفاء ومزیل الإلباس (2/ 320)]:((من فصل بیني وبین آلي بـ: عَلَی؛ لم ینل شفاعتي" هذا من موضوعات الشیعة – قبحهم الله...) (شرح فتح المجید 1/39–40)، او که چیری بیا هم در سره ومنو نو بیا جواب دادی چي علی حرف جر نه دی بلکه دغه نوم د حضرت علی بن ابی طالب ﷺ دی. نو معني دا سوه کوم چا چي زما اوزماد اهل ترمینځ علی راوړی او علی یې زما د آل څخه نه وبلي نو هغه به زما د شفاعت څخه بې برخي وی.

سوال: آل دغه دده خپل اصل صورت دی اویا که په اصل کي بل څه وو بیا تبدیلي د راتلو ورسته آل جوړ سو؟

جواب: په دغه کي د علماؤ اختلاف تر سره سوی دی. بیان یې لاندی راتلونکی دی.

۱): آل په اصل کي اهل وو، ځکه آل د تصغیر په صورت کي اهیل ځني جوړیږی، او تصغیر شي وخپل اصل ته وړی نو دا معلومه سوه چي آل په اصل کي اهل وو. بیاء هاء په همزه سره بدله سوه او بیا همزه په الف سره بدله سوه لکه په آمن کي، نو آل ځني جوړ سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲): په اصل کي اول دی ځکه دده تصغیر اویل راځي. بیا واو د مخکنې حرف د مفتوح والي په خاطر په الف سره بدل سو نو آل ځني جوړ سو.

سوال: څه وخت چې دا خبره ثابته سوه چې آل په اصل کي اهل وو نو اوس د اهل او آل د استعمال تر مینځ فرق سته او که نه؟

جواب: خص استعماله في الاشراف. هو داډول چې اصل چې اهل دی دده استعمال عام شرافت لرونکي اونه لرونکي ددواړو په حق کي استعمالیږی. او دغه ډول دی د ذوی العقول او پرته ددوی په حق کي استعمالیږی، په خلاف د آل دي محض ذوی العقول او شرف لرونکي خلکو په هکله استعمالیږی.

سوال: آل څه ته ویل کیږی؟

جواب: ددې په بیان کي څو قوله راغلي دي.

۱: د علیه السلام اولاد او بیبګاني. ۲: امام ابوحنیفه رحمه الله ابدا: بنوهاشم. ۳: امام شافعي رحمه الله ابدا: بنو هاشم اوبنو المطلب. ۴: د علیه السلام اتباع کونکي.

سوال: د طاهر جمعَ اطهار نه راځي (یعني د ناعل جمعه افعال نه راځي) لکه په دغه سره چې په حاشیه کي د کشاف تصریح سوې ده نو بیا شارح اطهار څرنګه د طاهر جمعه بللي ده؟

جواب: مشهوره خبره داده چې اطهار د طاهر جمعه ده. او د کشاف د حاشیې خبره بناء د صاحب الکشاف په تحقیق باندی ده.

سوال: صحابه څه ته ویل کیږی؟

جواب: دغه په فتحه سره د صاد په اصل کي مصدر دی، اودغه و ټولی. ته د ملګرو ویل کیږی. او دغه تر اصحاب خاص دی. ځکه صحابه خاص تر ملګرود علیه السلام پوری دی په خلاف د اصحاب. لهذا صحابي هر هغه سړی دی کوم چې علیه السلام حقیقتا اویا حکماپه ایماني حالت کي لیدلي وی او بیا په هغه ایمان باندی دده مرګ راغلي وی.

سوال: "اما" د څو شیانو لپاره استعمالیږی؟

جواب: ۱: د تفصیل لپاره استعمالیږی لکه الله جل جلاله فرمایي: فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ (سورة البقرة: ۲۶).

۲ :تأکید لپاره: لکه ویل کیږی: اما زید فذاهب". او دغه په اصل کي دا ډول دی: مهما یکن شی ءمن الاشیاء فزید ذاهب.

۳ : د شرط او د تعلیق لپاره: لکه دغه خبره چي شهرت ته رسیدلي ده.

سوال: "اما" دلته د څه لپاره ده؟

جواب: دلته د فصل لپاره ده ."اما" دده ورسته راتلونکي کلام دده د مخکني کلام څخه د جلاکولو لپاره راغلي ده. او ددغه سره سره تأکید او یقین فائده کوی. د مثال په توګه که ته د زید د ولاړی څخه خبر ورکونه غواړې نو بیا "زید قائم" ویل سي او که چیری تأکید غرض وی نو بیا "اما زید فقائم" وویل سي.

سوال: د اما ورسته ولي بعد او دغه ډول دده په جواب کي فاء راغلیده؟

جواب: اما د "مهما" اود "یکن" په ځای ولاړ دی، او "مهما" اسم مبتدأ او "یکن" فعل شرط دی، لهذا اما د اسم اود فعل شرط ددواړو قائمقامه ګرزیدلي ده. او د فعل شرط په جواب کي فاء راځي نو دده د قائمقام د راتلو په صورت کي هم فاء راغله. او دغه ډول د مبتدأ (مهما) قائمقام اسم وی او دلته د اما په حرفیت باندی اتفاق راغلي دی، نو اوس د اصل په ځای د قائمقام توب په خاطر حتی الامکان د هغه (مهما)ء بدل کیدولو په خاطر دده ورسته اسم چي بعد دی بیله فصله او لری والي راوړل سو.

سوال: "لما" په پنځو معانیو سره استعمالیږی. ۱ : په فعل ماضي (هغه لفظا او که تقدیرا وی) باندی د راتلو په صورت کي دغه شرطیه وی. ۲ : په فعل مضارع باندی د راتلو په صورت کي دغه بیا جازم وی. لکه لما یضرب. ۳ : د نفي لفظي یا تقدیری د راتلو ورسته بیا استثنائي وی د مثال په توګه "ان کل نفس لما علیها حافظ". یعني الا علیها حافظ. ۴ : په معني سره د فعل راځي. لم ، لما، لموا. ۵ : په معنی سره د ظرف راځي. لکه په دې قول الهي کي: "تلک القری اهلکنا هم لما ظلموا ". لهذا اوس د سوال خلاصه داده چي دلته لما په کومه معنی سره استعمال سوی دی؟

جواب: لما ظرف په معني سره د "اذا" دی، دلته لما په معني سره د ظرف چي "اذا" دی استعمال سوی دی. ځکه دده ورسته فعل ماضي استعمال سوېده.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: علم حديث، تفسير، فقه او علم الكلام دغه هر يود علم قسم او مرتبه يې تر علم البلاغت (علم المعاني بيان اوبديع) اوچته ده نو اوس چې مصنف رحمه الله علم البلاغت تر دوی اوچت بللي (من اجل العلوم) په دغه کې خطاء سوی دي؟

جواب: دلته په دې عبارت کې د مصنف "من اجل العلوم" د علومو څخه علوم عربيت مراد دي د کومو چې تعلق د الفاظو اود نظم سره د قرآن دی. او مراد د علوم عربيت څخه علم التفسير او دغه نور نه دي ځکه د دغه علومو تعلق د نظم سره د قرآن نه وی نو اوس د مصنف دغه وينا صحی سوه.

و لا حاجة: په دغه عبارت سره شارح په دغه ورکول سوی جواب باندی رد کوله غواړی او بيا خپل طرف څخه د دغه سوال جواب ورکوله غواړی. خلاصه داده چې دلته د دغه تخصيص ضرورت نسته ځکه په مصنف رحمه لله باندی د سره اعتراض نه واردیږی ځکه مصنف علم البلاغة تر ټولو علومو يې عظيم بللي نه دی لکه دغه خبره چې سائل فهمولېده. ځکه مصنف رحمه الله يوه ټولی د علومو څخه تر پاته اقسامو د علومو يې ښه بللېده. او د دغه ټولی څخه يو علم البلاغت دی او دغه ډول علم التفسير او پاته نور. لهذا د علم البلاغت اوچت والي په علم التفسير او په دغه نورو باندی نه سو ثابت حتي چې بيا اعتراض وارد سي.

تسليمي جواب: مع ان هذا: که چيری موږ دا خبره و منو چې مصنف علم البلاغة تر ټولو قسمونو اوچته بللي دی نو دغه بلل يې ادعائي دی يعني مصنف د دغه بللو دعوی د دې لپاره. کړېده چې طالبان د دغه علم البلاغت په حصول کې کوشش وکړی لهذا دغه ادعائي او ترغيبي خبره ده نه حقيقي.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

سوال: خلاصه د سوال داده چې اطلاق د فصل "چې په معنی سره د فاصل وي يا د حق او د باطل ترمينځ د جلا کونکي وي" په کلام مبين "من حيث انه مبين" باندې صحی نه دی. ځکه د هر کلام مبين شان تميز کونه ترمينځ د حق او باطل نه وي. نو د فاصل د اطلاق د صحت لپاره صرف د کلام مبين کېدنه موقو

ف علیه نه ده. در څو پوري چې د "کلام مبین" ته یو بل شي ورضم نه سي. او هغه اعتبار ددې قید "کونه نازلا من الله" دی؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې کلام مبین ته ممیز ویل په دې اعتبار سره دی چې دغه کلام مبین پرته د خپلې معنې مرادي په بل چا دلالت نه کوي. نو گواکي کلام مبین معنې مرادي د معنې غیرې مرادي څخه جلا کونکي وی. په خلاف د کلام مغلق. ځکه کلام مغلق د معنې مرادي او د معنې غیرې مرادي ددواړو احتمال لري. لهذا کلام مغلق معنې مرادي لره د معنې غیر مرادي څخه جلا کونکي نه وی. لهذا اطلاق د فاصل" چې په معنی سره د ممیز وي" په کلام مبین باندې صحی دی.

حاشیه نمبر۲:

په دغه حاشیه کې محشي مرجع د ضمیر "استعماله" ښوونه غواړي. خلاصه داده چې دغه ضمیر و "آل" ته راجع دی یعنې د "آل" استعمال تر شرف لرونکو خلکو پورې خاص دی، په خلاف د "اهل" دغه شرف لرونکي او غیر شرف لرونکي ټولو ته شاملَ دی.

حاشیه نمبر۳:

سوال: مورد ا خبره نه منو چې "اظهار" د "ظاهر" جمعَ ده، ځکه صاحب الکشاف ویلي دي چې هیڅ کله فاعل پر وزن دافعال جمعَ کېدای نه سي، لهذا "اصحاب" د چا جمعَ ده په دغه کې دوه احتمالَ وجود لري. ۱: دغه د صَحِب" جمعَ ده لکه انمار جمعَ د نَمِر ده. او "صِحِب" مخفف د "صاحب" ده. ۲: دغه جمعَ د "صَحب" دی لکه "انهار" د "نَهر" ده. لهذا شارح ولې "اظهار" د "ظاهر" جمعَ گرزولې ده او دغه صحت نه لري؟

جواب: دلته دوه شیان دی. ۱: **مشهور:** شهرت ته دا خبره رسېدلېده چې فاعل پر افعال جمعَ کېدای سي. ۲: **تحقیق:** تحقیق دادی چې فاعل پر افعال جمعَ کېدای نه سي. لهذا د شارح خبره بناء بر شهرت او د کشاف دا بیا بناء بر تحقیق ده تو ددوی تر مینځ کوم څه تعرض وجود نه لري.

حاشیه نمبر۴:

Maktaba Tul Ishaat.com

صَحَابة مصدر د باب څخه د "صَحِبَ، يَصْحَبُ صَحَابَة و صِحَابة" دی. دغه په لغت کې و ملګری ته ویل کیږی. او په اصطلاح کې هر هغه کس ته ویل کیږی کوم چې رسول الله ﷺ د اسلام په حالت کې لیدلي وي او پر دغه اسلام یې خاتمه راغلې وي. او بعضو روایت هم شرط کړی دی داوول چې صحابي هغه دي چې د علیه السلام د لیدلو سره سره یې روایت هم ځني کړي وي.

صَحِبَه كَسمِعه يَصْحَبُه صَحابَةً بالفَتح ويُكْسر وصُحْبَةً بالضَّمّ كَصَاحَبَه . عَاشَرَهُ . والصَّاحِبُ : المُعَاشِرُ لا يَتَعَدّى تَعَدّيَ الفِعل بَغْيَ أنَّكَ لاَ تَقُول : زَيْدٌ صَاحِبٌ عَمْراً لأنَّهم إنَّمَا اسْتَعْمَلُوه اسْتِعْمَال الأَسْمَاءِ نَحو غُلام زَيْدٍ . ولو اسْتَعْمَلُوه اسْتِعمال الصِّفَة لَقَالُوا : زَيْدٌ صَاحِبٌ عَمْراً وزَيْدٌ صَاحِبُ عَمْرٍو عَلَى إرَادَة التَّنْوِين كما تَقُولُ : زَيْدٌ ضَارِبٌ عَمْراً وزَيْدٌ ضَارِبُ عَمْرٍو . تُرِيدُ بِغَيْرِ التَّنْوِين مَا تُرِيد بالتَّنْوِين . وَهُمْ أَصْحَابٌ وأَصَاحِيبُ وصُحْبَانٌ بالضَّمّ في الأَجِير مِثْل شَابّ وشُبَّانٍ وصِحَابٌ بالكَسْر مِثْل جَائِعٍ وجِيَاعٍ وصَحَابَةٌ بالفَتْح وصِحَابَةٌ بالكَسْر وصَحْبٌ . حَكاها جَمِيعاً الأَخْفَشُ . وأَكْثَرُ النَّاس عَلَى الكَسْر دُونَ الهَاء وعَلَى الفَتْح مَعَهَا وعَلَى الكَسْر مَعَهَا عَنِ الفَرَّاء خَاصَّةً . ولا يَمْتَنِعُ أنْ تَكُونَ الهَاءُ مَعَ الكَسْر مِنْ جِهَةِ القِيَاسِ عَلَى أنْ تُزَادَ الهَاءُ لِتَأْنِيث الجَمْع . وفي حَدِيث قَبْلَة . خَرَجْتُ أَبْتَغِي الصُّحَابَة إلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وسَلَّم . هو بالفَتْح جَمْع صَاحِب . ولم يُجْمَع فَاعِل عَلَى فَعَالَةٍ إلاَّ هَذَا كَذَا في لِسَانِ العَرَب . وقال الجوهريّ : الصُّحَابَةُ بالفَتْح : الأَصْحَابُ وهو في الأَصْلِ مَصْدَرٌ وجَمْعٌ . وجَمْعُ الأَصْحَاب أَصَاحِيبُ وأَمَّا الصُّحْبَةُ والصُّحْبُ فاسْمَانِ للجَمْع . وقَالَ الأَخْفَشُ : الصُّحْبُ جَمْعٌ خِلافاً لِمَذْهَبِ سِيبَوَيْه . ويُقَالُ : صَاحِبٌ وأَصْحَابٌ كما يُقَالُ : شَاهِدٌ وأَشْهَادٌ ونَاصِرٌ وأَنْصَارٌ . وَمَنْ قَالَ : صَاحِبٌ وصُحْبَة فهو كَقَوْلِك : فَارِهٌ وفُرْهَة . وغُلاَمٌ رَائِقٌ والجمع رُوقَة . والصُّحْبَةُ مَصْدَرُ قَوْلِك : صَحِبَ يَصْحَبُ صُحْبَةً . وقالوا : في النِّسَاءِ : هُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ . (تاج العروس)/// صحابة. ا ص َ ب َ ا (ع مص) یار شدن و یاری کردن و بکسر اول خطاست [بمعنی مصدری]. (غیاث اللغات). ا ا یاری نمودن .آمیزش کردن . و موٴلف منتهی الارب گوید: به کسر نیز آمده است . صحبت کردن . (تاج المصادر بیهقی). همراهی . مصاحبت : مکتوب به صحابت چاپار واصل شد. (مکتوبات متداوله).

حاشیه نمبر۵:

سوال: د لفظ د "صحابه" او د لفظ د "اصحاب" ترمینځ څه فرق وجود لری؟

جواب: فرق دا دی چې لفظ د "صحابه" د رسول الله ﷺ د ملګرو په هکله د زیات استعمال دوجې د دوی لپاره د علم غوندی ګرزېدلی دی. پاته لفظ د اصحاب دغه د هر چا پر ملګری یې اطلاق ترسره کیږی.

حاشیه نمبر۶:

د تشدید د قید بیان: خلاصه ددې تحقیق دا ده چې "تشدید" یو احترازي قید دی. او احتراز د هغه "خیر" څخه دی کوم چې مخفف او اسم تفضیل دی. ځکه اسم تفضیل مثنی او مجموع نه سي راتلای.

سوال: اسم تفضیل هلته مثنی او مجموع نه سي راتلای چي دی مجرد د اضافت او د "الف لام" څخه وي.یا مضاف و نکرې ته وي"که چیرې مقترن په آل سره وي.لکه په متن کي"نو مطابقت د موصوف سره واجب دی. اوس که چیرې موصوف مفرد وی نو اسم تفضیل به هم مفرد وي.او د مثنی په صورت کي به مثنی او د جمع په صورت کي به جمع وي. لکه په دغه سره چي ابن مالک تصریح کړیده"و ان المنکور یضف او جردا* الزم تذکیرا و ان یوحدا* وتلو آل طبق و ما لمعرفة *اضیف ذو وجهین عن ذی معرفة".(کذا فی بهجة المرضیة ۴۴/ج۲) یعني اسم تفضیل مضاف و نکرې ته وي او که مجرد وي* نو دغه اسم تفضیل به مذکر او واحد به وي* او که په لام سره معرفه وي نو بیا به د موصوف سره موافق وي * او که معرفې ته مضاف وي نو بیا دوې وجې په کي جائزې وي.

سوال: داجائز ده چي اخیار د هغه خیر جمع سي چي هغه د خَیّر څخه مخفف دی.او په دغه سره علامه کشاف په دې قول الهي کي تصریح کړي دی"وَإِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الأَخْيَارِ.(ص: ۴۷) " داډول چي اخیار د هغه خیر جمع ده چي هغه د خَیّر څخه مخفف دی؟

جواب: جمع پرته د مشدده نه وي. ځکه جمع تکسیر په شان سره د تصغیر شیان خپل اصل ته رده وي.نو ددغه قاعده موافق خیر مخفف په وخت کي د جمع مشدد ګرزي. او دمشدد د ګرزېدو څخه ورسته بیا جمع ځني جوړه سي.

سوال: دغه خبره صحی نه ده.ځکه معنی ددې قول"التکسیر کالتصغیر یرد الاشیاء الی اصولها " داده که چیرې په یو مفرد کي د یوه حرف په بل حرف سره بدلېدل را سي.او یا ددغه مفرد څخه یو حرف حذف سي نو دغه حرف په جمع کي راګرزی. لکه "میت،اموات"،او "شفة،شفاء"،او "میاه ماء". او د دغه قول معني دانه ده:که چیرې هیهت د یو مفرد متغیر سي لکه تشدیدیې په تخفیف سره بدل سي نو ددغه مفرد اصلي حالت په جمع کي راګرزي.(شرح للیامانی ۳۰۰/ج۱)؟

جواب: تشدید یو احترازي قید دی.او په دغه سره دخیر مخفف څخه احتراز راغلي دی. او په دغه کي هیڅ قسم ضرر نسته. ځکه د خَیّر مشدد استعمال په هغه چا کي شائع دی چي هغه په اخلاقو، دین او اصلاح کي کامل وي.او خیر مخفف استعمال په هغه چا کي شائع دی چي هغه په علاماتو کي د حسن ظاهري او په جمال کي کامل وي.(کذا فی المرزا قطبه ۳/ج۴). او د مقام سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته مناسب توصيف د صحابو په هغه شي سره دی چې په هغه باندې خير مشدد دلالت کوي.
كذا في الشرح للموسى ١ ٣٠١/ح١)

حاشيه نمبر٧:

سوال: "مهما" څه معنې لري؟

جواب: دی درې معناګاني لري. ١: مالايعقل غير الزمان مع تضمن معني الشرط: يعني هغه شي چې هغه عقل لرونکي نه وي او دغه شي پر ته د زماني وي او دغه "مهما" متضمن معني لره د شرط وي لکه په دې الهي قول کې "وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ (الاعراف 132) " ددې آيت معني داده "يقولون اي آية جئتنا بها ودلالة وحجة أقمتها رددناها فلا نقبلها منك ولا نؤمن بك ولابما جئت به. (تفسير ابن كثير)يعني کوم عجيبې شي چې ته موږ ته وړاندې کړې چې ته په هغه سره پر موږ جادو وکړې نو بيا هم موږ تا نه منو. (تفسير تهانوي رحمه الله)نو دلته "مهما" په معني سره د شي دی او دغه عقل لرونکي نه دی او پرته د زمانه دی. لهذا په دغه صورت کې د "مهما" په خبر کې درې قولَ دي. ١: صرف فعل شرط دې لکه په ذکر سوی آيت کې "تَأْتِنَا" دی.

٢: محض جواب د "مهما" خبر وی. لکه په دغه آيت کې "فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ".

٣: فعل شرط سره د جواب خبر دی لکه په ذکر سوی آيت کې " تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ".او په عبارت کې "يکن" تامه په معني سره "يوجد" دی.او فاعل د "يکن" هغه ضمير مستتر په "يکن" کې دی کوم چې راجع و "مهما" ته دی. او "من شيء" بيان لپاره د "مهما" دی. او فائده د دغه "من" بيانونه او عموم په "مهما" کې د فائده کولو لپاره دی.

سوال: دغه "من" زائد او "شيء" فاعل لپاره د "يکن" دی آيا دغه ډول عبارت صحت نه لري؟

جواب: دغه صحت نه لري ځکه خبر چې څه وخت جمله واقع سي نو په دغه صورت کې په جمله کې يو داسې شي ضروری دی کوم چې عائد و مبتدأ ته وی او په ذکر سوی صورت کې عائد و "مهما" ته وجود نه لري.او که چيرې په خبر کې عائد مقدر و ګرزول سي او شيء فاعل نو دغه تکلف دی کوم ته چې ضرورت نسته. لهذا تکلف هلته ترسره کيږي چيرې چې ضرورت وی نو په دغه وجه دلته "من" زائد نه دی بلکه بيانيه دی.

٢: زمانه او د شرط په معني سره راځي. ٣: د استفهام په معني سره راځي. (مغني اللبيب ٤٣٧/ج١)

حاشیه نمبر ۸:

سوال: د شارح دغه خبره "چې "اما" په ځای د مبتدأ او د شرط واقع ده" د هغه خبرې سره مخالفت لري کوم چې ده په احوالو کې د متعلقاتو د فعل په دې قول الهي کې "وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمَى عَلَى الْهُدَى (الفصلت ۱۷) "ذکر کړېده داډول چې اصل د "اما زيد فقائم" "مهما يكن من شيء فزيد قائم" ده. بيا شرط "يكن" حذف سوا و زيد ئې قائمقام سو. اوس دغه خبره په دې دلالت کوي چې "اما" فقط په ځای د "مهما" واقع سوي دی؟

جواب: د "اما" او د "فاء" ترمينځ چې کوم شي واقع کيږي دغه به د شرط معمول او يا د جزاء جزء وي. که چيرې اول سي نو بيا "اما" په ځای د "مهما" او د "شرط" ولاړه ده. او که چيرې دوم ډول سي نو بيا "اما" فقط په ځای د "مهما" واقع دی. لهذا دغه ذکر سوې خبره بناء په اول ده. او هغه خبره چې په متعلقاتو کې د فعل ذکر سوې ده هغه بناء پر دوم تقدير ده.

حاشیه نمبر ۹:

دلته شارح رحمه الله دغه خبره ښئي چې "اما" په اصل کې "مهما" نه و چې بيا د هغه څخه داډول بدل سو چې د ميم اول "مهما" او د هاء "مهما" ترمينځ قلبِ مکاني سو داډول چې ميم د هاء پر ځای او هاء د ميم پر ځای ودرېده. نو "ممما" جوړ سو بيا ميم په ميم کې مدغم سو نو "مَمَا" جوړ سو بيا هاء په همزه سره بدلَ سوه نو "أَمَا" ځني جوړ سو.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: په دغه عبارت کې "موقع اسم" د اسم څخه څوک مراد دی؟

جواب: دلته مراد د اسم څخه "مهما" مراد دی.

سوال: په دغه خبره باندې څه دليل دی چې "مهما" اسم دی؟

جواب: و ده ته ضمير راجع کيږي (او حرف په حيث د حرف ته ضمير نه راجع کيږي بلکه و اسم ته راجع کيږي) لکه په دې الهي قول کې "وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ (سورة الاعراف:132)" په دغه آيت کې صاحب مغني اللبيب فرمايي: د "به" او "بها" ضمائر و "مهما" ته راجع دی. نو دغه علامت د اسميت د "مهما" ده.

حاشیه نمبر ۱۱:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: "الازم للمبتدأ" به ددو حالو څخه خالي نه وي، صفت لپاره د اسم وی، او یا به لپاره د لصوق وي. او یو لا هم صحی نه دی. داول د نه صحت وجه داده چې اسم نفس ماهیت د مبتدأ دی. او مبتدأ لره پرته د اسم بل داسي حقیقت نسته چې د هغه سره اسم لازم وي. او ددوم د نه صحت وجه داده چې لصوق د اسم د مبتدأ سره لازم نه دی. ځکه ډیر ځلي مبتدأ بېله لصوق د اسم استعمالیږي لکه "زید قام"؟

﴿فائده﴾: بیان د معنی د لصوق: لصوق لره د اسم دوي معناګاني سته.

۱): بېله فصل یو فرد د اسم واقع کېده ورسته تر هغه شي چې د هغه سره د غه اسم ملاصق وي.

۲): د اسماؤ د مفاهیمو دخپلو مصداقونو سره لصوق دی. لکه د عنوان د کلمه "تدل علی معنی فی نفسها غیر مقترن باحد الازمنة الثلثة" لصوق د زید، عمر او پرته د دوی سره چې هغه لاندي تر د غه مفهوم وي. او د غه دول لزوم په دوه قسمه دی.

۱): د معروض سره د عارض لزوم. لکه د انسان سره د ضحک لزوم.

۲): د خاص سره د عام لزوم. لکه د انسان سره د حیوان لزوم. انتهی ما فیه الفائدة.

جواب: دغه دواړه تقدیرونه صحی دی. د اول د صحت وجه داده چې د مبتدأ سره د اسم لزوم د دوم قسم څخه د لزوم دی. او ددوم د صحت وجه داده چې مراد د مرجع "د الصوق لفظ" څخه اول معنی د لصوق ده. او مراد د راجع څخه "هغه ضمیر چې په اللازم کې مستتر دی" دومه معنی د لصوق ده.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: د "ما کان" څخه په دې عبارت کې "لحق ما کان" څه مراد دی؟

جواب: دلته د "ما کان" څخه شرط او مبتدأ مراد ده. نو معني داسوه چې حق د مبتدأ او د شرط ادا سي.

سوال: د شرط او مبتدأ حق څه دي؟

جواب: د شرط حق "فاء" راتلنه پر جزاء باندی ده. او د مبتدأ حق اسم راتلنه ده.

سوال: د دې قول څخه "ابقاء له" څه مراد دی؟

جواب: مراد دادی چې شرط او مبتدأ باقي پاته سي.

سوال: "بقدر الامكان" څخه څه مراد دی؟

جواب: مراد دادی چې شرط سره فاء په ابتدأ کې د جزاء راتلنه لازمَ ده او د مبتدأ سره اسمیت لازم دی. ځرنګه دلته "اما" معنې لره د ابتداء شاملَ دی په دغه وجه تر ده ورسته متصل د اسم راوړنه لازمَ و ګرزېده او دغه ډول "اما" معنې لره د شرط متضمن ده په دغه وجه تر ده ورسته د فاء راوړنه لازمَ و ګرزېده. لهذا مبتدأ من وجه په اعتبار د لازم چې ورستنی اسم دی باقي پاته اده او دغه ډول شرط من وجه په اعتبار د فاء هم باقي پاته دی.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: "لما" څه وخت ظرفیه په معنې سره د "اذا" وی؟

جواب: څه وخت چې تر دې ورسته دوې جمله واقع سوی وی.

سوال: که چیرې تر دې ورسته دوې جمله نه وې نو بیا په څه معنې سره راځي؟

جواب: کله په معنې سره د "لم" راځي لکه په دې قول کې "ندم زَيْدٌ و لمايَنفعهُ" یعنې زید پښېمانَ سو مګر دغه کوم ګټه ده ته و نه رسول. او کله بیا په معنې سره د "الا" وی لکه په دې قول کې "اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْها حافِظٌ.(الطارق:۴)" یعنې نه دی یو نفس مګر هغه لره محافظ وی.

(لمَّا) الاستثنائيّة: من أوجه (لمّا) أنها ترد حرف استثناء، فتدخل على الجملة الاسمية، كما في هذه الآية ﴿إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْها حافِظٌ﴾ كما تدخل على الماضي لفظا لا معنى، نحو: أنشدك اللّه لمّا فعلت أي ما أسألك إلا فعلك.

إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْها حافِظٌ (4) إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا «1» عَلَيْها حافِظٌ قراءة أبي عمرو ونافع والكسائي، وقرأ أبو جعفر والحسن إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْها حافِظٌ (4) قال أبو جعفر: القراءة الأولى بيّنة في العربية تكون ما زائدة و «إن» مخففة من الثقيلة هذا مذهب سيبويه، وهو جواب القسم، والقراءة الثانية تكون «لمّا» بمعنى إلا عليها. قال أبو جعفر: حكى سيبويه «2»-، أقسمت عليك لمّا فعلت، بمعنى الا فعلت.

حاشیه نمبر ۱۴:

پر جزاء د "لما" کله کله فاء راځي او کله بیا نه وی دغه کله ماضي وی او کله بیا مضارع په تأویل سره د ماضي وی لکه "لما لم يكن زيدٌ قائماً اكرمتُكَ" یعنې څه وخت چې زید ولاړ سوی نه و نو ما ستا اکرام وکړی. او کله بیا جمله اسمیه وی مګر مدخول د "اذا" وی.

حاشیه نمبر ۱۵:

سوال: "لما" اسم او که حرف دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دغه اسم دی ځکه دغه "لما" په معنې سره د "اذا" دی. ځکه لکه څرنګه "اذا" لپاره ظرف واقع کیږی دغه ډول "لما" هم لپاره د ظرف واقع کیږی. او "اذا" اسم دی نو دغه ډول "لما" هم اسم دی ځکه د الفاظو مدار په اعتبار د حرفیت او اسمیت پر معنا ګانو دی نو ددوی دواړو معنې یوه ده او یو ددوی څخه اسم و نو دغه دلیل د هغه بل پر اسمیت هم دی.

حاشیه نمبر ۱۶:

سوال: مراد ددې قول "علم البلاغة" څخه به معنی علمي او یا اضافي وي. اوله په دې وجه سره صحی نه ده چې شارح کوم تفسیر دعلم بلاغت کړې دی "هو علم المعانی و البیان" هغه که څه هم صحی دی مګر ددې قول "و توابعها" عطف پر بلاغت باندې او دغه ډول و بلاغت ته ضمیر راجع کول صحی نه دی. ځکه جزء لره د علم یو داسې مستقل معنی نه وي چې دغه په مقام کې د عطف اودضمیر دراجع کیدولو په وخت کې معتبر او لحاظ سي. او ددوم د نه صحی والي وجه داده چې عطف که څه هم صحی دی مګر د شارح تفسیر صحی نه دی. ځکه هر هغه شي چې د ده د بلاغت سره تعلق وي دغه خبره په نحو او صرف باندې هم صادقیږي. نو بیاد "ما له التعلق بالبلاغة" خاصول تر علمینو پورې دغه لره وجه نسته؟

جواب: دلته د "علم البلاغة" څخه معنی اضافي مراد ده. او د "علم البلاغة" "معنی اضافي داده "علم له زیادة دخل بالبلاغة بان کان دَوَن لاجلها" (هغه علم چې د لره د بلاغت سره زیات تعلق وي داډول چې دده د وجې دده تدوین وسی). او دغه معنی پرته د دغو دوو فنونو بل چا ته شامل نه ده. نو اوس تفسیر د شارح صحی سو.

حاشیه نمبر ۱۷:

سوال: دشارح ددې عبارت څخه "علم توابعها" ښکاره دا معلومیږی چې دلته "علم" مضاف او "توابعها" مضاف الیه دی. لهذا مضاف حذف او مضاف الیه پر ځای ودرېدی. او اصل عبارت داډول دی "علم توابعها". نو په دغه صورت کې دغه عطف پر دې عبارت "علم البلاغة" دی. لهذا تقدیر د عبارت دا جوړیږی "علم البلاغة و علم توابعها". او حال دا چې دغه صحت نه لری، ځکه د مرجع او ضمیر ترمینځ موافقت نه راځي ځکه د مصنف په دې عبارت کې "اذ یه یعرف" ضمیر د

مفرد او مرجع یې دوه شیان دي"۱: علم البلاغة.۲: علم توابعها".لهذا د مرجع او ضمیر تر مینځ موافقت نه راغلي کوم چې باطل دی؟

جواب: "توابعها" پر "علم البلاغة" باندې په تقدیر سره د مضاف عطف نه دی چې بیا ستاسو اعتراض وارد سي بلکه دغه عطف پر "البلاغة" دی نو علم و "البلاغة" او دغه دوول " توابعها" ته مضاف دی. نو ضمیر د "ها" راجع و "علم" ته دی،او دغه مفرد دی نو د ضمیر او مرجع تر مینځ موافقت راغلي.نو د"علم" په وینا سره محض شارح دا خبره ښئي چې دغه پر "البلاغة" عطف دی او هغه مضاف و "توابعها" ته دی دلته مستقل مضاف مقدر نه دی.

حاشیه نمبر ۱۸:

سوال: "قدراً" ولي منصوب دی او د نصب وجه یې څه ده؟

جواب: دغه تمیز دی او ابهام د هغه نسبت څخه لرې کوي کوم چې د اجل و علوم ته سوی دی او دغه معناً فاعل دی. اصل عبارت داډول دی"من طائفة علوم اجل قدرها من العلوم" یعني علم البلاغة او دده توابع د یو ټولې څخه د علومُ دده قدر او مرتبه تر ددغه ټولې تر پاته افرادو غټه ده. او دغه ډول " سراً" هم دی نو عبارت دا جوړیږي من طائفة علوم ادق سرها من العلوم"یعني ددغه ټولې تر پاته افرادو دده رازونه باریک تره دی.

﴿فائده﴾ :تصحی د حاشیه: تمیز من نسبة الاجل الي العلوم مزال عن الفاعل أي من طائفة علوم أجل قدرها من العلوم وكذا قولهسرا أي من طائفة علوم أدق سرها من العلوم ولا يلزم عمل اسم التفضيل في الظاهر ،

حاشیه نمبر ۱۹:

سوال: موږدا خبره نه منو چې محض په علم البلاغة او دده په توابعُ سره دقائق د عربیت او اسرار د عربیت معلومیږي ځکه عرب په خپله دغه دقائق او اسرار په خپل ذوق سره معلوموي لهذا دا معلومَ سوه چې برته د دغه علومُ هم دقائق معلومیږي. نو اوس کوم حصر چې د تقدیم څخه د "به" معلومیږي دغه صحت نه لري؟

جواب: دلته حصر حقیقي نه دی یعني چې محض په دغه علم البلاغة او توابع سره دقائق معلومیږي نه په بل څه سره دغه مقصد نه دی بلکه دلته حصرِ اضافي مراد دی یعني بالنسبت و

Maktaba Tul Ishaat.com

نورو علو مو ته دقائق د عربیت صرف په دغه علم البلاغة سره معلومیږی نه په بل علم سره، لهذا دلته حصر بالنسبت د نورو علو مو ته دی.

حاشیه نمبر ۲۰:

سوال: "فیکون" تفریع کول صحی نه دی. ځکه دقت د معلوم دقت لره د علم لازم دی نه ادقیت لره د علم؟

جواب: دغه قول "فیکون" عطف پر دې قول "اذ به یعرف الخ" په وخت کې د ضمیر ولو د یو مشهور مقدمې "ان دقائق العربیت ادق دقائق العلوم" دی که څه هم دغه مقدمه ادعائي ده. او دغه مقدمه: مشهور والي د وجې په عبارت کې دشارح محذوفه ده. اوتقدیر دعبارت دا دول دی "اذ به یعرف دقائق العربیة واسرارها التی هی من ادق الدقائق". نو اوس تفریع صحی سوه. (شروح التلخیص ۵۱/ج۱)، (الشرح للعالمی ۳۲۰/ج۱)

حاشیه نمبر ۲۱:

په دې عبارت کې څو تحقیقه دی.

اول: بیان د برهان: برهان په دوه قسمه دی.

اول: لمي: ددې دوه تعریفه سوي دي.

۱): حد اوسط ذهناً اوخارجاً علت لپاره د ثبوت د محمول لپاره د موضوع وي. (شرح العقائد ۱۷/ج۱۰)

۲): هر هغه دلیل چې واسطه په حصول کې د تصدیق په ثبوت د محمول لپاره د موضوع اویا په سلب سره د محمول د موضوع څخه وي. او معلومول د سبب د نسبت د محمول و موضوع ته هم فائده کوي.

دوم: انی: ددې دوه تعریفه سوي دي.

۱): حد اوسط ذهناً علت لپاره د ثبوت د محمول لپاره د موضوع وي. (شرح العقائد ۱۷/ج۱۱)

۲): محض واسطه په حصول کې د تصدیق په ثبوت سره د محمول لپاره د موضوع وي. (کذا فی الشرح للبامیانی ۳۲۴/ج۱) فان اشتهیت زیادة التفصیل فارجع الی شرحی لبدیع المیزان المسمی بمعصوم البیان. فتجد هناک زیادة التفصیل.

دوم: سوال: اعجاز خاصول د معرفت سره د علم البلاغت صحی نه دی. ځکه د قرآن د اعجاز پیژندنه لکه څه ډول په علم البلاغة سره رائي ډغه ډول په علم کلام سره هم رائي؟

جواب: اعجاز د قرأن د اعلی مراتبو څخه د بلاغت د کمډولو پیژندنه د علم بلاغت په توسط په طریقه سره د دلیل لمّی معلومیږي داډول چي د قرآن اعجاز په علم بلاغت سره معلومیږي. اودقرآن داعجاز سبب د قرآن مشتملوالي په داسي خصوصیاتو باندي دي چي هغه لوړوالي لره دشان دقرآن واجبونکي دی. دقرآن داعجاز په علم بلاغت سره دمعلومېدو وجه داده چي علم البلاغة ضامن لپاره دبیان داحوالو دمقتضیاتو او د مقام سره د مناسبو اعتباراتو دی. هغه اعتبارات او احوال چي کلام ددوی د رعایت کولو په وجه سره د غیر څخه ممتاز ګرزي. او په ډغه بلاغت سره دا معلومیږي چي قرآن په هغه خواصو باندي مشتمل دی چي هغه د بشر د قوت څخه و تلي دي. او ددغه څخه د قرآن په غایت درجاتو کي د بلاغت کېده لازمیږي. نو کلام معجز سو. او په علم کلام سره د برهان "انّي" په طریقه سره د قرآن اعجاز او بلیغ والي معلومیږي. او په ده سره سبب ددې خبري چي قرآن د کوم شي د وجي څخه معجز دی نه معلومیږي. ځکه علم کلام ضامن د بیان د هغه خصوصیاتو نه دی چي هغه لوړوالي لره د شان د کلام واجبونکي وي. او په دې قول سره د مصنف "و به یکشف" بیان د کشف په طریقه سره د برهان لمّي دی نه په طریقه سره د انّي. (المفصل ۳۲۵/ج۱)

صفحه نمبر ۱۲:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

وجلالة العلم جلالة المعلوم وغايته فان قيل كيف التوفيق بين ما ذكرت
ههنا وبين ما ذكرت في المفتاح من ان مدرك الاعجاز هو الذوق وليس الا
ونفس هجر الاعجاز مما لا يمكن كشف القناع عنها فلما تعنى كلما ذكرته بيد ان
بيد لا يمكن وصفه كالملاحة وقد صرح بهذا وذكر ههنا ما يدل على انه يمكن وفي
الى دليل على انه قابل لذلك بهذا العلم وفي البرهان الكاشف عنه الا بعض من العلوم
وليس كذلك حقيقة حتى يرد الاعتراض عليه بان المعرف قد ان يجب السليقة
وقد اشير الى هذا في مواضع من المفتاح كقوله في علم الاستدلال وجملة ما ذكر من
جنس الفصاحة والبلاغة لا طريق الى العلم بها الا طول خدمة هذين العلمين وتتبع مواقع
الاصل بهذا العلم الاصول كشف القناع عن وجه الاعجاز من هذين العلمين وانما لا يمكن
بيان وجه الاعجاز وذلك لتعذر تحقيقه لامتناع الاحاطة بهذا العلم لغير علام الغيوب
فلا يدخل كليه بلاغة القرآن الا تحت عالم الشامل كما ذكر في المفتاح وتشبيه
وجه الاعجاز في النقول الاشياء المحسوسة بحسب الاستدراك استعارة بالكناية
واثبات الاستدراك لها استعارة تخييلية وذكر الوجوه ايهاما او تشبيه الاعجاز
بالصور المحسوسة استعارة بالكناية واثبات الوجوه استعارة تخييلية وذكر
الاستدراك ترشيح وجريا في هذا على اصطلاح المصنف في القرآن تعالى بمعنى
مفصول جعل اسما للكلام المنزل على النبي عليه السلام ونظمه تاليف كلامه
مزية للعالي سذاقة الذوق السليم يقتضيه ما يقبل الاقوال في الطعن
ومنع بعضها الى بعض في الفنون ثلاثي نظر الحكم فانه قوانين الطعن مرتبة اعتبار
بحسب تقتضيه العقول حتى يوقيل مكان ضرب بعض الادبي الى فساد وليس الاعجاز
بهجر الالفاظ والا لما كان الطاعنون العلمين مدخل فيه لانهم الا تصاروا بنفس
الالفاظ فلا تتصور النظم على الالفاظ وكان قد استعار الطيف وما شاكله الى ان

ترجمه

که چیرې وویل سي: موافقت به څرنګه دلته د ذکر سوی شي د هغه څه سره راسي کوم چې په مفتاح العلوم کې ذکر سوی دی، هغه دادی: داعجاز ادراک کونکي ذوق دی او پرته دده بل څه نه دی. او لرې کول د پردو پخپله دمراتبو څخه داعجاز ممکن نه دی؟ **موږ وایو**: د سکاکي د کلام مطلب دادی چې داعجاز ادراک په ذوق سره کیږي. او داعجاز د وصف بیانونه ممکنه نه ده لکه دملاحت، او په دغه سره سکاکي تصریح کړې ده. او څه چې دلته ذکر سوه هغه په دې دلالت نه

کوي چي د اعجاز د وصف ادراک کېدای سی. بلکه په دې دلالت کوی چې د اعجاز ادراک په دغه علم سره کېدا ی سي که څه هم دغه په هغه ذوق سره وی کوم چې ددغه علم څخه تر لاسه سوی وی. نه په نورو علومو سره .او دلته حصر حقیقي نه دی حتی چې بیا پر دغه اعتراض وارد سي چې عرب دغه په اعتبار د خپلې سلیقې پیژني.اوو دغه ته دمفتاح العلوم په څو خایونو کې اشاره سوېده لکه د علامه سکاکي قول په علم منطق کې:مرتبه د اعجاز د فصاحت او د بلاغت د جنس څخه ده او ودغه اعجاز ته پرته ددغه دوو علومو دیو اوږدني خدمت کونې سېوا بله لار نسته.اوبل څای یې بیا ویلې دي: ورسته تر حصول د علم الاصول لری کونکي د پردو د مرابتو څخه د اعجاز پرته ددغه دوو علومو بل څه نه دی. هو،د اعجاز د مرتبې بیان او ادراک د اعجاز په اعتبار د حقیقت نه سي کېد ای.ځکه احاطه کونه په خواصو او لطائفو ددغه علم پرته د الله بل چا لره ممکنه نه ده.نو د بلاغت د قرآن حقیقت پرته د الله بل څوک څه سي پېژندای. لکه دغه خبره په المفتاح کې ذکرسوېده. په نفس او ذهن کې د اعجاز د مراتبو تشبیه ورکونه د هغه شیانو سره کوم چې لاندی تر پردو پټ دي استعاره بالکنایه ده،اود استارو ثابتول و دوی ته تخیلیه ده. او د وجوه ذکر کونه ایهام دی. اویا تشبیه.د اعجاز د بنابستنه صورتونه سره مکنیه ده اودوجوه ثابتونه تخیلیه ده، او د استارو ذکر کونه ترشیحیه ده. او په دغه کې مور په اصطلاح د مصنف تګ کړی دي. اوقرآن پر وزن د فعلان په معني سره د مفعول دی . او بیا د هغه کلام لپاره نوم و گرزول سوکوم چې په علیه السلام را نازل سوی دی. اود قرآن نظم یو څای کونه د کلماتو د قرآن ده دادول چې معناګاني یې په ترتیب سره وی او د هغه څه موافق دلالت کونکي وی د کوم چې عقل تقاضی کوی. او یوځای کونه په خبرو او بعض د کلمو څخه ونورو بعضو ته چې څرنګه هم وی ضمولو ته نه ویل کیږی. په خلاف د حروفو نظم. ځکه دغه یو څای والي د حروفو په خبرو کې دی ببله معتبرولو د هغه معنی د کومې چې عقل تقاضی کوی. حتي چې د "ضرب" پر څای ربض وویل سي. نو دغه به وفساد ته رسیږی. او اعجاز محض په الفاظو سره نه وی. که چیرې دغه دول وای نو بیا به ددغه دوو علومو لطائفولره په اعجاز کې دخل نه وای. ځکه ددغه علومو لطائفو تعلق د نفس الفاظو سره نه نسي په دغه وجه مصنف نظم پر څای د لفظ خپل کړي. او ځکه په دغه کې یو باریکه استعاره اواشاره و دې ته ده چې د قرآن الفاظ لکه ملغلری داسي دي .

تشریح

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: دمصنف کتاب د درېیم قسم څخه د مفتاح العلوم اخیستل سویدی. نو په کار دادی چې دغه کتاب د مفتاح العلوم سره موافق وی،او حال دا چې دغه د مفتاح العلوم څخه مخالفه په څو وجو سره دی؟

اول: علامه سکاکي ادراک د اعجاز په ذوق کي منحصره کړی دی یعني د اعجاز مدرک محض ذوق دی او مصنف رحمه الله بیا ادراک د اعجاز په علم البلاغت کي منحصره کړی دي.

دوم: علامه سکاکي د اعجازد وجوه څخه د پردو لری کولو ممکن والی نفي کړي دي،او مصنف رحمه الله دغه کار په علم بلاغت سره تر سره کونه ثابته کړیده (و به یکشف).

دریم: د علامه سکاکي د خپلو کلامونو تر مینځ تضاد تر سره سوی دی داډول چې ده یو ځلي وویل: د اعجاز ادراک په ذوق سره تر سره کیږی(ان مدرک الاعجاز هو الذوق) او د آخر څخه ددده دکلام بیا دا معلومیږی چې د اعجاز د وجوه څخه د پردې لری کول ممکن نه دی(ونفس وجه الاعجاز مما لا یمکن کشف القناع)؟

جواب: دلته دوه شیان دي. ۱: اجمالاً د اعجازادراک کونه .۲: تفصیلاً د اعجاز ادراک کونه داډول چې د هغه تفصیل او وصف بیان سي . لهذا د اعجاز ادراک اجمالاً کېدای سي نه تفصیلاً نو سکاکي چې د ادراک خبره کړیده هغه په طریقه د اجمال ده او نفي چې کړی دي هغه یې د تفصیلي طرقې د حصول کړی دی(لهذا دوم عبارت د سکاکي بناء په حذف د مضاف دی: لایمکن وصف کشف القناع..). لهذا د اعجاز داډول ادراک نه سي کېدای چې د هغه حقیقت بیان سي د مثال په توګه په بلیغ کلام کي شیریني وی ،اوس ددغه ادراک کېدای سي مګر ددغه بیان نه سي کېدا ی چې دغه څومره ده اوپه څه انداز سره ده.لهذا د سکاکي د کلامو تر مینځ تضاد پاتې نه سو.

سوال: په دغه توجیه سره علامه سکاکي راضي به نه وي بلکه دغه به د خپله ځان څخه جوړه سوې توجیه وی؟

جواب: نه هیڅ کله خبر دغه ډول نه ده بلکه په دغه سره علامه سکاکي راضي دی ده په خپله ددغه خبری تصریح اووضاحت کړی دي چې:شان الاعجاز عجیب یدرک و لا یمکن وصفه"یعني د اعجاز شان عجیبه دی دده ادراک کېدای سي مګر دده د وصف بیانونه ممکنه نه ده.

دوم: و ماذكرهما لايدل على انه لا يمكن: علامه سكاكي چې کومه خبره کړيده چې پردې لرې کول ممکن نه دی ددې مطلب دادی چې د اعجاز تفصيلي بيان نه سي کېدلای. او مصنف چې ثابت کړی دي هغه يې اجمالي ادراک ثابت کړی دي لهذا اجمالي ادراک د اعجاز کېدای سي نه تفصيلي.

ولو بالذوق المكتسب عنه: دلته دوه شيان دي. ۱: ذوق سليم. ۲: علم البلاغت. لهذا د اعجاز ادراک په ذوق سره کيږی او دغه ذوق کله په دغه علم البلاغت سره تر لاسه سوی وی او کله بيا بېله دغه علم تر لاسه سوی وي لکه عربو ته. نو سکاکي ادراک په دغه ذوق کي حصر کړی نو دغه حصر بېله کوم واسطې دی. او مصنف رحمه الله بيا په دغه علم کي بالنسبت و نورو علومو ته حصر کړی دی، نه بالنسبت و ذوق ته يعني دغه اداراک په علومو کي محض په علم البلاغت سره تر لاسه کيږی نه په بل علم سره. نو حصر د سکاکي حقيقي او د مصنف دا غير حقيقي دی. لهذا خلاصه داسوه چې ادراک په ذوق سره کيږی عام تردې په علم البلاغت سره دغه ذوق تر لاسه سوی وی او که نه وی (لکه عربو ته) او ددغه څخه مصنف انکار کړی نه دی. او ادراک ددغه په علم البلاغت سره تر لاسه کيږی مګر نه مطلقا بلکه په واسطه سره د ذوق او ددغه څخه سکاکي انکار کړی نه دي.

سوال: د مصنف دا خبره صحی نه ده چې د اعجاز ادراک په دغه علم البلاغت سره کيږی نه په بل سره ځکه ددغه ادراک په ذوق او سليقه سره هم کېدلای سي؟

جواب: و ليس الحصر حقيقيا: دغه حصر حقيقي نه دی يعني بالنسبت و ټولو اغيارو ته ددغه علم نه دی بلکه بالنسبت و پاته علومو ته دی يعني محض په دغه علم سره ادراک کيږی نه په بل علم سره.

سوال: ددغه په هکله علامه سکاکي څه وينا کړيده ده؟

جواب: وقد اشير الى هذا: سکاکي هم د مصنف غوندی خبره کړيده: ده په علم المنطق کي ويلي دي: مرتبه داعجاز يو شي دجنس څخه د فصاحت او بلاغت دی او دغه پرته ددغه دوو علومو (معاني و بيان) د اوږد خدمت کوني نه سېوا نه سي تر لاسه کېدای.

۲: تر علم اصول څخه ورسته د اعجاز د وجوه څخه پرده لرې کونکي زيات تر دغه دوو علومو بل نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: لا علم بعد علم الاصول اکشف القناع: دد غه عبارت څخه دا معلومه سوه چې علم الاصول هم لرې کونکي د پردود وجوه څخه د اعجاز دی نو بیا حصر کونه د لرې کولو د پردو په دغه دوو علومو (علم المعاني او بیان) کې بالنسبت نورو پاتو علومو ته صحت نه لرې؟

جواب: دلته د **بعد** څخه ورسته والي په اعتبار سره د زماني مراد دی یعني ورسته په اعتبار د زماني وی. او د **بعد** متعلق **اکشف دی** .او علم الاصول په تقدیر د مضاف دی (**تحصیل علم الاصول**) نو اصل عبارت دا سو: **ان هذین العلمین انما یکشفان بعد تحصیل علم الاصول**" یعني د علم اصول و لاس ته راوړني ورسته دغه دوه علومه کشف راولي. او مطلب دا نه دی چې خپله په علم اصول سره کشف رائي: اود علم اصول څخه علم الکلام، لغت، نحو وصرف مراد دي او په دې کې شک نسته چې اصل معني د کلام و لاس ته راوړلو کې د دغه علومو دخل وی ،نو په اول سره اصل معني لاس ته رائي ورسته تر هغه بیا کشف رائي. نو اول معني لاس ته راوړل په علم الاصول سره کیږی او کشف بیا په دغه دوو علومو سره تر سره کیږی.

سوال: د مصنف په دې قول کې "**حصل وجوه الاعجاز**" د وجوه اضافت و اعجاز ته صحت نه لرې ځکه وجوه د "وجه" جمعه ده او وجه و مخ ته ویل کیږی. او مخ پر ته د بدن بل څه لره نه وی نو بیا اعجاز لره دغه څه ډول ثابت سوی دی؟

جواب: و تشبیه وجوه الاعجاز: دلته کلام په **حقیقت** باندی بناء نه دی بلکه دلته بناء پر مجاز دی دا ډول چې دلته تشبیه د اعجاز د هغه شیانو سره ورکول سوېده کوم چې لاندی تر پردې وي. لهذا مصنف مشبه او اعجاز مشبّه او هغه تر پردې لاندې شیان مشبّه به او علاقه د تشبیه ښه والي دي لکه څه ډول اعجاز اعلی دغه ډول هغه شیان هم اعلي دي (په دغه وجه دوی لاندی تر پردې هیڅول کیږی) نو دلته ذکر مشبه او مراد هم مشبه ده نو دغه استعاره بالکنایه ده او لازم د مشبه به چې وجه ده ثابت سو ی لپاره د مشبه دی نو دغه تخیلیه ده .او ذکر کونه د وجوه په طریقه د ایهام دی (هر هغه شي چې هغه لره دوې معناګاني وي یوه ژندې او بله لرې وی او د دغه لفظ څخه هغه لرې معنی مراد وی نو دغه ته ایهام ویل کیږی دلته هم وجه لره یوه ژندې معني سته چې هغه مخ دی او بله بیا لرې معنی سته چې هغه لار او طریقه او مرتبه ده نو دلته مراد طریقه او مرتبه مراد ده ده) نو معني دا

سوه: په دغه علم البلاغت سره دلارو او مرتبو څخه د هغه شیا نو پردې لری کیږی کوم چې په نظم کې د قرآن پټ دي. نو اوس سوال دا دفعه سو.

دوم جواب: او تشبیه الاعجاز: د مصنف کلام بناء پر مجاز دی نه پر حقیقت. دا اول مصنف د اعجاز تشبیه د ښائستو شیانو سره ورکړیده نو مصنف مشبه او اعجاز مشبّه او ښائسته شیان مشبّه به او علاقه د تشبیه ښوالي دی نو ذکر مشبه او مراد هم دی دي نو دغه مکنیه ده. اولازم د مشبه به چې وجه ده ثابت لپاره د مشبه دی دغه تخیلیه ده. او مناسب د مشبه به چې پرده ده ثابت لپاره د مشبه سو ی دی دغه ترشیحیه ده. نو د عبارت معني دا سوه: په دغه علم البلاغت سره د هغه ښائستو شیانو د مخانو څخه پردې لری کیږی کوم چې په نظم کې د قرآن وجود لري.

سوال: په دې قول کې د مصنف "نظم القرآن" اضافت د نظم و قرآن ته صحت نه لری ځکه قرآن په معنی سره د قرأت او د وینا دی لکه څرنګه چې خالق حقیقي فرمایي: فاذا قرأنه فاتبع قرآنه" او نظم د قرأت نه وی؟

جواب: قرآن فعلان: قرأن پر وزن د فعلان په معني د مفعول دی یعني تلاوت سوی نو اوس اضافت صحی سو ځکه نظم و هغه شي لره ثابت وی د کوم شي چې قرأت او وینا کیږی.

سوال: اضافت د نظم و قرآن ته هغه وخت چې قرآن په معني سره د مقروء سي هم صحی نه دی ځکه مقروء عام دی لکه څه ډول و قرآن پاک ته شامله دی دغه ډول پرته دده و نورو کتابونو ته هم شامله دی مګر دلته نظم محض د قرآن مراد دی نه د نورو. نو قرآن عام و غیر مقصود ته شامله سو. نو مقصود ترلاسه نه سو؟

جواب: ثم جعل اسما: قرآن په معنی سره د مقروء نوم لپاره د هغه کلام و ګرزېدی کوم چې په علیه السلام باندی را نازل سوی دی. لهذا دلته د قرآن څخه هم محض کلام الهي مراد دی نه بل څه.

سوال: نظم په لغت کې "په سپنسي اوتار سره د ملغلرو پیودل او یو ځای کولو ته ویل کیږی. نو په دې قول کې د مصنف "نظم القرآن" صحی نه دی ځکه الفاظ د قرآن ملغلری نه دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: نظمه تأليف کاماته دلته نظم په معنې لغوي سره مراد نه دی چې بيا اعتراض وارد سي بلکه په معنې اصطلاحي سره مراد دی: د کلماتو داسې يو ځای کوونه ... نو اوس اعتراض دفعه سو.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

سوال: مراد د معلوم څخه دلته کوم شي دی؟

جواب: دوه شيان د معلوم څخه مراد يږی. او د دوی اطلاق پر دو شيانو تر سره کيږی. ۱: مسائل. ۲: موضوع د مسائلُ.

سوال: د علم البلاغة د مسائلُ محمولات څوک دي؟

جواب: دقائق او اسرار د عربيت دي. لهذا د علم البلاغة د مسائلُ محمول دقائق او اسرار د عربيت وي. او دغه دقائق او اسرار و دقائقُ او اسرارُ ته د قرآن هم شاملَ دي ځکه قرآن هم عربي دی. او موضوع د علم البلاغة لفظ عربي په دې حيث سره دی چې دی مطابق د مقتضي سره د حال وی. او په دغه کي قرآن هم شاملَ دی ځکه د قرآن الفاظ هم عربي الفاظ دي. لهذا علم البلاغة په اعتبار د موضوع او محمول اعلي او افضل دی ځکه موضوع او محمول يې دواړه و قرآن ته شاملَ دي.

حاشيه نمبر ۲:

سوال: "فان قيل كيف التوفيق" په دغه کلام سره و کوم شي ته اشاره ده؟

جواب: په دغه سره و دي خبری ته اشاره ده چې د مصنف اود علامه سکاکي د کلامونو تر مينځ تناقض وجود لری. او دغه په دوه ډولُ سره دی.

اول: علامه سکاکي ادراک د اعجاز په ذوق کي منحصره کړی دی يعني د اعجاز مدرک محض ذوق دی او مصنف رحمه الله علم البلاغة کاشف د وجه الاعجاز ګرزولي دي بلکه مصنف رحمه الله د وجه الاعجاز کشف په علم البلاغة کي حصر بللي دي.

دوم: علامه سکاکي د اعجاز د وجوه څخه د پردو لری کولو ممکن والی نفي کړي دي. او مصنف رحمه الله دغه کار په علم بلاغت سره تر سره کونه ثابته کړيده (و به بکشف).

حاشيه نمبر ۳:

د سکاکي ددې کلام (ان مدرک الاعجاز هو الذوق) څخه مقصد دا دی چې د اعجاز ادراک په ذوق سره کیږی. او ددې کلام (ونفس وجه الاعجاز مما لا یمکن کشف القناع) څخه مقصد دا دی چې ددغه وجوه د اعجاز بیان او وصف بیانونه نه سي تر سره کېدای . خلاصه داسوه چې د اعجاز د وجوه ادراک کیږی مګر بیانونه یې نه سي کېدای لکه خوږوالي. ددغه ادراک کېدای سي مګر ددغه د کیفیت او وصف بیان تر سره کېدای نه سي. نو اوس تناقض دفع سو.

حاشیه نمبر۴:

سوال: د علامه سکاکي ددو کلامونو تر مینځ تعارض راغلي. ۱: لا علم بعد علم الاصول اکشف القناع من هذین علمین، ددغه څخه دا معلومیږی چې علم البلاغة او دده توابع د وجوه څخه د اعجاز پردې لرې کونکي دي. ۲: نفس وجه الاعجاز مما لا یمکن کشف القناع،اوددغه عبارت څخه دا معلومیږی چې د وجوه الاعجاز څخه پردې لرې کونه ممکن نه ده. لهذا مخکې یې د پردو لرې کونه ثابت او په ددغه دوم کلام کې یې نفي وکړې، او دغه پرته د تعارض بل څه نه دی؟

جواب: په اولنې عبارت کې د کشف نسبت و علم البلاغة ته سوی دی ، او ددغه څخه مراد داد ی چې د وجوه الاعجاز ادراک په توسط سره دعلم البلاغة راتلای سي او ددغه څخه دا نه معلومیږی چې په علم البلاغة سره د وجوه الاعجاز وصف هم بیانېدای سي.او ددوم قول څخه مراد نفي د بیان او د وصف دی. لهذا د کلامونو تر مینځ تضاد نه راغلي. نو ددواړو کلامونو خلاصه داسوه چې د وجوه الاعجاز ادراک کېدای سي او وصف یې بیانېدای نه سي.

حاشیه نمبر۵:

په دوم حاشیه کې دا خبره بیان سوه چې د مصنف او د علامه سکاکي د کلامونو تر مینځ تضاد تر سره سوی دی ددغه دفع په ذکر سوې حاشیه کې بیانیږی، حاصل د دفع دادی چې دلته دوه شیان دي. ۱: ذوق سلیم. ۲: علم البلاغت. د اعجاز ادراک په ذوق سره کیږی او دغه ذوق کله په علم البلاغت سره حاصل سوی وی او کله بیا بېله دغه علم تر لاسه سوی وي لکه عربو ته. لهذا سکاکي ادراک حصر پر دغه ذوق باندی بالذات کړی.او مصنف رحمه الله بیا حصر پر دغه علم په واسطه سره د ذوق کړی دي.ځکه ادراک د اعجاز په ذوق سره او ذوق بیا د علوم

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه په علم البلاغة سره تر لاسه کیږی. نو د ادراک حصر کونه پر علم البلاغة باندی په واسطه سره د ذوق دی.

حاشیه نمبر۶:

سوال: د "هذا" مشار الیه کوم شي دی؟

جواب: مشار الیه دادی" ادراک د اعجاز پرته ددغه علم په بل شي نه تر لاسه کیږی".

سوال: شارح ولي "اشاره" لفظ استعمال کړي او دا ډول یې نه وویل "مصنف په دغه سره تصریح کړیده"؟

جواب: کوم عبارت چې سکاکي ویلي دي په هغه کي دغه خبری ته اشاره ده چې ادراک د اعجاز په علم البلاغة سره تر سره کیږی نه په بل علم سره البته په دغه خبره سره ده تصریح کړې نه ده. هغه عبارت دادی "وجه الاعجاز امر من جنس الفصاحة و البلاغة لا طریق الیه الا طول خدمة هذین العلمین" یعني مرتبه د بلاغت چې په هغه سره اعجاز او عاجز والي د بل راځي یو نوع د جنس څخه د بلاغت ده او پیژندنه ددغه نوع پرته ددې خبری نه سي راتلای چې ددغه دوو علومو اوږد خدمت تر سره سي. نو اوس ددغه خبری څخه دا معلومیږی چې پیژندنه د اعجاز هم په خدمت سره د علم البلاغة راتلای سي.

حاشیه نمبر۷:

سوال: خبر د "لا" په عبارت کي څوک دی؟

جواب: خبر د لا مقدر دی، تقدیر د عبارت دا ډول دی" لا علم کائن بعد حصول علم الاصول".

سوال: د علم الاصول څخه مراد څوک دی؟

جواب: ددغه څخه علم الکلام، صرف او نحو مراد دي.

سوال: دلته "لا علم کائن بعد حصول علم الاصول" یعني د علم الاصول تر حصول ورسته داسي یو علم نسته الخ.

سوال: د بعدیت او ورسته والي څخه کوم ورسته والي مراد دی، زماني که مکاني او که بل څه؟

جواب: دلته بعديت زماني مراد دی يعني د علم اصول و لاس ته د راوړني ورسته دغه دوه علوم کشف راولي. ځکه د وجه الاعجاز څخه د پرده په لرې کولو کې د فهمولو څخه د اصلي معني چاره نسته ځکه د يو لفظ څخه خپله اصلِ معني نه فهميږي نو په هغه سره به بيا کشف د وجه الاعجاز څرنګه راسي.

سوال: دوجه الاعجاز څخه د پردې په لرې کولو کې علم الکلام لره څرنګه دخل سته؟

جواب: دا دول دخل سته چې بعض داسې آياتونه متشابهات وي د کوم څخه جهت او جسميت د الله جل جلاله معلوميږي. او په دغه آياتونه کې تأويل تر سره کيږي او د دغه څخه عرفي مجازي معني يا يو کنائي معني مراد سي او دغه ډوله په علم البلاغة سره معلوميږي، البته د دغه متشابهات آياتونه د کوم څخه جهت او جسميت الله لره ثابتيږي په دغه کې د تأويل تر سره کولو مخکې اولاً د دې خبرې پيژندنه ضروري ده چې په دغه آياتونو کې حقيقي معني مراد بدای نه سي که چيرې سي نو الله لر به جهت او جسم ثابت سي او د دغه دواړو ممتنع والي په علم الکلام سره معلوميږي. لهذا اولاً په دغه آياتونو کې د معني حقيقي ممتنع والي او ورسته تأويل کونه تر سره کيږي. نو اول په علم الکلام سره معلوميږي او دوم په علم البلاغة سره په دغه وجه د علم الکلام ورسته په علم البلاغة سره کشف د پردې د وجه الاعجاز څخه تر سره کيږي د مثال په توګه په دې الهي آيت کې "الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى. (سورة طه:۵)" اوس د دغه آيت ښکاره معني داده "الله جل جلاله پر عرش ناست دي" اوس په دغه معني سره جسميت الله لره ثابت سو ځکه ناسته د جسم د خصوصياتُ څخه ده، او دغه ډول جهت ثابت سو چې طرف د عرش دی او دغه دواړه جسميت او جهت د جسم د خصوصياتُ څخه دی اوس مورږ ته علم الکلام ښئي چې الله "منزه عن الجسمية" د جسميت څخه پاک دی او دغه معني اخيستل هيڅ صحت نه لري او دغه ممتنع ده، او په دغه معني عقيده د رلول کفر دی. نو اوس په علم البلاغة سره دلته معني کنائي مراديږي چې هغه داده "الله جل جلاله د عرش مالک دی"

سوال: د سکاکي ددې عبارت "لا علم بعد علم الاصول اکشف القناع" څخه دا معلوميږي چې علم الاصول زيات لري کونکي د پردود وجوه څخه د اعجاز تر دغه دوو علومو (علم المعاني او بيان) دي او حال دا چې دغه خبره صحت نه لري ځکه مخکې دا وويل سوه چې په علومُ کې کشف محض په دغه دوو علومو کې حصر دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دلته د "بعد" تعلق د "کائن" سره دی نه د "اکشف" سره که چیری د "اکشف" سره وای نو بیا به ستا اعتراض وارد شوی وای (او تقدیر د عبارت په دغه صورت کې داجوړیږی "لا علم اکشف القناع بعد علم الاصول من هذین العلمین" یعنې لږی کونکې پردو لره ورسته تر علم الاصول بل علم زیات تر دغه دوو علومو نسته. یعنې اولنې دغه علم الاصول ریات پر دې لږی کونکې دی تر دغه ورسته بیا دغه دوه علوم دي). بلکه دغه "بعد" تعلق تر "کائن" پورې لږی نو تقدیر د عبارت دا جوړیږی "لا علم کائن بعد الاصول اکشف القناع من هذین العلمین" او مراد د بعدیت څخه بعدیت زماني مراد دی (او دغه خبرې بیان تفصیلا مخکې تیر سو) نو اوس اعتراض نه وارد یږی.

سوال: د سکاکي دې عبارت څخه "لا علم بعد الاصول اکشف الخ" دا معلومیږی چې د دغه علم البلاغت (علم المعانی و البیان) څخه سېوا نور هم داسې علوم سته کوم چې لږی کول د پردو د وجه الاعجاز څخه کوی. ځکه دلته "اکشف" په صیغه سره د اسم تفضیل ذکر دی یعنې کشف نورو علومُ ته هم ثابتَ دی مګر د علم البلاغة ته زیات تر نورو علومُ ثابتَ دی. او حال دا چې مخکې دا خبره تېر سول چې د علومُ څخه محض دغه دوه علوم کشف لره فائده کونکې دی. بل کوم داسې علم نسته چې هغه کاشف وی؟

جواب: دلته د "اکشف" څخه تفضیلي معنې مراد نه ده چې دغه زیات کشف کونکې تر نورو دي. بلکه دلته د دغه څخه مراد کامل کشف دی یعنې دغه دوه علوم کامل کشف را ولي نه ناقص. نو اوس د دغه خبرې د مخکنې خبرې سره هیڅ قسم تعارض نه راغلي.

حاشیه نمبر ۸:

سوال: علامه سکاکي فرمایلي دی "لا علم بعد علم الاصول اکشف من هذین العلمین" یعنې د دغه دوه علمونه کامل کشف فائده کوی او هر هغه شي چې کامل کشف د یوشي فائده کوی نو دغه مدرک د دغه شي وی نو معنې د عبارت داجوړیږی چې په دغه دوو علمونو سره حقیقت د اعجاز و لاس ته راتلای سي او حال دا چې مخکې دا خبره تېره سوه چې وصف د اعجاز بیانېدلای نه سي نو د هغه څخه دا معلومیږی چې دغه دوه علمونه کامل کشف نه فائده کوي. نو اوس دغه دوو علمونه ته کامل کشف را وستونکي ویل صحت نه لری؟

جواب: دغه دوه علمونه کامل کشف فائده کوی. پاته دا خبره چې ادراک د حقیقت د اعجاز په دغه دوو علمونو په دې وجه سره نه کیږی چې په حقیقت د اعجاز احاطه کول ممتنع دی. لهذا

دغه امتناع د وجي ادراک پې کېدای نه سي. او ددغه څخه دا ښه دوه علمونو د کمال کشف فائده کولو ته کوم تاوان نه رسوی.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: هغه کس چې هغه په پورا توګه سره مهارت په علم البلاغة ګټي لری او په دغه فن کې غښتلي وی نو هغه د وجه الاعجاز حقیقت په کامل توګه سره پیژندلای سي؟

جواب: دغه نه سي کېدای ځکه د علم البلاغة پر قواعدُ او ددغه فن پر نکاتو او اسرارُ (عام تردې تصنیف سوی وي او که نه وي. او دغه احاطه په طریقه سره د کسب وی او که پرته ددغه په بله طریقه سره وی لکه په سلیقه او ذوق سره) باندې احاطه کونه ممکنَ نه ده نو څومره چې هم ماهر کس وی بیا هم هغه احاطه پر قواعدُ ددغه فن نه سي کولای نو په دغه وجه دی حقیقت د اعجاز په کاملَ توګه پیژندلای نه سي.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: مخکې شارح اسم اشاره په صیغه سره د تثنیه دواړول راوړه "هذین علمین" او دلته په ذکر سوی عبارت کې بیا اسم اشاره په صیغه سره د مفرد داړول "هذا" راوړل دغه ولې؟

جواب: مخکې مشارالیه دوه شیان وه. ۱: علم المعاني. ۲: علم البیان، نو په دغه وجه یې د تثنیه صیغه راوړل او دلته مشارالیه یو شي دی چې هغه علم البلاغة دی په دغه وجه یې د مفرد صیغه راوړل، او ددغه دواړو عباراتو مقصد یو دی ځکه علم البلاغة ودغه دواړو علمونو "علم المعاني او علم البیان" ته شاملَ دی.

حاشیه نمبر ۲۱:

سوال: استعاره بالکنایة و څه ته ویل کیږی؟

جواب: په دغه کې درې مذهبونه دي د کوم چې به انشاء الله بیان راسي.

سوال: دلته د استعاره بالکنایه څخه څه مراد دی؟

جواب: دلته مراد هغه تعریف دی کوم چې مصنف کړی دي هغه دادی "په نفس کې د یو شي د بل شي سره په داسي توګه سر تشبیه ور کول سي چې د ارکانُ څخه د تشبیه (مشبه. مشبَه. مشبه به، علاقه د تشبیه. حرفِ تشبیه) محض مشبَه ذکر سي او د مشبه به لازم و مشبه ته ثابتَ سي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه ته تخلیه ویل کیږی. او هغه شي چې مناسبت د مشبه به سره لري هغه مشبه ته ثابت سي دغه ته ترشیحیه ویل کیږی.

سوال: ایهام و خه نه ویل کیږی؟

جواب: یو داسي لفظ ذکر سي کوم لره چې دوې معناګاني وي یو ژندې او بله لري او د دغه لفظ څخه هغه لرې معني مراد سي نه هغه ژندې.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: د قرآن دغه ذکر سوی تعریف "اسماً للکلام المنزل علی النبی ﷺ" صحت نه لري، ځکه دغه تعریف و هغه څه ته هم شاملَ دی د کوم قرآت چې منسوخ سوی دی او دغه ډول شاذ قراءتونو ته هم شاملَ دی او حال دا چې دغه ته قرآن نه ویل کیږی؟

جواب: دغه تعریف د قرآن نه دی چې بیا ستا دغه اعتراض وارد سي بلکه دلته د شارح مقصد متعینَ کول د قرآن" کوم چې مدار د اعجاز دی" دی، او دغه په الف لام سره "الکلام" متعینَ ګرزی. ځکه دغه الف لام عهدی خارجي دی او معهود په خارج کې هغه نازل سوی کلام دي کوم چې متواتر او نویشته په صحائفو کې دی، منسوخ او شاذ نه دي.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: دلته د "المعاني" څخه څوک مراد دی؟

جواب: دلته هغه اغراض مراد دی د کوم لپاره چې کلام تشکیل سوی او راوړل سوی وی او دغه ته مقتضي د حال ویل کیږی لکه انکار د مخاطب لپاره تأکید راوړل کیږی نو دغه تأکید ته معني په وړاندی د اهل البلاغة ویل کیږی. او دلته مراد هغه معناګاني نه دي کوم چې د لفظ څخه قصد کیږی او مراد یږی یعني موضوع له معناګاني مراد نه دي. او په دغه کې اشاره و علم المعاني ته ده.

سوال: د "مناسبة الدلالات" څخه څه مراد دی؟

جواب: د مقتضي الحال سره موافق دلالات (مطابقي، تضمني او التزامي) دا دول که چیرې مقتضي الحال د دلالت مطابقي تقاضي کول نو مطابقي د تضمني په صورت کې تضمني او د التزامي په صورت کې التزامي راوړل سي. او په دغه کې د علم البیان ته اشاره ده ځکه د دغه دلالاتُ څخه علم البیان بحث کوی.

سوال: "علي حسب ما يقتضيه العقل" څه ترکيبي حيثيت لري؟

جواب: دد غه تعلق د "مترتبة" او د "متناسقة" ددواړو سره بناء بر تنازع دی. لهذا د غه د دواړو سره تعلق لری. يعني د عقل د تقاضي موافق يې د معناګانو ترتيب او د عقل د تقاضي موافق يې مناسب دلالات وي.

صفحه نمبر ۱۳

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

وكان القسم الثالث من مفتاح العلوم الذي صنفه الفاضل

العلامة سراج الملة والدين ابو يعقوب يوسف السكاكي نور الله تعالى مرقده اما عظم ما صنف شيخنا في هذا الفن واجمعه لاصوله وفروعه واكثرها سوقا الى الكتب المشهورة بيان لما نقصانه يشعر بان اعظم لكونه احسن ترتيبا او لكون القسم الثالث احسن الكتب المشهورة من جهة الترتيب هو وضع كل شئ في مرتبته فكل شئ حقه ان يذكر بعد شئ ويذكر قبل شئ ثلاثة مراتب بعيد بها الترتيب الحسن فرب شيئين احدهما اولى واحسن وان تعرف صدق هذا المقال لعلمك بكتب النحو عند القاهر فراها كانها عقد قد نظم بعضه الى بعض فتنال ما تريد لا محالة ولكن ما اتيتم الا قليلا وهو ثلثة ابواب الكلام وتوابعها والفاعل ونائبه والمفعولات وهي متعلق الفعل وغيره فغيره قولك ضحكا كان معمول المصدر لا يتقدم عليه كان المصدر عند العمل مؤول بان مع الفعل وهو موصول ومعمول الصلة لا يتقدم على الموصول لكونه كجزء من المؤول المغتفر فيه ما لا يغتفر في الاجزاء عليه هذا والاظهر انه جائز اذا كان المعمول ظرفا او شبهه قال الله تعالى فلما بلغ معه السعي ولا تأخذ كم بها رأفة ومثل هذا كثير في الكلام والتقدير كيف كان وليس كل ما اول يمنع حكمه حكم ما اول به لان الظرف مما يكثر فيه ما لا يكثر من الفعل لان لهم شانا ليس لغيره لشانه من الشيء ما ليس لنفسه او لوجوبه وعدم انفكاكه عنه وهذا اتسع في الظرف مما اتسع في غيرها ولكن كان القسم الثالث غير منصوص بما يحفظ عن النحو وهو اكثر المستغنى عنه وعن التطويل وهو المراد بقولنا على اصل المراد بلا فائدة وسيجيء الفرق بينهما في بحث الاطناب ومن ثم قيد وهو كون الكلام مشتملا على ما يتوقف عليه الذهن تحصيل معناه قبلا كخبر صدر خبرا اي كان قابلا للانكار لما في من التأويل مفتقرا خبر احواله كان محتاجا الا يحتاج اليه من التقييد والتخصيص والتعريف والحذف والقصر جواب لما اي كان ما تقدم سببا لتاليف مختصر يتضمن ما فيه اي في

القسم الثالث من القواعد مع قاعدة وهي ضم كل علم يحتاج احدهما الى الآخر لاستفاد احكامها منه كقولنا كل حكم الفعل الى المتكلم يجب توكيده فانه ينطبق على ابن هريرة قائم وان هريرة راكب وغيرهما بكلي الى المتكلم بان يقال هذا الكلام مع المنكر وكل كلام مع المنكر يجب توكيده فكذا هذا فتسلم ما هو بالحقيقة فيه

ترجمه

﴿ در يم قسم د هغه مفتاح العلوم كوم چي هغه فضيلت لرونكي اوعلامه يي تصنيف كړى و چې د هغه ﴾ د دين او ملت څراغ و ﴿ كنيه يي ابو يعقوب نوم يي يوسف او وطن يي دنيشافور يو كلي

سکاکه و ﴾الله دي دی په خپله بحښه سره پټ کړي﴿ عظيم ترينه د هغه مشهورو کتابونو څخه و، کوم چې د بلاغت اودده د توابع په فن کې تصنيف ته وړاندی سوی و﴾ "ماصنف" خبر د "کان" دی. "من الکتب" بيان لپاره د "لما" دی. ﴿دغه عظمت يې په اعتبار د نفع و﴾ د "اعظم" څخه دغه ځمیز دی. ﴿څکه دغه ددوی څخه احسن په اعتبار د ترتيب و﴾ يعني دغه درېيم فن په اعتبار د ترتيب ددغه مشهورو کتابونو څخه غوره و. او ترتيب د هر شي په خپل ځای کی هيښولو ته ويل کيږی. د هری مسئلې لپاره مرتبې وی. او بعض ددغه مرتبو څخه زيات وړ لرونکي ددغه مسئلې سره وی تر نورو پاتو. نو هيښول د مسئلې په دغه مرتبه کې ښه وی. که ته چيری ددغه خبری ږښتياوالي معلومول غواړې چې فن ثالث په اعتبار د ترتيب غوره تره دی نو بيا ته د شيخ عبدالقاهر د کتابونو مطالعه وکړه. نو ته به دغه کتابونه بالنسبت و فن ثالث ته داسي ووينې لکه يو تار چې شلېدلي وی او په ده پيودل سوی ملغلری خور پوری سوی وي. ﴿او څکه دغه فن ثالث تر مشهورو کتابونو په اعتبار د صفائني د کلام د زوائدو څخه کامل تره دی، او څکه دغه فن ثالث جمعه کونکي زياتو اصولو لره بالنسبت ودغه مشهورو کتابونوته دي﴾ د "للاصول" تعلق د محذوف سره دی د کوم بيان چې "جمعا" واقع سوی دی. څکه د مصدر معمول مخکې تر مصدر راتلای نه سي. څکه مصدر په وخت کې د عمل کولو په تأويل سره د "ان" سره د فعل وی. او دغه ان موصول حرفي دی او د صلې معمول په موصول باندی مخکې کېدلای نه سي. څکه دغه مخکې کېده يې داسي دی لکه د هغه شي جزء تر دغه شي مخکې کېدنه دکوم چې اجزاء په تر تيب سره وی. او دغه خبره د ځان سره واخله. او ښکاره خبره داده چې معمول د مصدر هغه وخت مخکې کېدای سي چيری چې دغه معمول ظر ف اويامشابه د ظرف سره وی. الله جل جلاله فرمايي: "فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ.(سورة الصافات: 102) "او "وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ.(النور:٢)" او د دغه دول مثالونه په کلام کې ډير زيات دي. او په دغه دوو آياتونو کې تقدير کونه د تکليف څخه خالي کار نه دی. او حکم د هر هغه شي چې په هغه سره دده تأويل کيږی حکم ددغه شي نه دی. او سره ددې چې په ظرف کې بوی د فعل کفايت کوی. څکه ده لره داسي شان اوحال حاصل دی چې پرته دده نورو ته حاصل نه وی. څکه دده تعلق د شي سره داسي دی لکه د شي د خپل ځان سره. څکه دغه شي په ده کې تر سره کيږی. اودغه شي دده څخه جلاکېدای نه سي. په دغه وجه په ظروفو کې داسي پراخي خپله سوبده چې دده په سبوا پاته شيانو کې خپله سوې نه ده. ﴿مګر درېيم قسم د حشوی څخه محفوظ او ژغورل سوی نه دی﴾. حشو يو داسي زائد شي دی کوم ته چې احتياج نه وی. ﴿اود تطويل څخه﴾ دا يو داسي شي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی کوم چې په اصل مراد باندی ښه کومې فائدې زیات سوی وی. اود اطناب په بحث کې د حشو او د تطویل تر مینځ فرق به و بیان ته وړاندی سي.﴿اود تعقید ځخه﴾ دغه د کلام داډول مشکل کېدنه ده چې دده مراد لاس ته راوړنه په عقل باندی سخت او ګرانه وی.﴿اودغه قسم ثالث د اختصار د قبلوني اهل و﴾ ځکه په ده کې تطویل و.﴿او وضاحت کوني ته محتاجه و﴾ ځکه په ده کې تعقید معنوی وجود درلودی.﴿او د تجرید ته یې اړتیالرل﴾ د هغه ځه ځخه چې په هغه کې حشو وه.﴿ نوما یو داسې مختصر کتاب و تصنیف ته وړاندی کړی ﴾ دغه جواب لپاره د "لما" دی. یعني مخکنې خبرې د مختصر د تصنیف لپاره سبب دي.﴿کوم چې مشتمله د درېیم فن په قواعدو باندی دی﴾ دغه د قاعدة جمعه ده هر هغه حکم چې موضوع دده کلي وی اوپه خپلو جزئیاتو باندی حمل کیږی او د دغه حمل کېدو ختم والي په دې کیږی چې ددغه حکم ځخه دده د جزئیاتو حکم و لاس ته راسي. دمثال په تو ګه هر هغه حکم چې د انکار کونکي په خدمت کې وړاندی کیږی نو د هغه مؤکدکونه واجب ده . نو اوس دغه حکم په "ان زیدا قائم" او په "ان عمرا راکب" او پر پرته ددوی په هر هغه کلام باندی حمل کیږی کوم چې انکار کونکي په خدمت کې وړاندی کیږی. داډول وویل سي: دغه کلام و منکر ته ویل سوی دی. او هغه کلام چې منکر ته ویل کیږی د هغه مؤکدکونه واجب ده نو ددغه کلام مؤکد کونه واجب ده.

تشریح

سوال: "وکان القسم الثالث" پر چا عطف دی؟

جواب: دغه پر "کان" عطف دی کوم چې په دې عبارت "فلما کان" کې راغلي دی ، لهذا دغه د متعلقاتو ځخه د اولی شرطیه دی.

سوال: "سکاکي" کې یاء نسبتي ده نو منسوب الیه څه شي دی؟

جواب: په دغه کې دوه قولَ دي. ۱: سکاکۀ د نیشافور یو کلي دی . اوویل سوی دی چې دغه د عراق او یا د یمن یو کلي دی.

۲: علامه سیوطي رحمه الله:فرمایي دغه نسبت و نیکه ته دده دی او دده نیکه په سرو اوسپینوزرو باندی سیکه وهله،نو سکاکي منسوب بسوی سِکه دی. او سِکه هر هغه د اوسپیني نقش ته ویل کیږی کوم چې په درهم باندی وهل کیږی.

سوال: کلمه د "من" د تبعیض لپاره ده نو په دغه صورت کې د درېیم قسم تعریف اوستاینه مکمل نه سوه ځکه مطلب د دې دا کیږی چې دغه فن ثالث تر بعضو کتابونو څخه ښه دی نه تر ټولو. او حال دا چې دلته مقصود ښه والي تر ټولو کتابونو دی؟

جواب: کلمه د "من" د بیان لپاره ده نه د تبعیض لپاره، که چیرې د تبعیض لپاره وای نو بیا به دغه اعتراض وارد سوی وای.

سوال: په دغه تقدیر د فن ثالث کتاب والي ثابت سو دا ډول چې فن ثالث مفضل او مشهور کتابونه مفضل علیه دی. او دا قاعده ده چې مفضل به جزء د مفضل علیه وی او مفضل علیه کتابونه دی نو فن ثالث به هم یو کتاب وی او حال دا چې فن ثالث پخپله کتاب نه دی بلکه یو جزء د کتاب دی؟

جواب: فن ثالث د مفتاح العلوم څخه د عمده کېدنې د وجې داسې و بلل سو لکه یو مستقل کتاب، لهذا دغه د فن ثالث کتاب کېدنه حقیقي نه بلکه فرضي ده.

سوال: فلکل مسئلة: څه وخت چې دا خبره ثابت سوه چې هر یو د فن ثالث او د مشهورو کتابونو څخه په ترتیب باندی مشتمل دی لکه په دغه باندی صیغه د افعل تفضیل (احسنها ترتیبا) دلالت کوی نو بیا د فن ثالث ترتیب بهتره کېدنه به څه رنګه صحی سي؟

جواب: هری مسئلې لره مختلفې مرتبې سته، یو څه د دغه مرتبو څخه لائقه د دغه مسئلې سره وي او بعض بیا ډیری ورسره لائقې اوو وي. نو مسئله د اولي مرتبې موافق راوړلو سره ښه والي تر لاسه سو او د دوم موافق راوړلو سره ډیر ښه والي تر لاسه سي. لهذا د مشهورو کتابونو ترتیب ښه او د فني ثالث دا بیا ډیر ښه دي. نو اوس د مصنف وینا صحت پیدا کړي.

سوال: هذا المقال: مقال څه صیغه ده؟

جواب: دغه مصدر میمي په معنی سره د قول دی.

سوال: "فعلک" څه صیغه ده؟

جواب: دغه اسم فعل دی او څه وخت چې دی بېله حرفه پخپله متعدی و ګرزی نو دی په معنی سره د "الزم" دی. او څه وخت چې دی متعدی په باء سره وګرزي نو بیا دی په معنی سره د "استمسک" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

لان معمول المصدر : **سوال**: د "للاصول" تعلق د ورستني "جمعاً" سره ولي نه نسي. نو په دغه صورت کي به حذف ته ضرورت هم نه پيښيږي. او نه وتفسير ته؟

جواب: د مصدر معمول په مصدر باندې نه سي مخکي کېدلای. ځکه مصدر په وخت کي د عمل کونې دده تأويل په فعل سره د "ان" وي. ځکه په عمل کونې کي اصل فعل او مصدر دده فرع ده. نو د مصدر په وخت کي د عمل کونې په تأويل د فعل سي ددې لپاره چې د عمل کونې توان پيدا کړي. او "ان" موصول حرفي دی او دده د ضلې معمول "للاصول" (دا په هغه صورت کي ذکر سوی "جمعاً" عامل وګرزول سي) ترموصول (چې دلته "ان" دی) نه سی مخکي کېدلای.

سوال: د ضلې جزء په موصول باندې ولې مخکي کېدلای نه سي؟

جواب: صله د موصول د بيانولو لپاره وضع سوېده. او موصول جزء د کلام پېله صله نه سي جوړېدلای. نو موصول او صله لکه د يوه داسي شي غوندې دي د کوم د اجزاء ترمينځ ترتيب وي. نو د موصول او صله ترمينځ داسي حيثيت معتبر دی لکه د کل او د جزء ترمينځ دا دول چې پوره صله اويا جزء د ضلې پر موصول نه سی وړاندې کېدلای. لهذا لکه څه رنګه چې د صله وړاندې ګوالي روا نه دی دغه ډول د صله د معمول دا هم روا نه دی. ځکه د صله د معمول مخکي والي د صله مخکي والي دی ځکه عامل مخکي تر معمول وی. او د صله مخکي والي ځکه ناروا دی چې دغه مخکي والي داسي دی لکه د يو شي په خپل ځان باندې مخکي کونه. او دغه ته سي کېدلای.

سوال: مقصد د شارح په دغه عبارت "و الاظهر انه" سره څه دی؟

جواب: دغه رد په مخکني جواب باندې دی. خلاصه د رد داده که چيرې معمول د مصدر ظرف و (لکه ظرف مکان اوزمان)، او که مشابه د ظرف وی (لکه جار او مجرور، وجه د مشابهت يې داده لکه ظرف چې و فعل ته محتاج وی دغه ډول جار او مجرور دی) نو بيا يې په مصدر باندې مخکي والي روا دی. لهذا په متن کي "جمعاً" مصدر او للاصول شبه الظرف دی او د شبه الظرف مخکي والي روا دی نو "للاصول" معمول لپاره د ورستني "جمعاً" دی.

سوال: د مصدر معمول ظرف او که شبه الظرف وی، او د دغه مخکي والي په مصدر باندې راتلای سي ددې مثالونه وړاندې کړه؟

جواب: " لما بلغ معه السعي": اوس په دغه آيت کي مع ظرف او عامل يې ورسټني "سعي" ده. ځکه د دې آيت مطلب دادی چې څه وخت حضرت اسماعيل ﷺ هغه عمر ته ورسېدی چې دی د خپلې پلار سره په تلنه باندی و توانېدي او د خپل ژوندی کارونه يې تر سره رسولای سوه نو بيا الله جل جلاله ابراهيم ﷺ دده په حلالولو سره امر کړی. او دغه معنې هلته تر لاسه کيږی څه وخت چې د "معه" تعلق د ورسټني "سعي" سره ورکول سي.

سوال: دغه آيت د دليل په توګه وړاندی کول صحت نه لری ځکه زمونږ خبره په هغه مصدر کې ده کوم چې مجهول د وی او "السعي" مصدر مګر معرف په الف لام سره دی. هغه مصدر چې نکره وی فرق د هغه مصدر سره لری کوم چې معرفه وی، ځکه هغه مصدر چې دی عامل وی او دی عمل د "ان" سره د فعل کوی دا په هغه صورت کې چې مصدر نکره وی نه د معرفه په صورت کې. لهذا د نکره په صورت کې معمول د مصدر په ده باندی نه سي مخکې کېدلای؟

جواب: د مصدر معرفه او نکره تر مينځ هيڅ فرق نسته، ځکه د مصدر د معمول نه مخکې کېدە د دې وجې څخه دی چې مصدر د عمل په اعتبار سره ضعيفه او کمزوری دی او په دغه معنې کې د معرفه او د نکره فرق شتون نه لری. لهذا د مصدر معرفه په صورت کې د معمول مخکې والي په صورت کې د ظرفيت روا دی نو د نکره په صورت کې هم روا دی.

والتقدير تکلف: **سوال:** په دغه دواړه آياتونو کې عامل مخکې تر معمول مقدر دی او ذکر سوی د هغه تفسير دی. نو اوس په دغه دواړو دوو آياتونو سره په دې خبری باندی دليل ويل صحت نه لری چې معمول د مصدر پر مصدر باندی په صورت کې د ظرف مخکې کول يې روا دی؟

جواب: په تقدير کې تکلف دی ځکه دغه د ظاهره سره د کلام مخالفت لری ځکه په کلام کې اصل ذکر کونه ده نه مقدر کونه. لهذا مقدر کونه د اصل څخه مخالف دی او غير اصل ته تګ کونه په وخت کې د ضرورت کيږی او دلته ضرورت نسته.

ليس کل ما اول: **سوال:** مورد دا خبره نه منو چې دلته د مقدر ولو ضرورت نسته، بلکه دلته سته هغه دادی چې مصدر په تأويل د "ان" سره د فعل عمل کوی او "ان" موصول دی، او جزء د صلې

Maktaba Tul Ishaat.com

مقدم په موصول باندی نه سي کېدلای. نوضرورت ثابته سو په دغه وجه دلته عامل محذوف او ذکرسوی یې تفسیر کونکي دي؟

جواب: دلته دوه شیان دي. ۱: اصل د یو شي. ۲: د یو شي په بل څه سره تأویل کونه. د مثال په توګه مصدر دا په خپله اصل دی او دده تأویل په ان سره د فعل کیږی. نو اوس دا ضروری نه ده چې د دغه اصل ټوله احکام او د هغه شي چې په ده سره د دغه اصل تأویل کیږی ټوله احکام سره یو وي. بلکه داسي کېدای سي چې داسي احکام دي هم وي چې په یوه پوری د دوی دي خاص وی د مثال په توګه مصدر پر زمانه باندی دلالت نه کوی مګر په کوم شي سره چې ده تأویل کیږی هغه په زمانه باندی دلالت کوی (ان سره د فعلَ، لهذا د غه عمل کونه یې د تأویل په وجه سره ده)، نو د غه ډول جزء د صله پر موصول نه سي مخکي کېدلای مګر معمول د مصدر چې ظرف وی هغه مخکي کېدلای سي.

سوال: دلته مخکي کول د معمول د مصدر که څه هم په دې وجه سره نه دی چې دی په تأویل سره د "ان" سره د فعل عمل کوی بلکه په دې وجه سره دی چې مصدر د عمل په اعتبار سره، ډیر کمزوری دی لکه اسم تفضیل، نو د دغه کمزوری په وجه دی په هغه څه کي عمل نه سي تر سره کولای کوم چې تر ده مخکي وی.

جواب: مع ان الظرف: موږ دا خبره منو چې مصدر د عمل کونې په اعتبار سره ضعیف دی او تر دی پر مخکي سوی شي کي عمل تر سره کولای نه سي، مګر دا هغه وخت چې مخکي تر مصدر ظرف نه وی که چیرې ظرف وی نو بیا مصدر عمل په کي کولای سي ځکه د ظرف عامل هغه شي کېدای سي چې په هغه کي بوی د فعل وی او دلته هغه شتون او وجود لری هغه دا ډول چې دی په حدث دلالت کوی، او حدث یو جزء د مفهوم ځخه د فعل دی.

حاشیه نمبر ۱:

سوال: مصنف ولي د نظم پر ځای لفظ نه راوړي؟

جواب: ځکه په اعجاز کي لفظ او معني دواړه مراد او معتبر وی او په نظم کي هم لفظ او معني دواړه معتبر وی په خلاف د لفظ چې په ده کي د لفظ طرف معتبر وی. ځرنګه نظم د اعجاز سره مناسبت درلودی په دغه وجه نظم لفظ استعمال سو.

حاشیه نمبر ۲:

په دې حاشیه کې څو تحقیقه دی.

اول: د استعاره مکنیه او تخیلیه بیان: مصنف تشبیه د قرآن د مجموعې سره د هغه ملغلرو چې په تار (سپنسي) سره پیودل سوي وي ورکړیده. مصنف مشبه او مجموعه د دغو ملغلرو مشبه به او علاقه د تشبیه د نفس شائقوالي وطرف ته ددوی دواړو دی. لهذا ذکر مشبه "قرآن" او مراد هم دغه مشبه ده نو دغه استعاره مکنیه ده. او لازم "نظم" د مشبه به (مجموعه د پیودل سوو ملغلرو) ثابت لپاره د مشبه "قرآن" په طریقه سره د استعاره تخیلیه دي.

دوم: بیان د استعاره مصرحه: مصنف ترتیب دکلماتو د قرآن د ترتیب سره د ملغلرو چې په سپنسي سره پیودل سوی وي ورکړیده. لهذا مصنف مشبه او ترتیب د کلماتو مشبه او ترتیب د ملغلرو مشبه به او علاقه د تشبیه میلان د نفس دی. دلته ذکر مشبه به "نظم" او مراد ځني مشبه "د قرآني کلماتو ترتیب" دی دغه استعاره مصرحه ده.

درېیم: بیان د وجې د لطافت: په وجه کې د لطافت دوه احتماله دی.

۱): "لطیفة" دا یو تخریجي (یعني دغه یو قید احترازی دی) قید دی دا هغه وخت چې د لطافت وجه، د استعاره (کوم چې په عبارت کې واقع سوېده) د دوو وجهو ته محتمل والي سي. نو په دغه قید سره هغه استعاراتي وزي چې په کومو کې دغه دوه احتمالاً نه وي. بلکه محض مکنیه یا مصرحه وی.

۲): "لطیفة" دغه یو توضیحي قید (دغه قید د ر ا ت لپاره د ی نه لپاره د هیستو نو) د ی. د غه هغه وخت چې په استعاره کې مطلقا لطافت وي. ځکه استعاره په ادعاء کولو سره ددې خبري مبالغه پیدا کوي چې مشبه بعینه مشبه به ده. نو په دغه تقدیر "لطیفة" لپاره د اشاره کولو و مدحي ته د استعاره ذکر سوي دی دا دول چې په استعاره کې لطافت او دقت دي.

﴿فائده﴾: د "لطیفة" "عام تردې دغه تخریجي او که توضیحي قید سي "سره دا خبره لازم ده چې دغه قول "و اشارة ان کلماته کالدرر" د یوې زائدې فائدې لپاره راوړل سوی دی، او دغه د بیان د وجې د لطافت لپاره راوړل سوی نه دی (یعني نظم د قرآن په داسي لطیف استعاری باندې مشتمل دی چې دغه د مکنیه او مصرحه د دواړو احتمال لري. او په دغه نظم کې یو داسي انتیق تشبیه ده چې هغه د قرآن د مدحي پر مبالغه باندې مشتمل دی. او هغه تشبیه داده چې د قرآن کلماتي د ملغلرو په شان دی). (الشرح للبامیانی ۳۵۶/ج۱)

حاشیه نمبر ۳:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: مفتاح العلوم ته ولي مفتاح العلوم نوم ورکول سوی دی ددې څه وجه ده؟

جواب: مفتاح و کیلي ته ویل کیږی دغه ډول دغه کتاب کوم چې پر نهه (۹) علومو مشتمل دی هم کیلي لپاره ددغه علومُ ده. لکه په کیلي سره د تنَ پټ شیان لیدل کیږی دغه ډول په دغه کتاب سره هم ددغه نهه علومو مسائلِ لیدل کیږی. او دغه ډول ددغه علومو مسائلِ په دغه کتاب سره آسانه کیږی.

سوال: دغه نهه علوم څوک دي؟

جواب: ۱: صرف. ۲: نحو. علم الاشتقاق. ۴: علم المعاني. ۵: بیان. ۶: بدیع. ۷: قوافي. ۸: عروض. ۹: منطق.

حاشیه نمبر ۴:

شارح رحمه الله د علامه سکاکي تشبیه د توری سره ورکړې ده. شارح مشبه او سکاکي مشبَه به او توره مشبه به او علاقه د تشبیه تهزوالي دی لکه څرنګه توره تهره او تهزه وی دغه ډول علام سکاکي هم د تهز طبعیت مالک و. نو ذکر مشبه مراد هم دغه مشبه دغه مکنیه ده. او لازم د مشبه به (پوښ، غمد) یې مشبه ته ثابت کړی دی دغه تخیلیه ده او مناسب د مشبه به (په پوښ کې اچول) یې مشبه ته ثابت کړی دي دغه تر شیحیه ده. القرینةُ من الإنسان : طبیعةُ التي خیل علیها//(قَ حَ یا حِ)[ع. قریحة](اِ.) طبع، ذوق.

حاشیه نمبر ۵:

سوال: "نفعاً" ولي منصوبَ دی؟

جواب: دغه تمیز او ابهام د نسبت څخه د "اعظم" و خپل فاعل ته لری کوی. او دغه تمیز په اصل کي فاعل و. اصل عبارت دا ډول دی" اعظم نفعه" یعني په علم البلاغة کي چې څومره مشهورَ کتابونه تصنیف سوی دي په دغه کي تر ټولو زیات فائده(اعظم نفعه) مند دریږم فن د مفتاح العلوم دی.

حاشیه نمبر ۶:

خلاصه د اعتراض دا ده چې ضمیر په "مرتبه" کي به د دوو حالو څخه خالي نه وي یا به راجع "کل" او یا به "شي" ته وي. او دغه یو هم صحی نه دی، ځکه که چیرې "کل" ته راجع سي نو معنی به دا وګرزی" وضع کول دي د هر شي په مرتبه کي د هر شي نو وضع کول به د شي په خپله او د بل

شی په مرتبه کې لازم سي لکه کېښودل د فاعل په خپله او د مفعول په مرتبه کې او دغه باطل دي. او که "شي" ته راجع سي بیا په دې وجه سره باطل دي چې معنی به یې داسې "وضع کول د هر شي دي په مرتبه کې د شي [یعنې ټوله شیان په یوه مرتبه کې کېښودل سي لکه وضع کول د فاعل او د مفعول په یوه مرتبه کې او دغه هم باطل دي" ؟

جواب: د ضمیر راجع کول و دواړو ته صحی دي دا ډول که شي ته راجع کړل سي بیا په دې وجه سره صحی دي . ځکه هغه عموم چې د کل څخه مستفاد یږي هغه ورسته د راجع کولو د ضمیر معتبر یږي . او معنی دا گرزی :وضع کول د شي دي په مرتبه کې د شي چې هر شی وي . او د ضمیر راجع کول و کل ته په دې وجه صحی دي چې دغه اضافت لپاره د استغراق مجموعي دي هم په جانب کې د ضمیر [مرتبته] او هم د مرجع [کل] .او جمع چې په مقابل کې د جمع راسي نو تقسیم د احادو پر احادو باندی فائده کوي. معنی یې دا جوړیږی:هر فرد په خپله مرتبه کې وضع کول دي (کذافي حاشیه د سوقي جلد نمبر۱: صفحه نمبر ۴۰)، فان اشتهیَ زیاة التفصیل فارجع الي شرحي معصوم البیان شرح بدیع المیزان.

حاشیه نمبر۷:

سوال: قسم ثالث تر مشهور و کتابو احسن بلل صحی نه دی.ځکه مشهور کتابونه هم پر ترتیب باندي مشتمل دی.لکه د دغه اسم تفضیل تقاضی کوي.او ترتیب یو شي دی په ده کې د زیات والی او کم والي امکان نه سي راتلای؟

جواب: ستا خبره د منولو وړ نه ده ،ځکه د هری مسئلې لپاره داسي متعددی مراتبي وي چې وضع کول د دغه مسئلي په دغه مراتبو کې مناسب وي. مګر بعض د دغو مراتبو څخه تر نورو بعضو الیق او مناسب د مسائلُ سره وي. نو په دغه وخت کې د فن ثالث د تألیف احسن والي تر نورو کتابو په اعتبار د ترتیب د کلماتو، فصولو او بابو جائز او ممکن دی.ځکه د قسم ثالث مسائلي، ابواب او فصول په داسي مراتبو کې واقع دي چې پرته د دغه مراتبو داسي نوري مراتبي نه وي چې هغه تر دوی د مسَائِلو ،ابوابو او فصولو سره الیق وي. مسائلي، ابواب او فصول د نورو کتابو په داسي مراتبو کې وَاقع دی چې پرته د دغه مراتبو نوري هم داسي مراتبي وجود لري چې هغه تر دوی د مسائلو ، ابوابو او فصولو سره الیق وی.

حاشیه نمبر۸:

Maktaba Tul Ishaat.com

په دغه حاشیه کې محشي د "احسن" بیان کوی خلاصه داده چې د نورو کتابونو ترتیب هم ښه، مګر د فنِ ثالث ترتیب تر هغه زیات ښه و.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: د شیخ د کتابونو په دې سره موصوفُ کونه "چې دوی د هغه امیل په شان دی چې هغوی وشکیږي" دهغه مخکني خبرې سره "ان القسم الثالث احسن الکتب المشهورة ترتیبا" منافات او ضدیت لری. ځکه د افعل تفضیل تقاضی داده چې دلائل الاعجاز د ترتیب څخه د یوه حصه برخمن او لرونکي دی. اوتقاضی ددې خبرې "کونه عقدا منفصما" داده چې دلائل الاعجاز لره د ترتیب څخه برخه نسته؟

اول جواب: دشیخ د کتابونو موصوف کونه په دې قول سره "کونه عقدا" بناء د تشبیه پر طریقه باندې ده. ځکه د تشبیه کلمه موجود ده. او ظاهر د تشبیه څخه داوي چې د تشبیه وجه په مشبه به کې اتم او اقوی وي. او ددغه سره دا لازمه ده چې د شیخ کتابونو لره یوه برخه د ترتیب سته. او بالکل د ترتیب څخه خالي نه دي. لکه عقد منفصم. (المفصل ۳۶۵/ج۱)

دوم جواب: په دغه تشبیه کې اشاره و ښوالي ته د ترتیب ددغو کتابونو ده. او په "انفصام و تائر" کې اشاره و کښتوالي ته د ترتیب د نورو کتابونو تر ترتیب د قسم ثالث ده. (کذا قال مولوی عبد الرحیم فی شرحه ۳۹)

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: تهذیب د کلام د چا څخه دی؟

جواب: تهذیب او پاکونه د کلام د زوائدُ څخه ده. یعني فنِ ثالث خالي او پاک د زوائد څخه دی.

سوال: د مصنف دغه کلام "انها تحریراً" (ددغه مطلب دادی چې فنِ ثالث پاک د زوائد څخه دی) ددې راتلونکي عبارت سره "غیر مصون عن الحشو" (ددغه مطلب دادی چې فنِ ثالث کې حشو او زوائد موجود دی) تعارض او تناقض لری؟

جواب: ددغه دو کلامونو تر مینځ تعارض نسته ځکه د موجوده کلام مطلب دادی چې فنِ ثالث بالنسبت و مشهور کتابونو ته د زوائدُ څخه پاک دی یعني په مشهورُ کتابونو کې دومره زوائد وه چې د هغه په مقابل کې فنِ ثالث پاک د زوائدُ څخه ښکاری. لهذا اولني کلام

بالنسبت و مشهورُ کتابونو ته دی او دوم او راتلونکي کلام بالنسبت و خپل ځان ته دی. لهذا په دغه فنِ ثالث کي هم زوائد موجود وه مګر د نورو کتابونو په پرتله ګواکي په ده کي نسته.

حاشیه نمبر (۱۱):

موصول دوه قسمَ لری. ۱: **موصول اسمي:** هر هغه اسم چي معني دده بېله شبه الجمله (لکه اعطي الکتاب الذی عندک یعني هغه کتاب چي ستا سره دی ماته یې راکړه) او یا جمله (اعرني الکتاب الذی فی الدار یعني اکوم کتاب چي په کور کي دی هغه ماته په عاریت راکړه) نه تامیږی.

۲: **موصولِ حرفي:** هر هغه شي چي دی سره د هغه جمله چي تر ده ورسته راغلې وی په تأویل د مصدر ګرزی. اوس په دغه قید سره چي دی سره د ورستني جمله په تأویل د مصدر ګرزی "صه" او "مه" ووتل، ځکه دوی اسماء الافعال دي او بعضې علماء فرمایي چي دوی دواړه په تأویل د مصدر ګرزی. او دغه دوه هغه فعل چي مضاف الیه لپاره د ظرف ګرزېدلي وی لکه "قَالَ اللّٰهُ هٰذَا یَوْمُ یَنْفَعُ الصّٰدِقِیْنَ صِدْقُهُمْ ۚ (المائدة: ۱۱۹)". اوس "ینفع" هم په تأویل د مصدر ګرزی مګر په دغه درو سرو باندی د موصول حرفي اطلاق نه کیږی ځکه دوی په خپله په تأویل د مصدر ګرزی تر دوی ورستني کلام په تأویل د مصدر نه ګرزوی او حال دا چي موصول حرفي هغه دی چي په خپله او تر ده ورستني کلام ټوله په تأویل د مصدر ګرزی.

سوال: آیا په صله کي د موصول حرفي د عائد وجود ضروری دی لکه په موصول اسمي کي او که نه؟

جواب: نه، بلکه په دغه کي د عائد راوړنه منعَ ده.

سوال: آیا دده صله محض جمله خبریه راځي او که نه؟

جواب: نه ضروری نه ده، او دغه علامه سیبویه او علامه ابو علي فرمایي. البته د دوی نه سېوا نور نحات جمله خبریه لازم او د عائد موجود والي ضروری بولي.

سوال: پر موصول باندی صله ولي مخکي کېدای نه سي؟

جواب: ځکه موصول سره د صله دیو داسي اسم غوندی دی چي هغه اجزاء لرونکي وی او د هغه د اجزاؤ تر مینځ تقدیم او تأخیر وجود لری. لهذا د دغه اسم یو جزء پر هغه مخکي کېدای

Maktaba Tul Ishaat.com

نه سي دغه ډول صله يې موصول باندی. او دغه ډول صله بیان لپاره د موصول وی او بیان ورسته ترمبین وی. والله اعلم بحقیقة الحال.

﴿فائده﴾: موصول اسمي: هو اسم لا يتمّ معناه إلاّ إذا وُصل بشبه جملة(1) أو جملة. فمن وصله بشبه الجملة قولك [أعطني الكتاب الذي عندك]. و[أعرني الكتاب الذي في الدار]. ومن وصله بالجملة قولك: [قرأت الكتاب الذي اشتريته] در میان عالمان نحو در تبیین مباحث "موصول حرفی" سه رویکرد مشاهده می‌شود؛ بعضی[النحو الوافي، حاشية الصبان] "موصول حرفی" را در باب معرفه و نکره، مبحث موصول و بعد از مباحث "موصول اسمی" آورده-اند و در مقابل بعضی[ابن النحو] "موصول حرفی" را در ضمن عنوان کلی "ادات" در کنار سایر ادات، با عنوان "ادات مصدری" مورد بررسی قرار داده‌اند. بعضی دیگر .[الكافية "جامع الدروس "قطر الندى و بل الصدى"] از مبحث "موصول حرفی" به "حروف مصدری" تعبیر کرده وآن را در باب "حروف معانی" آورده-اند. ذکر این نکته قابل توجه است که ابن هشام در "معنی اللبیب" در ضمن بررسی مفردات، حروف مصدری را به صورت جداگانه بیان کرده و به کاربرد آنها اشاره می‌کند. انواع "موصول حرفی" در این بخش در قالب مثال به أنواع "موصول حرفی" اشاره می‌شود:

1. "ما"؛ به عنوان مثال "ما" در عبارت «أعجبني ما صنعتَ» موصول حرفی بوده و صله-ی آن جمله-ی فعلیه (صنعتَ) است.
2. "أنْ"؛ به عنوان مثال "أنْ" در عبارت «أريدُ أنْ أتعلّمَ» موصول حرفی عامل بوده و صله-ی آن جمله-ی فعلیه (أتعلّمَ) است.
3. "أنّ"؛ به عنوان مثال "أنّ" در عبارت «عَجِبتُ أنّ زيداً قائمٌ» از ادات مصدری عامل بوده که بر جمله-ی اسمیه وارد شده، "زيداً" را به عنوان اسم خود نصب و "قائمٌ" را به عنوان خبر، رفع داده است.
4. "لو"؛ به عنوان مثال "لو" در عبارت «وَدَدتُ لَو يَرِيْنَ» موصول حرفی بوده و صله-ی آن جمله--ی فعلیه (يَرِيْنَ) است.
5. "كَي"؛ به عنوان مثال "كَي" در جمله-ی «جئتُ لكَي تَتَعَلّمَ» موصول حرفی بوده و صله-ی آن فعل مضارع (تَتَعَلّمَ) است.
6. "همزه-ی تسویه"؛ به عنوان مثال لفظ "أ" در آیه شریفه-ی «سَواءٌ عَلَيهِم أ أنذَرتَهُم أم لَم تُنذِرهُم»[سورة البقرة :6] موصول حرفی بوده و جمله-ی «أنذَرتَهُم» صله-ی آن است.

صه : ص هـ : صهْ مبني على السكون وهو اسم لفعل الأمر ومعناه اسكت تقول للرجل إذا أسْكتَه صه فإن وصلت نونت فقلت صهٍ صهْ وقال المبرد إذا قلت صهٍ يا رجل بالتنوين فإنما تريد الفرق بين التعريف والتنكير لأن التنوين تنكير المعجم: مختار الصحاح

صه . [ص َه ْ] (ع اسم فعل) کلمه ای است که بدان متکلم را زجر کنند، یعنی خاموش باش . واحد و جمع در وی یکسان است . (منتهی الارب). بمعنی امر یعنی خاموش باش . (غیاث اللغات) (دهار). رجوع به نشوءاللغة ص 11 شود.

مَهْ / مَهٍ :- 1 - (النحو والصرف) اسم فعل أمر ، بمعنى اكْفُف ، ما نوّن منه كان نكرة وما لم ينوّن كان معرفة ، وهو مبنيٌّ على السّكون فإن كرّرتها ووصلت نوّنت وقلت : مهٍ مهٍ :- مَهْ يا سعادة عنّي ... فما أنا من رجالك . 2 - تكون للاستفهام واصلها عند ذلك (ما) الاستفهاميّة ، كقولنا : إنْ لم أساعد بلادي فَمَهْ ؟ أي : فماذا أفعل ؟ أو فما أفعل ؟. المعجم: اللغة العربية المعاصر

مه . [م َ] (حرف ربط) حرف نهی به معنی نه . (ناظم الاطباء). به معنی نه باشد که حرف نفی است و به عربی لا گویند و افاده ٔ معدوم شدن و نابود گردیدن هم می کند مثل مه این ماند و مه آن ، یعنی نه این ماند و نه آن . (برهان)

حاشیه‌نمبر۱۲:

دلته محشي دا خبره بيانوي غواړي چې موصول او صله د يوه شي غوندې دي. خلاصه د بيان داده چې موصول او صله د هغه شي غوندې دي کوم چې اجزاء لرونکي وي. لهذا دغه اسم چې اجزاء لري دغه د يو کلام جزء په اعتبار د يوه جزء ددې جوړېدلای نه سي بلکه د ټولو اجزاؤ په اعتبار سره به جزء جوړېږي، دغه ډول موصول او صله ده ددوی څخه يو د کلام جزء ښه هغه بله جوړېدلای نه سي. او دغه ډول ددوی ترمينځ ترتيب مخکي والي او ورسته والي وجود لري کوم چې لازم دي. او هغه ترتيب دادی چې صله به متصل د موصول سره وي. لهذا د صله د معمولاتُ څخه د يو شي هم مخکي والي پر موصول کېدلای نه سي.

حاشيه نمبر ۱۳:

ددې آيت څخه مقصد دادی چې څه وخت حضرت اسماعيل ﷺ هغه عمر ته ورسېدی چې دی د خپله پلار سره په تلنه باندی و توانېدي او د خپل ژوندی کارونه يې تر سره رسولای سوه نو بيا الله جل جلاله ابراهيم ﷺ دده په حلالولو سره امر کړی. او دغه معنې هلته تر لاسه کيږي څه وخت چې د "معه" متعلق ورسټنې "سعی" سي.

حاشيه نمبر ۱۴:

دلته مقصد د نهي څخه دادی چې زنا کونکي ښځه او نر سره بايد تاسو د نرمي چلن ور سره ونه کړي، او ددوی سره خپلوی تاسو پر دوی باندی د حد جاری کولو څخه منع نه کړي، بلکه پر دوی حد جاری کړي او که واده والا وي نو بيايې رجم کړي، دغه معنې هلته تر لاسه کيږي چې د "بهما" متعلق " رافة" و ګرزی.

حاشيه نمبر ۱۵:

دلته محشي دا خبره بيانوي چې کله د يو شي تأويل په بل شي سره وسي نو ددغه تأويل سره دا لازمه نده چې مأول بشي (کوم چې په تأويل د بل شي ګرزي دلې دی) او شي (مأول اليه) به په ټولو احکامو کې سره شريک وي بلکه دا کېدای سي چې په بعضو احکامو کې دي سره شريک وي. او په بعضو کې دي بيا سره شريک نه وي. ددغه نور تفصيل لاندی تر عنوان د تشريح تېر سو.

حاشيه نمبر ۱۶:

دغه دوم جواب دی، خلاصه ددغه جواب داده چې څه وخت معمول د مصدر ظرف وي نو دغه وخت مصدر په تأويل د "ان" سره د فعل نه ګرزی، ځکه هغه شي چې هغه عامل په ظرف کې وي

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغه کي بوی د فعل کفایت کوی. او په مصدر کي بوی د فعل (حدث) وجود لری نو په دغه وجه دی و تأویل ته ضرورت نه لری.

حاشیه نمبر ۱۷:

ربط د شي په دوه قسمه دي.

۱): ربط د شي د خپل ځان سره. او دغه په خپله وي.

۲): ربط د یوشي دبل داسي شي سره چې دغه اول شي په منزله د ځان لپاره ددوم شي وي. او دغه تعلق په لږ تعلق سره وي. لکه ربط د ظرف د مصدر سره په لږ تعلق سره چې هغه تعلق بوی د فعل دی.

حاشیه نمبر ۱۸:

سوال: زائد لفظ په کلام کي کوم یووی؟

جواب: هر هغه لفظ چې د اصل مراد په ادائینه کي و ده ته ضرورت نه وی عام تردې دغه زائد لفظ متعین وی او که نه وی.

حاشیه نمبر ۱۹:

په دې حاشیه کي دوه تحقیقه ـ ی.

اول: د تطویل او د حشو د تعریفونو بیان:

د حشو تعریف: هر هغه لفظ چې د مقصود په ادا کولو کي ده ته ضرورت نه وي. بیا عام تر دې دغه لفظ متعین وي لکه د شاعر په دې قول کي "وأعلَمُ علم الیوم و الامس و قبله". (زه د نن او د پرون، مخکي علم لرم). اوس دلته "قبله" زائد او متعین دی. او که متعین نه وي لکه د شاعر دغه قول "کذبا و مینا" اوس په دوی دو کي لا علی التعین یو زائد دی. ځکه د دوی دواړو یوه معنی ده.

تعریف د تطویل: هر هغه لفظ چې بېله کومي فائدې په مراد باندې زائد وي. (کذا فی شروح التلخیص ۱/۵۶، مع زیادتی)

دوم: په محشي باندې درد کولو بیان: سوال: د محشي دغه خبره "لان ما ذکر من لمعنیان متساویان صدقاً" صحی نه ده. ځکه د حشو او تطویل ترمینځ د عموم و خصوص مطلق نسبت موجود والي د کلام څخه د شارح ښکاره کیږي. ځکه شارح حشو په دې قید سره "بلا فائدة" مقیده نه کړه. او تطویل ئې په دغه قید سره مقید کړي. او د تطویل خاص والي تر حشو دده سره لازم دی. او

دواړه په یو: ځای سره صادقیږي. لکه په لفظ د "قبله" باندې چې په دې قول کې د شاعر راغلې دی "اعلم علم الیوم و الامس قبله". ځکه دلته "قبله" بېله فائدې په اصل مراد باندې زائد سوی دی. او حشو بېله تطویل صادقیږي لکه "الرجل" په دې قول کې "نعم الرجل زید". اوس دلته "الرجل" په اصل مراد باندې زائد مګر فائده "چې هغه اوقعیت په نفس کې دی. ځکه ایضاح ورسته تر ابهام اوقعیت په نفس کې فائده کوي." په کې سته. لهذا په "الرجل" حشو صادقیږي نه تطویل.(کذا فی الشرح للامیاطی ۳۷۷/ج۱)

عنوان آخر: هغه راتلونکي فرق دادی چې په حشو کې زائد متعین وی او په تطویل کې بیا زائد متعین نه وی.

سوال: دلته شارح دادول "الفرق بینهما" وویل او دادول یې نه وویل " فرق آخر"(یعني یو فرق خو دغه دی چې اوس ذکر سو او یو بل فرق ددوی ترمینځ راتلونکي دی). دغه ولې؟

جواب: دغه ډول وینابه "فرق آخر" هغه وخت صحت درلودی که چیرې دغه اوس ذکر سوی فرق معتبر او د اعتبار وړ وای او خبره دغه ډول نه ده ځکه دغه اوس ذکر سوی فرق د اعتبار وړ نه دی ځکه دغه فرق په اعتبار د مفهوم دی نه په اعتبار د مصداق. او اصل فرق هغه دی چې په اعتبار د ذات او مضداق وی او دغه فرق راتلونکي دی. څرنګه دغه اوس ذکر سوی فرق په اعتبار د ذات او مصداق نه دی بلکه په اعتبار د مفهوم دی په دغه وجه دی د اعتبار وړ نه دی نو په دغه وجه یې "فرق آخر" نه ووایي.

حاشیه نمبر ۲۰:

سوال: په طرف کې د اختصار تعبیر په "قابلاً" سره کول او په جانب کې د ایضاح او د تجرید په "مفتقراً" سره کول صحت نه لري. ځکه دغه دري سره ،سره برابر دي. ځکه هر یو ددوي څخه د خوښو صفاتو څخه دی؟

جواب: په فرق کولو سره مصنف و دې ته اشاره کړیده چې اهتمام په اختصار سره کم تره تر اهتمام په ایضاح او تجرید سره دی. ځکه ایضاح او تجرید په احتراز کولو سره د تعقید او د حشوی حاصلیږي. او اختصار په احتراز کولو سره د تطویل حاصلیږي. د تعقید او د حشو څخه احتراز کونه اهم تر احتراز کولو د تطویل څخه ده. ځکه تطویل معنی لره فاسدونکي نه وي. او نه فهمول دمعني سختوی. او حشو کله کله معنی لره فاسدونکي و ي. لکه "الذی" په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

شعر کې دا بې طیب "و لا فضل فیها(الدنیا) للشجاعة والندی(سخاوت)والصبر لو لا لقاء شعوب (الموت)" یعنې په دنیا کې فضیلت، شجاعت ، سخاوت او صبر لره په شدائدو او مشکلاتو باندې نسته که چیرې د مرګ سره ملاقات نه وای. اوس دغه معنې بالنسبت صبر او شجاعت لره صحی دی سخاوت لره. ځکه څه وخت چې بهادر کس ته یقین په همیشوالي سره راسي نو بیا ده ته په مکروه شي باندې صبر کونه آسانه وي. په خلاف دهغه چاچې ښندونکي د مال وي. ځکه څه وخت چې ښندونکي لره د مال د همیشوالي یقین راسي نو پرده باندې بیا ښندل د مال سخت سي. ځکه دې مال ته همیشه احتیاج لري. نو په دغه وخت کې مال ښندل احسن دی. نو دتیر سوې بیان څخه دا ښکاره سوه چې لفظ د "الندی" فاسدونکي معنی لره دی. اوحشو کلمه یا معنی لره فاسدونکي نه وي لکه "راس" په دې قول کې د شاعر "و اورثنی تکلمه الصداع الراس و القلة (اضطراب). (المنجد ۶۵۱) دغه خبرو ماته د سر درد او بې قراري پیدا کړه). اوس دلته د "الراس" زائد مګر معنی لره فاسدونکي نه دی. او تعقید د مراد فهمول سختوي. (کذا فی شروح التلخیص ۵۷/ج۱/۱ الشرح للبابانی ۳۷۹/ج۱ مع زیادتی)

حاشیه نمبر ۲۱:

سوال: مصنف رحمه الله د "الفتُ" پر ځای "اختصرتُ" ولې نه ووایې؟

جواب: "اختصرتُ" که یې ویلي وای نو ددې به دا معنې سوې وای چې ما فنِ ثالث د مفتاح العلوم مختصر کړې او په دغه مختصر کې محض فنِ ثالث دی او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده بلکه د مصنف په تصنیف کې لکه څرنګه فنِ ثالث وجود لري دغه ډول د ایضاح او تجرید عبارات او خلاصه هم وجود لري په دغه وجه مصنف "الفت" ووایي.

صفحه نمبر ۱۴:

عبارت

ويشمل على ما يحتاج اليه
لا يكون ما يستغنى عنه ليكون حشوا من الامثلة وهى الجزئيات التى تذكر لايضاح
القواعد وايصالها الى فهم المستفيد والشواهد وهى الجزئيات التى يستشهد بها
فى اثبات القواعد لكونها من التنزيل او كلام العرب المطلق فى بعربيتهم فهو اخص
من الامثلة وقولى الى المرام هو المقصد جهدا بالضم والفتح الاجتهاد وعن الفراء
الجهد بالضم الطاقة وبالفتح المشقة وقيل استعملا الا الاولى فى قولهم لا الوك جهدا
متصديا الى مفعولين والمعنى لا استعك جهدا وجاز ههنا المفعول الاول لانه
غير مقصود اى لم اضع اجتهادا فى تحقيقا او للمختصر يعنى فى تحقيق ما اذكره من
الابحاث وتهذيبه اى تنقيحه وتبديته اى المختصر ترتيبا اقرب تناولا الى الحفظ
وهو فى الاصل مد الحبل الى الشئ ثم يؤخذ من ترتيبه اى اقرب تناولا لسهولة الى القسم
الثالث اضافة المصدر الى الفاعل او المفعول وقولى بالغ فى اختصاره لفظا المختصر
تقريبا مفعول لعلما تضمنه معنى لم بالغ كانه قال تركت لمبالغة فى الاختصار تقريبا
لتعاطيه اى تناوله وطلب التسهيل فيه على طالبيه وليه يتأول الفعل المنفى بالنفى
على ما ذكر نا لكان المعنى لم يكن المبالغة فى الاختصار لم يكن للتقريب وللتسهيل بل لاكمه
اخر وهذا بمعنى على اصل ذكر الشيخ فى كما قال الاعلم وهو ان من حكم النفى اذا
دخل على كلام فيه تقييد على وجه ما ان يتوجه الى ذلك التقييد فان يقع له
خصوصا مثلا اذا قيل لم يأت القوم اجمعون كان نفيا للاجتماع وهذا معلوم لا
سبيل الى الشك فيه ولعمرى لقد اتى المصنف فى وصف القسم الثالث بأبين فيه
حشوا وتطويلا وتعقيدا يصير معه كالالغاز ناشئا على ما ذكرا وتعسر اصطيادها
حيث وصف مؤلفه بانه مختصر ومسهل المأخذ اى لا تطويل فيه ولا حشو ولا
تعقيد كالقسم الثانى فانه اتصف بتلك الذكورة من القواعد وغيرها فوائد حذرت
اى طلبت فى بعض كتب القوم عليها اى على الفوائد فى اثناء اطراف ايها الفرد الكامل الواحد
من القوم بالتصريح بها اى بالفوائد ولا بالاشارة اليها بان يكون كلامهم على وجه
يمكن تحصيلها منه بالتبعية وان لم يقصد وجودها بعينى ليتنبه لها ولا تفقدا ولا
اثباتا كبعض اعراضاتهم على المفتاح وغيره ولقد يتعجب ان جمل تلك فضلا كتب
الائمة فوائد ومخترعات خاطر ذوات ورويته تلخيص المفتاح ولما

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿او پر هغه څه مشتمله دي کومو ته چې احتياج وي﴾ او پر هغه باندې مشتمله نه دي کومو ته چې ضرورت شتون نه لري "که چيرې مشتمله واى نو "بيابه حشو راغلي واى. ﴿او هغه څه چې دوى ته احتياج و هغه مثالونه﴾ دغه هغه جزئيات دي کوم چې د قواعدو د وضاحت لپاره او د طالبانو د ذهنو ته د دغه قواعدو د رسېدولو لپاره ذکر سوى دي. ﴿اوشواهد دي﴾ دا هغه جزئيات دي کوم چې د قواعدو په ثابتولو باندې وړاندې کېږي. ځکه دغه جزئيات د قرآن ځخه دي او يا د هغه عربو د کلام ځخه دي د کوم عربيت قوى او مضبوط وى. او دغه شواهد تر امثلو خاص دي. ﴿او ماکمي په خپل کوشش کي و نه کړه﴾، جهد په ضمه او فتحه سره د جيم مأخوذ د اجتهاد ځخه دي. او د فرآء ځخه دا خبره نقل سوې ده چې جُهد په ضمه سره د جيم طاقت او په فتحه سره سختي او مشقت ته ويل کېږي. اوکله کله دغه الالو ددوى په قول کي متعدى و دوو مفعولونو ته استعمالېږي "لا الوک جهدا". يعني زه ستا ځخه خپل وس او طاقت نه پټوم. او دلته يې اول مفعول د نه مقصودوالي په وجه حذف کړيدي. يعني "لم امنع اجتهادا" يعني ما خپل کوشش نه وسپموي. ﴿دده په تحقيق کي﴾ يعني د مختصر، يعني د هغه بحثونو په تحقيق کي کوم چې په دغه مختصر کي ذکر سوى دي. ﴿او په صفائي کي دده﴾ او ما ده﴾ يعني مختصر ﴿ته داسي ترتيب ورکړى کوم چې د اخيستولو په لحاظ سره ډير ژوندي دى﴾ تناول په اصل کي د يو شي د راخيستولو لپاره و هغه ته لاس غزونه وى. ﴿تر ده د تر تيب﴾ يعني تر تيب د سکاکي اويا د دريم قسم دغه اضافت د مصدر و فاعل او يا و مفعول ته دى. ﴿او ما دده د الفاظو په مختصرولو کي مبالغه و نه کړه﴾ يعني د مختصر ﴿د اخيستولو په اعتبار د ژوندي کېدولو په خاطر﴾ "تقريبا" مفعول له پاره د هغې معنې ځاى په کوم چې "لم ابالغ" مشتمل دى. ځکه اکي مصنف وويل: ما مبالغه کونه په اختصار کي ددې وجې پرېښوله چې دى ژوندي واخيستولو ته ددغه مختصر وى. ﴿او طالبانو ته ددغه مختصر په فهمولو کي د آساني په خاطر﴾ که چيرې مور د منفي فعل تأويل په مثبت سره کړى نه واى نو معنى به داسوې واى: په اختصار کي مبالغه کونه نه د تقريب او نه د تسهيل په خاطر وه بلکه د يو بل شي په خاطر وه. او دغه خبره په هغه اصل بناء ده کوم چې شيخ په دلائل الاعجاز کي ذکر کړېده. هغه داده: حکم د هغه نفي چې په هغه شي باندې داخل سي چې هغه مقيد په يوه قيد سره وى نو دغه نفي و دغه قيد ته متوجه کېږي. او ددغه قيد د نفي لپاره خصوصا واقع کېږي. د مثال په توګه وويل سي "لم يأتيک القوم اجمعون" نو دغه نفي د اجتماع دى. او په دغه خبره کي هيڅ يو شک نسته. قسم دي د عمر ورکونکي په ذات سره وى چې مصنف د فن ثالث په

وصف کې افراط کړی دي دادول چې په ده کې حشو، تطویل او تعقید شته او په دعه سره یې اول تصریح وکړه او بیا یې اشاره ورته وکړه د هغه موافق چې مور ذکر کړه، او بیا یې تعریض ورته وکړی دادول چې ده خپل تصنیف سوی کتاب موصوفه په اختصار او صاف سوی اوپه اخیستولو کې آسانه سره کړی دي. یعني په ده کې نه تطویل، حشو او نه تعقیدسته کوم چې په فن ثالث کې وجود لری. ﴿او ما و دغه ته د هغه فوائدو اضافه وکړه﴾ کوم چې ذکر سوی دي دغه قواعدی اوکه پرته ددوی دي ﴿په کومو چې زما اطلاع د قوم په کتابونو کې راغلې وه. او د هغه زوائدو کوم چې د یوه په کتاب کې نه وه دغه نه صراحتاً او نه اشارتاً پکښې وه﴾ دادول چې ددوی کلام دادول وی چې ددوی څخه تبعاً دغه زوائد تر لاسه کېدای سي که څه هم دوی یې قصد کړی نه وي. یعني دوی و دغه زوائدو ته وړاندی والي کړی نه و، نه و نفي اونه اثبات ته ددوی. لکه یو څه اعتراضونه د مصنف په ایضاح باندی اوپرته ددوی. او مصنف عاجزي کونه په دې خبره کې تر سره کړېده چې د قوم د کتابونو څخه اخیستل سوی شیان یې په فوائدو سره و نومول، او د خپل فکر څخه تر لاسه سوی شیانو ته یې زوائد وویل. ﴿او دغه ما په تلخیص المفتاح سره ونمو﴾.

تشریح

وهی حکم کلي: سوال: قواعد د قاعدة جمع ده، اود قاعدې اطلاق پر ډیرو معناګانو باندی کیږی. ۱: ښځي ته قاعده ویل کیږی ځکه دا په کور کې ناسته وی.

۲: هغه لرګي چې په هغه باندی کجاوه هیښول کیږی ځکه په دې باندی کجاوه هیښول کیږی.

۳: اصل د شي ته قاعده ویل کیږی.

۴: وکلي قانون ته هم قاعده ویل کیږی. نو اوس دلته ددغه معناګانو څخه کومه معنی مراد ده؟

جواب: دلته څلورم معني یعني کلي قانون مراد دی.

اخص من الامثلة: سوال: ورسته تر "امثله"، "شواهد" راوړنه مستدرک او په ذکرکونه کې یې فائده نسته. ځکه دوی دواړه د یو شي نومونه دي؟

جواب: دوی دواړه یو نه بلکه ددوی تر مینځ عموم وخصوص مطلق نسبت وجود لری، دادول چې مثال مطلقا عام دی ځکه مقصد په مثال سره وضاحت کونه د یو شي وی، او شاهد مطلقا خاص دی په ده سره د وضاحت کوني سره سره اثبات هم مقصد دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

قد استعمل الالو: **سوال:** مصنف رحمه الله د جمهورو څخه مخالفت کړی دي، ځکه جمهور "الو" د دوو مفعولو ته متعدی استعمالوي، او مصنف و یوه مفعول ته متعدی استعمال کړی دي؟

جواب: د مصنف رحمه الله او د جمهورو تر مینځ هیڅ یو قسم اختلاف نسته، ځکه مصنف هم دی ودو مفعولو ته متعدی کړی دي، مګر ده اول مفعول د نه مقصود والي د وجې یې حذف کړی دي. ځکه د مصنف مقصد دادی چې ده په واقعي تحقیق کې د هغه بحثونو خپل وس نه سیموي کوم چې په مختصر کې ذکر سوی دي. او مقصود دده د مخاطب تعین نه دی.

في تحقيق ماذكر: **سوال:** تحقیق اثبات د مدعي په دلیل سره ده. لهذا ضمیر د تحقیق باید ومدعی ته راجع سي، نو بیا به معني داسي "تحقیق د مدعی په دلیل سره". او حال دا چې دلته د تحقیق ضمیر ومختصر ته راجع دی، او مختصر عبارت د الفاظو څخه دی. نو معني دا سوه "اثبات د الفاظو په دلیل سره" او اثبات د الفاظو نه کیږی، ځکه الفاظ بېله دلیل هم ثابت وی؟

جواب: دلته عبارت د مصنف بناء پر حذف د مضاف الیه دی. اصل عبارت دادی "تحقیق ما ذکر فیه من الابحاث". او په دې کې شک نسته چې په مختصر کې ذکر سوی شیان مدعا گاني سره د دلائلو وي. نو معني داسوه "اثبات د هغه مدعا گانو په دلائلو سره دي کوم چې په مختصر کې وجود لري".

أي ترتيب السكاكي: **سوال:** د اعبارت "ترتیبه" د مصنف صحت نه لری، ځکه د "ترتیبه" ضمیر راجع و مختصر ته دی نو معني داسوه "ما و مختصر ته یو داسي ترتیب ورکړی کوم چې زیات ژندې په اعتبار د اخیستولو تر ترتیب د دغه مختصر وو". نو دلته اقربیت او ژندهوالي د یو شي په خپل ځان باندی لازم سو او دغه باطل دی؟

جواب: ضمیر د "ترتیبه" و مختصر نه بلکه راجع و سکاکي ته (که چیرې مصدر "ترتیب" مضاف و فاعل ته سي) او یا و قسم ثالث ته (که چیرې مصدر مضاف و مفعول ته او فاعل محذوف وگرزول سي) راجع سي. نو معني داسوه "ترتیب د سکاکي او یا ترترتیب د قسم ثالث".

كانه قال تركت: **سوال:** مصنف دلته د دغه عبارت په لفظ سره د شک "کانه" ولي راوړي؟

جواب: ځکه معني د "ترکت" بعينه معني د "ابالغ" نه ده که چيرې واى نو بيا به لفظ د شک ويلي نه واى. بلکه "لم ابالغ" و "ترکت" ته متضمن دى.

سوال: تضمن دوه قسمه لرى. ۱: متضمِن (په کسره سره د ميم) اصل او متضمَن (په فتحه سره د ميم) تابع دده وى، دا ډول چې دى حال، صفت او يا مفعول وى. ۲: متضمَن اصل او متضمِن دده فرعَ وى دلته د تضمن کوم قسم دى؟

جواب: دوم قسم دا ډول چې شارح وويل "ترکت المبالغة". "ترکت" يې اصل او "المبالغة" يې تابع او مفعول يې و گرزوى.

لو لم يتأول: سوال: شارح "تقريبا" مفعول له د "لم ابالغ" لپاره بېله تضمنه و معنى لره د "ترکت" ولې و نه گرزوى؟

جواب: په "لم ابالغ" کې درې احتمالاته سته.

۱: محض نفي معتبر سي. ۲: محض هغه نفي سوى شي معتبر سي چې هغه دلته فعل د "ابالغ" دى. ۳: فعل په حيثيت سره د نفي معتبر سي. او دغه ډول په مفعول له کې هم درې احتماله شتون او وجود لرى. ۱: محض قيد لپاره د نفي وى. ۲: محض قيد لپاره د هغه شي سي د کوم چې نفي سوى دى. ۳: قيد د دواړو لپاره سي. اول صورت باطل ځکه دى چې په دغه صورت کې مفعول له علت لپاره د حرف چې "لم" دى راسي او علت کېدنه لپاره د حرف نه سي کېدلاى، ځکه معلول په علت سره هغه شي گرزى کوم چې مقصود بالذات وى او حال دا چې حرف مقصود بالذات نه وى. او درېيم صورت هم باطل دى ځکه د دغه صورت يو جزء باطل دى هغه علتيت لپاره د معني حرفي کېدنه ده لکه تاچې اوس د اول صورت په بطلان کې وپېژنده نو هغه صورت مکمل هم باطل وى، دکوم چې يو جزء باطل وى ځکه د جزء په بطلان سره د مجموعې بطلان تر سره کيږى (او دغه دوې وجې شارح د ښکاره والي په وجه بيان نه کړې) او دوم وجه (علت لپاره د منفي کېدنه) هم باطل ده، ځکه په دغه صورت کې د مقصود خلاف ثابتيږى. ځکه نفي چې په داسي کلام باندى داخلي سي په کوم کې چې تقيد وى نو نفي و دغه تقيد ته متوجه کيږى نو په دغه صورت کې دغه قيد د مينځ لاړ سي، او کلام مثبت پاته سي. نو په مذکوره صورت کې معني د عبارت دا گرزى "ما مبالغه په اختصار کې د وجې ځخه د تقريب او

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیل تر سره نه کړه بلکه د کومي بلي وجي مي تر سره کړه". او دغه معنی مقصود نه ده بلکه مقصود پرته ددغه ده هغه داده"ما مبالغه په اختصار کي د وجي څخه د تقریب او تسهیل پورې ښوه. نه د کومي بلي وجي". او شارح په دغه باندی د شیخ کلام په دلائل الاعجاز کي وړاندی کي کړي.

لو لم یتأول: **سوال:** شارح لره داسي وینا "لم و ابالغ مجموعهما" په کار وه، څکه د فعل منفي مطلب محض فعل دی نه نفي. او حال دا چي دلته فعل سره د نفي دواړه مراد دی؟

جواب: مور دا خبره منو چي دلته مجموعه د "لم" او د "ابالغ" مراد ده نه یو وازی "ابالغ". مګر مور دا خبره نه منو چي منفي فعل محض فعل بهله حرف نفي وی بلکه منفي فعل په اصطلاح کي فعل سره د نفي ته ویل کیږی نه یو وازی فعل ته. د مثال په توګه "لم یضرب" کي "لم" سره د "یضرب" دغه منفي فعل دی نو یو وازی "یضرب".

سوال: د قسم ثالث د مفتاح العلوم په اختصار باندی باعث دا خبره وه چي دغه فن ثالث په تطویل، حشو او تعقید باندی مشتمل دی مګر د دغه خبری څخه دا نه معلومیږی چي مختصر د مصنف په دغه شیانو باندی مشتمله نه دی. نو کېدای سي چي مختصر هم په دغه شیانو باندی مشتمله وی نو بیا و مختصر ته ضرورت پاته نه سو، څکه فن ثالث او مختصر دواړه په دغه شیانو باندی مشتمله دي؟

جواب: خبره دغه ډول نه ده بلکه مختصر د مصنف په دغه شیانو باندی مشتمله نه ده او دغه د عبارت څخه د مصنف معلومیږی دا ډول چي مصنف په کامله توګه سره بیان ددې خبری وکړي چي دغه فن ثالث په دغه شیانو باندی مشتمله دی. ۱: صراحتاً یې وویل. ۲: اشارتاً. ۳: تعریضاً. نو ددې څخه په خپله معلوم سو چي مختصر په دغه شیانو باندی مشتمله نه دی.

سوال: صراحتا، اشارتا او تعریضا محل وښیه؟

جواب: "و لکن کان القسم الثالث غیر مصون" دغه صراحتاً وینا ده. او په دې قول کي "قابلا للاختصار مفتقرا الی الایضاح و التجرید" اشارتاً وینا ده دا ډول چي شارح دغه اشاره په دې قول سره بیان کړه "لما فیه من التطویل و لما فیه التعقید الخ" او تعریضا وینا یې داده "الفت مختصرا الخ.....".

سوال: مصنف خپل مختصر په څو صفتونو سره موصوفه کړي. ۱: مختصر منقح دی (لم الو جهاد في تحقيقه). ۲: مختصر سهل المأخذ دی (لم ابالغ في اختصارلفظه..). او س د دغه څخه څرنګه دا خبره معلومیږي چې فن ثالث په تطویل الخ او په نورو سره موصوفه دی؟

جواب: د دغه څخه په طریقه د کنایې معلومیږي دا دول چې کوم صفتونه په مختصر کې دی هغه وجود په فن ثالث کې نه لري. نو فن ثالث په خلاف د دغه صفتونو سره موصوفه سو.

﴿حل الحواشي﴾

حاشیه نمبر ۱:

سوال: دغه عبارت "حکم کلي" صحی نه دی. ځکه حکم یو معني حرفي ده او پرته د جزئي بل څه نسبي کیدلای؟

جواب: حکم په خپله اصلي معني سره "النسبة" مراد دی. او د حکم په کلي سره موصوف کول صحی دی. ځکه دغه توصیف د شي په حال سره د خپل متعلق "چې هغه موضوع ده" کول دی. ځکه کلیت د حکم په کلیت سره د موضوع وي.

سوال: دغه عبارت "احکامها منه" صحی نه دی. ځکه د دې عبارت څخه دا معلومیږي چې احکام جزئیه لره هم احکام "چې هغه د کلي څخه مستفاد کیږي" سته. او دغه معلومه خبره ده چې حکم لره حکم چې د کلي څخه مستفادیږي نسته؟

جواب: و ضمیر ته د مؤنث اضافت د احکامو اضافت بیاني دی نه اضافت لامي.

﴿فائده﴾: د "ینطبق" او د "جزئیاته" د ضمائرو څخه هر یو راجع و حکم کلي ته دی. او په انطباق سره مراد صدق دی. او لام په دې قول کې "لیستفاد" د عاقبت او د مآل لپاره دی. او په مفهوم کې د قاعده د معتبرو د وجې ئې دغه قید ذکر کړی دی. نو معني د عبارت دا سوه "هی حکم کلی یصدق هذا الحکم علی افراده لتستفاد الاحکام التی هی افراد هذا الحکم الکلی منه" او انطباق ئې دا دي: مثلا "جائني زید" نو اوس د زید حکم معلوم ول دی چې دی مرفوع، مجرور او که منصوب دی. نو ته زید موضوع واقع کړه. او د هغې قاعده "کل فاعل مرفوع" موضوع محمول جوړه کړه چې کوم د نحاتو په وړاندی موجوده دي. او دا دول وویایه "زید فاعل" او بیا دغه قاعده کبری واقع کړه او وویایه "زید مرفوع. و کل فاعل مرفوع". نو د دې نتیجه داده "زید مرفوع". لهذا دلته د زید حکم

Maktaba Tul Ishaat.com

معلوم سو. او دغه مفاد ددې عبارت دی "ان یصیر کبری لصغری سهلة الحصول" (الشرح للدماینی ۳۸۳/ ح ۱)، (الشرح لعولانا عبد الجمیل ۴۱)، (ملا جلال)

حاشیه نمبر۲:

دلته محشي د انطباق صورت وړاندی کونه غواړي. خلاصه داده چې د حکم کلي په توسط د جزئیاتو د احکامو پیژندلو طریقه داده چې د کوم جزئي حکم پیژندل وی نو هغه موضوع دې وګرزول سي او د قاعده کلي موضوع دی محمول وګرزول سي. بیا دی دغه قضیه صغری او قاعده کلیه کبری و ګرزول سي نو دغه ډول به دغه شکل اول وګرزی. او بیا دی حد اوسط لری سي څه چې پاته سي هغه به حکم د دغه جزئي وی د مثال په توګه "جاء ني زید" کې د زید حکم معلوم ول وی نو زید دي موضوع او د قاعده کلیه موضوع "کل فاعل مرفوع" دي محمول و ګرزول سي نو دا ډول به وویل سي "زید فاعل" بیا دي قاعده کلیه کبری و ګرزول سي نو دا ډول به وویل سي "زید فاعل" "و کل فاعل مرفوع" حد اوسط لری کولو ورسته به دا پاته سي "زید مرفوع" او غه د زید په "جاءني زید" کې یې حکم دی. او صغری سهلة الحصول مطلب دا دی چې د دې په اثبات کې څه کوم دلیل ته احتیاج نه وی بلکه هغه تسلیم شده وی.

حاشیه نمبر۳:

سوال: "لا علی ما یستفتی منه" د کوم ځای څخه معلومیږی یعني دا خبره چې د مصنف تلخیص المفتاح پر حشو او زائدو شیانو باندی مشتمل نه دی دغه خبره د څه څخه معلومیږی؟

جواب: دغه خبره د مقام څخه معلومیږی ځکه مصنف دغه تصنیف د تلخیص په دې وجه تر سره کړي چې فن ثالث پر حشو او تطویل مشتمل و، نو د دغه د لری کولو لپاره مصنف تلخیص المفتاح تصنیف کړي. لهذا په دغه تلخیص کې هغه حشو او زوائد نسته کوم چې په دغه فن ثالث کې وه که چیری سي نو بیا د دغه تصنیف کوم فائده پاته نه سوه. او دا خبره هم معلوم سوه چې په فن ثالث کې دغه حشو په وجه د ډیرو مثالونو وه په دغه وجه مصنف وویل چې په تلخیص المفتاح کې محض د ضرورت په قدر مثالونه وجود لری یعني د ضرورت څخه زیات لکه په فن ثالث کې وجود لری هغه دلته نسته.

حاشیه نمبر۴:

سوال: دغه عبارت د شارح "فهی احص من الاثبات" صحی نه دی. ځکه د دې څخه مراد "الذکر للاثبات" به دا وي چې دغه ذکر به فقط لپاره د اثبات وي. او مراد د دې څخه "الذکر للایضاح" به دا وي چې دغه به فقط د ایضاح لپاره ذکر سوی وي. او یا به د دې څخه "الذکر للاثبات" مراد دا وي چې دغه د اثبات لپاره ذکر سوي دی عام تر هغې د ایضاح لپاره وي او که نه وي. او د دې څخه "الذکر للایضاح" به مراد دا وي چې دغه د ایضاح لپاره ذکر سوي وي عام تر دې دغه د اثبات لپاره وي او که نه وي. نو بناء بر اول د "شواهد" او د "امثلو" ترمینځ تباین کلي دي. او بناء بر دوم د دوی دوو ترمینځ عموم و خصوص من وجه دی نه عموم و خصوص مطلق؟

جواب: دغه عبارت صحی او معنی ئې داده "هر هغه شي چې هغه صلاحیت د شاهد جوړ ېدلو لري نو دغه بیا د مثال جوړېدلو صلاحیت هم لري. بېله عکس. او دغه معنی صحی ده. ځکه اثبات په هر کلام سره نه سي تر سره کېدای. بلکه اثبات په هغه کلام سره تر سره کېدای سي چې هغه تنزیل، حدیث یا د هغه چا وي چې هغه په عربیت کې ثقه وي. په خلاف د ایضاح. ځکه ایضاح و دغه ته محتاج نه ده. (کذا فی شروح التلخیص ۵۸/ج۱ مع زیادتی)

حاشیه نمبر۵:

تقصیر د دې قول څخه د عربُ راخیستل سوی دی "قصر في الشي" دغه به هغه وخت ویل کېدی چې یو کس به سستي او کوتاهي په یو کار کې وکړه. لهذا تقصیر و سستي کوني ته ویل کیږي. تقصیر: (اسم) مصدر قَصَّرَ لاحظ تَقْصِراً في العَمَلِ: تَهاوُناً.//تقصیر. [تَ] (ع مص) سست کردن. (ترجمان جرجانی ترتیب عادل بن علی) (منتهی الارب) (آنندراج) (ناظم الاطباء) (از اقرب الموارد). کوتاهی کردن و با لفظ کردن، و افتادن، و ستن، و، فتن و آمدن مستعمل. (آنندراج). سستی و کوتاهی کردن در کاری. (غیاث اللغات). قصور و کوتاهی. (ناظم الاطباء).

حاشیه نمبر۶:

صاحب الکشاف په دې الهي قول کې فرمایلي دي "لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا. (سورة آل عمران: ۱۱۸)" چې ویل کیږي "ألا في الامر"، "یألو في الامر" دغه هغه وخت ویل کیږي چې یو کس په یو کار کې سستي او کوتاهي و کړي. بیا دغه "ألا" متعدی و دوو مفعولو ته استعمال سو، ویل کیږي "لا ألوک نُصْحاً" یعني زه ستا څخه خپله خیر خواهي نه منعَ کوم او په هغه کې کوتاهي نه کوم، "لا ألوک جُهْداً" اوزه خپل وس ستا څخه نه پټوم او نه یې منعَ کوم. او په دغه وخت کې "الا" متضمنَ معني

Maktaba Tul Ishaat.com

لره د منع وی. او دلته شارح رحمه الله د مصنف دغه کلام "لم آل جهداً" پر مشهور صورت حمل کړی دي او په دغه صورت کې معني صحت لري نو اصل عبارت دا ډول دی" لم آلوک جهداً" يعني ما ستا څخه په تهذيب کې د فن ثالث خپل وس سپمولي نه دي".

آلا: (فعل) آلا / آلا مي يآلو ، ألواً ، فهو آلٍ ، والمفعول مألوٌ فيه الا : اجتهد آلا : قصر وضعف آلا الطالب : قصّر ، فتر ، أنطأ ، توانى " : لا يقصّرون في إفساد دينكم ومصرّتكم الا الشيء ألوّا : استطاعه آلا فلانٌ الشيء : أعد إياه آلاهُ ما يستجلُهُ أعطاهُ إيّاهُ آلهُ عملَهُ : تركَهُ

حاشيه نمبر ۷:

سوال: دغه خبره "چې "آل" د "الو"(په معنی سره د تقصير) څخه اخيستل سوي دی" مستلزم دي لره دی چې "آل" دی لازمي سي نه متعدي. نو په دغه وخت کې "جهداً" حال د فاعل څخه د "آل" دی. او عبارت دا جوړيږي "لم آل مجتهداً" او يا دې د نسبت څخه د "آل" و فاعل څخه تميز دی. نو دغه تميز په معنی سره د فاعل مجازي دی"لم يقصر اجتهادی".او يا د دې په نزع سره د خافض منصوب دی." لم آل في اجتهادی"نو معنی د عبارت دغه ډول " لا امنعک جهداً" نه ده . بلکه هغه ډول ده لکه اوس چې پاسه تېره سوه؟

جواب: يو لاهم دد غه ذکر سوي تقديرونو څخه صحی نه دی.

اول په دی وجه صحی نه دی چې حاليت د مصدر سماعي دی مګر که چيرې مصدر د خپل عامله څخه يو نوع وی، نو بيا د دغه مصدر راتلل سماعي نه وی.لکه "اتانی سرعة و بطوء". اوس سرعت او بطوئت انواعي د اتيان دی.(رضی ۳۸/ج۲).او "جهداً" دغه ډول نه دی.

دوم په دې وجه سره صحی نه دی چې تميز محول د فاعل حقيقي څخه وي. ځکه تميز کېده په کلام عربي کې ثابت سوي نه دی.(هذا ما يستفاد من منهاج ۱۳۷/ج۱).

دريیم په دې وجه سره صحی نه دی چې منصوب په نزع سره د خافض کېده هم سماعي دی. او د هغه مثالو څخه تجاوز او تېری کيدای نه سي چې هغه د عربو څخه اوربدل سوي وي. لهذا "آل" کله په طريقه سره د تضمين کله و مفعولينو ته متعدي هم استعماليږي. لکه په دې قول کې" لم آلوک جهداً ای لم امنعک جهداً" او عبارت د مصنف هم په دغه استعمال محمول دی.(کذا فی المفصل ۴۰۰/ج۱، مع زيادتی)

حاشيه نمبر۸:

"لم ابالغ": په دغه کې "لم" حرف نفي او "ابالغ" په دغه حرف سره نفي سوی دی. لهذا "ابالغ" منفي په "لم" سره دی. اوس دلته "تقریباً" مفعول له لپاره د منفي "چې عدم مبالغه ده" نه دی، ځکه مفعول له هر هغه شي دی چې دده په وجه یو کار تر سره سوی وی، او دلته عدم مبالغه یو کار نه دی چې د مفعول له په وجه دی تر سره سوي وی. لهذا دغه خبره معلوم سوه چې دلته "تقریباً" مفعول له لپاره د منفي چې عدم مبالغه ده نه دی. او دغه ډول مفعول له لپاره د مبالغه هم نه دی داډول چې "ابالغ" پېله "لم" معتبر سي یعني مبالغه کونه او دغه خبره راتلونکې ده چې دغه مفعول له لپاره د مبالغه هم نه دی.

سوال: "في اختصاره" جار مجرو متعلق غواړی نو د دغه متعلق څوک دی؟

جواب: د دغه تعلق د

حاشیه نمبر ۹:

سوال: لفظ د "المعني" ته په عبارت کې ضرورت نسته. ځکه معنی پېله دغه لفظ د راوړلو هم صحی ده. ځکه د لفظ خپلې معني لره متضمن والي ضروري وي. او د دغه سره دا لازمه ده چې لفظ به هغه شي لره متضمن وي کوم ته چې معنی د لفظ متضمن وي. ځکه متضمن "لم ابالغ" د متضَمن " نفی البلاغة" د شي "ترک المبالغة" متضمن شي لره وي. که شارح چرته داسي ویلي وای " مفعول له لما تضمنه لم ابالغ" نو دغه وینا به اخصره وای؟

جواب: مور دا منو "چې د عبارت معنی پېله راوړلو د لفظ د "المعنی" صحی ده". مگر په راوړلو کې د لفظ د "المعنی" یوه فائده سته. هغه اشاره کول و دې خبرې ته ده چې " ترک المبالغة " **بعینه معني د** "لم ابالغ " نه ده. بلکه دغه "ترک المبالغة" لازم د معني سره د "لم ابالغ" ده داډول چې معني د "لم ابالغ" نفی المبالغة ده. او د نفي سره د مبالغې ترک د مبالغې لازم دی. (کذا قال مولانا محمد بن محمد فی شرحه ۶۷/ج۱)، (الشرح للعالمی ۴۰۳/ج۱)

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: که چیرې شارح د دغه کلام "لم ابالغ" تأویل په مثبت کلام "ترکت" سره و نه کړی نو بیا څه خرابي پېښیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د خلاف المقصود لازم مبدل پېښيږي. ځکه څه وخت چې "لم ابالغ" په خپل حال پاته سي نو دغه وخت مفعول له به علت لپاره د "ابالغ" وی نه لپاره د "لم" ځکه معلول په علت سره هغه شي ګرزی کوم چې مقصود بالذات وی او حال دا چې حرف مقصود بالذات نه وی ځکه معنې حرفي يوه غيرِ مستقلَ (په اعتبار د مفهوم) وی او عقل لره دا ممکن نه ده چې دغه حرف مقيد په علت سره کړی ترڅو چې دغه حرف مقصود بالذات ګرزېدلی نه وی (او دلته حرف مقصود بالذات نه دی ځکه دغه هغه وخت کيږی څه وخت چې "لم" په خپله مقصود وی) لهذا دلته دا خبره معلومَ سوه چې مفعول له قيد لپاره د "ابالغ" دی. او دا يوه قاعده ده چې نفي په داسي کلام باندی داخلي سي په کوم کي چې قيد وی نو نفي ودغه قيد ته متوجه کيږی نو په دغه صورت کي دغه قيد د مينځ لاړ سي، او کلام مثبت پاته سي. نو په مذکوره صورت کي معنې د عبارت دا ګرزی "ما مبالغه په اختصار کي د وجي ځخه د تقريب او تسهيل تر سره نه کړه بلکه د کومي بلي وجي مي تر سره کړه". او دغه معنی مقصود نه ده، بلکه مقصود دا معنې ده "ما مبالغه په اختصار کي د وجي ځخه د تقريب او تسهيل پوري ښوه. نه د کومي بلي وجي".

حاشيه نمبر ۱۱:

سوال: "طلب التسهيل" عين تقريب دی. ځکه مراد په دې قول سره "تقريبا لتعاطيه" اخيستل د مسائلو "اخذ المسائل" دده د عبارت څخه دی. لهذا د ذکر کولو ته د "طلبا لتسهيل" ته ضرورت نسته؟

جواب: "طلب التسهيل" عين تقريب نه دی. ځکه کله هغه شي چې ډير سخت وي نزدې و سهولت او آساني ته سي، مګر و آساني ته ونه رسي. ځکه په لږولو کي د صعوبت تقريب سته.

دوم دا چې "تقريبا" بالنسبت و "اخذ" ته دی. او "طلبا" بالنسبت و فهم ته دی. اخذ او فهم سره يو نه دی. بلکې فهم اولا او اخذ ثانيا وي. نو تقريباً او طلباً الخ هم سره يو نه دی.

حاشيه نمبر ۱۲:

سوال: مور دا خبره نه منو چې په کلام کي قيد وی او پر دغه کلام حرفِ نفي داخلي سي نو دغه نفي و قيد ته متوجه کيږی. او قيد د مينځ وړی، بلکه داسي هم کيږی چې نفي قيد او مقيد دواړو ته متوجه سوی وی او دواړه يې د مينځ وړي وي لکه په دې قول کي د امرء القيس "علی لاحِبٍ لا يُهْتَدَى بِمَنَارِهِ. (تاج العروس، معنی سوف) "يعني دغه لارَ واضح ده پر دغه باندی کوم داسي منار

نسته چې په هغه سره لاړ پیدا سي. نو دلته په "لا" سره "مثاره" او دغه ډول د "یهتدی" د دواړو نفي سوی دی؟

جواب: زمونږ خبره د بلغاړو په وړاندی ده، لهذا د بلغاړو په وړاندی اصلي تقاضي د حرف نفي (چیرې چې حرف نفي پرمقید کلام داخلي سوی وی) داده چې دغه نفي و قید ته راجع کیږی، چیرې چې نفي مقید او قید و دواړو ته راجع وی هغه خلاف الاصل راغلي وی.

حاشیه نمبر۱۳:

سوال: "اجمعون" مرفوع بناء بر څه ده؟

جواب: دغه تأکید لپاره د "القوم" دی، څرنګه "القوم" فاعل مرفوع دی نو تأکید د ده به هم مرفوع وی.

سوال: تأکید او مؤکد په اعتبار د معني یو شي وی لهذا کوم معني چې د موکد څخه فهمیږی هغه معني د تأکید څخه هم فهمیږی نو نفي د "اجمعون" بعینه نفي د "القوم" دی. ځکه نفي د تأکید نفي د موکد دی. لهذا نفي د قید او مقید د دواړو راغلي نه دیوه؟

جواب: دلته د "اجمعون" دوې معناګاني لری. ۱: ټوله. ۲: یو ځای. لهذا په اعتبار د اولي معني دغه تأکید لپاره د "القوم" دی او په اعتبار د دویمي معني بیا قید لپاره د "القوم" دی. لهذا نفي متوجه و "اجمعون" ته په اعتبار د دویمي معني دی نه د اولي معني، نو معني دا ګرزی "ټوله قوم یو ځای نه راغلل بلکه جلا جلا راغلل. لهذا دلته په یوپلا پر یو ځای راتګ نفي دی نه د ټوله قوم راتګ، بلکه ټول راغلل مګر جلا جلا. په دغه وجه احناف (رحمهم الله ابداً ابدا کرالله سوداهم و غلبهم الله علي غیر المقلدین المارقین من الشریعة الغراء) ددې آیت په تفسیر کې فرمایي "فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ. (الاعراف:۱۱)" یعني ټولو ملائکو یو ځای په یوه پلا سجده وکړه.

حاشیه نمبر۱۴:

مصنف خپل مخترعات په زوائدو سره مسمي کړل. دغه مسمي کونه د دو شیانو محتمل کېدای سي. ۱: دغه عاجزی او تواضع کونه ده دادول چې دده مخترعات زوائد شیان دي ددوی حصول دومره لازم او ضروری نه دی. ۲: خپل ستاینه کول دادول چې دغه مخترعات په اعتبار د فضائلو زیات تر فوائدو دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

عبارت

وانما اسأل الله لا بعجز المقدر بل المسند اليه، شهدا وجهين اولا مقتضى التخصيص
ولا كالنفي ذكيا به قصد جعل الواو للحال فاق بالجملة الاسمية وما يقال الذ لتصد
الاستمرار ففيه نظر لحصوله من المضارع نفسه كما سيجوع في قوله تعالى لو
يطيعكم من فضوله حال من ان ينفع به اي بهذا التخصيص كما نفع بارسله وهو
المفتاح والقسم الثالث منه انه اولى الله ولي ذلك اولى النفع وهو حسبي اي
محسبي كافي لا اسال غيره فعلى هذا كان الانسب ان يقول وانا الله اسأل بتقديم
المفعول ونعم الوكيل عطف انشائي على جملة هو حسبي والمخصوص محذوف كما في
قوله نعم الرجل فلان ومن بابه عطف الجملة الفعلية الانشائية على الاسمية الاخبارية
وأما على حسبي الخ هو نعم الوكيل وحينئذ فالمخصوص هو الضمير المتقدم كما صرح به
صاحب المفتاح وغيره في قولهم زيد نعم الرجل ثم عطف الجملة على المفرد واقع باعتبار
تضمن المفرد معنى الفعل كما في قوله تعالى فاتى الاصباح وجعل الليل سكنا على رأي
لكنه في الحقيقة من عطف الانشاء على الاخبار وهذا وان الشروع في المقصود بقوله
يتم التخصيص على مقدم وثالثة فنون لان المذكور فيما لان يكون من قبيل المفاصيل
في هذا الفن اما الثاني المقدمة والاول ان كان الغرض منه الاحتراز عن الخطأ في
تأدية المعنى المراد فهو الفن الاول والا فان كان الغرض منه الاحتراز عن التعقيد
المعنوي فهو الفن الثاني والا فهو ما يعرف به وجوه التحسين وهو الفن الثالث
وعليه منع ظاهر يرد دفع بالاستقراء وفيما يرتبه على ما مر وهو ثلثة فنون و
خاتمة لان الثاني ان توقف عليه المقصود فمقدمة والا فالخاتمة والحق ان
الخاتمة هو من الفن الثالث كما سيجيء ان شاء الله تعالى الى الكلام في آخر
المقدمة الى التخصيص المقصود في الفنون الثلثة صار كل منها معهودا ذهنيا فعرف بتعريف
العهد بخلاف المقدمة فانها لم يتقدم منه ذكرها ولا اشارة اليها فلم يكن لتعريفها معنى فتذكرها

ترجمه

﴿زه د الله جل جلاله څخه سوال کوم﴾ دلته د مسند اليه د مخکې کوني لپاره يو ښه توجيه ولاس ته راتلنه نه معلوميږي، خکه دلته نه د تخصيص اونه د قوت ورکوني څه وجه معلوميږي. نو ګواکې ده لام لپاره د حال د ګرزولو قصد کړی دي. نوده په جمله اسميه سره راتګ وکړی. او کوم

چې دا خبره سوېده چې د استمرار د مقصودۍ کېدنې لخاطره تقديم خپل سو. په دغه کې نظر دی، خکه دغه استمرار په خپله د مضارع ځحه هم تر لاسه کېږی، لکه په دغه سره په دې الهي قول کې "لَوْ يُطِيعُكُمْ" چې به ژر راسي تصريح سوېده. ﴿حال دا چې دغه مختصر دده د فضل ځحه دی﴾ حال ددې ځحه دی﴿ چې په ده سره نفعَ ورسوی﴾ مختصر سره﴿ لکه ځر نګه چې يې دده په اصل سره فائده رسولېده.﴾ او دغه اصل مفتاح العلوم او فن ثالث دده دی.﴿ دی﴾ يعني الله جل جلاله﴿متصرف ددغه﴾ يعني نفعي دی﴿او دی زما لپاره کافي دي﴾ يعني الله جل جلاله زما لپاره کافي دی، او زه د بل چا ځحه سوال نه کوم. نو بناءٍ پر دغه اصل دا رنګه وينا کونه ده: د الله ځحه زه سوال کوم، په مخکې کولو سره د مفعول﴿ او دی د وکالت لپاره ډير ښه دي﴾، دغه يا عطف په جمله "هوحسبي" دی، او مخصوص بالمدح لکه په دې قول کې "نعم الرجل" محذوفَ دی. نو په دغه صورت کې دغه عطف د جمله انشائيه پر جمله اسميه خبريه باندی دی. او يا پر "حسبي" عطف دی او تقدير دا جوړيږی "هو نعم الوكيل". نو په دغه صورت کې مخصوص بالمدح مخکنې ضمير دی لکه په دغه سره چې صاحب المفتاح او سبوا دده په دې قول کې "زيد نعم الرجل" تصريح کړېده. ورسته تردې عطف د جمله پر مفرد باندی که ځه هم په دې اعتبار سره چې مفرد معنې لره د فعل متضمنه دی صحی دی. لکه په دې الهي قول کې "فَالِقُ الْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا.(الانعام ۹۶)" د يو رأی موافق. مګر دغه هم په حقيقت کې عطف د انشاء پر اخبار دی. اوس دغه وخت په مقصود کې د شروع کونه ده، **نو زه وايم**: مصنف مختصر په درو فنونو او يوه مقدمه باندی مرتبه کړي دي. ځکه په ده کې ذکر سوی شي به يا په علم البلاغت کې د مقاصدو د کورنې ځحه وی او يا به نه وی دوم مقدمه ده. او اول که چيرې مقصد دده ځحه د معنې مرادي په اداينې کې د خطاء د راتلو ځحه ژغورنه وی نو دغه فن اول دی. او يا به نه وی که چيرې مقصد دده ځحه د تعقيد معنوی ځحه ځان ژغورنه وی نو دغه دوم فن دی او يا به نه وی بلکه په ده سره به د ښائست طريقې معلومېږی نو دغه بيا درېيم فن دی. او دده په دې قول "الثاني المقدمة" باندی ښکاره يوه منعَ وارديږی کومه چې په استقراء سره دفعه کيږی. او وُېل سوی دی چې مصنف کتاب په دري فنونو او خاتمه باندی مشتمل گرزولي دي. ځکه په دوم باندی که مقصود موقوفه وی نو دغه مقدمه ده که چيرې دغه دوول نه وی نو دغه بيا خاتمه ده. مګر حق خبره داده چې خاتمه د درېيم فن ځحه ده. انشاء الله مور به دغه خبره په خاتمه کې بيان کړو. او ځه وخت چې دده کلام په آخر کې د مقدمې و انحصار ته د مقصود په دري فنونو کې ته ورسېدی نو هر يو ددوی ځحه معلوم اومعهود و

Maktaba Tul Ishaat.com

گرزېدي. نو هر يوپي ددوی څخه معرفه په تعريف سره د عهد وګرزوي، په خلاف د مقدمې څ
ددې ذکر کونه صراحتاً اونه اشارتاً د مصنف د طرف څخه ترسره سوېده. نو په دغه وجه ددې
معرفه د راوړې ني يوه وجه هم نسته په دغه وجه ده مقدمه نکره راوړه.

تشريح

ولقد اعجب: سوال: مقصد د شارح په دغه عبارت سره څه دی؟

جواب: په دغه کې و هوښياری اوذهني تيزی ته د مصنف رحمه الله اشاره ده، داوول چې
مصنف عبارت ددو شيانو احتمال لری. ۱: د مدح: د مصنف دغه فکری شيان په اعتبار د
مرتبه او عزت زيات تر فوائدو بللې دي، نو په دغه صورت کې د زوائدو تعريف او د فوائد
کمزوی راغلل.

۲: د ذم او بدی داوول چې دغه شيان چې دده په فکر سره ثابت سوی دی دوی په اصل مرا
باندی زائد او د شان څخه يې نه راوړل او ساقط کونه په کار وه نو په دغه صورت کې دده
زوائدو کمزوری بيان سوه. لهذا ښکاره په دغه صورت کې ددغه زوائدو کمزوری بيان سو
مګر په حقيقت کې بيا هم دغه صورت د حسن دی، ځکه مصنف خپل شان کمزوری وګڼی
عاجزی يې خپله کړه. او دغه اوچت کار دی ځکه د مصنف بلکه د هر چا د شان سره هم دغه
مناسب ده. لهذا دلته اعجاب په معنې سره د حسن دی نه د تکبر.

لا يعرف لتقديم المسند اليه: سوال: دمسند اليه مخکې کونه په هغه مسند باندی چې
هغه جمله فعليه وی "په هغه صورت کې چې فعل ورسته تر حرف نفي نه وی" تخصيص فائده کوی
او کله يې تقويت د حکم فائده کوی. او دلته يو لاهم صحی نه دی. اول ځکه صحی نه دی چې
تخصيص په هغه صورت کې رائي چې په هغه صورت کې د شرکت احتمال وی. او دغه
تخصيص ددغه شرکت نفي کونکي وی. او حال دا چې دلته شرکت په سوال کې نښه دی نه ده
نو دلته مقصود شرکت په سوال کې دی نه خاص والي د سوال د مسنف سره. او دوم په دې وجه
سره صحی نه دی چې دا په هغه صورت کې رائي چې په هغه کې انکار او تردد د سامع تر سره
سوی وی. او دلته انکار نسته ځکه سوال د الله جل جلاله څخه دی نه د منکرينو څخه؟

جواب: مورد تقديم د مسند اليه پر مسند فعلي (کې) حصر کونه په دغه دو صورتونو کې نه
منو، بلکه کله کله دغه د يو بل مقصد لپاره ترسره سي. دلته مقصد مصنف رحمه الله دادی چې

دغه سوال يو ځای د مخکني ټولو خبرو سره سي دا ډول چي واو حاليه دی او په حال کي دا ضروری وی چي حال به مقارن د زماني سره د عامل د ذوالحال سره وی. لهذا سوال کونه د مخکني ټولو شيانو (تأليف، ترتيب، اضافت وغيره) سره ملګری ده.

سوال: آيا دغه مقصد په جمله فعليه سره نه سي تر لاسه کيدای؟

جواب: هو، په ښکاره توګه سره نه سي تر لاسه کيدای. ځکه دغه جمله فعليه به يا د واو سره وی نو په دغه صورت کي ښکاره عطف وی، او که چيری ېهلە واو وی نو په دغه صورت کي بيا ښکاره استيناف وی نو په دغه وجه جمله اسميه خپله سوه.

وما يقال انه: سوال: په دغه سره مقصد څه دی؟

جواب: څه وخت چي په مصنف باندی اعتراض وارد سو چي د مسند اليه د مخکي کولو يو خاص مقصد نه ښکاری نو د دغه اعتراض د جواب لپاره يو چا ويلي دي چي دلته تقديم لپاره د استمرار په سوال کونه کي دی (يعني همېشه سوال کونه). لهذا دغه تقديم د يو مقصد تر لاسه کولو لپاره دی نه ېهله فائدې. نو شارح په دغه جواب باندی رد وکړی، اووېويل: په دغه کي نظر دی. خلاصه د رد داده چي همېشه والي سره د نوی والي دغه د فعل مضارع څخه تر لاسه کېدلای سي لکه ژر به په دې قول کي دغه خبره راسي "لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ. (الحجرات: 7) "نو د مسند اليه د مخکي کولو لپاره ضرورت پاته نه سو.

حال من ان ينفعه: سوال: څه وخت چي جار او مجرور په يو کلام کي واقع سي نو هلته د اعراب څخه چاره نه وی، نو دلته دوی کوم اعراب دی؟

جواب: دغه منصوب حال د "ان ينفع" څخه په اعتبار د متعلق دی، او ان ينفع په تأويل د مصدر دوم مفعول لپاره د "اسئل" دی. نو تقدير د عبارت دا جوړيږی "اسئال الله الانتفاع بهذا المختصر حال کونه کائنا من فضله (يعني زه د الله جل جلاله څخه سوال کوم چي دی زما په کتاب سره داسي نفع ورسوی لکه دده په اصل سره په داسي حال کي چي دغه زما کتاب ثابت د فضل الهي څخه دی). لهذا دلته حال د مفعول څخه او عامل په ده کي اسئل دی.

فعلى هذا: سوال: د مصنف رحمه الله لپاره دا ډول وينا "و الله اسئل" په کار وه. ځکه الله جل جلاله د نفعي ورکونکي او رسونکي د نفعي دی، نو دده څخه سوال کونه په کار ده او سوال د نفعي کونه په الله کي حصر کوني دليل "هو حسبي" دی. لهذا مدعي سوال کونه او دليل "هو حسبي" دی

Maktaba Tul Ishaat.com

.او دلته د مدعي او د دليل تر مينځ موافقت را نه غلي ځکه مدعي (سوال) خاص نه دی او دليل هو حسي) خاص دی، ځکه په ده کي مسند اليه مخکي سوی دی کوم چي تخصيص فائده کوی. نو اوس که چيری مصنف رحمه الله "والله اسئل "ويلي وای، نو دغه به هم د تخصيص ليږه سوی وای (داډول چي د الله د مخکي کولو څخه به تخصيص راغلي وای) نو مدعي او دليل به سره موافق سوی وای؟

جواب: دغه سوال هلته وارديږی که چيری "هو حسي" په " انه ولي" باندی عطف وای مگر دلته دا روا ده چي دغه دي جمله مستأنفه او محض د ثناء ليږه راوړل سوی وی نو اوس دغه دليل نه سوچي بيا موافقت د مدعي او دليل تر مينځ مطلوب گرزېدلي وای.

عطف اما علی جملة: سوال: "نعم الوکيل" به دد و حالو څخه خالی نه وی.

۱: په "حسي" عطف کونه، په دغه صورت کي عطف د جملې "نعم الوکيل" په مفرد "حسي" باندی راغلي.

۲: "هوحسي" باندی عطف کونه. په دغه صورت کي خالي والي د فعل مدح د مخصوص بالمدح څخه رائي، ځکه دلته يو داسي شي نسته چي هغه مخصوص بالمدح جوړ سي. او دغه دواړه صحی نه دي؟

جواب: دغه عطف په "هو حسي" دی، او مخصوص بالمدح په قرينه سره د معطوف عليه محذوف دی. نو اوس دلته د فعل مدح خالي والي د مخصوص بالمدح څخه نه راغلي.

سوال: دغه تقدير بيا هم صحی نه دی، ځکه دلته عطف د جمله انشائيه پر خبريه باندی راغلي، او دغه عطف کونه روا نه عطف د انشائيه په خبريه باندی لازميږی. او دغه دواړه باطل دی. ځکه بنياد د عطف په دې دي چي د معطوف او د معطوف عليه تر مينځ نه بالکل قطع او نه به بالکل محض اتصال وی، بلکه دواړه به من وجه وی. او دلته مکمل انقطاع ده؟

جواب: دلته جمله معطوفيه هم جمله اسميه ده، ځکه مخصوص بالمدح مخکي مقدر دی "هو نعم الوکيل". نو په دغه صورت کي جمله اسميه خبريه (مگر محمول يې انشاء ده) پر جمله خبريه باندی راغلي.

سوال: په دغه صورت کې حمل د انشاء (نعم الوکیل) په "هو" باندې راغلل، او حمل کېدنه د انشاء نه سې راتلای؟

جواب: "نعم الوکیل" په تأویل سره د "مقول في حقه نعم الوکیل". لهذا "نعم الوکیل" په خپله خبر نه بلکه متعلق د خبر دی. او خبر مقول دی، او مقول انشا، نه ده.

دوم جواب: "نعم الوکیل" عطف پر "حسبي" دی او "حسبي" مؤول په جمله سره دی، لهذا "حسبي" په معنې سره د "یحسبني" دی، ځکه لکه څرنګه فعل مضارع په تأویل سره د مصدر راځي، دغه ډول مصدر په تأویل د مضارع هم راځي. لهذا دلته مصدر په تأویل د مضارع دی، لکه په دې الهي قول کې "فَالِقُ الْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا.(الانعام:۹۶)" اوس په دغه کې "جعل" عطف په "فالق" دی، او دغه "فالق" په تأویل سره د "یفلق" دی. نو دلته عطف د جملې پر جملې راغلې نه عطف د جملې پر مفرد باندې.

لكنه في الحقيقة: **سوال:** دغه عطف کونه بیا هم صحت نه لري، ځکه دلته "یحسبني" جمله خبریه ده، اوپر دې باندې عطف د جملې انشائیه راغلې چې هغه "نعم الوکیل" ده. او عطف د انشاء پر خبریه باندې صحت نه لري لکه تا چې دغه خبره مخکې وپیژنده.

﴿فائده﴾: اوس که چیرې دا جواب ورکول سې چې "نعم الوکیل" هم هغه جمله ده کوم لره چې محل د اعراب سته. او "یحسبني" هم دغه رنګه جمله ده چې دې لره محل د اعراب سته. نو یو مفرد حکمي پر بل باندې عطف دی، اوپر مفرد کې اخبار اود انشاء اعتبار اوراتګ نه وی نو بیا هم دغه جواب کمزوری دی، لکه چې دوی دواړه په آخر کې مفرد حکمي بولي نو دردې دانښه ده چې د شروع نه یې معطوف مفرد حکمي او معطوف علیه د اصل څخه مفرد دی و بلې. لهذا د اصل جواب چې په کوم څه اعتراض نه وارد پرې هغه دادی: چې دغه عطف د جمله پر مفرد باندې نه بلکه عطف د مفرد حکمي پر مفرد حقیقي باندې دی. ځکه دلته "نعم الوکیل" محلاً مرفوع بناء پر خبر ده، نو دغه جمله خبر واقع سوې ده، او هر هغه جمله چې هغه لره محل د اعراب وی هغه په حکم کې د مفرد وی. نو دغه جمله په حکم کې د مفرد ده نو عطف د مفرد په مفرد راغلې او ددې په روا ښې کې هیڅ یو شک نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: مصنف ولي خپل کتاب پر څلور شیانو حصر کړي. درې فنون او یو یې مقدمه و ګرځول؟

جواب: ځکه په دغه کې ذکر سوی شي به دوو حالو څخه خالي نه وی. ۱: د مقاصدو د ټولې څخه وی. ۲: د مقاصدو د ټولې څخه به نه وی. که چیرې نه و، نو دغه په نامه سره د مقدمه نمول کیږی. او دغه د مقاصدو څخه نه بلکه د هغو لپاره موقوف علیه ده. او اوله ټولې به بیا د دوحالو څخه خالي نه وی. ۱: دده څخه مقصد د هغه خطاء څخه ځان ساتنه وی کوم چې د معني مرادی په وړاندی کولو کې تر سره کیږی. ۲: او یا به دغه ډول نه وی. اول فن اول دی. او دومه ټولې به دوو حالو څخه خالي نه وی. ۱: مقصود دده څخه ځان ساتنه د تعقید معنوی څخه وی. ۲: او د تعقید معنوی څخه به ځان ساتنه مقصد نه وی. اول ته فن بیان وپل کیږی. او دده دوم څخه مقصد د ښائست د طریقو پیژندنه وی نو دغه فن ثالث بدیع دی.

سوال: دغه حصر په درې فنونو او مقدمه کې کوم حصر دی؟

جواب: دغه حصر استقرائي دی. د تتبع ورسته دغه قسمونه تر لاسه سوه.

سوال: په دغه ټولو کې مقدمه ولې تر مخکې کړل سوه؟

جواب: بحث د مقدمې بالنسبت ودغه نورو ته بسیط دی، او دغه ډول بحث د مقدمه موقوف علیه لپاره د مقصود دی، او موقوف علیه پر موقوف باندی مخکې وی.

سوال: علم البلاغت څه شي دی؟

جواب: د هغه قواعدو پیژندنه ده چې په هغه سره د عربي الفاظو احوال په دې حیثیت سره معلومیږی چې دغه لفظ د مقتضي سره د حال موافق دی، او ددغه سره سره یوه معني په مختلفو طریقو سره راوړنه ده چې بعض د دغه طریقو څخه واضح او بعض بیا نه وي.

سوال: د علم البلاغت موضوع څه شي دی؟

جواب: عربي لفظ.

سوال: غایه یې څه ده؟

جواب: جلا کونه د بلیغ د غیری بلیغ څخه.

و قیل رتبه: سوال: مور دغه خبره نه منو چې کتاب په دروفنونو او مقدمه کې حصر دی بلکه پرته د دوی د کتاب یو جزء خاتمه ده. او دغه د یوه څخه د دغه څلورو شیانو نه ده؟

جواب: خاتمه په دوم کي قسم کي د اول تقسيم داخلَ ده (يعني د مقصود د ټولې څخه نه وی) اوس دغه بيا ددو حالو څخه خالي نه ده. ۱: د مقصود لپاره موقوف عليه وی. ۲: نه وی اول ته مقدمه او دوم ته خاتمه ويل کيږی. لهذا اوس د کتاب حصر په دغه څلورو قسمونو کي صحی سو.

و الحق: اوس په دغه کلام سره شارح پر دغه جواب باندی رد کونه غواړی. حاصل دادی چي خاتمه پر درېيم فن کي داخله ده.

انجر کلامه: سوال: اصل په اسماؤ کي نکره راوړنه ده. او دلته مصنف مقدمه نکره او پاته درې قسمونه يې معرفه راوړی دي؟

جواب: هو، اصل په اسماء کي نکره کېدنه هلته ده چي اَوَښتونکي ددغه اصل څخه نه وی، او دلته اوښتونکي سته هغه دادی چي د مقدمې په آخر کي د مصنف کلام و دې ته ورسېدی چي مقصد په درو اقسامو کي حصر سو. نو هر يو ددوی څخه معهود او من وجه معلوم و گرزېدی. او بيا يې هر يو معرفه ددې لپاره راوړی چي اشاره و هغه ذکر کوني ته وکړه کوم چي په آخر کي د مقدمه تر سره سوې وی. په خلاف د مقدمه ځکه ددې ذکر نه مصنف صراحتاً او نه اشارتاً کړيده نو په دغه وخت کي د نکره څخه د عدول کوني هيڅ يو تقاضي کونکي نسته.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

په دې حاشيه کي څو تحقيقه دی.

اول: بيان د احتمال: د "لقد اعجب" معنی داده چي مصنف په يو داسي عجيب لفظ سره راتگ کړي دی چي هغه موجب د تحير او تعجب لره دی. ځکه دغه لفظ محتمل ذم او مدحي دواړو لره دی.

۱): د ذم احتمال داډول لری چي "ده د تواضع کولو د وجي خپل مخترعات په زوائد سره په مسمی کولو کي اشاره و دې ته وکړه چي په دغه مخترعاتو کي فائده نسته. او د شأن څخه ئې حذف کول دی.

۲: مصنف خپل مخترعات په زوائدو سره په مسمي کولو اشاره و دې ته کړيده چي دغه مخترعات زائد تر فوائدو په اعتبار د معزز والي دی. او په دغه کي تفاخر د مصنف دی. او

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه معلومه خبره ده چې د يو کلام تواضع او تفاخر محتمل کېدنه په يوه وار د تعجب وړ خبره ده. او دغه ته په فن بديع کې توجيه وائي. او ملا زاده وائي چې ما د مصنف څخه اول احتمال اوربدلي دي. (كذا في الشرح للماباني ۴۲۵/ج۱)

سوال: په دوم تقدير کې د خپل ځان مدح سته؟

جواب: دغه مدح د باب څخه د تحديث بالنعمت ده. او يا دغه خبره لپاره د ترغيب ورکولو د طالبانو ته ده.

حاشيه نمبر ۲:

په دې حاشيه کې څو تحقيقه دي.

اول: بيان د قصر د اقسامو: قصر په دوه قسمه دی.

قصر حقيقي: قصر د يو شي پر بل شي باندې بالنسبت و تولو هغه شيانو ته وي چې هغه د قصر پرته وي.

قصر اضافي: قصر د يو شي پر بل شي باندې بالنسبت و هغه بعضو ته وي چې هغه پرته د دغه شي وي. (مختصر المعاني ۱۸۳). او څه وخت چې يو کلام د حصر اضافي په صورت کې راوړل کيږي شرط يې دادی چې هغه کس په عقيده کې خطاء وي. او يا دغه کلام لپاره د دفع او د تحير د هغه چاوی چې هغه په دغه کار کې شکمن وي. د مثال په توګه لکه ته د خپل مخاطب په حاجت کې کوشش کوې. او ستا مخاطب د دې عقيده لري چې ستا څخه غير يو ازي دده په حاجت کې کوشش کوي. او يا دی د دې عقيده لري چې ته او ستا غير دده په حاجت کې کوشش کونکي ياست. او يا دی په دې کې شکمن وي چې ته او که ستا غير دده په حاجت کې کوشش کونکي ياست. نو دغه وخت تا وويل" انا سعيت في حاجتک لا غيري او وحدي" نو بناء پر اول هغه قصر چې د تقديم څخه د مسند اليه مستفاد سوي وي په قصر قلب سره مسمى کيږي. او بناء بر ثاني په قصر افراد سره او بناء بر درېيم په قصر تعين سره مسمي کيږي. تقويه او تقرير د حکم کله لپاره د دفع د انکار رائي. او کله بيا لپاره د اعتناء په شان سره د حکم رائي. لکه "هويعطى الجزيل (غټ نعمت)" اوس په دغه قول کې تا په تقديم سره محض د دې قصد کړيدي چې اعتناء په شان سره د ثبوت د اعطاء لپاره دده راسي. او کله بيا د رغبت د اظهار لپاره رائي لکه "انا احب محمد" په دغه تقديم سره تا اظهار د کمال رغبت په ده سره قصد کړي دی.

دوم: سوال: په مسند فعلي باندې تقديم د مسند اليه "په هغه وخت کې چې مسند فعلي ته حرف نفي ور څرمه نه وي" کله د تخصيص او کله بيا د تقوي د عمل او کله لپاره د تقرير د حکم راځي. او په عبارت کې د مصنف د دغو دروڅخه يو لا هم نه معلوميږي.

اول په دې وجه سره نه معلوميږي چې تخصيص به حقيقي او يا اضافي وي. او دلته د دغه څخه يو لا هم ښه نه دی.

اول په دې وجه سره ښه نه دی چې قصر د سوال پر خپل ځان باندې بالنسبت و هغه ټولو ته چې پرته دده وي ښه نه دی. ځکه و قبوليت ته ژندې کېدو لو لپاره په شراکت کې حسن دی. (کذا في مختصر المعاني ۱/ح۱)

دوم په دې وجه سره ښه نه دی چې په قصر اضافي کې داشرط وي چې کلام به د قصر قلب، افراد او يا د قصر تعين لپاره ويل سوي وي. او دلته يو لا هم نسته. ځکه نه هغه کس موجود دی چې هغه د دې عقيده لري چې غير د مصنف د مصنف سره په سوال کې شراکت لري. او نه هغه کس موجود دی چې هغه د دې عقيده لري چې محض غير د مصنف سوال کونکي دی. او يا په دې کې شکمن وي چې سوال کونکي مصنف او که پرته دده دی.

او دوم په دې وجه سره نه معلوميږي چې تقويه او تقرير د حکم هلته ښه وی چې مخاطب منکر يا متردد وي. او د غه خبره بناء پر هغه خبره ده چې هغه په فن اول کې بيانيږي. او دلته نه د مصنف د سوال څخه منکر. او نه دده سوال په هکله شک کونکي سته. لهذا په تير سوي بيان سره د غه ښکاره سوه چې په دې مقام کې نه د تخصيص او نه د تقوي تقاضي کونکي سته؟

جواب: په دې مقام کې د تقوي تقاضي کونکي سته. ځکه د تقوي فائده د تردد او انکار په دفع کولو کې حصر نه ده. بلکه تقويه کله لپاره د اهتمام په شان سره د حکم او کله د رغبت لپاره راځي. لهذا دلته د مصنف د طرف څخه په سوال کې د رغبت د اظهار لپاره تقديم ترسره سوی دی. او ډير زيات توجه د مصنف و طرف ته د الله ﷻ ودې خبرې ته د اشاره کولو لپاره ده چې مصنف په هغه مبالغه باندې اعتماد نه کوي کومه چې ده په تعريف کې د کتاب و کړه. بلکه مصنف د الله ﷻ څخه د دې سوال کوي چې الله ﷻ په دغه کتاب سره نفع و رسوي. (کذا قال مولوی موسی فی شرحه ۴۲۸/ح۱)

حاشيه نمبر ۳:

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته محشي و شارح ته د مصنف د طرف جواب ورکوي، خلاصه د جواب داده چې څه وخت مصنف رحمه الله د کتاب داسي ښه او اعلي اوصاف بيان کړه چې د هغه څخه دا معلومېده چې دغه کتاب په اعتبار د نفعِ رسولو کامل و، لهذا د دغه صفاتو د بيانولو ورسته دا توهم کېدی چې دغه کتاب په نفعَ رسولو کي کافي دی او دې ته ضرورت نسته چې د الله جل جلاله څخه دا سوال وسي چې په دغه کتاب سره نفعَ و خلکو او طلباؤ او علماؤ ته ورسوي. نو د دغه توهم د لرې کولو لپاره مصنف رحمه الله و فرمايل "زما کتاب په نفعَ رسولو کي کافي نه دی بلکه په دغه کې زه د الله جل جلاله څخه سوال کوم". لهذا د دغه سوال د دفعَ کولو لپاره مصنف دغه خبره و کړه او دغه لپاره د قصرِ قلب دی. او دغه د تخصيص لپاره دغه تقديم دی.

حاشيه نمبر ۴:

خلاصه دا دې حاشيه داده چې دلته دمخکني تير سوو شيانو (تأليف، ترتيب او تسميه) سره د سوال د مقارنت لپاره مصنف د جملې د حال د جوړولو قصد وکړي. څکه په دغه کي د الله ﷻ وطرف ته د مصنف د ډير متوجه کېدو ته اشاره ده دا دول چې مصنف په شروع کي د هر هغه فعل سوال کوي چې هغه دده څخه صادريږي. چې أي الله ﷻ ته په دغه سره خلکو ته فائده و رسوي. او مصنف په خپل کتاب باندې اعتماد نه وکړي. نو اوس مصنف مسند اليه دده دې لپاره مخکې کړي (يعني جمله اسميه يې راوړل) چې دغه معني صراحةً فائده سي. څکه که ئې مسند اليه چيرې مخکې کړي نه وای (بلکه جمله فعليه پاته سوې وای) نو بيا "واو" د عطف لپاره دی. څکه مضارع مثبت سره د "واو" حال نه واقع کيږي. لکه په دغه سره چې ابن الملک تصريح کړېده. او په دغه وخت کي مقصد د مصنف نه حاصلېدې. او که ئې "واو" نه وای راوړې نو بيا پر خپله دغه جمله د مخکني افعالو لپاره حال ګرځېده. مګر دغه جمله په حاليت کي صراحتاً نه وه. بلکه صراحتاً په استيناف کي وه. نو دغه ذکر سوي نکته د فائده کولو لپاره مصنف مسند اليه مخکې کړي. او "واو" ئې لپاره د حال وګرزوي. (شرح المفصل ۴۲۹/ج۱)

حاشيه نمبر ۵:

سوال: دلته د "من فضله" مخکې کول پر "ان ینفع" صحت نه لری. ځکه "من فضله" متعلق او تعلق د "ینفع" سره لری. نو په دغه صورت کې معمول "من فضله" مخکې تر موصول حرفي "ان ینفع" سو کوم چې نا روا دی نو د "من فضله" مخکې کول هم نا روا دی؟

جواب: "من فضله" تعلق تر "ان ینفع" پوری نه لری بلکه دغه حال د "ان ینفع" ځخه دی او دغه "ان ینفع" دوم مفعول د "یسال" ځخه دی. لهذا که چیری حال نه وای نو بیا ستا خبره صحت در لودی.

حاشیه نمبر۶:

سوال: "انه ولي ذالک" څه ترکیبي حیثیت لری؟

جواب: دغه علت لپاره ددې خبری." زه د الله جل جلاله څخه ددې سوال کوم چې نفع ورسوي" دی. نو معنې یې دا جوړیږی "الله جل جلاله متصرف د نفع دي نو دی چې څرنګه تصرف په دغه نفع رسولو کې و غواړي نو دی دغه تر سره کولای سي.

حاشیه نمبر۷:

خلاصه د حاشې داده چې بایـد مصنف مفعول "الله" پر فعل باندی مخکې کړي وای. او دغه مخکې کول ئې ښه هم دی. ځکه "هو حسبي" په "انه ولي" باندي عطف دی. او د جملو څخه هره یوه علت لپاره ددې جملې "وانا اسال" دی. نو که ئې اوس مفعول په معلله جمله مخکې کړي وای نو دغه معطوفه جملي د مستقلو حکمینو لپاره به علتونه وای. ځکه په جمله معلله باندي د مفعول د مخکې کولو په صورت کې دوه حکمونه مستفادیږي دا ډول چې په یوه (زه خاص د الله ﷻ ځخه د نفع سوال کوم) باندي په خپله جمله او په هغه بل بیا د جملې معلله څخه فهمیږي (زه د غیر څخه د الله ﷻ د نفع سوال نه کوم) نو په دغه وخت کې "انه ولي" علت د اول حکم لپاره دی. او ددوم حکم لپاره "هو حسبي" دی. په خلاف د مفعول د نه مخکې کولو. ځکه په دغه وخت کې په یوه حکم باندي جملې معلله دلالت کوي. او دواړې معطوفې جملې علت لپاره ددغه یوه حکم دي. او س انتظام ترمینځ د معلله جملې او د "هو حسبي" نسته. ځکه "هو حسبي" په قصر باندي دلالت کوي. په خلاف د معللی جملې. (کذا قال البامانی ۴۳۳/ج۱)

حاشیه نمبر۸:

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته محشي دا خبره ښوونه غواړي چې په "نعم الوکیل" کې دري احتمالونه وجود لري. ۱: جمله حالیه. ۲: جمله اعتراضیه. ۳: جمله عاطفه. اوس دغه جمله حالیه جوړېدلای نه سي ځکه حال بیان د ذوالحال کوی او بیان لپاره جمله خبریه وی نه انشائیه، ځرنګه چې "نعم الوکیل" جمله انشائیه ده په دغه وجه دغه حالیه جمله کېدای نه سي. او دغه ډول دغه اعتراضیه هم نه سي کېدای، ځکه جمله اعتراضیه په مابین کې د کلام واقع سوې وی نه په آخر کې، ځرنګه دغه "نعم الوکیل" د کلام په پای کې واقع سوېده په دغه وجه دغه جمله اعتراضیه هم کېدای نه سي. پاته عاطفه سوه نو دغه جمله عاطفه ده ځکه اصل په "واو" کې هم عطف دی، لهذا دغه جمله عاطفه ده، اعتراضیه او حالیه نه ده.

حاشیه نمبر ۹:

خلاصه ددې حاشې داده چې مصنف د "نعم الوکیل" عطف په دغه دوو احتمالو کې حصر کړې. ځکه مخکې تر دې دري جملې دي" ۱: و انا اسأل. ۲: انه ولي. ۳: هو حسبي". اوس عطف د "نعم الوکیل" په دوی باندې د، دوو، وجو ځخه نه صحی کیږي.

۱): عطف ددې تقاضی کوي چې د معطوف او د معطوف علیه ترمینځ به من وجه اتصال وي. او دلته د معطوف او د معطوف علیه ترمینځ کامل انقطاع ده. ځکه ددوی ځخه یوه خبریه او هغه بله انشائیه ده.

۲): معطوف علیه جمله انشائیه او معطوف جمله حالیه نه سي کیدای. ځکه معطوف جمله انشائیه ده. "نعم الوکیل" په دویمې جملې باندې هم عطف کیدای نه سي. ځکه معطوف علیه جمله معلله ده. او معطوف د جمله انشائیه د کېدو د وجې جمله معلوله نه سي کیدای. ځکه انشائیه د تعلیل جوړېدلو صلاحیت نه لري. ځکه جمله انشائیه د انشائیت د وجې و متکلم ته یوه عرض سوې معنې ده. او په خپله تقرر او ثبات نه لري. او څه وخت چې دا په خپله تقرر نه لري نو بل لره به څرنګه ثابتېدای سي، حتي چې بیا د هغه شي لپاره علت و ګرزي. لهذا ددې ځخه دا معلومه سوه چې دغه عطف په درېیمې جملې باندې دی. (کذا فی الشرح للبشر بنی ۱۰۷/ج۱)

حاشیه نمبر ۱۰:

محشي دا خبره ښئي چي دغه "نعم الوكيل" جمله فعليه عطف به پر اسميه وي ، او س دا خبره چي عطف د جمله فعليه پر اسميه باندې روا ئښ لري او که يې نه لري، په دغه کي اختلاف دی.

۱ : بعض عطف د جمله فعليه پر اسميه باندې او د اسميه دا پر فعليه باندې روا بولي.

۲ : بعض بيا دغه ممنوع بولي. دغه ډول عطف د جمله انشائيه پر خبريه باندې روا دی او که نه ؟ په دغه کي هم اختلاف تر سره سوی دی. ۱ : جمهور نحات او بيانيين: دغه ممنوع اونا روا بولي. په کوم صورت کي چي عطف د جمله انشائيه پر خبريه راغلي وي نو په دغه صورت کي جمهور يو ددو کارو څخه کوي. ۱ : معطوف عليه هم جمله انشائيه ګرزوي. لهذا دلته به معطوف عليه معناً جمله انشائيه وی دا ډول چي دغه لپاره د انشاء د مدح په دې خبره سره ده چي الله جل جلاله کافي دي. لهذا دغه جمله انشائيه او معطوف هم جمله انشائيه ده نو د معطوف او معطوف عليه تر مينځ موافقت په حيث د انشائيت راغلي ، او په "د هو حسبي" کي چي کوم "واو" دی دغه عاطفه نه دی بلکه اعتراضيه دی، او دغه جمله اعتراضيه په مينځ کي د کلام واقع سوېده. ۲ : معطوف جمله خبريه ده ، اصل عبارت دا ډول دی "مقول في حقه نعم الوكيل". لهذا په دغه صورت کي جمله معطوفه هم خبريه ده او انشائيه يې متعلِق د خبر جوړې سوېده.

۲ : صغار دغه روا بولي.

حاشيه نمبر ۱۱:

که چيرې "نعم الوكيل" عطف پر "حسبي" سي نو په دغه صورت کي دغه به خبر لپاره د "هو" سي. نو په دغه صورت کي د "هو" څه حيثيت دی؟

جواب: دغه مخصوص بالمدح وی.

سوال: مخصوص بالمدحَ خو ورسته تر "نعم" راځي نه مخکي او حال دا چي دلته مخکي راغلي دی، نو دغه مخکي را تللې صحت نه لري؟

جواب: د مصنف په وړاندی مخصوص بالمدحَ ورسته تر افعالُ د مدحِ وي نه مخکي، او مخکي را تللې صحت نه لري. البته د صاحب المفتاح په وړاندی مخصوص بالمدح مخکي راتلای سي. نو دلته دغه مخکي کېدل د صاحب المفتاح د قول موافق دی. او عموماً

Maktaba Tul Ishaat.com

مخصوص بالمدح دوه حیثیت لري. ۱: دغه مخصوص بالمدحَ مبتدأ او فعلِ مدحَ خبر مقدم وي. ۲: مخصوص بالمدح مبتدأ او خبر يې محذوفَ وي.

حاشیه نمبر ۱۲:

په دغه حاشیه کې درې تحقیقه دي.

اول: بیان د ترکیب: خلاصه د ترکیب داده چې دغه قول "عطف الجملة على المفردة" مبتدأ، جمله شرطیه "وان صحّ" خبر دی. او "واو" د ربط د زیاتوالي لپاره اضافه سوي دی. او ددغه شرطیه جزاء محذوفه ده. او په دغه "جزاء" باندې جمله استدراکیه "لکنه فی الحقیقة" دلالت کوي. اصل عبارت دا دول دی "عطف الجملة على المفرد ان صح باعتبار تضمن المفرد معنى الفعل لا على الاخبار . و انما يصح فی ما اذا لم يكن كذالك" او جمله استدراکیه علت لپاره د جزاء محذوفې دی.

دوم: "لكنه فی الحقيقة من عطف الإنشاء" بیان: مقصد د شارح په دغه عبارت سره تنبیه ورکونه په صحی والي د دغه عطف ده. ځکه شارح عطف د انشاء پر اخبار باندې صحي بولي.

دریم: بیان د رد پر سید سند باندې: سید سند ویلي دي چې عطف د نعم الوکیل پر "هو حسبي" بېله تأویلَ "په اعتبار سره د تضمن د هو حسبی معنی لره د یحسبنی" صحی نه ده. ځکه هغه جملې چې پر ځای د مفرد واقع سوې وي د دوی ځخه بالذات مقصد د دوی نسبتونه نه وي. په دغه وخت کې بیا واختلاف ته د دوي په خبریت او انشائیت ته نه کتل کیږي. بلکې دغه جملې په دغه وخت کې په حکم کې د هغو مفرداتو وي کوم چې دغه جملې د هغوی پر ځای واقع سوي دي. لهذا عطف د دغو جملو د بعضو پر بعضو باندې جائز دی. لکه د مفرداتو. (حاشیه ۱۰/ج۳). (حاشیه سید سند ۴)، او محشي په دغه عبارت سره "لا بد من شاهد" رد پر وکړي. خلاصه د رد داده چې ته یو داسې مثال راوړه چې په هغه کې عطف د انشاء پر هغه اخبار سوي وي چې هغه محل د اعراب لري او دغه عطف ئې هم بېله کومه تأویله سوي وي.

حاشیه نمبر ۱۳:

دلته چې "نعم الوكيل" پر "حسبي" عطف سي نو په دغه صورت کې "حسبي" متضمن معني لره د جمله "يعني يحسبني" وی. او بېله تضمن معني لره د "يحسبني" عطف د جملې پر ده باندې صحت نه لری.

حاشیه نمبر ۱۴:

سوال: "على الرأى" کې و څه ته اشاره ده؟

جواب: اصل د "جعل اللبل الابة" په ترکیب کې دري قولَه راغلي دی.

۱: دغه عطف پر "فالق الاصباح" دی، مګر دغه "فالق" اسم فاعل متضمن معني لره د فعل "فَلَقَ" دی. او عطف د جملې پر هغه مفرد باندې چې هغه معني لره د فعل متضمنَ وی صحت لری.

۲: دغه په تقدیر سره د "قد" حال د ضمیر څخه د "فالق" دی.

۳: دغه "فالق الاصباح" مضاف سره د مضاف الیه خبر او مبتدأ محذوفَ ده، اصل عبارت داډول دی" هو فالق الاصباح" نو دغه جمله اسمیه معطوف علیه او "جعل الخ" جمله فعلیه معطوف ده. نو عطف الجملة علي الجملة ده. نو شارح په دغه "علي الرأى" سره اشاره و یوه ته د دغه درو اقوالو وکړه. نو په دغه سره احتراز د پاتو دوو اقوالو څخه راغلي.

(فالق) خبر لمبتدأ محذوف تقديره هو (الإصباح) مضاف إليه مجرور الواو عاطفة (جعل) فعل ماض والفاعل ضمير مستتر تقديره هو (الليل) مفعول به أول منصوب (سكنا) مفعول به ثان منصوب، الواو عاطفة في الموضعين (الشمس، القمر) اسمان معطوفان على الليل منصوبان مثله و(حسبانا) معطوف على (سكنا) منصوب، (ذلك) مثل ذلكم، (تقدير) خبر المبتدأ ذلك مرفوع (العزيز) مضاف إليه مجرور (العليم) بدل من العزيز مجرور مثله. جملة (هو) فالق الإصباح) لا محلّ لها استئنافية. وجملة (جعل الليل سكنا) لا محلّ لها معطوفة على الاستئنافيّة.(اعراب القرآن للدعاس)

حاشیه نمبر ۱۵:

د شارح دغه کلام جواب د یو سوال مقدرَ څخه دی، تقریر د سوال دادی که چیرې فنِ اول او دوم نه وی نو بیا به په دغه سره د هغه شي پیژندنه تر لاسه کیږی د کوم په واسطه سره په کلام کې دښه والي خاصیت پیدا کیږی. لهذا موږ دا نه منو چې فنِ اول او دوم نه وی نو دغه درېیم شي به وی چې علم البدیع دی، بلکه دا کېدای سي چې د دوی څخه سېوا دي بل علم وی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د فنِ اول او دوم د عدم په صورت کي به فنِ ثالث وی دغه خبره بناء بر استقراء او تتبع ده. موږ چې مقصد تلاښ او تتبع يې کړېده نو موږ ته دغه په دغه درو فنونو کې محصور ښکاره سوی دی چې دغه درې فنون دي، لهذا چې فنِ اول او دوم نه وی نو بیا دریم فن وی.

حاشیه نمبر ۱۶:

شارح رحمه الله په شروع کي د خاتمه ویلي دي" موږ وایو: خاتمه د فنِ ثالث څخه ده او د دغه فنَ څخه وتلي نه ده ځکه مصنف رحمه الله په اواخرو کي د الایضاح ورسته تر محسناتُ ویلي دی: دغه د اصولُ څخه د فنَ ثالث هغه څه دی د کوم جمعَ والي او نویشته والي ما ته په اذن د الله جل جلاله آسانَ سوی دي.

صفحه نمبر ۱۶:

عبارت

وقال مقدمة اي هذه مقدمة في بيان معنى الفصاحة والبلاغة
والفصاحة علم البلاغة والمعاني والبيان وما يتصل بذلك مما ينسب والبيان الكلام
ومحصولها ان يعرف على التحقيق والتفصيل غاية العلوم الثلثة والاحتياج
اليها والمقدمة ما اخوذة من مقدمة الجيش الجماعة المتقدمة منها ومن قدم بمعنى
تقدم يقال لمقدمة العلم ما يتوقف عليه مسائله كمعرفة حدها وغايتها وموضوعها
ومقدمة الكتاب الطائفة من كلام تقدمت لتام المقصود كما يطلب بها وانتفاع
بها فيه سواء توقف عليها تام او لا وقد فرق البعض بين مقدمة العلم ومقدمة
الكتاب اشكل عليهم ايراد احد جزاي التقسيم عنها الى كلتي احدهما بيان توقف
مسائل العلوم الثلثة عليها ذكر في هذه المقدمة وقد ذكر صاحب المفتاح في
اخر المعاني والبيان والثاني ما وقع في بعض الكتب من ان المقدمة في بيان حد
العلم والغرض منه وموضوعه ونسبتها منها ان هذا عن المقدمة واعلم ان للناس في
تفسير الفصاحة والبلاغة اقوالا شتى لا فائدة في ايرادها الا الاطناب فالاولى ان
يقتصر على تقرير ما ذكره في الكتاب فنقول الفصاحة وهي في الاصل تنبو عن الابانة
والظهور يقال فصح الاعجمي وافصح اذا انطلق لسانه وخلصت لغته من اللكنة
وبجادة فصيحة اي ظاهرة والفصيح به اي صرح به ويوصف بها المفرد يقال كلمة فصيحة
والكلام يقال كلام فصيح في النثر وقصيدة فصيحة في النظم والمتكلم قائل فصيح و
شاعر فصيح والبلاغة وهي تنبو عن الوصول والانتهاء يوصف بها الاخيران
اي المتكلم والكلام فقط دون المفرد يقال كلام بليغ ورجل بليغ ولم يسمع كلمة
بليغة وقيل فقط من اسماء الافعال بمعنى انته وكثيرا ما يصدر بالفاء تزيينا
للفظ وكانه جزاء شرط محذوف اي اذا وصفت بها الاخيرين فقط اي فانته
عن وصف الاولين بها واعلم انه اذا كانت الفصاحة عندهم يقال لكون اللفظ جاريا
على القوانين المستنبطة من استقراء كلامهم كثيرا الاستعمال على السنة العرب الموثق
بعربيتهم وقد علم ان الاستقراء ان الالفاظ الكثيرة الدور فيما بينهم هي التي تكون جارية
على اللسان سلسة من تنافر الحروف والكلمات ومن الغرابة والتعقيد اللفظي و
المعنوي جزم المصنف رحمه الله بان اللفظ الفصيح ما يكون سليما من مخالفة القوانين

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه **مقدمه** به بيان کې د فصاحت او بلاغت د معنې ده، او دغه دوول د علم البلاغت حصر کوي په علم المعاني او علم البيان کې او دغه دوول چې ددوی سره متصل وی د کوم لپاره چې کلام راوړل سوی دی. او حاصل ددغه مقدمه پيژندنه د غايه ددغه درې علومو په طريقه سره د تحقيق او تفصيل ده، او داحتياج ثبوت و دغه مقدمه ته دی. او مقدمه د مقدمة الجيش څخه راخيستل سوېده. او مقدمة الجيش و هغه ټولې ته د فوځ ويل کيږی کومه چې تر فوځ مخکې وی. او مقدمه دقدم څخه مشتق ده. کوم چې په معنی سره د تقدم دی. او **مقدمة العلم** و هغه شي ته ويل کيږی په کوم چې مسائلې ددغه علم موقوفَ وي. لکه پيژندنه د تعريف، غرض او د موضوع ددغه علم. او **مقدمة الكتاب** و هغه ټولې ته د کلام ويل کيږی کومه چې تر مقصود ددې وچې مخکې راوړل کيږی چې ددغه مقصود تعلق ددغه ټولې سره د کلام لری. او دغه ټولې په مقصود کې فائده ورکونکی وی. عام تر دې دغه مقصود په دغه ټولې باندی موقوفَ وی او که نه وی. او په هغه **بعضوخلكو** باندی کوم چې فرق تر مينځ د مقدمة العلم او د مقدمة الكتاب نه کوی دوه شيان مشکلَ سويدی د کومو څخه چې د خلاصي په خاطر و تکلف کوني ته احتياج پيښ سوی دی.

۱: د درو علومو مسائلې په دغه شيانو باندی موقوف کېدنه کوم چې په دغه مقدمه کې ذکر سويدي. او حال دا چې دغه شيان صاحب د مفتاح دوی په آخر کې د معاني او د بيان ذکر کړی دي.

۲: په بعضو کتابونو کې راغلي دي چې مقدمه په بيان کې د تعريف د علم، غرض ددغه علم او موضوع ددغه علم کې ده. دوی دا ګمان کوي چې دغه بعينه مقدمه ده. خلکو په تعريف کې د **فصاحت** ډير قولونه کړي دي ددوی راوړنه پرته د اوږدوالي بل څه نه فائده کوی. نو ښه خبره داده چې د کتاب په خبره باندی کفايت کونه خپلَ سي. نو زه **وايم:** ﴿فصاحت﴾ دغه په اصل کې د خبرتيا او ښکاره والي په هکله آګاهي ورکوي. ويل کيږی: "**فصح الاعجمی و افصح**". دا هغه وخت ويل کيږی چې ددوی ژبه روانه اود لُکنې څخه دده خبری خلاصی سي، او خبری يې جيدی او په هغه کې خرابي پاته نه سي. ﴿او په دغه سره مفرد موصوفَ ګرزی﴾، ويل کيږی: " فصيح كلمه" ﴿او کلام﴾ په نثری کلام کې ويل کيږی: فصيح کلام، او په نظم کې ويل کيږی: " فصيح قصيده". ﴿او متکلم﴾ ويل کيږی: "فصيح کاتب او فصيح شاعر". ﴿او بلاغت﴾ او دغه د رسېدو په هکله آګاهي ورکونکي دی. ﴿په ده سره محض آخری دوه موصوفَ ګرزی﴾ يعني متکلم او کلام. او په ده

سره مفرد موصوف نه کیږی. ویل کیږی: "کلام بلیغ او بلیغه کس". او دا ډول ویناچې کلمه بلیغه ده اوربدل سوې نه ده. او د مصنف رحمه الله دا قول "فقط د اسماء" ډاډمنو څخه یه معنه سره د "انه" یعني پای ته ورسیږه راځي. او ډیر خلي د لفظ د نباشته کولو لپاره په ده باندې فا، داخلیږی. ګواکي دغه دفقط قول جزاء لپاره د حذف سوی شرط ده. یعني څه وخت چې اول دوه په ده سره موصوف سوه نو ته د اول په ده سره د موصوف کولې څخه منع سه. په دې خبره سره پوه سه چې ددوی په **وړاندی** فصاحت د لفظ د هغه قوانینو موافق راتلو ته ویل کیږی کوم ددوی د کلامونو څخه په استقراء سره ثابت سوی دي. او دغه لفظ هغه عرب ډیر وایي د کوم عربیت چې مضبوط وی. او دوی ته په استقرا، سره معلوم سو بده چې هغه الفاظ چې ددوی تر مینځ ډیر ریات استعمالیږی دا هغه دي چې دوی په ژبه جاری او سالم او ژغورل سوی د متنافر حروفو اوکلمو څخه، د غرابت او تعقیدلفظي اومعنوي وي. نو **مصنف** رحمه الله جزم په دې خبره سره وکړی چې فصیح لفظ هغه دی کوم چې د قوانینو د مخالفت، تنافر، غرابت او تعقید معنوی څخه سالم پاته سوی وی.

تشریح

په دې عبارت کې څو شیان د ذکر کولو وړ دي.

اول: اعراب د مقدمې: سوال: مقدمه اعرابي څه حیثیت لری؟

جواب: مرفوع خبر لپاره د مبتداء محذوفی دی. او یا منصوب په عامل ناصب (خذ مقدمة) سره دی او یا مجرور په مضاف محذوف سره (هذه بحث مقدمة) دی.

دوم: تحقیق مأخذی: سوال: لفظ د مقدمه د چا څخه را خیستل سوی دی؟

جواب: دغه د "مقدمة الجیش" څخه راخیستل سوې ده، او مقدمة الجیش د فوځ هغه ټولی ته ویل کیږی کومه چې مخکې تر غټ فوځ (د هغو لپاره د زمینه د مساعدولو لپاره) تګ کوی. او دغه ډول په مقدمه کې هغه درې شیان ذکر کیږی د کوم په وجه سره چې د راتلونکي مقاصدو په زدکړه کې آساني پیدا کیږی.

سوال: مقدمه تفعیل په معنې سره د تفعل او د مقدمة الجیش څخه را خیستل سوې ده دغه راخیستل یې د څه وجې څخه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دا یوه قاعده ده چې مشتق منه په کومه معنی کې استعمال سوی وی په هغه کې به مشتق هم استعمالیږی. اوس که چیری خبره دغه ډول وی نو بیا اشتقاق د مشتق منه څخه صحت لری او که دغه ډول نه وی نو بیا صحت نه لری. او دلته مقدمه د "قدم" او "تقدم" یا د "تقدم" په معنی کې استعمال سوی دی. نو اوس دغه "قدم" په معنی کې د "تقدم" استعمالیږی او که چیری دغه ډول نه سي نو بیا شارح په دغه سره اشاره و دې ته وکړه چې تفعیل په معنی تفعلي کې استعمال سوې ده، لکه "مقدمة الجيش". ځکه دغه د هغی ټولی لپاره استعمال سوی دی کوم چې تر مخه کېدونکي وی.

دریم: تحقیق اشتمالي: مقدمه په دې بحثونو مشتمله وی. ۱: تعریف د علم. ۲: موضوع د علم. ۳: غایه او غرض د دغه علم څخه.

څلورم: صیغوی تحقیق: د دغه لفظ د دوو احتمالو محتمل دي. ۱: دغه په فتحه سره د لام د مفعول صیغه ده. په دغه صورت کې د مخکې سوی شي په معنی سره ده.

۲: دغه په کسره سره د لام د اسم فاعل صیغه په معنی سره د مخکې کونکي شي دی. او دغه دواړه احتماله دلته صحت لری، اول په دې سره صحت لری چې دغه شیان مصنف مخکې تر مقصد راوړی، لهذا د مصنف لخوا دوی هم مخکې تر مقصد راوړل کیږی، او دوم په دې وجه سره صحي دی چې دغه مقدمه هغه کس چې تعریف، موضوع او غرض د علم پیژني په هغه چا مخکې کوی کوم چې دغه نه پیژني (ملا ظهورالله علی ملا جلال) او دغه ډول د فاعل صیغه په دې اعتبار سره صحت لری چې دغه د تفعیل باب په معنی سره د تفعل ده، لهذا دغه په معنی لاز مي سره دی یعنی مخکې کېدونکي.

معنوی تحقیق: مقدمه دوو معناګانو تر مینځ یو مشترک لفظ دی، لهذا د دې دوه قسمه دی.

۱): **مقدمة العلم:** ما يتوقف عليه الشروع في العلم "هر هغه شیان چې په کومو باندی شروع کونه په یو علم کې موقوف وی. او د دغه مقدمة العلم مصداق د دې شیان دي. ۱: تعریف د علم. ۲: موضوع د دغه علم په کوم کې چې شروع کیږی. ۳: غرض، غایه او فائده د دغه علم. او په دغه درو شیانو باندی شروع کونه په یو علم کې په دوی باندی موقوف ده. که چیری تعریف نه وپیژ ندل سي نو په یوه مجهول شي کې به شروع راسي او دغه باطله ده. او د موضوع د نه

پیژندنې په صورت کې فرق په مابین کې د مقصود او د غیر مقصود به پاته نه سي. او د غایه د نه پیژندنې په صورت کې د عبث شي طلبول به لازم سي، او د غه ټوله باطل دي. لهذا یو کس چې په کامل بصیرت او پوهې په طریقه سره شروع کونه په یو علم کې غواړی نو هغه لپاره د دغه درو پیژندنه ضروری ده.

۲): **مقدمة الكتاب**: هي طائفة من الكلام قدمت امام المقصود لارتباطها به و نفعها فيه": یعنې د کلام هغه ټولې ته ویل کیږی کوم چې مخکې د مقصود ددې لپاره راوړل کیږی چې ددې تعلق د مقصود سره دی، او په مقصود کې دا فائده رسونکې وی. او ددې مصداق درې شیان کېدای سي ځکه دا د کتاب یوه حصه ده او په کتاب کې دغه درې واړه صحی دي.۱: محض الفاظ. ۲: محض معناګاني. ۳: د الفاظو او معناګانو مجموعه.

﴿فائده﴾: **سوال**: د مقدمة العلم او د مقدمة الكتاب تر مینځ څه نسبت دي؟

جواب: ۱: **تغاير ذاتي**: مقدمة الكتاب عبارت د الفاظو او مقدمة العلم عبارت د معناګانو څخه ده.

۲: **تغاير ذاتي**: مقدمة الكتاب د الفاظو او معناګانو د مجموعې څخه عبارت ده، او مقدمة العلم یا عبارت د معناګانو څخه سي.

۳: **اتحاد ذاتي او تغاير اعتباري**: مقدمة الكتاب د معناګانو څخه عبارت ده (داوول چې تعریف، موضوع او غرض سي) او مقدمة العلم د دغه درو شیانو پیژندنه ده. لهذا په دغه صورت کې مقدمة الكتاب عبارت د معلوم او مقدمة العلم عبارت د علم څخه دی. او په دغه صورت کې د دوی تر مینځ د عموم وخصوص مطلق نسبت شتون او وجود لري. مقدمة الكتاب اعم مطلق دی (ځکه په دې کې پرته د دغه درو نور شیانو هم ذکر کوني ته وړاندی کیږی) او مقدمة العلم اخص مطلق دی.

سوال: مقدمه دوو قسمونو ته ولې ووېشل سوه؟

جواب: د دې دوې وجې دي.

۱): د تلخیص مفتاح العلوم مقدمه د دغه درو شیانو څخه سېوا په څه نورو شیانو باندی هم مشتمله ده (کوموته چې مقدمة العلم نه ویل کیږی)، لهذا په صاحب تلخیص المفتاح دا اعتراض واردېدی چې په مقدمه کې پرته د دغه درې شیانو د نورو راوړل صحت نه لري ځکه دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

مقدمة العلم ده او په مقدمة العلم کې محض دغه درې شیان ذکر کیږي نه نور، او حال دا چې دلته نور شیانو هم ذکر سوی دي.

۲): **حکماء** ویلي دي: "المقدمة في بيان حده و غرضه و موضوعه". او څه خایونه بیا یې داډول ویلي دي "المقدمة في الامور الثلاثة". نو اوس په دغه دا اعتراض واردیږي چې دلته ظرفیت د شي وخپل ځان ته لازم سو ځکه ظرف (تعریف، موضوع و غرض) هم مقدمة العلم. او مظروف هم مقدمة العلم ده، او ظرفیت د شي وخپل ځان ته لازم مبدل باطل دی؟ لهذا دا دغه دوه اعتراضونو د دغه کولو لپاره مقدمه و دوه قسمونو ته ووېشل سوه.

۱: **مقدمة الکتاب**. په دې کې دغه درې شیان او سېوا دا دوی نه نور شیانو هم ذکر کیږي.

۲: **مقدمة العلم** دا محض د تعریف، موضوع او دفائدې څخه د علم عبارت ده. لهذا اوس اعتراض دا دغه سو، ځکه دغه مقدمه د مفتاح العلوم مقدمة الکتاب ده نه مقدمة العلم. او دوه بیا په دې وجه سره دا دغه سو چې دلته ظرف او مظروف عبارت د یوه شي څخه نه دي، ځکه مظروف مقدمة الکتاب او ظرف مقدمة العلم ده، نو عبارت داجوړیږي "مقدمة الکتاب في بيان مقدمة العلم" یعني "الالفاظ في بيان المعاني". نو اوس ظرفیت د شي وخپل ځان ته لازم نه سو.

دریم: بیان دعبارت: واعلم ان للناس في تعريف الفصاحة.. ثم لما كانت المخالفة راجعة في المفرد الى اللغة.

سوال: په دغه عبارت سره شارح څه بیانول غواړي؟

جواب: دلته شارح د څو شیانو بیانول غواړي: ۱: بیان د معنی لغوی د فصاحت او بلاغت. ۲: تعریف حقیقي د فصاحت. ۳: بیان د هغه تعریف چې په متن کې سوی دی. ۴: د متن: تعریف مجازی کېدنې د منشأ بیان. ۵: بیان د هغه علاقې چې ترمینځ د تعریف حقیقي او مجازی وجود لري. ۶: تعریف مجازی په متن کې د خپلولو راز او وجه.

اول: فصاحت وبلاغت: **سوال**: فصاحت څه ته، ویل کیږي؟

جواب: په لغت کې د فصاحت لپاره ډیرې معناګاني راغلي دي. ۱: نزع الرعوة یعني ګڅې راوخته. ۲: ذهاب اللبان من اللبن" یعني کوم سره زر چې په خښته کې وه هغه را جلا سوه. ۳: انطلق اللسان" یعني ژبه خلاصه سوه. لهذا د دغه معناګانو څخه یوه د مصنف په وړاندې حقیقي

او هغه بله مجازي کېدنه ثابته سوې نه ده او نه ددوی تر مینځ یوه مشترکه معنی شتون لري مګر هر یو ددغه معناګانو څخه په خپرتیا او ښکاره کوني باندې دلالت کوي. په دغه وجه مصنف رحمه الله ویل چې فصاحت په خپرتیا او ښکاره کوني باندې دلالت کوي. او دغه فصاحت کله لازمي رائي لکه ویل کیږي "فصح العجمي" یعني ددې ژبه خلاصه سوه. او ژبه ددې اوس نه بندیږي، او متعدی هم راځي لکه ویل کیږي "افصح العجمي" یعني عجمي په دغه سره یې تصریح وکړه او دغه یې نوروته ښکاره کړه او ددغه ښوونه یې وکړه.

سوال: مصنف رحمه الله ولې دا دول نه وویل "فصاحت د ابانت او ظهور څخه عبارت دی"؟

جواب: ځکه فصاحت د لغت په اعتبار سره څو معناګاني لري، او ددوی تر مینځ یوه مشترکه معنی نسته، او دغه دول ددوی څخه یو څه حقیقي او پاته نوري مجازي کېدنه هم ثابت سوې نه ده. نو په دغه وجه ده نه وویل. البته هغه یوه ددغه معناګانو څخه دلالت په ښکاره کوني او ښکاره کېدني باندې کوي نو په دغه وجه مصنف وویل چې فصاحت په ابانت باندې دلالت کوي.

سوال: د مصنف رحمه الله کلام ناقصه دی ځکه ده وویل چې فصاحت کله د مفرد او کله بیا د کلام صفت واقع کیږي. او دلته مرکب ناقص په عربي کلام کې سته کوم چې نه مفرد (ځکه مفرد لفظ واحد او مرکبیات تر یوه لفظ وی) او نه کلام دي (ځکه په کلام کې نسبت تامه وجود لري او په مرکب ناقص کې بیا وجود نه لري)، او حال دا چې دوی په فصاحت سره موصوفه کیږي؟

جواب: دلته مرکب ناقص په مفرد کې داخل دی ځکه دلته د مفرد څخه مراد هر هغه شي دی کوم چې کلام نه وی (ځکه مفرد مصنف د کلام مقابل راوړی دي ددغه څخه دا معلومیږي چې دلته مفرد د کلام مقابل دی) او دغه بیا عام و مفرد حقیقي او مرکب ناقص دواړو ته دی.

سوال: "کاتب" مثال بلل لپاره د متکلم صحی نه دی، ځکه متکلم خبری کونکي او کاتب لیکونکي ته ویل کیږي، لیکوال د ویونکي څخه جلا وی؟

جواب: دلته مراد د کاتب څخه لیکونکي نه دی بلکه دلته یې معني داده "هر هغه کس کوم چې نثری کلام جوړه وی". او دغه متکلم ته شامله دی. نو اوس اعتراض دفعه سو.

سوال: و البلاغة وهی تنبئ: بلاغت په لغت کې څه ته ویل کیږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: په عبارت سره ومراد ته په داسي حالت کي رسېدل دي چې په کوم کي نه اوږدوالي او نه داسي کم والي وي چې د هغه څخه خفګان او پريشاني په حصول کي د مراد پيدا سي.

سوال: مصنف ولي داسي نه وويل "بلاغت و رسېدو ته ويل کيږي"؟

جواب: بلاغت په لغت کي په عبارت سره و مراد ته په يوه مخصوصه طريقه سره رسېدني ته ويل کيږي. مګر دغه معنی په مطلق رسېدو باندی دلالت کوی. لهذا د بلاغت معني بعينه مطلق رسېدنه نه ده.

سوال: دلته د بلاغت لپاره داسي څو معناګاني نسته لکه د فصاحت دا، چې نه ددوی تر مينځ يوه معنی مشترکه وی يا بعض ددوی څخه حقيقت او پاته نوری مجاز وي. لهذا ده لره ظاهراً يوه معنی وجود لری نو بايده د ابانت په لفظ سره دغه معنی لغوی د بلاغت بيان کړې نه وای؟

جواب: دلته مصنف هم هغه طريقه خپله کړېده کومه چې ده د فصاحت د معنی لغوی په بيان کي خپله کړې ده (چې ددواړو د لغوي معناګانو د بيان طريقه سره موافقه سي)

وکثيرا ما: **سوال:** فاء د مختلفو معناګانو لپاره راځي د مثال په توګه. ۱: تعليل، ۲: تفريع ۳: جزاء. او فاء د فقط يوه ددغه درو څخه يې کېدنه په ښکاره توګه سره نه ښکاری؟

تزينا: **اول جواب:** دغه فاء زائد اود ښائسته والي لپاره راوړل سوېده. لهذا فاء لپاره ديوه ددغه درو معناګانو کېدنه يې ضروری نه ده.

و کأنه جزاء: **دوم جواب:** دلته فاء جزائيه او شرط دلته حذف سوی دی. او اصل عبارت داغوندی دی "اذا وصفتَ بها الاخيرين فانه عن وصف الاول بها" يعني څه وخت چې تا په ده سره اول دوه موصوفه و ګرزول نو د آخر د موصوفه کوني څخه ځان وساته.

دوم: **و اعلم انه لما کانت الفصاحة:** **سوال:** فصاحت په اصطلاح کي دې ته ويل کيږي:

۱: د لفظ د هغه توانينو موافق راتلنه کوم چې ددوی د کلام د پلټنې څخه تر لاسه سوی دي.

۲: دغه لفظ د هغه چا په وړاندی ډير استعماليږی کوم چې مضبوطه په اعتبار د عربيت وي (يعني دغه لفظ د اصلي عربو وی). نو اوس مصنف رحمه الله ددغه مشهور تعريف کوني څخه اعراض وکړی او دغه تعريف يې رواړي کوم چې په عبارت کي شتون لری؟

جواب: د مصنف تعریف تر مشهور تعریف لنډ او د یادونې په اعتبار سره تر هغه اسهل دی.

دریم: دوم جواب: اوددغه سره سره د مشهور تعریف سره د غه تعریف د مصنف رحمه الله لازم دی ځکه په پلټولو سره د غه خبره و ثبوت ته رسېدلې ده چې هغه الفاظ چې د دوی په مینځ کې ډیر استعمالیږی دا هغه الفاظ دي کوم چې د تنافر الحروف و الکلمات د غرابت او تعقید لفظي او معنوی څخه پاک او سالم وی، لهذا د غه تعریف د شي په لازم سره دی. او تعریف د شي په لازم سره د غه تعریف مجازی وی. نو د غه تعریف هم مجازی دی.

څلورم: سوال: مصنف رحمه الله چې څه وخت فصاحت في المفرد و الکلام او د غه ډول بلاغت په کلام کې یې بیان کړي (خلوصه من تنافر الحروف...الخ، مطابقه لمقتضی الحال..)، نو بیا ده په شرح کې د ایضاح و فرمایل: د غه تعریفونه داسي دي چې د خلکو په عبارات کې شتون نه لری نو په د غه باندی د مصنف په ژوند کې دده د هم وخته علماؤ (خطیب د مصر اویا د یمن د طرف څخه) دا سوال وارد کړي چې د غه تعریفونه په خپله رأی سره دي ځکه دوی د خلکو په کلام کې وجود نه لری اود تعریف په خپله رأی سره کونه صحت نه لری؟ بیا د د غه سوال څخه بعضو علماؤ دا جواب ورکړي وو چې مراد د الناس څخه ټوله خلک نه بلکه مخصوص خلک دي د مثال په توګه علامه سکاکي رحمه الله اویا شیخ عبد القاهر او یا په مثل د دوی دي کوم چې په علم البلاغت کې شهرت ته رسېدلي دي، لهذا د دې څخه دا نه لازمیږی چې د غه تعریف به بل چا نه وي کړي حتي چې بیا مخالفت راتلل لازم سي. په د غه جواب باندی علامه شارح راضي نه دي نو ده دوه جوابه ورکړه.

اعلم انه لماکانت: جواب: تعریف بالرأی نه لازمیږی ځکه د مصنف کړل سوی تعریف که څه هم په د غه فن کې صراحتاً په د غه الفاظو سره وجود نه لری مګر د د غه فن د مشهورو زلاندو سترو له طرف څخه چې کوم تعریفونه سوی دي هغه او د مصنف کړل سوی تعریف د مفهوم او معنی په اعتبار سره یو دي. نو اوس اعتراض په دې خبره چې د مصنف کړل سوی تعریف د قوم په وراندی وجود نه لری نه وارد یږی.

پنځم: دلته دا ثابته سوه چې د تعریف حقیقي او مجازی تر مینځ علاقه د لزوم څخه لری.

Maktaba Tul Ishaat.com

مشيږم: قد تسامح في تفسير الفصاحة: سوال: دفصاحت کړل سوی تعریف په الخبر ص سره مناسبه نه دی ځکه فصاحت وجودی (داډول چې مشهوره تعریف په دې سوی دي چې: لفظ: قوانینو موافق راتلل الخ. لهذا دغه راتلنه وجودی ده) او تعریف یې عدمي دی ځکه خلوص خالي والي او نه کېدنه ده. لهذا دلته د وجودی تعریف په عدمي سره سوی دی او دغه یو غیر مناسبه کار کونه ده (ځکه هر تعریف په هغه چا باندی حمل کیږی د کوم چې تعریف سوی وی او دلته عدمي په وجودی باندی نه سي حمل کېدلای)؟

جواب: دغه سوال هلته واردېدی که چیرې دغه تعریف حقیقي وای او دلته دغه ډول نه ده؛ بلکه دغه تعریف رسمي دی، او په دغه تعریف سره پیژندنه د یو شي د حقیقت نه وی بلکه مقصد د معرّف آسانه کونه وی، او د معرّف آسانه کونه په خلوص سره تر مشهور سوی تعریف په ښه توګه سره لاس ته راځي (ځکه د تعریف حقیقي و لاس ته د روارني لپاره و شاګردانو ته د ده په تلاش کي ډیرې منډې ترنډې او مختلفو ځایونو ته د تلو ضرورت پیښیږی او د مجازی تعریف و لاس ته د راوړني لپاره د دغه شیانو ضرورت نه پیښیږی په دغه وجه دغه تعرف مجازی اسهل دی).

﴿فائده﴾: تسامح: بېله قرینې د یو لفظ په غیر موضوع له کي استعمالونه.

مجاز: استعمال د لفظ سره د قرینه په هغه معنی کي چې د هغه لپاره وضع د دغه لفظ را غلې نه وی.

﴿حل الحواشي﴾

حاشیه نمبر ۱:

سوال: "ما يتصل بذالک" عطف پر چا دی؟

جواب: دغه عطف پر "معني الفصاحة و البلاغة" باندی دی لکه څرنګه پر دغه باندی دا قول "انحصر علم البلاغة" عطف دی.

سوال: "ما يتصل بذالک" څخه څوک مراد دی؟

جواب: د دغه څخه مراد بیانونه د نسبت تر مینځ د فصاحت او بلاغت ده، او دغه ډول دا خبره چې فصاحت صفت د لفظ دی. او دغه ډول بیانونه د نسبت تر مینځ د مقتضي الحال او اعتبار مناسب او دغه ډول مرجع د بلاغت ښوونه مراد ده.

حاشیه نمبر ۲:

خلاصه دحاشي داده چي ددې عبارت "و المقدمة مأخوذة" په معني کې دوه قول دي.

۱) : **علامه عدوي:** لفظ دمقدمې د "مقدمة الجيش" څخه اخيستل سوي دي.

۲): **علامه عبدالحکيم:** ددغه عبارت معني داده چې لفظ د مقدمه د اضافت "مقدمة الجيش" څخه په خپلې خالصې معني سره قطع سوی دی. اود .دوو .وجو څخه معني ئې دا نه ده چې لفظ د مقدمې د "مقدمة الجيش" څخه اخيستل سوي دي.

۱): د منقول او منقول اليه ترمينځ د موافقت دموجودوالي څخه چاره نه وی. او دلته دغه موا فقت نسته. ځکه منقول لفظ مفرد او منقول اليه مضاف دی.

۲): شارح دمقدمه معني په عبارت کې بيان کړې نه ده. حتي چې بيا ئې ويلي وای چې مقدمه په دغه معنی سره د "مقدمة الجيش" څخه منقول ده. او دغه ډول بيان د شارح سره ددې قول "مأخوذة" دا نه فائده کوي چې معني مخکې او ورسته تر اخذ سره يوه ده. اودغه هغه وخت کېدای سي چې مقدمه په خپله معنی سره د "مقدمة الجيش" څخه قطعَ سي. او دغه بناء بر اول تقديرنه سي جوړېدای. ځکه د مستعار اودمستعارمنه ترمينځ اتحاد غواړي. اودلته دغه اتحاد نسته. ځکه دوی مفرد د مضاف څخه مستعار بولي. او دلته مخکې او ورسته تر اخذ معنی هم يوه کيدای نه سي. لهذا خلاصه دا سوه چې عبارت د شارح د علامه عبد الحکيم په خبره باندې دلالت کوي نه د عدوي په خبره. (كذا قال عبد الرحمن في شرحه ۱۱۶/ج۱)

حاشيه نمبر ۳:

سوال: وښيل دمقدمه ومقدمة العلم او ومقدمة الكتاب ته يوه نوې اصطلاح ده. او نوې اصطلاح د علماؤ داقوالو په اثر سره ثابتيږی. او پرته ددې دغه نوې اصطلاح هيڅ يو حيثيت نه لری، او دلته په دغه نوې اصطلاح باندې د سترو علماؤ د اقوالو څخه د يوه قول هم نسته نو دغه نوې اصطلاح د اعتبار وړنه ده؟ (بحر العلوم ۴/ج۲)

جواب: مقدمة الكتاب يوه نوې اصطلاح نه ده. حتي چې بيا و نقل ته د قول د علماؤ ضرورت پيښ سي. ځکه مصنفين حضرات ډير ځلي په خپلو تصانيفو کې يوه ټکره د کلام مخکې ذکرکړي. اودوی دغه په نامه سره د مقدمة الكتاب مسمي کړي. لکه څه ډول چې دغه مصنفين يوه ټکره د خپلو کلامونو په فن، باب او فصل سره مسمي کوي. او دوی خپل کتابونه پر دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

مشتمل په طريقه سره د اشتمال د کل پر جزء باندې ګرزوي. او دلته د علامه تفتازاني د مقدمة الکتاب څخه هم دغه مراد ده، په دې معنې سره چې دغه مقدمة الکتاب يو داسې مقدمه ده چې دا د کتاب جزء ګرزي دلېده. لهذا اوس دغه يوه نوې اصطلاح نه سوه.

سوال: تعريف د مقدمة الکتاب مانع نه ده. ځکه دغه تعريف په هر هغه شي صادقيږي چې په هغه شي سره ارتباط او نفعَ حاصليږي؟

جواب: مقدمة الکتاب هغه ده چې په ده سره ارتباط او نفعَ حاصليږي. او د دې سره سره دغه په اول کې د کتاب روا ړل کيږي. نو اوس په سوال کې ذکر سوي شي خارج سو. ځکه هغه په اول کې د کتاب نه راوړل کيږي.

سوال: د مقدمة العلم او د مقدمة الکتاب ترمينځ کوم نسبت وجود لري؟

جواب: دوه ډوله نسبت دتباين وجود لري. ځکه مقدمة الکتاب د الفاظو څخه عبارت ده. او مقدمة العلم د مدلولاتو څخه د الفاظو عبارت ده. او د مقدمة العلم څخه که چيرې الفاظ د مقدمة العلم واخيستل سي، اويا د مقدمة الکتاب څخه د مقدمة الکتاب معناګاني وا خيستل سي نو بيا د دوی دوو ترمينځ د عموم و خصوص من وجه نسبت وجود لري. ځکه مقدمة العلم د يوه جهت څخه خاص او دبل جهت څخه بيا عامَ ده.

۱): **جهت د خصوص:** مقدمة العلم په دې سره مقيدَ ده چې دا شروع لپاره موقوف عليه وي.

۲: **د عموم جهت:** په دې کې د مخکې والي اعتبار نسته.

او د مقدمة الکتاب هم په يوه جهت خاص او په بل جهت سره عامه ده.

۱): **د خاصوالي جهت:** چې په دې کې د مخکې والي اعتبار سته.

۲): **د عموم جهت:** په دې کې د "ما يتوقف عليه الشروع" اعتبار نسته.

ماده د اجتماع: حد او غايه مخکې ترمقصود ذکر سي.

ماده د افتراق د طرف څخه د مقدمة العلم: حد او غايه په ما بين يا په آخر کې ذکر سي.

ماده د افتراق د طرف څخه د مقدمة الکتاب: هغه شي چې مخکې ترمقصود ذکر سي. او په ده باندې شروع په علم کې موقوفَ نه وي مګر زياتوالي د بصيرت اوددانائي فائده کوي. (مختصر المعانی ۱۲/ح۳)

حاشيه نمبر ۴:

بیان د اول اشکال: د کتابونو په شروع کې دا دول عبارت واقع سوي دی "المقدمة فی تعریف العلم و غایته و موضوعه". نو اوس دا اعتراض واردیږي چې ظرفیت د شي خپل ځان لره راغلي. ځکه مقدمه په خپله تعریف د علم، موضوع او غرض د علم ده. او ظرفیت د شي خپل ځان لره باطل دی. لهذا د دغه اعتراض څخه د ځان ژغورولو دوه جي علامه مقدمه، مقدمة العلم او مقدمة الکتاب ته تقسیم کړه. لهذا اوس مخکني اعتراض دفع سو. ځکه د مقدمة څخه مقدمة الکتاب او د ظرف څخه مقدمة العلم مراد ده.

دوم اشکال: مصنف په مقدمه کې د تلخیص داسي شیان ذکر کړي دی چې په هغو شیانو باندې شروع موقوف نه ده (لکه د فصاحت او د بلاغت تعریف). ځکه علامه سکاکي دغه شیان په علم معاني او د بیان په آخر کې راوړي دي. اوس که چیرې په دوې باندې شروع موقوفه وای نو علامه سکاکي دوی په آخر کې ولې راوړل. اوس دا اشکال واردیږي چې د دغو شیانو په مقدمه کې راوړل صحیح نه دی. ځکه په مقدمة العلم باندې شروع موقوف وي. او حال دا چې په دوی باندې شروع موقوف نه ده؟ لهذا دغه اشکال په دوه والي باندې د مقدمة باعث سوه. څه وخت چې مقدمه دوه قسمه سوه ۱۲: مقدمة العلم. ۲: مقدمة الکتاب". نو اوس دغه اشکال دفع سو. ځکه دغه شیان په مقدمه کې د کتاب ذکر سوي دی. او په مقدمة الکتاب کې هغه شیان ذکر کیږي چې د دوی سره مقاصد ربط لري او په دوی کې نفع رسوي. او دغه امور "تعریف د فصاحت او د بلاغت د دغه دول نور" هم دغه دول دي.

حاشیه نمبر ۵:

سوال: ماتن مفرد، کلام او متکلم په فصاحت سره موصوف ګرزول او د مرکب ناقص په هکله یې سکوت خپل کړي. ځکه مرکب ناقص مفرد نه دی ځکه مفرد مقابل د مرکب دی. ځرنګه مرکب ناقص مرکب دی نه مفرد په دغه وجه مفرد و مرکب ناقص ته شاملَ نه دی. او دغه دول کلام هم نه دی، ځکه کلام پر نسبت تامه مشتملَ وی په خلاف د ناقص. او دغه دول مرکب ناقص متکلم هم نه دی کوم چې یوه ښکاره خبره ده. لهذا د ماتن د سکوت څخه دا خبره ښکاری چې دی مرکب ناقص په فصاحت سره موصوف نه بولي او حال دا چې مرکب ناقص هم موصوف په فصاحت سره ګرزی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: خبره دغه ډول ده لکه تا چې و کړل چې ماتن مرکبِ ناقص د خپل ذات په اعتبار او په حیث د مرکبِ ناقص موصوف په فصاحت سره نه بولي بلکه دی په اعتبار د هغه مفرداتو چې دغه مرکبِ ناقص ځني جوړ وی موصوف بولي، نو خلاصه دا سوه چې مفرد او کلام په عبارت کې په خپله حقیقي معني پاته دي او مرکبِ ناقص په حیث د خپل ځان موصوف په فصاحت سره نه وی.

حاشیه نمبر۶:

سوال: دلته مصنف رحمه الله "کلام فصیح" وایي او داسي یې نه وویل "رسالة فصیحة" او حال دا چې رسالة هم جوړه د کلام څخه وی. لهذا د "رسالة" پر ځای د "کلام" د کوم وجې تر سره سوېده؟

جواب: مصنف رحمه الله دلته هغه شي راوړی د کوم استعمال په نثری کلام کې شائع او زیات دی. لهذا په نثری کلام کې داډول وینا نه تر سره کیږی "رسالة فصیحة" بلکه داډول وینا تر سره کیږی "کلام فصیح". لهذا مصنف و شیوع ته د دغه خبرې اشاره وکړه.

حاشیه نمبر۷:

په التاج او قاموس کې ویلي دي "بلغ الرجل بلاغةً" دغه هغه وخت ویل کیږی چې یو کس خپل مراد او د زړه خبره په تو سط سره د عبارت پر بیانولو باندی و توانیږی. او دغه په لغت کې دلالت پر معني د رسېدنې او انتهاء کوی. ځکه د بلاغت لغوی معني دا ده "په توسط سره د لفظ و مقصد ته رسېدنه". او دغه معني خاص ده (ځکه یو رسېدنه ده او یو د لفظ په توسط رسېدنه ده)، او هر خاص پر عام دلالت کوی نو خاص رسېدنه پر مطلق رسېدنه باندی دلالت کوی.

سوال: دلته شارح د مخکني عبارت "الفصاحة و هي في الاصل الخ" غوندی داډول یې "اللاغة و هي في الاصل" ولې نه وویل؟

جواب: ځکه دلته شارح پر هغه مخکني وینا باندی کفایت وکړي. څرنګه یو ځلي مخکي دغه لفظ "في الاصل" ذکر سوی وو نو شارح دوم ځلي ذکر نه کړي، او پر هغه مخکني ذکر کوته باندی یې کفایت وکړي.

البليغ الفصيح الّذي يَبْلُغ بعبارته كُنْهَ ضميره ونهاية مُرَادِه وجَمْعَ البَلِيغ : بُلَغاء وقدْ بَلُغ الرَّجُلُ كَكَرُمَ بَلاغَةً (تاج العروس من جواهر القاموس - بلغ ج22 ص447// بليغ. [ب] (ع ص) مرد فصیح رساننده سخن آنجا که خواهد. (دهار). شخص فصیح که سخن را در جای خود نهد. (از اقرب الموارد). تیززبان . (غیاث) (آنندراج). فصیح که

کنه ضمیر و مراد خود تواند به عبارت آوردن . گشاده زبان . گشاده سخن . (یادداشت مرحوم دهخدا). خوش بیان . شیرین سخن . سخنگوی بر کمال . چیره زبان . سرطم . سلاک . مسمع . مسهّج . (منتهی الارب). ج ، بُلغاء. (اقرب الموارد)(منتهی الارب) کلام بلیغ ؛ سخن تمام بامراد. (منتهی الارب) : اولئک الذین یعلم الله ما فی قلوبهم فاعرض عنهم وعظهم و قل لهم فی انفسهم قولاً بلیغاً. (قرآن 4/63)؛ آنان کسانی هستند که خداوند آنچه را در دلهایشان است می داند، پس از آنان روی بگردان و آنان را پند ده و از برای ایشان در نفسهایشان گفتاری اثر کننده و بلیغ بگو. قولا بلیغا؛ یعنی با مبالغه به دلهارسنده . (دهار). که سخن بلیغ با معانی بسیار از زبان مرغان و بهایم و وحوش جمع کردند. (کلیله و دمنه).

حاشیه نمبر۸:

سوال: "اعلم انه لما کانت الخ" د دغه کلام څخه د شارح څه مقصد دی؟

جواب: دلته شارح مقدمه د دې خبرې لپاره ذکر کوي چې د فصاحت تعریف په دې ډول "خلوص من تنافر الحروف و الغرابة و مخالفة القیاس" کېدنه بناء بر تسامح ده. لهذا دغه خبره "اعلم انه لما کانت" مقدمه لپاره د شارح د دې خبرې "قد تسامح في التفسیر" ده، نوڅه وخت چې دغه مقدمه ثابت سي نو د تسامح خبره به هم ثابت سي، ځکه د تسامح خبره بناء پر دغه مقدمه ده.

سوال: وجه د تسامح بناء پر دغه مقدمه باندې څرنګه ده؟

جواب: دا ډول ده چې فصاحت په حقیقت کې د دې خبرې نوم دی "کون اللفظ جاریاً علي القوانین الخ" او دغه " کون الخ" وجودی دی، او " خلوصه من تنافی الحروف الخ" عدمي دی . او وجودی شي عدمي کېدای نه سي. نو څرنګه دغه "کون اللفظ الخ" وجودی دی نو فصاحت هم وجودی دی. او وجودی شي عدمي کېدای نه سي نو فصاحت "خلوص" کېدای نه سي. لهذا د وجودی تفسیر په عدمي سره کول صحت نه لري، نو بیا هم کول یې بناء بر تسامح وی.

عـــه:

مصنف په مقدمه کې د تلخیص داسي شیان ذکر کړي دی چې په هغوشیانو باندې شروع موقوف نه ده (لکه د فصاحت او د بلاغت تعریف). ځکه علامه سکاکي دغه شیان په علم معاني او د بیان په آخر کې راوړي دي. اوس که چیرې په دوې باندې شروع موقوف وای نو علامه سکاکي دوی په آخر کې ولي راوړل. نو اوس دلته د مصنف او د سکاکي د خبرې تر مینځ توافق پیدا کولو په صورت کې و تکلف ته ضرورت او احتیاج وجود لري.

Maktaba Tul Ishaat.com

عسه:

سوال: شارح ولي دا خبره وکړه "تنبي عن الابانة" يعني د فصاحت دغه ټولې معناګاني خبرتيا پر ابانت او ظهور ورکوي. او شارح يو خاص معني د فصاحت و نه بنوول، او س د دې خبرې څه وجه ده؟

جواب: اصل خبره داده چې د فصاحت په لغت کې څو معناګاني بيان سوی دي. اهل اللغت بعضي د دغه معناګانو څخه حقيقي او بعضي بيا مجازي بللي دي. او د شارح په وړاندې د فصاحت مشترک والي په دغه معناګانو کې ښکاره نه و دا ډول چې دی دي يو معني د دوی تر مينځ مشترک پيدا کړي. په دغه وجه شارح وويل چې فصاحت په اصل کې خبرتيا د ابانت او د ظهور ورکوی. عام تردي معني حقيقي او که مجازي وي هر يوه دغه ډول ده.

صفحه نمبر ۱۷:

عبارت



ترجمه

او بیا چې څه وخت مخالفت په مفرد کې و لغت ته راجع کیږی، او په کلام کې و نحو ته، اوغرابت بیا خاص تر مفرد پورې دی، او تعقید بیا تر کلامَ پورې دی، تر داسې وخته پورې چې فصاحت د مفرد او د کلام کواکې دوه مختلف حقیقتونه وګرځ ېدل. او دغه دول دبلاغت هم ددوی په وړاندی په دیرو معناګانو باندی یې اطلاق کیږی د کومو خلاصه داده: دکلام د مقتضائي حال سره موافق کېدنه ده. او هر یو د فصاحت او بلاغت څخه صفت لپاره د متکلم په جلا جلا معناګانو په اعتبار واقع کیږی. نو اول خلي مصنف و تقسیم ته د فصاحت او بلاغت په اعتبار د موصوف د دوی ﴿ د فصاحت او بلاغت ﴾ شروع وکړه او بیا یې تعریف د هر یوه قسم په داسي توګه سره وکړي کوم چې خاص او مناسب د هر یوه سره وی. په دې وجه سره چې ددوی دواړو په یوه تعریف کې جمع کونه متعذره ده، او نه ددوی تر مینځ یو داسي قدرِ مشترک شتون لری لکه حیوان چې مشترک تر مینځ د انسان او آس او د نورودي. خکه اطلاق د فصاحت پر خبلو درو اقسامو «فصاحة المفرد، کلام،

Maktaba Tul Ishaat.com

متکلم» باندی د قبیلې څخه د اطلاق د مشترک، پر خپلو مختلفو معناګانو باندې دی وښکاره ته
کښې به وجه سره. او په دې خبره کې هیڅ یو پټ والي نسته چې تعریف د هغه مطلق عین کور
چې و لمر اوسره زړو او دغه ډول و نورو ته شامل دی متعدده دی. «یعنې هر یوه تعریف به خپله د
مخصوصه طریقه سره چې مصنف کړی دی به نورو صحی ده چې تعریف د پلاټ او
قصاحت پا دغه مخصوصه توکه سره هغه شي دی کوم چې په کلام کې د څلکو شیوں نه لري.
مګر مصنف دغه تعریف د قوم د عباراتو څخه اخیستي دي. نو اوس د مصنف رحمه الله په دغه
کلام باندې «ما په کلام کې د قوم داسې شي پیدا کړی نه دی کوم چې ددوی دواړو د تعریف، صلاحیت لري» دا
اعتراض نه وارد یږي چې قیاس او رأی په تفسیر کې د الفاظو دخل نه لري. او داسې جواب
ورکوني ته ضرورت نسته چې مراد په بعضو ناسو سره معلوم خلک دي.

تشریح

ثم لما کانت المخالفة في المفرد... سوال: مشهوره او معروفه خبره داده چې اول دواړه د
یو شي تعریف وسي، بیا د هغه شي تقسیم و اقسامو ته وسي، او بیا تعریف د دغه اقسامو
وسي، لکه ابن حاجب اول د کلمه تعریف کړي دي: الکلمة لفظ وضع لمعنی مفرد.. او بیا یې تقسیم
کړي دي: وهی اما اسم او فعل او حرف. او بیا د هریوه د اسم، فعل او د حرف تعریف کړي دي. او
حال دا چې دلته مصنف عکس ددې خبرې خپل کړی دي دا ډول چې ده اول دواړه تقسیم او بیا
یې د هر قسم تعریف کړي دي نو دا ولې؟

ځواب: ستا دغه خبره هر ځای نه ده، بلکه دغه خبره په هغه صورت کې وی چیرې چې د
اقسامو تر مینځ یو داسې شي وجود لري کوم چې د ټولو اقسامو تر مینځ مشترک وي. او دلته
دغه ډول نه ده، ځکه د فصاحة المفرد رجوع و علم الصرف ته کیږي، او د فصاحة الکلام و نحو
ته او دغه ډول د غرابت څخه خالي والي خاص تر مفرده پورې دی او خالي والي د تعقید خاص
تر کلامه پورې دی. ځکه غرابت وجود په مفرد او تعقید وجود په کلام کې تر لاسه کوی. نو
فصاحة المفرد او فصاحة الکلام داسې دوه شیان و ګرزیده کوم چې په خپلو کې سره مختلف
وي. او هغه شیان چې د کومو تر مینځ یو حد مشترک وجود نه لري، د هغو تعریف په تقسیم
سره تر لاسه کیږي په دغه وجه مصنف ددوی تقسیم اول دواړه خپل کړي او بیا یې د هر قسم
تعریف وکړي.

سوال: په دغه صورت کې تقسیم د مطلق او اقسامو نه لازمیږي او حال دا چې مخکې تر تقسیم دیو شي د هغه پیژندنه ضروري ده او دلته دغه خبره شتون نه لري؟

جواب: د تقسیم کوني لپاره د مقسم تصور په یو وجه ما سره هم کفایت کوي او دلته د مقسم تصور په وجه ما سره نر لاسه سوی دی او هغه داډول چې مقسم هغه شي دی په کوم چې د لفظ د فصاحت او بلاغت اطلاق کیږي. او دغه داسې ده لکه ابن حاجب رحمه الله چې تقسیم د مستثنی کړي دي.

سوال: شارح رحمه الله ولې داسې وویل «کأنهما حقیقتان مختلفتان» او داسې یې نه وویل «انهما حقیقتان مختلفتان». خلاصه دا سوه چې مصنف فصاحة المفرد و الکلام دوه حقیقتَ په طریقه د جزم و نه بلل بلکه په طریقه د تردد او شک و بلل دا ولې؟

جواب: د فصاحت المفرد او کلام تر مینځ په حقیقت کې اختلاف نسته بلکه ددوی دواړو لپاره په اصل کې یو حقیقت لري هغه دادی: د لفظ داسې کېدنه چې دی به په ژبه د هغه عربو جاري وی د کومو چې عربیت مضبوط وی او یا خالي والي د لفظ د هغه درو شیانو څخه کوم چې مصنف ذکر کړي دي، مګر څه وخت چې د فصاحة المفرد رجوع و یوه فن ته چې هغه صرف دي کیږي (ځکه د مفرد په فصاحت کې دا خبره ضروري ده چې دی به د صرفي قانون سره مخالفت نه لري) اود فصاحة الکلام رجوع بیا و بل فن ته کیږي چې هغه علم النحو ده (ځکه فصیح کلام هغه دی کوم چې موافق د نحوي قانون سره وی) نو بیا دوی (په دې وجه سره چې د هر یوه رجوع و یو جلا فن ته د علم کیږي نو لکه څرنګه دغه فنون مختلف دي نو دوی هم دغسې وبلل سوه) داسې و بلل سوه لکه هغه شیان چې هغوی لره مختلف حقیقتونه وي.

وکذا کانت البلاغة یقال: **سوال:** دا خبره مور در سره منو چې د فصاحت المفرد اود فصاحت الکلام تر مینځ یو قدري مشترک شتون نه لري چې د هغه تعریف سوی وای مګر دا کېدای سي چې د بلاغت لپاره یوه داسي عامَ معني شتون ولري کومَ چې د فصاحت اود بلاغت و اقسامو ته شاملَ وی. لهذا د مصنف لپاره په کار وه چې ده اول ځلي د بلاغت تعریف په اعتبار د دغه عامِ معني کړي وای او بیا یې دی د اقسامو ته وښلی وای، او بیا یې د اقسامو تعریف کړی وای؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د بلاغت لپاره یو داسي معنی نسته کومه چي اقسامو ته د بلاغت او فصاحت دواړو ته شامله وي ځکه بلاغت جلا او فصاحت یو جلا حقیقت دي داډول چي د بلاغت لپاره مختلفي معناګاني دي. او د ټولو خلص دا راوزي: د کلام د مقتضي الحال سره موافق کیدنه او په دې خبره کي شک نسته چي دغه معني د فصاحت المفرد او فصاحت الکلام و المتکلم څخه جلا ده. په دغه وجه سره مصنف د بلاغت تعریف اول نه وکړي.

و کان کل من الفصاحة و البلاغة: **سوال:** داخبره موږ منو چي فصاحت لره یوه داسي معني نسته کومه چي و فصاحت المفرد والکلام و دواړو ته شامل وي او نه یو داسي معني بلاغت لره شتون لري کومه چي شامله و اقسام ته د فصاحت او د بلاغت دوارو وي مګر دلته دا ممکن ده چي د فصاحت او بلاغت لپاره یوه داسي عام مفهوم وجود و لري کوم چي و فصاحت المتکلم او بلاغت المتکلم دواړو ته شامله وي. نو اول دواړه د دغه مفهوم تعریف او بیا تقسیم یې تر سره سي؟

جواب: د غسي مفهوم وجود نه لري، ځکه هر یو د فصاحت او بلاغت څخه صفت د متکلم په جلا معنا سره واقع کیږي، فصاحت په یوه معني او بلاغت بیا په بلي معني سره د متکلم صفت واقع کیږي.

لا بوجد قدر مشترک بینهما: **سوال:** د فصاحت دري اقسام او دغه ډول د بلاغت دوه اقسام (بلاغت المتکلم والکلام) په مثل سره د انواعو دي. او د انواعو حقیقتونه مختلف مګر لاندې تر تعریف د جنس وي، د مثال په توګه لکه انسان او خر چي دوی دواړه مختلف په اعتبار د حقیقت مګر لاندې تر جنس دي، نو اوس دلته دا روا ده چي انواع د فصاحت او بلاغت د خپل مینځ ګډ اختلاف سره سره لاندې تر یوه مقسم او جنس وي نو بیا د مصنف لپاره تعریف د دغه جنس ورسته بیا یې تقسیم کونه په کار وه؟

جواب: ظاهراً د بلاغت او فصاحت د اقسامو تر مینځ اشتراک حقیقي وجود نه لري بلکه اشتراک لفظي وجود لري، او حال دا چي د جنس د اقسامو تر مینځ اشتراک حقیقي وجود لري لهذا جنس یو مشترک معنوی د خپلو اقسامو تر مینځ وي، نو د جنس د تقسیم په صورت کي اول دده تعریف ورسته دده تقسیم تر سره کیږي، فصاحت او بلاغت کوم مشترک معنوی د خپلو اقسامو تر مینځ په اعتبار د ظاهر نه دی چي اول دده وی تعریف ورسته یې تقسیم تر سره

... مشترک لفظي دي. او د مشترک لفظي په صورت کي اول تقسيم ورسته بيا د هر قسم تعريف تر سره کيږي.

څانګه ۴: سوال: ددي عبارت «نظرا الى الظاهر» څه مطلب دی؟

جواب: دغه مفعول له لپاره ددي قول د شارح «اطلاق المشترک على معانيه» دي نو معني يې دا سوه چې فصاحت مشترک لفظي د خپلو اقسامو ترمينځ په اعتبار د ظاهر دی (ځکه دده د اقسامو ترمينځ اختلاف ډير زيات دي نو دغه اختلاف ته د کتنې په صورت کي فصاحت يو مشترک لفظي و بلل سو) نه د حقيقت او د واقع په اعتبار سره (ځکه د فصاحت د اقسامو حقيقت يو دي نه جلا جلا) او دغه ډول بلاغت هم مشترک لفظي په اعتبار د ظاهر دی (چې ددوی د اقسامو ترمينځ اختلاف ډير دی) نه په اعتبار د حقيقت او واقع (ځکه بلاغت يو مشترک معنوی د خپلو اقسامو ترمينځ دی، ځکه بلاغت عبارت د کلام د مقتضی الحال سره د موافق کېدني څخه دی).

سوال: ددي عبارت څخه د شارح «لايخفى تعذر تعريف» مقصد څه دی؟

جواب: دا دليل ددي خبرې دی چې مشترک لفظي لپاره يو داسي تعريف وجود نه لري کوم چې شامل و ټولو اقسامو ته ددغه مشترک لفظي وی، دمثال په توګه لفظ دعين مشترک لفظي د خپلو اقسامو (لمر، سره زر، کونې، سترګه) ترمينځ دي، نو اوس د عين يو داسي تعريف نه سي کېدای کوم چې دغه ټولو اقسامو ته د عين شامله وی.

فصح ان تفسير البلاغة: **سوال:** مصنف رحمه الله تعالى چې څه وخت فصاحت في المفرد و الكلام او دغه ډول بلاغت په کلام کي بيان کړي (خلوصه من تنافر الحروف...الخ، مطابقه لمقتضى الحال..)، نو بيا ده په شرح کي د ايضاح و فرمايل: دغه تعريفونه داسي دي چې د خلکو په عبارات کي شتون نه لري نو په دغه باندی د مصنف په ژوند کي دده د هم وخته علماؤ (خطيب د مصر او يا د يمن د طرف څخه) دا سوال وارد کړي چې دغه تعريفونه په خپله رأی سره دي، ځکه دوی د خلکو په کلام کي وجود نه لري او د تعريف په خپله رأی سره کونه صحت نه لري؟

جواب: دغه تعريف که څه هم صراحتاً په کلام کي د علماؤ شتون نه لري مګر دوی دوارو تعريفونه ددوی د کلام څخه ضمناً فهمول کېږي (دا ډول چې مصنف رحمه الله تعالى مخکي و فرمايل «قد علموا بالاستقراء ان الالفاظ الكثير الدور في ما بينهم هي التي تكون جارية على اللسان الخ» او دغه پرته د

Maktaba Tul Ishaat.com

فصاحت څخه بل څه نه دی. لهذا د مصنف قول سوی تعریف اپاره د فصاحت او یا "تمت لازم" او د علم و کې سوی تعریف ملزوم دي. او لازم د ملزوم څخه ضمناً فهمول کیږي. نو اوس تعریف بالرأی لازم نه سو.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱، ۲، ۳: خلاصه د دغه درو سرڅ حاشیو داده: شارح وویل چې د فصاحت تعریف په "خلوصه الخ" سره کول د تسامح څخه خالي نه دی. او دغه تسامح دوه وجوه څخه دی.

۱): فصاحت د "کون الکلمة جاریة الخ" څخه عبارت دی. او د "کون الکلمة "سره لازم "خلوصه من تنافر" دی. او "خلوص" په خپله نه "کون الخ" دی، او نه په هغه باندې صادقیږي. بلکه د "کون" سره لازم دی. لهذا حمل د خلوص پر فصاحت باندې "چې وویل سي الفصاحة الخلوص" صحی نه دی. په دغه وجه دغه تعریف باطل دی، ځکه کم تره درجه د تعریف داده چې دی به پر معرَف باندې صادقیږي. او کوم چې نه صادقیږي نو هغه تعریف باطل دی، که څه هم دا ډول وینا صحی ده "الفصیح الخالص". ځکه صدق د مشتقي په مشتقي باندې مستلزم صدق لږه د مبدأ په مبدأ باندې نه ده. (کذا قال سید زاهد فی شرحه علی ملا جلال، ۴۰) لکه ناطق او کاتب، او نطق او کتابت.

۲): فصاحت وجودي دی. ځکه دده معنې "کون الخ" دی. او "الخلوص" عدمي دی. ځکه دده معنې "عدم الامور المذکورة" مراده. او عدمي پرته د وجودي وی. لهذا حمل د وجودي پر عدمي باندې صحی نه دی.

سوال: تعریف د وجودي په عدمي سره صحی نه دی. ځکه په تعریف کې حمل پر معرَف باندې شرط وی. او دلته تعریف پر معرَف باندې حمل کیدای نه سي. ځکه دده وی دو څخه یو وجودي او هغه بل عدمي دی، نو شارح ته دا ډول وینا په کار وه چې دغه تعریف باطل دی، او دا ډول وینا نه وه په کار چې په دغه کې تسامح ترسره سوېده؟

جواب: دا دیباچو په وړاندی د یوه مباین تعریف په بل مباین سره هغه وخت صحی دی څه وخت چې دده وې ترمینځ تلازم وي. دلته علامه لپاره د قصد مبالغې ددې خبرې ادعاء کړیده چې فصاحت عین خلوص دی.

سوال: تعریف په مباین سره ممنوع دی. او ادعاء کول او د مبالغې قصد کول فائده نه رسوي؟

جواب: تعریف د یوه مباین په بل مباین سره په وړاندې د منطقیینو صحی نه دی مګر د ادیبانو په نیز خبره دغه ډول نه ده. بلکه دوی په تعریف کې په دې سره کفایت کوي چې تصور د معرف د تصور سره د معرف لازم دی. (کذا قال مولانا محمد علی فی شرحه ۳۶۳/ح ۱)

حاشیه نمبر ۴:

مراد د لغت څخه به صرف وي. ځکه کله کله پر صرف باندې د لغت اطلاق کیږي. او یا عبارت په محذوفاتو باندې حمل دی. اصل عبارت داډول دی "القیاس المستنبط من استقراء مفردات اللغة المذکورة فی علم الصرف" د مخالفت رجوع هغه قیاس ته کیږي کوم چې د استقراء څخه د هغه مفرداتو څخه د لغاتو مستنبط سوي وي چې هغه په صرف کې ذکر کیږي.

حاشیه نمبر ۵:

دلته شارح رحمه الله د حرف تشبیه ذکر کړي او د اسي یې وویل "کانهما حقیقتان مختلفتان". د دغه څخه دا معلومیږي چې فصاحة المفرد او فصاحة الکلام په اصل کې جلا جلا حقیقت لرونکي شیان نه دي بلکه دوی دواړو لپاره په اصل کې یو حقیقت وجود لري چې هغه د لفظ د اسي کېدنه ده چې دَی به په ژبه د هغه عربو جاري وی د کومو چې عربیت مضبوط وی او یا خالي والي د لفظ د هغه درو شیانو څخه کوم چې شارح رحمه الله ذکر کړي دي.

حاشیه نمبر ۶:

سوال: "و کذا کانت البلاغة الخ" پر چا عطف دی؟

جواب: دغه پر دې قول د شارح رحمه الله "کانت المخالفة راجعة" عطف دی.

سوال: فصاحت دوه قسمونه جوړ سوه. ۱: فصاحة المفرد. ۲: فصاحة الکلام. او د بلاغت یو قسم (بلاغة الکلام) و ګرزول سو. د دې څه وجه ده؟

جواب: د دې وجه داده چې فصاحة المفرد و یوه شي ته راجع دی او فصاحة الکلام بیا بل شي ته راجع دی. لهذا مرجع د فصاحة المفرد جلا د مرجع څخه د فصاحة الکلام ده نو په دغه وجه فصاحت المفرد او فصاحت الکلام داسي و ګرځېدل ګواکي دوی دواړه مختلف حقیقتونه دي. په دغه وجه فصاحة الکلام جلا او فصاحة المفرد جلا قسم و ګرزول سو. په خلاف د

Maktaba Tul Ishaat.com

بلاغة. د هغه د معناګانو مرجع یو شي دي په دغه وجه دده جلا جلا قسمونه و نه ګڼل سوي. بلکه یو وګڼل سو چې هغه بلاغة الکلام دی.

سوال: دده غه قول "کذا کانت البلاغة" تشبیه ددې قول سره "کانت المخالفة الخ" ورکول سوي. نو ځکه مشبه به فصاحت او مشبه بلاغة دی نو ددوی ترمینځ علاقه د تشبیه څه ده؟

جواب: علاقه د تشبیه داده چې څرنګه د فصاحة رجوع کیږي دغه ډول د بلاغت هم رجوع کیږي. البته ددوی ترمینځ فرق دومره ستره چې د فصاحة رجوع و مختلفو معناګانو ته کیږي (په مفرد کې و لغت او کلام کې و نحو ته الخ) او د بلاغة رجوع و یوه شي ته "کون الکلام علی وفق مقتضی الحال" کیږي. لهذا په دواړو کې رجوع ستره نو دغه علاقه د تشبیه ده.

سوال: دلته د "کذا" استعمال مناسب دی او که نه؟

جواب: دده غه نه استعمال ښکاره دی، ځکه دغه "لما کانت الخ" علت لپاره د "بادر اولأ الخ دی او په دغه علتیت کې (د "کانت البلاغة یقال عندهم الخ" لپاره د "بادر") "کذا" لره دخل نسته. په دغه وجه دده غه نه راوړل ښکاره ده.

حاشیه نمبر ۷:

مقصد د محشي ددې عبارت "فی تعریف واحد" بیانول دی. خلاصه ددې حاشیه داده: هغه شیان چې د هغو څخه هر یو مختلف حقیقت لري دوی لره یو داسي تعریف کول متعذر دی په کوم سره چې د هر یوه کامل حقیقت معلوم سي. او داسي تعریف متعذر نه دی ترکوم لاندی چې دغه مختلفة الحقائق شیان راسي. ځکه د مختلفة الانواع تعریف په جنس کېدای سي، لکه ووایل سي، الانسان و الحمار و الفرس حیوان. لهذا دغه هم تعریف من وجه دی او لاندی تر ده مختلف انواع دي مګر په دغه تعریف سره د هرې نوع کامل حقیقت نه پیژندل کیږي.

﴿فائده﴾: "فی تعریف واحد" دلته دوې ډلې دی.

۱): **شارح**: مراد د تعریف څخه تعریف دماهیتِ جنسي دی. او داهغه دی کوم چې و مختلفة الحقائق ته شامله وي. او قرینه پر دغه دده دغه عبارت " و لا یوجد قدر مشترک بینهما کالحیوان الخ" دی. (جلی ۹۴)

۲): چلپي و علامه دسوقي: مراد د تعريف څخه تعريف د ماهيت نوعي دی.دا هغه دی چي په ده سره د نوع د افرادُ کامل ماهيت معلومبږي. (چلبی ۹۴)،(دسوقی ۸۳،۸۴/ج۱)

حاشيه نمبر۸:

سوال: مورد دا خبره نه منو چي د فصاحت د درو اقسامو تر مينځ قدرِ مشترک نسته بلکه ددوی تر مينځ سته ځکه ددوی تر مينځ عرضيت وجود لری لکه څرنګه د ټولو اعيانو ترمينځ جسميت او جوهريت وجود لری؟

جواب: دلته مراد د قدرِ مشترک څخه معنوی قدرِ مشترک نه دی بلکه مشترک لفظي مراد دی، لهذا د فصاحت د درو اقسامو تر مينځ کوم داسي الفاظ نسته کوم چي ټولو ته شاملَ وی.

حاشيه نمبر۹:

سوال: "نظراً الي الظاهر" دغه ولي منصوبَ دی؟

جواب: دغه مفعول له لپاره ددې قول " لان اطلاق الفصاحة الخ" دی. نو معني ددې عبارت دا جوړيږی چي فصاحة المفرد و الکَلام سَکاره داسي معلوميږی لکه يو لفظ چي مشترک د څو معناګانو تر مينځ وی لکه لفظ د عين چي مشترک تر مينځ د څو معناګانو دی. او دغه لفظ د فصاحت داسي سَکاری لکه يو کلي متواطي چي حمل پر خپلو افرادو په مختلفو اوضاعُ سره کيږی.او سَکاره دامعلوميږی چي دفصاحة المفرد و الکلام تر مينځ کومَ داسي شي نسته چي هغه فصاحة المفرد و الکلام دواړه جمعَ کړي.

حاشيه نمبر۱۰:

سوال: د "هذا الوجه" څخه څه مراد دی؟

جواب: مراد دادی "د هر يوه يو داسي تعريف کول کوم چي مظبوط ، جامع او مانع وی".

حاشيه نمبر۱۱:

سوال: اعتراض کونکي څوک و؟

جواب: خطيب د مصر و.

سوال: دغه اعتراض ده څه وخت کړي و؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د مصنف رحمه الله په ژوند کې. بیا مصنف دا جواب ده ته ورکړي چې مراد زما د
الناس څخه هغه معهود مراد دي کوم چې شهرت ته رسیدلي ماهر علماء دي لکه علامه
سکاکي او عبدالقاهر الجرجاني.

عبارت

بعینه وجب نقدیم فصاحة المفرد فالفصاحة الکائنة فی المفرد خلوصه من تنافر
الحروف والغرابة ومخالفة القیاس اللغوی او المستعمل مع استقراء اللغة حتی لو وجد
فی الکلمة شیء من هذا القبیل نحو تکأکأتم تنئیا نکلین صحیحة فالتنافر وصف فی الکلمتین بحسب
ثقلها علی اللسان وعسر النطق بها فانه ما یوجب التنافی فیهما نحو الضخ للخاء المعجمة
فی قول الراجز وقبر حرب بمکان قفر فقال ترکها ترعی الضخ ومنه ما دون ذلک نحو
مستشزرات فی قول امرء القیس غدائره اي ذوائبه جمع غدیرة والضمیر عائد الی
الفرع فی البیت السابق مستشزرات ای مرتفعات ان روی بالکسر علی لفظ اسم الفاعل
او مرتفعة ان روی بالفتح استشزر بمعنی ارتفع استشزار تفعل یتعدی ولا یتعدی
الی العقل وتسامه تصل العقاص فی مفتی ومرسل تصل ای تغیب والعقاص
جمع عقیصة وهی الخصلة المجموعة من الشعر والمفتی المفتول والمرسل خلافه
المفتی بمعنی ذوات ثنایاه مبتدأ وخبر علی الرأس بشروط وان شعرا یقسم الی عقاص و
مفتی ومرسل والاول نحو الاخیرین والغرض بیان کثرة شعرها وزعم بعضهم ان نفی

ترجمه

څه وخت چې د بلاغت پیژندنه پر پیژندنې د فصاحت ددې وجې موقوفه وه چې دی په تعریف
کې د بلاغت اخیستل سوی دی، نو مخکې والې د فصاحت لازم سو. او بعینه ددغه وجې په خاطر
دلته فصاحت في المفرد هم مخکې سو. ﴿نو هغه فصاحت﴾ چې شتون په مفرد کې لري ﴿عبارت
ددې څخه دی چې دغه مفرد به د تنافر الحروف، غرابت او د مخالفة څخه دقیاس لغوی به خالي
وی﴾ یعني هغه قیاس چې په استقراء سره د لغت ثابتیږي. لهذا که چیرې په یوه کلمه کې یو
ددغه درو څخه وجود پیدا کړي نو هغه بیا فصیح نه سي کېدای، تنافر یو داسي وصف دی د کوم
په وجه سره درون والي د کلمه پر ژبه باندی راځي، او په دغه سره سخت والي د تلفظ د کلمه

لازمیږي. بعض ددغه تنافر څخه هغه دی چې ډیر زیات سخت والي پر ژبه باندې پیدا کوي. د مثال په توګه لکه مُعغع په دې قول کې د اعرابي څه وخت چې ددې څخه دده د اوښې په هکله سوال وسو نو ده ورته وویل: ما خپله اوښه په داسې حال کې پریښوله چې دې واښه خوړل. او بعض بیا ددغه څخه هغه قسم دی په کوم کې چې د اول قسم څخه کم درون والي او سخت والي وجود لري. لکه مستشزرات په دې قول کې د امرء القیس ﴿غدائر﴾ دعه د غدیرة جمع ده او ضمیر د "غدائره" وهغه فرع ته راجع دی کوم چې په مخکښې شعر کې ذکر سوی دی. ﴿لوړ سوي﴾ که چیرې په کسره سره د زاء په صیغه سره د اسم فاعل سي، او په معنې سره لوړ کړل سوی دی که چیرې په فتحه سره د زاء په صیغه سره د اسم مفعول سي. "استشزره" یعنې هغه یې پورته کړل. او "استشزر" یعنې لوړ سوه. دغه متعدی اوغیر متعدی دواړه ډول راځي. ﴿د لوړ والي و طرف ته﴾ او پوره شعر دادی: او پتیرې عقاص په ودل سوی او په غیر اودل سوی وینښتانو کښې. "تصل" په معنې سره د "تغیب" دی، او عقاص د عقیصة جمع ده. د ټرل سوی وینښتانو یوه حصه ده. " العثی" ودل سوو وینښتانو ته ویل کیږی، او مرسل و خلاصو وینښتانو ته ویل کیږی. یعنې ددې د مخ د خوا وینښتان په مینځ د سر په تارونو سره ټرل سوی دی. او ددې وینښتان و درو قسمو ته وېشل سوی دي. ۱: عقاص. ۲: مثنی. ۳: مرسل. او اول په پاته دوو کې پتیرې. او دلته د شاعر مقصد بیان د زیاتوالي د وینښتانو دی.

تشریح

سوال: تفسیر د فصاحت ولي پر تفسیر د بلاغت وړاندی کړي، او حال دا چې بلاغت تر فصاحت اولي دي، ځکه بلاغت مشتمل په دوو ښو صفتونو باندی وي. ۱: فصاحت. ۲: په خپله بلاغت. لهذا کوم لفظ چې بلیغ وی هغه به هرو مرو فصیح وی، او که چیرې فصیح وی نو بلیغ کېدنه یې ضروری نه ده. لهذا په دغه صورت کې یوازې یو ښه صفت چې فصاحت دی وجود و موندی؟

جواب: ځکه فصاحت موقوف علیه لپاره د بلاغت دی. بلاغت پرته د فصاحت وجود نه سي موندلای. او موقوف علیه مخکې تر موقوف وی نو په دغه وجه یې فصاحت مخکې تر بلاغت کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: فصاحت المفرد يې ولې تر فصاحة الكلام او فصاحة المتكلم مخكې کړې او حال د چې فصاحة الكلام اولې تر فصاحة المفرد دی، ځکه په کلام سره مخاطب ګټه لاس ته راوړای سي نه په مفرد سره؟

جواب: فصاحة المفرد موقوف عليه دی. ځکه دی په تعريف کې د فصاحة الكلام اخيستل سوی دی، او موقوف عليه مخکې تر موقوف وی.

سوال: فصاحة المفرد څه ته ويل کيږی؟

جواب: دده تعريف په درې قيودو باندی مشتمله دی. ۱: په ده کې به تنافر الحروف نه وی. ۲: د غرابت څخه به خالي وی. ۳: د قياس لغوی به مخالفه نه وی.

سوال: فصاحت المفرد يې ولې په دغه درو قيدو کې حصر کړې؟

جواب: ځکه د مفرد لپاره درې شيان وجود لري.

۱: **ماده:** دغه حروف د لفظ دي. او په دغه کې که چيری عيب پيدا سي نو دغه ته تنافر الحروف ويل کيږی.

۲: **صورت:** دغه صيغه د لفظ ده. او په دغه کې عيب و راتلو ته مخالفة القياس ويل کيږی.

۳: **دلالت پر معنې باندی:** په دغه کې خلل راتلو ته غرابت ويل کيږی.

سوال: قياس په لغت کې قدر او تقدير ته ويل کيږی يعنې د يو شي د بل شي سره ملحق کېدنه د وجې څخه د يو داسې علت کوم چې ددوی تر مينځ مشترک وی، لکه دغه خبره چې په علم الاصول کې بيانيږی. لهذا دغه اصولي قياس دی او دغه په فصاحت کې دخل نه لری ځکه فصاحت صفت د لفظ او دغه قياس صفت د معنې دی؟

جواب: دلته قياس اصولي مراد نه دی پلکه قياس صرفي مراد دی. او قياسي صرفي صفت لپاره د لفظ دی نه د معنې.

سوال: قياس ته لغوی ويل صحی نه دی، ځکه په لغوی کې يا، لپاره د نسبت ده يعنې هر هغه قياس چې نسبت يې و لغت ته کيږی. او حال دا چې د قياس نسبت و قياس کونکي او قانون جوړونکي ته کيږی، ځکه قياس يو قانون دی چې نسبت يې جوړونکي ته کيږی؟

جواب: دغه نسبت حقيقي نه دی بلکه نسبت د قياس و لغت ته د وجي څخه د لږ مناسبت سوی دی هغه دادی دی چي دغه قياس په استقراء سره د لغت ثابتيږی، په دغه وجه سره دغه قياس ته لغوی ويل کيږی.

سوال: قياس لغوی څه شي دی؟

جواب: هر هغه قياس کوم چي په تتبع سره د کلماتو لاس ته راځي. د مثال په توګه هر هغه واو متحرک چي مخکې يې نتحه وی نو دغه واو په الف سره بدليږی.

حتی نو وجد: **سوال:** مصنف په تعريف کي د فصاحت خالي والي د درو شيانو څخه شرط کړی دی نو دغه شرط ګونه به د قبيلې څخه د رفع د ايجاب کلي وی يعني څه وخت چي مجموعه د دغه درو په يوه کلمه کي وجود پيدا کړی نو هغه بيا فصيح نه وی او که چيری يو يا دوه د دوی څخه وجود پيدا کړی نو بيا به دغه کلمه فصيح وی، او حال دا چي خبره دغه دول نه ده؟

جواب: دلته سلب کلي مراد دی نه رفع د ايجاب کلي، يعني فصاحت في المفرد هغه دی چي خالي د دغه درو سره څخه وی که چيری دغه دول نه وی نو دغه بيا فصاحت في المفرد نه دی.

سوال: تنافر څه ته ويل کيږی؟

جواب: تنافر په کلمه کي ديو داسي وصف ته اکيدنه ده چي د هغه په وجه اداينه د کلمه په ژبه باندی ګران او دشواره سي.

سوال: د کلمه په هکله د ثقل استعمال صحت نه لری. ځکه ثقل وصف د هغه شيانو ګرزی کوم چي جسم لری او حال دا چي کلمه جسم نه لری؟

جواب: دلته ثقل په خپله اصلي معني باقي پاته نه دی بلکه دده معني داده: په کلمه سره تلفظ کونه په ژبه باندی مشکل کيدنه.

سوال: د تنافر څو قسمونه دي؟

جواب: ۱: اداينه دده په ژبه باندی ډير زيات سخت او ګران وی. لکه د يو اعرابي څخه پوښتنه و سوه چي تا د خپلي اوښی سره څه وکړه نو ده جواب ورکړي چي ما دا په داسي حال کي پورېښتول چي دې وابنه خوړل. اوس دلته هعخع (هغه تور وابنه) لفظ راغلي دی او د دغه مشکل والي و انتهاء ته رسېدلي دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲: ګران والي يې د اول قسم څخه کم وی د مثال په توګه مستشزرات چې په شعر کې د امرء القيس راغلي دي. پوره شعر داسې دی: وفرع يزين المتن أسود «يعني ويښتان چې ملا ښائسته کوي ډير تور دي »* فاحم أثيث كقنو النخلة المتعثكل « او د ډيرو ښاخو لرونکي د خورما د خوشې غوندې ډير دي »* غدائره مستشزرات إلى العلا«او کوم ويښتان چې په ملا باندې پراته دی د لورړوالي وطرف ته لوړ دي»* تضل العقاص في مثنى ومرسل«عقاص په مثنې او مرسل کې پټېدونکي دي» .(المعلقات العشر للقيس ج5 ص2)،(الجامع لاحكام القران - 11 ج9 ص172)،(تفسير الألوسي - الحل ج10 ص259)

﴿فائده﴾ :دلغاتو معناګاني: فرع:مطلق ويښتان.يزين:ښائسته کوی. المتن:ملا. اسود: تور. فاحم. ډير زيات د سکرو غوندې. اثيث:زيات.قنو:د خورما خوشه.المتعكل:ډير زيات ښاخو لرونکي. غدائر: دغديرة جمعه ده د ملا و طرف ته زړېدونکي ويښتان.ذوائب: د ذآئبة جمعه ده، بيا يې اوله همزه په جمعه کې(ذآئبة) په واو سره واړول نوذوائب ځني جوړ سو. او د ذوائب په تفسير کې څو قوله دي. ۱: صراح: هغه ويښتان چې د مخ و خوا ته پورېښول سوی وی.۲: اساس: هغه ويښتان چې د سر د سينګ څخه د شا وخوا ته پورېښول سوی وی. ۳: مهذب:مطلق ويښتان. لهذا د شارح پر تقدير (چې ضمير و فرع ته راجع دی) غدائر په دويمه يا درېيمه معنې سره مراد دی.مستشزرات: دغه کې دباب څخه د لازم سي نو بيا صيغه د فاعل په معنې سره د دې کيږي: لوړ پدونکي، او که دغه د متعدی بابه څخه سي نو دغه بيا د مفعول صيغه په دې معنې سره کيږي: لوړ کړل سوی.

(35) وفرع يزين المتن أسود فاحم أثيث كقنو النخلة المتعثكل الفرع : الشعر التام ، والجمع فروع ، ورجل أفرع وامرأة فرعاء . الفاحم : الشديد السواد ، مشتق من الفحم ، يقال . هو فاحم بين الفحومة . الأثيث : الكثير ، والأثاثة : الكثرة ، يقال . أث الشعر والنبت القنو يجمع على الأقناء والقنوان . العثكول والعثكال قد يكونان بمعنى القنو وقد يكونان بمعنى قطعة من القنو . (1) والنخلة المعثكلة : التي خرجت عثاكيلها أي قنوانها . يقول : وتبدي عن شعر طويل تام يزين ظهرها إذا أرسلته عليه ، ثم شبه ذؤابتها بقنو نخلة أخرجت قنوانها ، والذوائب تشبه بالعناقيد . والقنوان يراد به تجعدها وأنائها . (36) غدائره مستشزرات إلى العلا تضل العقاص في مثنى ومرسل الغدائر : جمع الغديرة : وهي الخصلة من الشعر ، الاستشزار : الارتفاع والرفع جميعا ، فيكون الفعل منه مرة لازما ومرة متعديا ، فمن روى مستشزرات بكسر الراي جعله من اللازم ، ومن روى بفتح الزاي جعله من المتعدي . العقيصة : الخصلة المجموعة من الشعر ، والجمع عقص وعقائص ، والفعل من الضلال والضلالة ضل يضل ويضل جميعا . . 1 القنو : من التمر كالعنقود من العنب.(شرح المعلقات السبع- للزوزني > شرح معلقة امرئ القيس۶۷)

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: ظرف دلالت پر معرفه کېدو "یعني چې ده متعلق معرفه دی نه نکره" د متعلق نه کوي. نو اوس دده متعلق معرفه" چې الکائنة دی چې په الف ولام سره معرفه دی" متقدره کول یو داسې شي دی چې پر ده باندې دلالت کونکي نسته. نو بیا د معرفه مقدره کول صحیح نه دی؟ او دغه ډول په دغه صورت کې متذف د موصول سره د بعضې صلې راځي؟ خکه دلته کائنة صرف ده اسم فاعل ده او پر اسم فاعل باندې داخل سوی الف لام موصولي وي، نو دغه الف لام موصول سره د بعضې صلې چې "کائنة" حذف نه یې راغلل) کوم چې صحت نه لري؟

جواب: دلته ظرف د مبتدا څخه په وړاندې د علامه سیبویه حال دی. کذا فی نظر الدی و بل العدی ،او دغه قول "الکائنة" نه تقدیر د لفظ او نه بیان د اعراب دی. بلکه په دې کې اشاره وه دې ته ده چې دلته حال په معنې سره د صفت دی. ځکه حال قید لپاره د عامل وي. او دغه عامل بیا عام تر دې لفظي او که معنوي وي. او تقید دغه شي کیږي چې دهغه شي احوال مختلفیږي. لکه په دې قول کې "جاء زید راکبا" مجیئت دی. او حال د فصاحت" چې دی په دې وصف سره موصوف وي چې دې په مفرد کې دی(کونها فی المفرد)"نه مختلفه کیږي. حتی چې بیا ئې تقید په یوه حال سره وسي نه په بل سره. (کذا قال محمد علی فی شرحه ۲۷۶/ج۱مع زیادتی) .

﴿فائده﴾: جار او مجرور خبر، صفت، صله او یا حال واقع کیږي. (الخیر الکامل ۱۷)، که چیرې ورسته تر معرفه واقع سي بیا دې حال وي. او که تر نکره محضه ورسته وي بیا دی صفت وي. او که ورسته تر نکره غیر محضه وي بیا په دې کې د دواړو احتمال وي. (کذا فی الصمدیة)

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: "من استقراء اللغة" څخه مراد څه دی؟

جواب: ددغه څخه مراد دادی چې هر هغه قیاس کوم چې په استقراء سره د مفرداتو د لغت تر لاسه سي، لهذا هر هغه قیاس چې د هغه منشأ د لغوي کلماتو تتبع وی یعني د لغوی کلماتو د تتبع څخه ورسته صرفیانو دا اصول وضع کړي چې هر واو او یاء چې متحرک او ما قبل یې مفتوح وي هغه په الف سره بدلیږی. اوس دغه واو او یاء په الف سره بدلونه قیاسِ صرفي دي کوم چې ورسته د لغوی کلماتو د تتبع څخه ورسته تر لاسه سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: په دغه قيد سره د چا څخه احتراز راغلي؟

جواب: په دغه سره احتراز د علم النحو څخه راغلي، ځکه علم النحو د مفرداتو د لغت د تتبع څخه نه تر لاسه کيږي، بلکه د مرکباتو څخه د لغت تر لاسه کيږي. او په علم اللغت کې د مرکباتو څخه بحث نه کيږي بلکه د مفرداتو څخه کيږي.

حاشيه نمبر ۱۴:

سوال: "همخع" څرنګه ويل کيږي؟

جواب: په دغه کې دري اقوال راغلي دي. ۱: هاء مکسور او خاء مفتوح "هِمْخَعْ". ۲: هاء مکسور، او خاء مکسور "هِمْخِعْ". ۳: هاء او خاء دواړه مضموم "هُمْخُعْ". (خصائص التراكيب" ص 31، 32) او دغه يو قسم تور وانښه دی.

سوال: د "همخع" مثل بل لفظ په لغت عربي کې وجود لري؟

جواب: که چيرې "هِمْخَعْ" وويل سي نو بيا دغه د "جِحْدَبْ" بر وزن "فِعْلَلْ" غوندی دی او دغه د اخفش په وړاندی ثابت دی. ۲: که چيرې په کسره سره د خاء سي "هِمْخَعْ" نو بيا په مثل دده کوم لفظ په عربي لغت کې وجود نه لري.

حاشيه نمبر ۱۵:

خلاصه ددغي قصه داده: امرء القيس د خپل ډ آ کا پر لور عاشق و. او امرء القيس ددې د يووازي موندلو انتظار کوي. څه وخت چې د عربو د کوچ کولو ورځې را ورسيدلې. نو امرء القيس هغه تالاب ته مخکې لاړ چې کوم چې په مخکې ددوی واقع و. او امرء القيس په کمين کې کښېناست. نو جنکې دغه تالاب ته راغلی. او ورته راکښته سوې. او د جامو د کښولو ورسته د لمبدلو لپاره و تالاب ته کښته سوې. او امرء القيس راپاسېدې او د دوی جامې ئې سره راټولې کړې. نو ده بيا ناره و کړه چې ستا سو څخه چې کوم يوه خپل کالي غواړي هغه دې را ووزي. نو دوی وده ته په راوتولو سره شروع وکړه، او ده ته به يوه يوه راتله، او ده به جامې ورکولې. او آخر کار ده د خپل آ کا لور په بر بند حالت کې وليده. او بيا جنکې ده ته راټولې سوې، او ده ته ئې د لوړې شکايت وکړې. اوده دوی ته خپله اوښه حلال کړه او ور کباب ئې کړه. او تر خورولو ورسته دغه جنکيانو د امرء القيس د آ کا د لور څخه التجاء وکړه چې دا دې

امرء القيس په خپل اوښه سپور کړي اودادي ئې ترشا سپره سي. اودې دغه ډول وکړه. اودې په اوښ سپور سو. او د سفر په حالت کي ده به هر ګړي ددې په کجاوه کي سر داخلوي او دا به ئې مچول. او دوي تلل جاري و ساتل. او دوی کلي ته په شپه کي داخل سول. (عقود الدرر ۱۷)

الله جل جلاله دیمورِ دد غه بې حیائي ځخه وژغوری. آمین

﴿فائده﴾ : امرء القيس اعجمي کس و. (ايضاح المطالب شرح الكافيه ۵۸/ح۸)

حاشیه نمبر ۱۶ :

غديرة: یو موټ دوینښتانو، اودلته پېکي دښځي مراد دی. ځکه د غه وینښتان هم هیله سوي او په دغه وخت کي غټ سوي وي.

حاشیه نمبر ۱۷ :

سوال: "عقاص" په صیغه سره د جمع، او "مثنّ" او "مرسل" په صیغه سره د مفرد راوړل سوه، دغه ولي؟

جواب: په دغه کي یوه باریکَ اشاره ترسره سوېده هغه دا چي عقاص کوم چي زیات وه بیا هم په یوه مثني او په یوه مرسل کي پټېده. لهذا په دغه کي شاعر د محبوبه د وینښتانو و زیاتوالي ته داډول اشاره کړېده چي یو واوری ددې دومره زیات وېښتان وه چي په درو حصو وېشل سوی وه یعني عقاص، مثني او مرسل، بیا دغه عقاص په دوی دو کي پټ سوی وه.

حاشیه نمبر ۱۸ :

الخصلة: پېچل سوي وېښتان. العقيقة: هغه غنچه د وینښتانو چي ښځه ئې تر پېچلو ورسته تر هغه وخت پرې وتړي چي ددوی پېچل والي پاته سي. او ورسته ئې بیا خلاص کړي.

صفحه نمبر ۱۸ :

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

التقل في مستشزرات هو نسط الشين المعجمة التي هي من المهموسة الرخوة بدل التاء
التي هي من المهموسة الشديدة والزاي المعجمة التي هي من المجهورة بدل السين المستشزرات
ازال ذلك التقل وهو مهموسان الراء المهملة ايضا من المجهورة فيجب ان يكون مستشزرات
ايضا مقابلا وبل مشأ التقل هو اجتماع هذا الحروف المخصوصة قال ابن الاثير ليس
التنافر بسبب تعدد الخارج وان الانتقال من احدها الى الاخر كالطفرة والاسبسة بها
وان الانتقال من احدها الى الاخر كالمشي في النعل لما نجد غير متنافر من القريب المخرج
كالجيم والشين في التنزيل الذي عهد ثم من البعيد ما هو بخلافه كسلع بخلاف علم وليس
ذلك بسبب ان الاخر خرج من الحلق الى الشفة ليسر مروره من الشفة الى الحلق لما
نجد من حسن غلب وبلغ وسجد وملح بل لهذا المرد وفي كهل ماعد والذوق الصحيح قليلا
المتعب النظر فهو مما لم يسلم امكان من قرب الخارج او بعدها وغير ذلك ولهذا
اكتفى المصنف بالتقيل ولم يتعرض للتحقيقهم وبيان سببه اتعدد ضبط الاداء ان
يحال الى سلامة الذوق وقد سبق الى بعض الاوهام ان اجتماع الحروف المتقاربة المخرج
سبب التقل المخل بفصاحة الكلمة وانه لا يخرج الكلام المشتمل على كلمة نوع فصيحة
عن الفصاحة كما لا يخرج الكلام المشتمل على كلمة غير عربية عن كونه عربيا فلا
يخرج سورة فيها الملتزم عن الفصاحة فاورد عليه بعضهم بان انتفاء وصف
الجزء كفصاحة الكلمة مثلا لا يوجب انتفاء الكل وهذا غلط فاحش لان فصاحة
الكلام ايخرج في تعريف فصاحة الكلام فكيف لا يخرج الكلام المشتمل على كلمة
غير فصيحة عن الفصاحة وفصاحة الكلمات جزء من مفهوم فصاحة الكلام لا وصف
لجزئها والقياس على وقوع مفرد غير عربي في الكلام العربي فاسد لانهم ولن سلم
فالمعنى انه عربي النظم والاسلوب ولن سلم فباعتبار الاعم الاغلب لم يشترط في
الكلام العربي ان يكون كل كلمة منه عربية كما اشترط في فصاحة الكلام بان
يكون كل كلمة منه فصيحة فاين هذا من ذاك وعلى تقدير تسليمه لا يخرج
السورة عن الفصاحة لانه يلزم كونها مشتملة على كلام غير فصيح والقول
باشتمال القران على كلام غير فصيح بل كلمة غير فصيحة مما يفضي الى نسبة
الجهل او العجز الى الله تعالى عما يقول الظالمون علوا كبيرا والتقريب كون

او بعضو ددې خبرې سوچ وهلې دي چې په مستشرقاتو کې د نقل منشأ او سبب راڅرګند شي
معجمه "کوم چې د مهموسه رخوه څخه دی"په مینځ کې د هغې نا کومه چې د مهموسه
شدیده څخه ده او د هغې زا.معجمه کې کوم چې د مهجوره څخه ده.که چیرې شاته مستشرق
ویلې وای نو بیا به دغه ثقل ختم سوی وای. او دغه خبره سمیعون کیدن.دد څخه راهیسې هم د
مهجورو څخه دد.نو بیا د "مستشرف" متنافر کیدنه هم واخیستې. بلکه د ثقل منشأ دغه
محصوصو حروفو یو ځای کیدنه ده. او این اثیر ویلې دي چې تنافر دوه ځایه څخه د بعد. مخارجو
نه وی.او د یوه څخه د مخارجو نقل کیدنه د یل و طرف ته داسې ده لکه، توپ وهنه. او نه د قرب
مخارج د وجې څخه وی، او انتقال د یوه مخرج څخه و بل ته داسې دی لکه په زولنو کې تګ.
ځکه مور د قریب المخارج حروفو څخه "جیش او " شجې" غیر متنافر مونږو، او دغه ډول په قرآن
کې لکه«الم اعهد».او دغه ډول بعید المخارج حروف څخه هغه دي کوم چې متنافر دي دمثال په
توګه "لمع".په خلاف د "علم" «کوم چې فصیح دی». او د "لمع متنافر او د علم فصیح کیدنه» په
دې وجه سره نه ده چې د ستوني څخه د شونډانو و طرف ته آواز راهیسته آسانه ده. او د شونډ
انو د طرف څخه د حلق و طرف ته د آواز نښیستل ګران دی. ځکه مور "غلب، بلغ، حلم" او "ملح" په
حسن کې برابر پیدا کوو. بلکه تنافر د یو کلمې دغه یو ذوقي کار دی. لهذا کوم چې ذوق سلیم
درونه او تلفظ کونه په ده سره ثقیل و موندي نو هغه به متنافر وی، ع م تردې د هغه مرکب
کیدنه د قریب المخارج حروفو څخه وی، او که د بعید المخارج حروفو څخه وی. او یا د کومې
بلې وجې څخه وی.په دغه وجه سره مصنف محض مثال د تنافر وړاندی کړي. او مصنف و
تحقیق ته د تنافر او بیان ته د سبب تعرض او وړاندی والي نه وکړي. لهذا غوره کار دادی چې دغه
خبره و ذوق سلیم ته حواله سي. او د بعضو اوهامو و طرف ته دا خبره وړاندی سوې ده چې د قرب
المخارج حروف یو ځای کیدنه د هغه ثقل سبب دی کوم چې فصاحت لره د کلمې خلل رسوی. او
فصیح کلام دوجې څخه د مشتمل والي په یوه غیر فصیح کلمه باندی د فصاحت څخه نه وزی.
لکه څرنګه هغه کلام عربي د عربیت څخه نه وزی کوم چې په کلمه غیر عربي باندی مشتمله
وی. نو هغه سورت کوم چې هغه په "الم اعهد" باندی مشتمله دی د فصاحت څخه نه وزی. او
بعضوبیا ددغې خبرې د تائید لپاره ویلې دي چې وصف دجزء په منتفي والي سره" د مثال په
توګه فصاحت د کلمه" انتفاء د کل نه راځي. او دغه یوه غټه غلطي ده، ځکه د کلماتو فصاحت د
کلام په فصاحت کې اخیستل سوی دی. نو اوس به ولې هغه کلام د فصاحت څخه نه وزی کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

چې په غير فصيح کلمه باندی مشتمله وی. او د کلماتو فصاحت د کلام د فصاحت د مفهوم څخه پو حزء دی، او لپاره د وصف د فصاحت جزء نه دی. او دغه په هغه کلام عربي باندی چې دده يو جزء کلمه غير عربي واقع سوې وی باندی قياس کونه غلطه ده، او دا خبره چې په کلام عربي «قرآن» کې کلمه غير عربي واقع سوېده د تسليم وړ نه ده، او که چيرې دغه خبره هم و منل سي «چې په قرآن کې کلمه غير عربي واقع سوېده» نو بيا معنې «ددې خبرې چې قرآن عربي دي» داده چې قرآن عربي النظم او اسلوب دی « نه عربي المفردات او کلمات». او که دغه هم و منل سي «چې قرآن عربي المفردات دي» نو دغه بيا په اعتبار داعم دی « څکه د قرآن اکثره کلماتي عربي دي ». او د کلام عربي دا شرط نه وی چې هره کلمه به دده عربي وي. لکه دغه خبره په فصاحت کې د کلام شرط ده چې هره کلمه به دده فصيح وی. نو بيا به څرنګه دا خبره تر سره سي چې کلام فصيح مقابل او برابر د کلام عربي دي. او که چيرې مور دغه بيا هم و منو چې د يوې کلمه غير فصيح په وجه سره سورت د فصاحتَ څخه نه خارجيږي مګر ددغه څخه دا خبره لازميږي چې سورت به په کلامي غير فصيح باندی به مشتمله سي. او دا وينا کونه چې قرآن په غير فصيح کلام بلکه په غير فصيح کلمه باندی مشتمله دی ددغه څخه نسبت د جهل او يا د عجز و الله جل جلاله ته لازميږي، او الله جل جلاله د هغه څخه چې ظالمان يې وينا کوي ډير زيات لوړ دي.

تشريح

دلته حو شيان د بيان وړ دي.

اول: دمستشزرات د متنافر کېدني وجه: په دغه کې اختلاف دی.

علامه خلخالي فرمايي په شين کې دوه صفتَ وجود لري. ۱: **همس:** د حرف په ضعيفه آواز سره ادا کېدنه. ۲: **رخاوت:** د حرف په داسې کمزور آواز سره ادا کېدنه چې هغه آواز په مخرج کې بند نه سي. لهذا دده مخکې تاء وجود لری او دغه د مهموسه شديده څخه ده، او دده بل طرف ته زاء واقع سوېده، او دغه د مهجورو څخه ده، لهذا په مستشزرات کې متضاد صفات (همس، جهر، شدت، رخاوت) يو ځای سوی دي او د دغه متضادو صفاتو په مستشزرات کې د يو ځای کېدني څخه ثقل پيدا سو، په دغه وجه مستشزرات کلمه متنافره ده. او دی فرمايي که چيرې شاعر د مستشزرات په ځای مستشرفات ويلي وای نو بيا به دغه ثقل نه وای د کوم په وجه تنافر وجود و موندی.

محاسبه: دغه قول د خلخالي ضعيف دی، ځکه لکه څرنګه زاء، د حروفو مهجورو څخه ده دغه ډول راء هم ده. لهذا کوم صفتونه چې په مستشزرات کې سره یو ځای سوی دي هغه په مستشرفات کې هم سته. لهذا د دغه متضاد صفاتو د یو ځای کېدني د وجې څخه لکه څرنګه مستشزرات متنافر دی نو د دغه صفاتو د وجې مستشرفات هم متنافر دی. او حال دا چې مستشرفات متنافر نه دی، نو د دغه څخه دا معلومه سوه چې د تنافر سبب هغه څه نه دی کوم چې ده بیان کړي.

امام زوزني فرمايي چې د قرب المخارج حروفو یو ځای کېدنه موجب د ثقل او سبب د تنافر د کلمه دی.

سوال: ستا د قول موافق قرآن به د خپلو ټولو اجزاؤ په اعتبار سره فصیح پاته نه سي، ځکه په قرآن کې "الم اعهد" راغلي دي، او دغه په داسي حروفو باندی مشتمله دی کوم چې د قریب المخارج حروفو څخه دی، د مثال په توګه د همزء او د هاء مخرج یو دي کوم چې اقصی د حلق دی. او د عین مخرج وسط حلق دی. په دغه وجه سره په "اعهد" کې ثقل پیدا سو نو اعهد کلمه غیر فصیح سوه. نو اوس د قرآن هغه سورت چې په کوم کې دغه کلمه شتون لری هغه سورت غیر فصیح سو. او حال دا چې دغه خبره د سره باطله ده؟

جواب: که چیری یو اوږد کلام په یوه غیر فصیح کلمه باندی مشتمله وی نو هغه اوږد کلام د فصاحت څخه د دغه کلمه غیر فصیح په وجه نه اوزی. لکه یو اوږد عربي کلام په یو غیر عربي کلمه باندی مشتمله وی نو په دغه سره دغه اوږد عربي کلام د عربیت څخه نه وځي. لکه قرآن چې فرمايي: إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (یوسف:2) یعني موږ قرآن په عربي ژبه سره را نازل کړي دي او حال دا چې په قرآن کې غیر عربي الفاظ د مثال په توګه قسطاس «ترازو» سجل «رجستر، کتابچه» مشکوة «طاقچه» او دغه ډول نور. نو اوس په دغه کلماتو غیر عربي سره قرآن د عربیت څخه نه دی وتلي.

و ایده بعضهم: سوال: مقصد په دغه قول سره څه دي؟

جواب: مقصد په دغه قول سره دهغه قول نقل کونه ده کوم چې د تائید لپاره د علامه زوزني وړاندی سوی دی. خلاصه یې داده چې فصاحت د کلام په عدمي فصاحت سره د یو کلمې نه فوتیږی ځکه هر هغه وصف چې د کل (کلام) او د جزء (کلمه) تر مینځ مشترک وی نو که چیری

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه وصف د دغه جزء څخه منتفي سي نو بيا لازمه نه ده چې دغه وصف به د کل څخه هم منتفي کيږي. د مثال په توګه يو کس حرکت کوي او دی لاس هم په تګ کې خوزوی. نو اوس دغه حرکت د کل چې انسان دی، او د جزء چې لاس دده دی سره مشترک دی. اوس که چيرې دغه متحرک کس د حرکت په وخت کې دده لاس سترې سي نو بيا يې دی خوزول بند کړي. مګر تګ نه پرېږدي. نو اوس دلته د جزء (لاس) د وصف (حرکت) په انتفاء سره د کل د وصف (حرکت) انتفاء نه راغلل. دغه ډول فصاحت يو داسې وصف دی کوم چې د کل (کلام) او د جزء (کلمه) تر مينځ مشترک دی نو د جزء د وصف په انتفاء سره د کل د وصف (فصاحت) انتفاء نه رائي.

محاسبه: دده قول هم د اعتبار وړ نه دی ځکه دلته ده دوې دعوې کړې دي.

اول دعوی: اوږد فصيح کلام په غير فصيحه کلمې په وجه د فصاحت څخه نه وځي.

بطلان ددغې دعوې: دغه دعوی باطله ده، ځکه په تعريف کې د فصاحت د کلام فصاحت د کلماتو معتبر دی. او د مفهوم څخه د فصاحت د کلام فصاحت د کلماتو جزء دی. لهذا د فصيح کلام لپاره دا شرط دی چې دده به هره هره کلمه فصيح وی عام تردې هغه طويل اوکه نه وی. لهذا که چيرې يو کلام فصيح په غير فصيح کلمه باندې مشتمله سي نو دغه بيا غير فصيح کلام ګرزی، ځکه په انتفاء سره د جزء انتفاء د کل رائي.

دويمه دعوی: کلام فصيح يې په کلام عربي باندې قياس کړی دي (يعني کلام فصيح سره د اشتمال په غير فصيح کلمه باندې داسې دی لکه کلام عربي پر غير عربي کلمه باندې مشتمل والي. لهذا لکه څرنګه په غير عربيت سره عربيت د کلام نه ختميږي دغه ډول حال د فصاحت د کلام دی)

د بطلان اوله وجه: کلام فصيح په کلام عربي باندې قياسونه قياس مع الفارق دی، ځکه په کلام فصيح کې دا شرط دی چې دده به هره کلمه فصيحه وی مګر د کلام عربي لپاره دا شرط نه دی چې دده به هره کلمه عربي وی. بلکه د اکثرو کلماتو عربيت کفايت کوی. لهذا د کلام عربي او د کلامي فصيح تر مينځ فرق وجود لری په دغه وجه قياسونه قياس مع الفارق دی کوم چې باطل دی.

﴿فائده﴾: بيان د رد په هغه چا باندې چې هغه خپل قول لپاره د تائيد د کلام زوزني ډراندی کړی وو: په فصاحت کې د کلام فصاحت د کلماتو په حيث د جزء معتبر دی نه په حيث د يو وصف (که چيرې

په حیث د وصف معتبر وای نو بیا به په انتفاء د فصاحت د کلماتو انتفاء د فصاحت د کلام نه راتلای). لهذا دغه خبره هلته صحت درلود ی که چیرې اعتبار د فصاحت په حیثیت د وصف وای نه د جزئیت.

والقیاس علی وقوع مفرد غیر عربي: **سوال**: متصدد دغه کلام څه دی؟

جواب: علامه زوزني خپله دویمه دعوی په مقیس او مقیس علیه باندی مشتمله کړولې وه.

۱: **مقیس**: کلام فصیح په کلمه غیر فصیحه د مشتمل والي په صورت کې دغه فصاحت د کلام منتفي نه ګرزی.

۲: **مقیس علیه**: کلام عربي په غیر عربي کلمه باندی د مشتمل والي په وجه د عربیت څخه نه خارجیږی. نو مقصد د شارح رد په مقیس علیه باندی دی. خلاصه د رد داده چې موږ نه منو چې قرآن په غیر عربي کلماتو باندی مشتمل دی ځکه کوم الفاظ چې دوی یې غیر عربي او په قرآن کې واقع بولي هغه داسي الفاظ دي کوم چې د کلام عربي او غیر عربي تر مینځ مشترک دي. لهذا د دوی وقوع په قرآن کې په حیث د عربیت ده نه د عجمیت.

و لو سلم فالمعنی انه عربي النظم: او که چیرې دا هم و منو چې په کلام عربي کې غیر عربي الفاظ واقع سوی دي بیا هم مطلب دا نه دی لکه زوزني چې فرمایي: کلام طویل عربي په غیر عربي سره د عربیت څخه نه وځي بلکه وجه یې داده چې د قرآن د عربي کېدنې مطلب دادی چې اسلوب (طریقې) او نظم یې عربي دی نه دا چې الفاظ یې عربي دي (لکه زوزني چې متصوره کړیده). او په دې کې شک نسته چې کوم غیر عربي الفاظ په قرآن کې واقع سوی دي هغه ټول په طریقه او اسلوب د عربیت واقع سوی دي.

و لو سلم فباعتبار الاعم الاغلب: او که چیرې موږ دا هم و منو چې قرآن عربي په اعتبار د الفاظو او مفرداتو دي نو بیا ددې مطلب دادي چې اکثر مفردات دده عربي دي نه ټول. او دا خبره روا ده چې کل په هغه صفت سره موصوفه سي کوم چې وصف دده د اکثرو اجزاؤ وي.

و علی تقدیر تسلیم انه لا یخرج السورة عن الفصاحة: **دوم جواب**: که چیرې موږ دا خبره و منو چې کلام فصیح که چیرې په غیر فصیح الفاظو مشتمل وی نو په دغه سره دغه فصیح کلام د فصاحت څخه نه وزي مګر دلته یوه بله خرابي پیښیږی هغه داده چې په قرآن کې به غیر فصیح کلمه وجود پیدا کړي نو اوس به دغه کلمه ددو حالو خالي نه وی الله جل جلاله به په دغه خبر اوي او یا به نه وي، که چیرې نه وو نو جهالت د الله جل جلاله العیاذ بالله لازم سو او دغه باطل

Maktaba Tul Ishaat.com

او کفر دی. او که چیری په خبر وو، مگر په دې سره خبر نه وو چې فصیح په غیر فصیح باندې اولویت لري، نو بیا جهالت لازم سو، او که چیری په دغه سره هم خبر وو، مگر د غیر فصیح په ځای باندې د فصیح په راوړلو باندې قدرت نه درلودی، نو په دغه صورت کې عجز الهي راغلي او دغه هم باطل دی. نو په کلام فصیح کې د غیر فصیح راوړنه هم باطله ده. لهذا دا ثابته سوه چې کلام فصیح تولې کلماتې به فصیح وی.

ابن اثیر: ده په خپل کتاب مثل السائر کې دا خبره کړېده چې ذوق سلیم چې په کومې کلمې سره تلفظ ثقیله او ګرانه و شمېرې هغه به متنافره وی عام تردې دغه ثقالت دداسې حروفو د یوځای والي څخه سوی وی د کومو مخارج قریب قریب وی، او که د داسې حروفو د یو ځای والي څخه سوی وی د کومو مخارج چې بعید وي. یا ددې نه سېوا د کومې بل علت په وجه سره سوی وی.

مذهبي مختار: دغه د ابن اثیر خبره د مصنف مختاره ده.

﴿فائده﴾: ذوق: هر هغه قوت چې په هغه سره د کلام د لطائفو او ددې د تحسین د وجوه ادراک کیږی.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

ذوائب: دغه د ذؤابة جمع ده، د تندی وېښتان. او په قاموس کې یې ویلي دی چې ذوائبة د تندی وېښتان او یا د دغه وېښتانو د شنکېدو ځای ته ویل کیږی. او ددغه جمعَ ذوائب راځي. او دلته شاعر دغه په لفظ سره د جمعَ راوړی دی او ډیر والي ته د وېښتانو د محبوبه اشاره ده. ځکه شاعر غدائر ویلي دی، او دغه جمعَ د غدیرة ده، او غدیرة و یو موټ ته د وېښتانو ویل کیږی. او ددغه په جمعَ کې یې اشاره ودې ته وکړه چې دغه وېښتان ډېر موټان وه. او محبوبه د شاعر دوی پر سر داډول ترلي وه چې دوی لوړ پورته سوی وه نو دې دغه وېښتان د هغو وېښتانو سره ترلي وه او داسې ښکاره کېده لکه انار (اول شکل). او یائې دغه وېښتان د شا و خوا ته اړولي وه، او د شا د وېښتانو سره یې یو ځای کولو ورسته یې ودلي وه. (دوم شکل)

اول شکل

دوم شکل

ذُؤابة: (اسم) الجمع : ذؤابات و ذوائب الذُّؤابة من كل شيء : اعلاه فلانٌ ذُؤابة قومه . شريف هم والمقدَّم فيهم الذُّؤابة : طرفه الذُّؤابةُ : شعر مقدَّم الرأس قُطعت ذُؤابتُهُ : أزيل عن رأيه الذُّؤابة من السيف : عِلاقةُ قائمه والجمع : ذوائب ذؤابة القناة : صغيرة مُستدِلة من وسط رأسها إلى ظهرها.///ناصية. [ی] (ع ا) موی پیشانی . (غیاث اللغات) (ترجمان علامه جرجانی) (مهذب الاسماء) (معجم متن اللغة) (منتهی الارب) (آنندراج) (ناظم الاطباء). موی بلند حصه مقدم سر. (فرهنگ نظام). ناصاة. (مهذب الاسماء). قصاص الشعر فی مقدم الراس . (معجم متن اللغة). موی پیش سر که بشک نیز گویند. (ناظم الاطباء)

حاشیه نمبر۲ :

سوال: د شاعر ددې قول "الاول تغیب" څه معنې ده؟

جواب: ددې معنې داده که چیرې دې دغه ذوائب پورته کړې نه وای نو عقاص به په دوی کې ورک سوی وای او هغه حسن چې په عقاص تر لاسه سوی وو هغه به فوت سوی وای. او عقیصة هغه وېښتان دی کوم چې د بارخو څخه بیا ترغوږو پورې پر دغه ځای راشنه سوی وی یعنې د سر د بغل د خوا وېښتان. لهذا د سر وېښتان دري ډوله دی. ۱: عقیصة: هغه وېښتان چې د بارخو څخه بیا ترغوږو پورې وی او دغه وېښتان و نیمائي ته د سر پورته سوی وی او یا د شا و خوا ته اړول سوی وی. ۲: مثني: د شا وېښتان ، ورستني وېښتان (مؤخر الرأس). ۳: مرسل: ذوائب ، د تندی وېښتان، د مخ د خوا وېښتان. او څلورم قسم د وېښتانو عادتاً واقع نه دی.

عَقیصة: (اسم) الجمع : عَقائصُ و عِقاصٌ العَقیصةُ : عِقْصة ، خُصلةٌ من الشَّعر مُضَفَّرة باستدارة على الرَّأس او في القفا ، صغيرة ، جديلة./// عقاص . [ع] (ع ا) رشته که بدان گیسو بندند. (منتهی الارب). نخی که بوسیله آن اطراف دوخ ابه را بندند. ج ، عُقُص . (از اقرب الموارد). موی بند. (ملخص اللغات حسن خطیب کرمانی). جل گیس . گیسوبند. گیس باف . ا ا «دوارة» و شکنبه که در شکم گوسپند است . (از اقرب الموارد). ا ا ج عَقیصة. (منتهی الارب) (از اقرب الموارد). ا ا ج عَقصة. (اقرب الموارد)

حاشیه نمبر۳ :

په دې حاشیه کې څو تحقیقه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اول: بیان د لغوي معناګانو: مهموسه: دغه لفظ دمخموسة څخه اخیستل سوي دی. او همس وخفاء ته ویل کیږي. **مجهورة:** دغه دجهر څخه اخیستل سوي دی. او جهر اظهر ته ویل کیږي. **شديدة:** شدت ته ویل کیږي. **رخوة:** نرم ته ویل کیږي.

دوم: بیان د تعریف: مهموسة: هغه حرفونه چې اعتماد دژبې ددوي په مخارجو ضعیف وي. او ددوی دادا کولو په وخت کې ساه "تنفس" نه قطع کیږي. بلکه په دوی سره دتلفظ کولو په وخت کې جاري والي د ساه "تنفس" ممکن وي.

مجهورة: هغه حرفونه چې ددوی په مخارجو باندې اعتماد قوي وي. او دوی پرته دقوي ساه نه ادا کیږي. او په دوی سره د تلفظ په وخت کې ساه بنده سي.

شديدة: هغه حرفونه چې څه وخت دوی ساکن وي په دغه وخت کې ددوی د ادا کولو په وخت کې آواز ددوي په مخارجو کې حصر کیږي.

رخوة: هغه حرفونه چې څه وخت دوی ساکن وي په دغه وخت کې ددوی د ادا کولو په وخت کې آواز ددوي په مخارجو کې نه حصر کیږي. (البیضاوی ۱۱،۱۲/ح ۱،۱۶)، (شروح التلخیص ۸۰/ح ۱)، (حاشیه عبد الحکیم علی البیضاوی ۹۶)

دریم: بیان د فرق: د شدید او مهجور حرفونو ترمینځ فرق دادی: د شدید حرفونو د ادا کونې په مهال د آواز جریان وي. او په مهجورو کې عدم جریان د ساه وي. او فرق ترمینځ د **رخوو** او د **مهموسو** دادي: په مهموسو کې د ساه جاري والي وي. او په رخوو کې کله ساه او کله بیا آواز جاري وي. (البیضاوی ۱۳/ح ۲)

حاشیه نمبر ۴:

ددغې حاشیه حل په تفصیل کې د حاشیه نمبر ۲ او دوم کې تېر سو.

حاشیه نمبر ۵:

خلاصه د حاشیه داده که چیرې خلخالي دغه عبارت "لو قال مستشرف" نه وای ویلای نو بیا د شارح اعتراض په ده باندې نه واریدې. مګر اوس په ده باندې دغه اعتراض د لرې تغیر سره (د وجې د نه ویناد دغه عبارت) واردیږي. هغه اعتراض دا دی چې د شین را تلل ترمینځ د مهموسو شدیدو او د مهجورو حرفونو که چیرې سبب د تنافر سي نو بائد مستشرف هم متنافر سي. که

چيري مستشرف متنافر نه وي سوبيا د شين ترمينځ راتلل هم د تنافر سبب نه دی.لهذا دلته مستشرف هم متنافر نه دی.

حاشیه نمبر ۶:

سوال: د شارح رحمه الله دغه قول "البعده" صحت نه لری، ځکه "بعد" مضاف و ضمیر ته د "هـ" دی. او دا خبره منل سوبده چې پر مضاف باندی الف لام نه داخلیږی، او حال دا چې دلته داخل سوی دی نو دغه صحت نه لری؟

جواب: دغه خبره د اضافت معنوی په هکله ده چې پر مضاف باندی الف لام نه داخلیږی په خلاف د اضافت لفظي په هغه کي الف لام پر مضاف باندی داخلېدلای سي. نو دلته هم اضافت د "بعد" و ضمیر ته دغه اضافت لفظي دی په دغه وجه دغه د الف لام داخلونه پر مضاف باندی صحی ده.

سوال: "و من البعيده" کې "واو" لپاره د عطف دی نو دغه قول پر چا عطف دی؟

جواب: دغه عطف پر دې قول د شارح رحمه الله "من القريب المخرج" دی.

سوال: "ما هو بخلافه" پر چا عطف دی؟

جواب: دغه پر دې قول د شارح "غير متنافر" عطف دی.

سوال: دغه عطف د کوم قبیلې څخه دی او حال دا چې په دواړو معطوفاتُ کي یو حرفِ عطف راوړل سوی دی؟

جواب: دغه عطف د یوه عامل (نجد) پر دو معمولینو (۱: غير متنافر. ۲: من القريب المخارج) باندی د دو معولینو (۱: ما هو بخلافه. ۲: من البعيده) دی، ځکه "غیر متنافر" مفعول لپاره د "نجد" دی او "من القريب المخارج" هم متعلق د "نجد" دی. البته معطوف د معطوف علیه غوندی نه دی ځکه په معطوف علیه کي (غير متنافر من القريب المخارج) جار او مجرور (من القريب المخارج) ورسته دی. او په معطوف کي بیاجار و مجرور (من البعيده) مخکي دی ، لهذا معطوف پر طریقه د سابق (معطوف علیه) نه دی.

سوال: آیا دغه ډول عطف په عربي کلام کي شائع دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: هو، دغه شائع دی لکه ویل کیږی "رأیت زیداً في المسجد و في السوق عمراً" دلته زید او هم "في المسجد" معمولین لپاره د "رایت" دی، او په معطوف علیه کې مجرور ورسته او په معطوف کې مخکې دی

سوال: په دې قول کې د شارح رحمه الله "بخلافه" ضمیر د "هـ" و چا ته راجع دی؟

جواب: مرجع د دغه ضمیر "غیر متنافر" دی، معنې دا جوړیږی "په خلاف د غیرِ متنافر".

سوال: پر دغه خبره چې مرجع "غیر متنافر" دی کوم دلیل وجود لری؟

جواب: دلیل "لمع" دی، ځکه دغه مثال لپاره د "بخلافه" دی، او حال دا چې دغه "لمع" متنافر دی نو د دغه ځخه دا معلومیږی چې "بخلافه" ځخه هم متنافر مراد دی. او دغه هلته کیږی چې ضمیر د "هـ" راجع و "غیر متنافر" ته سي، ځکه معنې به دا جوړ سي "ځکه موږ د بعید المخارج حروفُ یو ځای والي د الفاظو ځخه په خلاف د غیرِ متنافر موندو. او د غیرِ متنافر خلاف متنافر دی نو د قول خلاصه داسوه" موږ د بعید المخارج ځخه متنافر الفاظ پیدا کوو لکه "لمغ".

سوال: دغه قول د شارح "لما نجد من البعیده بخلافه" دلیل د چا لپاره دی؟

جواب: دلته د علامه ابن الاثیر مدعیٰ پر دوو حصوو مشتملَ وه. ۱: تنافر په سبب د بعد المخارجُ حروفو نه دی. ۲: تنافر په سبب د قریب المخارجُ حروفوپه یو ځای والي سره نه دی. نو دغه دلیل لپاره د دوم جزء د مدعي دی. لهذا پر دغه دوم جزء د مدعي دوه دلائل شارح رحمه الله وړاندی کړل. ۱: "لما نجد غیر متنافر من من القریب المخرج". ۲: "من البعیده ما هو بخلافه".

سوال: د مدعي پر اولني جزء (بعید المخارج سبب لپاره د تنافر نه دی) دلیل څه دی؟

جواب: دشارح رحمه الله دا قول "بخلاف علم" دی، ځکه په "علم" کې بعید المخارج حروف یو ځای سوی دی مګر د دغه سره سره دغه لفظ فصیح دی. لهذا که چیرې بعید المخارج سبب لپاره د تنافر وای نو بیا به "علم" فصیح نه وای. او حال دا چې دغه فصیح دی نو د دغه ځخه دا معلومَ سوه چې د بعید المخارج د حروف یو ځای والي سبب لپاره د تنافر نه دی.

حاشیه نمبر ۷:

دغه حاشیه پر دې قول د شارح "بلغ و حلم و ملح" ده، خلاصه د حاشیه داده چې شفوی حرف ځخه بیا و حلقي حرف ته تلل سخت دی، مګر دغه سبب د تنافر نه دی ځکه "بلغ، ملح" دواړه

کي حسن سته او متنافر نه دی، او حال دا چي په دواړو کي د شفوی حروف څخه انتقال و طرف ته د حلقي سوی دی. باء او میم شفوی. لام وسطي او ح، ع حلقي دي.

حاشیه نمبر ۸:

په دې حاشیه کي دوه تحقیقه دی.

اول: دموجودی نسخې بیان: موجوده نسخه داډول ده" لا یوجب انتقاء الکل". او د دغه مو جودی نسخې بیان دادی: د کل څخه فصاحت الکلام مراد دی. او د جزء څخه کلمه مراد ده. او فصاحت د کلمې لپاره د جزء د فصاحت د کلام وصف دی.

دوم: د فساد د وجهي بیان: خلاصه د بیان داده چي کلمه جزء لپاره د فصاحت د کلام نه ده. او نه فصاحت د کلمه وصف لپاره د جزء د فصاحت د کلام دی. بلکه فصاحت د کلمې جزء لپاره د فصاحت د کلام دی. اوس دغه خبره ثابته سوه چي کلمه جزء لپاره د فصاحت د کلام نه ده. ځکه که چیري سي نو عارضېدل د شي به خپل ځان ته راسي. ځکه فصاحت د کلام و کلام ته عارض دی. او کلمه د کلام جزء ده. او د فصاحت د کلام جزء هم کلمه ده. نو کلمه به په واسطه د کلام و کلمه ته عارض سي. ځکه فصاحت د کلام ضمناً فصاحت د کلماتو دی. صورت ئې داډول دی.

(کذا قال علامه نصیر الدین فی شرحه ۷۶) او دشي خپل ځان ته عارضېدل باطل دی. ځکه عروض یو نسبت دی، دی منتسبین متغایرین غواړي.

دویم: ددې عبارت "و لذا قالوا" بیان سره د اشکال: د موجودی نسخې د فساد دنه خفي والي د وجي دوې دا ډول وویل: د کل څخه مراد کلام دی. او عبارت په تقدیر سره د مضاف دی "وصف الکل". نو اوس عبارت صحی سو. ځکه کل کلام او جزء کلمه ده. او فصاحت د کلمې وصف لپاره د وصف د کل "چي فصاحت د کلام دی" ده. مګر شارح چي د دغه بعضو په رد کي چي کوم خبره کړېده هغه د دې تقدیر خلاف ده. هغه کلام دادي "و فصاحة الکلمات جزء من مفهوم فصاحة الکلام لا وصف لجزئها" ځکه د شارح دغه کلام د دې تقاضي کوي چي دغه بعض دا وایي: فصاحت د کلمې وصف لپاره د جزء د فصاحت د کلام دی. او فصاحت د کلمې وصف لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

د کلمې دی. نو دغه ددې تقاضی کوي چې کلمه جزء لپاره د فصاحت د کلام ده. نو برته ذکر سوي اعتراض را ګرزیدي. او دغه ډول د مضاف د مقدر ولو تقاضي داده چې مؤید په دې سره قول کونکي دی چې کل کلام او جزء کلمه ده. او د شارح د قول " لا وصف لجزئها" تقاضي داده چې مؤید په دې سره قول کونکي دی چې کل فصاحت د کلام دی. ځکه ده د مؤنث ضمیر په "لجزئها" کې راوړې دی " ای فصاحة الکلام". او جزء کلمه ده. (کذا فی الشرح للشربینی ۱۴۳. مع زیادتی)

څلورم: درد د حاصل بیان: ددې رد حاصل دا دی چې فصاحت د کلمې جزء لپاره د فصاحت د کلام دی. او د اول د منتفیو الي څخه د دوم منتفي والي لازمیږي. او د اډول نه ده چې فصاحت د کلمې وصف لپاره د جزء د فصاحت د کلام دی. حتی چې بیا ستاسو مدعی ثابته سي.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: په فصاحت کې د کلام، فصاحت د ټولو کلماتو اخیستل سوي دی. او د دې سره دا لازمه ده چې د یوې کلمې د فصاحت په منتفي والي سره د فصاحت الکلام منتفي والي نه راځي. ځکه فصاحت د یوې کلمې د فصاحت الکلام په تعریف کې اخیستل سوي نه دی؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې فصاحت د یوې کلمې جزء لپاره د فصاحت د ټولو کلماتو دی. او فصاحت د ټولو کلماتو بیا جزء لپاره د فصاحت د کلام دی. ځکه جزء د "کلمه فصاحت" د جزء "فصاحت د ټولو کلماتو" د شي "د فصاحت د کلام" جزء د شي دی.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: مفرد غیر عربي کوم چې په قرآن مجید کې راغلي دی هغه کوم الفاظ دي؟

جواب: فارسي لفظ لکه "استرق" ورښنم. "سجّل" کتابچه، څلواغه. رومي وی لکه "قسطاس" د ترازو پلي. او که هندی وی لکه "مشکاة" طاقچه.

استبرق. (اِتَ رَ) (معرب ، ا) معرب استبرک. (منتهی الارب). دیبا. (مهذب الاسماء). دیبای ستبر. (زمخشری). دیبای سطبر یا دیبا که بزر ساخته باشند یا جامه حریر سطبر مانند دیبا یا برندق سرخ مشابه زهمهای کمان. (منتهی الارب). دیبای سفت و گنده است مثل اطلس. (غیاث اللغات). دیبائی ستبر است چنانکه سندس دیبائی تُنُک است. دیباج غلیظ فمما اخذوه ای العرب من الفارسیة الاستبرق، غلیظ الحریر و اصله استروه. (از جمهره ابن درید بنقل سیوطی در المزهر). و صاحب تاج العروس گوید ابن درید در جمهره استبرق را از الفاظ ماخوذه از سریانی گفته است. الاستبرق، غلیظ الدیباج، فارسی معرب، و اصله «استفره» و قال ابن درید «استروه» و نقل من العجمیة الی العربیة، فلو حُقّر استبرق او کُسّر لکان فی التحقیر «ابیرق» و فی

الكسير «اطرق» بحذف التاء، والسين جميعاً. (المعرب جواليقي ج احمد محمد شاكر ص ۱۶): عالیهم ثیاب سندس خضر و استبرق و حُلوا اساور من فضة و سقاهم ربّهم شراباً طهوراً. (21 ،76). متکئین علی فرش بطائنها من استبرق و جنی الجنتین دان. (قرآن 54/55). اولئک لهم جنات عدن تجری من تحتهم الانهار یحلون فیها من اساور من ذهب و یلبسون ثیاباً خضراً من سندس و استبرق متکئین فیها علی الارائک نعم الثواب و حسنت مرتفقاً. (قرآن 18/31).

قسطاس. [ق ا] (ع / معرب، ا) میزان. (اقرب الموارد). کبان و ترازو. (منتهی الارب) (برهان). || راست تر ترازوها. (منتهی الارب). اقوم الموازین. (اقرب الموارد). || ترازوی عدل. هر ترازو که باشد. (منتهی الارب). میزان العدل ای میزان کان. (اقرب الموارد): و زنوا بالقسطاس المستقیم. (قرآن 17/3). برخی گویند این کلمه عربی و ماخوذ از قسطبه معنی عدل است و گروهی آن را رومی معرب دانند. (از اقرب الموارد) (منتهی الارب). رجوع به قُسطاس شود.

مشکاة. [م] (ع ا) سوراخ ناگذاره که چراغ نهند در وی. (منتهی الارب) (ناظم الاطباء). هر سوراخ نمیرافذ. و در سوره نور: مثل نوره ... یعنی سوراخی است که در آن چراغ است و گفته اند مشکاة لوله ای است در میان قندیل و مصباح فتیله مشتعل است. (از محیط المحیط) (از اقرب الموارد). روزن که گذاره ندارد در دیوار. (ترجمان القرآن). سوراخ ناگذاره که چراغ در وی نهند. (ناظم الاطباء).

حاشیه نمبر ۱۱:

دلته شارح دري منعي ذکر کړی دی. ۱: لانه ممنوع. ۲: و لو سلم فالمعني انه عربي النظم. ۳: لو سلم فبا عتبار الاعم الاغلب الخ. او ددغه درو سرو بیان دادی.

۱): مورد ا خبره نه منو چې عجمي الفاظ کوم چې عربي نه دي په قرآن کې واقع سوی دي. لهذا یو غیر عربي لفظ په قرآن کې نسته پاته داخبره چې بعضِ الفاظ لکه " قسطاس، سجل، مشکاة " په قرآن کې راغلي دي او دغه عربي الفاظ نه دی نو جواب دادی چې ستاخبره صحت نه لري، ځکه دغه مشترک الفاظ دي یعني کله داسي الفاظ وی کوم چې په څو ژبو کې استعمالیږی لکه زکام نو دغه مشترک ترمینځ د ژبو وي نو دغه الفاظ ته تخصیص تریو ژبه ورکول صحت نه لري، او د یوې خاص ژبې الفاظ ورته ویل صحت نه لري. بلکه په هره ژبه کې دغه الفاظ په طریقه د اصلیت استعمالیږی.

۲): که چیری دا و منو چې په کلام عربي کې عجمي الفاظ واقع سوی دي لکه دغه خبره تر سره سوېده چې د پولو نبیانو نومونه سره شپږو عجمي دي نه عربي، او دغه نومونه په قرآن کې واقع سوی دي. لهذا د دغه مطابق په قرآن کې عجمي الفاظ راغلي دی نو بیا په دغه آیت

Maktaba Tul Ishaat.com

کریمه کي "إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (یوسف: ۲) "قرآن موصوف په عربیت سره ګرزېدلي دي ددغه مطلب دا نه دی چي د قرآن ټول الفاظ عربي دي بلکه ددغه مطلب دا دی چي د قرآن ترتیب، ترکیب او نظم عربي دی بیا عام تردي الفاظ هم عربي او که نه وي.

۳): که چیرې دا ومنل سي چي قرآن موصوف په عربي سره په اعتبار د الفاظو او مفرداتو دي نو بیا دغه کېدای سي چي دغه په اعتبار د اهم او اکثر الفاظ وي یعني د قرآن اهم الفاظ او اکثر او اغلب عربي دي نه ټول. نو په دغه اعتبار و الفاظ ته د قرآن عربي و ویولو ته دا تاوان نه رسوی چي لږ غیر عربي الفاظ په قرآن کي راغلي وي. ځکه په عربیت کي د کلام ټول الفاظ عربي کېدنه شرط نه ده بلکه د اکثرو عربي کېدنه شرط ده کوم چي دلته سته نو په دغه وجه ده ته عربي وویل سو. په خلاف د فصاحة الکلام ځکه په دغه کي د هرې هرې کلمه عربیت شرط دی.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: په غیر فصیحه کلمه سره کلام فصیح د فصاحت څخه نه وزي ځکه مراد د هغه فصاحت څخه ("مع فصاحتها" کوم چي په تعریف کي د فصاحة الکلام راغلي دی) عام مراد دی کوم چي حقیقي او حکمي دواړو ته شامل دی. (حکمي فصاحت دادی هغه کلمه چي فصیح نه وي په ذوق باندي د فصیح کلماتود ډیر والي د وجي پټه وي. لکه څه ډول دتیز خوږ والي په صورت کي لږ ترش والي پټ وي. لهذا هغه صورت چي په هغه کي غیر فصیح کلمه وي د فصاحت څخه نه وزي). لهذا دا کېدای سي چي په یو کلام کي دي ډیرې فصیحه کلماتي وي په دغه وجه یو غیر فصیح کلمه پر ذوق باندي خفي سي او هغه دی فصیح وبلي. لهذا لکه په غیر عربي لفظ سره و عربیت ته د کلام تاوان نه رسي دغه ډول په غیر فصیحه کلمه سره و فصاحت ته د کلام تاوان نه رسي؟

جواب: په تعریف کي د فصاحة الکلام تأویل کوني څخه دا معلومیږي چي سوال کونکي تعریف د فصاحة الکلام مني. نو تر دغه ورسته بیا تأویل کول دغه یو تکلف دی (ځکه بنکاره په تعریف کي د الفاظ څخه ذکر وی بنکاره معناګاني وی کوم. او پ تعریف کي د فصاحة الکلام د فصاحت څخه بنکاره معني، حقیقي معني ده نو حکمي ته شامل بلل لفظ د بنکاره څخه اړول دی کوم ته هیڅ هم یو ضرورت نسته، په دغه وجه دغه تأویل بیله بنیاد دی)

صفحه نمبر ۱۹:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

المعنى ولامأنوسة الاستعمال فقد مايحتاج فى معرفته الى ان يُفتّش ويبحث عنه فى كتب اللغة المبسوطة كتكأكأتم وافرنقعوا فى قول عامر بن عمر النحوى حين سقط عن الحمار واجتمع الناس عليه مالكم تكأكأتم على كتكأكئوكم على ذى جنة افرنقعوا عنى اى اجتمتم نحو اعنى كذا ذكره الجوهرى فى الصحاح وذكر جار الله العلامة فى الفائق انه قال الجاحظ مرابو عاصمة ببعض طرق البصرة به وحاجت به مرة فوثب عليه قوم يعصرون ابهامه و يؤذنون فى اذنه فأفلت من ايديهم وقال مالكم تكأكأتم على كتكأكاؤن على ذى جنة افرنقعوا عنى فقال بعضهم دعوه فان شيطانه يتكلم بالهندية ومنه مايحتاج الى ان يخرج له وجه بعيد نحو مسرج فى قول الحجاج ومقلة وحاجبا مزججا اى مدققا مطولا (وقاحا) اى شعرا اسود كالفحم (ومرسنا) اى أنفا (مسرجا اى كالسيف السريجى فى الدقة والاستواء) والسريج اسم قين ينسب اليه السيوف (أوكالسراج فى البريق) والثلمان وهذا قريب من قولهم مسرج وجهه بالكسر اى حسن ومسرج الله وجهه اى بهجه وحسنه وانما لم يجعل اسم مفعول منه لاحتمال انهم لم يعثروا على هذا الاستعمال وان يكون هذا مولدا مستحدثا من السراج على انه لايبعد ان لايقال ان مسرج الله وجهه ايضا من باب الغرابة واما صاحب مجمل اللغة فقد قال مسرج الله وجهه اى حسنه وبهجه ثم انشد هذا المصراع لايقال الغرابة كما يفهم من كتبهم كون الكلمة غير مشهورة الاستعمال وهى فى مقابلة المعتادة وهى بحسب قوم دون قوم والوحشية هى المشتملة على تركيب ينفر الطبع عنه وهى فى مقابلة العذبة فالغريب يجوز ان يكون عذبة فلايحسن تقسيره بالوحشية بل الوحشية قيد زائد لفصاحة المفرد وان اريد بالوحشية غير ماذكرنا فلانسلم ان الغرابة بذلك المعنى تخل بالفصاحة لانا نقول هذا ايضا اصطلاح مذكور فى كتبهم حيث قالوا الوحشى منسوب الى الوحش الذى يسكن القفار استعيرت للالفاظ التى لم يونس استعمالها والوحشى قسمان غريب حسن وغريب قبيح فالغريب الحسن هو الذى لايعاب باستعماله على العرب لانه لم يكن وحشيا عندهم وذلك مثل شرنبث واشمخر وقطر وهى فى النظم احسن منها فى النثر ومنه غريب القرآن والحديث والغريب القبيح يعاب باستعماله مطلقا ويسمى الوحشى الغليظ وهو ان يكون مع كونه غريب الاستعمال ثقيلا على السمع كريها على الذوق ويسمى المتوعر ايضا وذلك مثل جعبش للفرد والملخم الامر وجفخت وامثال ذلك وقولنا غير ظاهرة المعنى ولامأنوسة الاستعمال تفسير الوحشية فنع كونه مخلا بالفصاحة المتداولة فيما بينهم ظاهر الفساد وان اردت بالفصاحة معنى آخر وزعمت ان شيئا من التنافر والغرابة والمخالفة لايخل بها فلامشاحة (والمخالفة)

﴿ او غرابت ﴾ د کلمي داسي وحشي کېدنه ده چې ددې دلالت په خپله معنې موضوع له باندې ښکاره او ظاهره نه وي. او مأنوس الاستعمال هم نه وي. د غرابت د اقسامو څخه يوه هغه کلمه ده د کومې د معنې د پېژندنې لپاره د لغاتو وتفصيلي او مبسوط کتابونو ته د تک او په هغه کې ددغې کلمې د معنې د پلټنې ضرورت پېښېږي. د مثال په توګه د عيسى بن عمر نحوي په قول کې واقع سوی "تکاکأتم" او "افرنقعوا" کوم چې ده هغه وخت ووايي چې دی د خره څخه ولوېدي. او خلک په ده باندی راچاپېره سوه، نو ده ورته وويل: تاسو ولې په ما باندی داسي را جمعه سوی ياست لکه په يوه نېونۍ او مجنون باندی. تاسو زما څخه لری سی. دغه ډول دغه وينا جوهري په صحاح کې تر سره کړېده. جار الله په الفائق کې دا خبره ذکر کړېده چې يو ځلي ابو علقمه په يوه لار باندی د بصري تېر بدي، نو د صفراء مرض په ده باندی غلبه وکړه «د کوم په وجه سره دی ېېران اوبې هوشه سو» نو ډېر خلک په ده باندی راتاؤ سوه، اوددې ګوتې يې ورکښې کښلې، او ددې په غوږو کې يې په زوره سره آذان کول شروع کړل. «څکه ددغه خلکو دا عقيده وه چې په دغه عمل سره سړی د پېرۍ څخه خلاصون تر لاسه کوی» نو دی راپاسېدي او ددوی د مينځ څخه ووتي.

نوټ وپوهيل: تاسو په ما باندی داسي راجمعه سوی ياست لکه په يوه نېونۍ باندی. او تاسو زما څخه ګونبه سي. او خلکو په خپلو کې سره ووېل چې ددې څخه لری سي ددې شيطان او پېرۍ په هندی ژبه سره خبری کوی. او د غرابت د افرادو څخه يو هغه قسم دی په کوم کې چې د بعيد تأويل کولو ضرورت پېښېږي. لکه لفظ د "مسرج" په دي قول کې د عجاج "محبوبې سترګه ښکاره کړه، باريکه او اوږده ورځه، او د سکرو غوندی تور وېښتان، او داسي پزه لکه په سپيده والي او باريکوالي کې د سريچي د تورې غوندی ده". سريچ د يوه توری جوړونکی نوم دی کوم ته چې د تورو نسبت کول کيږي. ﴿او يا د څراغ غوندی په زلېدلو کې دی﴾. او دغه «دويمه معنې» ددوی تر دې قول "الله جل جلاله دده مخ حسين اوښائسته وګرزوي" قريب تره ده. او «د درېيمې معنې څخه يې» لفظ د مسرج مفعول نه وګرزوی. څکه دلته دا احتمال شتون لری چې قدماؤ دي په دغه استعمال «کومه چې درېيمه معنې ده» باندی اطلاع نه وی تر لاسه کړې. او ددې احتمال هم سته چې دغه معنې «درېيمه» دی د سراج څخه جوړه سوې وی. او دا وينا هم لری نه ده چې "سرج الله وجهه" هم د غرابت د باب څخه دی. بهر حال صاحب د مجمل لغت ويلي دي چې "سرج الله وجهه" په معنې سره د "حسن الله وجهه" دی «يعنې ده دغه معنې په خپل کتاب کې ذکر کړېده»

Maktaba Tul Ishaat.com

او بيا يې «د استشهاد لپاره» ددغه څخه دا مصرع «فاحما ومرسا» ووېل. او دا خبره دې نه ووېل سي چې غرابت لکه څرنګه چې ددوی د کتابونه څخه معلومیږی عدمي مشهوروالي د استعمال د یوې کلمې دی. او دغه د غرابت معتاده مأنوسه په مقابله کې دی. «او دغه غریب کېدنه او معتاد کېدنه په اعتبار د یو قوم وی نه د بل قوم، دا ممکنه ده چې د یو قوم په وړاندی دی غریبه او د بل په وړاندې دې بیا نه وی». او وحشي هغه دی کوم چې په یو داسې ترکیب باندی مشتمل وی د کومه څخه چې طبعیت نفرت کوی. او دغه د شیرین اود عذبه په مقابل کې راځي. لهذا د غریب عذبه او شیرین کېدنه صحی ده. لهذا د غرابت تفسیر په وحشي سره کونه صحی نه ده. بلکه د فصاحت مفرد لپاره وحشی یو زائد قید دی. او که چیرې د وحشي څخه کومه داسې معنې مراد وی کوم چې مورِ نه د ذکر کړې نو بیا مورِ دا خبره نه منو چې غرابت په دغه معنې سره خلل و فصاحت ته د کلمې رسونکي دی. ځکه مورِ وایو چې دغه معنې «دویمه معنې کو مه چې مورِ مراد کړېده» یو داسې اصطلاح ده کومه چې ددوی په کتابونو کې ذکر سوېده. ځکه دوی ویلې دي: چې د وحشي و هغه حیوان ته یې نسبت سوی دی کوم چې په شړه مځکه کې وسېدونکي وی. بیا د استعاري په توګه د هغه الفاظو په هکله استعمال سو د کومو چې استعمال مأنوسه نه وو. او وحشي دوه قسمه دی. ۱: غریب حسن. ۲: غریب قبیح. لهذا غریب حسن هغه دی د کوم استعمال د عربو په وړاندی عیبجن نه وی. ځکه دغه ددوی په وړاندی وحشي نه دی. د مثال په توګه دغه لکه "شرنبث، اشمخرت، اقمطر". او د دوی استعمال د نثر په مقابل کې په نظم کې ښائسته دی. او د قرآن او داحادیثو غریب الفاظ ددغه غریب حسن د قبیلې څخه دي. او غریب قبیح هغه دی د کوم استعمال مطلقا عیبجن وی. او دغه ته وحشي غلیظ هم ویل کیږی. او دغه د غریب الاستعمال سره سره په سمع باندی گران، او په ذوق باند ی گرِیه وی. او دغه په متوعر سره هم نومول کیږی. لکه "جحیش" په معنې سره د "متفرد" او "اطلخم الامر" او "جحفت" په معنې سره د متکبر کېدو او دغه ډول نور ددوی په مثل. او زمورِ دا قول "غیر ظاهرة المعنی، لا مانوسة الاستعمال" تفسیر لپاره د وحشي دی. او وحشي په دغه معنې سره د هغه فصاحت لپاره مخِل نه بلل کوم چې ددوی په مینځ کې مشهور دی فاسد دی. «علامه مځکي د پوسخند لپاره فرمایي» که چیرې تاسود فصاحت کومه بله معنې مرادوی اوبیا تاسو فرمایي چې یو شي د تنافر او غرابة او مخالفة القیاس څخه دغه فصاحت لره خلل رسونکي نه دئ نو مورِ بیا ستاسو سره ددغه اصطلاح په هکله کوم بخل نه کوو.

په دې عبارت کې څو شیان د بیان وړ دي.

اول: د لغاتو د معناګانو بیان: مانوس: د انس څخه دی او دغه په معني سره د الفت دی نو مأنوس په معني سره د هغه شي دی د کوم سره چې انست او الفت وی. ینفر: پلټنه. تکاکا ټم: تاسو یو ځای سوی یاست. افرنقعوا: لرې سي. ذی جنة: جِنّه په دوو معناګانو سره راځي. ۱: نهونتوب لکه باری تعالی فرمایي: "أَفْتَرَى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا أَمْ بِهِ جِنَّةٌ.(السبا:۸)". ۲: پیرۍ: لکه څښتن حقیقي فرمایي: "مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ.(سورة الناس:6)" یعني د پیرۍ او خلکو څخه. او دلته دواړې معناګاني صحت لري. یعني نهونې او یا پیرۍ لرونکي. تنحوا: تاسو لرې سي. جار الله: د دغه څخه مراد ابو القاسم محمود بن عمر بن محمد معتزلي دی. او ده ته جار الله په دې وجه ویل کیږي چې د تر ډیر وخته پورې د بیت الله په ګاونډ کې پاته کېدی. هاجت: غالبه سو. مرة: په تشدید سره د راء دی یعني ژړ.

وثب: پاسېدل، راپورته کېدل. دَعُوهُ: دی پورې پرېږدی. عجاج: په وزن د حجاج دی دا نوم د جهالت د دور د یو شاعر دی. (وثَبَ / وثَبَ إلى / وثَبَ على يثب ، لِبْ ، وَثْبًا ووُثُوبًا ووَثَبانًا ووَثِيبًا ، فهو واثِبٌ ، ووثّابٌ ، والمفعول مَوْثُوب وثَب الشَّخصُ / وثَب الشّخصُ إلى المكان : قفز وَثَبَ عَلَيْهِ فِي مَحْبَسِهِ : إرْتَمَى ، إنْقَضَّ ، هَجَمَ عَلَيْهِ وثَب إلى المكان العالي : بلغه وثَب الشَّخصُ : نهض وقام)

مُقلة: هغه سترګه د کومې په سپینو کې سپین او تور دواړه وی. (مُقلة: (اسم) الجمع : مُقَلات و مُقَل المُقْلَة : العَيْنُ كلُّها مُقْلَةُ العَيْنِ : ضَحْمَةُ العَيْنِ أَيِّ تَجْمَعُ السَّوادَ والبَياضَ في مُقْلَتَيهِ اخبرَانَ)

حاجب: ورځ. مزججا: باریک، اوږد. (زَجَّجَ يزجّج ، تزجيجًا ، فهو مُزَجِّج ، والمفعول مُزَجَّج زَجَّجَتْ حاجِبَها : رَقَّقَتْهُ وطَوَّلَتْهُ زَجَّجَ الْمَكانَ : سَوّاهُ ، أَصْلَحَهُ ، رَتَّبَهُ زَجَّجَ الرُّمْحَ : جَعَلَ لَهُ زُجًّا)

مدققا: باریک. (دقَّ / دقَّ في يَدُقّ ، تدقيقًا ، فهو مُدَقِّق ، والمفعول مُدَقَّق :- • دقَّ الشّيءَ بالغ في دَقِّه وسَحْقه ، صيّره دقيقًا)

مطول: اوږد. فاحم: تور، تور وښتان، سکاره. (فَحَمَ يَفحَم ، فَحْمًا وفُحَامًا وفحومًا ، فهو فاحِم، فاحِمٌ : [ف ح م]. (فاعل من فَحَمَ). :- أَسْوَدُ فَاحِمٌ :- : الأَسْوَدُ شَدِيدُ السَّوَادِ . :- شَعْرٌ أَسْوَدُ فَاحِمٌ)

مرسن: پوزه. (مَرْسَن : مَرْسِن / مَرْسِن :- جمع مَرَاسِنُ :- 1 - اسم مكان من رَسَنَ : مكان الرَّسَن من أنف الدَّابّة :- خذ الثوابَ من مراسنها تسلَسْ لك قيادتها . 2 - أنف :- فعلت ذلك على رغم مَرْسِنه : على رغم أنفه ، رغمًا عنه)

سریح: دیوتوری جوړونکي نوم وو. لم یعثروا: اطلاع او خبرتیا یې نه وه تر لاسه کړې. انشد: شعر وَیَنه. عذبة: شیرین او خوږ، هر هغه کلمه چې د هغه څخه طبعیت نفرت نه لري. خرنبث: د کوم چې

Maktaba Tul Ishaat.com

لاسونه او پښې کلکې او سختې وي. اسمحر: پورته سو. اقمطر: سخت سو. خحش: په رأی کې یو ازی کېدنه. (خحش (اسم) خحش فاعل من خحش خحش (فعل) خحش خحشا فهو خاحش، وخحش خحش على بنى واضرد: خحش الجلد: حدثة وفي الحديث انه صلى الله عليه وسلم سقط من ثوبي فخحش شقه)

اطلخم الامر: کار او خبره غټه سوه. جفحت: فخر او تکبر کونه. (جفح جفحا فهو جفاح جفح وتكبر

متنوعر: سخت او ګران (نوعر / نوعر على نوعر، نوعر، فهو نوعر، والمفعول منوعر عليه - • نوعر الطريق تطوع وغير سلف وتعسر • نوعرت الفاظه: صعبت وتعسرت :- نوعر الكلام • نوعر الأمر / نوعر الأمر عليه: تعسر وتصعب - نوعر عليه فهم المسالة)

دوم: تعریف د غرابت: هر هغه کلمه چې دا وحشي وی دا ډول چې دلالت په معني مو ضوع له باندی په ښکاره توګه نه کوی. او یا دغه مانوس الاستعمال نه وی.

دریم: د غرابت اقسامو بیان: د غرابت دوه قسمه دي.

اول: دکومې کلمې معني ظاهره نه وی دا ډول چې د دغه کلمې څخه په آسانۍ سره ذهن و معني موضوعله ته تلونکې نه وی، بلکه د دغې کلمې د معني د معلومولو لپاره د لغاتو د غټو غټو کتابو ته د تګ او د هغه د کتلو ضرورت وي.

مثال اول: یو ځلي عیسي بن عمر نحوی په خره سپور چیری روان وو، نو دی ناڅاپه د خره څخه وغورځېدی نو خلک په ده باندی راټول سوه او څه وخت چې دی را پاسېدی نو ده خلک په خپل ځان راټول ولیدل، ده و دغه خلکو ته مخاطب سو. تاسو ولي په ما باندی داسې راټول یاست لکه په یوه نهوني باندی، زما څخه لری سي. نو دده په قول کې دوه الفاظه راغلي دي. ۱: تکاکاتم. ۲: افرنقعوا. اوس دغه دواړه په خپله معني موضوع له باندی ظاهراً دلالت نه کوي بلکه د دوی د معني د معلومو لپاره د لغتو و کتابونو ته د تګ ضرورت پېښېږی.

دوم مثال: یو ځلي ابو علقمه په لاره د بصرې روان وو چې په ده باندی د ژړو غلبه وسوه، او غوځار سو، او خپل هوش یې د لاسه ورکړي، نو خلک په ده باندی راټول سوه او دوی سوچ وا هي چې په ده باندی پیرانانو حمله وکړه، نو په هغه وخت چې په کوم چا چې په پیرانان حمله کو ل نو دوی به بیا د هغه ګوتې ورکښتې کښلې او په غوږ کې به یې په زوره زوره آذان ورکوي. نو دوی هم دده سره دغه چل وکړی، څه وخت چې دی راپورته سو او دغه حال او ماجری یې ولید ل نو خلکو ته مخاطب سو: زما څخه لری سي تاسو په ما باندی داسې راټول یاست لکه په یوه نهوني باندی. لهذا دده په کلام کې تکاکاتم او افرنقعوا واقع سو.

دوم قسم: کله مأنوس الاستعمال نه وی دا دول چې دغه کلمه د خالصو عربو په وړاندې مستعمله نه وی. نو په دغه وخت کې (کومه کلمه د خالصو عربو په وړاندې مستعمله نه وی) دغه لفظ د لغاتو په کتابو کې دده پلټنه وسې نو بیا هم تر لاسه نه سي بلکه د دغه کلمې مناسبه د انورو کلمو معناګاني موجودې وي او د دغه معناګاني د یو مناسبت په وجه د دغه لفظ غریب څخه مرادي سي.

مثال: ابن العجاج د خپلې معشوقې د غاښونو، سترګې، وریځې او ویښتانو په هکله وویل: أزمانَ أبْدتْ واضحاً مُفلَّجا ◻ أغرَ براقاً وطرفاً أبرجا ◻ ومقلةً وحاجباً مُزجّجا ◻ وفاحماً ومرْسناً مُسَرَّجا.

«یعني د ازمان په نامه سره زما محبوبې پراخ سپین زلبد ونکي غاښونه، او غټې غټې سترګې، او اوږدې باریکې وریځې او د کولې غوندې تور ویښتان، او سریچې د تورې په شان پوزه».

محل استشهاد: اوس په دغه شعر کې مسرج لفظ راغلې دي. او دغه د مفعول صیغه ده. او صیغه د مفعول مشتقې وی، او د هر مشتق لپاره چاره د مشتق منه څخه نه وی، او دده مشتق منه تسریج په کار وو. مګر د لغاتو په کتابونو کې د تسریج لفظ وجود نه لری. البته د دغې ماد ې څخه الفاظ چې سراج او سریجي دي وجود لری. مګر د دوی دواړو څخه مسرج مشتق نه سي کېدای. ځکه دوی دواړه اسماء جامده دي دکوم څخه چې اشتقاق نه سي ترسره کېدای. او لفظ د مسرج غلط هم نه سي کېدای. ځکه دی په عربي کلام کې واقع سوی دی. نو په دغه وجه دی د غلط د ګرزېدنې څخه د ژغورنې په خاطر ویو بعید تخریج ته ضرورت پېښ سو. او هغه تخریج دادی چې تفعیل باب لپاره د نسبت راځي (د مثال په توګه فسّقه یعني ما ده ته د فسق نسبت وکړي). لهذا مورِ مسرج د دوو څخه د یوه وطرف ته منسوب کوو،

۱: دی منسوب د سریجي و طرف ته دی او وایو: د دې پوزه په باریک والي او سیده توب کې د سریجي د تورې غوندې وه. (ابن درېده).

۲: د سراج و طرف ته منسوبه ده یعني د دې پوزه د څراغ غوندې زلبد ونکې ده. (ابن سیده)

قول راجح: د دغه دوو توجیهاتو څخه دویمه توجیه غوره ده، ځکه زلبدنه اکثره د حسن سبب وی په خلاف د باریک والي ځکه کله موجب د حسن وی او کله بیا نه وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: سرج په معني سره د حسن او ښائست د خالصو عربو په کلام کي وجود لري. لهذ "مسرج"د "سرج" (په معني د حسن) څخه دي مشتق سي نو په دغه وخت کي و تخريج بعيد ته ضرورت پاته نه سو؟

لاحتمال انهم لم يعثروا: **اول جواب:** که څه هم "سرج" په معني د حسن په کلام عربي کي شتون لري مګر هغو علماؤ کومو چې مسرج غريب ګرزولي دي هغوی په سرج په معنی سره د حسن سره خبر سوی نه دی. لهذا هغه علماؤ کومو چې په دغه هکله معلومات تر لاسه کړی نه دي د هغو په وړاندی مسرج غريب دی، او کومو چې معلومات تر لاسه کړی دي د هغو په وړاندی بيا مسرج غريب نه دی.

و ان يكون هذا مولدا ومحدثا: **دوم جواب:** سرج په معني سره د حسن کي دا احتمال سته چې مولد ون(يعني ورسته راتلونکي کوم چې خالص عرب نه وی) دي سرج د سراج څخه مشتق کړی وي اويا دي يې د تحسين په معني کي استعمال کړی وي. او په دغه معني سره د خالصو عربو په کلام کي استعمال سوی نه وی. نو بيا مسرج چې د عجاج په کلام کي واقع سوی دي څرنګه د سراج په معني سره د حسن څخه مشتق وبلل سي، ځکه عجاج د جاهليت د دور د شاعرانو څخه وو. لهذا دغه سرج په معني سره د حسن د مولدينو په کلام کي شتون لري او دغه د اعتبار وړ نه دی.

دريم جواب: سرج په معني سره د حسن هم غريب دی دا دول چې حسّن دي دده مجازی معني وی . او سرج په دغه مجازی معني کي په دې وجه استعمال کړي وی چې دا د معني حقيقي سره مناسبت لري.

و اما صاحب مجمل اللغة: **سوال:** مورد دا خبره نه منو چې سَرِج يا سرّج د باب څخه د غرابت دی ځکه صاحب مجمل اللغة دده معني په خپل کتاب کي ذکر کړيده. او ويلي يې دي: حسنه و بهجه . نو اوس به دغه سرج څرنګه غريب وګرزئ؟

جواب: صاحب مجمل اللغة د سرج معني حسن او بهج بيان کړيده او بياپه دغه باندی يې استدلال په دغه شعر سره «مرسنا و مرجا» ويلي دي. لهذا سرج په معني سره د حسن کېدني ثبوت يې په دغه شعر سره ده کړی دي .اوس که چيری مورد دا و وايو چې مسرج په معني سره د

حسن دی او په دغه باندی دلیل په قول سره د صاحب مجمل اللغة ووایو نو دور به لازم سي(دادول چي د صاحب المجمل د خبری ثبوت چي سرچ په معني سره د حسن دی په دغه شعر سره دی. او مسرچ په دغه معني سره د کېدني ثبوت په قول سره د صاحب مجمل اللغة سي، نو دده د قول ثبوت په خپل قول سره دی).

لا يقال الغرابة كما تفهم من كتبهم **سوال**: علامه خلخالي د مصنف په کړل سوی تعریف لپاره د غرابت « غربت د کلمې وحشي کېدنه ده » اعتراض کړي دي. خلاصه د اعتراض داده چي د وحشي دوه قسمه تعریف سوی دي.

اول تعریف: مشهور: هر هغه کلمه چي په تنافر طبعي او تنافر د ذوقي سليم مشتمله وی. او په دغه صورت کي د غرابت تعریف په "كون الكلمة وحشية" سره صحت نه لری ځکه تعریف به په معرَف باندی حمل کیږی، او دلته يې حمل صحی نه دی، ځکه غریب د مفهوم په اعتبار سره مباین د وحشي دی، ځکه د مشهور موافق د غریب تعریف داسوی دی: هر هغه کلمه چي د هغه استعمال ظاهر او مشهوره نه وی، او دغه د معتاد مقابل دی نو اوس یوه کلمه معتاده او غیر معتاده دواړه کېدای سي دادول چي د یو قوم په وَراندی دي یوه کلمه معتاده او هغه دي بیا د بل قوم په وراندی غیر معتاده وی. لهذا غریب ثقالت په ژبه باندی لری په خلاف د وحشي دا هر هغه کلمه وی کومه چي په تنافر طبعي او تنافر ذوقي سليم مشتمله وی. او ثقیله په ژبه باندی نه وی. لهذا په یوه کي ثقالت او په دوم کي ثقالت نه وی نو په دغه وجه دوی سره متباینین دي، او دغه دول به تعریف د معرَف سره مساوی وی او دلته دغه دول نه ده ځکه غریب د مصداق په اعتبار سره اعم تر وحشي دی. ځکه کومه کلمه چي وحشي وی هغه به هرو مرو غریبه وی ځکه کومه کلمه وحشي وی په هغه کي تنافر طبعي وی. او وحشي په دغه معني سره مقابل د عذبه او شیرینتوب دی او غریب کي کله تنافر طبعي او کله بیا نه وی، او غریب په دغه مشهوره معني سره عذبه کېدای سي ځکه کېدای سي چي یوه کلمه مشهور الاستعمال نه وی او دغه دول په تنافر طبعي او ذوقي باندی هم مشتمله نه وی نو دغه کلمه غریبه او عذبه هم دی، لهذا برابروالي په مینځ کي د معرَف او تعریف نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دوم تعريف: وحشي كله هره هغه كلمه وي كومه چي "ظاهر الدلالة او مأنوس الاستعمال" نه وي لكه مصنف چي دلته په متن كي ورسته تر كون الكلمة وحشي ويلي دي. نو د غه صورت هم په دو وجهو سره باطل دی.

۱: وحشي لفظ عربي دی او د لفظ عربي داسي تفسير معتبر دی كوم چي د عربود لغاتو په كتابونو كي وجود لري. او وحشي په دغه تفسير سره د عربو د لغاتو په كتابونو كي وجود نه لري.

۲: دغه ډول د غريب تعريف په وحشي او د وحشي دا بيا په "غير ظاهر الدلالة" او عدمي مأنوس الاستعمال سره د كوني په صورت كي به غرابت فصاحت لره خلل رسونكي نه سي (او حال دا چي دلته هغه غرابت مراد دی كوم چي خلل رسونكي لپاره د فصاحت دی) ځكه كه چيرې خلل رسونكي سي نو هغه غريبي كلماتي به د فصاحته څخه ووزي كوم چي په قرآن او احاديثو كي وجود لري ځكه دوی هم غير ظاهر الدلالة او غير مأنوس الاستعمال دی. او ددوی د فصاحت څخه وتنه باطله ده نو د غريب تعريف په وحشي سره كونه باطله ده؟ نو دا ثابته سوه چي د غرابت تعريف په وحشي سره كونه صحت نه لري؟

جواب: دلته وحشي په هغه معني غيرې مشهورې سره نه دی بلكه په معني سره د غير ظاهر الدلالة و لا مأنوس الاستعمال دی. اوس دا خبره چي ددې په هكله كومه اصطلاح نقل كونه ضروری ده نو جواب يې دادی چي دغه اصطلاح د لغتو په كتابونو كي وجود لري دا ډول چي وحشي كي ياء نسبتي ده نو وحشي بمعني منسوب بسوی وحش دی. او وحش هغه حيوانانو ته ويل كيږي كوم چي په شړه مځكه كي اوسيږي. هغوی د خلكو سره الفت او انس نه لري بلكه د خلكو څخه نفرت لري. لهذا د وحشيت سره عدمي الفت او انس لازم دی نو بيا دغه لفظ د وحشي دهغه الفاظو په هكله په حيثيت د استعاري استعمال سو كوم چي مأنوس الاستعمال نه وی (او علاقه د استعاري عدمي الفت دی). او پاته دا خبره چي وحشي په معني سره د غير مأنوس الاستعمال خلل رسونكي و فصاحت لره نه دی نو د دغه جواب دادی چي د وحشي دوه قسمه دي.

۱: **غريب حسن**: هر هغه لفظ چي د هغه استعمال د غير خالصو عربو په وراندی پاته سوی وی البته د خالصو عربو په وراندی پاته سوی نه وی، ددوی په وراندی غير مأنوس

الاستعمال نه وی.او وحشي په دغه معني سره خلل و فصاحت ته نه رسوی.او دغه قسم د وحشي په قرآن او احادیثو کي وجود لري.او ددغه قسم د وحشي استعمال د عربو په وړاندی عیبجن نه دی.ځکه دغه ددوی په وړاندی وحشي نه دی.

۲: **وحشي غریب**: هر هغه لفظ چي په تنافر طبعي مشتمله وی او یا د خالصو عربو په وړاندی غیر مأنوس الاستعمال وی نو وحشي په دغه معني سره خلل وفصاحت ته رسوی.نو کوم تفسیر چي د وحشي مصنف ذکر کړي دي(غیر مأنوس الاستعمال) ددغه څخه هغه مأنوس الاستعمال په وړاندی د خالصو عربونه وی او دغه ډول غیر مأنوس الاستعمال کېدنه و فصاحت ته خلل رسوی.نو دا ثابته سوه چي دلته هغه غریب مراد دی کوم چي خلل رسونکي و فصاحت لره دی. اوس که چیری د علامه خلخالي د فصاحت څخه کومه بله معني مراد وی کومه چي د فصاحت د مشهوری معني نه پرته یو بل څه وی او بیا دی دا ګمان کوې چي وحشي په دغه تفسیر سره و دغه فصاحت ته خلل نه رسوی نو دغه دده خپله اصطلاح ده . او ددغه په هکله مورد دده سره بخل نه کوو . مګر داخبره د یاد ورده چي وحشي په دغه تفسیر سره و فصاحت" په معني مشهوره سره" ته خلل، سونکي دي.

حاشیه نمبر ۱ :

په دي حاشیه کي څو تحقیقه دی.

اول : سوال: خلاصه د سوال داده چي الله ﷻ دِي په دي باندي علم لري چي دغه فصیح نه دی. او فصیح د فصیح والي په حیثیت تر غیر فصیح اولی وي. مګر الله ﷻ دغه غیر فصیح په فصیح باندي د یو عقلي غرض د وجي خپل کړی.لکه دیوه فصیح دلفظ د فهمو لو څخه بنده عاجز وي نو الله ﷻ د بنده د فهم په خاطر غیر فصیح لفظ راوړي؟

جواب: مورد فصیح لفظ د فهمولو څخه بنده عاجز والي نه منو. ځکه فصیح هغه لفظ دی چي د عربو په ژبو باندي ډیر جاري وي.نو اوس چي یو شي د خلکو په ژبو باندي ډیر جاري وي نو د هغه د فهمولو څخه بنده څرنګه عاجزه کیدای سي.

دوم: د تأمل بیان: په دوم تأمل کي و دوم جواب ته اشاره کیدای سي. خلاصه ددغه جواب داده چي د نبي علیه السلام د تصدیق لپاره مقصود په قرآن سره اعجاز دی.او اعجاز په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

بلاغت سره راځي چې دغه بلاغت مشروط په فصاحت سره وي. نو بيا په دې سره وينا کول چې قرآن په کلمه غير فصيحه سره مشتمل کيداى سي" د قرآن د عدمي معجزوالي لره دي موجب سي. نو د مقصود څخه خلاف کول پاګلتوب شميرل کيږي. او دغه ډول دغه د حکمت څخه وتل دى. او د حکمت څخه وتل د شان سره د حکيم او د الله ﷻ نه بنائي. (كذا في الشرح للعالمى ١٥٩/ج٢)،(شرح التلخيص ٨٣/ج١ مع زيادتي و تغيري)

حاشيه نمبر ٢ :

سوال: دا ممكن ده چې الله ﷻ د فصيح په راوړلو دي علم او هم قدرت لري مګر الله ﷻ د يو اپټ غرض په خاطر غير فصيح لفظ راوړي وي؟

جواب: د غير فصيح لفظ د راوړلو څخه داتو هم پيدا کيږي چې الله ﷻ د فصيح د راوړلو څخه عاجز او په هغه سره العياذ بالله جاهل دى. او عاجزوالي او جهل په شان کې د الله ﷻ څرنګه باطل دى دغه ډول توهم ئې هم باطل دى. نو د غير فصيح راوړل په قرآن کې هم باطل دى. ځکه باطل لره مستلزم هم باطل دى.

حاشيه نمبر ٣ :

سوال: فرضاً که چيرى قرآن پر غيرى فصيحه کلماتو مشتمل سي نو په دغه صورت کې نسبت د جهل و الله جل جلاله ته څرنګه راځي؟

جواب: داډول چې يا خو به الله جل جلاله په دغه غيرِ فصيحه کلماتو باندى خبرتيا نه لرى او يا خو پرې لرى، خو دا ورته معلوم نه وى چې فصيح پر غيرِ فصيح باندى اولويت لرى په دغه وجه ده په خپل کلام کې غيرِ فصيحه کلماتي راوړلي. او داسي کيداى نه سي (چې الله جل جلاله ته دي غيرې فصيحه کلماتي معلومي نه وى او يادي فصيح پر غير فصيح باندى اولويت لرولو خبر نه وى دغه نه سي کيداى) نو دا معلوم سوه چې قرآن پر غيرِ فصيحه کلماتو باندى مشتمل نه دى.

حاشيه نمبر ٤ :

سوال: کلمه وحشي کيدل او غير مأنوس الاستعمال کيدل دغه دواړه يود بل سره لازم دى، نو شارح رحمه الله ولې هر يو جلا جلا ذکر کړې؟

جواب: دلته شارح د غرابت علامه و بنوولې چې يوه علامه يې غير ظاهر الدلالة کيدل او دوم غير مأنوس الاستعمال کيدل دى. لهذا دوى دواړه که څه هم سره مستلزم دى مګر هر يو يې د

علامه په حیث سره مستقلَ ذکر کړی ددې لپاره چې د تنافر پیژندنه په آساني سره تر سره کیږی. مګر دغه جواب د محشي خوښ نه دی نو وې فرمایل دغه کوم وجه نه ده بلکه اصل غیر ظاهر الدلالة کېدل او غیر مأنوس الاستعمالَ کېدل سره مستلزم نه دی کله چې ظاهر الدلالة وی لکه په "وَدَعَ" او "وَذَرَ بمعني ترک". اوس دغه دواړه ظاهر الدلالة دي مګر مأنوس الاستعمالَ نه دی. او کله یې مأنوس الاستعمال وی مګر ظاهر الدلالة نه وی لکه غرائب د قرآن او احادیث. اوس دغه مأنوس الاستعمال دي مګر ظاهر الدلالة نه وی. لهذا دوی دواړه (غیر ظاهر الدلالة، غیر مانوسة الاستعمال) لازم نه دي. بلکه یو بېله هغه بله کېدای سي په دغه دوجه شارح دواړه ذکر کړل.

حاشیه نمبر۵:

سوال: د غرابت دوه قسمونه کوم دي او ددوی تر مینځ څه فرق وجود لری؟

جواب: ۱: دلالت د کلمه پر معني موضوع له باندی ښکاره نه وی. ۲: کلمه مأنوس الاستعمالَ نه وی. ددوی دواړو تر مینځ فرق دادی چې اول قسم په مصادرو، جوامدُ او مشتقاتو په ټولو کې راځي او دغه راتګ یې په حیث د ماده وی دادول چې عدم ښکاره والي د لفظ په معني باندی په اعتبار د ماده وی، او دوم تر مشتقاتُ پورې خاص دی او دغه نه مأنوس والي په وجه د هیئت د لفظ وی. خلاصه دا سوه چې د یو لفظ دلالت پر معني باندی ښکاره نه وی دغه به یا په وجه د جوهر او ماده ددغه لفظ وی نو دغه اول قسم دی په دغه کې احتیاج په غټو کتابونو کې د لغت ددغه لفظ و تلاښ ته ضرورت وی او یا به په وجه د هیئت او صیغه وی دغه دوم قسم دی په دغه کې بیا احتیاج و تخریج ته وی چې دده لپاره د یوه بعید سبب د پیدا کولو ضرورت وی.

داول مثال: تکاکا، ۲: دهرس(مصیبت) اوس دغه دواړو اوزان معروف دی یو پر وزن د تفعلل او بل پر وزن د فعللٌ دی. او ددوی دلالت پر خپلَ معني باندی ښکاره نه دی دغه نه ښکاره والي په دې وجه نه دی چې دغه الفاظ پر دغه هیئت راغلي دی بلکه په دې وجه دی چې ددغه الفاظ ماده دغه حروف راغلي دي.

د دوم مثال: مسرج: اوس دلته دغه لفظ دلالت پر معني باندی ښکاره نه دی دغه په وجه د هیئت ددغه لفظ دی نه په وجه د ماده ددغه لفظ. او ماده دده سراج یا سریج دی. او په درو سرو کې

Maktaba Tul Ishaat.com

سین را، او جسم وجود ئې. مګر د عدم ظهور یې په وجه د دغه مسرج پر دغه هیئت باندې ټ راتک سره دی.

حاشیه نمبر۶:

محشي، معني د دغه قول بیانوي. خلاصه داده چې خلک پر ده باندې راتول سوه او دده ګوتې یې کښېکښل شروع کړه او په غوږو کې آذانونه ورشروع کړه د دې لپاره چې معلوم کړې چې دې ژوندی او که مړ دی.

حاشیه نمبر۷:

سوال: د "انف" د "سیف سریجي" او د "سراج" ترمینځ څه مناسبت ستة؟

جواب: "انف" مشبه او "سیف سریجي او سراج" مشبه به دي. لهذا شاعر مشبه، "انف" مشبه، "سیف سرجي او سراج" مشبه به دي. او علاقه د تشبیه باریک والي، برابر والي، زلېدل دی.

سوال: "مسرجا" منفعول د باب څخه د "تفعیل" دی. او دلته "تفعیل" د څه لپاره دی؟

جواب: دلته "تفعیل" لپاره د صیرورت دی. او معنی ئې داده" داسي پوزه چې سیف سریجي او سراج ګرزېدلېده".

سوال: "انف" لکه "سیف سرجي او سراج" ډول ده. او په خپله سراج او سیف سریجي نه ده؟

جواب: دلته شاعر د مشبه او مشبه به د اتحاد ادعاء کړېده. او عبارت بناء په دغه دی.

حاشیه نمبر۸:

سوال: په مسرج کې اول او دوم قولونه کوم دي؟

جواب: ۱: مسرج معني ده منسوب بسوی سریجي. د منسوب او منسوب الیه تر مینځ مناسبت په باریک والي کې ده، یعني لکه څرنګه د سریجي توره باریک او سیده وی دغه ډول د محبوبه پوزه سیده او باریک ده. (ابن درېده).

۲: منسوب بسوی سراج او علاقه د مناسبت داده لکه څرنګه څراغ روښانه او ځلیږی دغه ډول ددې پوزه هم ځلیږی. (ابن یده)

سوال: په دغه دوو تفسیرونو کې کوم یو د ترجیح وړ دی؟

جواب: دوم تفسیر د ترجیح وړ دی، ځکه شاعر په دغه شعر سره د خپل محبوبې صفت او تعریف بیان کړی دی. او ځلېدنه مطلقاً حسن او ښائست وی، لهذا دغه کې مطلقاً تعریف او صفت دی. په خلاف د دوم تفسیر ځکه باریک والي د پوزی کله صفت وی او کله بیا نه وی.

سوال: شارح رحمه الله مقصد د دې قول "هذا قریب الخ" څخه څه دی؟

جواب: مقصود د تخریج دوم ترجیح ثابتونه ده داوول چې دوم تفسیر قریب د "سرج وجهه" سره دی، (ځکه په دوم تفسیر کې علاقه د مناسبت زلېدنه ده، او دغه مطلقاً موجب حسن لره دی)، په خلاف د اول تفسیر (ځکه په دغه کې علاقه د مناسبت باریکوالي او سیدها والي دی. او دغه باریک والي کله موجب او سبب حسن لره وی او کله بیا نه وی). څرنګه دوم تفسیر مطلقاً موجب حسن لره وو (او په دغه معني سره په عربي ژبه کې "سرج" استعمال سوی دی لکه "سرج وجهه") نو دده مناسبت د "سرج وجهه" سره زیات کامل دی، او اول تفسیر مطلقاً موجب حسن لره نه وو، په دغه وجه دده مناسبت د "سرج وجهه" سره کم سو په دغه وجه دوم تفسیر تر اول ترجیح پیدا کړه. نه وی.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: څه وخت "سرج الله وجهه" په معنی سره د "بهجه و حسنه" په کلام کې د عربو موجود وو، نو په دغه وخت کې په دې قول کې د شاعر "مسرجا" و بعید تخریج ته ضرورت نسته. بلکه موږ "مسرجا" مفعول مشتق د "سرج" څخه (کوم چې په معنی سره د "بهج" دی) ګرزوو. نو اوس په دغه صورت کې "مسرجا" غریب نه سو؟

حاشیه نمبر ۱۰:

اول جواب: د هغه اهل معاني "کوم چې "مسرجا" غریب ګرزوي" په علم کې داخبره راغلې نه ده چې "سرج" په معني سره د "بهج" په عربي ژبه کې استعمال سوی دی. که څه هم دغه استعمال "سرج په معني سره د بهج" د عرب العرباء په کلام کې وجود لري.

حاشیه نمبر ۱۱:

دوم جواب: داخبره ممکن ده چې مؤلدینو په خپلو کلامونو کې "سرج" په معني سره د "بهج" (په معني سره د "حسن") استعمال کړی وي. نه عرب العرباء. لهذا د عجاج شاعر "چې دی د جاهلینو څخه وو" قول مشتق د "سرج" په معنی سره د "بهج" نه سي کېدای. ځکه عجاج مخکې تر

Maktaba Tul Ishaat.com

مؤلدینو تپر سوی دی نو ۍده کلام مخکني او د مولدینو کلام ورسترني دی، او د مخکني کس کلام د ورسترنیو د کلام څخه مشتق کېدای نه سي.

حاشیه نمبر ۱۲:

درېیم جواب: "سرج" په معني سره د "بهج" په خپله غریب دی. او دی و یو بعید تخریج ته احتیاج لري. او هغه تخریج دادی: "سرج وجهه" په نسبت تشبیهي باندي دا ډول حمل دی چې ددې قول " سرج الله وجهه" معني دا "نسب الله وجهه الی السراج" وگرزی په دا ډول سره چې الله ﷻ دده مخ داسي وگرزوي لکه سراج په بریق او لمعان کي. یادي دا ډول وگرزی" نسب الله وجهه الی سیف السریجي" په دا ډول سره چې الله ﷻ ده لره دي مخ داسي وگرزوي لکه د سریجي توره په استواء او دقت کي. لهذا د "سرج" معني حقیقي "حسن" نه ده. بلکه دغه معنی مجازي د "سرج" ده. ځکه "حسن" د معني حقیقي سره د "سرج" مناسبت لري. او معني حقیقي ئې نسبت د مفعول و سراج یا سیف سریجی ته دی. ځکه مفعول د "سراج" او د "سیف سریجي" سره مشابهت لري.

حاشیه نمبر ۱۳:

مورد دا خبره نه منو چې "سَرِج" یا "سرَج" د باب ځخه د غرابت دی ځکه صاحب مجمل اللغة دده معني په خپل کتاب کي ذکر کړېده. او ویلي یې دي: حسنه و بهجه. نو اوس و تخریج بعید ته ضرورت نسته، او نه دغه غریب دی.

حاشیه نمبر ۱۴:

ددې حاشیه د بیان ځخه مخکي د یوې فائدې ذکر ضروري دی. خلاصه ددغي فائدې داده چې خلخالي په مصنف باندي په "ایضاح" کي اعتراض کړي وو. او عبارت د مصنف په "ایضاح" کي دا ډول وو "و الغرابة ان تکون الکلمة وحشیة لا یظهر معناها. (الایضاح ۴)". او د خلخالي د اعتراض خلاصه داده چې غرابت و "کون الکلمة غیر مشهورة" ته ویل کیږي. او عدم شهرت د معتاد مقابل دی. او دغه عدم شهرت دیو قوم په وراندی وی او دبل قوم په وراندی بیا نه وي. او دغیر مشهور عذبه (شیرین، خوږ) کېده جائز دی. او وحشیت بیا دې ته ویل کیږي چې دې په داسي ترکیب مشتمل وي چې دهغه ځخه طبعیت نفرت کوي. او مشتمل والي په داسي ترکیب

مقابل د عذبه دی. لهذا غربت اعم تر وحشي دی. نو تفسیر د غریب په وحشي سره کول ښه نه دی. ځکه دغه د اخص تفسیر په اعم سره کول دی. انتهی ما فیه الفائدة.

ورسته تر دې خلاصه دحاشیه دادې چې د اعتراض کونکي دغه کلام "بل الوحشیة" اضراب او او ښتل د دې څخه " د غرابت تفسیر په وحشیت سره کول ښه نه دی" و دې کلام ته دی چې تعریف د فصاحت په هغه سره(الفصاحة فی المفرد) چې مصنف کړې دی فاسد دی. ځکه د وحشیت قیدیو زائد شي دی(یعنی دعه قید د غرابت د مفهوم څخه "کون الکلمة الخ" خارج دی). او دغه عین مفهوم د غرابت نه دی. لکه د انسان مفهوم بالقیاس و مفهوم ته د بشر .او نه په مفهوم کې د غرابت د خل دی.لکه دحیوان مفهوم بالنسبت د انسان و مفهوم ته. او په فصاحت کې د مفرد وحشیت سلباً معتبر دی. نو د دې قید "خلوص عن الوحشة" ذکر کول په تعریف کې د فصاحة ال"مفرد "(فصاحة المفرد خلوص عن الوحشیة الخ)"ضروری دی. او حال داچې دغه مصنف ذکر کړې نه دی

سوال: په تعریف کې د فصاحة المفرد و ذکر کولو ته د قید د وحشیت ضرورت نسته. ځکه د غرابت عدم او وحشیت خاص دی. او خلوص د عام خلوص لره د خاص مستلزم دی؟

اجواب: و دغه قید ته په تعریف کې د فصاحة المفرد ضرورت سته. ځکه سلب د عام سلب لره د خاص مستلزم وی. مګر دغه تعریف نه دی.او په تعریف کې دلالت التزامي ممنوع وی. نو په سلب سره د عام د سلب څخه د خاص کفایت کول په تعریف کې ممنوع دی.

حاشیه نمبر ۱۵:

مراد د وحشي څخه(کوم چې په تعریف کې د غرابة واقع سوی دی) دغه معني "غیر مشهور الاستعمال" (لکه سوال کونکي ویل) مراد نه ده. که چیرې دغه معني مراد وای نو بیا ستا اعتراض واردېدی بلکه د وحشي څخه مراد دامعني "غیر ظاهر الدلالة و لا مأنوس الاستعمال" ده.

سوال: " و الوحشي قسمان" پر چا عطف دی؟

جواب: دغه پر دې قول" الوحشي منسوب الي الوحش الخ" عطف دی. او هغه اول مقول لپاره د "قالوا" دی او دغه دوم مقول لپاره د "قالوا" دی.

سوال: اول مقول د څه لپاره دی او دوم لپاره د څه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: اول لپاره د اثبات ددې خبرې دی چې دلته د وحشي څخه مراد د سوال کونکي بيان سوې معني لپاره د وحشي نه ده بلکه پرته د هغه څخه مراد ده. او دوم مقول لپاره د اثبات ددې خبرې دی چې د غربت وينا پر وحشي (غير مانوسة الاستعمال) تر سره کيږي.

عـــه:

سوال: د وحشي تفسير په ډې معني سره "هر هغه کلمه کومه چې پر داسي ترکيب مشتمل وي چې: هغه څخه طبعيت نفرت لري" ولي نه وسو او حال دا چې دغه تفسير ددوی په کتابونو کې ذکر سوی دی؟

جواب: په دغه تفسير کې دوې خرابې پېښيږي.

۱: غرابة په تعريف کې د فصاحة المفرد راغلي دی. اوپه دغه تعريف يو قيد د تنافر الحروف زاغلي دی. او تنافر الحروف څخه مراد دادی چې کلمه پر داسي ترکيب مشتمل وي چې د هغه څخه طبعيت نفرت لري په دغه وجه ددې ادا ئه پر ژبه سخت او ثقيل وي. لهذا د تنافر الحروف ورسته غرابة په دغه معني سره مستدرک دی او مستدرک صحی په تعريف کې نه وي په دغه وجه شارح د وحشي تعريف په "غير ظاهر الدلالة" سره وکړی.

۲: که چيرې د وحشي تعريف په دغه سره وسي لکه تا چې وويل نو بيا د دغه وحشي راوړنه په تعريف کې د غرابت صحت نه لري. ځکه غرابت جلا او وحشي په دغه معني سره جلا شي دی. او تعريف د شي په مساوی سره کيږی نه په بل سره.

عـسه:

دغه جواب د يو سوال مقدرَ څخه دی، تقرير د سوال دادی چې "سرَج" په معني سره د "حسَن" د مولدينو د کلام څخه گرزول ښه دليل خبره ده، ځکه په دغه تفسير سره "سرَج" بمعني "بهج" په مجمل اللغة کې موجود دی. او صاحب د مجمل اللغة مولد نه دی؟

جواب: صاحب مجمل اللغة د سرج معني حسن او بهج بيان کړيده او بيا په دغه باندی استدلال په دغه مصرعه سره «مرسنا و مرجا» ويلي ده. لهذا سرج په معني سره د حسن کېدني ثبوت په دغه مصرعه سره ده کړی دي. اوس که چيرې مورږ دا و وايو چې مسرج په معني سره د حسن دی او په دغه باندی دليل په قول سره د صاحب مجمل اللغة ووايو نو دلته مصادرة (نتيجه د دليل جزء کېدنه) لازميږی دادول چې زمورږ د خبرې په صورت کې مدعي او نتيجه دغه مصرعه

ده چې په دغه کې راغلي "سرج" په معنې سره د "بهج" او حسن دی. او دليل پر دغه قول د صاحب المجمل دی. او صاحب المجمل پر دې خبره دليل چې "سرج" په معنې سره د "بهج" دی دغه مصرعه ده. لهذا زموږ د مدعي دليل قول د صاحب المجمل دی. او د صاحب المجمل د قول دليل مصرعه ده، نو زموږ د دعوی د دليل (قول د صاحب المجمل) په ضمن کې دغه مصرعه راغلل، لهذا په دليل کې مدعي او نتيجه راتلل مصادرت دی کوم چې باطل دی نو دا خبره ثابت سوه چې صاحب المجمل قول دليل د دغه مصرعه نه سي جوړېدلای.

صفحه نمبر ۲۰:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

ان تكون الكلمة على خلاف القانون المستنبط من تتبع لغة العرب اعني مفردات الفاظهم الموضوعة اوما هو فى حكمها كوجوب الاعلال فى نحو قام والادغام فى نحو مد وغير ذلك مما يشتمل عليه علم التصريف واما نحو ابى يأبى وعور واستحوذ وقطوشعره وآل وماء وما أشبه ذلك من الشواذ النادرة فى اللغة فليست من المخالفة فى شئ لانها كذلك ثبتت عن الواضع فهى فى حكم المستثناة فكانه قال القياس كذا وكذا الا فى هذه الصور بل المخالفة ما لا يكون على وفق ماثبت عن الواضع (نحو) الاجلل بفك الادغام فى قوله (الحمد لله العلى الاجلل) والقياس الاجل (قيل) فصاحة المفرد خلوصه مما ذكر (ومن الكراهة فى السمع) بان يكون السمع من سماعه كثيرا من سماع الاصوات المنكرة فان اللفظ من قبيل الاصوات والاصوات منها ما تستلذ النفس بسماعه ومنها ما تستكرهه (نحو) الجرشى فى قول ابى الطيب فى مدح سيف الدولة ابى الحسن على مبارك الاسم اغر اللقب (كريم الجرشى) اى النفس (شريف النسب) فالاسم مبارك لموافقة اسمه اسم امير المؤمنين على بن ابى طالب رضى الله عنه واللقب مشهور بين الناس والاغر من الخيل الابيض الجبهة ثم استعير لكل واضح معروف (وفيه نظر) لانها داخلة تحت الغرابة المفسرة بالوحشية لظهور ان اجرشى اما من قبيل تكائكا تم وانزنقوا او الجعيش والطحم وقد ذكر ههنا وجوه اخر الاول انها ان ادت الى الثقل فقد دخلت تحت التنافر والا فلا تخل بالفصاحة الثانى ان ماذكره هذا القائل فى بيان هذا الشرط ان اللفظ من قبيل الاصوات فاسد لان اللفظ ليس بصوت بل كيفية له كما عرفت فى موضعه وضعف هذين الوجهين ظاهر الثالث ان الكراهة فى السمع راجعة الى النفس فكم من لفظ فصيح يستكره فى السمع اذا ادى بنغم غير متناسبة وصوت منكر وكم من لفظ غير فصيح يستلذ اذا ادى بنغم متناسبة وصوت طيب وليس بشئ للقطع باستكراه الجرشى دون النفس سواء ادى بصوت حسن اوغيره وكذا جفخت وملع دون فغرت وعلع الرابع ان مثل ذلك واقع فى التنزيل كلفظ ضيزى ودسر ونحو ذلك وفيه ايضا بحث لانه قد يعرض لاسباب الاخلال بالفصاحة ما يمنع السببية فيصير اللفظ فصيحا فان مفردات الالفاظ تتفاوت باختلاف المقامات كما سيجئ فى الخاتمة ولفظ ضيزى ودسر كذلك

مخالفت د کلمه د هغه قانون خلاف راتلنه وی کوم چې د تتبع څخه د لغت عرب مستنبط سوی وی. یعني ددوی د الفاظو څخه هغه مفردات «حقیقیه» چې وضعه سوی وي او یا هغه الفاظ چې د مفرداتو حقیقیو په حکم کې وي. د مثال په توګه د اعلال د کولو د وجوب قانون لکه "قام". لکه د ادغام وجوب به "مدّ" او په پرته کې دده په کوم باندی علم الصرف مشتمل وی. بهر حال "ای، یاي، عور او استحود قطط شعره" او "ال و ماء" او نور په مثل دوی هغه شواذ کوم چې په لغت کې ثابت سوی دي. لهذا دغه د هغه قیاس څخه نه دي کوم چې د قانون په خلاف وی. ځکه ددوی وضعَ د واضع څخه هم دغسې ثابت سوېده. لهذا دغه د استثناء په حکم کې دي ګواکې واضع داسې وینا اتر سره کړه چې قانون دغه او دغه دی مګر په دغه صورتونو کې دغه قانون نه دی. بلکه د قانون مخالفت دادی چې کلمه د هغه استعمال موافق نه وی کوم چې د واضع څخه ثابت سوی دی. د مثال په توګه کلمه د "اجلل" ببله ادغامه په دې قول کې "الحمدلله العلي الاجلل" راغلې دی. او قیاس "اجل" دی. ویل سوی دي چې فصاحت د مفرد خالي والي د مفرد ددغه ذکر سوی شیانو څخه دی، او سره ددې خالي والي د کراهت في السمع څخه هم دی. دا ډول چې غوږ د ده د اورېدولو څخه داسې ببزاره سي لکه د منکر او خراب آوازو د اورېدنې څخه. ځکه لفظ د آواز د قبیلې څخه دی. او د بعضو آوازونو په اورېدو لو سره نفس خوند اخلي. او د بعضو د اورېدولو څخه بیا بد وړی. لکه د "الجرشي" په قول کې دابي طبیب کوم چې ده دغه په تعریف کې سیف الدولة ابو الحسن علي کې تر سره کړی دی. اسم یې ښه او لقب یې زلانده نفس یې بزرګ او نسب یې مشرف دی. نوم یې ځکه مبارک دی چې دغه د نوم سره د امیر المؤمنین حضرت علي ﷺ موافق دی. او لقب یې په خلکو کې مشهوره دی. او "اغر" په اصل کې په تندی کې سپین ټکي لرونکي آس ته ویل کیږی. بیا د هر واضح شي لپاره په حیثیت د استعاري استعمال سو. ﴿او په دغه کې نظر دی﴾ ځکه دغه کراهت في السمع په هغه غرابت کې داخل دی دکوم تفسیر په وحشي سره وکړل سو. ځکه دا خبره ښکاره ده چې الجرشي یا د قبیلې څخه د "تکاکاتم ، افرنقعوا" او یا د قبیلې څخه د "جحیش" او د "اطلخم" دی. او دلته نوری وجوهاتي هم بیان سوی دي. اولني وجه داده چې کراهت في السمع که چیرې ثقالت ته په ډېره باندی رسي نو دغه درج لاندی تر تنافر دی. که چیرې دغه ډول نه وی نو بیا فصاحت ته خلل نه رسوی. او دویمه کومه چې دغه قائل په بیان کې ددغه شرط بیان کړېده هغه داده چې لفظ د اصواتو د قبیلې څخه دی او دغه فاسد دی، ځکه لفظ آواز نه دی بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com

د آواز یو کیفیت دی. لکه څرنګه تادغه په خپل خای کي پیژندلي دي. او ددغه دواړو وجهو ضعف ښکاره دی. اودریمه توجیه داده چي د کراهت في السمع رجوع و آواز ته ده . نو ډیر فصیح لفظونه چي څه وخت دوی په بد آواز سره ادا سي نو هغه د سمعي لپاره کریه معلو میږی. او ډیر کریه الفاظ چي په ښه آواز سره ادا سي نو په هغه باندی نفس خوند اخلي. او دغه توجیه په دغه قبل باندی د رد کونې لپاره مفیده نه ده، ځکه دغه خبره یقیني ده چې لفظ د الجرشي په سمعَ باندی کریه وی نه لفظ د نفس «چي مرادف د جرشي دی»،عام تر ددي دده اداینه په ښه اوکه په بد آواز سره وسي. او دغه ډول دا الفاظ "جفخت، ملع، فخرت، علم" کریه په سمعَ باندی دي. ځلورمه توجیه داده چي د جرشي غوندي الفاظ په قرآن کي هم واقع سوی دي لکه لفظ د "ضیزی ، دسر" اوددوی غوندی نور هم دي. او په دغه ځلورمه توجیه کي هم بحث دی ځکه کله کله و هغو اسبابوته چي فصاحت لره خلل رسونکي دي داسي شیان ورعارض سي چي ددوی سببیت منعَ کوي د کوم په وجه سره هغه غیر فصیح ، فصیح و ګرزی. ځکه د الفاظو څخه مفردات د مقاماتو په اختلاف سره مختلفه کیږی. لکه دغه به ژر په خاتمه کي راسي. لفظ ضیزی او دسر دغه غوندی دي.

تشریح

اول: د مخالفت قیاس بیان: کلمه د الفاظو مفرده موضوعه د قانون په خلاف وی یعني د هغه په خلاف استعمال سوی وی کوم چي د واضع څخه ثابت سوی وی . خلاصه داده چي که چیرې یو کلمه داسي استعمال سي څرنګه چي واضع وضعَ کړې وی نو دغه ته موافق القیاس ویل کیږی.بیا عام تردي د قیاسي صرفي موافق وی لکه قام د اعلال سره، او مدّ ادغام سره. اوس دغه دواړه د واضع او صرفي قانون ددواړو موافق استعمال سوی دي. یا دغه کلمه د صرفي قانون په خلاف استعمال سوی وی.

مثال: ۱: ابی، یابی: اوس یابی د صرفي قانون مخالفَ دی ځکه یأبي مفتوح العین دی او د صرفي قانون موافق مضارع هلته مفتوح العین ګرزی څه وخت چي عین او یا لام کلمه د ماضي د حروفي حلقیو څخه وی، او دلته دغه ډول نه ده، مګر بیا هم مفتوح العین ده او دغه خلاف القیاس صرفي دی.

۲: عور، بعور: صرفي قانون دادی: هر هغه واو چې متحرک او مخکې حرف يې مفتوح وی نو دغه واو په الف سره بدليږی، او دلته واو متحرک او ماقبل يې مفتوح دی او بيا هم په الف سره بدل سوی نه دی نو د واو ثبوت خلاف القياس راغلي دی.

۳: استحوذ، يستحوذ: دايو صرفي قانون دی هرهغه واو چې متحرک اوما قبل يې حرف صحی ساکن وی نو دغه واو په الف سره بدليږی اوما قبل مفتوح وگرزی او دلته دغه ډول نه ده.

۴: قطط: چيری چې دوه هم جنسه حروف راسي هلته ادغام ترسره کيږی او دلته هم جنس حروف وجود لری مگر ادغام وجود نه لری نو دغه عدم ادغام خلاف القياس دی.

۵: آل: په اصل کې اهل دی بيا هاء په الف سره بدلَ سوه نو آل جوړ سو. او هيڅ يو صرفي قانون دا نه وايي چې هاء دي په همزه سره دي بدل سي.

۶: ماء: دغه په اصل کې "موه" وو. بيا هاء په همزه سره بدلَ سوه نو "موء" جوړ سو بيا واو په الف سره بدل سو نو "ماء" جوړ سو. لهذا استعمال د "ماء" د واضع د قانون موافق (ځکه دغه ډول وضعَ کړي دی) مگر د صرفي قانون مخالفه دی (ځکه کوم داسي صرفي قانون نسته چې د هغه موافق هاء په همزه سره بدليږی).

د مخالفة القياس مثال: ابوالنجم شاعر ويلي دی: الحَمْدُ للهِ العَلِيِّ الأجْلَلِ ◻ الواجِدِ الفَرِدِ القَدِيمِ الأوَّلِ ◻ انت مليک الناس ربّا فاقبل ◻ ثم الصلوة علي النبي الافضل. يعني ټوله تعريفونه د هغه څښتن لپاره ثابت دي کوم چې لوړ دي. يو او يووازي قديم او اول دي. او د ټولو خلکو مالک دي په داسي حال کې ته رب يې. پس زما دعاء هم قبوله کړه بيا په غوره ترينود نبيانو باندی دي درود وي.

محل استشهاد: لفظ د اجلل د هغه څه خلاف کوم چې واضع وضعَ کړی دي، ځکه د واضع څخه اجل په ادغام سره ثابته دي او دغه ډول د صرفي قانون هم خلاف دي، ځکه دا صرفي قانون دي چې په يوه کلمه کې د متجانسين د راتگ په صورت کې دوی ترمينځ ادغام خپليږی.

دوم: بعضو علماؤ فرمايلي دي چې فصاحت في المفرد لپاره يو شرط دادی چې د تنافر الحروف. غرابت او مخالفة القياس څخه به خالي وی او د دغه سره سره بل شرط دادی چې دغه مفرد به د کراهت في السمع څخه خالي وی، ددې شرط مطلب دادی چې په دغه مفرد کې

Maktaba Tul Ishaat.com

يه يو داسي وصف نه وي چې د هغه په وجه غوږد هغه اوږدل نه خوښوي. او د دغه د اوږد، څخه يو قسم کراهت پيدا سي.

مثال: ابو الطيب د سيف الدوله په مدح کې وويل: مبارك الاسم أغرّ اللقب كريم الجرشى شريف النسب. يعني د مبارک نوم خاوند او لقب يې مشهوره نفس يې ښه او نسب يې شريفه دی.

محل استشهاد: په دغه شعر کې الجرشي راغلي دی چې د دغه د اوږدو څخه يو قسم کراهت پيدا کيږی. او په غوږونو باندی يو قسم بار او درونوالي محسوسيږی. لهذا د دغه لفظ فصيح د وجي څخه د کراهت علی السمع دی.

﴿فائده﴾: د شعر بيان: شاعر ويلي دی چې زما د ممدوح نوم مبارک دی، ځکه دده نوم علي دی نو دده نوم د امير المؤمنين خليفه رابع د حضرت علي رضي الله عنه موافق دی. نو په دغه وجه دده نوم مبارک دی. **اغر اللقب:** دده لقب مشهوره دی ځکه دده لقب سيف الدوله دی. او سيف الدوله په پاچاهانو کې ډير مشهوره دی. **جرشي:** نفس. نو کريم الجرشي معني ده سخی نفسه. **شريف النسب:** نسب يې ښه دی ځکه دی د بنو عباس څخه دی.

محاسبه: مصنف رحمه الله فرمايي دغه قول ضعيفه دی ځکه د کراهت في السمع سبب په هغه غرابت کې داخل او تر هغه لاندی درج دی د کوم تفسير چې په وحشي سره سوی دی. لکه تكأكأتم او افرنقعوا. او د غرابت څخه د خالي والي مخکې لا شرط سوی وو، لهذا څه وخت چې يوه کلمه د غرابت څخه خالي وی نو هغه به د کراهت في السمع څخه هم خالي وی نو جلا د کراهت في السمع شرط لو ته ضرورت پاته نه دی.

﴿فائده﴾: بعضو علماؤ د دغه قول د رد لپاره څو توجيهاتي کړي دي، شارح په هغو باندی رد کوي.

اوله توجيه: د کراهت في السمع څخه به يا ثقالت پيدا کيږی او يا به نه پيدا کيږی، که چيری پيدا کيږی نو دغه بيا په تنافر کې داخل دی (او د مستقل ذکر کوني هيڅ ضرورت نسته)، او که ثقالت نه پيدا کيږی نو بيا فصاحت ته خلل رسونکي نه دی.

محاسبه: دغه وجه ضعيفه ده، ځکه مورږ وايو: د کراهت في السمع څخه ثقالت نه پيدا کيږی پاته دا خبره چې په دغه وخت کې (چې کراهت في السمع څخه ثقل نه پيدا کيږی) دغه کراهت في السمع و فصاحت ته خلل نه رسوی نو ددې جواب دادی چې کراهت في السمع و فصاحت ته

خلل رسونه په وجه د ثقالت نه وی بلکه د بلې وجې څخه وی هغه دا چې فصحاء لکه د الفاظو ثقیلو څخه ځانونه ساتي دغه ډول دهغه الفاظ څخه ځان ساتي کوم چې کریه علي السمع وی. نو په دغه وجه دغه مخل فصاحت لره دی.

دویمه توجیه: کوم چا چې خالوالي د کراهت في السمع په تعریف کې د فصاحت د شرط ګرزولو خبره کړه دغه صحت نه لری، ځکه ده ددغه شرط په بیان کې ویلي دي چې لفظ د قبیلې څخه د صوت دی،او موږ دغه خبره نه منو ،ځکه لفظ صوت نه بلکه د صوت یو کیفیت ادی. نو لفظ ته صوت ویل صحت نه لری.

محاسبه: دغه وجه هم ضعیفه ده ځکه په دغه توجیه کې اعتراض په هغه شي باندی وارد سوی دی(فان اللفظ من قبیل الاصوات) کوم چې په متن کې ذکر نه دی. لهذا اعتراض کول په هغه خبره په کار دی کوم چې په متن کې ذکر سوې ده، نه پر هغه کوم چې په متن کې ذکر نه دی.

اوکه چیری موږ دا خبره و منو چې اعتراض په هغه څه هم روا دی کوم چې په متن کې ذکر سوی نه وی،بیا خلاصه د جواب داده چې لفظ د آواز د قبیلې څخه دی،ځکه د لفظ مشهوره تعریف دا سوی دی:اللفظ صوت یعتمد علي مخرج من مخارج الحروف"(یعني لفظ یو داسې آواز دی کوم چې اعتماد په یوه مخرج د مخارجو د حروفو کونکي دی).نو ددغه تعریف موافق لفظ د آواز د قبیلې څخه دی.او علاوه تردې ددغه قول کونکي د دې قول څخه «من قبیل الاصوات» دا نه لازمیږی چې لفظ د آواز د قبیلې څخه دی، بلکه ددې مطلب دادی چې دغه لفظ یو کیفیت د آواز دی نه په خپله آواز، اوس اعتراض دفعَ سو.

دریمه توجیه: بعضو بیا ددغه وجې د ضعف وجه دا ښوولېده: د کراهت في السمع تعلق د نغمې او آواز سره دی نه د لفظ سره، او خبره دا ډول ده چې ډیر فصیح الفاظ چې څه وخت په بد آواز سره ادا سي نو هغه غوږونه کریه اوبد محسوسوی ،او کله بیا ډیر غیر فصیح الفاظ وی او ددوی وینا په ښه آواز تر سره سي نو بیا غوږونه ددوی په اوریدلو باندی خوند اخلي. لهذا د کراهت في السمع تعلق تر لفظ پوری ورکول صحت نه لری لکه دغه توجیه والا ویلي وه بلکه تعلق د آواز سره لری.

محاسبه: دغه وجه ضعیفه ده، ځکه د جرشي اوریدل په هر صورت کې غوږ کریه بولي عام اتردې په ښه اوکه په بد آواز سره یې ادا ینه وسي. په خلاف د هغه لفظ چې هم معني د جرشي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی کوم چې لفظ د نفس دی. نو د غه نفس کې چې آواز اوکه په بد آواز سره یې ادا ینه وسي په دواړو صورتونو کې کریه علی السمع نه دی. نو دا ثابته سوه چې د کراهت في السمع تعلق د لفظ سره دی نه د آواز سره.

څلورمه توجیه: که چیرې کراهت في السمع فصاحت لره خلل رسونکي وی نو بیا د دغه څخه احتراز په تعریف کې د فصاحت د مفرد ضروری دی، او د دغه سره سره دغه کریه في السمع الفاظ به په قرآن کې نه واقع کیږی، ځکه په دغه سره لفظ د فصاحت وزی (لکه ته چې وایې) او حال دا چې د جرشي غوندې الفاظ (کوم چې کریه في السمع دی) په قرآن کې واقع سوی دی، لکه ضیزی (په تلک إذاً قسمةٌ ضیزی. (النجم:۲۳) کې) او دسر، نو د دغه څخه دا معلومه سوه چې کراهت في السمع و فصاحت ته خلل رسونکي نه دی.

محاسبه: دغه وجه ضعیفه ده، ځکه دا خبره تسلیم سوېده چې کراهت في السمع و فصاحت ته خلل رسوی. پاته دا خبره چې دی ولي په قرآن کې واقع سوی دی د دې جواب دادی چې د کراهت في السمع سره کله داسي اسباب وجود پیدا کړي چې هغه فصاحت ته خلل رسونکي شیان د اثر کولو څخه وباسي، او دوی بې اثره پاته سي. لهذا لفظ د ضیزی هم دغه ډول دی (دا ډول چې کوم داسي لفظ نسته چې هغه د ده په ځای باندی واقع سي. ځکه دی په سورة النجم کې واقع سوی دی او د دغه سورت د آیاتونو په اخر کې یاء وجود لری لکه "وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَى وَهُوَ بِالأُفُقِ الأَعْلَى ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى عِندَ سِدْرَةِ الْمُنتَهَى عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَى إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى أَفَرَأَيْتُمُ اللاَّتَ وَالْعُزَّى وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأُخْرَى أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الأُنثَى تِلْكَ إِذاً قِسْمَةٌ ضِيزَى") ځکه په مفرد الفاظ کې د مقاماتو په اختلاف سره تفاوت او فرق راځي، او دغه خبره به په خاتمه کې د کتاب راسي.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

سوال: دغرابت تعریف کول په " کون الکلمة وحشیة" سره صحی نه دی. ځکه تعریف په ذاتي سره وي. او وحشي ذاتي لپاره د غرابت نه دی. او د شارح د دې قول څخه " و الوحشی قسمان" دا

لازميږي چې د وحشي په غږيينو باندې اطلاق کيږي. ځکه د مقسم په اقسامو باندې اطلاق ضروري وي. او د شارح د دغه قول څخه دا نه لازميږي چې د غه صدق ذاتي دی؟

جواب: تعريف په ذاتي سره کول لازم نه دی. بلکه تعريف کول په هر هغه شي سره صحي وي کوم چې معرَف د معرِف د اغيارو څخه جلا کوي. بيا عام تر دې حقيقي.لفظي،حدي او که رسمي وي.(کافيه ۲، نکتة علی قول ابن الحاجب "حد کل واحد منهما)

سوال: که چيرې دا در سره و منو چې صدق د وحشي په غږيينو باندې ذاتي دی. بيا تفسير د غرابت په وحشي سره کول صحي نه دی. ځکه دغه تعريف د اخص په اعم سره دی. او دغه تعريف د متأخرينو په وړاندې صحت نه لري؟

جواب: دهغه وحشي څخه "کوم چې په تعريف کې د غرابت راغلي دی" مطلق وحشي مراد نه دی بلکه هغه وحشي مراد دی کوم چې فصاحت ته خلل رسونکي وي .لهذا دغه تعريف د اخص په اعم سره نه سو.

دوم نمبر اول حاشيه:

په دې حاشيه کې څو تحقيقه دی.

اول: د وحشي بيان: ۱): وحشي" د کوم بيان چې شارح په دې الفاظو سره غير ظاهر الدلالة على المعنى ولامانوسة الاستعمال وکړي"هر هغه لفظ دی د کوم دلالت پر معني باندې ښکاره نه وی او نه مانوس الاستعمال وی.

۲): وحشي" د کوم چې معترض په دې الفاظو سره بيان وکړي:المشتملة على التركيب يتنفر عنه الطبع. " هر هغه لفظ دی کوم چې مشتمل په يو داسې ترکيب وی چې د هغه څخه طبعيت نفرت کوی.

۳): وحشي" کوم چې عام ،مقسم او تعريف يې په دې الفاظ سره سوی دی:ما يكون غير ظاهر المعنى و لا مانوس الاستعمال سواء كان بالنظر الى الاعراب الخلص او بالنظر غير الخلص.(الجلبی۱۰۳)" هر هغه لفظ دی د کوم معني ښکاره نه وی،او خلک يې داستعمال سره اشنا نه وی بيا عام تر دې بالنسبت و اصلي غربو ته وی او که نه وی.

دوم: سوال: دغه عبارت " الوحشی قسمان" صحی نه دی. ځکه دغه ځای د ضمير د استعمالولو دی. ځکه د علم نحو يوه قاعده ده چې يو اسم يو وار د اسم ظاهر په صورت کې

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر سي نو دوه خل به دغه اسم په صورت کي د ضمیر ذکر کیږي. لهذا دلته په ذکر کونه کي: اسم ظاهر پر ځای د ضمیر کي څه نکته ده؟

جواب: شارح دلته دا خبره بنوول غواړي چې مقسم "وحشي" په عبارت کي په هغه معنی سره دی کوم چې شارح په هغه معني سره "غیر ظاهر الدلالة" مخکي ذکر کړي. او نه په هغه معني "المشتملة علی الترکیب الخ" سره دی کوم چې اعتراض کونکي مخکي ذکر کړي. بلکه دلته مقسم په عامّ معني سره مراد دی. (ځکه حسن غریب د دغه وحشي قسم گرزول سوي دی. سره د دې چې دغه حسن غریب وحشي د اهل معانی په وړاندی معتبر نه دی)، اوس که چیرې شارح ضمیر ذکر کړي وای نو بیا توهم د دې خبرې کیدې چې دلته مقسم "و حشي" په هغه مخکني معني سره مراد دی.

څلورم: د تدبر بیان: په تدبر کي اشاره و یو سوال ته کېدای سي. خلاصه د سوال داده چې د دغه عبارت څخه "الوحشی قسمان" د شارح ظاهراً حصر د وحشي په دوو قسمونو کي معلو میږي. حال داچې وحشي په دوو اقسامو کي حصر نه دی. بلکه دوحشي درې قسمونه لري. ۱): دلالت یې په معني ظاهر نه وي او نه مأنوس الاستعمال وي. ۲): غریب قبیح. ۳): غریب حسن؟

جواب. د شارح مقصد په دغه عبارت سره حصر د وحشي په دوو اقسامو کي نه دی چې بیا اعتراض وارد سوي وای.

پنځم: د معز الدین د قول بیان: مقصد د معز الدین اعتراض په علامه چلپي باندي کول دی. خلاصه د سوال داده چې غریب قبیح او غیر ظاهرة الدلالة علی المعنی الخ د غه دوارې متحد دي. او دغه دوارې مستقل قسمونه د وحشي نه دي. اوس که د شارح مقصد په دغه عبارت سره "الوحشی قسمان" حصر نه وي نو بیا دغه اعتراض نه واردیږي؟

جواب: خلاصه د جواب داده: کوم معني چې شارح د قوم څخه نقل کړیده (ان یکون مع کونه غریب الاستعمال الخ) دا ده چې غریب قبیح یو قسم دی. او هغه معني "غیر ظاهر الدلالة" چې شارح مخکي ذکر کړې وه دغه دوم قسم د غریب قبیح دی. ځکه هغه غریب چې فصاحت ته خلل رسونکي او مسمی په فصاحت قبیح سره وي یو قسم دادي چې په سمع باندي ثقیل او په ذوق باندي قبیح او معنی ئې ظاهر او استعمال ئې مشهور نه وي. او دوم قسم ئې دادي چې صرف ظاهر

المعنى او مأنوس الاستعمال نه وي. لهذا دا دغو دوه قسمونه متحد على صحت نه لري. (المعصل ۱۳۴/ج۲)

﴿فائده﴾: د عاجز په وړاندې خبره داده چې په تدبر کې اشاره وحصر ته د وحشي په قسمونو کې ده. ځکه وحشي به دوه حالو څخه خالي نه وي. فصاحت لره هم خلل رسونکي وي او يا به نه وي. که چيرې نه وي دغه ته حسن غريب ويل کيږي. او که چيرې خل رسونکي وي دغه ته بيا غريب قبيح ويل کيږي. او د غريب قبيح بيا څو اقسامو دي. فتفكر فكرا صحيحا.

حاشيه نمبر ۲:

سوال: تعريف د فصاحت في المفرد جامع نه سو. ځکه د قرآن او د احاديثو غرائب ځني وواته. (لهذا دوی فصيح نه سوه او حال داچې د قرآن او د احاديث غرائب فصيح دي) ځکه د فصاحة في المفرد په تعريف کې د غرابت قيد راځني دی. معنی ئې داده چې فصاحت في المفرد به د غرابت څخه خالي وي. او حال دا چې غرائب د قرآن او د احاديثو هم غرائب دي؟

جواب: تعريف د فصاحت في الغرابة صحي دی. ځکه په فصاحت في المفرد کې معتبر "نفيا" غريب قبيح دی. او په قرآن او احاديثو کې غرائب قبيحه نسته.

سوال: د غرابت هغه تعريف چې شارح "غيرظاهر الدلالة" رانقل کړي دی صحي نه دی. ځکه د غرابت عام دی. او په غرابت عامه کې "غير ظاهر الدلالة" معتبر نه دی. ځکه د غرابت عامه تعريف دادي "كون الكلمة غير مشهور الاستعمال"؟

جواب: په فصاحت في المفرد کې معتبر غرابت قبيح دی نه عام غرابت. او په دغه غرابت کې "غير ظاهر الدلالة" معتبر دی.

حاشيه نمبر ۳:

سوال: موږ دا خبره نه منو چې وحشيت د کلمه و فصاحت ته د کلمه خلل رسوي، ځکه مراد د وحشي څخه دا معنې "هر هغه لفظ چې پر داسې ترکيب مشتمل وی د کوم څخه چې طبعيت نفرت لری" نه ده. بلکه د دې څخه سوا بله معنې مراد ده. لهذا په دغه صورت کې وحشيت و فصاحت ته خلل نه رسوي؟

جواب: که چيرې د وحشيت څخه هغه معنې کوم چې تا ذکر کړه مراد نه وی نو بيا به دا معنې مراد وی "هر هغه کلمه چې مأنوس الاستعمال نه وی". په دغه صورت کې بيا هم وحشيت و فصاحت

Maktaba Tul Ishaat.com

ته خلل رسوي. ځکه معانيو فصاحت عبارت ددې څخه "هر هغه لفظ چې هغه د قانون موافق استعمال يې زيات او د هغه عربو (چې عربيت يې ثقه وي) په مينځ کې يې استعمال زيات وي" بللې دي". او هر هغه کلمه چې مأنوس الاستعمال نه وي د هغې استعمال د عربو په مينځ کې کم وي. لهذا دغه غير مأنوس الاستعمال کلمه فصيح کېدلای نه سي. (ځکه کلمه فصيحه مأنوس الاستعمال وي او وحشي غير مأنوس الاستعمال وي نو مأنوس الاستعمال د غير مأنوس الاستعمال سره يو ځای کېدای نه سي په دغه وجه وحشي کلمه فصيح کېدای نه سي).

حاشيه نمبر۴:

دلته محشي د فساد ظهور ښئي. خلاصه داده چې څرنګه کلمه فصيحه مانوس الاستعمال وي او وحشي غير مأنوس الاستعمال وي په دغه وجه کلمه فصيحه وحشيه کېدای نه سي.

حاشيه نمبر۵:

سوال: "ما هو في حكمها" څخه څوک مراد دی؟

جواب: لکه اسمي منسوب (د مثال په توګه افغاني، بغدادی).

سوال: آيا د اسمي منسوبَ څخه هم په صرفُ کي بحث کيږی؟

جواب: هو، د مثال په توګه څه وخت چې د مؤنث نسبت و يو شي ته وسي نو په دغه وخت کي تاء حذفيږی لکه مکي، بغدادی، لهذا دلته مکية او بغدادية نه ويل کيږی بلکه د صرفي قانون موافق دغه تاء حذفيږی. او دغه ډول علامه د تثنيه او دغه ډول د جمعي هم حذفيږی.

سوال: اسمي منسوب د ياءِ نسْبتي او اسمِ مجرد څخه مرکب وی لکه "بغدادی". اوس دغه د ياء نسبتي او بغداد څخه مرکَب دی. لهذا اسمِ منسوب مرکب دی نو بيا دغه څرنګه د مفرد په حکم کي ګرزېدلي دی؟

جواب: ياء نسبتي داسي ده لکه جزء د کلمه. لهذا څه وخت چې دا متصلَ د يو اسم سره سي نو په دغه وخت کي دغه د جلا کلمه حکم نه لری بلکه دغه داسي ده لکه جزء د کلمه. او دغه ډول دغه اسمي منسوب د مشتق په حکم کي وی د مثال په توګه "بغدادی" نو دغه په حکم کي د "منسوب بسوی بغداد" دی. او "منسوب" مشتقي لفظ دی.

حاشيه نمبر۶:

دغه جواب د يو سوال مقدر څخه دی، تقریر د سوال دا دی چې دغه راتلونکي الفاظ د صرفي قانون په خلاف استعمال سوی دي دا دول چې "ابی، یابی" د باب څخه د "فتح یفتح" دی، او د دغه باب تقاضي داده چې د دغه باب عین یا لام کلمه به د حلقي حرف نه څخه وی او حال دا چې په "ابی، یابی" کي دغه دول نه ده نو دغه د قانون صرفي په خلاف راغلي دي. او دغه دول "عور، یعور" هم د صرفي قانون مخالف راغلي دي ځکه صرفي قانون دا دی چې هر هغه واو چې متحرک او ما قبل یې مفتوح وی نو دغه واو په الف سره بدلیږی. نو د قانون موافق دغه "عار، یعار" په کار وو نه "عور، یعور" د قانون مخالف راغلي دی. دغه دول "قطط" د قانون مخالف راغلي دی ځکه قانون صرفي دا دی چې دوه متجانسین چې په یوه کلمه کي واقع سي نو هلته ادغام ترسره کیږی کوم چې دلته ترسره سوی نه دی. دغه دول په "آل، ماء" کي د قانون صرفي څخه مخالفت دا دول ترسره سوی دی چې صرې قانون دا دی چې ثقیل حرف په خفیف سره بدلیږی. مګر دلته خفیف حرف په ثقیل سره بدل سوی دی. ځکه "آل" په اصل کي "اهل" وو (ځکه د آل تصغیر اهیل راځي) او د ماء اصل ماه وو (ځکه د ماء جمع میاه راځي، او جمع شي اصل ته ردوی). لهذا دغه قول الفاظ د صرفي قانون د مخالفت په وجه سره غیر فصیح ګرزونه په کار وه او حال دا چې دغه قول فصیح دي؟

حاشیه نمبر ۷:

سوال: "اجلل" کلمه نه ده، ځکه "اجلل" پر دغه وزن باندی وضع سوې نه ده، بلکه دغه پر وزن د "أَجَلّ" یعني "أَفْعَلّ" وضع سوېده؟ لهذا "اجلل" کوم وزن نسته په دغه وجه دغه کوم کلمه نه ده؟

جواب: "اجلل" په وضع نوعي سره وضع سوي دی. ګواکي واضع داسي وویل "هر هغه لفظ چې پر وزن د افعل وي هغه ما د دلالت پر زیات والي لپاره وضع کړی دي. ځکه د اهل معانیو په دې خبره سره تصریح کېده چې "اجل" په اصل کي "اجلل" وو، نو دغه تصریح تقاضی د حکم په دې سره کوي چې "اجلل" موضوع دی. ځکه وجود د فرعي بېله د وجود د اصل نه سي کیدای. (محمد علی فی شرحه ۴۷۳/ج۱)

سوال: څه وخت چې "اجلل" یو لفظ موضوع سو او د واضع څخه دده وضع ثابت سوه نو بیا ډی د مخالفت لپاره مثال بلل صحی نه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: مراد د موضع څخه هغه وضع دد کوم چې د واضع څخه ثابت سوی وی او دغه ډول فصاحۀ هم په دغه وضع سره استعمال کړي وي. او "اجلل" دغه ډول نه دی. نو بیا دی مثال لپاره د مخالفت بلل صحی دی.

سوال: "اجلل" په شعر کې راغلي دی. او شعر هغه مخالفت منع کوی کوم چې سبب لپاره د عدمي فصاحت وي. لهذا اجلل غیر فصیح نه دی. او په دغه باندی قرینه دده راتلل په شعر کې دی؟

جواب: هغه شاعر چې د هغه عربیت د اعتبار وړ وی په شعر کې غیر فصیح لفظ راتلل منع دی. او کوم چې معتبر په عربیت کی نه وی د هغه په شعر کې لفظ غیرِ فصیح راتلل منع نه دی. او دغه ذکر سوی شعر د معتبر شاعر نه دی. (كذا قال عبد الرحمن بشر بيني في شرحه ۱۵۵)

حاشیه نمبر ۸:

سوال: دلته بعضو علماء ویلي دي چې لفظ هلته فصیح ګرزی چې اورېدل دده څخه بد نه وړی. که چیری بد ځني وړی نو بیا دغه لفظ فصیح کېدای نه سي. اوس په دغه خبره دلیل دادی چې لفظ د قبیلې څخه د آواز دی او آواز دوه ډولَ وی. یو هغه دی چې د هغه څخه اورېدل بد وړی، او بل هغه دی چې د هغه څخه اورېدل بد نه وړی. لهذا د آواز دغه دوه قسمونه وه نو لفظ چې یو قسم د آواز دی هغه دوه ډولَ دی د یوه ډول څخه اورېدل بد وړی او د بل ډول څخه بیا بد نه وړی. اوس اعتراض دادی چې د آواز په دوه ډولَ کېدو سره (۱: اورېدل بد ځني وړی. ۲: اورېدل بد نه ځني وړی) دا خبره نه لازمیږی چې الفاظ دي هم دوه ډولَ سي. ځکه د عام (آواز) د تقسیم سره د خاص (لفظ) تقسیم لازم نه دی (داډول چې آواز دوه ډولَ سو نو لفظ به هم ډولَ وی). لهذا د دغه دلیل (فان اللفظ من قبيل الاصوات ، و الاصوات الخ) ته ضرورت نه وو نو بیایې هم شارح دغه دلیل د دغه قول کونکي دلته راوړی نو دغه ولې؟

جواب: څرنګه دغه دلیل په ایضاح کي راوړل سوی وو شارح د هغه په اتباع سره دلته هم راوړي، او د دغه سره سره دغه ذکر کونه توطیه لپاره د دغه قول (الثاني ان ما ذكر هذا القائل في بيان هذا الشرط الخ) ده. په دغه وجه دلته دغه خبره شارح ذکر کړه.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: مورد دا خبره نه منو چې کراهت في السمع په غرابت کې داخل دی ځکه مفهوم او تعریف د غرابت چې بیان سوی دی په هغه کې کوم داسې لفظ نسته چې د هغه ځخه کراهت في السمع معلومیږی. لهذا کراهت في السمع په مفهوم کې د غرابت داخل نه دی (لکه دغه خبره د شرح ددې خبرې ځخه "تشهر الحرشی اما من قبیل تکاکائم الخ" معلومیږی ځکه د دغه دلیل ځخه دا خبره معلومیږی چې هغه الفاظ چې اورېدل بد ځني وړې هغه به یا د قبیلې ځخه د "تکاکائم" وی او یا به د قبیلې ځخه د "اطحم" وی. لهذا دغه کراهت في السمع مثال د غرابت د اقسامو د مثالونو ځخه یو مثال و کړزول سو نه د مفهوم ځخه د غرابت. نو دا معلوم سوه چې کراهت في السمع جزء د مفهوم ځخه د غرابت نه دی) په دغه وجه دغه قید صراحتاً ذکر کړل سوی دی. او دغه ډول دغه د غرابت ځخه بلل هم باطل دی؟

جواب: دلته مراد دا نه دی چې کراهت في السمع په مفهوم کې د غرابت داخل دی (که چیرې دغه ډول وای نو بیا به ستا اعتراض وارد سوی وای) بلکه دلته مقصد دادی چې احتراز د غرابت ځخه احتراز د کراهت في السمع ځخه راځي.

حاشیه نمبر ۱۰:

دلته محشي دا خبره ښئي چې احتراز د غرابت ځخه احتراز د "حرشي" ځخه دی، ځکه دغه حرشي به ددو حالتو ځخه خالي نه وی. ۱: دغه به هغه غریب وی د کوم ځخه اورېدل بد نه وړی او دغه ډول دروند پر ذوق سلیم نه وی. ۲: دغه به هغه غریب وی د کوم ځخه اورېدل بد وړی، او ثقیل پر ذوق سلیم وی. لهذا حرشي د کوم قبیلې ځخه هم سي نو په خلوص الغرابت سره دی د تعریف ځخه د فصاحت ووتي.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: دلته شارح رحمه الله ولي دوه صورتونه ذکر کړل او داسې یې وویل "اما(۱) من قبیل تکاکائم "(۲) او الجحیش"؟

جواب: ځکه غریب دوه ډول وی. ۱: محض مأنوس الاستعمال نه وی او دلالت یې پر خپله معني ښکاره نه وی. ۲: مأنوس الاستعمال د نه کېدو سره سره اورېدل بد ځني وړی او دروند پر ذوق وی. لهذا حرشي به یو د دغه دوو ځخه وی، څرنګه د غریب دغه دوه صورتونه وه په دغه وجه شارح دواړه ذکر کړه.

حاشیه نمبر ۱۲:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: د اورېدلو دبد ورلو څخه ثقل نه رائي. بلکه خبره ددې عکس ده دا ډول چې په ثقل سره د راوېدلو بد ورل رائي. لهذا ده شارح لره داسي وينا "ان نشات من الثقل" په کار ول؟

جواب: ددغه عبارت "ان ادت الى الثقل" معنى دا نه ده چې د اورېدلو بد ورل که چيرې مفضي و ثقل ته و ګرزيدي. بلکې معنې ئې دا ده "الكراهة متجاوزة الى الثقل أى تكون مع كونها كريهة على السمع ثقيلة على اللسان" که چيرې د کراهت سره سره ثقيل هم وو.

صفحه نمبر ۲۱:

عبارت

ذكر هذا القائل في بيان هذا الشرط إن اللفظ من قبيل الاصوات فاسد لان اللفظ ليس
بكيفية له كما عرفت في موضعه فتصحيح هذين الوجهين ظاهر الثالث فان الكراهة في
السمع راجعة الى المتكلم لكن من لفظ فصيح يستكره في السمع اذا أدّى بمخرج غير مناسبة وتنفر
منكره لكن من لفظ غير فصيح يستلذ اذا ادى بمخرج مناسبة وصوت طيب وليس شيء
للفظ باستكراه الطبع في دون النفس سواء ادى بصوت حسن أو غيره ولذا يحضر
ملح ونوادر في مجلس العلم الرابع ان مثل هذا واقع في التنزيل كلفظ ضيزى وضيزا ونحو ذلك
وفيه ايضا بحث لانه قد يعرض لا شكال لاجل القصاحة بهما مع العجمة فصير
اللفظ فصيحا فان مفردات الالفاظ يعرفها العرب بالخلاوة والملقامات كما يجيء في الخاتمة
واللفظ هيزى وضيزا كذلك والفصاحة في الكلام مرفوعة من ضعف التاليف وتنافر
الكلمات والتعقيد مع فصاحتها حال من الضمير في خلوص مبراي خلوصه او ذكر مع
فصاحة كلماته والحال انه مشتمل على تعزيز يدا جلا وشعرا مستشزا وانه مسرح ولا يجوز
ان يكون حالا من الكلمات في تنافر الكلمات لانه يستلزم ان يكون الكلام المشتمل
على الكلمات الغير الفصيحة متنافرة كانت ام فصيحة لانه صادق عليه انه خالص من تنافر
الكلمات حال كونه فصيحة فالاولى ان يقال ان الضعف ان يكون تاليفا جزء الكلام على خلاف
القانون النحوي المشهور فيما بين معظم فصحاء العرب وهو ما يوجد في كلام بعضهم
لفظا ومعنى نحو ضرب غلامه زيدا فانه غير فصيح وان كان مثل هذا الصورة ما حتى
لها اصلا بالنظر الى بعض المقول له مما يجاريه الاخفش وتبعه ابن جني لكثرة اقتضاء
الفعل للفصل كما قال امرا استشهد بقوله
الكلام
فعال كما عز فهان وقولهم الا رجلا
جانبه هشاذ لا يقاس عليه والثاني ان يكون الكلمات تقيلة على اللسان صعبة على
النقل كقولك ليس قريب بغير حرب لم يرد قبره صرد وقوله
الكلام وسوء ترتيب مثل قول الراجز وقبر حرب بمكان قفر وليس قرب قبر حرب قبر
ظاهر ما ذكره ان الضعف في الكلام يكون بامر راجع الى المتكلم وليس كذلك
فصاحت په کلام کې خالص والي د کلام د ضعف تالیف، د کلماتو د تنافر او د تعقید ځخه دی په
داسي حال کې چې دده کلماتي به فصیح وي» دغه حال د هغه ضمیر ځخه دی کوم چې متصل
دخلوص سره دی. یعني فصاحت د کلام دادی چې کلام به ددغه درو ذکر سوی شیانو ځخه
خالي وی ددې سره سره کلماتي به يې فصیح وي. اود «فصاحتها» دقید په توسط سره احتراز د مثل

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه د "ربد احلاق" او "شعره مستنزر" او "اشفه مسرح" څخه وکړي. او دا روا نه ده چې "فصاحة" دې فقيد د هغه کلماتو لپاره سې کوم چې په تنافر کلمات کې دي. ځکه د دغه څخه د هغه کلام فصيح والي راڅې کوم چې مشتمل په غير فصيح کلماتو وي عام تر دې متناثره وي او که نه وي. ځکه په دغه باندې دا څېره سادګيږي چې دغه کلام د تنافر څخه د کلماتو خالي دي په داسې حال کې چې دغه کلماتي فصيح وي، ته دغه خبره وفهموه. ﴿ضعف﴾ مرکب والي داجزاؤ دکلام د هغه نحوي قانون په خلاف وي کوم چې د نحاتو په مينځ کې مشهوره وي حتي چې دغه دجمهورو په اوړاندې ممتنع وي. لکه د مرجع د ذکر کولو مخکې راوړنه د ضمير لفظا او معنا. ﴿د مثال په توګه ضرب غلامه زيد﴾ خکه دغه فصيح نه دي. که څه هم دغه رقم «يعني د فاعل سره ضمير د مفعول متصل سوی وي» د اخفش په وړاندې روا دي، او دده اتباع ابن جني کړېده. ځکه متعدي فعل په شدت سره د مفعول داسې تقاضي کوي لکه تقاضي د فاعل. اواخفش د شاعر په دې شعر سره دليل ويلې دي. "زما د طرف څخه و عدي بن حاتم ته دده رب بدله ورکړي د غپونکي سپوی د حزاء غوندي. او ده هم دغسې وکړه". اوده بل دليل د شاعر په دې قول سره وړاندې کړي دي: "څه وخت چې د مصعب ملګرو نافرماني دده څخه وکړه. پس قاتل و ده نه پورا پورا بدله ورکړه". او پر ده باندې رد په دې خبره سره سوی دی چې دغه ضمير و هغه مصدر ته راجع دی په کوم چې فعل دلالت کوی نو عبارت دا جوړيږي "رب الجزاء، اصحاب العصيان". لکه په دې قول الهي کې "تاسو عدل کوی او دغه تقوی ته ژوندي دی" يعني عدل. او د شاعر دا قول "د ابو الغيلان د سپينږيرتوب او د ښه تربيت ورسته دده زامنو داسې بدله ورکړه لکه سنمار ته چې ورکړل سوې وه"، او دا شعر "کاش زما په دې باندې علم وای چې دده قوم به په هغه ظلم باندې ملامتوی کوم چې ده پر ماد هره طرفه څخه ترسره کړی وو" دغه دواړه شاذ دي. او پر دغه باندې قياس کونه روا نه ده. ﴿او تنافر د کلماتو په ژبه باندې دروندوالي دی﴾ دده څخه يو دادی چې دروندوالي و پای ته رسېدلي وی لکه دده دا ټول "د حرب د قبر ژندې قبر نسته". حرب د يو سړي نوم دی. او دغه شعر اولنې حصه داده" د حرب قبر په يوه خالي ځای باندې وجود لری". يعني هغه ځای چې دا بو او وښو څخه خالي وی. او دده څخه يو هغه دی چې په دروندوالي کې د اول څخه کم وی لکه په مثال د ابي تمام دا قول" دی کريم دی څه وخت چې زه دده تعريف کوم نو دغه په داسې حال کې کوم چې خلک زما سره وي. " الوری" مبتدأ او خبر يې "معي" او واو لپاره د حال دی. او څه وخت چې زه په ده باندې ملامتيا وايم نو بيا په دغه کړنه کې يواری يم. او په دغه ملاتيا وښه کې

خوک زما سره شرکت نه کوی. څکه دی د تعریف حقدار د دی نه د ملامتیا.او دلته یو اعتبار لطیف اوددعوې د نبوت د وهم پیدا کوئ، په 'استعمال کې د "اذا" او د فعل ماضي دی. نو ګواکې دده څخه ملامتیا ترسره سوېده مګر دده سره په دعه کې هیڅ یوکس شریک سوی نه دی.مګر صاحب په دغه شعر کې عیب په دې وجه راهیستلې دی چې په دغه کې د مدحې مقابل لوم راوړل سوی دی نه ذم او هجاء.مصنف ویلي دي چې په امدحه کې دروندوالي دی څکه د حاء او د هاء تر مینځ تنافر وجود لري. نو ښائي چې د مصنف مراد داوی چې په دغه کې څه ثقل او تنافر وشتون لري. مګر څه وخت چې دده سره د دوم ځلي لپاره امدحه یوځای سو نو په دغه سره د دروندوالي د دوه چنده کېدلو سره تنافر پیدا سو. او ددغه څخه مقصد دا نه دی چې امدحه غیر فصیح دی.څکه دغه غوندی الفاظ په قرآن کې وجود لري. د مثال په توګه "فسبح". او په دې خبره کوني سره یومسلمان جرأت نه سي کولای چې قرآن په غیر فصیح الفاظو باندی مشتمل دی.او په دغه سره ابن العمید تصریح کړېده. او دی هغه اوّلنې کس دی کوم چې په دغه بیت د ابي تمام باندی عیب و وایي. ده داسي ویلي دي چې دغه تکرار د" امدحه "سره د جمعي د حاء او د هاء کوم چې د حروفي حلقیو څخه دي وتونکي د اعتدال د حد څخه دی.او په پوره توګه سره تنافر دی.اوکه چیرې ده داسي ویلي وای چې د "امدحه" په تکرار کې ثقل دی نو دغه خبره به غوره وای.او ددغه دواړو مثالونو تر مینځ یو بل فرق هم سته ، هغه دادی چې په اول کې د ثقل منشأ نفسي یو ځای والي د کلماتو دی. او په دوم کې ددغه کلماتو دحروفو یو ځای والي دی.او بعضو بیا ویلي دي چې یوه کلمه د دویمې غیرې مناسبي کلمې سره یو ځای کونه هم د تنافر قسم دی. لکه د "سطل" جمعَ کونه د څراغ سره او حمامي دا د مسجد سره مګر دغه یو وهم دی خو دغه دغه په ژبه باندی دروندوالي نه پیدا کوی دغه خو بلاغت ته خلل رسوی نه وفصاحت ته.

تشریح

اول : د لغاتو بیان: عدی:دمشهوره سخي حاتم طاېي زوی وو .دغه عدی د نبي علیه السلام په خدمت کې حاضر سو او اسلام یې قبول کړي.او د ښکار په هکله اکثره احادیث دده په روایت نقل سوی دي.او دده زوی طرماح په کربلا کې د حضرت حسین ﷺ سره په شهادت رسېدلي وو .عادیات: د عادیة جمعَ ده غېونکي.اخفش: په لغت کې اخفش هغه کس ته ویل کیږي د کوم چا چې نظر کمزوری وی. ابن خلکان ویلي دي چې اخفش نامي خلک درې وه. ۱:

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو الخطاب عبدالحميد بن عبدالمجيد هجري د سيبويه استاذ کوم ته چې ابو عبيده اخفش کبير هم ويل کيږي.

۲: ابوالحسن سعيد بن مسعده مجاشعي کوم چې د سيبويه او د خليل د شاګردانو څخه دي او ده ته اخفش اوسط ويل کيږي او اخفش اصغر هم ورته ويل کيږي.

۳: ابوالحسن علي بن سليمان کوم چې د سيبويه د شاګردانو څخه دي او په اخفش اوسط سره مشهوره دي او د نحوي په کتابونو کې د اخفش څخه دی مراد وي. سمار: يو رومي بَنا وو، ده د بهرام پاچا لپاره دوه قصره او مانۍ په نامه سره د خورنق اوسدير تيار کړی وي، څه وخت چې د دغه مانۍ تعمير وپای ته ورسېدی نو دوی ډيری ښائسته ولې او په هغه وخت کې د دوی مثل په دنيا کې وجود نه درلودی. نو پاچا په دې خبری ووېرېدی چې هسې نه وی چې دغه بَناء بل چا ته داسې مانۍ تياري کړی نو په دغه وجه يې د مانۍ د سره څخه لاندی راغوځار کړی او ده هم په دغه سانحه کې ژوند د لاسه ورکړي. قرب: ژندې، صدره: دده اولنی حصه، قفر: هغه ځای چې نه اوبه او نه اښه لری. وری: مخلوق. لمت: ملامتيا ويل. تضاعف: دوچنده کړي. الصاحب: اسماعيل بن عباد کوم چې د عبدالقاهر جرجاني استاذ وو. ابن العميد: ابو الفضل محمد بن حسين وو دده لقب عميد وو، دی د نجوم ادب کامل ماهره وو، او په کتابت کې ډير غښتلي وو په دغه وجه دی په جاحظ ثاني سره و نمول سو. عاب: عيب ويل. سطل: لوښي خصوصا هغه لوښي چې داوبو د واری د مقدار د معلومولو لپاره په تير سوی وخت کې استعمالېدی. قنديل: څراغ. حمامي: حمام چلونکي.

دوم: دفصاحتي کلام تعريف: ۱: ضعفي تأليف څخه به خالي وی. ۲: تنافر کلمات څخه به خالي وی. ۳: تعقيد څخه به خالي وی. ۴: د دغه کلام ټوله کلماتي به فصيح وی.

سوال: "مع فصاحتها" څه ترکيبي حالت لری؟

جواب: دغه حال د هغه ضمير څخه دی کوم چې متصل د "خلوص" سره دی او د غه ضمير و کلام ته راجع دی، او مطلب يې دا جوړيږی: د کلام فصيح لپاره دا ضروری ده چې د دغه درې شيانو څخه د خالي والي سره سره د فصاحتي کلماتو سره مقارن او يو ځای به وی. يعنې د دغه درو شيانو څخه به خالي وی او د دغه سره سره دده ټولې کلماتي به فصيح وي.

سوال: د "مع فصاحتها" قید څه فائده لري؟

جواب: په دغه سره هغه ټوله اقسام د کلام ووتل د کوم چې ټوله کلماتی فصیح نه وی د مثال په توګه "زید اجلل".

سوال: که چیری "مع فصاحتها" حال د کلماتو څخه واقع سي او بیا دغه د کلماتو سره متصل ذکر سي دا ډول "تنافر الکلمات مع فصاحتها و التعقید" نو په دغه صورت کي خو به څه خرابي نه پیښیږی؟

جواب: په دغه ډول کوني سره مقصود د مصنف فوتیږي دا ډول چې حال قید لپاره د هغه عامل وی کوم چې په ذوالحال کي عمل کوی، لهذا "مع فصاحتها" به قید لپاره د تنافر (کوم چې عامل په ذوالحال کي دی) سي او خلوص (کوم چې په معني سره د نفي دی یعني نه کېدنه) به پر مقید سره د قید (تنافر کلمات مع فصاحتها) به داخلي وی .او نفي چې څه وخت پریو داسي شي داخلي سي چې هغه مقید په یو قید سره وی نو هغه نفي و قید ته متوجه کیږی (یعني محض د قید نفي تر سره سي) نو د دغه قاعدې موافق نفي به و "مع فصاحتها" ته متوجه سي او نفي به دده تر سره سي نو مطلب به داسي: تنافر کلمات وجود لري او فصاحت د کلماتو وجود نه لري نو هغه کلام به فصیح وی (یعني که چیری یو کلام په کلماتي متنافره غیر فصیحیه باندی مشتمله وی نو هغه به فصیح وی) ځکه په دغه باندی تعریف د فصاحت کلام رښتیوني رائي چې کلام د تنافر کلماتو څخه په داسي حال کي خالي وی چې دده کلماتي فصیح وی، یعني که چیری کلماتي فصیح وی نو د تنافر څخه د کلماتو خالي کېدنه یې ضروری ده، او که چیری فصیح نه وی نو بیا د تنافر څخه خالي والي ضروری نه دی. لهذا که چیری د یو کلام کلماتي فصیح نه وی او متنافری وي نو د دغه کلام فصیح کېدنه په کار ده.او حال دا چې دغه خبره د مصنف د مقصد خلاف ده، ځکه دده مقصد دا دی چې د کلام ټوله کلماتي به فصیح وي او کلام به د تنافر څخه د کلماتو خالي وی نو دغه کلام به فصیح وی،او که داسي نه وی نو بیا به کلام فصیح نه وی.او په "فافهم" کي شارح و دې طرف ته اشاره کړېده چې دغه خبره دقیقه ده نو په دغه وجه د دغې د لاس ته د راوړولو لپاره د کوشش کونې ضرورت سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: که "مع فصاحتها" حال د ضمیر څخه د "خلوصه" سي نو په دغه وخت کي د حال او د ذوالحال تر مینځ فصل راځي او حال دا چي دغه روا نه دی؟

جواب: دغه فصل چي په اجنبي او نابلده سره وی روا نه دی، او دلته دغه ډول نه ده ځکه دلته دغه فصل په من ضعف التألیف و تنافر الکلمات و التعقید سره راغلي دی او دغه ټوله د خلوصه د متعلقاتو څخه دی (یعني د خلوص معمولات دي)، او مع فصاحتها" هم د خلوصه معمول دی. او ذوالحال (ضمیر) هم د خلوص معمول دی. لهذا من ضعف التألیف الخ دغه د حال او ذوالحال خپل دی نه ددوی څخه پردی. او داسي فصل د ته اعتبار ورنه وی.

سوال: ضعف تألیف څه ته ویل کیږی؟

جواب: د کلام دهغه نحوی قانون په خلاف راتلني ته ویل کیږی کوم چي د جمهورو په وړاندی ثبوت ته رسیدلي وی.

مثال: د جمهورو قانون دادی چي اول به یواسم لفظا، یا معنا او یا حکماذکر کیږی بیا به ضمیر و هغه ته راجع کیږی. اوس که چیری یو ضمیر مخکي تر مرجع لفظا، معنا او حکما ذکر وی نو دغه په ضعف تألیف باندی مشتمل دی. لکه "ضرب غلامه زیدا". اوس دلته د غلام سره متصل ضمیر و زید ته راجع دی، او په هر لحاظ مخکي تر مرجع دی. په دغه وجه دغه کلام غیر فصیح دی.

﴿فائده﴾: سوال: اضمار قبل الذکر روا دی او که نه؟

جواب: په دغه کي اختلاف تر سره سویدی.

اخفش، ابن جني: فرمایي چي اضمار قبل الذکر روا دی.

دلیل اول: جزی ربُّهُ عنّي عَدِيَّ بْن حاتمٍ ○ جَزاءَ الْكلاب الْعاوِيات وَقَدْ فَعَلْ. یعني دده رب دي و عدی بن حاتم ته زما د طرف څخه دغپونکي سپیو سزا، ورکړی او ده هم دغسي وکړه.

محل استشهاد: ربه: دلته د رب سره متصل ضمیر راجع و عدی ته دی، او په دغه شعر کي ربه فاعل او عدی مفعول دی، فاعل مخکي تر مفعول وی نو دلته ضمیر مخکي او مرجع ورسته ذکر سویده. اوس که چیری دغه روا نه وای نو شاعر به ولي دغه خپل وای.

دليل دوم: لمّا عصى أصحابُه مُصْعبا * أدّى إليه الكيلَ صاعا نصاعْ. يعني څه وخت چې دده ملګرو د مصعب څخه نافرماني وکړه نو قتل کونکي ده ته پورا پورا بدل ورکړه.

محل استشهاد: اصحابه: اوس دلته اصحابه فاعل لپاره د عصى دی. او دده سره متصل ضمیر و مصعب ته راجع دی کوم چې په هر لحاظ سره مؤخر دی (د مفعولیت په وجه).

دليل دريم: جزى بنُوهُ أبا الغيْلانِ عنْ كِبَرٍ * وحُسْنِ فِعْلٍ كما يُجْزى سِنِمّارُ. يعني د ابو الغيلان د ښه تربیت او د نېکي کولو ورسته زامنو ده ته داسي بدله ورکړه لکه سنمار ته چې ورکړل سوې وه.

محل استشهاد: بنوه: اوس بنوه فاعل لپاره د جزى دی. او دده سره متصل ضمیر راجع و هغه ابو الغیلان ته دی کوم چې په هر لحاظ سره مؤخر او ورستنی دی.

دليل څلورم: ألا لَيتَ شِعري هَل يَلومَنّ قَومُهُ * زُهَيراً على ما جَرَّ مِن كُلِّ جانِبِ. يعني کشکې زه پوه وای چې دده قوم ملامتیا په زهیر باندې په هغه ظلم په وجه وایي کوم چې ده پر ما د هر طرف څخه کړی وو.

محل استشهاد: قومه: د غه فاعل لپاره دیلومن دی، او دده سره متصل ضمیر راجع و زهیر ته دی کوم چې په هر لحاظ سره مؤخر دی.

جمهور علماء: فرمایي چې ضمیر و یو داسي ورستني شي ته چې هغه هم لفظا او هم معنا او هم حکما ورسته وی روا نه دی.

د جمهورو د طرف څخه جواب: د اولني دوو شعرو جواب دادی چې دلته ضمیر دربه وعدی ته راجع نه دی بلکه وجزاء ته راجع دی کوم چې په ضمن کې د جزی ذکر دی (څکه د هر فعل په بغل کې مصدر وجود لری. لهذا دلته مرجع مخکې تر ضمیر معنا او ضمنا ذکر سوېده)، او په دوم شعر کې اصحابه ضمیر راجع و مصعب ته نه دی بلکه راجع و مصدر ته د عصى دی کوم چې عصیان دی (کوم چې په ضمن کې د عصى ذکر دی)، نو عبارت دا جوړیږی: اصحاب العصیان یعني خاوندان د ګناه او سرکښی. او پاته آخری دوه شعره په هغه سره دلیل وینه صحت نه لری څکه دلیل په هغه شي سره ویل کیږی کوم چې شاذ نه وی او حال دا چې دغه دواړه شعرونه شاذ دي.

سوال: تنافر څه ته ویل کیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: يو څو کلماتو داسي سره يو ځای سی چي د دوی اداپنه په ژبه باندی ګران او ثقیل وی او په وبولو کي سلاست او جاری والي پاته نه سي که څه هم هره يوه د دغه کلماتو څخه فصیح وی.

سوال: د تنافر څو قسمه دي؟

جواب: دوه قسمه دي.

اول: هغه تنافر چي په دروند والي کي و پای ته رسېدلي وی.

مثال: وَقَبْرُ حَرْبٍ بِمَكَانٍ قَفْرٍ * وَلَيْسَ قُرْبَ قَبْرِ حَرْبٍ قَبْرُ. يعني د حرب قبر يو داسي ځای دی کوم چي د اوبو او وښو څخه خالي دی او د حرب د قبر سره هیڅ يو قبر نسته.

محل استشهاد: قرب قبرحرب قبر: اوس د دغه کلماتو څخه هره يوه فصیح ده مګر د دوی د يو ځای والي څخه د دوی تلفظ کونه په ژبه باندی ګران و ګرزېدی، او د ويولو په وخت کي سلاست او جریان باقي پاته سوی نه دی. لهذا دغه کلام په تنافر باندی د کلماتو د مشتمل والي په وجه غیر فصیح دی.

﴿فائده﴾: مصنف په خپل کتاب عجائب المخلوقات کي لاس په قلم دی چي د پېرانانو يو قسم ته هاتف ویل کیږی. اصل قصه داده چي يو ځلي حرب بن اميه يو پېری چي د مار په شکل کي وو په خپله چوَتَه او څپلي سره زير او مړ کړي. او دغه پېری دبدل د اخیستولو لپاره دده ملګرو په حرب باندی چیغه وواهل، او دی په دغه چیغه سره مړ سو. بیا يو د دغه پېرانانو څخه دغه شعر ووايي. والله اعلم بحقیقة الحال

دوم: هغه تنافر چي د اولني قسمه څخه يې ثقل او دروند والي کم وی.

مثال: كَرِيمٌ مَتَى أَمْدَحْهُ أَمْدَحْهُ والوَرَى * جَمِيعاً وَمَهْما لَفْتُه لمتهُ وَخْدِي. يعني ممدوح داسي يو سپه کس دی چي څه وخت زه دده سپېڅلې بیانوم نو خلک زما سره په دغه کي ملګری خپله کړی او څه وخت چي زه دده بدی بیانوم نو بیا زه په دغه کي يو وازی پاته سم. يعني زما د ممدوح سپېڅلي دومره زیاتي دي چي په دوی ټوله مخلوقات فائده تر لاسه کوي. دغه وجه ده چي په تعریف کي دده ټوله مخلوقات زما سره په بیانولو کي ملګری خپلوي. او څه وخت چي زه په ده باندی ملامتیا وېنه شروع کړم، نو څرنګه چي د دغه ملامتیا د ويولو کوم تقاضي کونکي سبب موجوده نه وی نو په دغه وجه هیڅ څوک زما سره ملګرتیا په دغه ملامتیا کي نه خپلوی. په

دغه شعر کي که څه هم هر يوه د کلماتو څخه فصيح ده مګر د يو ځای والي څخه ثقل په ژبه پيدا سوی دي. نو په دغه وجه دغه کلام غير فصيح دی.

سوال: په دغه شعر کي د اذا وينا مناسبه نه ده، ځکه اذا په قطعيت او يقين دلالت کوی نو معني داسوه چي ده دغه بدی او ملامتيا د ممدوح ويلې وه او حال دا چي د مدح کونکي سره نه ښائي چي په هغه چا باندی ملامتيا ووايي د کوم چي دی مدحه او ستاينه کوی(ځکه دا مناسبه نه ده چي د يوه چا مدح يو کس کوی او بيا هغه کس په ممدوح باندی ملامتيا هم وايي). لهذا دلته ان شرطيه په کار وو کوم چي په شک دلالت کوی نو بيا به معني دا جوړه سی" که چيری ما دده ملامتيا وېلای نو خلکو به زما ملګرتيا کړې نه وای؟(علامه زوزني)

جواب: دلته اذا په کار دی،ځکه اذا په قطعيت او ماضي په ثبوت دلالت کوی .لهذا د اذا په وينا کي يو باريک اعتبار سوی دی هغه دادی چي ددغه دعوې(د ملاتيا ويلو) د ثابتوالي وهم پيدا کيږی. نو معني دا سوه چي ما په ده ملامتيا وويل مګر چا زما سره په دغه کي ملګری نه وکړه.پاته دا خبره چي د يو چا مدح کول کيږی نو بايد مادح په هغه باندی ملامتيا و نه وايي. نو جواب دادی چي ملامتيا وينه او بيا په هغه کي د چا شراکت نه کونه بعينه مدح د ممدوح ده .ځکه ددغه څخه دا ثابته سوه چي ممدوح محض د مدحي مستحقه وو نه د ملامتيا ځکه د ملامتيا کوم سبب نه وو ، که چيری وای نو خلکو به د شاعر سره ملګرتيا په ملامتيا ويلو کي کړې وای.او دغه هم شاعر بعينه مقصود دی(چي مدح په کامل توګه بيانه کړی)

لکن مقابلة اللوم: **سوال:** څه وخت چي دغه شعر په دغه باريک اعتبار مشتمل دی نو بيا دغه شعر په دغه وجه سره فصيح وګرځی ، لهذا دغه ته غير فصيح ويل او د تنافر مثال ګرزول صحت نه لری؟

جواب: دغه شعر فصيح نه دی بلکه دغه په يو عيب مشتمل دی، هغه دادی چي په کلام عربي کي د مدح مقابل ذم او يا هجاء راوړل کيږی نه لوم.او حال دا چي دلته شاعر لوم راو ړيدی.

سوال: مصنف په ايضاح کي په بيان کي ددغه شعر ويلي دي چي "امدحه" په دې وجه غير فصيح ده چي په دې کي يو ځای والي تر مينځ د حاء او د هاء راغلي دی.په دغه وجه "امدحه" په تنافر د مشتمل والي په وجه فصيح نه دی.نو دغه کلام د مصنف صحت نه لری ځکه که چيری

Maktaba Tul Ishaat.com

د حاء، اود هاء د یو ځای والي څخه تنافر پیدا کېدای نو بیا به قرآن هم په متنافره کلمات مشتمل وای، او په دغه وجه به په قرآن کي غیر فصیح کلماتي راسي هغه دا دول چي په قرآن کي "فسحه" راغلي دي. اوس په دغه کي هم حاء او هاء یو ځای سوی دی نو باید دغه کلمه غیر فصیح سي نو هغه سورت چي په هغه کي دغه لفظ واقع سوی دی هم غیر فصیح سي او دغه د سره باطل خبره ده؟

جواب: د مصنف د کلام مقصد دادی چي د حاء او د هاء، د یو ځای والي څخه ثقل پیدا کیږي مګر دغه ثقل دومره نه دی چي په هغه سره و فصاحت ته خلل ورسیږي مګر څه وخت چي د امدحه سره دویمه کلمه امدحه ماګري سوه نو په دغه یو ځای والي سره دغه ثقالت دومره زیات سو چي په دغه سره فصاحت ته خلل ورسېدی او ختم سو. لهذا په "فسحه" کي ثقل دومره نه دی چي فصاحت ته خلل ورسوی. لهذا د مصنف کلام صحی دی، البته که چیری ده داسي ویلي وای چي د تکرار څخه د "امدحه" هغه ثقالت پیدا سو کوم چي و فصاحت ته خلل ورسوی نو دغه به ښه وینا وای، ځکه په دغه دول وینا باندی به هیڅ یو قسم داعتراض دوارد ېدې دولو څخه پیدا نه سوی نه وای.

تافر کل تنافر: **سوال:** دغه خبره د هغه مخکني خبرې سره تضاد لري، هغه داده چي مثال اول په ثقالت کي و انتهاء ته رسېدلي دی، او دوم بیا تر ده په ثقالت کي کم دی. او د دغه خبرې (تافر کل تنافر) څخه بیا دا معلومیږي چي دغه دوم مثال هم په ثقالت کي و انتهاء ته رسېدلي دی خو تر اولني قسم په ثقالت کي کم دی؟ او دغه خبره باطله ده.

جواب: کامل تنافر د راتلو څخه دا نه لازمیږي چي تر ده به لوړ بل غټ تنافر نه وی، ځکه تنافر یو کلي مشکک دی په ده کي شدت او ضعف دواړه راتلای سي. لهذا په دغه دوم قسم کي هم کامل تنافر سته مګر تر ده لوړ بیا هغه تنافر دی کوم چي په اول قسم کي وو.

د بین المتقابلین فرق آخر: **سوال:** مصنف د تنافر لپاره ولي دوه مثالونه ذکر کړي دي او حال دا چي مثال د وضاحت لپاره د ممثل وی، او د ممثل وضاحت په یوه مثال راتلای سي. نو مصنف ولي دوه مثاله ذکر کړل؟

جواب: هغه تنافر چې د هغه په وجه ثقالت پیدا کیږي دوه اقسام لري ۱: محض یو ځای والي د کلماتو سبب ډده وي ۲: د کلماتو د حروفو یو ځای والي سبب ډده وي. لهذا د اول وضاحت په اول مثال اردو دوم وضاحت په دوم سره مصنف وکړي. څرنګه چې ممثل دوه وه نو متالونه هم دوه راوړل سوه.

و زعم بعضهم ان من التنافر: **سوال:** مقصد د شارح په دغه سره څه دی؟

جواب: په دغه سره رد کوله په علامه خلخالي ده. ده په بیان کي د تنافر ویلي دي که چیرې دوې داسي کلماتي سره یو ځای سي چې ددوی تر مینځ مناسبت نه وي او بېله کومه تقاضي کونکي (یعني داسي څه نه وي چې ددوی د یو ځای والي تقاضی کوي) سره یو ځای سي نو ددغه څخه هغه تنافر پیدا کیږي کوم چې و فصاحت ته خلل رسوي

مثال: سطل د قندیل سره یو ځای کول، مسجد د حمامي سره یو ځای کول او خلاصه د رد داده چې دغه خبره کونه یو وهم دی ځکه تنافر عبارت ددې څخه دی چې کلماتي په ژبه باندې درنې او ثقیلي وي او دغه ذکر سوی یو ځای والي د کلماتو تر مینځ ثقل په ژبه نه پیدا کوي. لهذا دغه یو ځای والي و فصاحت ته خلل نه رسوي البته و بلاغت ته خلل رسوي.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

ددې حاشیه د حل څخه مخکې د یوه شي زدکړه ضروري ده، خلاصه د هغه داده: مصنف اولاً په عبارت کي د هغه چا قول ذکر کړي کوم چې د فصاحت المفرد لپاره یو اضافي شي شرط ګڼي دی، هغه دادی: غور به دا راږدو څخه ددغه لفظ بدنه وړی". که چیرې لفظ د مخکښ شرطونو سره سره غور یې د اور ېدلو څخه بد نه وړی نو دغه فصیح دی، که یې چیرې بد اوړی نو دغه بیا فصیح نه دی. بیا مصنف ددغه قول ضعف بیان کړي او وې فرمایل "فیه نظر". ددې څخه ورسته شارح بیا هغه دوې وجې ذکر کړې کومو چې د مصنف څخه سهوا نورو علماؤ په رد کې دغه قول کونکي "خلوصه من الکراهة في السمع" ذکر کړی وې. هغې دوې وجې دادی. (وهما وجوه آخر، الاول) ۱: که چیرې غور ددغه لفظ اوږدل بد بولي نو دغه بلل به ددوو وجو څخه خالي نه وی یا به ددغه ثقل پیدا کیږي او یا به نه پیدا کیږي. که چیرې ثقل پیدا کیږي نو دغه بیا په تنافر کې داخل دی او که چیرې ددغه څخه ثقل نه پیدا کیږي نو دغه بیا فصاحت ته خلل نه رسوي. آوس شارح

Maktaba Tul Ishaat.com

وويل "ضعف هذين الوجهين ظاهر". اوس خلاصه د ضعف دد غي وجي داده "مورِ دا خبره نه منو چې که چيرې د غورِ د اروبدلو دبد ورِلو څخه ثقل نه پيدا کېدی نو دغه بيا فصاحت ته خلل نه رسوی". اوس دا خبره ضروری نه ده چې په کوم شي کې ثقل نه وی نو هغه به د فصاحت ته خلل نه رسوی بلکه ممکن ده چې دغه شي چې په کوم کې ثقل نه وی په بله وجه د فصاحت ته خلل رسونکي وی. لهذا دلته هم که څه هم غورِ د اورېدلو څخه يې بد وړی او دد غه څخه ثقل نه پيدا کيږی بيا هم دغه دي فصاحت ته خلل رسونکي وی دا ډول چې فصحاؤ دي د هغه شي څخه احتراز کوي د کوم څخه طبعيت بد وړي دغه ډول د هغه شي څخه هم احتراز کوي د کوم د اورېدو څخه غورِ بد وړي. لهذا دا خبره دلته ثابت سوه چې د کوم شي د اورېدو څخه غورِ بد وړی او دده څخه ثقل نه پيدا کيږی بيا هم دغه فصاحت ته خلل رسونکي وی. والله اعلم بحقيقة الحال و المآل.

و اما الثاني فلانه الخ: دلته محشي د هغه وجي ضعف بيانوي کوم چې بعضو علماؤ ددې قول ويونکي "خلوصه من الكراهة في السمع" په رد کې ويلې وه. اوس دلته دوه شيان دي.

۱: **ددغې وجې بيان**(أن ما ذكره هذا القائل في بيان هذا الشرط ان اللفظ من قبيل الاصوات): مورِ دا خبره نه منو چې لفظ د قبيلې څخه د آواز دی (لکه دغه خبره چې خلوصه من الكراهة قائل کړې وه يعني " فان اللفظ من قبيل الاصوات الخ")، بلکه دغه يو کيفيت د آواز دی.

۲: **دشارح د طرف څخه د رد بيان**: شارح و فرمايل "و ضعف هذين الوجهين ظاهر". محشي ددغه ضعف وجه په دې الفاظ سره بيان کړېده "فلانه اورد النظر في المتن الخ". خلاصه د بيان داده چې دغه قول "ومن الكراهة في السمع" په متن کې ذکر سوی دی، او ددغه قول وجه په دې الفاظ "فان اللفظ من قبيل الاصوات، و الاصوات منها ما تستلذ الخ" شارح رحمه الله په شرح کې بيان کړېده. لهذا قول مصنف او وجه شارح بيان کړېده. اوس د اعتراض کولو طريقه داده چې معترض به په هغه وجه اعتراض کوی کوم چې ددغه قول په متن کې بيان سوېده نه پر هغه چې په شرح کې بيان سوېده. څرنګه دلته معترض پر هغه وجه اعتراض کړی دي کوم چې په شرح کې بيان سوېده نه پر هغه چې په متن کې بيان سوېده په دغه وجه دغه اعتراض څه شد نه لری. **که چيرې دغه خبره** بيا هم منو چې رد ضرور پر هغه څه نه دی کوم چې په متن کې ذکر سوی وی بلکه پر هغه وجه

هم کېدای سي کوم چي په شرح کي ذکر سوې وی نو بیا جواب دادی چي لفظ د قبیلې څخه د صوت کېدنه د ادیبانو او نحاتو په مینځ کي شهرت ته رسېدلې ده. لهذا دغه خبره منل سوې ده. که چیرې بیا هم دا خبره ز منو چي لفظ د قبیلې څخه د صوت نه دی نو بیا هم پر دغه قائل دغه اعتراض (لان اللفظ ليس بصوت) نه وارديږي، ځکه دغه قائل داسي ويلي دي" فان اللفظ من قبيل الاصوات". اوس د دغه څخه دا خبره نه لازمیږي چي د دغه قول مطلب دی داوی" لفظ د قبیلې څخه صوت دی، بلکه مطلب (د دغه الفاظ من قبيل الاصوات) دا هم کېدای سي چي دغه دي کیفیت څخه د آوزا سي. لهذا کوم مقصد د اعتراض کونکي دی (چي لفظ د قبیلې څخه د صوت نه بلکه د صوت یو کیفیت دی) هغه مقصد د دغه قائل هم دی. لهذا دغه اعتراض هیڅ یو شی نه لری.

حاشیه نمبر ۲:

شارح رحمه الله دلته د دغه قول "من الكراهة في السمع" د ضعف لپاره هغه دریمَ وجه ذکر کړېده کوم چي بعضو علماؤ فرمایلې وه. خلاصه د دغه وجي داده چي د "كراهة في السمع" څخه خلوص او خالي والي د شرط کوني په وجه دیر فصیح الفاظ غیر فصیح ګرزی دا دول چي د غوږ د یو لفظ د اوربدلو څخه د بد وړلو مدار په ښه او بد آوازی باندی دی. که چیرې یو فصیح لفظ په بد آواز سره ادا سي نو غوږ د هغه د اوربدلو څخه بد وړي. لهذا دغه فصیح لفظ غیری فصیح په دې وجه و ګرزېدی چي دده د اوربدلو څخه غوږ بد وړي. او د دغه فصیح الفاظ غیر فصیح ګرزېدنه باطل ده نو دا خبره شرطول "خلوصه من الكراهة في السمع" باطل دی.

حاشیه نمبر ۳:

ضاز، دغه د باب څخه د "ضرب، يضرب" دی. اصل دا دول دی "ضاز، يَضِيزُ ضَيْزاً". او دغه ظلم کولو، ناحقَ کول، کمولو ته ویل کېږی.

سوال: ضِيزی په اصل کي څه وو؟

جواب: دغه ضَيْزی پر وزن د فُعلی وو، لکه طُوبی. ورسته تر دغه بیا ضمه د ضاد په کسره سره د دې او جي بدلَ سوه چي یاء پر خپل حال باقي پاته سي (ځکه هغه یاء چي مخکني حرف يې مرفوع وی هغه په واو بدلیږی). لکه دغه خبره به نحو کي تر سره سوېده چي په اصل کي بُيُض وو، د یاء د بقاء لپاره مخکني ضمه په کسره سره بدلَ سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: صيرى اصل صَيرى پر بللو شه دليل وجود لرى؟

جواب: دغه صفت لپاره د مؤنث دى. او صفت په فَعْلى او يا فُعلى راځي نه پر فعلي. څرنګه فَعْلى وصفي وجود نه درلود ى نو د دغه څخه دا معلومَ سوه چې دده اصل فُعْلى دى.

صار في المحكم أي حار وصاره حقه يصيره صيرا نقصه ومحبه ومعه وصرّت فلاناً اصيره صيراً حرّت عليه وصار يصير إذا حار وقد يجهر فيقال صُرْه بصَارُه صَارا وفي التنزيل الدوير ذلك إذاً قسمةٌ ضيزى وقسمة جيرى وصُورى أي حائرة والقراء جمعهم على ترك همز ضيزى قال ومن العرب من يقول ضيرى ولا يجهر ويقولون ضيزى وصُوزى بالهمز ولم يقرأ بهما أحد نعلمه من الأعرابي يقول العرب قسمة ضُوزى بالضم وبالهمز وضُوزى بالضم بلا همز وضُزى بالكسر والهمز وضيرى بالكسر وترك الهمز ومعناها كلها الجَوْر وضيرى فُعْلى وإن رأيت أوّلها مكسوراً وهي مثل بِيض وعِيس وكان أوّلها مضموما فكرهوا أن يتركه على صفته فيقال بُوصٌ وعُونٌ والواحدة بيضاء وعيناء فكسروا الباء لتكون بالياء ويتألف الجمع والاثنان والواحدة وكذلك كرهوا أن يقولوا عُوْزى فيصير بالواو وهي من الياء قال ابن سيده وانما قضيت على أولها بالضم لأن الصوت للمؤنث تأتي إما مفتح وإما مضم فالمفتح مثل سكْرى وعطشى والمضموم مثل أنثى وخُنثى وإذا كان اسماً ليس بنعت كسر أوله كالذِّكرى والشُّغرى قال الجوهري ليس في الكلام فَعْلى صفةً وإنما هو من داء الأسماء كالشُّغرى والدَّفْلى قال الفراء وبعض العرب يقول ضِيزى وضُيْزى بالهمز وحكي عن أبي زيد أنه سمع العرب تهمز ضيزى قال وصار يصير وأنشد إذا صار عنّا خفّا في غيبةٍ نقنع حارانا فلم يترمرما قال وصار يصُارُ مثله والضَّيْزَنُ نونُه عند يعقوب زائدة وهو مذكور في موضعه (لسان العرب – حرف الزاي ج5 ص367)/// ضيز . | ض | (ع مص) كم كردن حق كسى را.(منتهى الارب). نقصان كردن . (زوزنى). | | ستم كردن بر كسى . (منتهى الارب). جور كردن . (زوزنى).

حاشيه نمبر ۴:

په دې عبارت كې څو تحقيقه دي.

اول: بيان د څلورمي وجې: خلاصه داده چې "خلوصه من الكراهة في السمع" شرط نه صحت نه لرى، ځكه په قرآن كې داسې الفاظ وجود لرى د كوم د اوربدلو څخه غوږ بد وړي لكه " ضيزى". او حال دا چې په قرآن كې غير فصيح الفاظ وجود نه لري.نو دا معلومَ سوه چې په قرآن كې راتلنه (دداسې الفاظو چې دهغه د اوربدلو څخه غوږ بد وړى) دليل د دې خبرى دى چې په فصاحت في المفرد كې" خلوصه من الكراهة "شرط نه دى.

دوم: د شارح د رد بيان: د هغه الفاظو په قرآن كې راتلنه د كوم د اوربدلو څخه چې غوږ بد وړي دليل د دې خبري نه دى چې كراهت في السمع فصاحت ته خلل رسونكي نه دى.ځكه د دې احتمال سته چې كراهت في السمع سبب لپاره د خلل وي. مگر دده سببيت د يو مانع د وجې منعَ سوى وي.لكه مناسبت د " ضيزى" د "انثى" سره په دې الهي قول كې" أَلَكُمُ الذَّكَرُ ولَهُ الأُنثى " تِلْكَ اذاً قِسْمَةٌ ضِيزى.(سورة النجم ٢٢)".او دغه قول لكه مناسبت د "دسر" د "قدر" سره په دې الهي قول

كي "وفجّرنا الأرض عيوناً فالتقى الماء على امر قد قُدر (12) وحملناهُ على ذات ألواحٍ ودُسُر" سورة القمر 13".
لهذا دغه فصيح دي ، او حال دا چي فصاحت لره خلل رسونكي سبب وجود لري. نو خلاصه داسوه چي په قرآن كي راتلنه دليل ددې خبرې نه دى چي كراهة في السمع و فصاحت ته خلل رسونكي نه دى.

دريهم: اعتراض پر وجه د شارح: په قرآن كي راتگ ددې خبرې دليل دى چي كراهة في السمع سبب د خلل نه دى، ځكه تا (شارح په ۱۸ نمبر كي) مخكي دا خبره ذكر كړه چي "قرب المخرج حروف په يو لفظ كي يو ځاى كېدل سبب لپاره د تنافر ځكه نه دى چي دغه (قرب المخرج) په قرآن كي وجود لري لكه "ألَمْ أعهَدْ". نو اوس خلاصه داسوه چي قرب المخرج سبب خلل نه دى ځكه په قرآن كي واقع سوى دى("الم اعهد"). او كراهة في السمع دي سبب لپاره د خلل وى كه څه هم په قرآن كي واقع سوى دى ("ضيزى "او د "د سر"). لهذا د قرب المخرج او د كراهة في السمع تر مينځ فرق موجود نه دي په دې حيث چي دواړه په قرآن كي موجود دى. نو اوس يو سبب د خلل بلل او بل نه بلل دغه صحت نه لرى ؟

جواب: د "ألم اعهد" د "ضيزى" او د "دسر" تر مينځ فرق موجود دى دا ډول چي "ألم اعهد" مخكي ذكر كول د تائيد ددې خبري لپاره "لما نجد غير متنافر من القرب المخرج " دى. او ددې خبري "ولابسبب قربها" د ثابتولو لپاره نه دى. او په " ألم اعهد" باندى د منعي واريد بدل ضرر نه رسوي. ځكه دغه منع د تائيد لپاره ده نه منعَ لپاره د اثبات. "دسر"او " ضيزى" دلته ددې خبري د اثبات لپاره ده چي كراهت في السمع د خلل رسولو سبب نه دى. او په اثبات باندي د منعي واريد بدل ضرر رسوي.

﴿فائده﴾: ددې تفصيل دادي چي يوه مدعي او يو دليل وى، او يو د دليل لپاره تائيد راوړل سوى وى. لهذا د قرب المخرج په صورت كي مدعي داده: "منشأ الثقل هو اجتماع هذه الحروف المخصوصة ". او دليل دادى" قال ابن الاثير الخ". او ددغه تائيد لپاره شارح دا قول وړاندي كړي" لما نجد غير متنافر من القريب المخرج الخ". لهذا اوس چي دلته كوم اعتراض په حاشيه كي واقع سوى دى("الم اعهد") هغه پر تائيد باندى د دليل دى نه پر خپلَ دليل باندى. او پر تائيد باندى د اعتراض څخه پر مدعي فرق نه پورهوزى. ځكه د تائيد په بطلان سره دليل د مينعَ نه دى. نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دلیل په خپل ځای پاته سو نو مدعي هم په خپل ځای پاته سوه. پاته دلته په څلورمه وجه کې مدعي داده" کراهة في السمع سبب د خلل نه دی". او دلیل دادی" خکه کراهة في السمع لرونکي الفاظ په قرآن کې وجود لري". اوس دلته شارح چې کوم اعتراض وارد کړې دی (و فيه ايضا بحث الخ) دغه اعتراض پر دلیل دی دا وړل چې په قرآن کې راتګ دلالت پر دې نه کوی چې دغه سبب د خلل نه دی. لهذا په دغه سره دلیل د مینځ ولاړی. او د دلیل په باطلوالي سره مدعي باطلیږی. فتفكر. و الله اعلم بالصواب.

حاشیه نمبر۵:

په خاتمه کې دا خبره راغلېده چې هر مفرد لره یو داسي ځای وی چې هلته پرته د دغه مفرد بل څه حسن نه وی، د دغه خبری مصداق هغه څه دی چې ابن حاجب په امالي کې ذکر کړي دي، ابن حاجب ویلي دي چې کله کله یوه کلمه غیری فصیح وی او د دې سره یو داسي شي یو ځای سي چې د هغه په وجه دغه غیری فصیح، فصیح وګرزی، لکه په دې آیتِ کریمه کې "أَوَ لَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ إِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرٌ. (سورة العنكبوت: ١٩)". اوس په دغه آیت کې "يبدئ" استعمال سوی دی او دغه فعل مضارع د بابَ څخه د افعال ده. او فصیح باب د مجرد دی نه د مزید، مګر دلته "يعيد" راغلي دی کوم چې هم مضارع د باب څخه د افعال ده. لهذا "يبدئ" د "يعيد" سره د یو ځای کېدلو په وجه فصیح و ګرزېدی.

أبدأ / أبدأ في، يُبدئ ، إبْداءً ، فهو مُبدِئ ، والمفعول مُبدَأ. /// بدَأ / بدَأ، يَبدَأ ، بَدْءًا وبَدَاءةً وبِدَايةً ، فهو بادِئ ، والمفعول مبدوء – للمتعدّي. /// أعادَ يُعيد ، أعِدْ ، إعادةً ، فهو مُعيد ، والمفعول مُعاد.

حاشیه نمبر۶:

سوال: د "مع فصاحتها" حال بلل د ضمیر څخه د "خلوصه" صحت نه لری. ځکه معنيَ د "خلوص" د یو شی دبل شي څخه داده: "عدم كون الاول ثانيا" (یعني اول د دوم نه کېده). پر دغه تقدیر معني د عبارت داجوړیږی "الفصاحة في الكلام عدم كون الكلام مشتملا على ضعف التأليف و التعقيد تنافر الكلمات حال كون الكلام مقارنا بفصاحة الكلمات". (یعني فصاحت پ کلام کې دادی چې نه کېده د کلام مشتمل پر ضعف تألیف، تعقید، او تنافر د کلماتو په داسي حال کې چې دغه کلام ملګری فصاحت سره د کلماتو وی) نو نفي "عدم" پر داسي شي "کون" داخلي سوي دی چې هغه مقید په قیود و سره دی. او د هغو قیودو څخه یو قید "مع فصاحتها" دی. نو نفي "عدم" و قید "مع فصاحتها" ته متوجه سوې. لهذا د قید

نفي و سوي. نو اوس تعريف په "زيد اجلل" صادقَ وگرزېدی. ځکه په دغه مثال باندې دا صادقيږي چې دغه يو داسې کلام دی چې مشتملَ په ضعف التأليف، تعقيد او تنافر الکلمات باندې په داسې حال کې چې مقارن په فصاحت سره د کلماتو وي نه دی. او سره ددې فصاحت په کلام کې دا ډول نه دی؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې د "**خلوصه**" د ضمير څخه د "مع فصاحتها" حال گرزېدنه صحت لري. ځکه دلته "خلوصه" په معنې سره د "عدم الکون" (نه کېدو) نه دی. بلکه خلوصه په خپله نفي دی (يعنې خالي والي). او دلته "مع فصاحتها" د نفي د مقيد گرزولو لپاره دی. ځکه مور اول دواړه نفي معتبر وو. نو اوس معنې د عبارت داسوه "الفصاحة في الکلام عدم اشتماله علی ضعف التألیف و تنافر الکلمات و التعقید حال کون الکلام الذی لا یشتمل علی الامور المذکورة مقارنا بفصاحة کلماته" (يعنې فصاحت په کلام کې نه مشتمل والي د کلام په ضعفِ تأليف، تنافر د کلماتو او تعقيد باندې دی، په داسې حال کې چې دغه کلام کوم چې مشتملَ پر دغه ذکر سوو شيانو نه دی يو ځای د فصاحت سره د کلماتو وی). والله اعلم بالصواب.

حاشيه نمبر ۷:

سوال: که چيرې "مع فصاحتها" حال د "الکلمات" څخه (کوم چې په دې قول کې "تنافر الکلمات" کې راغلي دی) وگرزی نو په دغه صورت کې څه خرابي پېښيږی؟

جواب: په دغه صورت کې خرابي دا پېښيږی چې يو غيرِ فصيح کلام به فصيح و گرزی لکه "زيد اجلل". اوس دغه يو غيرِ فصيح کلام دی مگر دې به فصيح و گرزی. ځکه حال قيد لپاره د عامل "تنافر" د ذوالحال "الکلمات" وی. لهذا "مع فصاحتها" قيد لپاره د "تنافر" دی. او دا يوه قاعده چې څه وخت نفي پر داسې شي داخلي سي چې هغه مقيد په يو قيد سره وی نو دغه نفي هغه قيد د مينځ وړی نه مقيد. نو ددغه قاعده موافق دلته نفي (خلوصه) قيد "مع فصاحتها" د مينځ وړې نه مقيد، نو معنې د کلام دا گرزی: "فصاحت د کلام دادی چې کلام به د ضعف تأليف تعقيد څخه خالي وی او د کلماتو د تنافر څخه په داسې حال کې به خالي وی چې دغه کلماتي فصيح نه وی". (يعنې په فصيح کلام کې دا ضروری ده که چيرې کلماتي دده فصيحيه وي نو دغه کلماتي به بيا د تنافر څخه خالي وي، او که چيرې کلماتي فصيحيه نه وي نو بيا د کلماتو د تنافر څخه خالي والي ضروری نه دی)، نو دلته په "زيد اجلل" کې کلماتي فصيح نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی په دغه وجه د دوی د تنافر څخه خالي والي ضروری نه دی. لهذا د غیرِ فصیح کلام فصیح گرزېدل باطل دی نو "مع فصاحتها" حال د "الكلمات" څخه گرزول هم باطل دی.

حاشیه نمبر ۸:

ددې حاشیه تفصلاً بیان دادی:

﴿يا به دغه خلل په انتقال کې وی﴾ يعني کلام د بو داسې خلل په وجه پر مراد باندې ښکاره دلالت کونکي نه وی کوم چې واقع وی په انتقال کې د ذهن دهغه معني ولې څخه کومه چې په اعتبار د لغتې اول فهمول کيږی" ودويمې معنی مقصودی ته .او دغه خلل د هغه بعيد او دلری لوازمو د راوړولو د وجې څخه وې کوم چې د زياتو وسائطو محتاج وی سره د مخفي والي د هغه قرائنو کوم چې په مقصود باندې دلالت کوی .﴿لکه د هغه بل شاعر قول﴾ اوهغه عباس بن الاحنف دی .﴿ستا څخه د کور لری والي په دې خاطر طلبوم چې نه به ژوندې سې، تسکب﴾ يعني نصب . په رفعَ سره .دغه صحی روايت دی په کوم چې د شيخ کلام په دلائل الاعجاز کې بناء دی .او نصب وهم دی،﴿ زما سترګې اوښکې بهيوی ددې لپاره چې دوی وچې سي﴾يعني شاعر سکب الدموع کوم چې ژړا ده دهغه غم څخه کنايه ګرزولې ده کوم چې د محبوب په جدائي باندې وزاندی کيږی .او دغه سمې لاری ته رسيدلې دی .ځکه ژړل ډير خلې په غم باندې دليل ګرزول کيږی .ويل کيږی چې زمانې زه و ژړوم، او وبخندولم .يعني غمجن ئو خوشاله يې کړم .شعر: زمانه ما ژړوی او ډير ځلې مابه هغه شيانو سره خندوی کوم چې ما راضي کوی . مګر دی جمود عين د هغه خوشحالي څخه په کنايه ګرزولو کې خطاء سوی دی کوم چې په دوائمي ملاقات او وصال سره تر لاسه کيږی .﴿ځکه دجمود عين څخه انتقال راځي د سترګو په اوښکو سره بخل کولو ته﴾ په وخت کې دارادي د ژړا، او دغه د محبوبانو د فراق په وخت کې د غم کولوحالت وی .﴿ او انتقال دجمود عين څخه و طرف ته دهغه څه کوم چې شاعر قصد کړی دی چې هغه خوشحالي ده﴾ کومَ چې د ملګرو په ملاقات او د محبوبانوپه وصال تر لاسه کيږی .په دغه وجه د خير په دعاء کې داسې وينا کونه صحت نه لری چې د همېش لپاره دې ستا سترګې جامدی ئو وچې سي لکه ويل کيږی :الله دي ستا سترګې نه وژړوي. «ځکه د اول مفهوم څخه د شرء دعاء فهمول کيږی، او ددوم څخه د خير دعاء فهميږی». په عرف او لغت کې "سنة جماد" و هغه کال ته ويل کيږی په کوم کې چې د سره باران نه وی .او "ناقة جماد" و هغه اوښې ته ويل کيږی د کوم چې د سره شيدې نه وی .ګواکې دوی دواړه په باران او شيدو سره بخل کوي .حماسي ويلي دي: خبردار هغه ستر ګه چې ته دا په ورځ دواسط په خپل ځان ژړېدونکې نه کې پيدا هغه دي يخه سي .که چيرې وويل سي چې استعمال د جمود «کوم چې مقيد دی» مجازاً په مطلق خالي والي کې د سترګو د اوښکو څخه سوی دی، او دغه د باب څخه د استعمال د مقيد په مطلق کې

Maktaba Tul Ishaat.com

دې بيا دغه مطلق حو وړه کمابي د خوشحالي څخه د ګمرزولو سره. خکه مطلق حمعمو عاو نو
خوشحالي سره لازم وي. مګر د دغه په حواب کې وايو. چې دغه بوحنا د کلام نه بحث کوي
کوبت کوي. مګر دغه کلام د نه بحث معنوي څخه نه سي هيسلاي. خکه د دغې مسئلې کښه دغه
دغه توحيد ته په آساني سره سکاره نه دي. د تعقيد معنوي او خلل څخه همغه کلام خالي دي په
کوم کې چې د معنې لغوي څخه د معنې مقصودي ته مستقل کيږي سکاره دي. نو داسې وخته
پوري چې د اوربندونکي په خيال کې دا راوقع سي چې دې دغه معنې د نفس لفظ څخه فهميدلې.
او همغه کلام چې دغه لپاره معنې ثاني نه دي نو همغه د تلفو په اوربندي د معنې راوړو د درې څخه
ساقط وي. او زېر دي چې ته به دغه خبره په بحث کې د بلاغة الکلام و پيژني. او معنې د بيت
دا ده: عادت د زماني دا دی چې دا د مطلوب په نقيض سره راتګ کوي. او دا په عکس د مطلوب
راتګ کوي. او ما تر اوسه پورې قرب او خوشحالي طلبولې. نو ما ته پرته د دغه او چې ما نه لاس نه
را نه غلې. نو دغه د پرسته زه د قرب او د وصال د لاس راوړلو لپاره بعد او لرې وايي طلبوم. او زه د
خوشحالي ته د لاس راوړلو لپاره غم او تکليف طلبوم. دغه که چيرې ته تسکت په تقدير سره د
ان عطف به "بعد الدار" باندې د ګمرزولو په صورت کې منصوبه و ګمرزوې. او که چيرې بې ته مو فوق
و ګمرزوې لکه دغه چې صواب ده نو معنې دا ګمرزې. زه تر اوسه پورې زارم او غم کوم دې لپاره چې
په راتلونکي زمانه کې خوشحالي په قرب او وصال سره تر لاسه سي. نو دغه وخت "سکت الدهر"
باندې تر "تطلب" نه دې راغلې. مګر شاعر د دغه نه داسې متوجه سو او داسې پرسره لازم سو لکه
ملازمه د مطلوب شي سره. دې لپاره چې زمانه پوه په دې خبره سي چې دغه د شاعر مطلوب
دی. نو دا به په ضد سره د دغه راتګ و کړي. او دغه معنې د قوم په مينځ کې وشهيرت ته رسيدلې
ده. او په دغه کې وجود د تکلف او تعسف دې پټ نه وي. او د دغه منشأ جوړ عمر نه کوي په
معنا کانو کې ده او د تير سپيڅلي ماهر ينو د کلام تتبع نه کوي ده. او صحيح معنې دا ده چې شاعر په
طلب سره د فراق د دې اړ ده کړې چې دې نفس به فراق باندې خوشحاله کوي او د همغه د تلاشۍ
سي جوړ کړي. حتى کوا کې دغه د دغه مطلوب دې. او معنې د شعر دا ده چې زه ښ نفس به لرې والي
او فراق باندې خوشحاله کوم. او زه دې د غمجو د کالو عادي ګمرزوم. او د دغه نفس به خاطر په
داسې غمجو باندې صبر کوم چې زما د ستر ګو څخه او ښکې بهيږي. د دې لپاره چې دغه د وسيله
لپاره د داسې وصل او خوشحالي و ګمرزوم کوم چې دا ښې او لاروالا دې. خکه صبر د خلاصون
کيلي ده. او د هرې سختې سره آساني وي. او هرې ابتداء لره انتهاء وي. او دغه د دلائل الاعجاز

خبره، فهمیږي. او ددغه موافق سیر په "ساطب" کې محض لپاره د تأکید دی. او دغه بناء په هغه خبره ده کوم چې صاحب کشاف په دې قول الهي کې "سکت ما قالوا" «یعني مور به ددوی ږاوی نویشته کړو» ذکر کړیده.

تشریح

لغاتو بیان: معني اول: هر هغه معني چې د هغې لپاره په لغت کې لفظ وضع سوی وی.

معني ثاني: د متکلم مقصودی معني د لفظ څخه کوم چې مجازی معني لپاره د لفظ وی.

طلب: ظلبوم، بعد الدار: د خپل کور لرې والي.

سکب: بهیول. سکبَ یسکُبُ، سکْبًا: مهر ساکِبٌ، وسَکْبٌ، ومسْکُوب. والمفعول مسْکوب. سَکْبُ الماءِ: إنصبَّ، سال. سکْبُ الماء: مُ سکْبٌ دمعًا: بکی /// سکب. اِسَ اِ(ع مص) ریږانیدن آب. (المصادر زوزنی) (تاج المصادر بیهقی) (دهار)، یختن آ. (منتهی الارب) (دهار). ا ا پیاپی شدن باران پیوسته بزرگ قطره. ا ا اذان گفتن مو، ذن. (منتهی الارب). ا ا (ص، ا)مرد دراز بالا. (منتهی الارب) (اقرب الموارد). ا ا نوعی از جامه ٔ باریک. (منتهی الارب). نوعی جامه. (اقرب الموارد). ا ا س یا ارزیر. ا ا اسب نجیب تیزرو، فراخ گام، سبکروح، بانشاط. ا ا کار لازم. (منتهی الارب) (اقرب الموارد). ا ا ږان پیوسته بزرگ قطره. (منتهی الارب). الهطلان الدائم. (اقرب الموارد). ا ا (اخ) نام اول اسبی که در ملک آنحضرت (ص) درآمد و بدین معنی به تحریک هم آمده است. و آن کمیت سپید پیشانی و هر چهار دست و پای سفید و دست راست او طلق بود. (منتهی الارب).

جمود: خشک والي د سترګو د او ښکو څخه په وخت کې د ارادې څرګندول جمَدَ / جمَدَ في یَجمُد، جُمودًا وجُمُدًا، فهو جامد وخمَدَ وجُمود، والمفعول مَجْمود فیه. جَمَدَ الْماءُ: صارَ جَلِیداً. جَمَدَ في مَکانِهِ: ثَبَتَ فِیهِ ولَمْ یَتَحَرَّکْ: ثابتَ واقفة لا تتحرك. جَمَدَ فُکْرُهُ: تَقَلَّصَ، لَمْ یَعُدْ یَتَطَوَّرُ. جَمَدَ دَمُ الذَّبِیحَةِ: تَیَبَّسَ. جَمَدَتِ الأَرْضُ: لَمْ یُصِبْهَا مَطَرٌ. جَمَدَهُ بِالسَّیْفِ: قَطَعَهُ. جَمَدَ الْعَصَبُ: اَیْ قَطَعَهُ، جَمَدَ اللَّحومَ: حفظها بالتجمید. جَمَدَتْ عَیْنُهُ: قَلَّ دمعها فهي جامدةٌ، وجَمُود. جَمَدَتِ النَّاقةُ أو الشاةُ. قَلَّ لبنها. /// جمود. اِجَ اِ(ع ص) بی اشک. (منتهی الارب). جامد. (اقرب الموارد). گویند: عین جمود. (اقرب الموارد) (منتهی الارب).

فراق: جلا والي. الفِرَاقُ: الفُرْقة، وأکثر ما تکون بالأبدان. وفي التنزیل العزیز: الکهف آیة 78 هَذَا فِرَاقُ بَیْنِي وبَیْنِكَ). /// فراق. اِ ف اِ(ع مص) جدایی، دوری. (منتهی الارب) (اقرب الموارد). از یکدیگر جدا شدن. (زوزنی) (منتهی الارب). از هم جدا شدن. به فتح هم آمده است: هذا فراق بینی و بینک. (قرآن 18/78). (اقرب الموارد). مقابل وصال.

کابه: بد حالي. حاق اللفظ: **خودی لفظ.** حاق. اِ حاق ق اِ(ع ص، اِ) نعت فاعلی از حق. نفس الامر. حقیقت امر و معز آن. اصل شی ٔ: حاق واقع، حاقّ مسئله، حاق مطلب این است. ا ا وسط چیزی. (منتهی الارب). میان چیزی. (غیاث اللغات): سقط علی حاق راسه: آنکه با سر افتد. ا ا حِنْته فی حاق الشتاء. (منتهی الارب): در بحبوحه ٔ زمستان. پیش او آمدم. ا ا حاق الفقاء: میان پس گردن. (مهذب الاسماء). ا ا حاق الجوع: گرسنگی صادق. ا ا رجل حاق الرجل: مردی کامل در مردی. مردی مرد. ا ا حاق الشجاع: مردی کامل در شجاعت. کامل در دلاوری. (منتهی الارب). مَردِ مرد. دلیری دلیر. و رجوع به حاقّة شود.

Maktaba Tul Ishaat.com

اکت:متوجه کیدنه.لازم:ور سره لازم گرزیدل.تعسف:کج روی عسف فی تعسف ، تعسّفا ، فهو معسف والمفعول متعسّف فیه - • تعسّف فی الأمر :ظلم وجار واسدّ - تعسّف الدّول العظمی فی تعاملها مع الدّول الصغیرة - - سجّل متعسّفون فی قراراته • تعسّف فی الکلام 1 - عسف فیه ، فعله بلا رویّة ولا تدبّر - ارا، متعسّفه 2 - حمله علی معنی لا یکاد دلالة علیه ظاهرة - تحریج متعسّف فیه . (اللغة العربیة المعاصر)

تعمق:جور والي تعمّق فی یتعمّق ، تعمّقا ، فهو متعمّق ، والمفعول متعمّق فیه تعمّق فی موضوعا : بحث فیه بحثا متعمقا . متعمّقا ذقائقة تعمّق فی العلوم اللّغویة تضلّع منها تعمّق فی اللّغة : تفحّص فیها تعمّق فی کلامه : تنطّع.

تصفح:جستو ، طلبونه تصفّح / تصفح فی یتصفّح ، تصفّحا ، فهو متصفّح ، والمفعول متصفّح تصفح الکتاب قلّب أوراقه ونظر فیه لیطّلع علیه تصفّح النّصّ : نظر فی أخواله وتأمّل أموره.

المهرة:ماهرأن. ماهر (اسم) الجمع : مأهرون و مَهَرة ، المؤنث : ماهرة ، و الجمع للمؤنث ماهرات و مَهَر اسم فاعل من مهر حاذق ، من یُتقن عمله بسراعة وبمستوًى فیه حذّاد / لغویّ ماهر ، سبّاح ماهر : مجید ، عامل ماهر : ذو خبرة.///مهرة. [مَ هَ رَ] (ع ص ،ا) ج ماهر. (اقرب الموارد). رجوع به ماهر شود.

سلف:مخکني علماء سلف یسلف ، سَلَفا وسُلُوفًا ، فهو سالف والجمع : سُلاّفٌ ، وسَلَفٌ سلف الشّیءُ : تقدّم وسبق ، مضی وانقضی سلف الثائر : تقدّمهُ ، سَلَفَ سَلَفَ الأرْضَ : سوّاها بالمِسْلَفة ، لِلزّراعة وغَیْرها ///سلف. [س لَ ف] (ع ا) پیشینیان . (برهان) پیشینیان . ج ، اسلاف و سلوف . (دهار) (مهذب الاسماء). کسی که در پیش میزبسته . گذشته (از پدران و اقوام). ج ، اسلاف . (فرهنگ فارسی معین). پدران درگذشته . (منتهی الارب) : بجای آورد بروش سلف صالح خود. (تاریخ بیهقی چ ادیب ص 308).

تو طین: عادی گرزول. وطّن / وطّن ، یوطّن ، توطینًا ، فهو مُوطِّن ، والمفعول مُوطَّن وطّن فلانًا : أنزله سکنًا یقیم فیه وطّن النّفس علی الأمر : هیّأها لفعله وطّن الشّخصُ بالبلد : اتّخذه محلاًّ وسکنًا یقیم فیه

مقاساة:زغمل. قاسی / قاسی من یقاسی ، قاسِ ، مُقاساةً ، فهو مُقاسٍ ، والمفعول مُقاسًی قاسی العَذابَ الأَلیمَ : کابدهُ ، تحمّل آلامَهُ قاسی الأمرَ الشدید : کابدهُ وعالجَ شدّتَهُ. /// مقاساة. [مُ] (ع مص) (از «ق س و») رنج بکشیدن . (تاج المصادر بیهقی). رنج چیزی کشیدن . (دهار) (از مجمل اللغة) (منتهی الارب) (آنندراج) (ناظم الاطباء). معالجه و امر شدید و مکابده آن . (یادداشت به خط مرحوم دهخدا) (از اقرب الموارد). و رجوع به دو مدخل قبل شود.

التجرع:په غړپ غړپ سره تېرول. تجرّع یتجرّع ، تجرُّعا ، فهو متجرّع ، والمفعول متجرّع تجرّع الغُصّةَ : شرِقَ بها فتنحّنحَ ، بلَعَهُ وَنَعَقَ بَعْدَ رَنَقَةٍ تُحْتُ أَنْعُقُ شُعُوذ مَنْ يَنْصَعُ الحَصَى أَوْ يَتَجَرَّعُ الدَّوَاءَ الْمُرَّ ، تَجَرَّعَ الغَيْظَ : كَظَمَهُ /// تجرع. [ت جَ رَ] (ع مص) فروخوردن خشم و آنچه بدان ماند. (تاج المصادر بیهقی) (زوزنی) (ترجمان عادل بن علی). فروخوردن خشم (از اقرب الموارد) (از قطر المحیط) (منتهی الارب) (ناظم الاطباء). ۱۱ جرعه جرعه خوردن آب و مانند آن . (منتهی الارب) (ناظم الاطباء). جرعه جرعه نوشیدن و اندک اندک نوشیدن . (غیاث اللغات) (آنندراج). جرعه جرعه نوشیدن . (از اقرب الموارد) (بحر الجواهر) (فرهنگ نظام). معنی جرعه بکبار نوشیدن است . (فرهنگ نظام) : بتجرعه و لایکادیسیغه . (فرآن

17/1:) هر ګاه ملوک را لازم گیرد ... و از تجربه شاهان تاج تجربت نماید ... هر آینه مراد خویش ... او را حاصل واجب بیند. (کلیله و دمنه)

عصص: تكليفونه العَصَصُ : ما اعترض في الحلق من طعام أو شراب والجمع : غُصَصٌ غصه الطعام : سكرته العُصَّةُ : از وخزن وهغه شيا متواصل /// عصص . [ع ص ص] (ع مص) (درماندن در گلوی کسی طعام و جز آن . (منتهی الارب) (آنتشراح) طعام در گلو ماندن . (ترجمان علامه جرجانی) (دهار). طعام در گلو گیر شدن . (مصادر زوزنی). در گلو ماندن چیزی از طعام و نازداشتن از تنفس . ! ! گلوگیر شدن از خشم . و این معنی بنابر تشبیه است . (از اقرب الموارد). ! ! تنگ شدن جایگاه مردم . (مصادر زوزنی): عصص مصدر له گروهی : پرشدن ان با ایشان و تنگ شدن بر ایشان . ! ! غصص چیزی : بریدن آن . (از اقرب الموارد).

التحمل: صبر كوئه. إحتمل : [ح م . ل] (فعل : حماسی لازم متعد) اِحْتَمَلَ ، اِحْتَمِلْ ، إحْتَمِلْ ، مصدر إحْتِمالٌ

1 :- إحْتَمَلَ نَفْدَهُ : أطَاقَه ، صَبَرَ عَلَيْه . 2 . . إحْتَمَلَ عَضَّةً : أطَاقَهَا ، تَحَمَّلَهَا . لا يَحْتَمِلُ إجْرَاء عَمَلِيَّةٍ جِرَاحِيَّةٍ الآن . لَمْ أعُدْ أحْتَمِلُ مُزَاحَهُ 3 . :- إحْتَمَلَتِ المَسْأَلَةُ خَلَيْنِ :- : قَبِلَتْ ، جَازَ فِيهَا حِلَان . 4 . :- إحْتَمَلَ مَا كَانَ مِنْهُ :- : عَفَا عَنْهُ ، صَفَحَ ، أغْضَى .

فرح: خلاصون. فَرِحَ : (اسم) الفَرَحُ : انكشاف الغَمِّ أو الشدة أو الهَمِّ ، وأَدَاءُ النَّصْرِ مَعَ الصَّبْرِ وأَنَّ الفَرَجَ مَعَ الكَرْبِ وأَنَّ مَعَ العُسْرِ يُسْرًا رَفْرَفَ الفَرَحِ : تَنَهَّدَ الارياح فَرِحَ : (فعل) فَرِحَ يَفْرَح ، فَرَحًا ، فهو فارح ، والمفعول مَفْرُوح – للمتعدّي فَرِحَ بين الشَّيْئين : جعل بينهما فُرْجَةً أو شقًّا وسّع بينهما فَرَجَ الْبَابَ : فَتَحَهُ فَرَجَ الْفُرْقَةَ : وَسَّعَهَا.

دوهم قسم د تعقيد ببيان: تعقيد معنوی دې ته ويل کيږی چې کلام د سامع لپاره ظاهر الدلالة په دې وجه نه وی چې د معنی لغوی څخه و طرف ته د معنی مجازی د ذهن په منتقل کېدو لو کې خلل واقع سوی وی(يعنې متکلم يو داسې کلام وړاندی کړی د کوم څخه معنی حقيقی لغوی مراد نه وی بلکه معنی مجازی مراد وی مګر د دغه معنی مجازی و طرف ته د کوم خلل د وجې د اوريدونکی ذهن په آساني سره نه وړاندی کيږی) دغه ته تعقيد معنوی ويل کيږی.

سوال: د ذهن په نقل کېدنې کې تر سره سوی خلل سبب څه شی وی؟

جواب: په کلام کې د داسې بعيد و لوازمو ذکر کونه وی کوم چې د ډيرو وسائطو محتاجه وی او په مقصود باندی د دلالت کونې قرائنې خفي وي.

مثال: سَأَطْلُبُ بُعْدَ الدَّارِ عَنْكُمْ لِتَقْرُبُوْا ۞ وَ تَسْكُبُ عَيْنَايَ الدُّمُوْعَ لِتَجْمُدَا.(معاهد التنصيص 1/ 51)،(الموازنة 1/ 74)، (دلائل الإعجاز 268)،(أمالي الزجاجي 58)،(الصاحبين 225)،(الوساطة 234)،(الكامل 1 / 263).يعنې زه ستا څخه دکور لرې والي په دې وجه غواړم چې تاته ژندې سم، او زما سترګې اوښکې بهيوی د دې لپاره چې دوی وچې سي.

محل استشهاد: په دغه شعر کې شاعر دوې کنايانې وړاندی کړی دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱: د سترګو څخه د اوښکو بهېدل د غم او حزن څخه کنايې ده. يعني مقصد د شاعر په دغه شعر سره د اوښکو د بهېدولو خبر، ورکونه نه ده، بلکه ددې لارم چې غم او حزن دی د هغه خبر ورکونه مقصد ده. او دغه کنايه صحي او په دغه کې کوم تعقيد وجود نه لري.

۲: شاعر جمود عين(د سترګو خشک کېدنه) کنايې د هغه سره او خوشحالي څخه ګرزولېده کوم چې د دائمي يو ځای والي څخه تر لاسه کېږي،يعني د جمود عين څخه کنايتاً خوشحالي صحي نه ده، ځکه د جمود عين څخه ذهن و دې طرف ته ځي چې سترګو په ژړا کولو سره بخل وکړي هغه وخت چې سترګي د محبوب په فراق باندی د غم کولو په وجه سره د ژړا اراده وکړي. نو سترګي د اوښکو په بهېولو سره بخل کوي. او دغه کنايه د هغې خوشحالي څخه نه ده د کوم چې شاعر قصد کړی دی.

محاسبه:په دغه کې شاعر غلط سوی دی،ځکه ذهن د جمود عين څخه د هغه خوشحالي و طرف ته نه منتقله کېږي کوم چې د اندېوالانو سره د يو ځای والي څخه تر لاسه کېږي. بلکه د جمود عين څخه ذهن و دې خبرې ته وړاندی کېږي چې سترګي د ژړا په مهال د اوښکو په بهېولو کې بخل تر سره کړي.او انسان د ژړا اراده هلته کوي څه وخت چې دی د دوستانو په جلا والي باندی غمجن وی.لهذا څه وخت چې د شاعر و مراد ته په آساني سره نقل کېدنه د ذهن نه رائي نو په دغه کې به يقينا خلل وی،او دغه کلام به په تعقيد معنوی باندی مشتمله وی،او دغه تعقيد په دې وجه تر سره سوچې د ملزوم«جمود عين»او د لازم «خوشحالي» تر مينځ متعددی وسائطي وجود لري.او په مقصود باندی دلالت کونکې قرينه خفي ده.

بالرفع:**سوال**:سکب په ترکيب کې څه واقع سوی دی؟

جواب: په دغه کې دوه روايته دي.

۱: **مرفوع**: د غه عطف په سأطلب باندی دی نه په لتقربو اباندی،

دليل اول:په صحي نقل سره د شاعره څخه دا خبره ثابته ده چې تسکب مرفوع دی.

دليل دوم:په دلائل الاعجاز کې شيخ عبدالقاهر کومه معني بيان کړيده(کوم چې شارح يې آخر بيانوی) هغه هلته تر لاسه کېدای سي چې تسکب په سأطلب باندی عطف سي.

۲: **نصب**:د غه به عطف په بعد الدار او يا به په تقربو اباندی عطف وی او لاندی به تر لام وی،

محاسبه: دغه دومه وجه کمزوري ده ځکه که چيرې عطف په بعد الدار باندې سي نو په دغه صورت کي به دې په تأويل د مصدر په ان مقدره سره جوړ سي. نو عبارت به دا وګرځي: (ولا مطلب سکب الدموع عيناي (يعني څرګندي چې زه به دسترګو څخه د اوښکو بهيول طلب کړم)، او دغه صحي نه دي، ځکه هغه عاشق چې د معشوقه څخه لرې سوی وي هغه به هرو مرو په ژړا سره وي، نو اوس که دې طلب د اوښکو د سترګو څخه وکړي نو دغه تحصيل د حاصل دي.

اوس که چيرې عطف په تقريوالاندې ترلامسي نو معني داجوړيږي: زه لرې والي د کور ددو وجو څخه طلبوم.[1]: د ژندې کېدولو د وجې.[2]: ددې وجې چې زما سترګي اوښکي و بهيوي. او دغه هم صحي نه ده، ځکه په دغه صورت کي د مقصود خلاف لازميږي، ځکه د کور د لرې والي د طلبولو څخه مقصد ژندې والي د محبوبانو او وصال دې ددې لپاره چې په دغه سره خوشحالي راسي. او مقصد اوښکي بهيونه نه ده. کوم چې کنايه د غم او فراق څخه ده. نو په دغه صورت کي د مقصود خلاف راتلنه راغله او دغه باطل دي.

فان قيل: سوال: دغه اعتراض د مصنف په دغه قول باندې واردېږي چې انتقال د جمود عين څخه و بخل کوني ته د سترګو رائي نه و هغه څه ته کوم چې مقصد د شاعر دي، نو اوس دغه کلام معقد وګرځېدې، خلاصه د اعتراض داده چې دغه شعر معقد نه دي ځکه په دغه کي ذهن په ډير تيز والي سره و مقصود ته د شاعر منتقليږي، (او هغه کلام معقد نه سي کېداى د کوم دلالت په مقصد د متکلم بنکاره وي)، ځکه موږ دلته دغه خبره نه منو چې په دغه سره انتقال د سره نه رائي (حتي چې بيا غلط و ګرزي) بلکه دلته دا روا ده چې جمود (کوم چې مقيددي يعني د ژړا په مهال د سترګو خالي والي د اوښکو څخه) په معني مطلق کي (خالي والي د سترګو د اوښکو څخه) په طريقه د مجاز استعمال سوی وي. او دغه قبيلې څخه د استعمال د مقيد په مطلق کي وي. ورسته تر دي بيا جمود کنايه د خوشحالي څخه و ګرزول سوه، ځکه مطلق خالي والي د سترګو د او اوښکو څخه لازم د خوشحالي او سرور سره دي، ځکه عادتاً انسان د خوشحالي په مهال نه ژاړي او دده سترګي د اوښکو څخه خالي وي. لهذا د سرور لازم د سترګو خالي والي د اوښکو څخه دي. نو اوس هيڅ يو خلل په انتقال کي د ذهن د جمود څخه و طرف ته د سرور پاته نه سو؟

جواب: ستا په دغه ذکر سوي توجيه سره د کلام صحت رائي (چې د جمود څخه سرور څرنګه مراد دي) مګر په دغه سره تعقيد نه ختميږي، ځکه کوم کلام چې خالي د تعقيد څخه وي په هغه کي

Maktaba Tul Ishaat.com

انتقال و معنې مقصودې ته په سرعت سره وې او دلته دغه ډول نه ده. نو په دغه وجه په دغه کلام کې تعقید معنوی اوس هم پاته دی.

فالکلام الخالي **سوال**: په دغه دلیل سره مدعي نه ثابتیږي، ځکه مدعي داده چې دغه شعر د تعقید معنوی څخه خالي نه دی که څه هم دغه سائل دغه ذکر سوې توجیه بیان کړه، او دلیل کوم ته چې په دې قول سره اشاره سوېده «لظهور ان الد هن لا ینتقل الی هذا السهولة» دلالت پر دې خبرې کوي چې ذهن ودغه ته په آسانې سره نه نقل کیږي. او دغه دلیل په دې خبره نه سي کېدای چې دغه کلام او شعر په دغه توجیه سره د تعقید معنوی څخه نه سي وتلای؟

جواب: دلته دلیل په پوره توګه سره ذکر سوی نه دی بلکه د دغه ذکر سوی عبارت سره دا هم سته "ان الخالي عن التعقید لا یکون کذالک". اوس په دغه دلیل سره مدعي و ثبوت ته ورسېده.

و اما الکلام الذی" : **سوال**: هغه کلام چې د هغه لپاره دویمه معنې نه وی هغه به د هیڅ لپاره معقد کېدای نه سي، ځکه په دغه کې انتقال د اولي معنې څخه و دویمې معنې ته نه سي راتلای. ځکه دلته دویمه معنې نسته؟

جواب: دغه کلام د بلغاؤ په وړاندی معتبر نه دی نو اوس که چیرې دی معقد او که غیر معقد وګرزی دغه خبره د باک وړ نه ده.

معنې البیت: **سوال**: په دغه عبارت سره مقصد د شارح څه دی؟

جواب: دلته شارح اولاً هغه معنې بیانوی کومه چې د قوم او دادیبانو په وړاندی و شهرت ته رسېدلې ده. ورسته تر دې بیا شارح دغه معنې ضعیفه ګرزوي. او په آخر کې صحی معنې بیانوي.

لکه اکب علیه: **سوال**: داوښکو بهیول لاندی تر طلب داخل نه دی نو بیا دغه د شاعر مطلوب نه وګرزېدی نو بیا به زمانه د دغه په ضد سره څرنګه راتګ وکړی، نو سرور او خوشحالي به څرنګه تر لاسه سي. ځکه زمانه په ضد سره د هغه شي راتګ کوي کوم چې د انسان مقصود وی او کوم چې مقصود نه وی د هغه په ضد سره راتګ نه کوی؟

جواب: دغه که څه هم تر طلب لاندی نه دی مګر دغه د شاعر په بله وجه سره مطلوب دی هغه دا ډول چې شاعر و دغه ته په پورا توجه سره متوجه سوی دی او د هغه سره یې ځان داسي لازم

کړزولي دی لکه د مطلوب سره(لکه په دغه باندی صیغه د مضارع «سک» دلالت کوی کوم چې په دوام باندی دلالت په قرینه سره د مقام کوی)، نو زمانه دا گمان وکړی چې دغه د شاعر مطلوب دی نو زمانه ددغه په ضد چې خوشحالي ده راتلگ وکړی.

الا یحفی ما فیه: ددغه څخه مقصد رد کونه په دغه مشهوری معنی ده، حاصل د وجي د تکلف په ردو، وجوهاتو سره بیانیږی.

۱: عادت د زمانې دادی چې دا په نقیض سره د هغه شي راتلگ کوی کوم چې مطلوب په حقیقت کي وی نه په نقیض سره د هغه څه چې هغه مقصود ظاهراً وی نه حقیقتاً، اود مشهوری معنی بناء په دوم ده نه په اول.

۲: هغه څه چې شهرت ته رسېدلي دی هغه دادی چې سین په ساطلب کي لپاره د استقبال دی، نو بناء بر دغه بعد او فراق د شاعر په وړاندی به خالي نه وی یا به دواړه په وخت کي د خبر اورکولو حاصل وی او یا به نه وی، که چیرې وی نو دغه تحصیل د حاصل دی، او که چیرې حاصل نه وی نو بیابه ددوی ضد حاصل وی، او ضد یې وصال دی نو په دغه صورت کي هم تحصیل د حاصل راځي ځکه چې دبعد طلبونه ددې لپاره تر سره کیږی چې وصال حاصل اسي، او وصال حالاً حاصل دی نو د وصال بیا طلبونه تحصیل د حاصل ده، او دغه هم باطل دی.

والصحیح: **سوال**: مقصد د شارح ددغه څخه څه دی؟

جواب: دلته شارح صحی معني بیانونه غواړی، خلاصه داده چې شاعر وایي چې زه بعد مکاني ددې لپاره خپلوم چې زه نفس په فراق باندی راضي کړم. او دی په غم زغمولو او دی د احبابو و طرف ته د شدتي اشتیاق عادی جوړم، او شدتي اشتیاق تریخ والي زغم، او ددغه شوقونه په خاطر داسي غم زغمّ کوم چې زما د سترګو څخه اوښکي بهیږی یعني زه د غم د وجي به ډیر وژاړم د کوم په نتیجه کي به ما ته وصال ترلاسه سي، ځکه د غم ورسته خوشحالي وی، ځکه صبر د خلاصون کیلي ده. او د هری تنګي ورسته پراختیا وی او هری ابتداء لره انتهاء وی.

﴿فائده﴾: په دغه تقدیر سین په "ساطلب" کي لپاره د استقبال نه بلکه لپاره د تأکید دی، لکه په ادي الهي قول کي چې دی: لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللّٰهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ

Maktaba Tul Ishaat.com

الأنبياء بغير حقٍّ ويقولون ذُوقوا عذاب الحريق (ال عمران، ۱۸۱) ،او نسبت په رفعه سره دی، ځکه دغه عطف په اطلب دی.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

بیان داولي وجي: "مثله" مبتداء او "حی" موصوف، "یقاربه" صفت دی. موصوف سره د صفت خبر لپاره د مبتداء دی. او "ما" د بنو تمیم د مذهب موافق عمل کونکي نه ده. نو تقدیر د عبارت داډول گرزي "و ما مثله حی یقاربه فی الناس الا مملکا ابوامه ابوه".

بیان ددومي وجي: "مثله" خبر مقدم، "حی" سره د صفت مبتدأ مؤخره ده. او د حجازیانو د مذهب موافق "ما" عمل کونکي پاته سوې نه ده، ځکه تقدیم د خبر راغلي دی. نو تقدیر د عبارت داډول دی "و ما مثله فی الناس حتی یقاربه الا مملکا ابوامه ابوه".

﴿فائده﴾: هغه "ما" چې د "لیس" سره مشابه وی د هغې عمل کول په درې شرطونو سره مشروط دي. ۱: اسم به مخکې تر خبر وی. ۲: د "ما" سره به الا راغلي نه وی. ۳: خبر به د "الا" څخه خالی وی. (شرح قطر الندی و بل الصدی ۱۶۶)

داولني وجي د معنوي کمزوروالي بیان: دغه کمزوروالي په دو وجو سره دی.

۱: د شي سلبوالي د خپل ځان څخه رائي. ځکه ما که څه هم اسم او خبر نه غواړي او عمل کونکي نه ده، مګر معني یې "چې نفي ده" پاته ده. او نفي چې په جمله کې راسي هغه قید د مینځ وړي. او دلته "یقاربه" په معني سره د "یمائله" ده. د عبارت معني دا جوړیږي "ما مثله (مبتدا) حی (خبر) یمائله (قید) "یعني مثل دده یو داسې ژوندی نسته چې مثل دده وی. لهذا دلته قید "چې مماثل (یقاربه) دی" د "مثله" څخه نفي سوي دی. څرنګه مبتدا او خبر عبارت د یوه شي څخه دی په دغه وجه دغه نفي د شي "مماثل" د خپل ځان "مثله" څخه تر سره سوی دی او دغه باطل دی.

دومه وجه: یو ذات لره ثبوت د مثل او سلبوالي د مثل راغلي دی. ځکه په مبتدأ کې ثبوت د "مثل" راغلي دی. او په خبر کې سلبوالي د "مثل" راغلي دی. په بل عنوان سره د عقد وضع او حمل ترمینځ تناقض راغلي دی. ځکه په عقد الوضع کې ثبوت د مثل او په عقد الحمل کې نفي د مثل راغلي دی.

ددومي وجي د کمزوروالي بيان: دغه هم په دغه وجو سره کمزوري ده.

۱: سلب د شي د خپل ځان څخه رائي. ځکه "تقابر" په معنی سره د "يمائله" دی. او نفي په جمله کي و حکم ته راجع وی. او حکم ثبوت د محمول لپاره د موضوع وی. نو تقدير د عبارت دا ګرزی "ما حی يمائله مثله" داسي ژوندی چي مثل دده وی مثل دده نه دی.

۲): د يوه ذات څخه ثبوت د مثل او سلبوالي د مثل راغلي دی. ځکه په مبتدأ کي ثابتوالي د مثل او په خبر کي سلبوالي د مثل راغلي دی.

سوال: سلب د شي د خپل ځان څخه باطل وی. لهذا دغه دواړي توجيهاتي بايد فاسدي سي نه د معني په اعتبار سره کمزوري. نو بيا شارح ولي دغه ته قلق(قلق . اق ل ا (ع مص) بی آرام شدن و جنبيدن . (اقرب الموارد) (منتهی الارب): قَلِقَ الرجل قلقا: انزعج و اضطرب (اقرب الموارد). ۱۱ (امص) بی آرامی . (منتهی الارب) (آنندراج) (تاج المصادر بيهقی). اضطراب . (اقرب الموارد). ۱۱ تنگ دلی . (تاج المصادر بيهقی) ويلي دی؟

جواب: دغه توجيهاتي فاسدي نه بلکه په معنوي کمزوری باندي مشتمله دي، ځکه ددغو دواړو توجيها تو دا توجيه کېدای سي چي دلته سلب د شي د هغه شي څخه راغلي دی کوم چي په خارج کي معدوم دی(او هغه مماثل د ممدوح دی). او سلب د شي د خپل ځان څخه هغه وخت صحی دی چي هغه معدوم وی. او دلته هم دغه وُل دی.

سوال: بايد دغه توجيه (سلب د شي د ځان څخه هغه وخت جائز دی چي دی په خارج کي معد وم وی) ددغه دوو توجيهاتو د صحت لپاره کفايت وکړی؟

جواب: ۱): دغه توجيه ددې لپاره ذکر سوې ده چي ددغه دو توجيهاتو معنوي کمزوري ښکاره سي او دغه توجيه لپاره د صحت ددغه توجيهاتو ذکر سوي نه ده. نو په دغه وجه دغه توجيه د صحت توجيه جوړېدلای نه سي.

۲): ځکه صحت دنفي د شي د خپل خانه څخه په وخت کي د معدوم والي دغه نادره او په تعريفاتو تي ښکاره نه وی. لهذا داسي وجه د صحت لپاره د توجيه جوړېدلو صلاحيت نه لری.

سوال: څه وخت چي ددواړو وجو کمزوروالي په دوو، وجو سره وو، نو محشي ددواړو وجو د کمزوروالي په بيان کي دواړي وجي ولي ذکر نه کړې؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د اولي وجي د کمزورو الي په بيان کي محشي اوله وجه د کمزورو الي ذکر کړ. او په ټولو کي سره د کفايت کولو د وجي، دويمه وجه يې ذکر نه کړه. او د دوهمي وجي د کمزورو والي په بيان کي يې بيا دومه وجه ذکر کړه. او په مخکني سره د کفايت کولو په وجه هغه اوته وجه د کمزورۍ يې ذکر نه کړه. فاحفظ هذا توجيهي.

﴿فائده﴾: قضيه خارجيه د تعريف بيان: هر هغه قضيه چې په هغه کي و يو خارجي محمول شي ته ثبوت د شي سوی وی. (محب الله بهاری)

دوم تعريف: هر هغه قضيه چې په هغه کي حکم په حسب د حال د موضوع د اعيانو په صورت کي سوی وی. (ملا حمدالله ۴۱)

عقد الوضع: متصف والي د ذات د موضوع په وصف سره د موضوع.

عقد الحمل: متصف والي د ذات د موضوع په وصف سره د حمل. (حمدالله ۶۳/ح۸) فاطلب زيادة التفصيل في شرحي للبديع الميزان المسمى بمعصوم البيان.

حاشيه نمبر ۲:

سوال: "حي يقاربه" څه ترکيبي حيثيت لري؟

جواب: دغه بدل د "مثله" څخه دی. او دغه بدل هم بدل کل دی.

سوال: د دغه بدل په راوړلو کي کوم فائده وجود لري؟

جواب: دلته دوه شيان دي. ۱: د يو کس مثل وجود لري. ۲: د يو کس مثل خو نه وی مګر و هغه ته ژندې کس په صفاتو کي وجود لري. لهذا د مثل په نفي سره محض دا خبره ثابتيږی چې دده مثل نسته، او دا کېدای سي چې دده ژندې دي وی. نو بيا و ده ته د ژندې کس نفي کولو لپاره "حي يقاربه" راوړل سو. لهذا د "مثل" په نفي کولو کي دومره اوچت شان نه ممدوح نه ثابتيږی څومره چې د ژندې په نفي سره ثابتيږی. په دغه وجه نفي د "يقاربه" ترنفي د "مثل" اهم دی. د دغه فائده ترلاسه کولو لپاره شاعر "حي يقاربه" وړاندی کړي.

حاشيه نمبر ۳:

سوال: د شارح بيان سوی علت "الخلل في الانتقال بايراد اللوازم البعيدة المفتقرة الى الوسائط الكثيرة الخ" د دې تقاضی کوی چې دغه خلل موقوف" پر وجود د درو لوازمو او د درو وسائطو او زيات تر "دغه" دی، ځکه دلته هر يو د لوازم او وسائط څخه په صيغه سره د جمعي راوړل سوی دي. او

د جمعي کمتره مرتبه درې ده.او حال داچې خبره په حقیقت دغه ډول نه ده،ځکه تعقید په مراد والي سره د یوه لازم او دیوې واسطې هم حاصلیږي. دا هغه وخت چې په مقصود باندې دلالت کونکې قرینه خفي وي؟

جواب: کوم لام چې داخل په "اللوازم" او په "الوسائط" دی دغه لپاره د جنس دی، ځکه هر هغه ځای کې چې لام لپاره د عهد او استغراق نه سي کېدلای په هغه ځای کې بیا لام لپاره د جنس وي. او دلته استغراق ددې وجې ممکن نه دی چې د ټولو لوازمو راوړل او د ټولو وسائطو متحققه کېدل په کلام کې ممکن نه دی. او دلته عهد هم دغه ډول دی،ځکه دلته یو داسې قرینه نسته کوم چې دلالت پر تعین د لوازمو او وسائطو کوی. لهذا خلاصه داسوه چې دلته لام لپاره د جنس دی. او لام جنسي چې څه وخت په جمع داخل سي نو هغه د جمعي جمعیت باطلوی. لهذا دلته مطلق لوازم او وسائط مراد دي عام تردي یو او که ډیر وی.ځکه جنس په لږ او هم په ډیر دلالت کوی.

سوال: د شارح د کلام تقاضي دادە: خلل په وخت کې د نه موجودګي د واسطه نه ثابتیږی. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده، ځکه خلل په وخت کې د مراد والي د لازم د موضوع له "چې د دغه لازم او د معنی موضوع له ترمینځ واسطه نه وی، او پر دغه باندې دلالت کونکې قرینه خفي هم وی" هم ثابتیږي؟

جواب: شارح دد و وجو دغه قسم ته "چې واسطه نه وی" تعریض کړی نه دی.

۱): شارح بیان د اغلب او د هغه قسم وکړي چې د هغه واقع والي او په کلام کې راتګ یې ډیر وي. او هغه لازم چې قریب او بېله واسطه وی او یا په یوه واسطه سره وی د هغه د علاقې خفي والي ډیر کم وی. او ښکاره والي یې ډیر وی. او د ښکاره والي په وخت کې بیا خلل نه وی.

۲): شارح بیان د هغه مثال کوي چې هغه په عبارت کې راغلي دی. او غه هغه کلام دی چې په هغه کې لوازم او وسائطي ډیر دی. لهذا د هغه بیان په خاطر یې هغه ذکر کړی، او په مثال کې د لازم قریب د نه موجود والي په وجه ذکر نه کړی.

سوال: مراد په لوازمو سره کوم لوازم دی؟

جواب: هغه لوازم چې د اهل المعانی او بیان په وراندی معتبر دي، هغه دادي "هر هغه شي چې وجود دده په طریقه د تابع والي د بل شي وی که څه هم جلاوالي ددغه لازم منع نه وی. او دغه ډول که څه هم دغه ملزوم خاص تر لازم پورې وی.لکه بالفعل ضحک لپاره د انسان".او د

Maktaba Tul Ishaat.com

منطقينو په وړاندې چې کوم لازم دی هغه دلته دلته مراد نه دی. هغه دادی "ما يمتنع انفكاكه عن الشئ".

حاشیه نمبر۵:

سوال: د اوښکو توهل يې ولې د غم او حزن څخه کنايه ګرزول؟

جواب: اوښکې د غم سره لازمي دی، ځکه څه وخت چې انسان ته يو غم ،تکليف او يو نامنا سبَ شي و رسيږی نو دغه وخت روح و زړه ته متوجه سي، او د زړه څخه يو بخار و دماغ ته پورته سي، څه وخت چې دغه بخار و دماغ ته ورسيږی نو دغه اوبه و ګرځی ، بيا دغه اوبه د اوښکو په صورت کې د سترګو څخه و بهيږی.

حاشیه نمبر۶:

سوال: ددغه شعر څه معنې ده؟

جواب: ددغه شعر معنې داده "ډير خلي زمانه ما په خښم کونکي شي سره ژړوی. او أي! قومَ لږ خلي ما په خوشحالَ کونکي شي سره خوشحالَ کوی"

حاشیه نمبر۷:

سوال: "يرضى" کومَ صيغه ده؟

جواب: دغه مضارع د باب څخه د افعال ده، او مفعول ددغه ضمير د متکلم او د معلوم والي په وجه حذف سوی دی. او محل د استشهاد "ابكاني الدهر، اضحكني الدهر" دی.

أرضي يُرضي ، أرْضِ ، إرضاءً ، فهو مُرْضٍ ، والمفعول مُرْضى :- • أرضى أخاه 1 – جعله يرضى ، أي يقبل بالأمر • نتيجة مُرضية : مقبولة . 2 – أعطاه ما يُقنعه ويُرضيه :- سبحان من أرضى العباد بما أراد [حكمة] :- • أرضى رغبته : أشبعها .

حاشیه نمبر۸:

مقصد د محشي د شارح ددې عبارت "لكنه أخطأ" بيانونه ده. او ددغه عبارت په بيان کې دوې ډلې دي.

۱: **عبدالحکیم سیالکوټي** رحمۃ اللہ علیہ: ده اول ځلي د ايضاح خبره رانقل کړيده. اودهغې خبرې خلاصه داده: مصنف په ايضاح کې ويلي دي چې شاعر جمود العين کنايه د هغه شي څخه ګرزولېده کوم چې دوام د ملاقات واجبوي. او هغه سرور او خوشحالي ده. او دغه کنايه بناء بر دغه خبره ده چې شاعر ددې ګمان کړی دی چې جمود و مطلق خالي والي ته د سترګو د ژړا

ته ویل کیږي. او مصنف ویلي دی چې شاعر خطاء سوی دی ځکه جمود په وخت کې د اړادې د ژړا خالي والي د سترګو د ژړا څخه دغه ته ویل کیږي نو بیا جمود د سرور څخه کنایې نه بلکه کنایې د بخل څخه د سترګو ده.(اهل ۱۲). نو اوس د هغه کلام څخه چې مصنف پرې ایضاح کې کړیدي دا فهمیږي چې دغه کنایه خطاء او بناء بر دي د. چې شاعر پر غیر د معني د جمود ګمان د معني د جمود کړی دی. او د جمود څخه د سره و د غې معني (سرور) ته انتقال نه راځي. بلکه د دغې معني څخه انتقال و بخل ته راځي. نو د نه بیت مثال د هغه حلل لپاره دی چې هغه په انتقال کې واقع سوی وی. او مثال د هغه تعقید لپاره نه دی چې هغه د خلل فی الانتقال د وجې واقع سوی وی. ځکه په تعقید کې انتقال و هغه مراد ته وی چې هغه بخاره نه وی. او دلته دغه (قول نه ده ځکه دلته انتقال و مراد ته (سرور) د سره نسته. نو د شارح په دغه قول کې (لکه اخطأ) مراد د خطأ څخه هغه خطاء نفس الامري په وړاندی د مصنف ده. ځکه د دغې کنایې مشتمل والي په تعقید باندي بناء بر وهم ده. او وهمي خبري ته اعتبار نسته. او د خطأ څخه خطاء په وړاندی د بلغاو و د دوو وجو مراد نه ده.

۱): دلیل د مصنف (فان الانتقال) د دغه خبري سره موافق نه دی. ځکه د دغه څخه دا معلومیږی چې د معني څخه د جمود انتقال و مراد ته د شاعر د سره نه راځي. بلکه انتقال و بخل ته راځي. او د بلغاؤ په وړاندی خطأ داده چې انتقال و مراد ته راځي مګر په دغه باندي دلالت کونکي قرینه خفي او پټه وی.

۲): که چیري د خطأ څخه خطأ د بلیغانو په وړاندی مراد سي نو بیا دلته دغه د کر سوې خبرې د ایضاح د خبري سره موافقه نه ده. او د ایضاح خبره مخکې تېره سوه.

﴿فائده﴾: که چیري د خطأ څخه نفس الامري خطأ مراد سي نو بیا د غه مثال لپاره د تعقید نه دی. ځکه د تعقید په صورت کې انتقال و مراد ته راغلي وی. او په نفس الامري خطأ کې و مراد ته انتقال نه وی. او که چیري د خطأ څخه خطأ د بلیغانو په وړاندی مراد سي نو بیا دغه ذکر سوي مثال لپاره د تعقید دی. او په دغه صورت کې انتقال و مراد ته سره د خفي والي د قرینې سته.

آګاهي: د عبدالحکیم د بیان سوي توجیه موافق دغه شعر د مصنف د مذهب مطابق مثال لپاره د تعقید نه دی. او د شارح د مذهب مطابق دغه بیا مثال لپاره د تعقید دی. نو د مصنف د

Maktaba Tul Ishaat.com

مذهب مطابق دغه قول "کمول" خو تر دغه عبارت "اما الانتقال" پورې تعلق لري. او د شارح د رأي مطابق بيا تعلق د شارح تر دغه عبارت "و ذالک الحلل یکون لا یراد اللوازم البعیدة" پورې لري.

۲: **شیخ محمد، شیخ موسی:** دوی او عام شارحین وایي چې مراد د شارح د دغه قول (الکه خطأ) څخه دادي چې شاعر د بلیغانو په وړاندې خطأ سوی دی. ځکه صنع او کار د شاعر د بلیغانو د استعمالاتو په خلاف دی. ځکه د دوی په وړاندې شائع دادی چې د جمود څخه انتقال و بخل کولو ته د سترګو په ژړا سره دغه ته راځي. او د خطأ څخه خطأ نفس الامري مراد نه ده چې بیا د شاعر کلام فاسد و کږزی. (مفصل ۲۲۶/ج۲) (شرح ملامحمد ۱۱۷/ج۱) (جواهر البلاغة ۲۶)

﴿فائده﴾: د علامه سیالکوټي د بیان مطابق په مصنف باندې داسوال واردیږي چې دغه شعر مثال لپاره د تعقید نه دی، او حال داچې مصنف دغه شعر مثال لپاره د تعقید ګرزولی دي. لهذا دوم تشریح تر دغه اولي ښه ده، ځکه په دغه تقدیر په مصنف باندې سوال نه واردیږي. او مثال د ممثل موافق ګرزی. او دغه هم مقصد د مصنف دی. والله اعلم بحقیقة الحال

حاشیه نمبر ۹:

سوال: موږ دا خبره نه منو چې د "جمود العین" څخه انتقال په وخت کې د ژړا بخل کولو ته د سترګو راځي. ځکه په صحاح کې دد غه لفظ معنې دا بیان "خلو العین عن البکاء مطلقا" سوېده. لهذا دا معلومه سوه چې "جمود العین" معنې "بخل العین حال ارادة البکاء" نه ده؟

جواب اول: کېدای سي چې مصنف د لغتو په کتاب کې د "جمود العین" دغه معنې "بخل العین حالة البکاء" موندلې وي. لهذا یه دغه تقدیر بیا نقل د "جمود العین" څخه و دغه معنی ته راځي.

دوم جواب: د "جمود العین" څخه که څه هم ددې لغوي معنې "یبس العین من الدموع" یعنې د سترګو مطلقا خالي والي د او بنکو څخه" ده مګره دغه لفظ بیا و دې معنې "د سترګو خالي والي د اوښکو څخه په وخت کې د ژړا" ته راانتقل سو. او په دغه دلیل دادي چې اهل المعاني ډیر ځلي "جمود العین" د استعمالولو په صورت کې دغه مراد کړي وي. او لکه په دغه باندې د قاموس الفاظ "بخل" دلالت کوی. او دغه قوي دلیل ددې خبرې دی چې "جمود العین" و دغه مقیدي معنې ته عرفاً را نقل سوی دی. لهذا د مصنف دغه معنې بناء بر عرف ده. (المفصل ۲۲۸/ج۲)

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: دلته دغه مدعی "ان الانتقال من حموی العین یکون الی المحل حالة الطلب" او دغه دلیل "حماد لا مطر فیها" دی. او په دغه دلیل سره دغه مدعي نه ثابتیږي. ځکه مدعي دلته داده چې جمود په معنې سره د خالي والي دسترګو په وخت کې دارډاې د ژړا دی نه مطلقا. او دغه دلیل په دې دلالت کوي چې جمود خالي والي د سترګو مطلقا د ژړا ته خه دی. ځکه دغه قول معنې دا نه ده چې کال په وخت کې د ارادې کولو د باران. باران نه وروی بلکه معنې یې داده چې په دغه کال کې مطلقا باران نسته. دغه ډول دوم قول معنې دا نه ده چې اوښه په وخت کې دارډاې د شېدې کولو شیدې نه کوی بلکه معنې یې داده چې دغه اوښه مطلقا شیدې نه کوی ؟

جواب: دغه معنې دا ډول نه ده لکه تا چې فهمولېده. بلکه معنې یې داده چې په کال کې باران په حالت کې د طلب د خلکو نسته. او دغه ډول دې قول "ناقة جماد" معنې داده چې په حالت کې د خلکو د طلبولو د شیدو اوښه جماده ده، او شیدې نه کوی. نو اوس دلیل دمدعي موافق سو.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: حماسي څه ته ویل کیږی؟

جواب: په "حماسي" کې یاء لپاره د نسبت ده، یعني منسوب بسوی حماسة. او حماسه بهادری او غښتلتیا ته ویل کیږی. او دلته مراد هغه شهرت لرونکي کتاب دی کوم چې منسوب و حبیب بن اوس الطائي ته دی. په دغه کې د هغه بلغاؤ شعرونه یو ځای سوی دي کوم چې د دلیل په توګه وړاندی کېدای سي.

سوال: ددې قول څه معنې ده "قال الحماسي"؟

جواب: ددې دا معنې ده چې د حماسه یو شاعر (د هغه شاعرانو څخه د کوم چې شعرونه په دغه کتاب کې ذکر سوی دي) ویلي دي. او ددې وینا "هذا البیت حماسي" مطلب دادی چې دغه شعر په حماسه کې ذکر سوی دی.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: دغه بیت د چا دی؟

جواب: دغه د ابو عطاء السندی شعر دی، او ده دغه شعر په غم کې د ابن هبیرة (دا هغه کس وو چې امام ابو حنیفة رحمه الله یې پر قضاء مجبور کړی او یو سل لس دوری یې وواهي. بیا امام ابو حنیفه رحمه الله ورته وویل چې ما

Maktaba Tul Ishaat.com

(پورې ده چې راځي) معاذ بن مسلم، هراة کې د خپل وخت ډېر پېژندل شوی امام رحمه الله ابتدا د اباو ني او د مکې طرف ته يې، ټوکې و کړې. (وايي: الاعيان) وو اييي.

سوال: "تحد" څه معنې لري؟

جواب: تحد د جود څخه دی يعنې سخاوت.

سوال: د "عبأ" د منصوبيت څه وجه ده؟

جواب: دغه اسم د "ان" دی. او جمله د "لم تحد" صفت لپاره د "عبأ" ده. او دغه دري طرفونه (يوم عليك، بحاری) تعلق تر "تحد" پورې لري. او خبر د "ان"، "لجمود" دی. او دغه لام د تأکيد لپاره دی. معنې د شعر داده هغه سترګه چې ستا پر مرګ يې په ورځ د واسط او ښکې و نه بهيولي هغه بخيله او بده ده. او محل د استشهاد دا قول د شاعر "جمود" دی.

﴿فائده﴾: افلح بن يسار السندي، أبو عطاء. شاعر فحل قوي الديهة. كان عبداً أسود، من موالي بني أسد، من مخضرمي الدولتين الأموية والعباسية، نشأ بالكوفة، وتشيع للأموية، وهجا بني هاشم، وشهد حرب بني أمية وبني العباس، فابلى مع بني أمية. قال البغدادي: مات عقب أيام المنصور (ووفاة المنصور سنة 158 هـ) وقال ابن شاكر: توفي بعد الثمانين والمئة. وكانت في لسانه عجمة ولغنة، فتبنى وصيفاً سماه (عطاء) ورواه شعره. وجعل إذا أراد إنشاء شعر أمره فأنشد عنه، وكان ابوه سندياً عجمياً لا يفصح. (الوافي بالوفيات: ص ١٢٨٦)، (الأغاني للاصفهاني)

103 - ابنُ هُبَيْرَةَ يَزِيْدُ بنُ عُمَرَ بنِ هُبَيْرَةَ الفَزَارِيُّ أَمِيْرُ العِرَاقَيْنِ، أَبُو خَالِدٍ يَزِيْدُ بنُ عُمَرَ بنِ هُبَيْرَةَ الفَزَارِيُّ. نَائِبُ مَرْوَانَ الحِمَارِ. كَانَ بَطَلاً، شُجَاعاً، سَائِساً، جَوَاداً، فَصِيْحاً، خَطِيْباً. وَكَانَ مِنَ الأَكَلَةِ، وَلَهُ فِي كَثْرَةِ الأَكْلِ أَخْبَارٌ. هَزَمَتْهُ الخُرَاسَانِيَّةُ، فَدَخَلَ إِلَى وَاسِطَ، فَحَاصَرَتْهُ المَنْصُوْرُ مُدَّةً، ثُمَ خَدَعَهُ المَنْصُوْرُ، وَآمَنَهُ، ونَكَثَ، فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ دَارَهُ، فَقَتَلُوْهُ صَبْراً، وَابْنَهُ دَاوُدَ، وَمَمَالِيْكَهُ، وَخَاصَّتَهُ. فَسَجَدَ للهِ، فَنَزَلُوا عَلَيْهِ. فَهَزَمَهُمْ. وَقَدْ كَانَ وَلِيَ حَلَبَ لِلْوَلِيْدِ بنِ يَزِيْدَ. مَوْلِدُهُ: فِي سَنَةِ سَبْعٍ وَثَمَانِيْنَ. وَعَاشَ: خَمْساً وَأَرْبَعِيْنَ سَنَةً. قَالَ المَدَائِنِيُّ: كَانَ جَسِيْماً، كَبِيْرَ الأَكْلِ، ضَخْماً، طَوِيْلاً، شُجَاعاً، خَطِيْباً، رَزَقَهُ فِي السَّنَةِ سِتُّ مِائَةِ أَلْفٍ، وَكَانَ يُفَرِّقُهَا فِي العُلَمَاءِ والوَجْوَهِ. وعَنْ مُحَمَّدِ بنِ كَثِيْرٍ: أَنَّ السَّفَّاحَ أَلَحَّ عَلَى أَخِيْهِ أَبِي جَعْفَرٍ بِأَمْرِهِ بِقَتْلِ ابْنِ هُبَيْرَةَ، وَهُوَ يُرَاجِعُهُ؛ لِكَوْنِهِ حَلَفَ لَهُ. فَكَتَبَ إِلَيْهِ، وَأَنَّبَهُ: لِتَقْتُلَنَّهُ فَوَلِّنِي قَتْلَهُ الهَيْثَمَ بنَ شُعْبَةَ. وَقَدْ وَلِيَ أَبُوْهُ أَيْضاً إِمْرَةَ العِرَاقَيْنِ لِيَزِيْدَ بنِ عَبْدِ المَلِكِ بَعْدَ المِائَةِ. قُتِلَ يَزِيْدُ: فِي ذِي القَعْدَةِ، سَنَةَ اثْنَتَيْنِ وَثَلاثِيْنَ وَمِائَةٍ. وَكَانَ أَبُو مُسْلِمٍ الخُرَاسَانِيُّ هُوَ الَّذِي أَغْرَى السَّفَّاحَ بِقَتْلِ ابْنِ هُبَيْرَةَ، وَكَانَ ابْنُ هُبَيْرَةَ بَرَكَ رُكْبَةً عَظِيْمَةً إِلَى أَبِي جَعْفَرٍ، فَسَاءَ الحَاجِبُ إِلَى أَنْ بَقَرَ فِي ثَلاثَةٍ. (سير اعلام النبلاء ١٤١ / ح ٦)، (تاريخ خليفة (366، 372، 382، 383، 384، 387، 391، 396، 409) الطبري، سنة 127 و 128 و 129 و 130 و 131 و 132)، كتاب المحبر، والصفحات: 2 / 123)، (الكامل في التاريخ. حوادث السنوات المذكورة عند الطبري، تاريخ الاسلام 5 / 315)

حاشيه نمبر ١٣:

سوال: مور دا خبره نه منو چې انتقال د جمود العين څخه د سره و هغه څه ته نه راځي کوم چې مقصد د شاعر دی (يعني خوشحالي)، حتي چې بيا دغه شعر غلط و ګرزی، لهذا دلته دا رواده چې

جمود (کوم چې مقید دی یعنې د ژړا په مهال د سترګو خالي والي د ښکو څخه) په معنې مطلق کې (خالي والي د سترګو د اوښکو څخه) په طریقه د مجاز استعمال سوی وی. ورسته تر دې بیا جمود کنایه د خوشحالي څخه ګرزول سوې وی، ځکه مطلق خالي والي د سترګو د اوښکو څخه لازم د خوشحالي او سرور سره دی، ځکه عادتاً انسان د خوشحالي په مهال نه ژاړي او دده سترګې د اوښکو څخه خالي وی. نو جمود العین لازم د سرور، سره دی. که څه هم په بعضو وختونو کې جمود العین د سرور څخه جلا سي، لکه یو کس د خوشحالي په مهال هم ژاړي؟

حاشیه نمبر ۱۴:

خلاصه د جواب داده چې ستا دغه ذکر سوې توجیه محض کلام ته صحت وربخښئ، او دغه خبره "چې د جمود العین څخه سرور مراد دی" د باطلوالي څخه ژغورې. مګر په دغه سره تعقید معنوی نه ختمیږي، ځکه کوم کلام چې د تعقید معنوی څخه خالي وی په هغه کې انتقال د معنې مقصودي ته په سرعت سره وی او دلته دغه ډول نه ده. ځکه دلته قرینه پردې خبره "چې مراد د جمود څخه مطلق جمود دی" پټه او خفي ده. او دغه ډول د مطلق خالي والي او د خوشحالي تر مینځ لزوم هم خفي او پټ دی. ځکه هریو د دوی څخه بېله هغه بله استعمالیږي.

سوال: دغه شعر د کوم تعقید لپاره مثال دی؟

جواب: دغه مثال لپاره د تعقید معنوی دی، ځکه دلته د معنې حقیقي څخه و معنې مرادی ته د ذهن په انتقال کې خلل په دې وجه تر سره سوی دی چې په دغه کلام کې بعید لوازم مراد سوی دی (یعنې د ملزوم "جمود العین" او ده د لازم "خوشحالي" تر مینځ څو وسائطي وجود لري) کوم چې و سائطو ته احتیاج لري او سره د دې پر مقصود باندی دلالت کونکي قرائن هم خفي دي. ځکه جمود په اصل کې د سیلان "بهیدنو" ضد دی. او دغه جمود په خالي والي کې د سترګو د اوښکو څخه په وخت کې د ژړا استعمال سوی دی. بیا په مطلق خالي والي کې د سترګو استعمال سوی دی بیا دغه د خوشحالي څخه کنایه ګرزول سوې ده.

حاشیه نمبر ۱۵:

دلته محشي دا خبره ښئي چې کوم کلام د تعقید معنوي څخه خالي وی په هغه صورت کې د سامع په خیال کې دا خبره ورځي چې ده دغه دوم معنې د مینځ او وسط څخه د لفظ فهمیږي. او مراد دا خبره ده چې دغه دوم معنې مخکې تر کلام د ختمېدو و سامع ته د زیات ښکاره

Maktaba Tul Ishaat.com

کېدو په وجه يې دي وفهموي. لهذا د اول معني څخه و دويمي معني ته د سامع ذهن تلنه ډير په ټېزي سره وي. نو دغه کلام بيا د تعقيد معنوي څخه خالي وي.

حاشيه نمبر ۱۶:

دغه ذکر سوی عبارت جواب د يو سوال مقدر څخه دی، تقرير د سوال دا دی کوم کلام چې دوم معني نه لري هغه دي هم معقد و ګرزی، ځکه د معقد کلام بنياد دا دی چې په هغه کې انتقال و دويمي معني ته نه رائي. نو دلته هم دغه ډول ده چې د اولي معني څخه و دويمي ته په دې وجه انتقال نه رائي چې په دغه کې دوهم معني وجود نه لري.

صفحه نمبر ۲۴:

عبارت

ذکر صاحب الکشاف فی قوله تعالی سنکتب ما قالوا وقتلهم الانبیاء بغیر حق ویقول قیل فیصاحب الکلام خلوه عما ذکر ومن کثرة التکریر وهو ذکر الشیء مرة بعد اخری ولکن یمکن ان یکون ذلک فی فوق الواحد فتتابع الاضافات فکانه ذکر التکریر بقوله ای قول ابی الطیب

وتسعدنی فی غمرة بعد غمرة ... سبوح لها منها علیها شواهد

یعنی ان لها من نفسها علامات شاهدة علی انها سبوح ومتابعة الاضافات مثل قوله ای قول ابن ابی حمامة جری حمومة الجندل المسجر فنفی اضافة حمامة الی جری هی اضافة

وتمامه فانت برأی من سعاد ومسمع ... اذا شئت من سعاد نظرة

ای فانت برأی من سعاد ومسمع اذا شئت نظرة من سعاد ونسمع قولک یقال فلان برأی منی ومسمع ای یجب ان یراه ویسمع قوله کذا فی الصحاح وفیه نظر لان کلام کنزة

﴿او ویل سوی دی﴾ چې په فصاحت کې د کلام د ذکر سوی شیانو څخه خالي والي سره سره ﴿د اکثرتي تکرار څخه خالي والي هم شرط دی﴾. او تکرار د یوشي یوه پلا د ذکر کولو څخه ورسته د دوم خلي لپاره ذکر کونې ته ویل کیږی. او کثرتي تکرار د یو خلي څخه زیات ذکر کونې ته ویل کیږی. او پر لپسې اضافتو څخه به هم کلام خالي وی. اوس د کثرتي تکرار مثال ﴿ لکه دده قول﴾ یعني قول د ابي طیب "زما په هر مصیبت کې کومک کوی". او غمره هغه او بو ته ویل کیږی کوم چې تاپټ کړی. او مراد ددغه څخه شدت او سختي ده. سبوح فعول په معنې سره د فاعل د سبح څخه دی. او دغه ډیر زغستا د آس ته ویل کیږی. په دغه کې نر او ښځه دواړه سره برابر دی. او ددغه څخه مراد هغه آس دی کوم چې ښه تګ کوی او سوارلي ته په تګ کې تکلیف نه ورکوی. ګواکې دا تګ په او بو کې کوی. او لها صفت لپاره د سبوح دی. منها حال د شواهد څخه دی. او "علیها" تعلق د "شواهد" سره لری. او "شواهد" فاعل لپاره د "لها" دی. ځکه "لها" اعتماد پر موصوف کړی دی. او ضمائر ټوله راجع و سبوح ته دی. یعني ده لره داسي علامات سته کوم چې دده په سوالي دلالت کوی. او د تتابع الاضافات مثال دابن بابک داقول دی "أي د رهګلني مخکې کوترى ته غزل و وایه". په دغه قول کې حمامه د جرعي و طرف ته مضاف ده. او جرعي هغه مځکه ده کوم اچې رهګلنه او هیڅ نه شنه کونکې وی. او دغه د "اجرع" تأنیث دی. او مقصوره کېدنه د ضرورت شعرى په خاطر ده. او جرعي د حومه و طرف ته مضاف دی. او حومه و اکثر ته د شي ویل کیږی. او حومه و جندل ته مضاف دی. او جندل و ډبرینه مخکې ته ویل کیږی. او سجع د کوترى و آواز ته ویل کیږی. او پورا بیت دادی "یعني ته په داسي ځای کې یې چیرى چې سعاده تا وینې او آواز دې اورى". ویل کیږی "هغه داسي ځای دي چې زه هغه وینم اود هغه آواز اورم".

تشریح

د لغاتو بیان: تسعد: د اسعاد څخه دی کومک کونه.

غمرة: په اصل کې و هغه او بو ته ویل کیږی کوم چې تاپټ کړی، او دلته مراد شدت او مصیبت دی. غَمرة: (اسم) الجمع : غمَرات و غُمَرات و غِمار و غُمر الغَمْرَةُ : الشِّدَّةُ الغَمْرَةُ : الرَّحمةُ الغَمْرَةُ : جهالة وضلالة وغفلة في غَمْرَةِ الفَرَحِ : في شِدَّةِ الفَرَحِ ضَاعَ في غَمْرَةِ الأَحْدَاثِ : في زَحْمةِ الأَحْدَاثِ خاص غمرات القتال : اقتحم اهواله ، غِمار الحياة : تقلُّباتها /// غمرة. إ غ مَ ر (إ ع إ) سختی فراهم آمدنگاه چیزی. ج ، غَمَرات ، غمار ، غُمَر. (منتهی الارب) (آنندراج). سختی. (ترجمان علامه ن جرجانی). دشواری. (دهار). سرگردانی و سختی. (مهذب الاسماء): غمرة الشی ء: شدته و مزدحمه. (از اقرب الموارد). تنگی و شدت. سختی مرگ، هر سختی که باشد. ا ا انبوهی مردم. ا ا گروه مردم پراکنده از هر جای. ا ا بسیاری آب. ج ، غِمار. (منتهی الارب) (آنندراج). آب بسیار. (ذیل اقرب الموارد). ا ا گرداب. (مهذب الاسماء).

Maktaba Tul Ishaat.com

(تفسیر ابوالفتوح رازی) ۱۱ مجازاً بمعنی ابهماک در باطل. (ناظم الاطباء). غفلت و جهل و حیرت و ضلالت. (تفسیر ابوالفتوح رازی): فذرهم فی غمرتهم حتی حین. (قرآن 23/54). ۱۱ غمرة الموت: سختی مرگ.

سوح: په اوبو کې تګ، کونه او دلته مجازی معنی مراد ده یعنی ښه رفتار کونکی. /// سوح. [س َ] (ع ص) شناور. ۱۱ اسب خوش رفتار. (منتهی الارب). فرس سبوح. (اقرب الموارد). اسب نیرو. (دهار). اسبی که گویی آشنا میکند در رفتن. (مهذب الاسماء).

حسة الجری: ښه رفتار کونکی. لانعب: نه سترې کونکی. /// تعبَ یَتعَب، تَعَبًا، فهو تَعِب تعِب الشّخصُ: کلّ وأصابته مَشَقّة، عکس استراح تَعِبَ: کَلّ وأصابته مَشَقّة فهو تَعِبٌ

نجابت: ښه والی. نجُب یَنجُب، نَجابةً، فهو نجیب نَجُب الوَلَدُ: کَرُمَ خَسَبُهُ، أی کان کریم الأصل نَجُب الرّجُل: خمد فی قَوْلِه أو فِعْلِه نَجُب النّلمیذُ: کانَ ذا ذَکاءٍ وَفِطْنةٍ وَنَباهَةٍ، لله وبان فضله علی من کان مثله.

تابع الاضافات: اضافات د اضافة جمعه ده او دلته مراد ځنې مافوق الواحد دی. یعنې پرلپسې دوه اضافتونه هم تتابع الاضافات د قبیلې څخه دي.

حرعي: په اصل کې جرعاء دی، او دغه د اجرع مؤنث دی، مګر د ضرورت شعری په خاطر دغه مقصور راوړل سوی، داسې ریګلنه مځکه کوم چې هیڅ محصولات نه کوی. /// جرعاء. اجَ ا (ع ص) ریګ هموار نیکونبات آسان گذار. یا زمین درشت که به ریگ ماند یا ریگ توده که هیچ نروید بر وی یا ریگ توده که یک جانب گیاه و یک جانب سنگ ریزه دارد. (از منتهی الارب) (ناظم الاطباء). زمین سخت که به ریگ ماند. ریگ صاف هموار. ۱۱ ریگ که گیاه نروياند وآب نگاه ندارد. (از متن اللغة). ریگ هموار که گیاهی نروياند. (از اقرب الموارد). ۱۱ آنچه از ریگ گسترده شده و بیشتر آن امتداد یافته است. ج، جرعاوات. (متن اللغة) (اقرب الموارد). أجراع. جِراع. جَرَع. جَرْعَة. جَرَعَة. (از متن اللغة) (از منتهی الارب) (از اقرب الموارد). ۱۱ ریگزاری که میان آن برآمده و اطراف آن نرم باشد. (از متن اللغة).

حومة: بروزن قومه، د یوشي لوړه حصه. الحَوْمَة من النخر والماء والرمل وغیرها: معظمه. و الحَوْمَة من القتال: أشدُّ موضع فیه /// حومة. [حَ مَ] (اِ) معظم آب دریا و سخت ترین جای آن. (منتهی الارب) (اقرب الموارد). و همچنین است حومه ◌ ماء و حومه ◌ رمل و حومه ◌ قتال و غیره. ج، حومات. (اقرب الموارد) (آنندراج) (مهذب الاسماء). ۱۱ حرب گاه. (مهذب الاسماء). جای قتال. (اقرب الموارد) (مهذب الاسماء).

الجندل: ډبرینه مځکه. (اساس). په سکون سره د نون ډبری ته ویل کیږی. (صحاح) او ډبرینې مځکې لپاره جَنْدَل استعمالیږی. لهذا د اساس مطابق د شارح دا معنی «ارض ذات حجرة» صحی ده. او د صحاح مطابق د شارح کړل سوی معنی لغوی نه ده بلکه معنی مراده ده، لهذا په دغه صورت کې مجاز ترسره کیږی داډول چې ذکر حال «ډبره» او مراد محل «ارض ذات حجارة» دی. جَنْدَل جمع جنادلُ: 1 - صخر عظیم. 2 - مکان فی مجری النّهر فیه حجارة تشتدّ حولها سرعةُ التّیار وتتعذّر الملاحة فیه الماءُ علی الجنادل.

السجع:د کوترۍ او د اوښې آواز ته ویل کیږي. سجع / سجع ، یسجع ، سجعًا ، فهو ساجع وسجع ، والمفعول مسجوع
ـ للمتعدي سجع الكاتبُ : انّى بكلامٍ مُقفّىً ، له فواصلُ تُقفىً . وزدت سوقها على نَغَمٍ واحدٍ . هدلت ، باحث سجع له
فضة /// سجع. اسَ ا (ع مص) بانګ کردن قمری . (بحار). بانګ کردن قمری و آنچه بدان ماند. (زوزنی) (تاج
المصادر بیهقی). بانګ کردن کبوتر. ا ا قصد کردن . (منتهی الارب) (اقرب الموارد). ا ا رفتن براهی . (منتهی
الارب). ا ا نالیدن شتر ماده . (منتهی الارب) (اقرب الموارد). ا ا بسجع گفتن . (تاج المصادر بیهقی) (زوزنی
). سخن با قافیه گفتن . (منتهی الارب). سخن با قافیه . (لغت نامه). حریری). سخن گفتن بکلامی که آن را
فواصل بود. ج ، اسجاع . ا ا (اِ)آواز طیور خوش آواز مثل بلبل و قمری و غیرها. (غیاث)
هدیر :آواز /// هدیر . اهَ ا (ع اِ) بانګ شتر و کبوتر. (منتهی الارب). بانګ کبوتر. بغبغو. (یادداشت به خط مؤلف). ا ا
(مص) بانګ کردن شتر بی شفشقه .(منتهی الارب) (اقرب الموارد). بانګ کردن شتر گشن . (تاج المصادر بیهقی). ا ا
نیک دراز گردیدن گیاه وانبوه تمام شدن آن . (منتهی الارب) (اقرب الموارد). ا ا خوشیدن شراب . (تاج المصادر بیهقی)
مرأى:د لیدو لو ځای. مَرأى: (اسم) اسم مكان من رأى المَرْأى : منظر ، مظهر ؛ مكان النّظر هو مَبْنِيّ بمَرْأى : بحيث أراه
عَلَى مَرْأىً وَمَسْمَعٍ مِنَ الجَمِيعِ : أمَامَ نَظَرِ الجَمِيعِ.
مسمع:د اورېدو لو ځای. مَسْمَع: (اسم) الجمع : مَسامِعُ اسم مكان من سمِعَ / سمِعَ إلى / سمِعَ لـ هو مَبْنِيّ بمرأى ومَسْمَع : في
موضع أراه منه وأسمعه ، على مَسْمَع منه : بحيث يسمع مَسْمَعُ الإنْسَانِ : الأُذُنُ الّتي يَسْمَعُ بها

سوال: مقصد د شارح په رانقل کولو سره د قول د دغه قیل څه دی؟

جواب: په ماتن باندې یو اعتراض وارد سوی وو، نو مصنف اوس هغه رانقل کوی او بیا رد
پرې کوي. خلاصه د سوال داده چې فصاحتي کلام ته خلل رسونکي شیان په درو (ضعفي تألیف،
تنافر کلمات،او تعقید) حصر کونه صحیح نه ده،ځکه لکه دغه درې شیان و فصاحت ته د کلام
رسوی دغه ډول کثرتي تکرار او تتابع اضافات هم خلل رسوي. لهذا په فصاحت کې د کلام
د دوی څخه خالي والي هم ضروری دی؟

د کثرتي تکرار مثال: وَتُسعِدُني في غَمرَةٍ بَعدَ غَمرَةٍ * سَبوحٌ لَها مِنها عَلَيها شَواهِدُ. یعنې هغه آسپه په
هر مصیبت کې زما کومک کوی. او هغه داسې ښه تګ کوي چې ګواکې دا په اوبو کې تګ
کوی او خپل سور ته تکلیف نه ورکوی. د دې لپاره د دې په ذات کې داسې علاماتي دي کومې
چې د دې په شرافت او کره والي باندې دلالت کوی.

محل استشهاد: په دغه شعر کې و آسپې ته د دې ضمائر (لها، منها، عليها) راجع سوی دي. او دغه
کثرتي تکرار دی، په دغه وجه دغه شعر فصیح نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

و هو ذكر الشيء مرة بعد اخرى: **سوال**: مثال د ممثل موافق نه دی، ځکه ممثل کثرتي تکرار دی، او تکرار دوه ځلي د یوه شي ذکر کوني ته ویل کیږی. لهذا د یو شي دوه ځلي ذکر کونه تکرار وی. نو تکرار متعدد کېدنه په ځلور ځلي ذکر کوني سره راځي، او په مثال کي د هغه ضمیر درې ځلي ذکر سوې ده نه ځلور ځلي، څرنګه د مثال د ممثل سره نه موافق کېدنه باطل وی نو دغه خبره هم باطله ده؟

جواب: دلته د تکرار هغه معني مراد نه ده کوم چې تا بیان کړه بلکه معني یې داده چې یو شي د یوه ځلي سېوا دوم ځلي ذکر سي نو دغه دوم ځلي ذکر کوني ته تکرار ویل کیږی، نه و مجموعي ته د دغه دو ځلو. او د کثرتي تکرار معني داده: دغه ذکر کونه د یوه ځلي ورسته بل ځلي د یو ځلي څخه زیات وی داډول چې دغه یو شي درېیم ځلي یا ځلورم ځلي ذکر کوني ته تکرار ویل کیږی.

﴿فائده﴾: ترکیب د شعر: سبوح: دغه صفت لپاره د حذف سوی موصوف «فرس» دی، او فرس مؤنث سماعي دی او سبوح پر وزن د فعول په معني سره د فاعل دی، لکه څرنګه چې دغه د مذکر او د مؤنث دواړو لپاره صفت واقع کیږی په دغه وجه شاعر سبوح وویایي.

لها: دغه ظرف او شواهد فاعل دده لپاره دی. او ظرف هلتهٔ عمل کوی چې ده اعتماد په خپل موصوف کړی وی. (مغني اللبیب) او دلته لها هم دغه رقم ده چې ده اعتماد په خپل موصوف سبوح کړی دی. **شواهد**: ذوالحال او منها حال دی. او علیها تعلق د شواهد سره لری. لهذا ذوالحال سره د حال فاعل لپاره د ظرف و ګرزېدی. ظرف سره د خپله فاعله په اعتبار د متعلق صفت لپاره د سبوح و ګرزېدی.

تتابع الإضافات مثال: عبد الصمد بن منصور بن حسن بن بابک شعر:

حَمَامَةَ جَرْعَى حَوْمَةِ الْجَنْدَلِ اسْجَعِي * فَأَنْتَ بِمَرْأَى مِنْ سُعَادَ وَمَسْمَعِ. یعني أي د ډبرینې ریګلني ځمکې کوتری ته غزله ووایه، ځکه ته په داسي ځای کي یې چیرې چې سعاده تا وینې، او هغه ستا آواز اوری.

محل د استشهاد: ۱: دلته حمامه و جرعي ته مضاف ده. ۲: او جرعي بیا و حومه ته. ۳: او حومه بیا و جندل ته مضاف ده. نو اوس دغه شعر د تتابع الاضافات په وجه غیر فصیح دی.

﴿فائده﴾: **ترکیب د شعر**: حمامه: منادی، او حرفي نداء محذوف دی او مضاف و جرعي په وجه سره منصوب دی. **اسجعي**: فعل سره د فاعل جمله فعلیه ده. انت: مبتدأ، باء په معني سره د فاء ده. مرأی او مسمع د ظرف صیغي دي. او من جار او سعاد فاعل د دغه ظروفو لپاره ادی. ظروف سره د خپله فاعله په اعتبار د متعلق خبر لپاره د مبتدأ سو.

حل العواشي

حاشیه نمبر ۱:

سوال: دغه کلام د شارح "اما الکلام الذی لیس له معني ثاني الخ" صحت نه لري، ځکه د دغه قول مطابق هغه کلام بلیغ غیر معتبر ګرزی کوم چې د مقتضي سره د حال موافق وی" مګر هغه لره کوم مجازی او کنائي معني نه وی". ځکه د شارح د دغه قول "معني ثاني" څخه ښکاره دا معلومیږی چې د دغه څخه مراد معني مجازی او کنائي ده. نو څرنګه د دغه کلام بلیغ مجازی معني نه لری په دغه وجه د دغه د اعتبار وړ نه دی. او حال دا چې دغه کلام بلیغ او د اعتبار وړ دی؟

جواب: دلته د "معني ثاني" څخه هغه معني مراد نه ده کوم چې تا فهمولېده، یعني مجازی معني بلکه دلته هغه معني مراد ده د کوم لپاره چې کلام راوړل کیږی. د مثال په توګه د انکار د دفع لپاره کلام مؤکد راوړل کیږی. نو د دغه نفي د انکار د دغه و لاس ته د راوړلو لپاره کلام مؤکد راوړل کیږی نو د دغه ته معني ثاني وکیږی. څرنګه هغه کلام چې مطابق د مقتضي سره د حال وی هغه د دغه معني لرونکي وی په دغه وجه د دغه نه ووتي. البته مجازی معني نه لرل و بلاغت ته د کلام هیڅ تاوان نه رسوی.

حاشیه نمبر ۲:

سوال: بعد او لري والي به په وخت کي د خبر ورکولو د دې کلام "اطلب البعد" حاصل وی او یا به نه، که چیرې حاصل وی نو طلب د حاصل "بعد" رائي. او که چیرې حاصل نه وی نو بیا په دغه وخت کي وصال او د معشوق سره یو ځای والي حاصل دی. ځکه په وخت کي د عدم د بعد (چې لري والي نه وی) وصال وی. لهذا د وصال تر لاسه کولو لپاره د بعد طلبوني لره هیڅ یوه معني نسته. ځکه د دغه هم د حاصل سوي شي طلب دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: مورِ اول شق "بعد مخکې نر خبر ورکولو حاصل دی "اختیار و ر .مګر دلته طلب د حاصل سوي شي نه لازميږي، ځکه دلته طلب د مطلق بعد مراد نه دی چې بيا طلب د حاصل سوي شي لازم سي. بلکه د دغه څخه مراد طلب د هغه بعد دی چې هغه په طريقه سره د دوام او استمرار وی.او دغه د دې لپاره چې هغه وصال چې په سبب د دغه بعد حاصليږي هغه به استمراري وی. لهذا مخکې تر خبر ورکولو نفس لري والي حاصل وو او ورسته تر خبر ورکولو طلبول د هغه بعد دی کوم چې په طريقه د دوام وی.د دې لپاره چې تر دغه ورسته تر لاسه کېدونکي هم استمراری وګرزی.

حاشيه نمبر۵:

سوال: د دغه کلام " اکب علیه" معنې څه ده؟

جواب: د دې معنې داده" د يو شي و طرف ته په پورا توجه سره متوجه کېدل"، او دغه د دې قول څخه د عربو " اکب علي وجهه" څخه اخيستل سوی دی او دغه به هغه وخت ويل کېدی چې يو سړی به پورې مخې و موښتي.

سوال: دغه غم ته متوجه کېدل او د دغه سره لازم ګرزېدل د څه څخه معلوميږي؟

جواب: دغه د صيغه څخه د مضارع "تسکب" معلوميږي، ځکه مضارع د راتلونکې زمانه لپاره هم وی،او په قرينه سره د مقام د دغه مضارع څخه دا معلوميږي چې دغه غم کولو ته شاعر پورا متوجه دی او دغه غم کول يې د ځان سره لازم ګرزولي دی.(قرينه پر استمرار داده چې د شاعر مطلوب دوام دارَ وصال تر لاسه کول دی.او دغه دوام دار وصال هلته تر لاسه کيږی چې زمانه دا سوچ او فکر ووهي چې د شاعر مقصد دوام دارَ جلا والي طلبول دی، تر دغه ورسته به زمانه په ضد سره د دغه دوام دارَ جلاوالي راتګ وکړی "لکه د نورو چې عادت د زماني دی چې مطلوب په ضد سره راتګ کوی" چې هغه دوام دارَ وصال دی. لهذا د شاعر دوام دارَ وصال طلبونه قرينه پر دې ده چې دلته د "تسکب" څخه استمرار مراد دی.)

حاشيه نمبر ۶:

اول سوال: عادت د زماني دادي چې داراتګ په نقيض سره د هغه شي کوي کوم چې واقعي مطلوب(نه د ظاهری). لهذا شاعر به په دغه حيله سره و زمانه ته څرنګه مغالطه ورکړي؟

جواب: د شاعرانو خبری په خيالي شيانو بناء دي نه پر واقعي شيانو که چيری پر واقعي بناء وای نو بيا اعتراض واردېدی. لهذا ډير ځلي شاعران ښکاره د يو کار طلب کوی مګر په واقع

کي يې مطلوب نقيض د دغه کار وي، ځکه په حقيقت کي د دوی مطلوب تر لاسه کول د نقيض د دعه شي دی د کوم چې دوی يې بنکاره طلب کوي. او د دغه اظهار يې بناء پر دغه خيالي شي وی دا دول چې دی خيال: د دې خبرې و کړي چې زما دغه بنکاره شي مطلوبه دی. او د هغه په تر لاسه کولو کې دی کوشش کوي. او زمانه چې دده کوشش د حصول وويني نو دا د دغه شي په خلاف راتګ و کړي.

دوم سوال: په "تسکب" کي سين ليپاره د استقبال دی. ځکه "تسکب" عطف پر "اطلب"، او لاندې تر "سين استقبالي" دی. لهذا دلته د "تسکب" څخه حال مراد دول "يعني في الحال بهيول" د قانون خلاف دی، ځکه په دغه باندې علامه د حال نه بلکه د استقبال "سين" وجود لري؟

جواب: ستا د دغه ذکر سوې خبره هغه وخت صحيح وه که چيرې "تسکب" او منصوب عطف پر "بعد الدار" وای. مګر دغه مرفوع او عطف پر مجموع "ساطلب بعد الدار" باندې دی. لهذا اوس سين راستقبا لي په "تسکب" داخل نه سو.

دريم سوال: څرنګه په "تجمدا" کي علامه د استقبال نسته نو د دغه څخه استقبال مراد ول د قانون څخه مخالفت په وجه صحت نه لري؟

جواب: د "تجمدا" څخه اراده د استقبال په اعتبار سره د حال د شاعر ده. ځکه د شاعر حال ګواه په دې خبره دي چې د اوښکو بهيول د شاعر يو داسې حال دی چې په استقبال کي رسونکي و خوشحالي او سرور ته دی.

حاشيه نمبر ۷:

سوال: شارح رحمه الله چې کوم ترجمه کړېده "و المعني اني اليوم الخ" آيا دغه د ټوله شعر ترجمه ده او که د اولي حصه د شعر ترجمه ده؟

جواب: دغه د ټوله شعر ترجمه ده دا دول چې په شعر کي "تسکب" راغلي دی. او د ترجمه دغه "برخه" اتحمل لاجلها حزنا" يې ترجمه ده. او په شعر کي "لتقربوا" راغلي دي او د دغه ترجمه دا برخه د ترجمې ده " لاتسبب بذالک الي وصل"، او بل په شعر کي " لتجمدا" راغلي دی او د دغه ترجمه دا برخه د ترجمې "مسرة لاتزول" ده.

حاشيه نمبر ۸:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: مجموعه د دواړو ذکرونو تکرار دی. د مثال په توګه زید زید. او کثرت تکرار عبارت د ددې واره والي څخه د تکرار دی. لهذا تکرار د مخکني ذکر کولو ورسته په بل ځلي ذکر کولو سره ثابتیږي. او متعدد والي د تکرار په څلور واري سره ثابتیږي. او کثرت تکرار د یو شي د ذکر کولو په شپږ ځلي ذکر کولو سره د دغه شي ثابتیږي. او د یو شي په درې واره ذکر کولو سره نفس تعدد د تکرار نه راځي، نو څرنګه به کثرت د تکرار راسي. لهذا دغه بیت دهغه شیانو څخه شمېرل صحی نه دی چې هغه په کثرت د تکرار مشتمل وی؟

جواب: مجموعه د دواړو ذکرونو تکرار نه دی بلکه آخري ذکر تکرار وی. او مراد د کثرت څخه مقابل د وحدت دی نه تر درو زیات. لهذا اوس تکرار تر مخکني ذکر کولو ورسته بل ځلي په ذکر کولو سره حاصلیږي. او کثرت تکرار د یوشي په درېیم ځلي ذکر کولو ورسته تر دوه ځلي ذکر کولو سره تکرار حاصلیږي. لکه په راتلونکي قول کي د شاعر. اوس دغه سوال رفع سو. (شرح الالمامي ۲۳۴/ج۲)

حاشیه نمبر ۹:

"تسعد" مصدر د باب څخه د افعال دی په معني سره د اعانت او کومک کولو دی.

سوال: "تسعد" ولي په صیغه د مؤنث راوړل سوی دی؟

جواب: ځکه ددې فاعل مؤنث دی. فاعل ضمیر راجع و فرس ته دی. او فرس مؤنث سماعي دی. څرنګه د فاعل په تأنیث سره فعل مؤنث ګرزی په دغه وجه دغه فعل مؤنث راوړل سو.

سوال: دلته د "تسعد" څخه مراد "اسعدتني(رما اعانت یې کړی دی)" دی. ځکه شاعر اصل د هغه جنګو نو خبر ورکوي په کوم کي دغه آس دده کومک کړي وو. څرنګه هغه جنګونه او کومک کونه مخکې تېر سوېده، په دغه وجه د هغه څخه خبر ورکونه د ماضي په صیغه سره راوړل کیږي. مګر دلته یې په صیغه سره د مضارع ددې لپاره راوړی چې شاعر هغه کومکونه في الحال متصور ګرزولي دی(ګواکي هغه اوس تر سره کیږي). څرنګه ده في الحال متصور کړي دي په دغه وجه د مضارع صیغه استعمال سوه چې دلالت پر دغه في الحال متصور کېدني وکړي؟

جواب: ترټولو ښه خبره داده چې دلته صیغه مضارع بدل د ماضي راوړل سوې نه دی بلکه دغه د استمرار تجدد دی (یعني کار دوامداره، او ګړی په ګړی نوی تر سره کیږي) لپاره راوړل سوې ده. ځکه دغه مقام د تعریف د آس دی، او تعریف هم په صیغه سره د مضارع راوړی دی (کوم چې دد لالت

په قرینه د مقام پر استمرار دلالت کوی) نو په کاملَ توګه تعریف هلته راځي چې دغه تعریف په صیغه سره د استمرار تجددی راوړل سي، ځکه دغه به دا فائده کړی چې ددغه آس کومک کونه محض په ماضي کې نهوه بلکه اوس هم ده او په راتلونکي زمانه کې به هم جاری وی.

أسعدَ يُسعد ، إسعادًا ، فهو مُسْعِد ، والمفعول مُسْعَد أسعده الحزنُ : جعله سعيدًا ، وفَّرَ له السعادة ، ولَّد لديه إحساسًا بالرِّضا والفرح أسعد اللهُ صاحبك / أسعد اللهُ مساءك : تحيّة تقال في الصباح / في المساء ، أسْعَدهُ اللهُ وقْفُهُ أسْعد صاحبهُ : أعانهُ ///اسعد. إ ع ا (ع ن تف) نعت تفضیلی از سعید.سعیدتر. نیک بخت تر. و منه الحدیث : اسعدالناس بشفاعتی من قال لا اله الا الله خالصاً. مو: نث : سُعْدیٰ . ا ا (ص) نیک بخت . سعید. ا ا (اِ) کفتگی بند دست ستور. شقاق . ا ا علتی است مانند گر که بیشتر عارض شود واز آن لاغر گردد. (منتهی الارب)

حاشیه نمبر ۱۰ :

سوال: د شعر معني څه ده؟

جواب: په سختیو کې د مینځ څخه د دښمنانو پر خلاصون زمایو داسي آسپه کومک کوی. کوم چې ښه تګې او غوره اخلاق لرونکي ده، او دا ذاتي او فعلي داسي علامات لری. کوم چې دلالت ددې په اصلیت ذاتي کوي. اوس په دغه کې محل د استشهاد کثرتِ تکرار د ضمائرُ دي په کوم سره چې ثقل پیدا کیږی.

حاشیه نمبر ۱۱ :

سوال: شارح رحمه الله د "سوح" تفسیر په دې الفاظو سره بیان کړي" شدة العدو(زیاتَ زغستا)"دي او دغه تفسیر صحت نه لری، ځکه "سوح" په لغت کې آب بازی او په اوبو کې غوټه خوړلو ته ویل کیږی نه و شدة العدو ته. لهذا د "سوح" معني په "شدة العدو" سره بیانونه صحت نه لری؟

جواب: دلته دوه شیان دي. ۱ : معني لغوی د لفظ. ۲ : مقصودی معني دلفظ. د "سوح" لغوي معني آب بازی او غوټه خوړل دی. او مقصودی معني دلته "شدة العدو" ده. لهذا دلتبه شارح د معني لغوی بیان تر سره کړی نه دی چې بیا ستا اعتراض وارد سي بلکه ده دشاعر د مقصودی معني بیان تر سره کړی دي.

سوال: د "سوح" اطلاق او وینا په آس تر سره کېدنه په کوم طریقه سره دی، آیا دغه په طریقه سره د حقیقت او که د مجاز دی؟

جواب: دغه اطلاق مجازاً دی داړول چې شاعر د ښه تګ تشبیه د آب بازی سره ور کړې ده. او دواړو تر مینځ علاقه د مناسبت نرم والي او بیده والي دی لکه څرنګه آب بازی کي نرمي او

Maktaba Tul Ishaat.com

سختوالي نه وي دغه ډول د دغه آس په تک کي هم دغه خصوصيت وجود لري. بيا شاعر لفظ د مشبه به (سوح) د مشبه (حسن الجري) لپاره مجازاً استعمال کړي.

سوال: د محشي د دغه قول "فيه تأمل" څخه مقصد څه دی؟

جواب: په دغه قول سره رد کوونه پر دغه مخکي توجيه کونکي ده، خلاصه د توجيه داده چې د دغه ويونکي د قول څخه "هذا تفسير مفهوم اللفظ بالنظر الى المراد الخ" څخه دا معلوميږي چې دلته مقصودی معنې "شدة العدو" ده، او حال دا چې دغه خبره صحت نه لري ځکه شارح رحمه الله په خپله ورسته فرمايي "اراد به فرساً حسنة الجرى الخ". لهذا دغه قول شارح په دې ګويان او تصريح کونکي په دې خبره سره دی چې د "سوح" څخه دلته مراد نرم او بيده تګ دی، نه شدة العدو. لهذا دغه قول "مراد شدة العدو" د شارح د دغه قول "هو شدة العدو الخ" داسې ته حمده کوم چې د شارح د دې کلام "اراد به حسنة الجرى" سره ضديت لري. نو دا خبره معلوم سه چې دغه توجيه، توجيه بما لا يرضى قائله ده.

سوال: محشي صاحب! شارح دغه قول "هو شدة العدو" د څه لپاره راوړی دي حال دا چې دغه نه د "سوح" لغوی او نه مقصودی معنې ده. نو شارح دغه د څه لپاره راوړې ده؟

جواب: حق خبره داده چې د شارح دغه قول د تکلف څخه خالي نه دی، لهذا د دې قول هيڅ يوه فائده او ضرورت نسته په دغه وجه دغه شارح په خپل کتاب مختصر المعاني کي دغه قول راوړی نه دي. نو که چيرې د دغه قول فائده وای نو بيابه ده د دغه قول هلته هم راوړی وای.

د شارح د طرف څخه جواب: دلته څو شيان دي. ۱: آب بازی، دغه لغوی معنې د سبوح ده. ۲: سختَ زغستا، څهوخت چې د آس په هکله سبوح استعمال سي نو دغه معنې ماردیږی، لکه په دغه سره چې صاحب القاموس تصريح کړيده. ۳: د سختي زغستا په مهال نرم تګ، دا هغه وخت چې د يو آس صفت په نرم تګ سره بيانيږی. نو دلته د شارح نه اول مراد ده، او نه دوم .بلکه دغه دريهم معنې يې مراد ده. د دريمې معنې اولَ حصه شارح په دې الفاظ "شدة العدو" سره بيان کړه او دوم حصه يې په دې الفاظ "اراد به فرسا حسنة الجرى" سره بيان کړه. نو اوس د دواړو قولونو راوړل صحت پيدا کړي. (او په مختصر المعاني کي هم دغه خبره مراد ده که يې څه هم دغه يو قيد يې ذکر کړی نه دي).

سوال: پر دغه خبره چې د شارح مراد " د سختي زغسنا په مهال نرم تګ کونه مراد :." څه دليل وجود لري؟

جواب: پر دغه خبره دوه دلائل وجود لري.

۱: دغه مقام د مدحي دی او مدح د آس هغه وخت رائي چې دی په ډير تيز رفتاري کې نرم او بيده روان وی. او دغه يې مدح نه ده چې په سوکه، فتار کې بيده روان او په تيز رفتار کې دغه ډول نه وی.

۲: په شعر کې "په دغه خبره باندې چې دلته معنې لغوي ورسره لحاظ ده "قرينه لفظ د "اسعاد" ده. اوس که چيرې په دغه زغستا کې سلالت (نرم والي) نه وی نو بيا سپور (راکب) هلاک کيږي. لهذا دغه بيا "اسعاد" نه بلکه هلاکت سو.

حاشيه نمبر ۱۲:

سوال: "حمامة الجرعي" څه ترکيبي حيثيت لری؟

جواب: دغه منصوب بناء بر منادی دی، لهذا دغه منادی مضاف ده په دغه وجه سره منصوب گرزېدلې دی.

سوال: "جرعي" څه ته ويل کيږی؟

جواب: ريګلنه مځکه. (اساس)، برابر او هوار ريګ کوم چې شي نه شنه کوی. (صحاح)

حاشيه نمبر ۱۳:

جَنْدَل: ډبره، جَنْدَل:-جمع جنادلُ :1 - صخر عظيم .2 - مكان في مجرى النهر فيه حجارة تشدّ حولها سرعةُ التيّار وتصلّر الملاحة :- فاض الماءُ على الجادل.///. جندل . [جَ دَ / د] (ع!) سنګ که برداشتن توانند. (منتهی الارب). سنګ بزرګ . (غياث اللغات از شرح نصاب و لطائف). - دومةالجندل ؛ موضعی است . (منتهی الارب).

جَنَدِل: ډبرينه مځکه.

سوال: شارح رحمه الله چې کوم تفسير د "جندل" کړی دی هغه صحت نه لری ځکه دغه "جَنْدَل" دی. او جندل ډبری ته ويل کيږی، نه و ډبريني مځکي ته، بلکه "جَنَدِل" و ډبريني مځکي ته ويل کيږی. لهذا دغه تفسير د شارح صحت نه لری؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: شارح دمقصودی معني (د شاعر) تفسير وړاندی کړی دی نه د لغوی معني،او دغه مقصودی معني بناء بر مجاز ده داډول چې ذکر حال" جَنَدَل" (ډبره) او مراد محل "ډبرينه مځکه" دی.

(جندل) الجَنْدَل الحِجَارة ومنه سمي الرجل ابن سيده الجَنْدل ما يُقِلُّ الرجلَ من الحجارة وقيل هو الحَجَر كُلُّه الواحدة جَنْدَلة قال أمية الهذلي تَفُرُّ كجُنْدَلة المَنْجَنِي قِ يُرْمَى بها السُّور يوم القِتَال والجَنْدِل الجَنَادِل قال سيبويه وقالوا جَنَادِلٌ يَعْنُون الجَنَادِل وصرفوه لنقصان الناء عما لا ينصرف وأرض جَنْدلة ذات جَنَادِل وقيل الجَنَادِل بفتح الجيم والنون وكسر الدال المكان الغليظ فيه حجارة ومكان جَنَادِل كثير الجَنْدَل قال ابن سيده وحكاه كراع بضم الجيم قال ولا أُجِقُّه الهذيب الجُنْدَل صخرة مثل رأس الإنسان وجمعه جَنَادِل والجُنَادِل الشديد من كل شيء وجَنْدَل اسم رجل ودُومة الجَنْدَل موضع وجَنْدَل غير مصروف بُقْعة معروفة قال يَلْمَحُ من جَنْدل ذي مَعارك كأن الموضع يسمى بجَنْدَل وبذي مَعارك فأبدل ذي معارك من جندل وأحسن الروايتين من جَندلٍ ذي معارك أي من حجارة هذا الموضع والجنادِل العظيم القَوِيُّ. (لسان العرب – حرف اللام)

صفحه نمبر ۲۵:.

عبارت

ترجمه

او په دغه کې نظر دی خکه کثرتي تکرار او پرلپسې اضافات که چیرې ددوی په وجه لفظ په ژبه باندی ثقیل او درون گرزي نو ددغه خخه احتراز په قید سره د تنافر راغلي دی. اوکه چیرې

Maktaba Tul Ishaat.com

ددوی په وجه ثبات په زړه باندې نه راځي نو دغه بیا فصاحت ته خلل نه رسوی. دوی به مطلقاً خرنګه خلل رسونکي سې حمل دا چې نبي علیه السلام ویلي دي: کریم زوی د کریم زوی د کریم زوی د کریم یوسف زوی، د یعقوب زوی د اسحاق زوی د ابراهیم دي. شیخ عبدالقاهر ویلي دي چې زما استاذ وویل: پرلپسې اضافتو څخه خانونه وژغوری. خکه دغه بنه نه دی. او دغه هم صاحب ذکر ړی دي چې دغه د یو چاپه ذم بیانولو کې استعمالیږی. لکه شاعر چې وایي: أبي! علي بن حمزه بن عماره قسم په خدای ته بادرنګ په یحي کي یې. او بیا شیخ ویلي دي چې په دې خبره کي شک نسته چې په دغه کي اکثره ثقل او قباحت وي. او څه وخت چې دغه په ذوق باندې دروندنه وی نو بیا په دغه کي ملاحت او لطافت وی. لکه دا قول د شاعر: پس دهمبش لپاره دشراب جامونه دهغه ښائسته مخو کوشیانو لاسونو د کومو مخان چې د دنانیرو غوندې ښائسته وه ګرزول. او ددغه کراهت في السمع څخه د سالم د قبیلې څخه هغه اطراد دی کوم چې په علم البدیع کي ذکر کیږی. لکه د شاعر دا قول دی: عتیبه چې زوی د حارث چې زوی د شهاب دی. او مصنف چې کوم کلام د شیخ په ایضاح کي راوړی دي د هغه څخه دري مطالبه معلومیږی: ۱: ده تتابع الاضافات عام تر دې ګرزولي دي چې مرتب وی دا ډول چې د مضاف او مضاف الیه تر مینځ پرته د مضاف بل څه واقع سوی نه وی لکه په اول شعر کي. او یا مرتب نه وی لکه په حدیث کي چې تر سره سوی دی. ۲: ده دغه حدیث د پرلپسې اضافاتو او دغه ډول د کثرتي تکرار لپاره مثال ګرزولي دي. ۳: پرلپسې اضافاتو څخه ده ما فوق الواحد مراد کړی دي. خکه مور فرمایو: که چیرې دغه دواړه ثقل او کراهت في السمع واجبوی نو بیا ددغه څخه احتراز تر سره سوی دی. او که دغه ډول نه وی نو بیا دوی مخل بالفصاحت ګرزولو لره هیڅ جهت نسته. او حال دا چې دغه دواړه په قرآن کي تر سره سوی دي. لکه الله جل جلاله فرمایي: مثل داب قوم نوح، اذکر رحمة ربک عبده زکریا، و نفس و ما سواها فالهمها فجورها و تقواها. او فصاحت المتکلم یوه ملکه ده. او ملکه د مقولې څخه د کیف ده. او قدماؤ د ملکې داسې تعریف کړی دي: دا بو داسې ثابت هیئت دی کوم چې په اعتبار د ذات تقسیم او نسبت نه قبلوی. هیئت او عرض د مفهوم په اعتبار سره ژندې دي. عرض په اعتبار د عروض د شي ته ویل کیږی او هیئت په اعتبار د حصول د شي ته ویل کیږی. اومراد د قارة څخه ثابت په محل کي دی. لهذا په قیداول سره «قارة» حرکت، زمان او فعل او انفعال ووتي. او په دوم قید «لا تقتضي القسمة» سره کم «عام تردي متصل او که منفصل وی» ووتي. او په دریم قید سره پاته اوه اعرض نسبیه ووتل. او دده قول لذاته ددې لپاره دی چې په کیف کي هغه کیفیتونه داخل سي کوم چې په اعتبار د محل د تقسیم او یا د نسبت تقاضي

کوی.او د کیف تر تولو ښه تعریف هغه دی کوم چې متأخرینو تر سره کړی دی: کیف یو عرض دی د کوم تصور چې د بل په تصور باندی موقوفه نه وی. او نه هغه په اعتبار د محل په طریقه د اقتضاء اول قسمت او عدمي قسمت تقاضي کونکي وی.او س که چیرې کیفیت ذوات الانفس سره مختص وی نو دغه ته کیفیت نفسانیه ویل کیږی.او دغه وخت « څه وخت چې مختص بذوات الانفس وی» که چیرې په خپل محل کې ثابت سوی وی نو دغه ته ملکه ویل کیږی که دغه ډول نه وی نو دغه په حال سره مسمی کیږی.

تشریح

اول) : د لغاتو بیان: اضافات متداخله: اول ودوم او دوم د درېیم وطرف ته مضاف سوی وی.اضافات غیر متداخله: دغه ډول نه وی بلکه ترمینځ یې صفت یا بل څه حائل واقع سوی وی.هجاء: بدی،ذم. هجا یهجُو ، اهجُ ، هجاءً وهَجْوًا ، فهو هاجٍ ، والمفعول مَهجُوّ هجا الشّاعرُ فلانًا : ذمّهُ وعدّد معایبه./// (ه) [ع .] (مص م .) 1 – بدګویی کردن ، دشنام دادن . 2 – بد وعیب کسی را گفتن .

ثلجة :یخی. الثّلجَةُ : واحِدَةُ الثّلْجِ . [ث ل ج] : القِطْعَةُ مِنَ الثّلْجِ ./// ثلج . [ث] (ع اِ) برف . وآن در سیم سرد و در دوم خشک و مسکّن درد دندان حارّ واخراج کننده ٔ زلوی در حلق مانده و جهت کرم معده و تقویت هضم معده حاره و تبهای حاره و جرب و حکه و ضماد او بر پیشانی جهت قطع رعاف و آشامیدن او باعث اجتماع حرارت در معده و مخدر و معطّش و مورث سعال و مضر احشاء ضعیف مبرودین و صاحب اورام باطنی است و آب پرورده با او بهتر است و مصحلش قرنفل و عسل و از خواص او است که چون نمک با برف آمیخته بر شیشه پرآب بدستوری بګیرند که شیشه در آن پنهان شود در یک ساعت آب شیشه یخ گردد. (تحفه ٔ حکیم مومن). ج ، ثلوج . ا ا ماء ثلج ؛ آب خنک . ا ا بلاد ثلج ؛ یکی از هفت کشور و کشور هفتم است و منسوب است به ماه . ا ا برف باریدن . ا ا تر نهادن چیزی را یعنی خیساندن آن . تر کردن . ا ا شادمان گشتن . ا ا خنک دل شدن . گشاده دل گردانیدن .

خیارة :بادرنګ.ملح: مالګه . ملح . [مِ] (ع اِ) نمک . (منتهی الارب) (آنندراج). نمک طعام و مذکر و مونث هر دو می آید ولی بیشتر مونث می باشد. ج ، ملاح . املاح . ملحة [مِ لَ حَ / مِ حَ]. مِلح . (ناظم الاطباء). نمک طعام . تصغیر آن مُلیحة است .ج ، ملاح .(از اقرب الموارد).

اطراد :د ممد وح نوم دده پلار او نیکه و طرف ته د منسوب کونې په مهال په هغه ترتیب سره ذکر سي په کوم ترتیب سره چې دوی وجود ته راغلي دي چې پلار بیا نیکه بیا تر پایه پورې.اضافات مرتبه: د مضافینو ترمینځ پرته د مضاف څخه بل څه واقع سوی نه وی.

بشاعة :کراهت. بشع يبشع ، بشاعةً ونشئا ، فهو بشِع بَشِعَ المَطْرَ : قَبُحَ بَشِعَ الرَّجُلُ . صار ذميماً وكَرِيهاً بَشِعَ فُمُهُ . تغيّر ريحُهُ بَشِعَ الطَّعامُ : صارَ طَعْمُهُ كَرِيهاً بَشِعَ بالطَّعام : لَمْ يَسِغْهُ بَشِعَ اللِّباسُ أو الكَلامُ : خَشُنَ /// بشاعة. اِ بَ عَ ا(ع مص) ناخوش شدن مرد از

Maktaba Tul Ishaat.com

خوردن طعام بدمزه : بشع الرجل بشعا و بشاعة . ا ا بی مزه شدن . (منتهی الارب) (از ناظم الاطباء) (آنندراج). ا ا طعمی مرکب از تلخی وقبض : مثل اجتماع المرارة والقبض فی الحضض . (قانون ابن سینا). ا ا بدبوی شدن دهان از ناکردن خلال و مسواک . (منتهی الارب) (ناظم الاطباء) (آنندراج). ا ا عاجز و تنگ شدن بکاری : بشع بالامر. (از منتهی الارب) (آنندراج) (از ناظم الاطباء). ا ا گلوگیر شدن . (زوزنی). گلوگیر شدن طعام . (تاج المصادر بیهقی).

ملکه: د غه یو داسي کیفیت او د صفت نوم دی کوم چي په خپل محل «نفس» کي دا ډول ثابت سي چي دده زائله کېدنه بیا ممکنه نه وي .راسخ: کلک، مضبوط، **تینګ**. راسخ: (اسم) الجمع راسخون و رواسخ ، المؤنث : راسخة ، و الجمع للمؤنث : راسخات و رواسخ اسم فاعل من رسَخَ شجَرةٌ راسخةٌ في الأرض : ثابتة ، متغلغلة عالِمٌ راسخٌ في العِلْم : ثابتٌ فيه ، متفنِّنٌ فيه. راسخة. [س رِ خَ] (ع ص) ثابت راسخ . (یادداشت مولف) محکم و استوار و پای برجای . ورجوع به راسخ شود.

﴿فائده﴾: کوم شي چي د عدم څخه و وجود ته راسي او ددې څخه بیا ورسته د وجود څخه و عدم ته ځي نو دغه په دوه قسمه دي.

اول: جوهر: چي په وجود خارجي کي د محل محتاجه نه وي لکه ټوله اجسام.

دوم: عرض: چي په وجود کي و محل ته محتاجه وي. بیا عرض په نه قسمه دي.

۱ : **کم**: هر هغه عرض چي په اعتبار د ذات تقسیم قبلوي، بیا دی په دوه قسمه دي.

الف: متصل: چي په کوم کي حدود مشترک وي لکه خط، سطح، جسم.

ب: منفصل: چي په کوم کي حدود مشترک نه وي لکه اشیاء معدوده.

۲ : **کیف**: هر هغه عرض چي دده فهمېدنه په بل موقوفه نه وي.او هغه په خپل محل کي د تقسیم او عدم تقسیم په اعتبار د ذات او بېله واسطې تقاضي نه کوي. اوس دغه تعریف په څلورو فصلونو باندې مشتمله دي.

۱ : **لا یتوقف تعقله آه**: په دغه سره اعراضي نسبیه (متي ، این، اضافت، ملک، فعل، انفعال) ووتل د کوم فهمونه په بل باندې موقوفه دي.

۲ : **لا یقتضي القسمة**: په دغه سره کم ووتي. ځکه کم په اعتبار د ذات د تقسیم تقاضي کوي.

۳ : **اللاقسمة**: په دغه سره وحدت او نقطه ووتل، ځکه دغه دواړه عدمي تقسیم قبلوي، ځکه نقطه نوم د خط د طرف دی. او د خط طرف تقسیم نه قبلوي. او وحدت د شي غیر منقسم کېدنې ته ویل کیږي.

۴: **اولیاً:** دغه د هیستولو لپاره نه دی بلکه دعلم په معلوماتي باندی د کیف په تعریف کي د داخلېدولو لپاره اضافه سوی دی دا دول چي د اولیا څخه لذاته او بلا واسطه مراد دی.

۳: **اضافت:** هر هغه نسبت چي و یو شي ته په دې اعتبار وړاندی سي چي دده نسبت و بل شي ته سوی دی. لکه پلار والي او زوی والي.

۲: **متی:** د یو شي په یوه زمانه کي حاصلېدل. لکه د روژې نیونه په میاشتي کي د روژې.

۵: **این:** د یو شي په یوه مکان کي حاصلېدنه. لکه زید په کور کي دی.

۶: **وضع:** هر هغه هیئت چي یو شي ته په هغه وخت کي ور عارض سي چي دده د بعضو اجزاؤ نسبت و نورو بعضو ته کول سوی وی.

۷: **ملک:** هر هغه هیئت کوم چي و یو جسم ته ور عارض سوی وی په دې اعتبار سره چي هغه په جسم باندی احاطه کړېده. او د جسم په منتقله کېدولو سره منتقله کیږی لکه د جامې اغوستنه او د لنګوټې ترنه.

۸: **فعل:** د یو شي په بل کي موثر کېدنه. لکه د پورې کونکي شي په داسي حال کي کېدنه چي دی بل پورې کړی.

۹: **انفعال:** د یو شي د بل څخه متأثر کېدنه. لکه د زید وهل کېدنه.

لهذا د دغه نهو سره یوه مقوله د جوهرهم ده نو توتل د مقولو شمېر لس و ګرزېدی. او دغه ته مقولاتي عشره ویل کیږی. او مقوله په معنې سره د محمول ده. یعنې د موجوداتو څخه یو هم داسي شي نسته چي د دغه مقولاتو عشرو څخه دیوه هم پکه ده باندی حمل نه کیږی. ځکه دغه مقولاتي عشره د موجوداتي ممکنو لپاره اجناسي عالیه دي. او جنس په ذي جنس باندی حمل کیږی. نو دغه مقولاتي هم په موجوداتي ممکنو باندی حمل کیږی. بیا د دغه مقولاتو دوه قسمه دي.

اول: مقولاتي نسبیه: د دوی فهمونه په بل باندی موقوفه وی.

دوم: مقولاتي غیر نسبیه: هغه مقولاتي چي د دوی فهمونه په بل باندی موقوفه نه وی.

مقولاتي غیر نسبیه درې دي. ۱: جوهر. ۲: کیف. ۳: کم. او د دوی نه سېوا پاته د مقولاتي نسبیو څخه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوم): دلته مصنف په دغه بعضو باندې رد کوي. خلاصه د رد داده چې موږ دا خبره نه منو چې کثرتي تکرار او تتابع الاضافات مطلقاً فصاحت ته خلل رسونکي دي. ځکه په دغه کې لږ څه تفصيل وجود لري هغه دا دول که چيرې ددوی په وجه سره د يو لفظ تلفظ ګران او ثقيل ګرزی نو په دغه وخت کې دوی دواړه يقيناً فصاحت ته خلل رسونکي دي. او خالي والي د کلام فصيح ددوی څخه ضروری دی، او که چيرې ددوی په وجه تلفظ ګران او دروند نه ګرزی نو بيادوی دواړه فصاحت ته خلل رسونکي نه دي. او ددوی څخه د کلام فصيح خالي والي هم شرط نه دی.

په اول صورت کې مستقلاً ددوی څخه خالي والي د ذکر کولو ضرورت نسته، ځکه څه وخت چې د کلام فصيح لپاره خالي والي د تنافر الکلمات څخه شرط سره نو د کثرتي تکرار او تتابع الاضافات څخه هم پخپله خالي والي شرط سو، ځکه د تنافر الکلمات حاصل هم دادی چې د کلماتو نه يو ځای والي څخه په ژبه باندې تلفظ مشکل وګرزی. لهذا په احتراز سره د تنافر الکلمات احتراز د ددوی څخه راغلي. نو ددوی دواړو مستقلاً ذکر کولو ته ضرورت پاته نه سو.

او په دوم صورت کې څرنګه چې فصاحت ته خلل رسونکي نه دي په دغه وجه ددوی د ذکر کولو څه ضرورت نسته.

قال الشيخ: **سوال**: مقصد د شارح د نقل کولو څخه د کلام د شيخ څه دی؟

جواب: ۱: شارح ددې خبرې د تائيد لپاره د شيخ کلام وړاندې کړې چې کثرتي تکرار او تتابع الاضافات که چيرې مفضي و ثقالت ته وی نو بيا دوی خلل رسونکي لپاره د فصاحت دی او که چيرې دغه دول نه وی نو بيا خل رسونکي دی.

۲: مأخذ د کلام د شيخ عبدالقاهر ذکر کوي. خلاصه ددې داده چې مأخذ د کلام د شيخ دده د استاذ خبره ده. حاصل دادی چې د اضافاتو متداخلو څخه ځان ساتنه ضروری ده، ځکه دغه په ذم بيانولو کې د يو چا استعماليږی.

مثال: يا علي بن حمزة ابن عمارة * انت والله ثلجة في خبارة. يعني أي! علي بن حمزه قسم په خدا ته په يخي کې بادرنګ يې.

محل د استشهاد: ابن مضاف و حمزه ته دی او ابن مضاف و عمار ته دی. لهذا دلته هم تتابع الاضافات راغلبده.

البته که چیری دغه تتابع الاضافات ذوقي سلیم کریه نه بولي نو بیا دغه لطیف دی.

اول مثال: ظلت تدير الكأس ايدى جاء ذر * عتاق دنانير الوجوه ملاح. يعني د همیش لپاره د وحشي غوئي دزامونو لاسونو (يعني ښائسته کښیانو لاسونو) د شرابو جامونه ګرزول ، مخان ددوی ښائسته په مثل د دنانیرو دي او ملیح دي. (لج - نَلَجَ الماءُ نَلَجُ نُلُوجًا ، ونَلاجًا : صار مِلْحًا وهو نَلِيجٌ أيضًا ، ومالحٌ و نَلِجٌ الشيء: ملاحةُ . نَهْجٌ وحسنٌ منظرُه . فهو نَلِيجٌ والجمع : ملاحٌ وهو أيضًا نَلاحٌ ، ونَلاحٌ .)

محلي استشهاد: عتاق مضاف و دنانیر، او دنانیر بیا مضاف و وجوه ته دی. او دغه تتابع الاضافات دي.

﴿فائده﴾: ترکیب د شعر: ظلت: یو فعل د افعالِ ناقصو څخه دی او دلته فعل تامه په معني سره د دامت دی. **تدير:** فعل. **ایدی:** مضاف جاذر مضاف الیه دی، مضاف سره د مضاف الیه فاعل لپاره د تدیر دی. **الكأس:** مفعول به لپاره د تدیر دی. **عتاق:** مضاف، **دنانیر:** مضاف، **الوجوه:** مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه صفتي اول لپاره د جاذر دی، **ملاح:** جمعه د ملیح ده او صفت دوم لپاره د جاء ذر دی.

دوم مثال: اطراد دی لکه: إنْ يَقْتُلُوكَ فَقَدْ ثَلَلتُ عُرُوشَهُمْ * بِعُتَيْبَةَ بنِ الْحَارِثِ بْنِ شِهَابِ. يعني که څه هم ته دوی مړ کړي مګر په تحقیق سره ما ددوی مملکت په سبب سره دوژلو د عتیبه بن حارث خراب او ویران کړی.

(ثلت عروشهم شققت أسرتهم وهو كناية عن هدم عماد مجدهم والمعنى إن كانوا قرحوا بقتلك وتبجحوا به فقد هدمت عزهم بقتل عتيبة (شرح ديوان الحماسة للتبريزى ٣٤٩/ج١)

محلي استشهاد: دلته ابن مضاف و حارث ته دی، او بن مضاف و شهاب ته دی نو دلته تتابع الاضافات تر سرهٔ سوی دی.

﴿فائده﴾: دغه بیت د ربیعة ابن ابي ذواب دی، د عتیبه قوم د ربیعه زوی مړ کړی او بیا ده د غچ اخیستولو لپاره عتیبه مړ کړی. دلته شاعر و خپل مړه زوی ته خطاب کوی چې ته مه خوابدی کېږې ما ستا غچ واخیست. او دلته خپل ځان ته تسلي ورکوله خپګان لرې کوله ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

او غير مرتبة كما في الحديث: **سوال اول**: دليل وښه په دې حديث سره (ابن الكريم ابن الكريم ابن الكريم) صحت نه لري، ځکه په دغه کې اضافات مرتب نه دي، ځکه مرتب به هلته وای که چيرې ابن ته ما قبل دده مضاف وای، او دلته دغه ډول نه ده، بلکه دی پخپله مضاف دی؟

و انه اورد الحديث مثالا **دوم سوال**: دغه حديث که چيرې مثال لپاره د کثرتي تکرار وګرزيږي نو تتابع الاضافات ببله مثاله پاتيږي. او که چيرې مثال لپاره د تتابع الاضافات و ګرزيږي، نو بيا کثرتي تکرار ببله مثاله پاتيږي؟

و انه اراد بتتابع الاضافات : **دريم سوال**: په قول سره د علي بن حمزه دليل وښه صحت نه لري، ځکه په دغه کې تتابع الاضافات نسته بلکه دوه اضافته شتون او وجود لري؟

جواب داول سوال: د تتابع الاضافات څخه عام تر دې مراد دی چې مرتب وی او که مرتب نه وی نو حديث مثال لپاره د غير مرتب دی.

جواب د دوم سوال: حديث دد واړو لپاره مثال دی نه د يوه لپاره حتي چې بيا اعتراض وارد سي.

د دريم سوال جواب: تتابع الاضافات کې جمعه په معني لغوی سره مراد ده"يعني ما فوق الواحد" نه په معني اصطلاحي سره "يعني ما فوق الاثنين".

﴿فائده﴾:(حديث مرفوع) حَدَّثَنَا يَحْيَى، قَالَ : حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ ،حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ , أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " إِنَّ الْكَرِيمَ ابْنَ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ يُوسُفَ بْنَ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ , قَالَ:وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" لَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ مِثْلَ مَا لَبِثَ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ ، ثُمَّ جَاءَنِي الدَّاعِي لأَجَبْتُهُ ، وَقَالَ : رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَى لُوطٍ إِنْ كَانَ لَيَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ ،قَالَ لِقَوْمِهِ , لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ سورة هود آية 80 ، فَمَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا بَعْدَهُ إِلا فِي ثَرْوَةٍ مِنْ قَوْمِهِ "(جامع الترمذي، الرقم:٣٠٦٠)،(مسند أحمد بن حنبل، الرقم:٨١٩٢،٩١٧٤) ، (صحيح ابن حبان، الرقم:٥٨٩٥)،(المستدرك على الصحيحين، الرقم:٣٢٥٢،٤٠١٣)،(السنن الكبرى للنسائي، الرقم: ١٠٧٤٠)،(مسند أبي يعلى الموصلي، الرقم:٥٨٨٤)،(المعجم الأوسط للطبراني، الرقم: ٢٧٣٢)،(حديث هشام بن عمار، الرقم:٩٦)،(الجزء الرابع من حديث ابن البختري، الرقم:٣)،(فوائد تمام الرازي، الرقم:٥٠٨)،(مصافحات وموافقات وأبدال وأحاديث عوال، الرقم:١٧)،(مشكل الآثار للطحاوي،الرقم: ١٧٣٨،١٧٣٩)،(تفسير ابن أبي حاتم، الرقم:١٢٤٦٣)،(الوسيط في تفسير القرآن المجيد، الرقم:٤٧٣)،(تاريخ دمشق لابن عساكر، الرقم: ٤٢٦٩)،(تاريخ الإسلام الذهبي، الرقم:١٣٠)،(الأدب المفرد للبخاري،الرقم:٦٠٣، ٨٩٠)

لا يقال ان من اشترط: **سوال**: هغه څوک چې دا خبره شرطوي چې کلام فصيح به د کثرتي تکرار څخه خالي وی دهغه مراد دادی چې هغه شي چې مکررسوی وی دد غه ټولو څخه به يوشي مراد وی او حال دا چې په حديث کې دغه ډول خبره نه ده، ځکه د اول کريم څخه يوسف ، د دوم

څخه یعقوب او د ډرېیم څخه اسحاق او څلورم څخه ابراهیم علیهم السلام مراد دي نو دلته کریم مکرر سوی دی مګر د هر یوه مراد د هغه بل څخه جلا دی. او د تتابع الاضافات څخه مراد هغه دی چې مرتب اوبېله کومه فصلَ وی. او حدیث دغه ډول نه دی، ځکه د مضافینو تر مینځ پرته د مضاف الیه بل څه واقع سوی دی، او هغه لفظ د ابن دی، نو دغه حدیث د تتابع الاضافات مرتبه د قبیلې څخه هم نه سو. نو په دغه حدیث سره دلیل وېنه صحت نه لری؟

جواب: په دغه دواړو (مراد د ټولو څخه یو شي د کثرتي تکرار په صورت کې وی او د تتابع الاضافات څخه مراد مرتبه وی) کې که چیرې دوی ثقالت په ژبه راولي نو بیا دوی مخل فصاحت لره دی او که چیرې دغه ډول نه وی نو بیا مخل فصاحت لره نه دی.

د تتابع الإضافات مثال: ۱: مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ.(سورة الغافر: ۳۱) **یعني** د نوح علیه السلام د قوم غوندی.

محلي استشهاد: مثل و دأب ته او دأب بیا قوم ته او قوم بیا نوح(ﷺ)ته مضاف په ترتیب سره دی دا ډول چې د مضاف او مضاف الیه تر مینځ کوم بل څه نسته.

۲: ذِكْرُ رَحْمَةِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا.(سورة مریم: ۲) **یعني دغه** ستا د رب د رحمت په خپل بنده باندی تذکره ده.

محلي استشهاد: ذکر و رحمت ته او رحمت بیا رب ته او رب بیا و کاف خطابي ته مضاف دی. او د اضافاتو تر مینځ کوم فصل وجود نه لری.

سوال: د اضافاتو مرتبه لپاره مصنف ولي دوه مثاله ذکر کړه؟

جواب: یو مثال په جوامدو او بل په مصادرو کې دي.

مثال د کثرتي تکرار: وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ۞ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا.(سورة الشمس: ۷، ۸). **یعني** قسم دی په نفس او په هغه څه سره چې دی یې برابر کړی دي بیا یې دده د بدی او د ښو القاء وکړه.

محلي استشهاد: دلته ضمیر د هاء مکرر سوی دی او په ټولو کې راجع و نفس ته دی

هي قسم من مقولة الكيف: **سوال:** د دغه عبارت شارح د څه لپاره راوړی دي؟

جواب: د دغه تعریف د ملکه دی، ځکه ملکه په تعریف کې د فصاحت د متکلم راغلې ده. او د شي کامله شناخت هلته راځي چې دده د ټولو اجزاؤ پېژندنه تر سره سي. او د فصاحت د متکلم یو جزء ملکه ده په دغه وجه شارح دده تعریف وراندی کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشيه نمبر ۱:

سوال: دد غه شعر څه معني ده؟

جواب: معني يې داده "أي د ډبريني او ريګلني مخکې کوتری ته غزلَ وايه، خکه ته په داسي ځای کي وجود لري چيري چي تا زما محبوبه سعاد وينې او ستا آواز اوری".

سوال: علامه زوزني دد غه شعر څه ترجمه کړيده؟

جواب: "أي د ډبريني او ريګلني مخکې کوتری ته غزلَ وايه خکه ته په داسي ځای کي وجود لري چيري چي ته زما محبوبه سعاد وينې او د هغې آواز اوري".

سوال: آيا دغه معني د زوزني صحت لری؟

جواب: دغه معني نقلاً هم صحت نه لری، ځکه د صحاح غوندي د لغاتُ په کتاب کي راغلي دي چي د "سمع، او مرای" ورسته چي کوم مجرور راغلي وي هغه فاعل لپاره ددوی وی نه مفعول. او حال دا چي زوزني دغه مفعول ګرزولی دي نه فاعل نو دغه نقلاً باطلَ خبره ده. او دغه عقلاً هم په دې وجه باطلَ ده چي په دغه صورت کي ويل سوی دی چي کوتره د سعاد آواز اوری، ځرنګه چي کوتره د محبوبې آواز اوری نو بيا د کوتری څخه د غزلي ويولو فرمائش کول مناسبَ نه دی، ځکه د کوتری په غزل ويولو سره د محبوبه په آواز اورېدلو کي خلل راځي، نو په دغه صورتکي مناسبَ داوه چي کوتری ته داويل سوی وای "اُسْكُتِيْ" يعني ته چپه خوله سه او د محبوبه آواز واوره. لهذا شاعر "اِسْكُتِيْ" وينا علامه ددې خبری ده چي سعاد ليدو نکې او اورېدونکي د کوتری ده نه په خپله غزل ويونکي. او دغه مطلب هلته تر لاسه کيږی چي سعاد فاعل وګرزی نه مفعول.

حاشيه نمبر ۲:

سوال: په شلمه صفحه باندي مصنف ويلي وه چي "و فيه نظر". او د هغه نظر يو چا دا ډول توجيه کړيده لکه دلته چي د مصنف د نظر توجيه سوېده. لهذا دغه توجيه ډ قبول وړ ګرزول او هغه توجيه رد ولو لره هيڅ شد او معني نسته؟

جواب: ددغي توجيه او د مخكني توجيه ترمينځ داډول فرق سته چې په هغه توجيه کې دومه شرطيه "و الا فلا تحل بالفصاحة" يوه مجرده دعوي ښکله يو تائيدَ وه. او دلته دغه دومه شرطيه "و الا فلا يحل بالفصاحة" مجرده دعوی نه ده بلکه دغه دعوي سره د دليل او يو موئيده ده.

حاشيه نمبر۳:

سوال: دلته د شيخ د کلام د راوړلو مقصد څه دی؟

جواب: ددغه په راوړلو کې دوه مقصدَ دي. ۱: کومه خبره چې په نظر کې ذکر سوېده د هغې د اثبوتي لپاره دغه قول د شيخ راوړل سوی دی. ۲: او دغه توطيه د دې قول لپاره "ما اورده المصنف في الايضاح من كلام الشيخ" ده.

حاشيه نمبر۴:

سوال: اضافاتِ متداخله څه ته ويل کيږی؟

جواب: اضافات د اضافت جمع ده، او متداخله په معني سره د مجتمعه دی. يعني هغه اضافات کوم چې سره يو ځای سوی وي. او دغه ته متداخله په دې وجه وېل کيږی چې دوی يو د بل سره ننوتل وي. داډول چې په يوه اضافت کې مضاف اليه او په بل اضافت کې بيا دغه مضاف اليه، مضاف وی. ځرنګه متداخل يو په هغه کې بل کې ننوتلي ته ويل کيږی دغه ډول يو اضافت په هغه بل کې داخلَ دی. لکه په دغه ذکر سوی شعر کې "حمامة جرعا حومة الجندل اسجعي". په دغه کې "حمامة" مضاف او "جرعا" مضاف اليه، او دغه "جرعا" مضاف و "حومة" ته، او "حومة" و "جندل" ته دی. لهذا "حمامة جرعا" اول اضافت، "جرعا حومة" دوم اضافت او "حومة الجندل" دريېم اضافت دی. او د اول اضافت "جرعا" په دوم اضافت کې "جرعا حومة" کې داخل دی او "حومة" په دريېم اضافت کې داخل دی. او دغه متداخله بيا هغه ته شاملَ دی کوم چې سره متصل او که منفصلَ دی. د متصل په صورت کې د اول اضافت او د دوم اضافت ترمينځ کوم څوک راغلي نه وی. او منفصل بيا هغه دی چې د اول او د دم په مينځ کې فصل تر سره سوی وی. البته دغه ته متداخله په دې وجه ويل سوی دی چې په دغه کې فاصل د متعلقاتُ څخه د اول وی. نه يو بېګانه.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده﴾: الشاهد في البيت كثرة الإضافات المتتابعة، ففيه إضافة حمامة إلى جرعى وجرعى إلى حومة، وحومة إلى الجندل. والجرعى: تأنيث الأجرع قصرها للضرورة وهي أرض ذات رمل لا تنبت شيئا. والحومة: معظم الشيء، الجندل: أرض ذات حجارة. السجع: هدير الحمام ونحوه. (الايضاح في علم البلاغة ٣٧)

حاشيه نمبر ٥:

سوال: اضافات متداخله څه لپاره استعماليږي؟

جواب: شيخ ذکر کړي دي چې دغه په هجاء او ذم ويولو کې د يو کس استعماليږي. اوس که چيرې د اضافاتُ متداخله سره سره الفاظ هم د ذم ويولو استعمال سي نو دلته به ذم وښه په پورا توګه راسي، ځکه معناً ذم وښه په اضافاتِ متداخله تر لاسه سوه او لفظاً په الفاظو سره د ذم تر لاسه سوه.

حاشيه نمبر ٦:

سوال: دغه لفظ "خيارة" او که "خيارة" دي؟

جواب: په دغه کې دوارې احتمالَ سته.

١: که چيرې "خيارة" سي نو د شاعر په دغه شعر سره مقصد د علي بن حمزه موصوفَ کونه په زيات يخوالي سره ده (يعني ته بې خونده کس يې او هيڅ مزه دي نسته لکه د بادرنګ هيبنول په يخي کې په دغه سره د بادرنګ نور هم بې خوندي يې زياتَ سي).

سوال: څه وخت چې مقصد د شاعر د لته د علي بن حمزه موصوف والي په زيات يخوالي سره ادی. نو دغه مقصود په ښکاره توګه په دا دول وينا " انت خيارة في الثلج" سره تر لاسه کيږي، ځکه بادرنګ خونک او يخ وی. او دی چې څه وخت په واوره او يخي کې کينبول سي نو دده يخوالي نور هم زيات سي. او که چيرې په دغه شعر کې د الفاظو مخکې کونه او ورسته کونه تر سره نه سي بلکه شعر پر خپل حال پاته سي نو معني به داسي "ته يخي پۀ مينځ کې د بادرنګ يې"، نو په دغه وخت کې د بادرنګ په مينځ کې د يخي په هيبنولو سره د بادرنګ د يخوالي زيات والي ښکاره نه دی. نو په دغه صورت کې مقصود د شاعر تر لاسه نه سو؟

جواب: دلته فاء په معني سره د مع ده "أنت خيار مع ثلجة". يعني ته بادرنګ سره د يخي يې. او بادرنګ چې د يخي سره ملګری سي نو يخوالي د بادرنګ نور هم زيات سي نو اوس په دغه صورت کې و قلب ته ضرورت نه پېښيږي.

۲: دغه "خبارة" دي. او خباره و پستې او سستي مځکي ته ويل کيږي په کومه کي چې کلک والي نه وي. نو په دغه صورت کي مقصود د شاعر د علي بن حمزه موصوف ګرزول په ضعف او کمزوری سره دی دا ډول چې ته دا ډول ضعيف او کمزوری يې لکه هغه پسته مځکه چې پر هغه واوره وسي . او پر پسته مځکه چې واوره وسي نو هغه مځکه ختې سي. لهذا ته د هغه مځکي په شان سست او ضعيف يې، پاته کي هيڅ کلک والي او غيرت نسته.و الله اعلم بالصواب

حاشيه نمبر ۷:

جآذر جمعَ د جوذَر، جوذُر ده.او دغه د وحشي غويي و بچي ته ويل کيږي.

(الجُؤذُرُ) ، بضمّ الجيم والذال مهموزاً (ونُفتح الذّالُ) أيضاً ، (والجذْرُ) ، بكسر الجيم وسكون الحتيْة ، وفي بعض النُّسخ بفتح الجيم ، (والجُوذُرُ) ، بالواو) من غير هَمز (كفُوفَل ، و) الجَوْذَرُ ، مثل (كَوْكَب ، والجَوْذِرُ ، بفتح الجيم وكسر الذّال) ، فهي ستُّ لغات ، ذكَر الجوهريُّ منها ثُلثَيْن ، وزاد الصغانيُّ الثنتَين ، وهما كفُوفل وكَوْثَبٍ ، وهي (وَلَدُ البَقَرةِ الوَحْشيَّةِ) ، كذا في الصّحاح ، والجمعُ جآذِرُ .(تاج العروس من جواهر القاموس – جذر)/// والجؤذر والجوذر: ولد البقرة، وفي الصحاح: البقرة الوحشية، والجمع جآذر وبقرة مجذر: ذات جؤذر، قال ابن سيده: ولذلك حكمنا بزيادة همزة جؤذر ولأنها قد تزاد ثانية كثيرا. وحكى ابن جني جؤذرا وجؤذرا في هذا المعنى، وكسره على جواذر. قال: فإن كان ذلك فجؤذر فؤعل وجؤذر فؤعل. ويكون جوذر وجوذر مخففا من ذلك لتخفيفا بدليا أو لغة فيه. وحكى ابن جني أن جوذرا على مثال كوثر لغة في جوذر، وهذا مما يشهد له أيضا بالزيادة لأن الواو ثانية لا تكون أصلا في بنات الأربعة. والجيذر: لغة في الجوذر. قال ابن سيده: وعندي أن الجيذر والجوذر عربيان، والجؤذر والجؤذر فارسيان.(لسان العرب) /// جوذر. [جَ ذَ / ذِ] (معرب ،ا) معرب گوذره ، بچه گاو دشتی. (غیاث از منتخب و رساله ٔ معربات).(آنندراج). بچه گوزن .رجوع به جودر شود.

عِتاق د عتيق جمعَ ده. او عتيق صفت مشبه په معنې سره د جميل او ښائسته دی.

سوال: اضافت د دنانير و وجوه ته کوم اضافت دی؟

جواب:دغه اضافت د مشبه به و مشبه ته دی. اصل عبارت دا ډول دی"وجوه کالدنانير"يعني مخان لکه دينارونه. او دوی تر مينځ علاقه د تشبيه صفا والي او زلېدنه ده.لکه څرنګه دنانير زليږی دغه ډول دوی مخان زليږی.

سوال: "بلاح" څه ترکيبي حيثيت لری؟

جواب:دغه دوم صفت ليږه د "جآذر" دی. او دغه صفت ليږه د "عتاق" نه دی. لکه دغه خبره علماؤ فرمايلي ده چې صفت مشبه موصوف نه راځي.

عَتَقَ يَعتِق،مصدر عَتْقٌ ، عِتْقٌ ، عَتاقٌ ، عَتَاقَةٌ ، فهو عاتِقٌ ، وعتيقٌ والجمع : عُتَقَاءُ وهي عتيقٌ ، وعتيقَةٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

عَتِيق :(اسم) الجمع : عِتاق و عُتُق و عُتَقاءُ ، المؤنث : عتيق و عتيقة ، و الجمع للمؤنث : عتيقات و عتائقُ صفة مشبّهة تدلّ على الثبوت من عتق : مُحرّر من العبوديّة اللّهم اجعلنا من عُتقائك من النّار العَتِيقُ : القديمُ البيتُ العتيق : الكعبة المشرّفة ، بيت الله الحرام العتيق: كريم ، نجيب هو عتيق الوجه : كريمُه وثوبٌ عَتيقٌ : جَيِّدُ الحياكةِ والعتائقُ من الطَّيْر:الجوارحُ،ومن الخيل:الجارِبُ مَليح: (اسم)،الجمع: مِلاَحٌ، مُلَحاءُ ، مَليحاتٌ صفة مشبّهة تدلّ على الثبوت من مُلُح رَجُلٌ مَليحٌ:ذُو مَلاَحةٍ،وسيمٌ فَتاةٌ مَليحةٌ جَميلةٌ

حاشيه نمبر۸ :

سوال: "اطراد" څه ته ويل كيږي؟

جواب: دمعد وح نوم مضاف و طرف ته دده د پلار او نيکه ګانو د هغه ترتيب موافق ذکر سي په کوم ترتيب چې دوی و وجود ته راغلي وي داډول چې اول پلار بيا نيکه بيا تر پايه پورې په دغه ترتيب ذکر سي.

سوال: دغه د چا شعر دی؟

جواب: دغه د ربيعه بن ابي ذواب شعر دی. او ده جنګ د عتيبه سره تر سره کړی وو .

سوال: په دغه شعر کې محل د استشهاد څه دی؟

جواب: محل د استشهاد اطراد دی.

سوال: د دغه بيت اوله حصه څه ده؟

جواب: اول د شعر دا حصه ده " إن يَقْتُلوكَ فقَدْ ثَلَلْتُ عُروشَهُمْ ".او د دغه شعر نور بيان د "تشريح" تر عنوان لاندې ذکر سو.

ثَلَّ عَرْشَه أي ذهَب عزُّه وساءت حالُه يقال : ثَلَلْتُ الشيءَ إذا هدمته وكسرته قال القتيبي : للعرش ههنا معنيان : أحَدُهما السرير والآخرُ للملوك فإذا ثَلَّ عرشُ الملك فقد ذهب عِزُّهُ والمعنى الآخر البيتُ ينصب من العيدان ويُظَلَّل وجمعه عُرُوش فإذا كسرَ عرشُ الرجل فقد هلك وذلّ . (مجمع الأمثال للنيسابوري – الباب الرابع فيما أوله لاء، ص 154، الرقم: 778)

حاشيه نمبر۹ :

سوال: "ما اورده المصنف" د دغه د راوړلو څه مقصد دی؟

جواب: دغه تمهيد لپاره د راتلونکي اعتراض "لا يقال ان من اشترط ذالک 'راد الخ" دی.

سوال: "ما اورده المصنف "کوم کلام دی؟

جواب: دغه کلام هغه دی کوم چې مخکې شارح په دې الفاظ سره "قال الشيخ عبدالقاهر قال الصاحب .... و منه الاطراد الملذکور في علم البديع الخ "ذکر کړي دي.

سوال: دغه څلور ضمائر "انه جعل" و انه اورد" چا ته راجع دي؟

جواب: دغه ټوله مصنف ته راجع دی.

سوال: مصنف رحمه الله د شیخ کلام چې په ایضاح کې راوړی دی د هغه څحه دا معلومیږی چې مصنف تتابع الاضافات عام گرزولي دي الخ. اوس خلاصه د سوال داده چې دغه کلام څرنگه مشعر او آگاهي راوستونکي په دغه خبرو دي؟

جواب: هغه دا دول دی چې قیل والا وویل "فصیح کلام به د کثرتِ تکرار او تتابع الاضافات" څحه به خالي وی. اوس دغه قیل والا "کثرتِ تکرار" عام ذکر کړي کوم چې مرتب او غیر مرتب دواړو ته شاملَ دی. بیا مصنف "فیه نظر" ووایي، نو د دغه مطلب دا دی چې د "کثرتِ تکرار" څحه مطلقا د کلام خالي ساتنه په شرطولو کي نظر دی، او بیا شارح د مصنف هغه کلام ذکر کړي کوم چې مصنف په ایضاح کي ذکر کړي وو. نو د دغه څحه دا معلومَ سوه چې "کثرتِ تکرار" چې څرنگه هم وی مطلقاً و فصاحت ته د کلام تاوان نه رسوی البته که چیری د دغه څحه ثقالت پیدا کیدی نو بیا تاوان و فصاحت ته د کلام رسوی. لهذا د دغه کلام څحه معلومَ سوه چې "کثرتِ تکرار" د مصنف په وړاندی عام مراد دی. او په کلام کي د شیخ د کثرتِ تکرار لپاره دا مثال "یا علي بن حمزة ابن عمارة" وړاندی سوی دی، او په دغه مثال کي دوه اضافتَ دي (۱: بن حمزة. ۲: ابن عمارة). او دغه دواړه مرتب نه بلکه غیر مرتب دي. لهذا دا معلومَ سوه چې د مصنف په وړاندی اضافت عام مراد دی کوم چې مرتب او غیر مرتب دواړو ته شاملَ دی. او تتابع الاضافات په دغه معني سره (چې مرتب وی او که نه وی، او زیات تر یوه وی) و حدیث ته هم شاملَ دي (څکه په حدیث کي هم اضافت غیر مرتبَ دی).

سوال: په دغه حدیث کي تکرار څه رنگه راغلي دي؟

جواب: دا دول چې په دغه کي تکرار د لفظ د کریم او د ابن د دواړو دا راغلي دی.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: هغه څوک چې فصاحت عبارت د کثرة التکرار او تتابع الاضافات څحه خالي بولي د هغه مقصد دا دی چې کثرة التکرار او تتابع الاضافات بالنسبت و یوه شي ته وی. او په حدیث کي تتابع الاضافات بالنسبت و یوه شي ته نه دی. نو اوس په دغه حدیث سره دلیل ویل صحی نه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دغه سوال کونکي اعتراض په سند خاص دی. او په سند خاص باندې کلام او اعتراض کونه په هغه صورت کې فائده رسوی چې مساوي د منعي سره وی. او حدیث اخص تر منعي دی. ځکه حاصل د شارح د دغه قول "و الا فلا یخل بالفصاحة "منعه ده. ګواکي دغه ډول "لا نسلم ان کثرة التکرار و تتابع الاضافات یخل" وویل سوه. او دغه کلام په هغه اضافاتو باندې صادق پرې چې هغه په حدیث کې دی او دغه ډول په هغه اضافاتو باندې هم چې په حدیث کې نه دی. لهذا اضافات په حدیث کې اخص دی نو د سوال کونکي مدعي تامه نه سوه. (شرح النخبة ص ۱۸۰/ج۱)

عنوان آخر: دغه اعتراض پر مثال دی نه پر مدعي او ممثل باندی، لهذا مثال خاص او ممثل عام وی. او ممثل و دغه مثال او د دغه نه پرته نورو ته هم شاملَ وی، لهذا که چیرې فرضاً دغه مثال صحت پیدا نه کړي نو بیا به داسي یو مثال ذکر سي چې په هغه کې اضافات مکرر او بالنسبت و یوه شي ته وی او تتابع الاضافات مرتبه وي. نو بیا به دغه اعتراض دفعَ سي. نو خلاصه داسوه چې پر مثال اعتراض کونه و مدعي ته تاوان نه رسوی.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: د شارح د دغه عبارت "الا ان العرض یقال" په صورت کې د استثناء راوړنه مناسبَ نه دی بلکه د ذوقِ سلیم څخه مخالفَ دی، ځکه دغه ځای د استثناء نه دی، بلکه دغه ځای د "لان" د راوړلو دی، ځکه په دغه سره "الا ان العرض" علت ددې قول "متقاربا المفهوم" بیان سوی دی، لهذا په دغه سره علت ددې خبرې بیانیږی چې د هیئت او عرض مفهومونه ولې سره ژندې دي. لهذا د دغه خبرې د علت د بیانولو لپاره "الا ان" راوړل سوی دی، نو دغه ځای د علت د بیانولو دی نه د استثناء؟

جواب: داسي کلام راوړنه "الا ان" په مینځ کې د علماؤ مشهور او مروج ده (یعني چې دوی علت په صورت کې د استثناء راوړي). نو په دغه وجه شارح هم دغه ډول کلام راوړنه خپل کړل، پاته دا خبره چې دغه استثناء د چا څخه ده او مستثني منه څوک دی، نو ددې جواب دادی چې دغه مستثني مفرغ ده، او مستثني منه حذف سوېده، اصل کلام داډول دي "لا فرق بینهما الا ان العرض الخ" یعني د عرض او هیئت تر مینځ هیڅ یو فرق نسته سېوا ددې څخه چې د عرض اطلاق په اعتبار د عروض تر سره کیږي. الخ.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: "هیئة" ولي په اعتبار د حصول معتبر سو، ددې څه وجه ده؟

جواب: هیئت په لغت کې و صورت ته ویل کیږي. او هر صورت ټره ذی صورت (هغه شي چې هغه خاوند د صورت وی) وی، او هر صورت پر ذی صورت حمل کیږی، او دغه صورت دغه ذی صورت لره حاصل وی، څرنګه حصول په اعتبار د لغت لازم د هیئت سره وو په دغه وجه دی په اعتبار د حصول معتبر سو.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: فعل او انفعال قار ذات او که غیر قار ذاتَ دي؟

جواب: دوی دواړه غیر قار ذاتَ دي، ځکه فعل و اثر کولو ته په یو شي کې ته ویل کیږی تر څو پوری چې دی اثر کونکې وی. اوس اثر کونه دغه یو تدریجي، درجه بدرجه ووجود ته راتلونکي شي دی، دغه په یوه پلا وجود نه پیدا کوی د مثال په توګه په اور سره او به تودیږی. اوس دغه اوس د اور تودونه په یوه پلا نه وی بلکه سوکه سوکه تدریجاً وی. او دغه ډول لمر جسم تودوی، او خبری په اوربدونکي کې اثر کوي. لهذا دغه اجزاء سره یوځای او مستقر نه وی بلکه د یوه په تګ د بل په راتګ سره تر سره کیږی. او دغه ډول انفعال و اثر قبلولو ته ویل کیږی تر چې دی اثر قبلوی. لکه مځکه د لمر څخه ګرمیږی. او اوبه د اور څخه او اوربدو نکي د ویونکي څخه متاثر کیږی. لهذا دغه هم تدریجاً وی نه په یو پلا. نو دغه هم غیر قار ذات دي.

إنَّ قارَّ الذَّاتِ مُجْتَمِعُ الأجزاءِ في الوُجُودِ، وهو الِمِقْدارُ المُنْقَسِمُ إلى الخَطِّ والسَّطْحِ والبَدَنِ وهو الجِسْمُ التَّعليميُّ ،او غَيْرُ قارِّ الذَّاتِ، وهو الزَّمانُ كما هو مُفَصَّلٌ عِنْدَهُم. (تاج العروس من جواهر القاموس - ك ن م)

حاشیه نمبر ۱۴:

"کیفیات مختصة بالکمیات" هغه کیفیتونه چې د کمیاتو سره خاص او اول دواړه و "کم" ته عارضیږي. ځکه د دغه کیفیتونو د عارضیدولو لپاره د کمیت موقوف والي بدهي دی (یعني دا بنکاره ده چې دی په تابع والي سره د کم عارضیږي). لهذا جسم موصوفه کېده په دغه ذکر سوي کیفیتونو په اعتبار سره د هغه کمیت دي چې هغوی په جسم کې و جود لري. او د دغه کیفیتونو و کم ته عارضیدل په اعتبار د مذهب د حکماؤ دی. او د هغوی مذهب دادی چې قیام د عرض په

Maktaba Tul Ishaat.com

عرض سره په دې معني ورا دی چې خاص والي د يوشي په بل شي سره دا دول وی چې د هغوی څخه يو نعت او هغه بل منعوت گرزول سوی وي. (هداية الحكمت)، او کم د واسطه په العروض (هر هغه شي "حرکت" چې و بل شي "کښتي" ته حقيقتاً او د ذات په اعتبار سره عارض سي. او د يو عدد "ظرفيت" د وجي دغه شي "حرکت" په واسطه سره د دغه بل شي "کښتي" مجازاً و يو درېيم شي "ناست سړی" ته عارض سي. د مثال په توگه حرکت و کښتي ته ذاتاً "بېله واسطې" عارضيږي. او بيا دغه حرکت په واسطه سره د دغه کښتي د يو علاقې د وجي و د دغه ناست سړي ته عارضيږي) يو قسم دی. (ملا حمدالله ۱۵/ ع۹) او دغه "کم" د واسطه في الثبوت "هر هغه واسطه چې د دې متصف والي په دغه صفت سره سبب لپاره د ذی الواسطه د متصف والي وی. او په دغه صورت کې د دوارو متصف والي حقيقتاً وی "د قسم څخه نه دی. (ملا حمدالله ۱۵/ع۹)، قاضی ۹۱/ب۸) فاطلب تفصيله فی شرح المواقف.

كيفيات العارضة للاعراض النسبية: لکه سوکه والي او تيز والي چې و حرکت ته عارضيږي. او حرکت يو قسم د کون دی. او کون د اعراضو نسبيو څخه دی. (فيض الفتاح ۱۸۰/ع۱)

حاشيه نمبر ۱۴:

سوال: هغه کيفيات چې هغه تقاضي د قسمت او تقسيم کوي هغه کوم دي؟

جواب: هغه کيفيات چې خاص تر کم پورې وي.

سوال: هغه کيفيات چې د نسبت تقاضي کونکي وي هغه کوم دي؟

جواب: هغه کيفيات چې و اعراضُ نسبيه ته عارضيږي.

حاشيه نمبر ۱۶:

﴿فائده﴾: دحرکت تعريف: "الخروج من القوة الى الفعل على سبيل التدريج" يعني په طريقه سره د تدريج "سوکه سوکه" راوتل د قوت څخه و فعل ته. (هداية الحكمت ۱۶)، او په حرکت کې اختلاف دی.

۱): حرکت د مقولې څخه د کيف دی.

۲): حرکت د مقولې څخه د اين دی.

۳): حرکت په مقوله والي کې تابع د هغه شي وی چې هغه موصوفه په دغه حرکت سره وی.

۴): حرکت يو مستقل عرض او لاندی تر مقولاتو عشرو نه دی. (المفصل ۲۷۹/ع۲)

حرکت په څلور قسمه دی. ۱: حرکت فی الکم. ۲: حرکت فی الاین. ۳: حرکت فی الوضع. ۴: حرکت فی الکیف. (شرح للمدرس الافغانی ۱۷/ج۲)(بدایة الحکمت ۱۶۶)(هدایة الحکمت ۱۷)

تعریف د نقطې: "عرض لا یقبل القسمة فی الجهات اصلا" یعنې هر هغه عرض چې په یو جهت کې هم تقسیم قبلونکی نه وی.

تعریف د وحدت: "عدم انقسام الشی من الجهة التی اتصف بها" یعنې د شي تقسیم نه قبلول د هغه جهت په اعتبار سره چې په هغه سره د غه شي موصوفه وی. (مدرس افضل ۲۱/ج۲)

بیان د اختلاف د علماؤ په نقطه اووحدت کې:

۱: دوی دواړه په خارج کې موجوده او لاندې تر اقسامو تسعو د عرض نه دي.

۲: دوی دواړه اعتباري شیان او په خارج کې بالکل موجوده نه دي.

۳: دوی دواړه عرضي او په خارج کې موجوده دی. او تر مقولې د کیف لاندې دي.

۴: نقطه یو جوهر مجرد او تقسیم و طول، عرض او عمق ته نه قبلوي دی. او وحدت یو امر اعتباري او عدمي شي دی. (شرح للعلامی ۲۷۸/ج۲) انتهی ما فیه الفائدة

د قدماؤ په تعریف اولنې اعتراض:

﴿فائده﴾: قدماؤ د کیف دا ډول تعریف کړې دي "هیئة قارة لا تقتضی قسمة و لا نسبة لذاته" یعنې هر هغه هیئت او کیفیت دي د کوم چې اجزاء په محل کې سره جمعه کیږي. او دی د خپل ذات په اعتبار تقاضا د قسمت او د نسبت نه کوي. اوس په دغه تعریف کې هیئت جنس دی. انتهی ما فیه الفائدة.

د قدماؤ تعریف په داسې الفاظو مشتمله دی چې د هغه څخه په تعریف کې خفي والي او پټ والي رائي. او هغه لفظ د هیئت او د قارة دي؟

جواب: په دغه دوو لفظو کې په اعتبار د خپل ځان پټ والي نسته. بلکه دغه پټ والي یې بالنسبت وهغه لفظ ته د عرض دی چې هغه په تعریف کې د متأخرینو واقع سوي دی. (او هغوی د هیئة قارة په ځای لفظ د عرض راوړي دي. او عرض مشهوره او عام الفهم تر هیئة قارة دی).

دوم سوال: تعریف د "کیف" مانع د اغیارو څخه نه دی. ځکه په ده کې نقطه او وحدت داخل سوه. دا ډول چې دوی دواړه په اعتبار د خپل ځان قسمت نه قبلوي (لکه دغه چې پاسه دوی په تعریف کې تېره سوه). که څه هم دوی دواړه د قسمت تقاضا په واسطه سره د هغه محل کوي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه ته دوی عارضیږي. لهذا د متقدمینو ددغه قید "لذاته" د وجي دوی دواړه په تعریف کي داخل سوه او حال داچي دغه دواړه د مقولاتو تسعو څخه د عرض نه دی؟

جواب: تعریف د قدماؤ بناء پر هغه قول دی چي دهغه مطابق نقطه او وحدت د کیف د اقسامو څخه دي. لهذا دوی داخلیدل ددغه قول مطابق ضروري دي نه ضرر رسونکي و تعریف ته.

درییم سوال: حرکت به د مقوله څخه د "کیف" او یا د مقولې څخه د "این" وی. او په دغه دواړو تقاریرو دغه تعریف کمزوري دی دا ډول که چیري کیف سي نو بیا د حرکت هیستل د تعریف څخه صحی نه دی، ځکه دغه هیستل د هغه شي دی چي هغه د اقسامو څخه د معرَف دی. او د شي فرد د تعریف څخه هیستل صحی نه دی. او دغه ډول که چیري د "این" د مقولې څخه سي نو بیا حرکت د تعریف څخه د کیف په دغه قید " لا تقتضی قسمته" سره ووتي نو بیا ددغه قید "قارة" وراوړلو ته ضرورت نسته؟

جواب: (د قدماؤ تعریف بناء په هغه مذهب دی چي دوی وایي) حرکت یو قسم د اقسامو څخه د اعراضو تسعو نه دی. بلکه یو مستقل قسم د عرض دی. لهذا دده هیستل په قید سره د "قارة" دی.

څلورم سوال: فعل، انفعال، او دغه ډول زمان د تعریف څخه د کیف په دغه قید سره "لا نسبة" وزي. نو د دغه هیستل په قید سره د "قارة" صحی نه دی؟

جواب: که چیري په تعریف کي دوه داسي قیود راسي چي هغه دواړه دیو شي دوتولو توان لري نو په دغه وخت کي و هیستولو ته دتعریف کونکي اعتبار وی. که چیري ده په دوم قید سره هیستل ددغه شي قصد کړی وی نو بیا هغه قید ددغه هیستولو لپاره معتبر دی، او که چیري په اول سره نو بیا په هغه سره یې هیستل معتبر دی. هیستل د هغه شي صحی نه دي چي مخکې هیستل سوي وی .البته د هیستولو ورسته خروج (وتل) هیڅ ضرر و تعریف ته نه رسوی. لهذا دلته دغه ډول دی چي دوی په قید سره د "قارة" هیستل سوي دی نو دوم ځلي په دې قید سره "و لا نسبة "وتل هیڅ ضرر و تعریف ته نه رسوي.

لهذا د مخکني بیان څخه دا خبره معلومه سوه چي تعریف د قدماؤ صحی او ښه دی. مګر د متأخرینو تعریف تر تعریف د قدماؤ احسن دی، ځکه په تعریف د قدماؤ اعتراضات وارد سوي دي "که څه هم بیا د هغوی جوابونه ورکول سوي دي" نه په تعریف د متأخرینو. (شرح طاهری)

۱۰۵) دغه ډول په تعریف کې د متأخرینو نقطه او وحدت د هغه قول مطابق مراد دي چې هغه مشهوره دی په خلاف د قدماؤ د تعریف (شرح الباباي ۲۷۹/ج۲)

حاشیه نمبر ۱۸:

په دغه قید کې "اقتضاء اولیا" اختلاف دی.

۱): **عبدالحکیم:** "اولیا" په معني سره د "ذاتیاً" دی. یعني اقتضاء یې ذاتي او په واسطه سره د بل چا نه وی. او دغه ددې عبارت "عدم الاقتضاء اللاقسمة" لپاره قید دی. او ددغه قید فائده شاملوا لې د تعریف و هغه کیفیاتو ته دي چې هغه د "لا قسمة" تقاضی په اعتبار د خپل ذات نه کوي بلکه په واسطه د یې متعلق کوي. لکه په بسیط باندې علم را تلل. اوس علم په اعتبار د خپل ذات تقاضی د عدم قسمت نه کوي. بلکه په اعتبار د معلوم یې کوي. ځکه معلوم دلته بسیط دی. او بسیط د عدم قسمت تقاضی کوی. نو اوس که چیرې دغه قید نه وای نو بیا علم په بسیط باندې جارجهدی.

۲): **بعض اهل المعاني:** دغه قید "اولیا" لپاره د اطلاق د اقتضاء دی. یعني عدم تقاضی د نه قسمت او دغه ډول تقاضی د قسمت په اقتضاء ذاتي سره وی. لهذا دلته دوه شیان دي.

الف): لا یقتضی اللاقسمة: عدم تقاضی دنه قسمت. ددغه قید فائده مخکې تېره سوه.

ب): لا یقتضی القسمة: عدم تقاضی د قسمت. او ددغه قید فائده داده چې تعریف شامله ود وو شیانو ته سي. ۱: هغه کیفیاتو ته شامله سي چې هغوی تقاضی د قسمت په اعتبار سره دعا رض والي و کمیاتو ته کوي. (د مثال په توګه سپین والي چې قائم په سطحه تره وی). اوس سپین والي یو کیفیت دی چې عارض و سطحي ته دی. او دغه سطحه کم ده. او دغه سپین والي ته قسمت په اعتبار د سطحي ورعارضیږي.

۲: هغه کیفیاتو ته چې دوی تقاضی د قسمت په اعتبار سره د هغه کمیاتو کوي چې هغوی و دوی ته عارضیږي. لکه علم چې تعلق ددوو معلومینو سره لری. اوس دلته علم ته تعدد ور عارض سوی دی. او علم تقاضی د قسمت کوي مګر دغه تقاضی یې د ذات په اعتبار سره نه بلکه په اعتبار سره د عارض سوي کمیاتو "عدد" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د عبد الحکیم د طرف څخه د رد بیان: هغه کمیات چې دوی عارض و کیفیاتو یا معروض لپاره د کیفیاتو وي تقاضی د قسمت نه کوي که چیرې یې کولای نو بیا دغه قید ته ضرورت وو. ځکه په دوی دواړو کې تقاضی د قسمت بالذات نه ده بلکه بالتبع ده.

سوال: هغه علم چې تعلق د بسیط سره لري او د هغه کیفیاتو ترمینځ څه فرق دی چې دوی قائم په کمیاتو سره او یا و هغوی ته عارض سوي وي. لهذا دوی سره یو دی که چیرې یو نه وای نو بیا به دا ویل سوي وای چې په اول کې تقاضی سته او په آخرینو کې نسته؟

جواب: د علم بسیط او د علمینو "چې تعلق یې د معلومینو سره وی" ترمینځ فرق دادي چې علم البسیط (د بسیط علم) تعلق د هغه شي سر، لري چې هغه تقاضی د لا قسمت کوی. لهذا علم هم تقاضی د لا قسمت کوي او د غه تقاضی یې اولي نه بلکه ثانوي ده، ځکه علم د "صورة حاصلة عن الشی فی اللهن" څخه عبارت دی. او د صورت مطابق والي د ذی صورت سره ضروري دی. او ذی صورت بسیط نو صورت به هم بسیط وی. ځکه که چیرې صورت بسیط نه سي نو بیا دغه علم صورت د دغه بسیط نه دی. لهذا د دغه موافقت په خاطر علم پر بسیط تقاضی د لا قسمت په اقتضاء ثانویه سره کوي. او دغه علمین "چې د دو معلومینو سره تعلق لري" تعلق د هغه شي سره نه لري چې هغه تقاضی د قسمت کوی. (که چیرې وای نو دی به هم د قسمت تقاضی کونکي وای) ځکه د قسمت تقاضی کونکي "کم" دی. او علم تعلق د "کم" سره نه لري. بلکه تعلق د هغه معروض سره (څکه کم معلوم ته دی بلکه معلوم هغه معروض د کم دی) د "کم" لري چې هغه د "کم" د تابع والي په خاطر تقسیم قبلونکي وی. ځرنګه معلوم تقسیم قبول کړي نو په هغه باندي راتلونکي علم هم تقسیم قبول کړي. نو خلاصه داسوه چې علم نه ټپل او نه دده معلوم تقسیم قبلوي بلکه هغه شي تقسیم قبلوي چې هغه و معلوم ته ور عارضیږي.

او د علم البسیط (علم پر بسیط) او د هغه کیفیاتو "چې عارض و کمیاتو ته وی" ترمینځ فرق دادی چې په دغه کیفیاتو کې تقاضي د قسمت نسته. بلکه په محل "کمیات" کې د دغه کیفیاتو تقاضی د دغه قسمت سته. او حال په وجه "د اقتضاء" د محل هم اقتضاء د قسمت کوي. او اقتضاء د محل اقتضاء اولي ده. په خلاف د هغه علم چې په بسیط شي وی. ځکه د دغه علم د قسمت تقاضی کول ثانوي ده. دادول چې علم صورت لپاره د معلوم وی نو د معلوم د بیسط والي په خاطر دغه صورت هم بسیط وی، ځکه که چیرې بسیط نه سي نو بیا دغه صورت، صورت د

بسیط نه دی. لهذا اقتضاء د علم اقتضاء د محل نه ده. نو د علم د بسیط کیدولو د تقاضی کولو علت مطابق والي ددغه صورت ددغه معلوم بسیط سره دی. او صورت والي د معلوم د حقیقت څخه د معلوم دی په خلاف د هغه کیفیاتو چې عارض و "کم" ته وی. ځکه کم ددغه کیفیاتو د متکمم والي (په کم سره موصوفه کېده) تقاضي کوي. او دغه کیفیات نه صورت لپاره د کم دي" حتي چې بیا د کیفیاتو لپاره هغه اقتضاء ثانویه ثابته سي کومَ چې تابع د اولي وی "او دغه ډول په کم کي حلول کول ددغه کیفیاتو دحقیقت څخه ددغو کیفیاتو نه دی.(كذا شرح عبد الرحمن البشر يعني في شرحه ١٨٦/ج١ مع الاضافه)

عنوان آخر: خلاصه د فرق داده چې په هغه علم کي" چې متعلق د معلومینو سره وي" تقاضی اولي نسته. ځکه علمین یو قسم د کیف دی. او دغه ډول اقتضاء ثانویه هم پکښې نسته. ځکه علم تعلق د کم سره نه بلکه د معروض سره د کم پیدا کوی. او په معروض کي د کم اقتضاء د قسمت نسته. بلکه دی قسمت بالتبع قبلوي. او دغه ډول اقتضاء اولي په هغه کیفیاتو کي" چې و کم ته عارض وي" هم نسته. ځکه دوی د کیف قسم دی. او اقتضاء ثانویه پکښې نسته، ځکه محل ددوی تقاضی د قسمت کوی. او اقتضاء د حال اقتضاء د محل وی، او اقتضاء د محل اقتضاء اولي ده. او په علم البسیط (هغه علم چې پر بسیط وی) کي اقتضاء اولي نسته. ځکه علم قسم د کیف دی. او اقتضاء ثانویه پکښې سته، ځکه علم د معلوم صورت دی. او معلوم بیسط دی. نو علم په بسیط باندي هم بسیط وی. ځکه که چیري بسیط نه سي نو بیا دغه علم صورت لپاره ددغه بسیط نه وی. او اقتضاء د علم په بسیط باندي اقتضاء د معلوم نه ده. ځکه په معلوم کي علت د لاقسمت بساطت دی. او په علم کي مطابق والي د علم د معلوم سره وی. او صورت والي د معلوم دی. او صورت والي د معلوم حقیقت د معلوم دی.

صفحه نمبر ۲۶ :

Maktaba Tul Ishaat.com

او الاصطلاح وقولنا يفيد بها كل التعبير عن المقصود دون يعبر احتراز عما لا يفيد شيئا اصلا
النطق وحده ما وضع سواء كان مفردا نحو زيد او مركبا نحو زيد قائم والمراد بالمفرد ما لا يدل جزء لفظه
بقيد كونه كذلك لا قصدا ولا تبعا وقيل ما لا يصح ان يكون لفظه مركبا فيخرج نحو غلام زيد ونحو
يفهم هذا الكلام وقولنا بلفظ فصيح يعم المفرد والمركب فان اللام في المقصود للاستغراق
اى كل ما وقع عليه قصد المتكلم والا لدخله نحو قولنا بكلام فصيح يجب في فصاحة المتكلم ان يقتدر
على التعبير عن كل مقصود له بكلام فصيح وهذا مما لا يمكن التعبير لا
بالمدح كما اذا قرت ان تلقى على الحاسب جماعة لتزن فرسا حسبانها فتقول دار غلام
جارية ثوب بساط الى غير ذلك فهذا قال بلفظ فصيح دون كلام فصيح وقول بعضهم
دون كلام فصيح بلفظ بليغ سهو ظاهر فان قيل هذا التعريف غير مانع لصدقه على
الاداء بالحركة والحيوة وغير ذلك مما يتوقف عليه القول المذكور قلنا الاتصال هذه الاسباب بالشرط
ليس بمعتبر فالمراد السبب القريب لان السبب الحقيقي قد تتعاور الافهام على استعمالها في المسببية
والبلاغة وان الكلام مطابقة لمقتضى الحال المراد بالكلام الراجع الى المتكلم وحده او مع المخاطب
او الى ما يعبر مع الكلام الذي هو في حد ذاته اصل المعنى فصح تسميته هو مقتضى الحال مثلا كون
الخبر طلبيا منكر الحكم حال يقتضي تاكيدا والتاكيد مقتضاه او ما يتم به المقصود من الحال والمقتضى للتاكيد
كان الكلام مؤكدا فان المقتضى كالطلاق كاحد اركان التاكيد هكذا ان تقضي حق المسند اليه
حذفا وان اقتضى ذكره وكل الغير ذلك مما تفاصيل المتعارف عليها عند اهل المعاني مع فصاحته
اى فصاحة الكلام فان البلاغة انما تتحقق عند تحقق الامرين وهما اى مقتضى الحال مختلف
فان مقامات الكلام متفاوتة درجات المقام متفاوت اللفهوم والتفاوت بينهما اعتباري فان الكلام
الذاهب مقاما منها حقا يوجه ويخطا الرد والكلام فيه على حسب ما يحال باعتباره وهو ايضا
له وايضا المقام يعتبر باضافة المقتضى فيقال مقام التاكيد كالحال الذي ذكرناه والتباين
الحال الى المقتضى فيقال الكلام حال كذا اى ذو حال كذا والمقام غير ذلك فقد تتفاوت المقامات وتختلف
مقتضيات المقام ضرورة ان كلا منها غير اللائق بهذا المقام غير لاعتبار اللائق بذاك

ترجمه

اودده دا قول ﴿متكلم په دغه ملكه سره قدرت پر تعبير كوني د خپل مقصد څخه لري﴾ . او د لفظ
"بعير" په نه ويولو كي اشاره و دي خبرى ته ده چي متكلم په وخت كي د مقصد د اداينې اود نه

اداینې په دواړو صورتو کې فصیح دی، یعنې عام تردې دغه متکلم د هغه کسانو څخه وی کوم چې ددرو زمانو څخه په یوه زمانه کې د خپل مقصود څخه په فصیح لفظ سره اداینه ترسره کړی او یا یې هیڅ کله ترسره نه کړی، مګر ده د اقتدار ملکه تر لاسه کړې وی. اوکه چیرې "یعبر" ویل سوی وای نو دغه به د هغه کس سره خاص سوې وای کوم چې په یو وخت کې د خپل مقصود څخه په فصیح لفظ سره خبرې کړی وی. دغه ډول دا واجبَ ده چې دغه مقام دې دغه ډول و فهمول سي.﴿په فصیح لفظ سره﴾ «او کلامې فصیح یې نه ووایي» ددې لپاره چې مفرد او مرکبَ دواړو ته عام و ګرزی، څکه لام په المقصود کې لپاره داستغراق دی. یعنې هر هغه شي چې په هغه باندې قصد د متکلم او دده اراده واقع سوې وی. لهذا که چیرې په تعریف کې کلام فصیح ویل سوی وای نو په دغه وخت کې به په تعریف کې د فصاحت دمتکلم دادول وینا لازمه سوې وای "متکلم به په دې باندی قدرت لری چې دی به اداینه د هر مقصد په کلام فصیح سره کولای سي". او دغه محال دی، څکه د بعضو مقاصدو څخه محض په مفرد سره اداینه ممکنه وی. د مثال په توګه ته ددې اراده لرې چې حساب کونکي ته مختلف اجناسو شیان ددې لپاره وړاندی کړې چې د هغه و مقدار ته رسېدنه راسي، نو ته وایې: کور، غلام، مینځه، جامه، فرش اودغه ډول نور. لهذا په دغه وجه سره مصنف لفظي فصیح ووایي نه کلامی فضیح. او د بعضو دا وینا "چې مصنف لفظي فصیح ووایي نه کلام فصیح او لفظي بلیغ" شکاره سهو ده، که چیرې وویل سي "چې دغه تعریف مانع نه دی څکه دغه تعریف په ادراک او ژوند او په مثل ددوی په هغه شیانو باندی صادقیږی په کومو چې دغه ذکر سوی قدرت موقوف وی". موږ وایو: موږ دا خبره نه منو چې دغه اسباب دي بلکه دغه شرائط دي، او که چیرې بیا هم موږ درسره ومنو نو بیا د سبب څخه مراد سبب قریب دی، څکه دغه سبب قریب سبب حقیقي اوژندې وفهم ته دی. د کوم لپاره باء سببیه استعمال سوېده.﴿بلاغت په کلام کې مطابقت دکلام د مقتضي سره دحال دی﴾. مراد د حال څخه هغه شي دی کوم چې متکلم په یوه مخصوص انداز سره خبرې کولو ته راوبلي. یعنې هغه کلام چې په هغه سره اداینه د اصل مراد ترسره کیږی د هغه سره هغه خصوصیت معتبر سي دکوم چې حال یې تقاضي کوی. د مثال په توګه د مخاطب انکار کونه د حکم څخه، دا یو داسې حال دی کوم چې تقاضي د تأکید کوی، او تأکید مقتضي د حال ده. او معنې ددې خبرې چې کلام دمقتضي سره د حال برابر دی، داده "که کلام تقاضي د تأکید کوی نو کلام به مؤکد راوړل کیږی او که یې چیرې تقاضي د اطلاق کوی نو کلام به خالي د تأکید څخه راوړل کیږی. او دغه ډول که یې

Maktaba Tul Ishaat.com

چیری تقاضي د مسند الیه د حذف کوی نو حذف به ترسره کیږی. او که یې تقاضي د ذکر کوني کوی نو بیا به ذکر کیږی". او ددې نه پرته نور تفصیلونه کوم چې په علم المعاني کې ذکر کیږی. ﴿سره ددې د فصاحته﴾ یعني سره د کلام د فصاحته. ځکه بلاغت په دغه دواړو سره تر سره کیږی. او ﴿دغه﴾ د حال مقتضي ﴿مختلفه وی﴾. ځکه د کلام مقامات مختلف وي. حال او مقام په اعتبار د مفهوم سره ژوندي او اعتباری فرق لرونکي دي. ځکه دغه امری داعي په دې اعتبار سره مقام دی چې توهم ددې خبری کیږی چې دغه امری داعي محل لپاره د راوړلو د کلام سره ددغه خصوصیت دی. او حال په اعتبار ددې توهم کوني دی چې دغه زمانه لپاره ددغه کلام ده. اودغه ډول د مقام اضافت و هغه شي ته کړل کیږی د کوم چې تقاضي کول کیږی. نو ویل کیږی: د تأکید، د حذف، د اطلاق د اثبات مقام. او د حال اضافت و هغه څه ته کیږی کوم چې تقاضي ددغه خصوصیت کوی نو ویل کیږی حال الانکار. او حال د خلو الذهن او دغه ډول نور هم، نو په وخت کې د تفاوت د مقاماتو د مقام مقتضیاتي هم مختلفیږي. ځکه دغه خبره بدهي ده چې کوم اعتبار ددې مقام سره مناسبه وی هغه بیا پرته د هغه اعتبار وی کوم چې د هغه بل مقام سره مناسبه وی. او د مقتضیاتو د مقام اختلاف بعینه د حال د مقتضیاتو اختلاف دی.

تشریح

حال: **هر هغه شي کوم چې متکلم و دې ته رابولي چې په هغه کلام کې" په کوم سره چې دی اداینه د خپل مقصد کوی" د یوه خصوصیت او نکتې اعتبار وکړي. دغه شي ته حال ویل کیږی. او دغه خصوصیت ته مقتضي الحال ویل کیږی. او مشتمل والي د کلام پر دغه خصوصیت دغه ته مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال ورته ویل کیږی.**

مثال: مخاطب د یو حکم څخه منکر وی، نو دغه انکار حال دی او دغه تقاضي ددې کوي چې حکم مؤکد وړاندی سي، او دغه تأکید د حکم مقتضي د حال ده. اوس که چیری دغه حکم مؤکد راوړل سي نو دغه کلام بیا د مقتضي الحال سره برابر دی: إِنَّ زَيْداً فِي الدَّارِ.

هکذا یفهم: **سوال:** د شارح مقصد ددغه کلام څخه څه دي؟

جواب: شارح په دغه سره تعریض پر علامه بهاؤالدین حلوائي کړي دي. حلوائي رحمه الله فرمایلي دي: مصنف "یقتدر" پر ځای د "یعبر" ددې وجي ووایي چې "یعبر" خاص دخبری کونکي سره دی، او "یقتدر" عام شاملَ و خبری کونکي او هغه چا ته دی کوم چې خبری کونکي نه وی.

او خلاصه د تعریض د طرف څخه د شارح داده: اصل په تعریفاتُ کي عموم دی نه خصوص، او دغه عموم د "یعبر" په صورت کي هم وجود لري داډول چي خبری کونکي في الحال، ماضي او که په مستقبل کي وی دغه ټولو ته "یعبر" شاملَ دی. مگر په "یقدر" کي تعمیم زیات تر "یعبر" دی داډول چي یو کس په دې قدرت لری چي په یوه زمانه کي د دروِ زمانو د خپل مقصد څخه په کلامي فصیح سره تعبیر وکړی، دغه بیا عام تردي دی په دغه سره تعبیر وکړی او که یې د سره ونه کړي. او "یعبر" د دغه ته "چي د سره د خپل مقصد څخه تعبیر و نه کړی" شاملَ نه دی. څرنگه په تعریفاتو کي متبادره عموم وی او عموم په "یقدر" کي زیات تر "یعبر" دی په دغه وجه دده راوړل خپل سوه.

لان اللام في المقصود: **سوال**: و دغه ذکر سوی تعمیم ته (ممن ینطق او لاینطق قط) ضرورت نسته ځکه دلته دا احتمال سته چي په المقصود کي لام لپاره د عهد وی، نو معهود هغه مقصود دی د کوم څخه تعبیر په فصیح کلام سره ممکن وی، لهذا د لفظ د ذکر کوني پر ځای د کلام ذکر کونه واجب ده؟

جواب: دلته لام لپاره د عهد نه بلکه لپاره د استغراق دی، ځکه دلته قرینه په تخصیص نسته. لهذا قدرت د مقصد څخه پر تعبیر کوني لری بیا عام تر دې دغه په لفظي مفرد او که په کلام سره وی. لهذا د کلام وینا وهغه مقصد ته نه شاملیږی د کوم څخه چي تعبیر په مفرد سره سوی وی، مگر د لفظ وینا ورته شامل ده، ځکه لفظ مفرد او مرکب دواړه کېدای سي.

قول بعضهم: **سوال**: شارح په دغه وینا سره مقصد څه دی؟

جواب: په دغه سره رد کونه په علامه خلخالي ده. خلاصه د کلام د خلخالي داده: سوال وسو چي مصنف ولي لفظ فصیح ووایي، کلام فصیح او لفظِ بلیغ یې نه ووایي د دې څه وجه ده؟ نو علامه خلخالي په جواب کي هغه څه وویل کوم چي شارح ویلي دي چي لفظِ فصیح یې د دې لپاره ووایي چي دغه مفرد او مرکب دواړو ته شاملِه سي. **خلاصه** د رد داده چي دغه خبره (د علامه خلخالي چي کلام فصیح او لفظِ بلیغ یې نه ووایي) په هغه ځای کي ترسره کیږی چیری چي د بعضو قیودو د ترجیح وجه بیانیږی، داډول چي دغه فلانکي قید یې ووایي او دغه یې نه ووایي. نو بیا ترجیح بیان سي، او ترجیح بیانونه تقاضي د دې کوِ[illegible] د مقابل د دغه ذکر سوی

Maktaba Tul Ishaat.com

قید (کوم چې نې الحال مثلا ذکر سوی ـ ی) هم صحت لری، د مثال په توګه مصنف لفظ فصیح روایې نه کلام بلیغ او لفظ بلیغ، او په اصل کې د هریوه وینا (کلام فصیح او لفظ بلیغ) په تعریف کې د بلاغة المتکلم صحت لری، او حال دا چې په تعریف کې لفظ بلیغ ذکر کونه دسره صحت نه لری، ځکه بلاغت د لفظ په بلاغت کې د متکلم شرط نه دی بلکه فصاحت د لفظ شرط دی.

فان قیل هذا التعریف غیر مانع لصدقه علی الادراک الخ: **سوال**: دغه تعریف د عدم مانع والي په وجه صحت نه لری؛ ځکه دغه تعریف په ژوند او ادراک صادقیږی، ځکه انسان د خپل مقصد څخه په تعبیر کولو په توسط د لفظ فصیح هغه وخت قادر وی چې دی ژوندی وی، نو په دوی باندی دغه تعریف صادق راغلي، اودغه باطل دی؟

منعي جواب: ژوند او ادراک اسباب نه بلکه شرائط دي، لهذا ملکه سبب او دوی یې شرائط دي نو ددوی په باء سببیه (په بهاکې) سره ووتل.

تسلیمي جواب: که چیری موږ دا خبره و منو چې دوی دواړه اسباب دي نو بیا جواب دادی چې په تعریف کې د سبب څخه (کوم چې د بهاد باء څخه معلومیږی) سبب قریب دی (ځکه متبادره د سبب څخه سبب قریب وی نه بعید) نه سبب بعید، او دوی دواړه اسباب بعیده دی نه قریب بلکه قریب ملکه ده.

المراد بالحال: **سوال**: د حال اطلاق په ډیرو شیان ترسره کیږی. ۱: ملکه. ۲: هر هغه لفظ چې هیئت د فاعل او یا د مفعول بیانوی. ۳: هر هغه شي چې قائم بالغیر وی. ۴: صفت. نو اوس دلته کومه معنې مراد ده؟

جواب: دلته یوه د دغه بیان سوو معناګانو څخه مراد نه ده، بلکه دلته یوه بله معنې سره د دغه ذکر سوو مراد ده هغه داده: د مخاطب د طرف څخه یو داسې شي وجود لری چې هغه تقاضې د دې کوی چې متکلم خپل مقصد په کلام سره په مخصوص وجه سره بیان کړی.

ای الی ان یعتبر: **سوال**: که چیری یوه مقام د تأکید تقاضې کول او اتفاقاً د متکلم د طرف څخه دغه کلام مؤکد وراندی سو نو یه دغه صورت کې دغه کلام باید بلیغه سي ځکه دی مطابق د مقتضي الحال سره دی. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده؟

جواب: دلته مطلقا په مطابقت سره د کلام د مقتضي سره د حال کلام بليغ نه ګرزي، بلکه په کلام بليغ کي دا شرط دی چي متکلم به دا قصد کړی وی چي کلام د مقتضی سره د حال موافق روا ړي.

و التغايُر بينهما اعتباري. **سوال:** د حال او د مقام ترمينځ څه فرق دی؟

جواب: د مفهوم په اعتبار دواړه يوشي دي «ځکه دواړه عبارت د هغه شي څخه دي کوم چي متکلم پر دې باعث کړي وی چي دی اداينه د خپل مقصد په هغه کلام سره وکړی چي په هغه کي يو خصوصيت معتبر سوی وی» مګر د دوی ترمينځ اعتباری فرق وجود لری.

۱: د غه شي چي باعث پر متکلم وی دده په دې حيث سره خيال وسي چي دی محل د د غه کلام لپاره دی نو د غه مقام دی، او که په دې حيث سره وهم او خيال وسي چي د غه زمانه لپاره د د غه کلام ده نو بيا د غه حال دی.

۲: د مقام نسبت او اضافت عموما د مقتضي (په صيغه سره د مفعول) و طرف ته کيږی او ويل کيږی مقام التأکيد. او عموما د حال نسبت د مقتضي (په صيغه سره د فاعل) و طرف ته کيږی، او ويل کيږی حال الانکار.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

شرح المواقف کي د دې قول "ان اختصت بذوات الانفس" پر ځای دا ډول وښا "ان اختصت بذوات الانفس الحيوانية" تر سره سوې ده.

سوال: کيفيت ډير قسمونه لری. ۱: علم (د غه هم يو کيفيت دی)، ۲: اراده. ۳: ژوند او د غه ډول نور. نو اوس د د غه خبری څخه "اختصت بذوات الانفس الحيوانية" دا خبره څرګنديږی چي د غه کيفيات خاص تر حيواني نفسونو پوری دی، پرته د دوی په بل شي کي وجود نه لری (ځکه په عبارت کي "الحيوانية" قيد راغلي دي). او حال دا چي د غه کيفيت خاص تر حيواني نفسونو پوری نه دی بلکه پرته د دوی و واجب الوجود او مجرداتو ته هم ثابت دی؟.

جواب: دلته تخصيص حقيقي نه دی چي پر ته د حيوانيت ټوله مقابل ووزی، بلکه دلته اتخصيص اضافي دی يعني بالنسبة و جماداتو او نباتاتو ته دی. يعني په دوی کي د غه کيفيا

Maktaba Tul Ishaat.com

ت وجود نه لري. لهذا اوس په دغه قيد " الحيوانية" سره محض جمادات او نباتات ووتل نه بل څه چې بيا اعتراض د تخصيص وسي. والله اعلم بالصواب

حاشيه نمبر ۲:

سوال: شارح رحمه الله د "اشعار" پر ځای يې داسي نه وويل "احتراز عن الفصاحة غير الراسخة". او حال دا چې په ملکه سره د دغه څخه احتراز راتلنه مقصود ده. نو د نه وينا وجه يې څه ده؟

جواب: څه وخت په تعريف کې يو داسي قيد ذکر وی کوم چې پرته د معرَف د افرادو و اغيارو ته هم شاملَ وی. نو د اغيارو د هيستولو لپاره د قيد د راوړلو ضرورت وړاندی کيږی. لهذا مخکني قيد ورته شاملَ نو راتلونکي قيد يې بيا د هيستولو لپاره وی. اوس که په تعريف کې يو داسي مخکني قيد نه وی چې هغه و اغيارو ته شاملَ وی نو راتلونکي قيد بيا د هغه د هيستولو لپاره نه وی البته د هغه په عدم دخول په هکله آگاهي ورکولای سي، څرنګه دلته مخکي تر ملکه کوم قيد و دغه فصاحت غير راسخه ته شاملَ نه وو چې بيا په ملکه سره د هغه څخه احتراز راغلي وای. په دغه وجه شارح اشعار ووايي نه احتراز.

حاشيه نمبر ۳:

سوال: مصنف رحمه الله ولي د "يعبر" پر ځای يې "يقتدر" ووايي؟

جواب: ځکه که چيرې يې "يعبر" ويلي وای نو بيا دغه تعريف شامله وخپولو افرادو ته نه ګرزېدی. ځکه هغه متکلم فصيح چې تکلم و نه کړي نو هغه ته فصيح نه ويل کيږي، ځکه "يعبر" د تعبير څخه دی، او تعبير تکلم او خبرو کولو ته ويل کيږي، نو معني به داسي چې فصاحت في المتکلم هغه دی چې متکلم خپل مقصد په لفظ فصيح سره تعبيرولای سي. اوس دغه متکلم چې پټه خوله وی پر دغه تعبير بدل نه صادقيږي، ځکه دی خبرې کونکي نه بلکه پټه خوله دی. لهذا دغه متکلم في الفصاحت دی. مګر د تعريف څخه وتي. او څه وخت چې ده "يقتدر" ووايي نو تعريف و دغه فرد ته شامله وګرزېدی، ځکه معني د تعريف داسوه: متکلم دخپل مقصد په فصيح الفاظو سره په بيانولو باندې قدرت لرونکي وی بيا عام تر دې تعبير کونکي او که پټه خوله وی. اوس متکلم که څه هم پټه خوله وی مګر دی بيا هم قدرت لرونکي دی. لهذا تعريف جامع سو.

سوال: مصنف په ایضاح کي ویلي دي "حالتي النطق و عدمه (صاح۷)". ددې مطلب دادی چې په تعریف کي لفظ د "یقدر" پر لفظ د "یعبر" مختاره سو. ځکه که چیرې "یعبر" ویل سوي وای نو بیا تعریف و خپولو افرادو ته شامله نه ګرزېدی، ځکه د "یعبر" مطلب معني حالي ده، یعني متکلم فی الحال خپل مقصد په لفظ فصیح سره تعبیر ولای سی. نو او س د تعریف څخه هغه متکلم ووتي چې په تېره سوې زمانه کي یا په راتلونکي زمانه کي تعبیر ولای سي. او د "یقدر" په صورت کي دا ډول نه دی، ځکه دی په وخت کي د نطق هم قدرت لري او په تېره سوې زمانه او هغه ډول په راتلونکي زمانه کي هم قدرت لرونکی دی او وو. لهذا د "یعبر" پر تقدیر تعریف جامع نه وو په دغه وجه دی پرېښول سو. حال دا چې موږ دغه فرق ترمینځ د "یعبر" او د "یقدر" نه منو، ځکه مصنف په ایضاح کي "حالة النطق و عدمه" راوړی دی. او د "حالة النطق" څخه حال او د "عدمه" څخه زمانه ماضي او مستقبل مراد دي. نو مطلب دا سو په زمانه حالي او که په ماضي او مضارع کي وي. نو اوس دغه معني د "یعبر" هم ده، ځکه ددې مطلب دادي چې په یو زمانه کي د زمانو یعني متکلم خپل مقصد په لفظ فصیح سره په یوه زمانه کي د زمانو تعبیر او په هغه سره نطق کولای سي. عام تر دې دغه حال، ماضي او که مستقبل وي. نو اوس د "یعبر" او د "یقصد" ترمینځ فرق پاته نه سو؟

جواب: دلته د "حالة النطق" څخه دغه معني مراد نه ده بلکه معني یې داده: متکلم خپل مقصد په فصیح الفاظو سره په بیانولو باندی په یوه زمانه کي د زمانو قدرت لري. او د "عدمه" مطلب دادي چې د ملکه تر حاصلېدو ورسته دی بیا دی د سره تکلم و نه کړي. لهذا اوس د "یعبر" او د "یقصد" ترمینځ فرق راغلي، ځکه که یو کس ته ملکه حاصله سي مګر دی تکلم د سره و نه کړي نو په دغه باندي دا نه صادقیږي چې دی د خپل مقصد په یو زمانه کي د زمانو په لفظ فصیح سره تعبیرولای سي. ځکه دلته د "سره نطق او تعبیر راغلي نه دی. لهذا په دغه صورت کي "یقدر" صادقیږي نه "یعبر". په دغه وجي مصنف "یقدر" پر "یعبر" خپل کړي.

سوال: مراد د نطق څخه کوم نطق دی. هغه نطق چې مخکي تر ملکي وی او که ورسته تر ملکي وی؟ ځکه د ملکي د حاصلېدو لو څخه مخکي چاره د نطق څخه نسته؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دلته مراد د نطق څخه هغه دی چې ورسته تر حصول د ملکې وی. ځکه مخکې تر حصول د ملکې چاره د نطق څخه نسته. ځکه ملکه په کثرت ممارست او ملازمې سره حاصلیږي.

حاشیه نمبر ۴:

په "المقصود" کې الف لام لپاره د استغراق کېدلای نه سي، ځکه که چیرې د استغراق لپاره سي نو معنې به داسي چې فصاحة في المتکلم دیو داسي ملکه دی چې دهغه په توسط متکلم د هر مقصود څخه په کلامِ فصیح سره تعبیر کولو باندې قدرت لرونکي وی. او حال داچې دغه محالَ ده، ځکه بعض د مقاصدو څخه داسي دی چې د هغه څخه محض تعبیر په مفرد سره تر سره کیږی. لهذا دلته الف لام د جنس لپاره دی، نه د استغراق.

حاشیه نمبر ۵:

﴿فائده﴾: استغراق په دوه قسمه دي. ۱: استغراق حقیقي: دهر هغه فرد مراد ول چې هغه ته لفظ په اعتبار د لغت شامله وی. لکه " عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ. (الرعد:9)، ای کل غیب و شهادة".

۲: استغراق عرفي: د هر هغه فرد مراد ول چې هغه ته لفظ په اعتبار د عرف شامله وی. د مثال په توګه زمور دا قول "جمع الامیر الصیاغة، ای صیاغة البلد او مملکته"، ځکه د صیاغة څخه د عرف په اعتبار د ټولې دنیا زرګران مراد نه وی بلکه د امیر د ښار یا دده د پاچاهي مراد وی. (الدر المنثور ۲۸) انتهی ما فیه الفائدة

د حاشیې خلاصه داده چې دلته د استغراق څخه حقیقي او هم عرفي مراد ول ممکن دی. داډول چې مور اولني "المقصود" د هغه چا په مقصودِ سره مقید کړو چې هغه لره دغه ملکه وی. او د هغه نه ورسته بیا مور استغراق معتبر کړو. نو دغه استغراق په دغه وخت کې حقیقي دی. او که چیرې مور "المقصود" اولاً مقید نه کړو، بلکه اولاً استغراق معتبر کړو نو په دغه وخت کې استغراق عرفي مراد دی نه حقیقي، ځکه د مقصود افراد په هغه شي کې حصر نه دی چې تر هغه پورې د دغه صاحب الملکه قصد تعلق پیدا کوی. او دغه ډول ده لره دا هم ممکنه نه ده چې دی په سَبَب د دغه ملکه قدرت پر تعبیر د ټولو هغو شیانو "په کلام فصیح سره" پیدا کړي چې د هغو پورې دده قصد تعلق پیدا کوی. (المفصل ۲۸۸/ج۲)

حاشیه نمبر۶:

دلته استغراق لفظاً او هم معناً مراد دی. ددې تفصیل دادی: دلته لفظاً استغراق مراد دی. ځکه لام (کوم چې دلته پر "المقصود" داخل سوی دی) چې څه وخت راسي نو په دغه کې ځلور احتمالَ وي.

۱: عهدی خارجي: دلته قرینه پر یو معهود او معلوم فرد د مقصود پر مراد ولو وجود نه لري نو په دغه وجه عهدِ خارجي نه دلته مراد بدلای نه سي.

۲: عهدی ذهني: پر دغه هم کومَ قرینه نسته چې د هغه څخه بعض غیر معلوم د مقصد پر مراد ولو باندی دلالت کوی.

۳: جنس: دغه ډول پر جنس په حیث د جنس قطعَ نظر د افرادو څخه حکم تر سره کېدای نه سي، د مثال په توګه حیوان په حیث د حیوان تګ کونکي نه دي بلکه دی په اعتبار د افرادو وی.

۴: استغراق: دغه دلته مراد دی او دغه هم زمونږ مدعي ده ، او ددغه په مراد ولو کې کوم خرابي هم وجود نه لري.

معناً هم د استغراق مراد ونه صحت لري، ځکه که چیرې استغراق مراد نه سي نو دغه تعریف د فصاحة المتکلم به مانع د اغیارو څخه نه سي ، ځکه کله کله داسي وی چې یو کس ته داسي ملکه تر لاسه سي چې هغه په فصیح الفاظو سره د هغه کلام پر راوړلو قدرت لرونکي وی کوم چې پر مدحَ مشتملَ وی مګر پر داسي کلام پر راړولو په فصیح الفاظو سره طاقت نه لری کوم چې پر ذم مشتملَ وی، لهذا دغه متکلم ته فصیح نه ویل کیږی. مګر دغه تعریف پر صادق راځي، ځکه دلته استغراق مراد سوی نه دی. او څه وخت چې استغراق مراد سو نو دغه کس ووتي، ځکه دی د مقصود پر ټولو افرادو په فصیح الفاظو پر راوړلو باندی توان او طاقت نه لری. لهذا دا معلومَ سوه چې دلته استغراق لفظاً او هم معناً مراد دی.

حاشیه نمبر۷:

دلته مراد د استغراق څخه استغراق عرفي دی یعني هر هغه فرد چې تر هغه پورې مقصد د متکلم تعلق پیدا کړی نو دغه متکلم په فصیح لفظ سره د هغه څخه په تعبیر کولو قادرَ وی.

سوال: دلته استغراق عرفي صحت نه لری، ځکه شارح د استغراق عرفي څخه د تعبیر کولو په مهال داسي و فرمایل "کل ما وقع قصد المتکلم و ارادته" یعني هر هغه شي چې د هغه سره د متکلم

Maktaba Tul Ishaat.com

قصد تعلق پیدا کړی وی ، لهذا دلته د ماضي صیغه "ما وقع" استعمال سوېده د کوم څخه چې دا ښکاری چې هغه څه چې متکلم قصد په تېره سوې زمانه کې تعلق ور سره پیدا کړی وی د هغه څخه په فصیح لفظ تعبیر کولو باندی توانېدلی وی نو دغه فصاحة في المتکلم دی. او که چیرې في الحال یا په راتلونکې زمانه کې و نه توانیږی نو دغه تاوان نه رسوی او حال دا چې دغه ته فصاحة في المتکلم نه ویل کیږی؟

جواب: دلته مراد د دغه فعل څخه هغه قصد چې په تېره سوې زمانه کې تر سره سوی مراد نه دی بلکه دلته مطلقاً مراد دی یعنې چې په کوم زمانه کې هم قصد د متکلم تر یو شي پورې تعلق و نه سي نو دی په فصیح لفظ سره د هغه څخه په تعبیر کولو باندی توانیږی. هغه که په تېره سوې زمانه، حالي زمانه او که په راتلونکې زمانه کې وی.

سوال: پر دې څه قرینه وجود لری چې دلته مراد ماضي نه بلکه مطلق قصد دی؟

جواب: کوم فعل چې په تعریف کې د یو شي واقع سي د هغه څخه محض حدث مراد وی نه زمانه د هغه فعل. دلته هم "وقع" په تعریف کې د فصاحة في المتکلم تر سره سوی دی په دغه وجه دلته مطلق قصد مراد دی نه په تېره سوې زمانه کې واقع سوی قصد.

حاشیه نمبر ۸:

﴿فائده﴾: **سوال:** مصنف رحمه الله د فصاحت فی المتکلم په تعریف کې د کلام پر ځای لفظ راوړي دي ددې څه وجه ده؟

جواب: وجه یې داده: که چیرې مصنف کلام ویلي وای نو په دغه صورت کې به تعریف شامله و خپلو افرادو ته ګرزېدلی نه وای. ځکه بعضي داسي مقاصد وي چې د هغو څخه تعبیر پرته د مفرد په بل څه کېدلای نه سي، د مثال په توګه یو کس حساب د خپلو شیانو کوي نو دی حساب کونکي ته مختلف الجنس شیان ښئي او ورته ووایي "دار، غلام، ثوب، جاریة" او دغه ډول نور. نو اوس د دغه شیانو څخه تعبیر په کلام نه بلکه په مفرد تر سره کیږي. لهذا د دغو مفرداتو وېل فصاحت فی المتکلم دی. او که چیرې یې کلام ویلي وای نو بیا متکلم د دغو شیانو څخه تعبیر په کلام فصیح سره نه سو کولای. لهذا دغه د تعریف څخه د فصاحة فی المتکلم وتي. او حال داچې داټوله افراد د فصاحة فی المتکلم دي. او څه وخت چې لفظ یې ووایي نو اوس

دغه افرادو ته تعريف شاملَ و ګرزېدی، ځکه لفظ عام مفرد او مرکب دواړو ته شامله دی. اسهى ما فيه الفائدة

سوال: بايد مصنف په تعريف کې د فصاحة في المتكلم کلام ويلي واى. او پاته دا خبره چې تعريف و مفرداتو ته نه شامله دی نو ددې جواب دادې چې ددغو مفرداتو ځخه متکلم تعبير په کلام سره کولای سي. او نه کول يې مونږ نه منو، ځکه متکلم د دغو مفرداتو ځخه (دار، غلام) په فصيح کلام سره پر تعبير کولو باندې قدرت لري دا ډول چې دی وواي "الاول دار والثاني غلام" يا دا ډول ووايي "اكتب دارا و غلاما"؟

جواب: د متکلم دغه ډول وېناتر سره کول دده مقصود نه دی ځکه دلته هغه صورت فرض سوي چې هلته متکلم مختلف اجناس شيان ذکر کړي. او دلته دغه ډول نه ده، ځکه دداسي وېنا "الاول دار والثاني غلام" په صورت کې د متکلم مقصد "كون الدار اول الاجناس دی" دا دی، نه په خپله دار. او حال دا چې دده مقصد خپله دار دی نه اول جنس والي. او په دې صورت کې "اكتب دارا و غلاما" د متکلم مقصود د اجناسو ليکل دی نه په خپله اجناس (دار، غلام)، لهذا په دغه دواړو صورتونو کې د فرض سوي شي خلاف رائي. او خلاف المفروض باطل دی.

حاشيه نمبر ۹:

سوال: دغه صيغه "ترفع" په صيغه سره د مخاطب "ترفع" ده او که په صيغه سره د غائب "يرفع" ده؟

جواب: دلته دواړه کېدای سي، که چيرې صيغه د مخاطب سي نو معني دا جوړيږي "چې ته أي خاوند د مال! د شيانو شمېر و حساب کونکي ته رسوي او هغه ته يې ښيې". او که چيرې په صيغه سره د غائب سي نو بيا معني دا ګرزي "حساب کونکي شمېر د شيانو د مال و خاوند ته رسوی او هغه ته يې ښيي".

حاشيه نمبر ۱۰:

سوال: علامه خلخالي څه ويلي دي؟

جواب: ده ويلي دي چې مصنف داسي وېنا تر سره نه کړه "كلام فصيح او لفظ بليغ" بلکه داسي وېنا يې تر سره کړه "بلفظ فصيح".

سوال: آيا د علامه خلخالي دغه خبره صحت نه لري؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: هو، دده دغه خبره ښکاره سهو ده، ځکه دغه خبره "چې په تعريف کې ددغه قيد پر ځای يې دغه قيد راوړی" هلته تر سره کيږی چې راوړل د هر يوه ددغه قيودو په تعريف کې صحت لری مگر راوړنه د يوه ددوی څخه د هغه بل پر راوړنه ترجيح لری، نو هلته بيا ويل کيږی چې دغه قيد يې پر ځای ددغه قيد راوړی. ځرنگه د خلخالي د خبری مطابق دا مطلب جوړيږی "په تعريف کې د فصاحة في المتكلم هر يو د کلام فصيح، لفظ بليغ، او لفظ فصيح راوړل صحت لری مگر په دوی کې د لفظ فصيح راوړل تر دغه نورو دوو تر راوړلو ترجيح لری". او دغه خبره صحت نه لری، ځکه لفظ بليغ په تعريف کې د فصاحة في المتكلم صحت نه لری، ځکه بلاغت په فصاحت کې شرط نه وی.

سوال: د شارح پر وينا "فلهذا قال بلفظ فصيح دون كلام فصيح" دغه اعتراض نه واردیږی؟

جواب: نه هيڅ کله نه واردیږی، ځکه ده وويل چې د کلام فصيح پر ځای يې "لفظ فصيح" يې وو ايې. ددې مطلب دا دی چې په فصاحة في المتكلم کې د هر يوه وينا د "کلام فصيح او لفظ فصيح" څخه صحت لری مگر د "لفظ فصيح" راوړل ترجيح لری. او په دغه خبره کې شک نسته چې د کلام فصيح راوړل په تعريف کې صحت لری مگر "لفظ فصيح" وينا ترجيح پر لری.

حاشيه نمبر ۱۱:

يعنې ژوند او ادراک دغه په خپله سببونه نه دي بلکه دغه د سبب لپاره شرطونه دي. نو پر دوی باندی د سبب اثر کونه موقوف ده نه په خپله اقتدار مذکور. لکه وچوالي د لرگو. اوس د لرگو سوزولو لپاره سبب اور او شرط يې وچوالي دی.

حاشيه نمبر ۱۲:

سوال: محشي فرمايي چې شارح په دې کې تسامح تر سره کړيده چې د تکلم تفسير يې په اعتبار سره تر سره کړې، اوس دغه کار شارح چرته تر سره کړی دی؟

جواب: په دې کلام کې "الي ان يُعْتَبَر مع الكلام" کې يې تر سره کړی دي، اوس دغه تفسير د دې قول د شارح "الي التكلم على وجه مخصوص" دی. لهذا "الي" تعلق د "الداعي" سره لری. يعنې "الداعي الي التكلم يعني الداعي الي ان يُعتبر الخ". لهذا "ان يعتبر" تفسير لپاره د تکلم دی. او "ان" مصدريه دی نو "يعتبر" په تأويل د مصدر و گرزېدی، نو "اعتبار" جوړ سو. لهذا اعتبار د تکلم تفسير سو.

سوال: آيا اعتبار د تکلم څخه جلا يو بل شي دی؟

جواب: هو، تکلم فعل د ژبې او اعتبار فعل د زړه دی.

سوال: نو دلته یې تکلم ته اعتبار ولې ویلې دی؟

جواب: په دغه کې شارح مبالغه تر سره کړېده او اشاره و دې خبرې ته کړېده چې کله کله اتفاقاً کلام مطابق د مقتضي سره د حال و ګرزي نو دغه ته بلاغت نه ویل کیږي بلکه بلاغت هغه ته ویل کیږي چې اراده او اعتبار د متکلم ورسره وي يعني متکلم اراده د کلام د مطابقت د مقتضي سره د حال تر سره کړې وي نو نفسِ مطابقت د مقتضي سره د حال بلاغت نه دی بلکه متکلم د دې اراده لري چې مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال راسي او بيا دغسي کلام راوړي نو دغه ته بلاغت ویل کیږي. والله اعلم بالصواب و هذا لدى الفقير بتوفيق الاحد الصمد.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: بیانونه د حال په ذکر سوي تعریف سره "الامر الداعي..... هو مقتضي الحال" په دې وجه صحی نه دی چې دغه تعریف مشتمل په دور دی، ځکه په تعریف کې معرَّف (الحال) اخیستل سوی دی. ځکه شارح د تعریف په آخر کې لفظ د مقتضی الحال راوړې دی. او دور باطل دی او مشتمل په دور هم باطل دی نو دغه تعریف باطل دی؟

جواب: دغه ذکر سوي تعریف مشتمل په دور باندې نه دی، ځکه دغه عبارت "هوالمقتضي الحال" په تعریف کې د حال داخل نه دی. بلکه دغه عبارت لپاره د تعین د مضاف "مقتضی" راوړل سوي دی. نو اوس دغه تعریف صحت پیدا کړی.

حاشیه نمبر ۱۴:

سوال: د مصنف دغه وینا "مطابقته لمقتضي الحال" صحت نه لری، ځکه په دغه کې حمل د مصدر په ذات تر سره سوی دی دا ډول چې مطابقت د منطقینو په وړاندی عبارت د حمل ځخه دی، لکه ویل کیږي "ان الکلي مطابق علیه یعني الکلي یحمل و یصدق علیه". نو دلته د عبارت معني به دا وګرزي "مطابقته (الکلام) لمقتضي الحال یعني الکلام یصدق علی مقتضي الحال" کلام به پر مقتضي الحال حمل کیږي. او کلام ځخه مراد یو فرد د کلام دی. دغه فرد د کلام ذات او مقتضي الحال مصدری معني ده نو پر ذات مصدری معني حمل سوه او دغه صحت نه لری؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دلته مطابقت په معني سره د صدق او حمل نه دی، بلکه دغه په معني سره د مشتمل والي دی، يعني کلام مشتمل پر مقتضي الحال وی. او په دغه کي هيڅ يوه خرابي وجود نه لری.

حاشيه نمبر ۱۵:

د مصنف په وړاندی بلاغت هلته ثابتيږی چې دغه دوه شيان ثابت سي. ۱: مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال وی. ۲: فصاحت د کلام ثابت وی. لهذا بلاغت هلته ثابتيږی چې فصاحت د کلام ثابت وی او دغه کلام د مقتضي سره د حال مطابق وی. لهذا دغه دواړه په مفهوم کي د بلاغة في الکلام کي معتبر دي. مګر پر دغه سوال دا واردیږی چې فصاحت د کلام شرط لپاره د بلاغة الکلام دی، او داخل په مفهوم کي د بلاغة الکلام نه دی، په دغه وجه علامه سکاکي فصاحت د کلام شرط ګرزولي دی نه جزء د مفهوم څخه د بلاغة في الکلام.

حاشيه نمبر ۱۶:

سوال: مقصد د مصنف د دغه کلام "هو مختلف" څخه څه دی؟

جواب: مقصود د دغه کلام څخه مراتب د بلاغة بنودل دي. لهذا د بلاغة يوه مرتبه نه ده بلکه په دغه کي اعلي هم سته او ادني او اسفل هم سته.

حاشيه نمبر ۱۷:

سوال: مقصد د شارح په دغه کلام "الحال و المقام" سره څه دی؟

جواب: دلته يوه مدعي "هو مختلف" او بل دليل "فان مقامات الکلام متفاوتة" دی. نو د دليل د مدعي سره د ربط ورکولو لپاره شارح دغه کلام وړاندی کړي. هغه دا دول چې دلته سوال وارد ښکاری چې مدعي او دليل تر مينځ موافقت نسته، ځکه مدعي "مقتضي الحال مختلف کېدنه" ده او دليل "دمقاماتُ مختلف کېدنه" ده. نو مدعي مقتضي الحال په هکله او دليل د مقامات په هکله دی، لهذا په دغه دليل سره مدعي نه ثابتيږی، نو څه وخت چې شارح ووېل "الحال و المقام الخ" نو دلته دا وښول چې حال او مقام يو شي دی نو دليل د مدعي موافق دی نه مختلف چې بيا اعتراض وارد سي.

حاشيه نمبر ۱۸:

سوال: حال او مقام تر مينځ څرنګه اعتباری فرق وجود لری؟

جواب: په دې اعتبار سره دوی یو دی چې هر یو دوی څخه متکلم و دې خبرې ته رابولي چې متکلم په هغه کلام کې "په کوم سره دی اداء بدنه د خپل مقصد کوی" د یو خصوصیت او نکته اعتبار وکړي. او دوی ترمینځ فرق بیا په دې حیث سره دی چې دغه امري داعي په هکله که چیرې دا خیال تر سره سي چې دغه د کلام د ورود او راوړلو لپاره زمانه ده نو دغه امري داعي بیا په حال سره نو مول کیږي، او که چیرې دده په هکله دا خیال تر سره سي چې دی لپاره د ورود د کلام محل دی نو دغه امري داعي بیاپه مقام سره نو مول کیږي.

سوال: شارح ولې د "یتوهم" ټکی استعمال کړي؟

جواب: څرنګه دغه امري داعي زمان او نه مکان لپاره د کلام د ورود او راوړلو لپاره دی بلکه یو توهمي او تخیلي شي دی په دغه وجه دده څخه په "یتوهم" سره تعبیر کونه خپله سوه.

حاشیه نمبر ۱۹:

د مقام نسبت او اضافت عموما د مقتضي (په صیغه سره د مفعول) و طرف ته کیږی او ویل کیږی "مقام التاکید".

سوال: د مقام نسبت او اضافت و مقتضي (په صیغه سره د فاعل) ته هیڅ کله نه تر سره کیږی؟

جواب: اکثر حکم دغه دی چې د مقام نسبت و مقتضي (په صیغه سره د مفعول) تر سره کیږی مګر اکله کله و مقتضي (په صیغه سره د فاعل) ته هم اضافت تر سره کیږی لکه دغه خبره به مخکې راسي نو هغه وخت اضافت د مقام و مقتضي (په صیغه سره د اسم فاعل) ته اضافت بیانیه دی، مقام یعني چې په خپله مقتضي دی.

حاشیه نمبر ۲۰:

سوال: د اعتبار څخه په دې عبارت کې "ان الاعتبار اللاتق بهذا المقام" څه مراد دی؟

جواب: دغه امري معتبر چې مناسب د مقام سره وی د دغه څخه مقتضي د حال مراد ده یعني هغه شي چې د هغه تقاضي مقام کوی.

سوال: مقتضي الحال کې بیا څرنګه اختلاف وجود لري، او حال دا چې تولې مقتضي الحال سره یو دي ځکه په هر یوه د مقتضي الحال اطلاق تر سره کیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: په دې حيث سره يو دي چې هر يو ددوی څخه مقتضي د حال ده مګر په دې حيث سره چې دغه مقتضي د حال ددې مقام سره مناسبت لري، او هغه بل مقتضي د حال بيا د هغه بل مقام سره مناسبت لري په دغه حيث ددوی ترمينځ فرق وجود لري.

حاشيه نمبر عـــه:

دلته محشي دا ښوول غواړي چې بلاغت د لفظ په فصاحة في المتكلم کې هيڅ مداخله نه لري بلکه مطلقاً بلاغت د لفظ په فصاحت کې مداخله نه لري نو بيا د بلاغت اللفظ راوړنه په فصاحة في المتكلم کې صحت نه لري.

حاشيه نمبر بر عبارت مقتضى الحال مطابقته:

سوال: خلاصه د سوال داه، کله کله يو مضمون (کوم چې مدلول دکلام وی) په مختلفو طريقو سره ادا سي لکه الله لره د قدرت ثابتوالي. د مثال په توګه وويل سي" وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (البقرة ۲۸۴)"، "أَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ". او ددغه طريقو څخه هره يوه بليغه ده. او حال دا چې مطابق د مقتضى سره د حال يوه ددغو طريقو څخه وی. او دغه د مصنف ددې عبارت "بلاغة الكلام مطابقته لمقتضى الحال" څخه معلوميږي؟

جواب: کله کله مقامات د هغه کلام "کوم چې دلالت په يو مضمون کوی" متفاوت او يو دبل څخه فرق لرونکي وی ددغي وجي يو مضمون لره د يو کلام کله کله څو مقتضيات د حال وی. د مثال په توګه الله جل جلاله لره د قدرت ثابتوالي. اوس مقتضى دحال ددغه مضمون کله تجريد دکلام د تأکيد څخه وی، او کله بيا تأکيد استحساني او کله تأکيد وجوبي وی. ځکه دغه کلام کله کله و هغه چا ته وويل سي چې دهغه ذهن خالي وی. او کله بيا هغه منکر ته وويل سی چې هغه اصرار کونکي په خپل انکار باندي وی. او کله بيا هغه منکر ته وويل سي چې هغه اصرار کونکي په خپل انکار باندي نه وی. (شرح العالمي ۲۹۸/ج۲)

صفحه نمبر ۲۷:

عبارت

واختلافها بين اختلاف مقتضيات الاحوال ثم شرع في تفصيل ذلك وبدأ بالمقام
مع اشارة اجمالية الى ضبط مقتضيات الاحوال وبيان ذلك ان مقتضى الحال
كما سيجيء اضبانا مناسب الحال والمقام وهو اما ان يكون مقتضا باجزاء الجملة او
بالجملة بين ضامنا لها او بمتعلق بشيء من ذلك اما الاول فبكون الحكم الذي في خبر
الاسناد كونه مقيدا بامر زائد كالقيد او مؤكدا استحسانا او وجوبا تأكيدا للمسند او
اكثر او الى المسند اليه كونه مجددا او ثابتا مستمرا او منكرا مخصوصا او غير مخصوص
مصورا بشيء من الوانع او غير مصور مقدما او مؤخرا مقصورا على المسند اليه او
غير مقصور او الى غير ذلك والى المسند كذكر مع زيادة كونه مقيدا فاضلا او غير
اوجملة اسمية او فعلية او ظرفية مقيدا بمتعلق او غير مقيد على ما سيفصل
واما الثاني فكوصل الجملتين او فصلها واما الثالث فكالحذف والذكر والايجاز والاطناب
على وجوه المذكورة في ابوابها وهذا احد شقي اجمالي بفصله علم المعاني اذ امتهد فقد
فصل مقام التكلم اي المقام الذي يناسبه تنكير المسند اليه او المسند بان مقتضى
ظاهر حال المخاطب الحكم او المتعلق او المسند اليه او المسند ومتعلقهما بان مقتضاه
تعريفه بما كذا واداة معتبرة او بايراد او بشرط او مفصول او بايراد اشهر مقام تقديم
المسند اليه او المسند او متعلقاتهما بان مقتضاه تاخيره وكذا مقام ذكره بان مقتضاه
حذفه وهذا معنى قوله فمقام كل من الاطلاق والتنكير والتقديم والذكر بان مقتضاه
خلاف مقام ما يخالف كلا منها وانما فصل قوله ومقام الفصل بين مقام الوصل لانه
احد شقي المنبه على ان ترك ما يقتضيه كل شان مع ان الحذف حسن صرح بهم ايضا في غير
الفصل والوصل والثاني ان تمرن الاحوال المحضر اكثر من جملة وفصل قوله ومقتضى
الايجاز بان مقام خلاف مقتضى الاطناب والمساواة لكونه مخرجا لها عن باب
باب عظيم الشان كثير المباحث وقد اشار في المفتاح الى تفاوت مقام الايجاز والاطناب
بقوله لكل حد بنبغي ان يقف عنده الكلام مقام فان لكل من الايجاز والاطناب لكونهما
نسبين حدودا ومراتب متفاوتة ومقام كل بان مقتضاه والاخر وكذا خطاب الذكي
مع خطاب الغبي فان مقام الاول بان مقتضاه الثاني فان الذكاء بان مناسب مرتبة الاعتناء
باللطيفة والمعاني الدقيقة المحتجبة بالاستار الخفية بان الاستار التي كانت الاستار بتلك
فان الذكاء شدة قوة النفس معدة لاكتساب الاراء وتهيئ هذه القوة الذهن وتحقيقه
تفوق ما بين حملها من الغبر الفطنة والفطنة عدم الفطنة فما من شانه ان يكون فطنا

Maktaba Tul Ishaat.com

ورسته تر دې مصنف رحمه الله "و ضبط ته د مقتضياتو د احوالو و طرف ته د اجمالي اشارې کولو تر څنګ " په تفصيل سره د تفاوت د مقاماتو شروع وکړه.او ددغه بيان دادی چې مقتضي د حال "لکه څرنګه چې دغه به ژر راسي" هغه اعتبار دی کوم چې مناسب د حال سره وی، او مقام به يا خاص د اجزاؤ سره د کلام وی، يا ددو کلامو او يا زيات تر دوو. او يا به په يوه سره ددوی خاص نه وی. او اول به يا راجع و نفسي اسناد ته وی، د مثال په توګه د تأکيد د اسناد څخه خالي والي، او استحساناً موکد کېدنه، او يا وجوباپه يوه تأکيد او يا په زيات سره تر يوه. او يا به ومسند اليه ته راجع وی،د مثال په توګه د مسند اليه محذوف کېدنه، دده ثابتېدنه،معرفه اونکره کېدنه، مخصوص او غير مخصوص کېدنه، دمسنداليه ديوه سره دتوابعو ملګری کېدنه، او يا نه ملګری کېدنه، او په کلام کې مخکې کېدنه او ورستې کېدنه، په مسند اليه باندی حصر کېدنه او يا حصر نه وی او پرته ددې.او يا به مسند ته راجع وی په مثل د هغه څه کوم چې په مسند اليه کې ذکر سوه.ددې سره سره دغه مسند مفرد فعلي او که غير فعلي وی او جمله اسميه، فعليه، شرطيه او که ظرفيه وی، بيا به دغه ظرفيه مقيد په متعلق سره وی او يا به نه وی، لکه څرنګه ددغه تفصيل به مورِ بيان کړو.او دوم لکه د جملو وصل کونه او يا جلا کونه، او در يېم لکه مساوات،ايجاز او اطنا ب د هغه وجوهاتو موافق کوم چې په خپل باب کې ذکر سوی دي. او دغه يو اجمالي بحث وو د کوم تفصيل به علم المعاني بيانوی. او څه وخت چې ددغه بحث تمهيد بيان سو نو مورِ وايو : چې مقام د تنکير "يعني داسي مقام چې د هغه سره تنکير د مسند يا د مسند اليه يا د متعلق ددوی مناسب وی" دغه د مسند اليه، مسند او د متعلق د معرفه کېدني سره مخالفه دی.او مقام د اطلاق د حکم،د تعلق ،مسند اليه او يا مسند او يا دده د متعلق مباين د مقام سره دده د مقيد کېدني دی. عام،تر دې دغه مقيد کېدنه په حرفي تأکيد،اداتي قصر،تابع،شرط،مفعول يا دده په مشابه سره وی. او د مسند اليه د تقديم مقام يا د مسند د تقديم مقام يا د مسند د تقييدمقام يا د مسند د متعلقاتو د تقديم مقام دده د تأخير د مقام سره مقابل دی.او دغه ډول دده د ذکر کوني مقام دده د حذف د مقام سره مغاير دی. او دغه د مصنف رحمه الله ددې قول ده﴿ مقام دهر يوه د تنکير ،اطلاق ،تقديم او ذکر کوني دامباين دهغه مقام سره ددوی د مخالف دی﴾ يعني خلاف د هر يوه سره ددوی.او مصنف خپل دغه قول جلا کړي ﴿مقام د فصل مباين د مقام سره د وصل دی﴾ ددو وجو څخه.۱: تنبيه په دې خبری ورکونه ده چې دغه باب عظيم الشان او قدر يې لوړ

دی، حتي چي بعضو بلاغت د فصل او وصل په پيژندني باندی حصر کړی دي. ۲: دغه د هغه احوالو څخه دی کوم چي د يوي څخه زياتي جملي سره خاص دی. او دمصنف دا قول ددي وجي څخه جلا کړي﴿ د ايجاز مقام د ده د خلاف د مقام سره مباينت لری﴾ يعني اطناب او مساوات، څکه دغه د جملي او د جزء سره د جملي خصوصيت نه لری. څکه دغه يو عظيم باب او مباحث يې زيات دي. او سکاکي په مفتاح کي اشاره و دي خبری ته کړې ده چي د ايجاز او اطناب مقام سره فرق لری. او دغه اشاره يې په دي قول سره تر سره کړې ده " هريو د ايجاز او اطناب لره داسي حد وی کوم ته چي کلام رسي او مقام وی"، څکه هر يوه لره د ايجاز او اطناب په دي وجه سره چي دوی امر نسبي دي حدود لری. او ددوی مراتبي سره مختلفي دي. او مقام د هر يوه د هغه بل څخه مختلف دی. ﴿او دغه دول د ذکي لپاره خطاب د هغه خطاب څخه مختلف دی کوم چي د غبي لپاره وی﴾، څکه د اول مقام د هغه بل څخه مختلفه دی. څکه د ذکي سره لطيف اعتبارات، دقيقي او خفي معناګاني ورسره مناسبت لري کوم چي د غبي سره مناسب نه وي. اومناسبه داوو چي د غبي سره يې فطين ذکر کړی واى، څکه ذکاوت شدتي قوتي نفسي دی کوم چي د رأيې د حصول لپاره تيار سويدی. اودغه قوت ته ذهن ويل کيږی. او شبه صلاحيت ددغه قوت "ددي لپاره چي تصور د هغه څه وکړی کوم چي په ده دده د غير د طرف څخه وړاندی سوی وی" ته فطانت ويل کيږی. او غباوت عدمي فطانت دی، مګر د شان څخه دده داوی چي فطين سي. نو د غبي مقابل فطين دی.

تشريح

عاری: خالي. مصحوبا بشيء: د يو شي سره ملګری سوی. جودة: ښه والي. تهيؤ: تيارتيا. تيار سي. (تَهَيَّ) [ع.] 1 – (مص ل.) آماده بودن، ساخته شدن. 2 – (امص.) آمادګی<

فمقام كل من تنكير: **سوال:** فاء دمختلفو معناګانو لپاره راځي. ۱: تفريع لپاره. ۲: پر جزاء. ۳: عطف. نو دلته کومه معني مراد ده؟

جواب: دلته فاء لپاره د تفصيل ده نه د بل څه لپاره.

سوال: دلته مقصد بيان د اختلاف د مقتضي الحال دی. او دغه بيان په دي قول سره «فان مقامات الكلام متفاوتة» حاصل سوی دی. نو په دغه راتلونکي کلام «فمقام كل من التنكير» کي کوم فائده سته؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: ددغه فائده تفصيلاً بيانونه د فرق ددغه مقاماتو ده. او ددغه سره اجمالا اشاره و ضبط کوي او حصر ته ددغه مقتضيات الاحوال ده. او تفصيل د فرق ددغه مقاماتو بيان په فن اول کي «د علم المعاني» کي تر سره سوی دی. او اشاره و ضبط ته د مقتضيات الاحوال دا ډول ده چي د احوالو مقتضيات په درو قسمونه وېشل سوی دی.

۱: کوم چي تعلق د اجزاؤ سره د جملي لري.

۲: کوم چي تعلق د دوو جملو يا زيات تر دو سره لري.

۳: او يو ددغه ډولو دوو څخه نه وی (يعني نه د جزء سره د جملي او نه ددوو جملو سره تعلق لري) بلکه دواړه رقمه کېدای سي. واول ته يې اشاره په دې قول «فمقام کل من التنکير» سره وکړه او دوم ته يې په دې قول سره «مقام الفصل يباين الوصل» اشاره کړېده. او دريم ته يې په دې قول سره «مقام الايجاز» کړېده. او دغه بيان اجمالي دي، ځکه مصنف دغه مقتضيات په اعتبار د مقاماتو ددوی تفصيل بيان کړی نه دي.

بيان ذالک: **سوال:** مراد د مقتضي الحال څخه هغه سبب دی د کوم څخه چي تخلف د معلول روا نه دی، بلکه دده په راتګ سره د معلول راتګ لازم وی نو په دغه وخت کي هغه مقتضيات ووتل کوم چي حسن و کلام ته ورکوی او په بديع کي بيانېږی. دوی هم مقتضی الحال دی مګر ددوی راوړنه واجب نه ده؟

جواب: دلته مراد د مقتضی الحال څخه دغه مراد نه دی کوم چي تا وويل بلکه دلته معتبرونه د هغه شي مراد ده کوم چي مناسب د حال او مقام سره وی عام تر دې راوړل ددغه لازم او که نه وی.

﴿فائده﴾ : هغه مقام چي د هغه سره مناسبه د مسند اليه نکره راوړنه وی لکه "رجل في الدار قائم"، او "جاء رجل". دغه مقام دهغه مقام سره مباين دی دکوم سره مناسبه د مسند اليه معرفه کېدنه ده لکه "زيد قائم". او "جاء زيد". او دغه ډول هغه مقام چي د هغه سره مناسبه د مسند نکره والي وی لکه "زيد قائم"، دغه د هغه مقام سره مباين دی د کوم سره چي تعريف د مسند مناسبه وی لکه "زيد القائم". او دغه ډول هغه مقام د کوم سره مناسبه د حکم مطلق والي وی لکه "زيد قائم"، مباين د هغه مقام سره دی د کوم سره چي مناسبه مقيد والي د حکم وی "ان

زيدا قائم يا ما زيد الا قائم يا انما زيد قائم".او دغه ډول هغه مقام چې د هغه سره مناسب د تعلق مطلق راوړنه وي هماغه د هغه مقام سره وي د کوم سره چې مناسبه تقييد د تعلق وي.(تعلق:تعلق د مسند د معمول سره دده دی د مثال په توګه تعلق د فعل د مفعول سره). او دغه ډول هغه مقام چې د هغه سره مناسبه داوی چې مسند الیه د قید څخه د تابع خالي وي هماغه د هغه مقام سره دی چې په تابع سره مقیده وي.لکه "زيد الطويل القائم".دغه ډول هغه مقام چې د هغه سره مناسب د مسند نه مقید کونه په تابع سره وي هماغه د هغه مقام سره وي د کوم سره چې مقید کونه په تابع سره مناسبه وي لکه "زيد رجل طويل".او دغه ډول هغه مقام چې د هغه سره د مسند د متعلق (يعني دده معمول) مطلق وي لکه "زيد ضارب رجلا" هماغه د هغه مقام سره وي د کوم سره چې د مسند د متعلق په تابع سره مقید کونه وي لکه "زيد ضارب رجلا طويلا".

دوم قسم:هغه مقتضى الحال چې متعلق ددوی جملې وي: ددې قسم بيان دادی هغه مقام چې د هغه سره فصل«دعطف پوربښونه» مناسب وي هماغه د هغه مقام سره دی د کوم سره چې مناسب وصل «عطف» وي.

سوال: مصنف رحمه الله بحث د فصل او وصل د مخکني بحث سره يو ځای ذکر نه کړی بلکه جلا يې ذکر کړی ددې څه وجه ده؟

جواب: مصنف په دغه ډول ذکر کوني سره تنبيه په دې خبره ورکړه چې دغه بحث ډير عظيم شان او يو اوچته مقام لری،حتي چې بعضو علماؤ علم بلاغت د فصل او وصل په پېژندني موقوفه بللي دي، او دا يې ويلي دي: که يو چا ته د فصل او وصل پېژندنه تر لاسه سوه نو گواکي ده ته علم البلاغت تر لاسه سو.

سوال: مصنف رحمه الله بحث د ايجاز او اطناب ولي جدا ذکر کړي؟

جواب: مصنف په دغه سره تنبيه ورکړېده چې دغه بحث ډير عظيم شان او يو اوچته مقام لری.

سوال: ايجاز،اطناب او مساوات څه ته ويل کيږی؟

جواب: ايجاز: په توسط سره د لږو الفاظو ادا ښه د مراد وسي.

۲: **اطناب:** ادا ښه د مراد په زياتو الفاظو سره تر سره سي.او دغه راوړنه د زياتو الفاظو د کومي فائدې په خاطر سوی وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳: **مساوات**: اداپنه د مراد په دومرو الفاظو سره تر سره سوې وي چې کوم چې نه زیات تر مقصد او نه کم تر مقصد وي.

اوس هغه مقام چې د هغه سره ایجاز مناسب وی د هغه مقام سره مباین دی د کوم سره اطناب او مساوات مناسب وی. دغه ډول د ذکي او غبي مقام دی. یعني د زیرک او هوښیار کس د مخاطب جوړولو مقام د غبي او د کند ذهن کس د مخاطب جوړلو د مقام سره مباینت لري. ځکه په داسي کلام سره مخاطب ګرزی کوم چې په لطیفو اعتباراتو، په پټو او باریکو نکاتو باندی مشتمله وی. او حال دا چې غبي په داسي کلام سره مخاطب ګرزول د سره مناسبه نه دی.

وقد اشار في المفتاح: **سوال**: تلخیص د مفتاح څخه اخیستل سوی دی. او حال دا چې ایجاز او اطناب علامه سکاکي ذکر کړی نه دی نو مصنف د تلخیص دغه څه ډول ذکر کړی دي؟

جواب: علامه که څه هم دغه صراحتاً ذکر کړی نه دی مګر ضمنایې ذکر کړی دي دا ډول چې علامه ویلي دي: لکل حد ینتهی الیه الکلام مقام. اوس دلته حد «او دلته حد په معنی سره د مرتبې دی. او تنوین لپاره د فرق دی یعني مراتب متفاوتة، او دغه ډول په مقام کي هم تنوین لپاره د تفاوت دی» مبتدأ اول او مقام مبتدأ دوم او لکل خبر مقدم دی. او لکل منون په تنوین سره دی او هغه بدل د مضاف الیه څخه دی دا ډول "لکل واحد من الایجاز و الاطناب". او اصل عبارت دا ډو ل دی: "مراتب متفاوتة و مقام متفاوتة لکل واحدمن الایجاز و الاطناب". یعني هر یوه د ایجاز او اطناب څخه حدود متفاوته او مقامات مختلفه لري. او بعضي د حدودو څخه کوتاه او بعض بیا ډیر کوتاه او تر هغه هم کوتاه وی دغه ډول بعضي بیا زائد او بعض بیا تر هغه زائد دغه ډول نور وی. که کوتاه وی دغه ایجاز او که زیات او زائد وی دغه بیا اطناب دی.

لکونهما نسبین: **سوال**: ایجاز او اطناب لره ولي مراتبي او مقامات وجود لري؟

جواب: ځکه تصور د هر یوه د ایجاز او اطناب په هغه بل موقوفه دی او یوه لره د دوی یو خاص معین حد معلوم نه دی، نو د هغه بل دا هم معلوم نه دی نو چې دوی یو معین حد نه لری نو دوی په مختلفو صورتونو کي کېدای سي، او دغه هر صورت د دوی څخه مرتبه ده څرنګه چې صورتونه مختلف دي نو مراتبي هم مختلفي دي.

وكان الانسب: **سوال**: تقابل تر مينځ د فطانت او غباوت دی نه تر مينځ د ذکاوت او غباوت، ځکه ذکاوت فطين او غبي دواړو ته شامله دي داډول چې ذکاوت عبارت د نفس دهغه شديد قوت څخه دی کوم چې د ادراک لپاره دافکارو تيار سوی دی، او دغه قوت نه ذهن ويل کيږی، او ذهن لکه څرنګه فطين او هوښيار لره ثابت دی دغه ډول غبي لره هم ثابت دی. پاته فطانت سو نو هغه دداسي قوت نوم دی په کوم سره د بل کس جوړه خبره فهمولای سي او غباوت د هغه قوت نوم دی چې په کوم سره جوړه خبره فهمولای نه سي، بلکه ساده لا صحی نه سي فهمولای. لهذا دوی دواړه سره مناسب دی نه بل؟

جواب: دلته ذکر عام او مراد خاص دی، لهذا ذکر ذکاوت مراد فطانت دی. نو اوس اعتراض نه وارديږی.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

سوال: "و اختلافها عين اختلاف مقتضيات الاحوال" دغه عبارت پر چا عطف دی؟

جواب: دغه پر دې قول د شارح رحمه الله " فعند تفاوت المقامات يختلف مقتضيات الاحوال الخ" عطف دی.

سوال: معطوف او معطوف عليه د يو ځای کولو سره څه ثابتيږی؟

جواب: دلته يوه مدعي ده "هو ای مقتضيات الاحوال مختلف". اوس دغه مدعي د "معطوف او معطوف عليه په يوځای والي او ملګرتيا سره تر لاسه کيږی". ځکه په معطوف عليه سره دا خبره ثابتيږی "د مقام په متخلفَ کېدني سره مقتضي د مقام مختلفيږی". او په معطوف سره دا خبره ثابتيږی "مقتضي د مقام بعينه مقتضي د حال ده" (نو معني داسوه چې د مقام په مختلفَ کېدني سره مقتضي د حال مختلفيږی) نو د دواړو په يو ځای کولو سره دا ثابتيږی " مقتضي د حال مختلفيږی". او دغه هم مدعي ده.

حاشيه نمبر ۲:

سوال: په دغه عبارت کي "ثم" د څه لپاره ده؟

جواب: دغه عاطفه ده. او تر دې ورستني کلام عطف دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: معطوف علیه څوک دی؟

جواب: معطوف علیه مقدر او ددې ذکر سوی کلام څخه د مصنف " فان مقامات الكلام متفاوتة" فهمیږی. نو تقدیر د عبارت داډول دی" اجمل ذكر تفاوت المقامات ثم شرع في تفصيلها".

حاشیه نمبر۳:

محشي مقصد د شارح ددې عبارت "و بيان ذالك" څخه بیانوی. خلاصه داده چې مقصود ددغه عبارت څخه تنبیه ورکول په دې خبره دی چې د مقتضي الحال څخه خاص هغه شي مراد نه دی کوم لره چې حال واجبونکي وی (د کوم څخه تخلف ناروادی). بلکه هغه شي دی کوم چې مناسب د حال سره وی. بیا عام تر دې دغه په طریقه د ایجاب (داډول چې حال "الامر الداعي" دغه مخصوص مقتضي لره واجبونکي وی، د مثال په توګه مسندالیه په صورت کې د موصول راوړل، دا هغه وخت چې مخاطب د مسندالیه د احوالو څخه پرته د صله په بل حال باندی علم نه لری، نو په دغه صورت کې دغه مسندالیه په صورت د موصول راوړل واجب دی. لکه داډول وینا "الذی كان معنا امس رجل عالم" سحر ۷۲»)

او که په طریقه د ترجیح وی داډول چې حال ترجیح ورکونکي دغه مقتضي لره" د حال" وی. د مثال په توګه د خوند اخیستولو لپاره مسند الیه په صورت کې د عَلم راوړل لکه په دې قول کې "محمد نبينا". اوس په دغه مقام کې امر داعي استلذاذ دی. او دغه استلذاذ د مسند الیه راوړل په صورت کې د علم لره واجبونکي نه دی. بلکه ترجیح ورکونکي ده لره په غیر دی. (فصل ۲۰۵/ج۲). او که په طریقه د احسان وی لکه د تأکید راوړل په طریقه د احسان.

سوال: د مقتضی الحال څخه مراد هغه سبب دی د کوم څخه مختلف والي دده د معلول ممتنع وی. لهذا مطلب د هغه مقام "کوم چې تقاضی د تنکیر کوی" دادې چې تنکیر هلته واجب دی. او حال دا چې دلته د دغې معنې مراد ول صحت نه لری، ځکه د مقتضی الحال څخه به هغه شیان ووزي چې د هغوی راوړل مستحسن وی. لهذا دغه هم مقتضی الحال دی، مګر دلته مقتضی الحال ورته شامله نه دی، ځکه ددوی راوړل واجب نه بلکه د دوې په راوړلو سره کلام حسن او ښائسته ګرزی؟

جواب: دلته مراد دغه واجبونکي سبب نه دی بلکه هغه متقضي "د حال" مراد دی چې هغه مناسب د مقام او د حال سره وی. او دغه معنې ودغه مستحسناتو ته شامله ده.

حاشیه نمبر۴:

سوال: د جمله د اقسامو څخه د لفظ شمېر نه يې صحت نه لري، ځکه د جمله يوه برخه اسناد دی، ددې نه پرته جمله وجود پيدا کولای نه سي. او اسناد لفظ نه دی، څرنګه د جمله دغه مهم غړی لفظ نه دی نو جمله هم بايد د لفظ د قبيلې څخه نه سي؟

جواب: جمله د الفاظو د قسم څخه شمېرل بناء پر دې ده چې د جمله زيات اجزاء او غړی الفاظ وي دا دول چې مسند او مسند اليه، موضوع او محمول الفاظ وی نو په دغه وجه جمله د الفاظو د قسم څخه و شمېرل سوه. لهذا دغه شمېرنه يې په اعتبار د اکثرو اجزاؤ ده نه په اعتبار د ټولو اجزاؤ چې بيا اعتراض وارد سي.

حاشيه نمبر ۵:

سوال: شارح ولې هغه اعتبار" چې راجع و اسناد ته وي" مخکې تر هغه اعتبار کړی کوم چې راجع و مسند يا و مسند اليه ته وی. او بيا يې هغه اعتبار چې راجع و مسند اليه ته وی ولې په هغه اعتبار مخکې کړې کوم چې و مسند ته راجع وی؟

جواب: اسناد د جزئي صورې غوندې لپاره د جمله دی. ځکه د جمله پېله اسناد صورت موندلای نه سي. مسندالیه او مسند په مثل سره د جزء مادي دي. نو اسناد غوره تر دغو دواړو دی. او د مسندالیه اعتبار بيا په دې وجه مخکې کړل سو چې دئ په حيث د رکنيت زيات قوي تر مسند دی. (قال السوسي ۲۰۶/ج۲)

حاشيه نمبر ۶:

سوال: شارح دغه عبارت "مقصورا على المسندالیه" صحت نه لری، ځکه دغه عبارت مستلزم دي لره دی چې شي به په خپل ځان قصر سي. ځکه دد غه عبارت معني داده "لکه د مسندالیه مقصوره کېده په مسندالیه باندي ؟؟

جواب: دغه عبارت صحی او مستلزم قصر لره د شي پرخپل ځان ته نه دی، ځکه دغه عبارت دا دول دی "الذی اسند الیه"، او په "اسند" کې ضمير و "الذی" ته راجع دی، يعني " مسند". نه و هغه ورسټنی ظرف ته چې هغه "الیه" دی.

حاشيه نمبر ۷:

سوال: شمېرل د افراد په طريقه د اطلاق د احوالو څخه د مسند صحت نه لری، ځکه مسند اليه هم مفرد راځي (نه فعل، او مرکب)؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د مسند اليه مفرد کېده ببله فعله دغه د لوازمو څخه د مسند اليه دی. او د مسند اليه د افراد سره افاده د اصلي معني تعلق لري. او مراد د معني څخه هغه ذات د معني مراد دی کوم چې په بدلولو سره د عباراتو او اعتباراتو نه بدليږي. او دغه ذات د معني محض ثبوت د شي و شي لره دی. (المفصل ۲۹۸/ج۲)، او د مسند اليه راوړل پرته د افراد ممکن نه دی. لهذا د مسند اليه مفرد راوړل د هغه اعتباراتو څخه نه شمېرل کيږي کوم چې مناسب د مقام سره وی. په خلاف د افراد د مسند، ځکه افراد د مسند مقتضی د حال ده.

حاشيه نمبر ۸:

سوال: مراد د متعلق څخه د مسند څه دی؟

جواب: مفعول، حال او تميز.

سوال: مورد دا خبره نه منو چې محض مسند مقيد په متعلقات سره گرزی، بلکه کله کله مسند اليه هم مقيد په متعلقات سره گرزی، د مثال په توگه که چيری مسند اليه يو داسي اسم وو کوم چې مشابه د فعل په عمل کولو کې وی (يعني هغه اسم په مشابهت د فعل عمل کونکي وو) لکه اسم فاعل او مفعول او مثل ددوی نو دغه مسند اليه بيا په متعلقاتُ سره مقيد گرزی لکه "الضارب زيداً في الدار بالسوط ضرباً شديداً عمرو". اوس په دغه مثال کې "الضارب" باندی الف لام موصول دی، اصل عبارت داډول دی "الذی ضرب زيداً". په "ضرب" کې ضمير راجع و موصول ته دی. او دغه ضمير فاعل او مسند اليه دی. نو دغه موصول "آل" مسند اليه په اعتبار د ضمير دی (څکه مرجع او ضمير حکم يو وی). او "زيداً" مفعول به لپاره د "ضرب" دی. "في الدار، بالسوط" تعلق تر "ضرب" پوری لری. او "ضرباشديداً" مفعول مطلق لپاره د "ضرب" دی. لهذا فعل، فاعل سره د مفعول دغه جمله فعليه صله د موصول دی. موصول سره د صله مبتدأ او "عمرو" خبر دی. مفعول قيد لپاره د صله وی او صله بيا قيد لپاره د موصول وی، نو قيد د صله قيد لپاره د موصول وی، لهذا مسند اليه "موصول، يعني آل" مقيد په قيد سره سو؟

جواب: د شارح خبره بناء بر اعم ده، لهذا عموماً مسند مقيد رائي نه مسند اليه په دغه وجه شارح د مسند د مقيد کوني خبره پې تر سره کړی.

تصحی د حاشيه:

فقد يكون للمسنداليه اذا كان اسماً مسنا اليها (او متعلقاً) بالفعل الخ

فقد يكون: دد غه اسم "متعلقات" دی او خبر يې "للمسند اليه" مقدم دی.

حاشيه نمبر ۹:

سوال: ايجاز او مساوات و څه ته ويل کيږی؟

جواب: د اصل مقصود چې په څومره الفاظو سره يې ادا ښه تر سره کيږی دومره الفاظ راوړلو ته مساوات ويل کيږی. او په څومره الفاظو سره چې ادا ښه د مقصود تر سره کيږی تر هغه کم الفاظ راوړلو ته ايجاز ويل کيږی، او دغه کم الفاظ د مقصد د اداينې لپاره کفايت کونکي يې. او اطناب د مقصد تر اداينې الفاظ زيات وي.

حاشيه نمبر ۱۰:

سوال: "علیٰ الوجوه المذکورة الخ" د چا لپاره قيد دی؟

جواب: ښکاره دا معلوميږی چې دغه قيد لپاره د ايجاز او اطناب دی نه لپاره د مساوات.

سوال: د مساوات لپاره ولې قيد نه دی؟

جواب: ځکه دد غه مطلب دادی چې ايجاز او اطناب د هغه اقسامُ موافق چې په خپل باب کې بيان سوي دی. حال دا چې مساوات اقسام او مختلفي لاری د اداينې نه لری بلکه ايجاز او اطناب يې لری په دغه وجه دغه د مساوات لپاره اخيستل يې ښکاره نه معلوميږی.

حاشيه نمبر ۱۱:

۱): هغه مقام د کوم سره مناسبه د حکم مطلق والي وی لکه "زيد قائم"، مباين د هغه مقام سره دی د کوم سره مناسبه مقيد والي د حکم وی لکه "ان زيدا قائم".

﴿فائده﴾: حکم: هغه نسبت کوم چې د مسند او مسند اليه ترمينځ وجود لری.

اطلاق الحکم: دغه حکم د مقيد کېدنې څخه خالي وی

۲): دغه دوه ول هغه مقام چې د هغه سره مناسب د تعلق د حکم مطلق راوړنه وی لکه "زيد قائم في الدار" مباين د هغه مقام سره وی د کوم سره چې مناسبه تقييد د تعلق د حکم په اداتو سره د قصر وی. لکه "ما زيد قائم الا في الدار".

﴿فائده﴾: التعلق: تعلق د مسند د خپلَ معمولَ سره لکه تعلق د فعل د مفعولَ سره.

Maktaba Tul Ishaat.com

اطلاق التعلق: دغه تعلق مقيد په يو قيد سره نه وي.

۳): دغه ډول هغه مقام چې د هغه سره مناسبه دا وي چې مسند اليه د قيد څخه د تابع خالي وي لکه "قام زيد" مباين د هغه مقام سره دي چې په تابع سره مقيده وي. لکه "قام زيد الكاتب".

۴): دغه ډول هغه مقام چې د هغه سره مناسب د مسند نه مقيد کونه په تابع سره وي لکه "ضربت" مباين د هغه مقام سره وي دکوم سره چې مقيد کونه په تابع سره مناسبه وي، لکه "ضربت ضرباً".

۵): دغه ډول مقيد په شرط سره وي لکه "اذا ضربتُ". دغه ډول هغه مقام چې هغه تقاضي د اطلاق د متعلق د مسند کول لکه "ضربت ضربا" مباين د هغه مقام سره دي کوم چې د تقييد د متعلق د مسند تقاضي کوي لکه "ضربت ضرباً شديداً".

حاشيه نمبر ۱۲:

سوال: دلته د شرط څخه مراد څه دي، حرفِ شرط او که فعلِ شرط؟

جواب: دلته دواړه مراد بدلای سي.

۱: **فعل شرط:** په دغه صورت کي دغه قيد "او شرط" راجع و حکم ته دي. لکه "إنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ"

سوال: په دغه صورت کي حرفِ شرط ولي مراد بدلای نه سي؟

جواب: دغه جمله شرطيه ده، او په جمله شرطيه کي حکم په جزاء کي وي، که چيرې حرفِ شرط مراد سي نو دغه حرفِ شرط به حکم چې په جزاء کي دي قيد لپاره د بل و ګرزوي (ځکه د حرف شرط دغه دنده ده چې دي و کوم شي ته متوجه وي هغه قيد د بل لپاره ګرزوي)، او حال داچې حکم قيد د چا لپاره نه ګرزي، بلکه د حکم لپاره قيود راځي.

عنوان آخر: دلته حرفِ شرط مراد بدلای نه سي، ځکه حرفِ شرط يو شي د بل سره معلق کوي، او حکم "کوم چې عبارت د ثبوت څخه دي" تعليق (معلق کونه) نه قبلوي، نو بيا د حکم مقيد کونه په حرفِ شرط سره ممکن نه ده. ځکه اداتو د شرط مدلول تعليق دي، او دغه حکم په فعلِ شرط سره دا ډول مقيد کېدای سي چې دغه ثبوت ملګري د معني سره د فعلِ شرط سي. د مثال په توګه "ان ضربتُ ضربتُ" که چيرې تا وهنه وکړه نو زه به هم وهنه ترسره کړم. او س دلته د متکلم د وهني ثبوت ملګري د وهني سره د مخاطب دي.

۲: **حرفِ شرط:** په دغه صورت کې مراد مسند دی نه حکم، ځکه په جمله شرطیه کې شرط چې مسند وی، قید لپاره د جزاء وی، او دغه قیدیت یې په حرفِ شرط سره ثابتیږی. په دغه وجه د حرفِ شرط د مرادولو په صورت کې مسند مراد سو نه حکم.

عنوانِ آخر: په دغه صورت کې مراد دلته مسند دی، ځکه د مسند مدلول هم معلق دی "حصول بعد ان لم یکن" یعنې تر عدمِ حصول ورسته راتلل، نو پر معلق شي هغه حروف راتلای سي کوم چې د تعلیق لپاره وی د مثال په توګه "ان ضربتَ ضربتُ" یعنې د متکلم وهنه تر وهنه د مخاطب معلقَ ده.

حاشیه نمبر۱۳:

سوال: مخکې دا خبره تر سره سوه چې دغه اعتبار او مقتضي الحال به خاص به تر اجزاؤ پورې د یو جمله وی، او یا به خاص تر اجزاؤ دوو جملو وی. او یا به خاص تر یوه پورې هم نه وی، نو اوس په دغه عبارت کې "فمقام کلم من التنکیر الخ" و کوم یوه ته اشاره ده؟

جواب: "فمقام کل من التنکیر الخ" په دغه سره و اول ته اشاره ده یعنې هغه مقتضي الحال کوم چې خاص تر اجزاء پورې د یوې جمله وی. او په دې عبارت کې "و مقام الفصل یاتی مقام الوصل" بیا اشاره و دوم ته دې یعنې هغه مقتضي الحال چې خاص تر اجزاؤ پورې دوو جملویا زیات تر دوو پورې وی. او په دې عبارت کې "و مقام الایجاز الخ" بیا اشاره و دریم ته ده یعنې هغه مقتضي الحال کوم چې خاص تر یوه پورې نه وي (یعنې نه تر اجزاؤ پورې د یوې جملې او نه تر اجزاؤ پورې دوو یا زیات تر دوو جملو پورې).

سوال: فاء په دغه عبارت کې د مصنف "فمقام کل من التنکیر الخ" د څه لپاره ده؟

جواب: په دغه کې دوه احتمالَ وجود لري. ۱: دغه فاء تفصیلیه ده، ځکه مخکې اجمال دادول ذکر سوه چې مقتضَي د حال دغه درې حالَ لری. ۱: خاص تر اجزاؤ پورې د یوې جمله وي. ۲: خاص تر اجزاؤ پورې دوو یا زیات تر دوو پورې. ۳: او یا به دغه یو لا هم نه وی. لهذا دغه اجمالاً ذکر د مقتضي الحال دی. ورسته تر دې مصنف رحمه الله د دغه بیان او تفصیل په دې دغه ذکر سوی قول "فمقام کل من التنکیر الخ" سره بیان کړي. ځرنګه هغه فاء چې پر تفصیل داخلَ سوې وي هغه تفصیلیه وی نو دغه فاء هم لپاره د تفصیل ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲: دغه فاء تعلیله ده. اصل مخکې دا خبره بیان سوه چې مقتضي الحال دغه دې قسمه لرې نو ددغه خبرې د علت او دلیل د بنوونې لپاره مصنف رحمه الله و فرمایل: "فمقام کل من النکیر" یعنې ځکه مقام د هر یوه د تنکیر، اطلاق او تقدیم او ذکر مباین وی الخ. څرنګه پر علت داخل سوې فاء تعلیله وی نو دغه فاء هم تعلیلیه ده.

حاشیه نمبر ۱۴:

سوال: ددې قول ځخه "بباین مقام حلافه" متبادره راجع والې د ضمیر د "حلافه" و کل ته دی. نو معنې د عبارت دا جوړیږي "هر یو د تنکیر، اطلاق، تقدیم او د ذکر مباین د مقام سره د خلاف د هر یوه دی". او دغه معنې فاسده ده. ځکه مقام د تنکیر مباین د خلاف سره د خپل ځان "تنکیر" دی. او مباین د مقام سره د "خلاف غیره" (هر هغه څوک چې پرته د تنکیر وی) نه دی. ځکه د هغو شیانو ځخه چې په هغه "خلاف غیره" د تنکیر صادقیږي په خپله یو تنکیر هم دی، هغه دادول چې(۱) "تنکیر" مباین د مقام سره د خلاف د هر یوه د "اطلاق، تقدیم او ذکر" هم دی. او د(۲) "اطلاق، التقدیم، الذکر" خلاف یو "تنکیر" هم دی. (ځکه تنکیر خو یو لا هم ددغه درو ځخه نه دی بلکه پرته ددوی یو بل شي دی، لهذا تنکیر خلاف ددغه درو دی). (۲) نو تنکیر خلاف د "تنکیر" هم دی. لهذا خلاف د شي د خپل ځان ځخه راغله او دغه خبره باطل ده؟

جواب: مصنف په خپل دغه عبارت کې تسامح ترسره کړیده. اصل عبارت دادول وو "بباین خلاف نفسه". بیا مصنف د یوې نکتې په خاطر په عبارت کې تسامح وکړه. او د "خلاف نفسه" ځخه یې تعبیر په "خلاف کل واحد منها" سره ترسره کړې.

سوال: نکته په تسامح ترسره کولو کې څه ده؟

جواب: هغه نکته اشاره کول و دې خبره ته ده چې ضمیر و هر یوه ته ددغه څلورو راجع دی. او دغه راجع والې په طریقه د جمعوالې نه دی. بلکه په طریقه د بدلیت دی. (شرح الدماني ۲۱۸/ج۲)

حاشیه نمبر ۱۵:

سوال: شارح رحمه الله دلته ولې د علامه سکاکي "و قد اشار في المفتاح" خبره ذکر کړه؟

جواب: پر بعضو شارحینو باندې مطلب ددغه عبارت خفي سوی وو. لهذا دلته شارح ددغه عبارت د مراد د بنوونه لپاره ذکر کړې. والله اعلم بالصواب.

حاشیه نمبر ۱۶:

سوال: دغه عبارت د شارح "قد اشار فی المفتاح" جواب د یو سوال مقدر دی، تقریر د سوال دادی چې تلخیص مأخوذ د مفتاح څخه دی او په مفتاح کې دغه خبره "و مقام الایجاز یباین مقام حلاقه" ذکر سوې نه ده، او حال دا چې دلته صاحب التلخیص ذکر کړېده، نو دغه مخالفت د اصل څخه دی؟

جواب: صاحب المفتاح دغه خبره ذکر کړېده. لهذا دغه مخالفت د اصل څخه نه سو.

حاشیه نمبر ۱۷:

سوال: مصنف رحمه الله دغه عبارت "و کذا خطاب الذکي مع خطاب الغبي" په لفظ سره د "کذا" د مخکنې عبارت څخه ولې جلا کړې، او پر هغه یې بیله دغه لفظ "کذا" عطف کول تر سره نه کړه؟

جواب: مصنف رحمه الله په دغه سره اشاره و فرق ته تر مینځ د مخکنې او ددغه اوسنې ذکر سوې کلام و کړه، هغه فرق دادی چې مخکنې خبرې په اعتبار د خپل کلام وې. ځکه مخکې تنکیر، ذکر، تقدیم، فصل وصل، ایجاز ، اطناب وغیره" ذکر سوه. او هغه ټوله په خپله په کلام کې تر سره کیږی نه په بل څه کې .لهذا هغه مخکنې مقامات په اعتبار د کلام وه. او دغه اوسنې ذکر سوې خبره "خطاب الذکي الخ" په خپله په کلام کې نه تر سره کیږی بلکه دغه په اعتبار د مخاطب تر سره کیږی.نو دغه مقام په اعتبار د مخاطب دی. ځرنګه کلام پرته د مخاطب څخه دی په دغه وجه هغه مقام چې په اعتبار د کلام وی پرته د هغه مقام څخه دی کوم چې په اعتبار د مخاطب وی. په دغه وجه مصنف رحمه الله دغه اوسنې ذکر سوی کلام یې د مخکنې څخه جلا کړې.

سوال: دغه عبارت د مصنف رحمه الله " خطاب الذکي الخ" دلته صحی نه ده، ځکه زمونږ بحث په مقتضي کې د حال دی، نه په خطاب کې. او مقتضي د حال نوم د خطاب نه دی بلکه نوم د یو خصوصیت معتبره په کلام کې دی. لهذا دغه ذکر کونه د بحث څخه وتنه ده کوم چې صحت نه لری؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دلته "خطاب" مصدر په خپله معني مصدري سره مراد نه دی بلکه دغه په معني سره د مفعول دی" الذی خوطب به" هغه شي چې په هغه سره مخاطب ته خطاب ترسره کیږی. او دغه پرته د کلام بل څه نه دی. لهذا د خطاب څخه کلام مراد دی.

سوال: د "خطاب" اضافت پر کوم بنیاد و "ذکي او غبي "ته ترسره سوی دی؟

جواب: دغه اضافت بناء بر دې دی چې د دغه کلام او د مخاطب ترمینځ یو قسم د تعلق وجود لری. هغه دا دول چې دغه کلام و مخاطب ته وړاندی کیږی. نو د دغه تعلق در لولو پر بنیاد دغه اضافت ترسره سو.

حاشیه نمبر ۱۸:

سوال: مصنف دلته "الانسب" ولې ووایي؟

جواب: ځکه د ذکي استعمل پر ځای د فطین ممنوع نه دی بلکه دوی یو د بل پر ځای استعما لیږی. البته صراحتاً دده ذکر کونه غوره وه. نو په دغه وجه یې انسب ووایي.

سوال: د فطین او ذکي ترمینځ عموم و خصوص وجود لری، په دغه وجه د یوه استعمال د هغه بل پر ځای رائي نو په دغه وجه شارح " الانسب "ووایي؟

جواب: دغه خبره باطل ده چې د فطین او ذکي ترمینځ عموم و خصوص وجود لری، بلکه د فطین او ذکي ترمینځ تباین وجود لری، ځکه ذکاوت په اعتبار د خپل فکر او رأی وی. او فطانت په اعتبار د بل د کلام وی چې د هغه کلام فهمونه ده. څرنګه خپله رأی د بل د کلام څخه مباین شي د، دغه دول خپل رأی متصوره کول د بل د کلام د فهمونې څخه جلا او د هغه میابن شي دی. لهذا د انسبیت هغه وجه ده کوم چې ما درته وښوول.

حاشیه نمبر ۱۹:

﴿فائده﴾: دلته دري دول عبارتونه دي. ۱: "خطاب الذکي مع خطاب الغبي". ۲: "خطاب الذکي مع خطاب البليد". ۳: "خطاب الفطين مع خطاب الغبي". اول مصنف رحمه الله ویلي دي. شارح وویل چې د دوم وښاتر اولي وښا مناسب ده. ځکه په دغه عبارت کې غبي راغلي دی او د غبي مقابل فطین دی نو مقابله به د فطین او غبي تر مینځ تام سوې وای. اوس بیا سائل دا سوال کوی چې تا وویل چې د مقابله د تمامیت لپاره د ذکي پر ځای فطین ویلي وای نو دغه مناسب وو، نو دی

وايي چې د مقابلې د تمامیت لپاره دا صورت هم خپلې دای سي چې ذکي پر خپل ځای پاته سي مګر د غبي پر ځای بلید وویل سي، ځکه بلید او ذکي سره مقابل دي،(ځکه هغه قوت کوم چې د افکارو د پیدا کولو او ترلاسه کولو لپاره جور سوی دی دغه به یا تیز او یا به کمزوری وی، که چیری تیز وی نو دغه ته ذکاوت ویل کیږي او که چیری کمزوری وی نو دغه ته بلید ویل کیږي)؟

جواب: دلته دوه شیان دي. ۱: ذکاوت، ۲: فطانت. اول په اعتبار د خپل افکارو دی، او دوم په اعتبار د بل د کلام د فهمولو دی. ځرنګه دلته دغه مقام په اعتبار د مخاطب والي دی نو د مخاطب والي په صورت کي فهمونه د بل د کلام راځي، په دغه وجه شارح وویل چې د فطینۍ وښاتر ذکي تر وښا غوره ده، ځکه ذکاوت په اعتبار د مخاطب والي نه بلکه په اعتبار د خپل ځان دی، ځرنګه د ذکي په وښا کي د مخاطب دومره صفتیت نه راتلي لکه د فطین د وینا په صورت کي په دغه وجه شارح وویل چې فطین وښا تر ذکي د وینا مناسب دی.

صفحه نمبر ۲۸:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

فقابل النبي هو الفطن ولكل كلام مع صاحبها اي مع كل نوع من انواعه ومع كل فرد من افراده مقام ابلغ
لما مر ثانيا واما قولنا الصالحة فلأن المعتبر هو المعنى المتعلق بالفعل الذي هو فعل المتكلم بالشرط طبعا
مع كل مؤد وان الشرط مقام البلاغ مع الآخر والكلام وان دل بالشرط على الامور الماضية
مقام البلاغ مع المضارع وكذا كلمات الاستفهام والمسند اليه كزيد مثلا كالمسند
المعرف باللام او غيرها اما صريحا او مضمرا مقام ومع الجملة الاسمية والفعلية والشرطية
او الظرفية مقام اخر والمقصود بالصاحبة الكلام المخصوص اولا وفي حكمها واستالة
للمسند اليه مقام ومع الفعل مقام اخر الى غير ذلك هكذا ينبغي ان يتعهد هذا القبيل
فيجيء ما ذكرنا من ان لكل من الانشاء والاخبار والاطناب والمساواة والايجاز مقاما
وما يقتضي شانا ان الكلام في الحسن والقبول بحسب اعتبار الكلام للاعتبار المناسب ومخالفه
اي مطابقه شانا نزل عليها اي بعد ما طابق الكلام للاعتبار المناسب المراد بالاعتبار
المناسب الامر الذي اعتبره المتكلم مناسبا حال التبليغ اي حسب تلبس خواص تراكيب
الكلام بالاعتبار الذي اشرنا اليه فانظر الى ابعاد هذا الاعتبار في المعنى
اولا وفي اللفظ ثانيا وفي المرض وارد بالكلام الكلام الفصيح لكونه ثالثا
الى ما سيوافيك ان شاء الله تعالى وارد بالحسن الحسن الذاتي الداخل في البلاغة دون
العرضي الخارج لان الكلام قد يتصف بالحسن باللفظ بالمعنى بتركيبهما خارج عن حد
البلاغة فمقتضى الحال هو الاعتبار المناسب المذكور والمقام كالتأكيد والاطلاق و
نحوهما على ما عرفته آنفا وسيصرح بلفظ المقتضى وستسمع لهذا زيادة تحقيق ان شاء الله تعالى
الفاء في قوله فمقتضى الحال لبيان على ان تعريف ما تقدم وتبيين ذلك
ان قولهم ما تقدم اذا تقدم شانا ان الكلام الفصيح بمطابقته للاعتبار المناسب يجب
لان ما تقدم المصنف عند الحصر كما يقال ضرب زيدا في الدار ومعلوم ان الكلام انما
يتصف بالبلاغة وهي مطابقة الكلام الفصيح لمقتضى الحال فحصل ههنا مقدمتان
احداهما ان للبلاغة الكلام الأبلغ مطابقة للاعتبار المناسب الثانية ان لكل واحد
الأبلغ مقتضى الحال فيجب ان يكون المراد بالاعتبار المناسب مقتضى الحال
واحدا والا لبطل الحصر ولا كلاهما وغيرهما نظر وهذا بعض تطبيق الكلام لمقتضى
الحال هو الذي يدقق النظر عنه الفاضل حيث يقول النظم هو توخي معاني النحو
فيما بين الكلام على حسب الاغراض التي يصاغ لها الكلام وذلك لانه كما ذكر دون مواضع
من كتاب ليس النظم الا ان يضع كلامه المرضع الذي يقتضيه علم النحو ويتحفظ على
قوانينه وتحرس ان تزيغ عنها ولا تخل بشيء منها الى آخر ما مثل به من قوله
وقد ينطلق زيد وقد ينطلق وقد ينطلق زيد وقد ينطلق زيد وقد ينطلق وكذا في
الشرط والجزاء نحو ان تخرج اخرج وان خرجت خرجت فان تخرج فانا خارج الى غير ذلك
فان الحال يختلف من تقديم شيء او تأخيره او ذكره او حذفه او تعريف المسند او تنكيره لكل

﴿هره کلمه چې د بلې کلمې سره یوخای اوملګرې سي﴾ ددې لپاره یوداسې مقام وی کوم چې هغه کلمې لره نسته کوم چې ددغه کلمې سره په اصل معنې کې شریکه وی. د مثال په توګه هغه فعل لره "د کوم چې د شرط سره یو ځای والي قصد سوی وی" په ملګرتیا د یوه د حروف شرطیو یو مقام وی کوم چې دغه فعل لره په ملګرتیا د هغه بل حرف شرط نه وی. و هر یوه لره د حروفو شرطیو مثلاً په ملګرتیا د ماضي یومقام لری کوم چې په ملګرتیا د مضارع بیا نه لری. او دغه دول کلماتي استفهامیه اومسند الیه، د مثال په توګه لکه زید د مثال په توګه ده لره د مسندی مفرد په ملګرتیا عام تر دې هغه اسم، فعل ماضي او که مضارع وی یو مقام لری، او سره د جملې عام تردې دغه اسمیه، فعلیه، شرطیه او که ظرفیه وی بیا یوبل مقام لری. ځکه مراد په "صاحبه" سره کلمه حقیقیه او یا هغه څه ده کوم چې د حقیقیه په حکم کې وی. دغه دول سره د مسند سببي یومقام اوسره د فعلي بیا بل مقام لری، اودغه دول نور. او دغه دول ددغه مقام تصور و کړل سي. لهذا ټوله هغه شیان کوم چې تقدیم، تأخیر، اطلاق او تقیید دغه دول نور دغه مناسب اعتبارات دي.﴿ اوچتوالي د شان د کلام په حسن او قبولیت کې په مطابقت سره د کلام د اعتبار مناسب سره تر لاسه کیږی. او کښته والي د کلام په عدي مطابقت سره د کلام د اعتباری مناسب سره راځي﴾. اومراد په امری مناسب سره هغه شي دی کوم چې متکلم مناسب د مقام سره معتبر کړی وی په اعتبار سره د خدائی سلیقې او یا د بلغاؤ په کلام کې د تتبع تر سره کوي. او ویل کیږی "اعتبرت الشیء" څه وخت چې ته په هغه کې نظر تر سره کړې، او ته د هغه د حال اعتبار وکړې. او ددغه خصوصیت اعتبار کونه په معنې کې اولاً و بالذات تر سره کیږی، او په لفظ کې ثانیاً تر سره کیږی. او د کلام څخه مراد کلامي فصیح دی. ځکه دغه و مخکښې ته اشاره ده. ځکه غیر فصیح اوچت والي نه لری. او مراد د حسن څخه هغه ذاتي ښه والي دی کوم چې داخل په بلاغت کې دی. نه هغه عرضي چې خارج د کلام څخه دی. ځکه کلام کله کله په لفظي اومعنوی محسناتو سره اوچته کړزی. مګر دغه عرضیات د حد څخه د بلاغت وتلي دي.﴿نو مقتضي د حال هغه اعتبار دی کوم چې مناسبه د حال او مقام سره وی﴾ لکه تأکید او اطلاق او پرته ددوی کوم چې مور شمېرلي دي. اوپه دغه سره لفظ د مفتاح هم تصریح کړې ده. او ته به ددغه مزید تحقیق واوري. او فاء په "فمقتضي الحال" کې دلالت په دې کوی چې دغه تفریع په هغه مخکښې خبرې ده او د هغه نتیجه ده. او ددغه بیان دادی چې په تحقیق سره د مخکښې کلام څخه دامعلومه سوه چې لور

Maktaba Tul Ishaat.com

والي د شان د کلامي فصيح په مطابقت سره د کلام د اعتبار مناسب سره راځي، نه په بل څه سره. څکه د مسند اضافت حصر فائده کوي. لکه ويل کيږي زما وهنه زيد لره په کور کي. او دغه معلومه خبره ده چې کلام په بلاغت سره او چته ګرزي. او بلاغت د فصيح کلام د مقتضي الحال سره مطابقت دی. نو دلته دوي مقدمې تر لاسه سوي. ۱: د کلام ارتفاع محض په مطابقت سره د کلام د امری مناسب سره ده. ۲: د کلام ارتفاع محض په مطابقت سره د کلام د مقتضي الحال سره ده. نو دا معلومه سوه چې په مقتضي الحال او امر مناسب سره يو شي مراد دی. که چيرې يو شي مراد نه سي نو يو د حصر ينو څخه يا دواړه به باطل سي. او په دغه کي نظر دی. او دغه يعني مطابقت د کلام د مقتضي الحال سره هغه دی کوم چې شيخ عبدالقاهر په نظم سره مسمي کړی دي، دا ډول دی فرمايي: نظم طلبول د نحوی "علم المعاني" د معناګانو په مينځ کی د کلمو په اعتبار د هغه اغراضو ده د کوم لپاره چې تشکيل د کلام ترسره کيږی. څکه دغه په دې وجه سره دی چې ده په خپل کتاب کي څو ځايه داوينا ترسره کړ بده چې نظم دادی چې ته خپل کلام هغه ځای کښېږدې چيرې چې دهغه هيښول د علم المعاني قانون طلبوی. او ته د هغه د قوانينو موافق عمل ترسره کړې. د مثال په توګه ته د خبر و مختلفي اقسامو ته کتنه وکړه د مثال په توګه "زيد منطلق، زيد ينطلق، ينطلق زيد. زيد ن المنطلق، المنطلق زيد، زيد هو المنطلق، زيد هو منطلق". دغه ډول په شرط او جزاء کي د مثال په توګه" ان تخرج اخرج، ان خرجتَ خرجتُ، ان تخرج فانا خارج"، او دغه ډول نور. او دغه ډول و حال ته هم کتنه ترسره کړه د مثال په توګه "جاني زيد مسرعا، جاني زيد يسرع، جاني زيد هو مسرع، جاني زيد هو يسرع، جاني زيد قد اسرع". ته به د هريوه ځای وپيژني. او ته به په هر يوه سره په هغه ځای کي راوړې کوم چې ورسره مناسبه دی.

تشريح

صوحبت: مصاحبت څخه دی ملګرتيا. صاحبَ يُصاحِب ، مُصاحَبةً ومِصاحَبًا ، فهو مُصاحِب ، والمفعول مُصاحَب صاحب ابله : رافَقَهُ ، لأزَمَهُ ، غادَرَهُ صاحبتِ القضيةُ ملابساتٌ عديدةٌ : احاطت بها.

مسند سببي: هر هغه جمله چې د اخبر سره د عائده واقع سوې وي او دغه عائد په دغه جمله کي مسند اليه نه وی. مسندفعلي: دغه د مسند سببي مقابل دی. ارتفاع: لوړوالي. انحطاط: کښته والي انحطَّ / الحطُّ إلى / الحطُّ لا ينحطّ ، انْحَطِطْ / انْحَطَّ ، الحطاطًا ، فهو منحطّ ، والمفعول مُنْحَطٌّ إليه انْحَطَّ : نزل وانحدر ،انْحَطَّتِ السِّلَعُ : قَلَتْ ،انْحَطَّ السِّعْرُ : انْخفض ، هَبَطَ ، رَخُصَ.

بحسب سليقه،په اعتبار سره د طبعيت. سَمسَمع:ته به ژر واوري. سمِع / سمع إلى / سمِعَ لـ يَسمع ، سماعاً وسَمْعاً ، فهو سامع وسميع والجمع : سُمّاع ، وسَمَعَة وهو سُمّاعٌ ، وهي سامعةٌ ، وسُمّاعةٌ ، والمفعول مَسْموع سمِع الصَّوْت : أدركه بحاسّة الأذن سَمِعَ الخَبَرَ : عَلِمَ بِهِ ، تَلَقّاهُ.

نوعي: طلبول او د دلته وضعه کونه مراد ده. نوعي يَنوعّي ، نَوعْ ، نَوعْيَ ، فهو مُنَوعْ ، والمفعول مُنَوعّي نَوَّعَي عَلَيْهِ : نَظَّمَها ، رَغَّبَ فِيها ، فَضَّلَها نَوعّي رِضاهُ : تَحَرَّاهُ /// توخي . [تَ وَخ اخي] (ع مص) جُستن . (روزني). صواب جستن . (منتهى الارب) (آنندراج) (ناظم الاطباء) (از اقرب الموارد). تحرى . تطلب . طلب افضل در خير . راى صواب ترين جستن . (يادداشت بخط مرحوم دهخدا) : به شرايط موافقت و مصادقت در تحرى مراضى و توخى مطالب و مباغى آن حضرت قيام نمودى . (ترجمه ظ تاريخ يميني چ 1 تهران ص 47). ا ا خشنودى خواستن .(منتهى الارب) (آنندراج) (ناظم الاطباء). ا ا قصد كردن . (آنندراج) (يادداشت بخط مرحوم دهخدا).

معاني النحو: هغه معاګاني چې په علم النحو کې ذکر کيږي.

يصاغ: مرکبونه. صاغَ يَصُوغُ ، صُغْ ، صَوْغاً وصِياغةً ، فهو صائغ ، والمفعول مَصُوغ صاغَ الكَلِمَةَ : أَخْرَجَهَا وَاشْتَقَّهَا عَلَى هَيْئَةٍ مَنْظُومَةٍ يَصُوغُ أَفْكَارَهُ بِأُسْلُوبٍ جَمِيلٍ : يُكَوِّنُهَا ، يُنَسِّقُهَا ، يُرَتِّبُهَا صَاغَ لَهُ الشَّرَابَ : ساغ ، كَانَ سَهْلاً هَنِيئاً فِي الْحَلْقِ صَاغَ الْمَاءُ : رَسَبَ وَسَفَطَ فِي الأَرْضِ صاغَ الشَّيْءَ : صنعه على مثال مُعَيَّن صاغَ المعدِنَ : سَبَكه ، أذابه وصبّه في قالب صاغه اللهُ : خلقه.

منطلق: تلونکي، تګ کونکي. انطلقَ / انطلقَ في / انطلقَ لـ يَنطلِق ، انطلاقًا ، فهو مُنطلِق ، والمفعول مُنطَلَقٌ فيه :- • انطلق العصفورُ تحرّر وصار طَلْقًا :- انطلق من قُيودِه :- • انطلق لسانُه : تكلّم من غير تعثُّر ، – انطلق وجهه : تهلّل وأشرق . • انطلق القطارُ : ذهب بسرعة :- انطلق إلى بيته ، – انطلقت السَّيّارة :-؟ انطلق يفعل كذا : أخذ يفعل كذا . • انطُلِق بطْنُه : أصيب بإسهال . • انطلق في الكلام : تدفق في الحديث دون تعثر . • انطلقت نَفْسُه للأمر : اشرحت :- انطلقت نفسُه للمذاكرة ./// منطلق . [مُ طَ لِ] (ع ص) رهاشده و آزادشده . (ناظم الاطباء). – منطلق شدن ؛ آزاد شدن . رها شدن : فصحا را بر نطق تو چنان تخم كدو منطلق مى نشود تيغ زبانها ز غلاف . كمال الدين اسماعيل (ديوان چ بحرالعلومى ص 372). ا ا اجازت داده شده . ا ا رفته و روانه شده . (ناظم الاطباء). رونده . (يادداشت مرحوم دهخدا) (از اقرب الموارد). ا ا گشاده شده روى و داراى بشاشت و شادمان و خوشحال . ج.، مطالق . (ناظم الاطباء). گشاده روى . پيدا بشاشت . (يادداشت مرحوم دهخدا). رجوع به انطلاق شود. ا ا داراى طلاقت . داراى شيوايى بيان . رسا و روان در گويايى : لاجرم دلهاى عالميان به هواى ولاى اين حضرت منطق است و زبانهاى جهانيان به ثنا و دعاى اين دولت منطلق . (لباب الالباب چ نفيسى ص 17).

سوال: مقصد د مصنف دد غه کلام څخه «و لکل کلمة مع صاحبتها» څه دی؟

جواب: مقصد د مصنف دمخکني کلام څخه پرمخ ترڅې کونه ده، ځکه څه وخت چې مصنف دا خبره ذکر کړه چې مقامات د کلام مختلف دي نو د کلام څخه يې و کلمې ته ترڅې دا ډول وکړه چې د کلام د اجزاؤ څخه د هرې کلمې لپاره څه وخت چې دا د بلې کلمې سره ملګرې سي يو داسي مقام وی چې دغه پرته د هغه مقام څخه وی چې دغه کلمه د يوې بلې سره يو ځای

Maktaba Tul Ishaat.com

سي. اوس خلاصه د دغه خبرې دا ده چې هره کلمه په ملګرتیا د بلې کلمه یو داسې مقام لري کوم چې مباین د هغه مقام سره وي کوم چې دغې کلمې لره په ملګرتیا د بلې کلمه «ماسوی د اولې څخه» وي. په داسې حال کې چې دغه دواړه ملګري په اصل معنې کې سره شریک وي.

مثال: فعل یوه کلمه ده، متکلم په دغه د حرفي شرط داخلونه غواړي. او کلمه شرط "ان" او دغه دوول "اذا" هم ده. لهذا "ان" هم د فعل او "اذا" هم د فعل سره ملګري کیږي. او دوی دواړه په اصلي معنې کې "چې شرطیت دی" سره شریکان دي. مګر د دغه سره سره د "ان" په ملګرتیا فعل لره چې کوم مقام دی هغه مقام فعل ته سره د "اذا" حاصل نه دی. لهذا فعل سره د "ان" مباین د فعل سره د "اذا" دی. ځکه "ان" د شک او "اذا" د یقین لپاره استعمالیږي. او دغه دوول د حروفو شرطیو څخه چې په ملګرتیا د ماضي کوم مقام وي هغه بیا په ملګرتیا د مضارع نه وي. که څه هم ماضي او مضارع په حدث او زمانه باندې په دلالت کولو کې سره شریکان دي. څرنګه چې ماضي په تېره سوې زمانه دلالت کوي، او مضارع په راتلونکې زمانه دلالت کوي په دغه وجه د دواړو کلمو د مقاماتو تر مینځ فرق وجود لري.

او دغه دوول د کلماتي استفهامیو حال دي دادوول چې فعل لره په ملګرتیا د "هل" کوم مقام وي ،هغه بیا فعل لره په ملګرتیا د همزه استفهامیه نه وي.

او دغه دوول مسند الیه لره هم مختلف مقامونه وجود لري، دادول چې ده لره په ملګرتیا د مسند مفرد «عام تردي اسم، یا فعل وي، او دغه دوول دغه فعل ماضي او که مضارع وي» کوم مقام وي هغه ده لره په ملګرتیا د جمله «عام تردي دغه اسمیه، فعلیه، شرطیه او که ظرفیه وي» حاصل نه وي.

سوال: دغه وینا "مع الاسمیة و الفعلیة الخ" صحت نه لري، ځکه زمونږ خبره د کلمه د کلمه سره په یو ځای والي کې ده نه د جمله سره، نو مثال د ممثل سره برابر نه سو، ځکه ممثل کلمه او مثال جمله ده؟

جواب: کلمه عامه ده حقیقي وي لکه کلمه مفرده، او که حکمي وي لکه هغه جمله چې خبر لپاره د مبتدأ واقع سوې وي، نو دغه جمله په دغه وخت کې په حکم کې د مفرد وي. اوس د عبارت معنې داسوه: کلمه د بلې کلمې سره ملګري سي عام تردي دغه کلمه حقیقي او که حکمي وي لکه جمله اسمیه، او نور. نو اوس مثال او ممثل سره برابر سوه.

و ارتفاع الشان: **سوال**: ددغه عبارت څخه مقصد د مصنف څه دی؟

جواب: مصنف دلته دا ښئي چي د بلاغت لپاره متعددي مراتبي وجود لري. او بعضي ددوی څخه لوړي ترنورو بعضو دي. ورسته تردي دی بیا د لوړو مرتبو او کښتو ښوونه کوي.

و المراد بالاعتبار المناسب: **سوال**: دمصنف دا وینا "مطابقة الكلام للاعتبار المناسب" صحت نه لري، ځکه مطابقت ومشتمل والي ته د کلام ویل کیږی، معني د عبارت داجوړیږی: دغه کلام مشتمل په دغه اعتبار وی. او حال دا چي کلام په اعتبار مشتمله نه وی، ځکه اعتبار کوم شي نه دی بلکه یوه معني مصدری ده، او معني مصدری مقتضي د حال نه سي کېدای لکه تا چي دغه خبره مخکي وپیژندل؟

جواب: دلته اعتبار په معني مصدری سره مراد نه دی بلکه په معني سره د مفعول دی یعني معتبر، هغه مناسب شي چي متکلم معتبر کړی وی، او په دې کي شک نسته چي کلام په دغه مشتمله وی نو اوس معني د کلام صحت پیدا کړي.

و ارتفاع شان الكلام الفصيح: **سوال**: د مصنف دا وینا "ارتفاع شان الكلام في الحسن و القبول" صحت نه لري، ځکه ددغه کلام څخه دا معلومیږی چي حسن او قبول کلام ته هغه وخت تر لاسه کیږی اځه وخت چي دغه کلام مشتمل په مناسب معتبر شي وی، او حال دا چي دغه خبره غلطه ده، ځکه حسن او قبولیت په نفسِ مطابقت سره نه تر لاسه کیږی بلکه په کمال سره د مطابقت تر لاسه کیږی. لهذا په نفسي مطابقت سره کلام بلیغ جوړ سي او په کمال سره یې بیا حسن او قبولیت زیات سي؟

جواب: دلته په دې عبارت کي د مصنف «ارتفاع شان الكلام» مطلقي کلام مراد نه دی، بلکه هغه کلام مراد دی کوم چي فصیح وی، اوس دغه کلام لره حسن په فصاحت سره ثابت دی او اوچت والي یې په حسن کي په مطابقت سره تر لاسه سي. نو اوس خبره صحت پیدا کړي.

اراد بالحسن: **سوال**: د مصنف دا کلام "ارتفاع شان الكلام في الحسن" تام نه دی، ځکه ددغه څخه حصر ددې خبری معلومیږی چي اوچت والي د کلام حصر په مطابقت کي دی، او حال دا چي اوچت والي لکه څرنګه په مطابقت سره تر لاسه کیږی دغه ډول په محسناتي لفظیو او معنویو (محسناتي بدیعیه) سره هم تر لاسه کیږی نو اوس دغه حصر صحت پیدا نه کړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: حسن په دو قسمه دی. ۱: ذاتي کوم چې په بلاغت سره تر لاسه کیږی.
۲: عرضي کوم چې په محسناتي لفظیو او معنویو سره تر لاسه کیږی. دلته مراد حسني ذاتي دی نه عرضي، او حسن ذاتي په مطابقت سره تر لاسه کیږی، او دغه حصر په مطابقت کي دی او دغه په بل څه سره نه تر لاسه کیږی.

سوال: دا خبره "انه قد علم مما تقدم ان ارتفاع الشان" صحت نه لری، ځکه دغه حصر «چې ارتفاع محض په مطابقت سره تر لاسه کیږی» د مخکني کلام څخه د مصنف نه معلومیږی. بلکه د مخکني کلام څخه محض دا خبره معلومیږی چې ارتفاع په مطابقت سره تر لاسه کیږی، پاته دا خبره چې په پرته دده په بل څه حاصلیږی او که نه، د دغه په هکله هیڅ یوه خبره نسته؟

جواب: دغه حصر د مصنف د مخکني کلام څخه معلومیږی داډول چې ده مصدر (ارتفاع) مضاف و خپل ما بعد ته دی، او د اضافت څخه د مصدر و ما بعد ته (څه وخت چې په تخصیص باندی قرینه وجود نه لری) لپاره د استغراق وی «علامه رضي ویلي دي چې اسم جنس د کوم صادقوالي په لږو او ډیرو باندی کیږی د مفرد په صورت کي استعمال سي نو هلته استغراق فائده کوی په دي شرط چې قرینه په تخصیص وجود و نه وی». نو معني د کلام د مصنف دا سوه چې ارتفاع د هر کلام په مطابقت سره تر لاسه کیږی. نو دلته حصر معلوم سو.

﴿فائده﴾: "ضربي زيد في الدار": ددي مطلب دا دی چې زما هره وهنه کومه چې په زید تر سره سو بده دغه محض په کور کي تر سره سو بده نه په بل ځای کي.

سوال: "ومعلوم ان الكلام": د مصنف د مخکني کلام څخه دا خبره معلومه سوه چې ارتفاع د شان د کلام په مطابقت سره د امری مناسب راځي، او دا خبره د علماؤ تر مینځ مشهوره ده چې ارتفاع د کلام محض په بلاغت سره تر لاسه کیږی. او بلاغت مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال دی. نو خلاصه دا سوه چې د مصنف د کلام څخه دا معلومه سوه چې ارتفاع د شان د کلام په مطابقت سره د امری مناسب ده، او د نورو علماؤ د کلامونو څخه دا معلومه سوه چې ارتفاع په مطابقت سره د مقتضي الحال ده، نو اوس دده وی په کلامونو کي تضاد راغلي دی وه څخه مطابقت د امری مناسب او د بله څخه مطابقت د مقتضي الحال معلومیږی؟

جواب: مقتضي الحال او امری مناسب سره یو شي دی، (ځکه که چیری یو نه سي نو اوس به دځوحالو څخه خالي نه وی.

۱: هستاين به وی نو په دغه صورت کي به دواړه حصرونه باطل سي، او دغه خبره باطله ده.
۲: که چيرې دډوی تر مينځ عموم و خصوص من وجه وی نو په دغه صورت کي بيا به هم دغه دواړه حصرونه باطل و ګرزی، ځکه د عموم و خصوص من وجه په صورت کي د ري ډلي وي. په يوه ځای دواړه صادقيږی او په دوو خايونو کي يو بېله هغه بله صادقيږی، نو اوس چې کوم ځای يو صادق سي هغه بل صادق نه سي نوهلته هغه چې صادق سوی نه دی باطل سو. ځکه ارتفاع پر ته د ده راغله.
۳: عموم و خصوص مطلق سي نو بيايه يو ددغه حصرينو څخه باطل سي، ځکه په دغه صورت کي به حصر داخص په اعم کي ثابته سي مګر حصر داعم به ثابته نه سي).

فيه نظر: سوال: دمقتضي الحال او د امری مناسب تر مينځ د عدمي مساوات په صورت کي يو د حصرينو څخه باطل بلل باطل دی، ځکه موږ ددوی تر مينځ يا **عموم و خصوص مطلق** بولو ، په دغه صورت کي يو د حصرينو نه باطليږی، دا ډول چې يو کس ووايي "لا يباع الا الحيوان". يعني پرته د حيوان بل څه نه خرڅيږی. اوس دلته خرڅلاو په حيوان کي حصر دی. او بل کس ووايي "لا يباع الا الفرس". يعني د آس نه پرته بل څه نه خرڅيږی نو دلته خرڅلاو په آس کي حصر دی. اوس ددغه دوو حصرونو تر مينځ هيڅ تباين نسته، بلکه دواړه صحت لری دا دوو ډل چې خرڅول د آس کيږی، او آس فرد د حيوان دی نو خرڅلاو د حيوان په ضمن کي د آس ترسره سو. او يا **عموم اوخصوص من وجه** بولو نوبيا هم يو د حصرينو نه باطليږی، دا ډول چې وويل سي "لا يباع الا الحيوان". دلته خرڅلاوی په حيوان کي حصر دی. او دغه ډول وويل سي "لا يباع الا الابيض". اوس دلته بيع په ابيض کي حصر ده، نو دلته ددغه دوو حصرينو تر مينځ هيڅ يو قسم تضاد نسته دا ډول چې ابيض په ضمن کي د حيوان ثابت دی يعني د حيوان د افرادو څخه ابيض خرڅيږی دغه ډول دلته هم دی؟

جواب: حصر د اعم بېله شمولې و تولو افرادو ته هلته صحت لری چيری چې قرينه په استغراق دکلمي وجود نه لری، او دلته دغه ډول نه ده بلکه قرينه پر استغراق موجوده ده. کوم چې اضافت د مصدر و ما بعد ته دی (لکه دغه خبره چې مخکي تبره سوه).

و هذا اعني التطبيق: سوال: دشيخ د کلام څخه "کوم چې په دلائل الاعجاز کي ترسره کړی دي" دا معلو ميږی چې بلاغت عبارت د هغه نظم څخه دی کوم چې وضعه د هغه معناګانو لپاره راغلي وی دکومو څخه بحث په علم المعاني کي تر سره کيږی کوم چې و کلام ته په اعتبار د ترکيب د

Maktaba Tul Ishaat.com

بعضو د نورو سره ورعارضيږي، دغه وضعه يې هم په اعتبار د هغه احوالو وي کوم چې په خصوصياتو مرتبيږي(دمثال په توګه دفعه د انکار چې په تأکيد مرتبيږي) دکوم لپاره چې کلام راوړل کيږي. او د کلام څخه دمصنف بيا دا معلوميږي چې بلاغت عبارت د مطابقت څخه د کلام د مقتضي الحال سره دی. نو د مصنف کلام د شيخ د کلام څخه مخالفه دی. او حال دا چې مدوِن د دغه فن شيخ دی نو دده څخه خلاف کونه په کار نه ده؟

جواب: مصنف د کلام څخه د شيخ مخالفت کړی نه دی، بلکه د کلام د شيخ او د کلام د مصنف مقصد او مطلب يو دی.

﴿فائده﴾: "زَيْدٌ منطلِقٌ (صيغه داسم فاعل نکره). "زيدينطلق" (فعل مضارع)، "يَنْطَلِقُ (فعل مضارع) زَيْدٌ". "زَيْدٌ هُوَ الْمُنْطَلِقُ" (اسم فاعل معرفه)، "اَلْمُنْطَلِقُ (اسم فاعل معرفه) زَيْدٌ" ، "زيد هوالمنطلق" (هو ضمير مبتدأ، المنطلق اسم فاعل معرفه خبر). "زيد هو منطلق".

"اِنْ تَخْرُجْ اَخْرُجْ" (فعل مضارع صيغه متکلم)، "اِنْ خَرَجْتَ خَرَجْتُ" (فعل ماضي متکلم)، "اِنْ تَخْرُجْ فَاَنَا خَارِجٌ" (جمله اسميه)

"جَاءَنِيْ زَيْدٌ مُسَرِّعًا" (حال، صيغه اسم فاعل)، "جَاءَنِيْ زَيْدٌ يُسَرِّعُ" (حال، فعل مضارع)، "جَاءَنِيْ زَيْدٌ هُوَ مُسَرِّعٌ" (جمله اسميه حال)، "جَاءَنِيْ زَيْدٌ هُوَ يُسَرِّعُ" (حال، جمله اسميه خبر يسرع فعل مضارع)، "جَاءَنِيْ زَيْدٌ قَدْ اَسْرَعَ" (فعل ماضي)

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

سوال: "مع" په دې قول کې د مصنف "مع صاحبها" د چا سره تعلق لری؟

جواب: مصنف رحمه الله په شرح کې د مفتاح ويلي دي "دغه تعلق د "لکل کلمة" سره لری.

۲: "لکل کلمة" کې مضاف محذوف دی، اصل عبارت دا دول دی "لوضع کل کلمة" نو دغه "مع" تعلق د دغه مضاف محذوف "وضع" سره لری.

محشي د مصنف د خبری تشريح کوی. د مصنف د دې خبری" چې "مع" تعلق د "لکل کلمة" سره لری" مطلب دا دی چې دغه "مع" تعلق د متعلق محذوف سره د "لکل کلمة" لری. ځکه "لکل کلمة" مضاف سره د مضاف اليه مجرور لپاره د جار دی، جار سره د مجرور تعلق تر مقدر "حاصل" پورې لری.

حاشيه نمبر ۲:

سوال: د شارح دغه عبارت "صوحبت معها" صحت نه لري. ځکه مصاحبت کله متعدي و يوه مفعول ته بيله "مع" وي. لکه "صاحبت زيدا" او کله بيا متعدي سره د "مع" وي لکه "صاحبت مع زيد" او متعدي و دوو مفعولو ته دا دول نه کيږي چې و اول ته بيله واسطې او دوم ته په واسطه سره وي. او حال داچې دلته و اول ته بيله واسطې او دوم ته په واسطه د مع سوی دی. ځکه ضمير "ا" چې اوس نائب فاعل واقع سوی دی" په اصل کې مفعول اول او دوم مفعول مضاف اليه د "مع" دی "أی معها"؟

جواب: دلته "صوحبت" متضمن معنې لره د "جعل" دی. "جعلت الكلمة الاخرى مصاحبة معها" او شارح په دغه تفسير کې د مصاحبت قصدي (نه د مصاحبت اتفاقي) و معتبرولو ته اشاره کړيده. او دا دغه اشاره منشأ تضمين د مصاحبت جعل لره دی.

حاشيه نمبر ۳:

سوال: دغه عبارت د شارح "ليس لها مع ما يشارک" صحت نه لري، ځکه دغه حصر فائده کوی او حال داچې په عبارت کې د مصنف کوم داسې شي نسته چې د هغه څخه حصر ترلاسه کيږی؟

جواب: په عبارت کې د مصنف که څه هم ادات د حصر وجود نه لري، مگر دلته حصر په تقديم سره" د هغه شي چې د هغه حق تأخير دی" فائده کيږی. او هغه "لكل كلمة مع صاحبها" دی، ځکه دغه خبر ذی. او اصل په خبر کې ورسته والي دی مگر دلته دی مخکې کړل سوی دی نو دغه مخکې کونه يې حصر فائده کړی.

سوال: دلته حصر د څه فائده سوی دی؟

جواب: "لكل كلمة مع صاحبها" کې قيد "مع صاحبها" دی، او په جمله اسميه کې محل د فائده خبر وی. او هر هغه خبر چې مقيد په قيد سره وی په هغه صورت کې محل د فائده د خبر هغه قيد وی، نو حصر په اعتبار د قيد فائده سوی دی، لهذا حصر په اعتبار د قيد دی. نو حاصل د عبارت دا جوړيږی "گواکې دغه مقام مقصور پر کلمه سره د ملگری دی کوم چې تجاوز کونکي ودغه کلمه ته چې ملگري دبلي کلمې څخه وی نه دی (کوم چې پرته داولي وی).

حاشيه نمبر ۴:

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه جواب دیو سوال مقدر څخه دی، تقریر د سوال دادی چې دغه عبارت د شارح "کرید و مع الجملة الاسمية الخ" صحت نه لري. ځکه دغه مثال دی او ممثل د مصنف رحمه الله دا قول "لكل كلمة مع صاحبتها" دی. نو ممثل ملګرتیا د کلمه د کلمه سره ده نه ملګرتیا د کلمه د جمله سره. او حال دا چې شارح مثال د کلمه د جمله سره د ملګرتیا وړاندی کړی دي. نو مثال د ممثل سره برابر نه سو ؟

حاشیه نمبر ۵:

مقصد د محشي بیانونه د غرض ددغه عبارت "هكذا ينبغي" دی. او مقصد د شارح ددغه عبارت څخه رد کول په هغه چا دی کوم چې ویلي دي چې د مصنف دا قول "فمقام التنكير" بیا تر دې قول پوري "خطاب الذكي مع خطاب الغبي" و علم المعاني ته راجع دی. او د مصنف دغه قول "كذا خطاب الذكي" اشاره و هغه شي ته ده چې د هغه څخه په علم البیان کې بحث کیږي، ځکه د ذکي د خطاب سره مناسب کفایت کول په مجاز او کنایه سره دی. او د غبي د خطاب سره کفایت په حقیقت سره دی. او د مصنف دغه قول "لكل كلمة مع صاحبتها" اشاره و هغه شي ته ده چې د هغه څخه په علم البدیع کې بحث کیږي. ځکه اکثره محسنات د بیو کلمې د بلې کلمې په ملګري کولو سره حاصلیږي. د مثال په توګه تجنیس، طباق. اوس په دغه ویونکي باندې دا اعتراض واردیږي چې ددې قول "كذا خطاب الذكي" او ددې قول "و لكل كلمة" ذکر کول په خپل محل کې نه دي. (شرح طاهري ۱۱۲)، خلاصه درد د طرف څخه د شارح داده :هغه شي چې دهغه څخه دلته بحث کول کیږي هغه تفاوت د مقاماتو او د مقاماتو د مقتضیاتو دی. او په دغه خبره کې شک نسته چې ددغو شیانو څخه په علم البیان او بدیع کې په دې حیث چې دوی مقتضیات د مقاماتو دی بحث نه کول کیږي. بلکه ددوی څخه په دې حیث بحث کول کیږي چې د تراکیبو تفاوت په داډول سره دی چې په دوی دلالت واضح او یا خفي دی. او یا په دې حیث دی چې دغه کلام په مطابقت د مشتملوالي اود فصیح جوړېدو څخه ورسته دغه شیان "کلام ته حسن ورکونکي دي. او دغه لره هیڅ وجه نسته. لهذا دلته د مصنف د کلام "خطاب الذكي آه... و لكل كلمة آه" د حمل کولو په هغه څه چې شارح ذکر کړي دی حمل سي. ځکه په دغه

وخت دغه ټول ذکر سوي شيان د هغه اعتبار اتو څخه وګرزول سوه چې هغوی د مقام او د حال سره مناسبت لرونکي دی. نو اوس ټوله و علم المعاني ته راجع سوه. (المفصل ۳۳۲/ج

حاشیه نمبر ۶:

سوال: د مصنف دد غه وینا (مقدمه اولی) "ارتفاع شان الکلام فی الحسن و القبول" څخه دا معلومیږی چې د حسن او قبول په اعتبار سره کلام هلته او چتي مرتبه والا ګرزی چې دغه کلام مشتمل په یو داسي شي وی کوم چې مناسب د حال سره د مخاطب وی. او حال دا چې دغه خبره غلطه ده، ځکه حسن او قبولیت په نفسِ مطابقت سره نه تر لاسه کیږی بلکه په کمال سره د مطابقت تر لاسه کیږی. په نفسي مطابقتِ سره کلام بلیغ جوړ سي او په کمال سره یې بیا حسن او قبولیت زیات سي، او دغه ډول دد غه عبارت (مقدمه ثانیه) "و انحطاطه بعدمها" هم صحی نه دی، ځکه دد غه څخه دا معلومیږی چې شان د کلام په اعتبار د حسن او قبولیت هلته کښته کیږی چې دغه کلام په یو داسي شي مشتملَ نه وی کوم چې مناسب د حال سره د مخاطب وی، او دغه خبره هم غلطه ده، ځکه څه وخت چې کلام پر دغه مناسب امر مشتملَ نه وی نو بیا په دغه کلام کي د سره حسن نه وی، او دا ډول نه ده چې حسن دي په کي وی مګر کم دی وی؟

جواب: دلته په دې عبارت کي د مصنف «ارتفاع شان الکلام» مطلقي کلام مراد نه دی، بلکه هغه کلام مراد دی کوم چې فصیح وی، اوس دغه کلام لره حسن په فصاحت سره ثابت دی او اوچت والي یې په حسن کي په مطابقت سره راځي. او کښته والي یې په عدمِ مطابقت سره راځي نو اوس خبره صحت پیدا کړي.

حاشیه نمبر ۷:

سوال: دلته مصنف د کلام مراتبي په کوم اعتبار سره بیانونه غواړی، په اعتبار د حسن او قبولیت، په اعتبار د ترغیب او ترهیب یا په اعتبار د بل شي؟

جواب: دلته مصنف رحمه الله په اعتبار د حسن او قبول بیانونه غواړی نه په اعتبار د ترغیب و ترهیب، او نه په اعتبار د نصیحت، ځکه د ترغیب او ترهیب په اعتبار سره د بلاغت د اوچتي مرتبه لپاره په کلام کي زیات تأثیر موجود ښه نه ضروری ده. او د کښته مرتبه لپاره قلت تأثیر ضروری دی. او د نصیحت په اعتبار د بلاغت د اعلي مرتبه لپاره د کلام پر زیات نصیحتونو

Maktaba Tul Ishaat.com

مشتمل والي ضروري دي. او د کښته مرتبه لپاره پر لږو نصيحتونو مشتمل والي ضروري دي.

حاشيه نمبر ۸:

سوال: موصوف کونه د اعتبار په "المناسب للحال" سره صحت نه لري. ځکه د حال سره مناسبت د لږونکي شي د اعتبار متعلق وي (يعني امر معتبر دی) لکه تأکيد او تجريد او دغه ډول نور. او دوی په خپله اعتبار نه دي. ځکه اعتبار يو فعل د افعالو څخه د متکلم دی؟

جواب: دلته مصدر په معني سره د مفعول مراد دی داډول چي اعتبار په معني سره د امري معتبر دی. او شارح د دغه عبارت په خپلولو سره اشاره ودې ته کړيده چي اعتبار د امري مناسب سره لازم دی. لهذا دغه امر مناسب په دې حيث چي دده سره اعتبار لازم دی داسي وګرزول سو لکه په خپله نفسي اعتبار. (شرح العالمي ۳۳۵/ج۲)

حاشيه نمبر ۹:

سوال: دغه مناسب امر يعني مقتضي د حال اولاً په لفظ او که په معني کي معتبريږی؟

جواب: دغه اولاً په معني کي معتبريږی، بيا د هغه موافق په لفظ کي معتبر سي.

سوال: د دغه معني څخه کوم معني مراد ده معني وضعي او که معني ثاني کوم چي د بلغاؤ په وړاندی معتبريږی؟

جواب: د دغه څخه وضعي معني مراد ده په کوم کي چي بليغ او پرته د بليغ سره برابر دي.

سوال: دغه مقتضي د حال مطلقاً اولاً په معني او دوم ځلي په لفظ کي معتبريږی او که کله کله اولاً په لفظ او ثانياً په معني کي هم معتبريږی؟

جواب: مطلقاً اولا په معني او د هغه موافق بيا په لفظ کي معتبريږی.

سوال: مور دا خبره نه منو چي مقتضي د حال مطلقاً اولاً په معني بيا د هغه موافق په لفظ کي معتبريږی. ځکه د دغه مقتضي څخه د حال ذکر او حذف ول (د مخبر عنه او پرته د دغه) هم د مقتضي څخه د حال وی نو که دغه اولاً په لفظ کي معتبريږی؟

جواب: مور دغه خبره نه منو چي دغه اولاً په لفظ کي بيا په معني کي معتبريږی، بلکه دغه اولاً په معني کي معتبريږی، د مثال په ترڅ کې د خبر ورکولو په داسي طريقه سره ارا ده وسي چي مخبر عنه ذکر نه سي نو د دغه موافق بيا په لفظ کي دغه مخبر عنه را نه وړل سي.

سوال: باء په دغه قول کې د شارح "بالذات" په څه معنې سره دی؟

جواب: دغه د ملابست لپاره ده نو تقدیر دا جوړیږي "حال کون مقتضي الحال متلبساً بذات المعنى" يعني معتبرونه د مقتضي د حال پېلله کومې واسطې په معنې کې اولاً ترسره کیږي.

سوال: دغه باء په معنې سره د "في" کېدلای نه سي، نو بیا معنې د عبارت داجوړ سي. دغه مقتضي د حال په ذات کې د معنې معتبرېږي؟

جواب: نه، ځکه د دغه "بالذات" مقابل په عبارت کې د شارح لفظ د "بالعرض" راغلي دی. نو د دو ی تر مینځ مقابله د تمامیت لپاره دا ضروري ده چې باء په یوه مقابل کې په کوم معنې سره وی په هغه معنې سره به په هغه بل کې هم وی، او باء په "بالعرض" کې په معنې سره د "في" کېدای نه سي، ځکه د باء په "بالذات" کې په معنې سره د "في" سي نو معنې به داسي "دغه مقتضي د حال په ذات کې د معنې معتبرېږي"، نو د دغه تقدیر موافق د "بالعرض" معنې به داسي چې دغه مقتضي د حال په عرض کې ثابتیږي، او دغه معنې هیڅ شدنه لري، ځکه مقتضي د حال ثانیاً په لفظ کې معتبرېږي نه په بل څه کې. څرنګه په "بالعرض" کې باء لپاره د ملابست ده نو دغه ډول په "بالذات" کې هم لپاره د ملابست ده.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: په دغه قول کې د شارح "الداخل في البلاغة" د بلاغت څخه څه مراد دی؟

جواب: د بلاغت څخه تعریف د بلاغت مراد دی، یعنې هغه حسن ذاتي کوم چې په تعریف کې د بلاغت داخل دی.

سوال: موږ دا خبره نه منو چې حسنِ ذاتي په تعریف کې د بلاغت داخل دی، ځکه تعریف د بلاغت په دې الفاظو سره تر سره سوی دی "البلاغة في الكلام مطابقته لمقتضى الحال مع فصاحته". اوس په دغه تعریف کې کوم داسي لفظ او قید وجود نه لری چې دهغه څخه حسن ذاتي معلومیږي او پر هغه دلالت کوی. نو بیا حسن ذاتي په تعریف کې د بلاغت داخل بلل باطل خبره ده؟

جواب: دلته مراد د دې خبرې څخه "حسن ذاتي داخل په تعریف کې د بلاغت دی" دا دی چې سبب د حسن ذاتي په تعریف کې د بلاغت داخل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: سبب د حسن ذاتي څه دی؟

جواب: مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال، او په دې کې شک نسته چې مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال په دې الفاظو سره "مطابقته لمقتضى الحال" په تعریف کې د "البلاغة في الكلام" ذکر سوی دی.

سوال: پر دغه خبره کوم دلیل وجود لري چې د بلاغت څخه تعریف د بلاغت مراد دی؟

جواب: حسن ذاتي مقابل د حسن عرضي دی، شارح چې کوم خبره د حسن عرضي په هکله کړېده هغه داده "لكنها (محسنات) خارجة عن تعريف البلاغة" یعنې دغه محسنات د تعریف څخه د بلاغت خارج دی، نو سبب د حسن عرضي د تعریف څخه د بلاغت خارج دی، څرنګه سبب د حسنِ عرضي د تعریف څخه خارج دی په دغه وجه دده مقابل چې حسن ذاتي دی د هغه سبب په تعریف کې داخل دی. و الله اعلم بحقيقة الحال، هذا لدى الفقير، فاغتنم و دع لي بالخير ان قعنت بتوجيهي.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: دعوی د حصر کول صحت نه لري، ځکه د مصنف رحمه الله دغه قول "و ارتفاع شان الكلام" پر دې دلالت کوي چې ارتفاع په مطابقت سره حاصلیږي. البته پر دې دلالت نه کوی چې ارتفاع په غیر سره د مطابقت نه حاصلیږي. حتی چې بیا حصر ثابت سي. ځکه حصر لره مخصوصي طرقې وجود لري. او په دې مقام کې یوه طریقه د حصر هم نسته؟

جواب: مونږ دا نه منو چې دلته د حصر د طریقو څخه یوه لاهم نسته بلکه د حصر د طریقو څخه یوه موجوده ده، او هغه اضافت د مصدر و خپل ما بعد ته دی. ځکه اضافت د مصدر "و ارتفاع" و خپل ما بعد ته حصر دا ډول فائده کوي چې "ارتفاع" مصدر مضاف و معرفې ته "شان الكلام" دی. او هر مفرد چې مضاف و معرفه ته (چې هلته عهد نه وی) وي هغه عموم فائده کوی. لکه په دغه سره رضي هم تصریح کړېده. (شرح العوسي ۳۴۵/ج۲)

حاشیه نمبر ۱۳:

دلته دوه حصره دی.

۱: ارتفاع د شان د کلام پرته د دې "مطابقت د کلام د امری مناسب سره" نه راځي.

۲: ارتفاع د کلام پرته د دې "مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال" نه راځي.

اوس په دغه دواړو حصرونو کې دوه الفاظ راغلي دي. ۱: اعتبار مناسب. ۲: مقتضي الحال.
او دوی دواړه په یوه معنې سره دي. که چیرې سره یو نه سي نو یو به د دغه حصرینو څخه باطل
او یا به دواړه باطل سي او دغه باطلوالي یې باطل دی نو ددوی په یوه معنې نه کېده باطل
دی.

تفصیل: دغه دواړی مقدمه د کلي مفهوم خاوندانی دي. ددوی ترمینځ د څلورو نسبتو
څخه د یوه د موجودوالي څخه چاره نسته. ۱. مساوات. ۲: تباین. ۳: عموم و خصوص من
وجه. ۴: عموم و خصوص مطلق. لهذا که چیرې ددوی ترمینځ مساوات وی نو بیا مقصود
حاصل سو، او که چیرې یو دباقي پاته درې نسبتونو څخه ددوی تر مینځ وجود پیدا کړی نو
بیا به دغه دواړه حصرونه او یا یو ددوی څخه به باطل سي. ځکه څه وخت چې دغه دواړه
حصرین په یوه ځای نه سي جمعَ کېدلای نو بیا به د ددوی څخه یو او یا دواړه موجوده نه
وی. او دغه باطل دی نو داثابته سوه چې دغه دواړه یو دی.

تفصیل: اوس دا خبره که چیرې ددوی ترمینځ نسبت د تباین وجود و لری لکه په دې قول کې
"لا یباع الا الانسان". اوس ددې قول دوه اجزاء دي.

۱: جزء ایجابي: د انسان خرڅول. ۲: جزء سلبي: د انسان نه پرته نه خرڅول.

او دغه ډول مورِ یو بل قول چې مباین د اول سره دی وو ایو "لا یباع الا الفرس". اوس ددغه قول هم
دوه اجزاء دي.

۱: ایجابي: د فرس خرڅول. ۲: سلبي: د فرس څخه سېوا خرڅول. اوس ددغه دواړو اقوالو د
ایجابي اجزاؤ په مابین کې منافات نسته. البته د یوه ایجابي او د هغه بل د سلبي جزء په مابین
کې منافات سته. مثلا د انسان خرڅولو او د فرس نه پرته دنه خرڅولو په مابین کې منافات
سته.

دغه ډول په موجوده حصرینو کې.

تفصیل: اول قول: "ان لیس ارتفاعه الا بمطابقته للاعتبار". اوس ددې دوه اجزاء دي.

۱: **ایجابي:** په موافقت سره د اعتبار مناسب ارتفاع او اوچتوالي د کلام.

۲: **سلبي:** ارتفاع د امری مناسب د اعتبار څخه سېوا نه حاصلېدل.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوم قول: "ان ليس ارتفاعه الا بمطابقته لمقتضى الحال" اوس ددې دوه اجزاء دي.

۱: **ايجابي:** د ارتفاع او اوچتوالي د کلام په موافقت سره د مقتضي الحال حاصلېدل.

۲: **سلبي:** په موافقت سره د مقتضي الحال څخه سېوا د ارتفاع د کلام نه حاصلېدل. اوس ددغو دوو قولونو د ايجابي اجزاؤ ترمينځ منافات نسته دا دول چې ارتفاع په موافقت د اعتبار مناسب حاصل سي. او دغه دول په موافقت سره د مقتضي الحال دي هم حاصل سي البته د دوی څخه هر يوه ايجابي جزء منافات د جزء سلبي سره د هغه بل لري.

اوس که چيرې ددغه ددو اقوالو ترمينځ عموم و خصوص من وجه سي د مثال په توګه "لايباع الا الحيوان" اوس ددې قول دوه اجزاء دي.

۱: ايجابي: د حيوان خرڅول. ۲: سلبي: د حيوان نه پرته نه خرڅول. او بيا وو ايو "لا يباع الا الابيض" اوس ددې قول هم دوه اجزاء دي.

۱: ايجابي: د ابيض خرڅول. ۲: سلبي: د ابيض څخه سېوا نه خرڅول. اوس د ايجابي اجزاؤ تر مينځ منافات نسته (د حيوان خرڅول د ابيض د خرڅولو سره منافات نه لري ځکه خرڅ سوی حيوان ابيض کېداى سي). البته د تور حيوان خرڅول او د جزء سلبي د ابيض (پرته د ابيض نه خرڅول) د مثال دا منافات لري. او دغه دول سپين موټر خرڅول د جزء سلبي سره د هغه بل (پرته د حيوان نه خرڅول) منافات لري. دغه دول په مزکوره قولو کې.

اول قول: "ان ليس ارتفاعه الا بمطابقته للاعتبار". اوس ددې دوه اجزاء دي.

۱: **ايجابي:** ارتفاع د کلام په موافقت سره د اعتبار مناسب حاصلېدل.

۲: **سلبي:** ارتفاع په پرته د موافقت د اعتبار مناسب نه حاصلېدل.

دوم قول: "ان ليس ارتفاعه الا بمطابقته لمقتضي الحال". اوس ددې دوه اجزاء دي.

۱: **ايجابي:** ارتفاع د کلام په موافقت سره د مقتضي الحال حاصلېدل.

۲: **سلبي:** ارتفاع په پرته د موافقت د مقتضي الحال نه حاصلېدل. اوس ارتفاع په موافقت سره د هغه اعتبار مناسب حاصله سي چې هغه پرته د مقتضي الحال وی نو اوس ددغه او د جزء سلبي د ددوم (ارتفاع په پرته د موافقت د مقتضي الحال سره نه حاصلېدل) منافات سره لري. دغه

دول ارتفاع په هغه موافقت سره حاصلېدل چې هغه پرته د اعتبار مناسب وي نو دغه منافات د جزء سلبي سره د اول (ارتفاع په پرته د موافقت د اعتبار مناسب نه حاصلېدل) منافات لري.

او که چيري ددغه دوو اقوالو ترمينځ عموم و خصوص مطلق سي د مثال په توګه "لا بياع الا الحيوان" اوس ددې دوه اجزاء دي.

۱: **ايجابي**: د حيوان خرڅلاوی. ۲: **سلبي**: پرته د حيوان نه خرڅلاو. او بيا موږ ووايو: "لا بياع الا الانسان" اوس ددې هم دوه اجزاء دي.

۱: **ايجابي**: د انسان خرڅول. ۲: **سلبي**: پرته د انسان نه خرڅول. اوس ددغه دوو قولونو د ايجابي اجزاؤ ترمينځ منافات نسته. او دغه ډول د اول قول د سلبي او ددوم د ايجابي اجزاؤ ترمينځ هم منافات نسته، ځکه پرته د حيوان نه خرڅول د انسان د خرڅولو سره منافات نه لري مګر ددوم قول د سلبي جزء (پرته د انسان نه خرڅول) منافات د جزء ايجابي سره د اول قول (د حيوان خرڅول) لري، ځکه کېداى سي چې د حيوان يو فرد چې پرته د انسان وي (مثلا فرس) خرڅ سي. دغه ډول په ذکر سوی قولونو کې.

تفصيل: اول قول: "ان ليس ارتفاعه الا بمطابقته للاعتبار". اوس ددې دوه اجزاء دي.

۱: **ايجابي**: ارتفاع د کلام په موافقت سره د اعتبار مناسب حاصلېدل.

۲: **سلبي**: ارتفاع په پرته د موافقت د اعتبار مناسب نه حاصلېدل.

دوم قول: "ان ليس ارتفاعه الا بمطابقته لمقتضي الحال". اوس ددې دوه اجزاء دي.

۱: **ايجابي**: ارتفاع د کلام په موافقت سره د مقتضي الحال حاصلېدل.

۲: **سلبي**: ارتفاع په پرته د موافقت د مقتضي الحال نه حاصلېدل.

اوس ددغه دوو قولو څخه يو عام او هغه بل خاص سي د مثال په توګه اول قول عام او دوم خاص سي. نو ارتفاع په موافقت سره دهغه اعتبار مناسب حاصل سي چې هغه د مقتضي الحال ته شامله وي نو اوس ددغه او د جزء ايجابي د ددوم (ارتفاع په موافقت د مقتضي الحال سره حاصلېدل) منافات نه سره لري. دغه ډول جزء ايجابي د اول (ارتفاع په موافقت سره د اعتبار مناسب حاصلېدل) او ددوم د جزء سلبي (ارتفاع په پرته د موافقت د مقتضي الحال نه حاصلېدل) ترمينځ منافات نسته، ځکه اول عام او شامل و دوم ته دی. البته د ددوم د جزء سلبي (پرته د مقتضي

Maktaba Tul Ishaat.com

الحال نه حاصلېدل) تضاد د اول د جز، ایجابي سره لري، ځکه اول عام دی نو کېدای سي چې دغه ارتفاع په موافقت سره د اعتبار مناسب د هغه فرد سره حاصله سي چې هغه پرته د مقتضي الحال وی.

خلاصه داسوه: که چیرې دغه دوه قوله سره یو نه سي نو ددغه حصرینو څخه به جز، سلبي باطل سي لکه تا چې ولیدل. او د حصرینو ایجابي او سلبي اجزاؤ څخه د یوه باطلېدل باطل دی نو ددوی دوو نه یو والي هم باطل دی. لهذا دا ثابته سوه چې دغه دواړه سره یو دی. والله اعلم بالصواب و هذا ما لدی العاصي.

حاشیه نمبر ۱۴:

د مقتضي الحال او د امری مناسب تر مینځ که چیرې عموم و خصوص من وجه او دغه ډول که چیرې عموم و خصوص مطلق نسبت وجود و لري، نو په دغه دواړو صورتونو کې یو د حصرینو نه باطلیږی:

تفصیل: که چیرې عموم و خصوص من وجه سي نو بیا یو د حصرینو څخه نه باطلیږی، ځکه عموم و خصوص من وجه درې مادې غواړی، په یوه کې دواړه سره جمعَ کیږی. نو دلته هم دغه دواړه حصرین په یوه ماده کې سره جمعَ سي، په دغه ماده کې د اجتماع ددواړو د یو ځای کېدلو لپه وجه دغه حصرین دواړه پر خپل ځای پاته کیږی.

که چیرې ددوی تر مینځ عموم و خصوص مطلق وجود پیدا کړی نو بیا یو د حصرینو هم نه باطلیږی، ځکه کېدای سي چې د خاص د موجودیت په صورت کې عام هم صادقَ سي، ځکه دغه خاص ددغه عام یو فرد دی. نو یو د حصرینو عام او هغه بل مطلقاً خاص ګرزولو په صورت کې دغه دواړه حصرین بیر ځای سره جمعَ کېدای سي، په دغه صورت کې د حصرینو تر مینځ تضاد وجود نه موندی.

حاشیه نمبر ۱۵:

سوال: شیخ چې کوم تعریف د نظم تر سره کړی دی په هغه کې یو قید د "معاني النحو" راغلي دی ددغه څخه څه مراد دی؟

جواب: معاني النحو څخه هغه معناګاني مراد دي کوم چې په علم النحو کې پر کلماتو او جملو په اعتبار د ترکیب حمل کیږي لکه تعریف، تنکیر، عطف او ترک د عطف، یعنې هغه خصوصیات او کیفیات کوم چې په وضعي معناګانو کې معتبریږي.

سوال: دغه عبارت د شیخ "فی ما بیان الکلم" د چا سره تعلق لري؟

جواب: دغه تعلق د "توحي" سره لري.

سوال: شیخ ولې "في الکلم" پر ځای د "فی ما بین الکلم" نه وایي ددې څه وجه ده؟

جواب: په دغه کې اشاره وه دې خبرې ته ده چې دغه معناګاني و کلماتو ته په حال کې د ترکیب وړاندې کیږي نه په حال کې د افراد، او د یو وازې راتلو په مهال.

سوال: و دغه خبرې ته "فی ما بین الکلم" څرنګه اشاره تر سره کیږي؟

جواب: دا د "بین" په معنې سره د مینځ دی، نو معنې یې دا سوه چې تر مینځ د کلماتو، او مینځ د کلماتو د ترکیب په مهال راځي، نه د یو وازې والي په مهال.

سوال: "حسب الاغراض" د دغه څخه څه مراد دی؟

جواب: د اغراضو څخه مقتضیات مراد دي، یعنې هغه څه کوم چې تقاضې دراوړلو کوی. نو اغراض پر خصوصیت باندې مرتبیږي. لکه دفع د انکار، دغه غرض او پر تأکید راوړلو مرتبیږي.

سوال: "علی حسب الاغراض" تعلق د چا سره لري؟

جواب: دغه تعلق د "توخي" سره لري.

سوال: نظم ته توخي ولې وویل سول، او حال دا چې "نظم" پر "توحي" مرتبیږي. ځکه "توخي" و طلب ته ویل کیږي. او "نظم" و وضعي ته ویل کیږي. او وضع پر طلب مرتبیږي. نو وضع بعینه طلب نه ده بلکه پر دغه یو مرتبېدونکي اثري دی؟

جواب: په دې کې اشاره وه دې خبرې ته ده چې کوم وضعَ ورسته تر طلب راسي نو هغه د اعتبار وړ ده. او که چیرې پر طلب مرتبَ نه وی بلکه ببله طلبَ راسي نو هغه بیا د اعتبار وړ نه وی.

صفحه نمبر ۲۹:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

ذلك الذي هو موضوعه وتجيء به على حيثما ينبغي له وتنظر في الحروف التي تشترك في معنى ثم تفرد كلا
منها بخصوصيته من ذلك المعنى فتقطع كل من ذلك فيما خاص معناه نحو ان تأتي بما في نفي
الحال وبلن في نفي الاستقبال وبأن فيما يرجح بان يكون وبين ان لا يكون وبما فيما
علم انه كائن وتنظر في الجمل التي لها شروط فتعرف موضع الفصل من موضع الوصل وفي الوصل بالواو
من الفاء وبالفاء من ثم الى غير ذلك وتتصرف في التعريف والتنكير والتقديم والتأخير والحذف
والتكرار والاظهار والاضمار فتصيب لكل من ذلك مكانه وتستعمله على الصحة على ما ينبغي
ثم لم ليس هذه الامور المذكورة من التعريف والتنكير والتقديم والتأخير راجعة الى الالفاظ
انفسها من حيث هي هي ولكن تعرض لها بسبب المعاني والاغراض التي يصاغ لها الكلام بحسب
موقع بعضها من بعض واستعمال بعضها من بعض فرب تنكير هو الاصل في اللفظ هو في
الغرض في غاية الفخامة بل وهذا اللفظ منكرة في بيت آخر متعرف والى هذا اشار المتنبي بقوله وما التقفير
صفة راجعة الى اللفظ لكن لا من حيث ان لفظ وصف بل باعتبار افادته المعنى يعني التقفير المعروف
لما الكلام المركب مفيدا فادته ذلك لما مر من انها عبارة عن مطابقة الكلام الفصيح
لمقتضى الحال فظاهر ان الكلام من حيث انه الفاظ مفردة وكلم مجردة من غير اعتبار افادته
المعنى عند التركيب لا يتصف بكونه مطابقا له او غير مطابق ضرورة ان هذا المعنى انما
يتحقق عند تحقق المعاني والاغراض التي يصاغ لها الكلام وكثيرا ما نصب على الظرفية لانه
من صفات الاحيان وما الذي يفيد معنى الكثرة والعامل فيما يليه على ما ذكر في الكشاف في قولهم
تعالى قليلا ما تشكرون وما في كثير من الاحيان يقتضي ذلك الوصف المذكور فضاعة
احيانا كما يقتضي بلاغة وفي هذا اشارة الى دفع التناقض الموهم من كلام الشيخين دلائل

ترجمه

او دغه دول ته و هغه حروفو ته وکوره کوم چې په معني کې سره شريک وي .او هر يو ددوی څخه
په دغه مشترکه معني کې په خصوصيت سره جلا کيږي .بيا ته هر يو ددغه حروفو څخه په دغه

خاص معني کي کښېږده. د مثال په توګه ته دغه حالي ليږه په "ما سره راتګ، و ځړه. او په "ان" سره ليږه د نفي د مستقبل راتګ وکړه. او په "ان" سره هغه وخت راتګ کيږي چې د يو شي، د کوني او د نه کوني تر مينځ شک وي. او په "انا" سره د هغه شي په هکله راتګ کيږي چې دهغه کېدنه معلومه او يقيني وي. دغه رقم ته په هغه جملو کي کتنه وکړه کوم چې پر ځای راوړل کيږي. نو ته به محل د وصل د محل څخه د فصل و پېژني. او په وصل کي محل د "واو" د "فاء" څخه و پېژنه. او "فاء" د "ثم" څخه او دغه ډول نور. او ته په تعريف، تنکير، تقديم، تأخير، حذف، تکرار، اظهار او د اضمار کي تصرف وکړه. بيا ته ددوی څخه د هر يوه ومکان ته ورسېږه. او دې په صحي توګه سره استعمال کړه. او د هغه موافق کوم چې دده سره مناسبه دي. بيا دغه ذکر سوی شيان تعريف، تنکير، تقديم او تأخير و نفسي الفاظو من حيث هي هي ته راجع نه دي. مګر دوی ته په سبب سره د معناګانو او د هغه اغراضو عارضيږي د کوم لپاره چې کلام تشکيليږي. او دغه اغراضو عارضېدل و الفاظو ته په اعتبار د مناسبت درلولو دغه ذکر سوی شيانو د بعضو الفاظو سره وي. لهذا کله په يوه لفظ کي تنکير لږه فضيلت حاصل وي او په بل لفظ کي بيا دغه تنکير لږه ډير بد او قباحت حاصل وي. بلکه دغه لفظ په داسي حال کي چې دی منکر وي په بل بيت کي قبيح وي. او دغه ته مصنف په دې قول سره "فالبلاغة" اشاره وکړه. بلاغت يو داسي صفت دی کوم چې راجع و لفظ ته دی مګر په دې حيث نه وی چې دی يو لفظ او آواز دی، بلکه په دې حيث وی چې دغه لفظ معني فائده کوی. يعني هغه غرض چې د هغه لپاره دغه کلام راوړل سوی دی په ترکيب سره، او دغه تعلق د "افادة" سره لري. او دغه د هغه خبری دوجې څخه دی کوم چې تير سو دا ډول چې بلاغت عبارت د مطابقت څخه د کلام فصيح د مقتضي سره د حال دی او که نه دی. خکه دا خبره ښکاره ده چې کلام په دې حيث چې دغه مفرد الفاظ دي بېله معتبرولو د دې خبری چې دوی معني په وخت کي د ترکيب فائده کوی په دې سره نه موصوفه کيږی چې دغه موافق د مقتضي سره د حال دی او که نه دی. خکه دا خبره ښکاره ده چې د مطابقت دغه معني هلته ثابتيږی چې هغه اغراض چې د هغه لپاره کلام تشکيل کيږی ثابت وي. او ډير ځلي. "کثيرا" منصوب بنا، په ظرفيت دی، خکه دغه د "احيان" د صفاتو څخه دی. او د کثرت د معنې د تأکيد لپاره "ما" استعمال سوېده. او عامل هغه فعل دی کوم چې دده ژ ندې دی. لکه په کشاف کي په دې الهي قول کي چې ذکر سوېده: "قليلا ما تشکرون". يعني ډير ځلي دغه ذکر سوي صفت ته فصاحت هم ويل کيږی. لکه څرنګه چې په بلاغت سره مسمي کيږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

نم لس هذه الامور: **سوال**: دشیخ او دکلام دمصنف ترمینځ تعارض را غلي دي دا ډول چي شیخ فرمایلي دي چي بلاغت صفت دمعني دی، او مصنف وفرمایل "ارتفاع شان الکلام"، ددغه څخه دا معلومیږی چي بلاغت صفت د لفظ دی. دغه ډول د شیخ د کلامونو تر مینځ هم تعارض دی، یو ځای ده ویلي دي چي بلاغت صفت د لفظ دی او بل ځای یې بیا صفت د معني بللي دي؟

جواب: بلاغت په اعتبار د ذات صفت د لفظ نه دی بلکه په دې اعتبار سره دی چي دی معني فائده کوی. لهذا په اعتبار د معني فائده کولو دی صفت د لفظ دی نه مطلقا. او دغه ډول بلاغت مطلقا دمعني صفت نه دی بلکه په دې اعتبار سره دی چي په ده باندی لفظ دلالت کوی. لهذا بلاغت د لفظ او د معني ددواړو صفت دی. نو اوس تعارض دفعه سو.

لکن لا من حیث انه: **سوال**: بلاغت محض صفت د لفظ دی نه د معني، او دغه قول د مصنف "باعتبار افادته المعني" دخل" په صفت کړزلوکي د بلاغت لپاره دلفظ "نه لری. بلکه دغه قول محض ددې خبری لپاره ذکر سویدی چي لفظ لره معني وجود لری؟

جواب: بلاغت محض دلفظ صفت نه دی بلکه صفت د لفظ په دې حیث دی چي دغه معني فائده کوی. نو دغه قول "باعتبار افادته المعني" په صفتیت کي د بلاغت لپاره د لفظ دخل لری.

یعني الغرض المصوغ: **﴿فائده﴾**: معناګاني دري ډولَ دي.

۱: کومه چي د نکاره لفظ څخه په اعتبار د لغت مستفادیږی. او دغه په بدلېدولو سره د عبارا تو نه بدلیږی.

۲: هغه خصوصیات چي په اول قسم کي دمعناګانو وجود پیدا کوی لکه تعریف، تنکیر او دغه ډول نور.

۳: هغه اغراض چي متکلم دغه خصوصیات د هغه لپاره ذکر کوی. دمثال په توګه د انکار ردونه او دغه ډول شک او نور. اول قسم د بلاغۀ په وړاندی معتبر نه دی. نو دوی دوم قسم د معني اول او درېیم یې دوم ګرزوی. لهذا د بلیغانو په وړاندی معاني اول هغه دوم قسم مراد دی.

مطابقا له اوغير مطابقا: **سوال**: دغه ويل "مطابقا له" الخ صحت نه لري، ځکه غير مطابق نقيض د مطابق دی. او دلته د کلام خالي والي د دواړو نقيضنو څخه راغلي دی، نو ارتفاع د نقيضينو لازمه سوه. او ارتفاع د نقيضينو باطله ده؟

جواب: غير مطابق د مطابق نقيض نه دی، ځکه د غير مطابق مطلب دا دی "عدمي مطابقت چې د شان څخه يې مطابقت وی". بلکه د مطابق نقيض عدمي مطابق دی، او دلته د عدمي مطابقت خبره سوې نه ده چې بيا ارتفاع د نقيضينو څخه راسي.

نصب علي الظرفية: **سوال**: "کثيرا" په کلام کې د مصنف منصوبه دی، د دغه نصب وجه څه ده؟

جواب: "کثيرا" منصوبه او صفت لپاره د "احيان" دی. او حين ظرف زمان او نصب يې بنا بر ظرفيت دی.

ما لتاکيد معني: **سوال**: د "ما" په راوړلو کې ورسته تر "کثيرا" څه فائده وجود لري؟

جواب: "ما" لپاره د تأکيد د معني د "کثيرا" راغلي دی، ځکه ېيله "ما"، "کثيرا" دلالت په مطلقي زياتوالي کوی، اوځه وخت چې "ما" ورسره راوړل سي نو بيا په زيادتي کثرت دلالت کوی او دغه دلته مطلوب دی.

و العامل فيه: **سوال**: "کثيرا" منصوب بناء بر صفتيت لپاره د ظرفي زمان سو، نو دلته عامل په موصوف کې څه شي دی؟

جواب: "يسمي" چې ورسته تر "کثيرا" دی دغه عامل په موصوف کې دی.

في کثير من الاحيان: **سوال**: "کثيرا" ويل صحت نه لري، ځکه "کثيرا" صفت لپاره د "احيان" دی. او احيان د حين جمعه ده، او د جمعي صفت جمعه او يا مؤنث راځي، او دلته "کثيرا" يو لاهم نه دی؟

جواب: ستا خبره هلته صحت لري که چيرې کثيرا اوس په معني صفتي سره مراد وای او حال داچې خبره دغه ډول نه ده، ځکه "کثيرا" په اصل کې صفت لپاره د احيان وو، بيا احيان حذف کړل سو او دی يې پر ځای و درېدی، نو دی يو مستقله اسم ېيله لحاظه د صفتيت وګرزېدی. په دغه وجه مذکر راوړل سو. نو "کثيرا ما" په معني سره د "حينا کثيرة" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۱:

دلته محشي مقصد ددغه عبارت "ذالک، لانه قد تقرر" ښئي. خلاصه داده چې د مصنف او د شیخ د کلامونو ترمینځ هیڅ قسم د تضاد وجود نه لري. ځکه شیخ په خپل کتاب کې څو ځایۍ داسي ویلي دي "النظم عبارة عن وضع الکلام موضعاً یقتضیه علم النحو الخ" یعني نظم وضع د کلام په داسي ځایۍ کې ده د کوم چې علم النحو (یعني کامل علم النحو کوم چې و علم المعاني نه هم شامل ده) تقاضي کوي. او ددغه علم النحو د قوانینو موافق علم تر سره کیږي. او دغه معني د مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال ده. او دغه ډول د توخي معني هم تطبیق دی. ځکه "توخي" په معني سره د وضع دی.

سوال: "توخي" طلب ته ویل کیږي او طلب په خپله وضع نه، بلکه سبب لپاره د وضع دی، نو دلته "توخي" څخه څرنګه وضع مراد یږي؟

جواب: دلته سبب پر ځای د مسبب ولاړ دی، لهذا دغه مجازِ مرسل ترسره سوی دی او علاقه د سببیت ده.

حاشیه نمبر۲:

سوال: په دغه عبارت کې د شیخ "ان تضع کلامک" د کلام څخه څه مراد دی؟

جواب: معني لغوی د کلام مراد ده، یعني "ما یتکلم به" او دغه معنيٰ لغوی مفرد او مرکب دواړو ته شاملَ ده. نو معني د عبارت دا ګرزی" ته هر یو د مفرداتو او مرکباتو څخه د کلام په هغه ځای کې استعمال کړه د کوم چې تقاضي هغه احوال کوی د کومو څخه بحث په علم النحو کې ترسره کیږي".

او دغه احوال (لکه تعریف او تنکیر وغیره) په دې اعتبار سره وي چې دوی اغراض فائده کوی. او ددغه تفصیل یې په مثالونو سره شارح بیان کړی دي.

سوال: دغه هیښو ول د مفرداتو او مرکباتو په خپل ځایو کې په څه سره پیژندل کیږي؟

جواب: ددغه دوې طریقې دي.[۱]: په سلیقه سره. ۲: په خدمت سره د علم المعاني.

حاشیه نمبر۳:

یعني ته و خبر ته کتنه وکړه. اوس دغه کتنه په څو جهتَ او اعتبارَ سره ده.

۱: دغه خبر اسم دی او که نه دی. ۲: که چیری اسم دی بیا معرفه او که نکره دی. ۳: که چیری اسم دی نو سره د ضمیر الفصل دی او که نه دی. ۵: مذکر او که مؤنث دی. ۶: تر مبتدأ مخکي ا او که ورسته دی. ۷: دغه خبره جمله ده که مفرد. ۸: که جمله وی نو اسمیه ده که فعلیه.

حاشیه نمبر۴:

سوال: په دغه قول "ان تنظر في الخبر" کي د خبر څخه کوم خبر مراد دی، خبر د مبتدأ یا خبرد حروفِ مشبه بالفعل او که بل یو؟

جواب: دلته خبر د مبتدأ مراد دی.

سوال: پر دغه قرینه څه ده؟

جواب: قرینه هغه مثالونه دی کوم چي شارح په مثال کي د دغه خبری "ان تنظر في الخبر" راوړی دي. او په دغه مثالونو کي مبتدأ یو شي او خبرونه یې بدل سوی دي. د دغه څخه دا معلومَ سوه چي دلته د خبر څخه خبر د مبتدأ مراد دی.

سوال: د دغه مثالونو څخه یو مثال داهم دی "ینطلق زید". نو دلته دغه خو جمله فعلیه ده نه اسمیه او حال دا چي تا و فرمایل چي دغه مثالونه قرینه پر خبریت د مبتدأ دي، نو دلته خبر د سره سته نه، نو دغه به بیا قرینه څرنګه و ګرزی؟

جواب: دغه هم جمله اسمیه او مبتدأ "زید" او خبر "ینطلق" دی، مګر دغه خبر تر مبتدأ مخکي سوی دی. لهذا دغه مثال د خبری مقدم دی.

حاشیه نمبر۵:

سوال: "فتعرف لکل من ذالک" دغه پر چا عطف دی؟

جواب: دغه عطف پر دي عبارت " ان تنظر" دی. حاصل د عبارت دادی" ورسته تردي چي ته نظر وهغه مختلفو وجوهاتو ته وکړې کوم چي په علم النحو کي ذکر کیږی، نو تاته به دا خبره معلومَ سي(یا په سلیقه او یا په هغه ملکه سره کوم چي په زیات استعمال سره د علم المعاني تر لاسه سوې وی) چي هر وجه اودغه وجوهاتو څخه په وخت کي د ترکیب د کلام په اعتبار د هغه اغراضو چي دغه وجهاتي یې فائده کوي ډیر خاص ځای لری. او بیا ورسته تردي ته هر وجه د دغه وجوهاتو څخه په هغه ځای کي راوړې د کوم سره چي دغه وجه مناسبت لری. او دغه پرته د مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال بل څه

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۶:

سوال: مخکني ذکر سوی دوه نظره "ان تنظر في الخبر ۲: تنظر في الحروف التي تشترک في المعني" په څه اعتبار سره دي. او دغه نني نظر "و تنظر في الجمل التي تسرد" په څه اعتبار سره دی؟

جواب: هغه دوه نظره عام مفرد او جمله دواړو ته شاملَ وه مګر دغه نني نظر خاص تر جملې پورې دی. لهذا هغه جملې کومې چې ته د هغه عوارضو په اعتبار تشکیلیږي کوم چې په علم النحو کې ذکر کیږي. د مثال په توګه د جملو عطف کول په توسط د هغه حروفو کوم چې د معناګانو په اعتبار سره مختلف دي، نو ته به په سلیقه او یا ملکه سره د هری جملې هغه ځای و پیژنې کوم چې دغه جمله په اعتبار د هغه اغراضو (مقتضي د حال) لری د کوم حاصلونه دد غه جملو څخه قصد کیږی. نو بیا به ته هره جمله په خپل ورځای کې راوړې.

حاشیه نمبر۷:

سوال: "مکانه" څخه څه مراد دی؟

جواب: د جملې هغه مکان او ځای مراد دی د کوم چې جمله په اعتبار د اغراضو تقاضې کوی.

حاشیه نمبر۸:

سوال: دغه قول "بحسب موضع بعضها مع بعض" د غه د چا سره تعلق لری؟

جواب: دغه تعلق د "تعرض" سره لری.

سوال: دغه صحت نه لری، ځکه "بحسب المعاني" هم تعلق تر "تعرض" پورې لری. لهذا په "بحسب" او په "بحسب" دواړو کې باء د تعدیه لپاره ده، نو دواړه حرفِ جر په یوه معني سره د یوه فعل "تعرض" سره تعلق و نیوی. او دغه صحت نه لری چې دوه حرفِ جر په یوه معني د یوه فعل سره تعلق و لری؟

جواب: دلته د تعلق نیولو حیثیت جلا جلا دی، اول ځلې "بحسب المعاني" تعلق تر "تعرض" و نیوی، تر دې ورسته بیا "بحسب موضع بعضها" تعلق و نیوی، لهذا د اول تعلق تر مطلق "تعرض" پورې دی. او د دوم تعلق تر مقید "تعرض" (مقید په بحسب المعاني سره دی) پورې دی. دغه عدمِ صحت هلته وو که چیرې دواړو په یوه پلا تعلق تر "تعرض" نیولای وای، او دلته دغسې نه ده.

حاشیه نمبر۹:

سوال: "و استعمال بعضها مع بعض" په دغه سره و څه ته اشاره ده؟

جواب: په دغه سره و دې خبرې ته اشاره ده چې هره کلمه په ملګرتیا د بلې کلمې یو خاص مقام لري.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: "هذه اللفظة منكرة" پر چا عطف دی؟

جواب: دغه عطف پر دې قول "هو في لفظ آخر في غاية القبح" دی.

سوال: په دغه عبارت کې د شارح رحمه الله "بل و هذه"، "بل" د څه لپاره دی، آیا لپاره د اضراب او د بطلان د مخکنې کلام دی، او که لپاره د ترقي دی؟

جواب: دغه لپاره د ترقي دی.

سوال: "واو" یې ورسته د "بل" د څه لپاره راوړې دي؟

جواب: عموماً چې ورسته تر "بل" جمله راسي نو هلته دغه "بل" لپاره د اضراب وی، نو دلته هم د اضراب توهم ترسه کېدی په دغه وجه شارح "واو" راوړې چې دغه توهم د اضراب دفع کړي.

سوال: پر دې څه قرینه وجود لري چې دغه "بل" لپاره د ترقي دی نه د اضراب؟

جواب: دغه عبارت "بل و هذه اللفظة الخ" راجع دی دې عبارت "و استعمال بعضها مع بعض" ته دی. نو حاصل د معني داجوړیږي "یو لفظ نکره په ملګرتیا د بلې کلمه په یو کلام کې په دې وجه حسن پیدا کوی چې دغه نکارت مقتضي د حال وی. او دغه لفظ نکره په ملګرتیاد بل لفظ په بل کلام کې بیا قباحت په دې وجه پیدا کوی چې دغه نکارت متقضي د حال نه وی، تر دې لا و هاخوا ته دغه لفظ نکره په ملګرتیا سره د بل لفظ په بیت کې قباحت په دې وجه پیدا کوی چې دغه مقتضي د حال نه وی. دلته شارح د کلامې ټرې څخه (د قباحت د پیدا والي) خبره و بیت ته و غوزول او حال داچې عموماً بیت د قباحت څخه په دې وجه خالي وی چې دی اکثر په بلاغت مشتمل وی، نو دغه ترقي ده.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: "بالتركيب" په کلام کې څه حیثیت لري؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: علامه سکاکي ويلي دي چي افاده په مفرداتو کي وجود نه لري، نو د دغه موافق "بالتر کيب" تأکيد لپاره د افاده دی. ځکه په ترکيب سره افاده تر لاسه کيږي. ځکه د ترکيب په توسط کلام جوړ سي.

حاشيه نمبر ۱۲:

محشي مقصد د دې قيد "بالافادة" بيانوي. خلاصه داده چي "بالتر کيب" تعلق تر "الافادة" لري نه تر "المعنى" پورې، ځکه که چيري "بالترکيب" تعلق تر "المعنى" پوري ولري نو بيا توهم د دې خبري کيږي چي دغه معنې د ترکيب مدلول ده. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده. بلکه دغه معنې مدلول د مقتضياتو د اغراضو ده، ځکه مقتضيات د اغراضو اثر د اغراضو دي. او اغراض اثر کونکي دي. او آثار په مؤثر باندې دلالت کونکي وي. او دلالت د اثر په مؤثر باندې عقلي وی نه وضعي. (کذا في بديع الميزان) نو په دغه کي ترکيب په حيث د ترکيب دخل نه عقلاً او نه وضعاً لري.

﴿فائده﴾: مقتضيات خصوصيات دي لکه تأکيد. او اغراض لکه دفعه د انکار. او دغه اغراض مقتضيات دي.

سوال: په حقيقت کي احوال تقاضې کونکي د خصوصياتو وي. او ستا د وينا مطابق دغه اغراض تقاضې کونکي د خصوصياتو دي؟

جواب: اصل تقاضې کونکي اغراض دي، او احوال په واسطه سره د دغه اغراضو تقاضې کونکي د خصوصياتو وي. او مقتضيات "لکه تأکيد" اثر او اغراض "لکه دفعه د انکار" مؤثر دی. ځکه تأکيد بيله قصد ولو د دفعي د انکار نه راوړل کيږي. او کلام په دې واسطه سره اغراض فائده کوي چي دی مشتمل په مقتضياتو وی. (کذا في فيض الفتاح ۲۱۹/ج۱)

حاشيه نمبر ۱۴:

سوال: دغه عبارت "لا يتصف بكونه مطابقا له او غير مطابق" مستلزم ارتفاع لره د نقيضينو دی. ځکه مطابق او غير مطابق سره نقضين دي. او ارتفاع د نقيضينو محال ده. نو د دغه محذوره ځخه د ځان د خلاصون په خاطر التزام کونه د دې خبري راځي چي کلام "په دې حيث چي دی الفاظ مفرده دي" متصف په دې سره سي چي دغه مطابق د مقتضي سره د حال نه دی؟

جواب: د غیر مطابق معني دا ده "عدم المطابقة عما من شأنه ان يطابق". په دغه وخت کې ارتفاع د نقضینو نه لازمیږي، ځکه نقیض د مطابقت علامي مطابقت مطلقاً دی. او نقیض "عدم المطابقة عما من شأنه ان يطابق" نه دی.

حاشیه نمبر ۱۵:

په دغه عبارت کې "كثيراً ما" دوه قوله دي

سیبویه: "كثيراً ما" د هغه اسماؤ ځخه دی د کومو چې ظرفیت لازم دی. او د زمانې صفت دی. او قائم پر ځای د موصوف دی.

پرته د سیبویه: په "كثيرا ما" کې ظرفیت مختاره دی، نه لازم. هذا عندی و الله اعلم بالصواب.

حاشیه نمبر ۱۶:

"كثيرا" صفت لپاره د "احيان" بلل صحت نه لري. ځکه "احيان" د "حين" جمعَ ده، او د جمعې صفت جمعَ او یا مؤنث راځي، او دلته "كثيراً" یو لاهم نه دی؟

جواب: که چیرې "كثيراً" في الحال صفت وای نو بیا اعتراض وارد ېدی، او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده، بلکه "كثيرا" په اصل کې صفت لپاره د "احيان" وو، بیا "احيان" حذف سو او دی پې پر ځای و درېدی، نو دی اوس د یو مستقل اسم په حیث بېله لحاظ کولو د صفتیت وګرزېدی. په دغه وجه مذکر راوړل سو. نو "كثيرا ما" په معنې سره د "حينا كثيرة" دی.

حاشیه نمبر ۱۷:

سوال: "علي ما ذكر في الكشاف في قوله تعالي الخ" دلته صحت نه لري، ځکه د شارح د کلامَ (نصب علي الظرف) ځخه دا معلومیږي چې په دغه آیتِ مبارکه کې "قليلاً ماتشكرون"، "قليلاً" صفت لپاره د حين دی لکه "كثيرا" چې صفت لپاره د حين دی، نو دی منصوب بناء بر ظرفیت دی. او حال دا چې "قليلاً" په حقیقت کې صفت لپاره د "شكراً" دی نه د "حين"؟

جواب: د دغه کلام تعلق د "نصب علي الظرف" سره نسته چې بیا اعتراض وارد سي، بلکه د دغه تعلق د دې قول سره د شارح دی "ما لتاكيد معني الكثرة و العامل فيه ما يليه" یعنې دغه "ما" د تأکید لپاره ده او نصب یې په ورستني عامل سره دی. او دغه خبره په "قليلاً ما تشكرون" کې وجود لري. ځکه "ما" لپاره د تأکید د قلت او نصب ورکونکي ورستني فعل "تشكرون" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۱۸:

"کثیراً" په اصل کې "احیان کثیرة" وو. بیا موصوف حذف سو او صفت یې پر ځای و درېدی. او دغه صفت یو مستقل اسم وګرزېدی، نو په دغه وجه دی مذکر استعمال سو (ځکه د تأنیث کومَ وجه وجود نه لری).

سوال: "کثیراً" ورسته "من الاحیان" د څه لپاره استعمالیږی؟

جواب: ځرنګه "کثیراً" یو مبهم اسم دی. او اسمِ مبهم و بیان ته ضرورت لری نو دغه "من الاحیان" لپاره د بیان راوړل کیږی.

صفحه نمبر ۳۰

عبارت

الاعجاز كما مر ذكره في مواضع منه ان الفصاحة صفة راجعة الى المعنى والى ما يدل عليه باللفظ دون اللفظ نفسه وفي بعضها ان ضبط الكلام للفظ لا لمعناه حتى ان المعاني في كل طريق هي بعينها في الطريق بعينها العربي والعجمي والقديم والحديث ولا شك ان الفصاحة من صفات اللفظ فتكون راجعة الى اللفظ دون المعنى وفي بعضها ان الكلام بمن انما زاد بالفصاحة على البلاغة كما صرح به حيث اثبت انها من صفات الالفاظ اذا زادت انها من صفات الالفاظ باعتبار المعاني في حال التركيب بحيث نفى ذلك اذا زادت انها ليست من صفات الالفاظ للغوية والكلام للجزئية من غير ملاحظة التركيب وهي لا تنافي ما مر على المعنى والاثبات هذا خلاف مقتضى كلام القوم فكانه لم يتحصل كلا بل الاعجاز نحو النظم ليطلع على ما هو موضوع الشيخ فان محصول كلامه ان هواجس الفصاحة تطلق على معنيين احدهما ما مر في صدر المقدمة ولا نزاع في رجوعها الى نفس اللفظ الثاني انها وصف في الكلام به يقع التفاضل وتثبت الاعجاز وعليه تطلق البراعة والبلاغة والبيان وما شاكل ذلك ولا نزاع ايضا في ان الموصوف بها عرفا هو اللفظ اذ يقال لفظ فصيح ولا يقال معنى فصيح وانما النزاع في ان ما هذا الشان هل هو اللفظ او المعنى او الكل فالشيخ يكتفي على الاول والقزويني على الثاني والسكاكي على الثالث فالنظر ينبغي ان يقع بالتفتيش عما هو الذي هذا بالنظر على المعنى اللغوي ثم تجد ذلك المعنى هل هو لازم له او عارض له فالاول يقتضي ان يكون الفصاحة من صفات اللفظ والثاني من صفات المعنى فان كان من صفات اللفظ فهل هو من صفاته باعتبار نفس اللفظ او باعتبار ما يدل عليه فان كان من صفاته باعتبار نفس اللفظ فهل هو من صفاته باعتبار نفس الالفاظ المفردة او باعتبار نفس الالفاظ المركبة او باعتبار نفس الالفاظ المفردة والمركبة فان كان من صفاته باعتبار نفس الالفاظ المفردة فهل هو من صفاته باعتبار نفس الالفاظ المفردة الاسمية او الفعلية او الحرفية او باعتبار نفس الالفاظ المفردة الاسمية والفعلية او باعتبار نفس الالفاظ المفردة الاسمية والحرفية او باعتبار نفس الالفاظ المفردة الفعلية والحرفية او باعتبار نفس الالفاظ المفردة الاسمية والفعلية والحرفية وان كان من صفاته باعتبار نفس الالفاظ المركبة فهل هو من صفاته باعتبار نفس الالفاظ المركبة الخبرية او باعتبار نفس الالفاظ المركبة الانشائية او باعتبار نفس الالفاظ المركبة الخبرية والانشائية وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المركبة او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة والمركبة وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة الاسمية او الفعلية او الحرفية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة الاسمية والفعلية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة الاسمية والحرفية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة الفعلية والحرفية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المفردة الاسمية والفعلية والحرفية وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المركبة فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المركبة الخبرية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المركبة الانشائية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ المركبة الخبرية والانشائية وان كان من صفاته باعتبار نفس المعاني فهل هو من صفاته باعتبار نفس المعاني المفردة او باعتبار نفس المعاني المركبة او باعتبار نفس المعاني المفردة والمركبة وان كان من صفاته باعتبار نفس المعاني المفردة فهل هو من صفاته باعتبار نفس المعاني المفردة الاسمية او الفعلية او الحرفية او باعتبار نفس المعاني المفردة الاسمية والفعلية او باعتبار نفس المعاني المفردة الاسمية والحرفية او باعتبار نفس المعاني المفردة الفعلية والحرفية او باعتبار نفس المعاني المفردة الاسمية والفعلية والحرفية وان كان من صفاته باعتبار نفس المعاني المركبة فهل هو من صفاته باعتبار نفس المعاني المركبة الخبرية او باعتبار نفس المعاني المركبة الانشائية او باعتبار نفس المعاني المركبة الخبرية والانشائية وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه المعاني فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة او باعتبار ما يدل عليه المعاني المركبة او باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة والمركبة وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة الاسمية او الفعلية او الحرفية او باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة الاسمية والفعلية او باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة الاسمية والحرفية او باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة الفعلية والحرفية او باعتبار ما يدل عليه المعاني المفردة الاسمية والفعلية والحرفية وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه المعاني المركبة فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه المعاني المركبة الخبرية او باعتبار ما يدل عليه المعاني المركبة الانشائية او باعتبار ما يدل عليه المعاني المركبة الخبرية والانشائية وان كان من صفاته باعتبار نفس الالفاظ والمعاني فهل هو من صفاته باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المركبة او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة والمركبة وان كان من صفاته باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة فهل هو من صفاته باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية او الفعلية او الحرفية او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية والفعلية او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية والحرفية او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة الفعلية والحرفية او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية والفعلية والحرفية وان كان من صفاته باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المركبة فهل هو من صفاته باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المركبة الخبرية او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المركبة الانشائية او باعتبار نفس الالفاظ والمعاني المركبة الخبرية والانشائية وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المركبة او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة والمركبة وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية او الفعلية او الحرفية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية والفعلية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية والحرفية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة الفعلية والحرفية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المفردة الاسمية والفعلية والحرفية وان كان من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المركبة فهل هو من صفاته باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المركبة الخبرية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المركبة الانشائية او باعتبار ما يدل عليه الالفاظ والمعاني المركبة الخبرية والانشائية

Maktaba Tul Ishaat.com

او په دغه کې اشاره و دفع ته د هغه تناقض ده د کوم چې د شیخ د هغه کلام څخه یې توهم کېدی کوم چې ده په دلائل الاعجاز کې ذکر کړی دی، خکه ده په څو ځایونو کې د دلائل الاعجاز دا خبره ذکر کړېده چې فصاحت یو داسې صفت دی کوم چې راجع و معنې او هغه شي ته دی کوم چې په هغه باندی لفظ دلالت کوی. نه پخپله لفظ، او بل ځای کې یې بیا ویلې، دې چې د کلام فضیلت د الفاظو د وجې څخه وی نه ددوی د معناګانو د وجې. حتې چې معناګانې په لاړو کې غورځول سوی دي چې هغه عجمي، عربي، ښاري او کلیوال ټوله پیژني. او په دې خبره کې شک نسته چې بلاغت د لفظ د ښه صفاتو څخه دی. لهذا دغه و لفظ ته راجع وی نه و معنې ته. نو د شیخ ددو کلامونو ترمینځ د توافق لاره داده چې د شیخ د فصاحت څخه مراد بلاغت دی، او چیرې چې شیخ دا خبره ذکر کړېده چې فصاحت د الفاظو د صفاتو څخه دی نو دده مراد دادی چې فصاحت د لفظ په دې حیث صفت دی چې دغه الفاظ په سبب سره د ترکیب فائده د معناګانو ورکوی. او چیرې چې شیخ کېدنه د فصاحت صفت لپاره د لفظ یې نفي کړې ده نو د نفي څخه مراد دادی چې دغه د الفاظو مفرده او د کلاماتو مجرد و صفت نه دی بېله اعتباره د ترتیبه. او اوس تناقض نسته، خکه د نفي او د اثبات د هر یوه محل جلا جلا دی، او دغه د مصنف د کلام خلاصه ده. گواکې مصنف د شیخ په مقصد د اطلاع روا ستولو لپاره د دلائل الاعجاز پوره تفتیش او تحقیق کړی نه دي، خکه دده د دلائل الاعجاز د کلام خلاصه داده چې د فصاحت په دوو معناګانو اطلاق کیږی. او ددوی څخه یوه معنې هم هغه ده کومه چې په مقدمه کې تېره سوه. او په هغه کې کومه نزاع نسته چې دغه معنې و لفظ ته راجع ده. او د فصاحت دوهمه معنې داده چې فصاحت د کلام یو داسې صفت دی د کوم په وجه سره تفاضل اواعجاز د قرآن تر لاسه کیږی. او په دغه د بلاغت، د براعت، د بیان او دغه ډول د نورو اطلاق ترسره کیږی. او دغه ډول په دې کې هم نزاع نسته چې عرفاً په دغه سره لفظ موصوفه کیږی، خکه په عرف کې ویل کیږی فصیح لفظ، اومعنې فصیح نه ویل کیږی. او نزاع محض په دې کې ده چې منشأ ددغه فضیلت او محل ددغه فضیلت لفظ او که معنې ده. او شیخ په هر یوه ددغه فریقنو انکار کړی دی، او فرمایي: هغه کلام چې په هغه کې نظر باریک وی او د هغه د وجې فضیلت واقع کیږی هغه کلام دی کوم چې په واسطه د خپل لفظ په خپله معنې دلالت کوی، ورسته تر دغه نظری دقیق بیا ته دلالت ددغه معنې لغوی په معنې مقصودی باندی پیداکوي. نو دلته الفاظ، اولي، اودویمې معناګاني وجود لري، بیاشیخ اطلاق «په اولو معناګانو باندی بلکه په ترتیب د معناګانو په نفس کې بیا په ترتیب د الفاظو په برابری د

اولو معناګانو په خبرو کې»د نظم، صورو د خواصو، مزاياؤ د کيفياتو اد دغه ډول د نورو کوي.او شيخ قطعي حکم ددې خبرې کوي چې فصاحت د هغه اوصافو څخه دی کوم چې ومعناګانو ته وړاندی کيږی،او هغه فضيلت چې د هغه په وجه کلام په فصاحت، بلاغت، براعت او په مثل ددوی سره موصوفه ګرزی دغه فضيلت په اولومعناګانو کې وی نه په منطوقه الفاظو کې کوم چې آوازونه او حرفونه وي.او دغه ډول نه دويمې معناګاني کوم چې متکلم ددوی د اثبات او يا د نفي اراده لری. لهذا چيرې چې دی دا ثابتوی چې فصاحت د صفاتو څخه د الفاظو او يا د معناګانو دی نو شيخ په دغه معناګانو سره دغه اولې معناګاني مرادَ وي. او چيرې چې يې ددوی څخه نفي کوي هلته د الفاظو څخه منطوقه الفاظ اودمعناګانو څخه دغه دويمې معناګاني مراد دي کومې چې په لارو کې غورزول سوی دی، او په دغه دويمې معناګانو کې د خواصو او عامو برابرې کړل سوېده. او زه د شيخ کلام په دغه باندی نه حمل کوم. بلکه شيخ په خپله په څو ځايونو کې په دغه سره تصريح کړېده. لکه څرنګه چې ده فرمايلي دي.

تشريح

دلته څو شيان د بيان ورډي.

اول: دلغاتوبيان: قروی: کښيوال. قَرَوِيّ: (اسم) اسم منسوب إلى قُرَيّة مجلس قَرَوِيّ جامع القرويّين : جامع بمدينة فاس بالمغرب ، حياة قرويّة : حياة تتميّز بالبساطة وتتحاشى مع طبيعة أهل القرية الفنوعة ، عادات قرويّة : أشياء لها طابع القرية أو خاصّة بها.

بدوی: صحرائي: بَدَوِيّ : اسم منسوب إلى بَدْو،على غير قياس . واحد البَدْو ، عربيّ من أيّ القبائل الصحراويّة المختلفة .

مطروحة: غورځول سوی. طَرَحَ / طَرَحَ ، يطرَح ، طَرْحًا ، فهو طارح ، والمفعول مَطْروح وطريح طَرَحَ الوَلَدَ أَرْضاً : رَمَاهُ ، قَذَفَهُ ، يوسف آية 9 اُقْتُلُوا يُوسُفَ أَو اطْرَحُوهُ أَرْضا (قرآن) طَرَحَ عليه شيئًا : أَلْقَاهُ وبَسَطهُ طرحه جانبًا : أهمله وتركه طرح له الوسادةَ : هيأ له الجوّ ، طَرَحَتْ به النّوى كلّ مَطْرَح : باعَدَتْ به طَرَحَ من يدِهِ : أَلْقَاهُ طَرَحَ المسألةَ / طَرَح عليه المسألةَ : قدّمها ، عرضها للبحث والدّرس والمناقشة طَرَح عليه وجهةَ نظر / سؤالاً ، طَرَحَ الشيءَ عنهُ : أَلْقَاهُ وأبْعَدَهُ طرح النُّقْطةَ بالحكومة على المجلس التشريعيّ : طلب التصويت عليها ، طرح المشروع في المناقصة : عرضه على الرّاغبين في القيام به ؛ للمنافسة على تقديم عروضهم ، طَرَحَ عددًا من آخر : (الجبر والإحصاء) أنقصه، أو اسقطه منه طرح عليه الرِّداء : ألقاه عليه ، غطّاه به طرَح عنه الهمّ : ألقاه وأبعده عنه.

يتصفح: صفحه په صحفه کتنه. تصفّح / تصفّحَ في يتصفّح ، تصفُّحًا ، فهو مُتصفِّح ، والمفعول مُتصفَّح تَصَفَّحَ الكِتَابَ : قَلَّبَ أَوْرَاقَهُ وَنَظَرَ فِيهِ لِيَطَّلِعَ عَلَيْهِ تَصَفَّحَ الشَّعْبَ : نَظَرَ فِي أَحْوَالِهِ وَتَأَمَّلَ أُمُورَهُ.

الفاظ مفرده وکلم مجرده: د مفرد او مجرد څخه يو شي مراد دی يعني په الفاظ او کلماتو کې د هغه معناګانو لحاظ سوی نه وی د کوم لپاره چې دوی راوړل سوی دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوم: سوالونه او جوابونه: و فی هذه الاشارة: **سوال:** مصنف رحمه الله په دغه خبرې سره «کثیراً ما» د څه بیانولو قصد لري؟

جواب: مقصد دده اشاره و دفعي ته د هغه تناقض کول دی کومه چې د شیخ د هغه دوو کلا مونو ترمینځ راغلېدء چې هغه په دلائل الاعجاز کې ذکر سوېده. **اولني کلام د شیخ دادی:** فصاحت صفت د لفظ دی نه د معني، ځکه معني په مثل د هغه شي ده کوم چې په لاره کې غورځول سوی وی، کوم چې عربي اعجمي، بناری او صحرائي ټوله پېژني. او حال دا چې فصاحت د کلام د اعلي صفاتو څخه یو صفت دی.نو دلته دا خبره معلومه سوه چې فصاحت کلام ته یه اعتبار د الفاظو وړاندی کیږی نه د معناګانو.

دویمه خبره ده داکړېده: فصاحت د هغه شي صفت دی په کوم چې دلالت په واسطه سره د لفظ تر سره کیږی.او د غه معني ده.لهذا د شیخ د دغه دوو کلامونو تر مینځ تضاد او تعارض را غلي(چې یو ځای یې صفت د لفظ او بل ځای یې بیا صفت د معني بولي)؟

مصنف د دغه تعارض د دفعي کولو لپاره و فرمایل: دغه تعارض هلته وارد ېدی که چیرې د نفي (فصاحت صفت لپاره د الفاظو نه دی)او اثبات (فصاحت صفت لپاره د الفاظو دی)محل یو وای، او حال دا چې خبره دغه دول نه ده، ځکه نفي دیوه محل او اثبات د بل محل په اعتبار سره دی. داډول چې دنفي محل محض الفاظ دی بېله اعتباره د معناګانو، داډول چې الفاظي مجرده موصوف په صفت سره نه سي کېدلای. او محل د اثبات یې دادی چې موصوف په فصاحت سره الفاظ په دې اعتبار سره دی چې دوی په سبب د ترکیب دلالت په هغه معناګانو او اغراضو کوي د کوم لپاره چې کلام راوړل کیږی.

د شیخ مراد دلته دنامه څخه د فصاحت، بلاغت دی(نه په هغه معني سره کوم چې مخکې ذکر سوه، چې هغه "خلوصه من ضعف التألیف وتنافر الکلمات و التعقید" دی، ځکه په هغه اعتبار سره فصاحت محض صفت د لفظ وی او په دغه صفتیت کې معني لره دخل نه وی)، ځکه د علماؤ په وړاندی ډیر ځلي ذکر فصاحت او مراد ځني بلاغت وی. او شیخ هم په دغه خبره سره تصریح کړېده چې مراد د فصاحت څخه بلاغت دی. لهذا چیرې چې ده ویلي دي چې فصاحت صفت د لفظ دی هلته دده مراد دادی چې دغه صفت د لفظ په اعتبار د موصوف دی،نه محض صفت د لفظ.لهذا فصاحت صفت د لفظ په دې اعتبار سره دی چې دی دلالت په معني کوی.

خلاصه: بلاغت صفت لپاره د محض لفظ او آواز نه دی، بلکه په دې اعتبار سره دی چې دغه لفظ د ترکیب په وجه د هغه زائد او غرض (د غرض څخه مراد هغه خصوصیات دي دکوم چې حال تقاضي کوي) فائده کوی د کوم لپاره چې کلام او لفظ راوړل سوی دی. ددې وجه داده چې د لفظ دلالت په اصل مقصد مقصود نه دی، ځکه دغه مقصد په غیری فصیح کلام سره هم تر لاسه کېدای سي. بلکه د کلام بلیغ دلالت په دغه زائده معني او خصوصیت «دکوم چې حال تقاضي کوی، کوم ته چې مقتضی الحال ویل کیږی او کوم ته چې اعتبار مناسب ویل کیږی» مقصود وی. لهذا شیخ چې **چیری** بلاغت صفت د لفظ لپاره گرزولي دي دهغه څخه هغه لفظ مراد دی دکوم څخه چې دغه زائده معني او خصوصیت تر لاسه کیږی. او هغه لفظ مراد نه دی کوم چې محض په اصل مراد دلالت کوی. او **چیرې** چې شیخ صفت لپاره د معني گرزولي دي ددغه څخه هغه زائده معني او غرض مراد دی کوم چې لفظ په سبب د ترکیب فائده کوی. او **چیری** چې شیخ نفي د بلاغت د لفظ څخه کړی دي او ویلي یې دي چې بلاغت صفت لپاره د لفظ نه دی دهغه څخه هغه لفظ مراد دی کوم چې ددغه زائدې معني څخه وی. او چیری چې ده ویلي دي چې بلاغت صفت لپاره د معني نه دی ددغه څخه د لفظ هغه معني مراد ده کوم چې د محکوم علیه د محکوم به سره د ربط ورکوني څخه ثابتیږی.

فان محصول کلامه فیه هو ان الفصاحة: **سوال:** ددغه څخه مراد د شارح څه دي؟

جواب: شارح په دغه کلام سره وجه د ضعف د کلام د مصنف بیانول غواړي، داډول چې مصنف رحمه الله ددغه خبری په هکله "موصوف په بلاغت سره آیا لفظ گرزی او که معني" داخبره فهمولېده چې دشیخ د کلامونو تر مینځ تناقض او تعارض راغلي دي، ځکه یوځای یې صفت د لفظ او بل ځای یې بیا د معني گرزولي دي.

وارد شارح د رد خلاصه داده چې بلاغت په هر لحاظ سره صفت لپاره د لفظ دی، ځکه د بلاغت دوي معناګاني بیان سوی دي.

۱: "خلوصه من ضعف التالیف و تنافر الکلمات و التعقید" اوپه دې کي شک نسته چې دغه صفت د لفظ دی داډول چې دغه ټولې خبری په لفظ کي وجود پیدا کوی نه په معني کي.

۲: بلاغت په کلام کي یو داسي وصف دی چې په هغه سره ښه والي د لفظ تر بسره کیږی او په هغه سره اعجاز واقع کیږی، او بلاغت په اعتبار د دغه معني هم عرفاً صفت لپاره د لفظ دی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

اوس دا خبره ثابته سوه چي بلاغت د هري معني په اعتبار سره صفت لپاره د لفظ دی نه د معني، بلکه اصل اختلاف په دې خبره کې دی چې د کوم فضيلت په وجه چې بلاغت وجود پيدا کوی دغه فضيلت منشأ لفظ او که معني ده، شيخ و فرمايل چې نه محض الفاظ دي (په دې اعتبار سره چې دوی مفرد او مجرد دی) که څه هم دوی موصوفه په بلاغت سره دی او نه دويمي معناګاني (کوم چې اغراض دي) بلکه منشأ د دغه فضيلت معناګاني مرتبه «ترتيب سوی» اوليه دی (کوم چې مقتضي د حال دي) او يا ددوی ترتيب دی. لهذا مصنف په منشأ کې د اختلاف خطا سوی دي. والله اعلم بحقيقة الحال

﴿فائده﴾: تحقق او مرکب والي د کلماتو د ترتيب ذهني د معناګانو موافق او مطابق وی، لهذا د معناګانو د تصور ذهني څخه چاره نسته. او تصور د دغه معناګانو دوه ډوله کيږی.

۱: تصور د معناګانو په اعتبار د ذات "قطعه نظر د دې څخه چې ددوی څخه تعبير په لفظونو سره کيږی"

۲: تصور د معناګانو په دې اعتبار چې ددوی څخه تعبير په الفاظو سره کيږی، او په دغه وخت کې دوی ته ترتيب ورکول کيږی د دې لپاره چې ددوی موافق الفاظ راوړل سي (او دغه ترتيب ته شيخ "ترتيبها في النفس" ويلي دي). او په دغه اعتبار سره دلالت د عباراتو په معناګانو دغه دلالت اولي دی. لهذا تصور اول مخکې تر تصور دوم دی. او تصور دوم بيا مبدأ لپاره د تکلم او د خبرو کوني وی.

الشيخ ينكر على كلا الفريقين: **سوال**: مقصد د دغه کلام څخه څه دی؟

جواب: دلته دوه قول دي. ۱: بلاغت صفت لپاره د لفظ دی. ۲: بلاغت محض صفت د معني ثاني دی. نو شيخ په دوی رد کوی داډول چې دغه نه محض صفت لپاره د لفظ او نه محض صفت لپاره د معني دی.

﴿فائده﴾: د معني دري قسمونه دي. ۱: معني لغوی.

۲: معني لغوي سره د خصوصياتو يا محض خصوصيات. د مثال په توګه تعريف، تنکير، تقديم، تأخير او دغه ډول نور.

۳: هغه اغراض چې د هغو په وجه په دغه خصوصياتو راتګ کيږی. د مثال په توګه په معهود کې اشاره و تعريف، او په تنکير کې اشاره و تعظيم او تحقير ته وی. لهذا تنکير معني ثاني او

تعظیم او تحقیر معني ثالث ده. او دلته په علم المعاني کي د معني اولي څخه خصوصیات او د دویمه معني څخه اغراض مراد دي. دغه خبره په اعتبار د علم المعاني ده او په فن کي د بیان د معني اولي څخه مراد دادی "معني مطابقي سره د مقتضي الحال". ۲: معني ثانوي څخه مراد معني مجازي او کنائي ده.

ان الکلام الذی یدق فیه: **سوال**: د شیخ دد غه کلام مقصد څه دی؟

جواب: هغه کلام" چې په هغه کي باریک نظر او فکر پرېوزی، او دکوم په وجه فضیلت واقع کیږی" هغه دی کوم چې دلالت په لغوی معناګانو په واسطه د لفظي منطوق کوی. بیا دغه لغوی معني په معني مرادی باندې دلالت کوی.

مثال: "زید کثیر الرماد". اوس دلته څلور شیان دي.

۱: **الفاظ**: دغه کثیر الرماد دي.

۲: **معني اول** «یعني معاني لغویه» ډیری هیرو والا.

۳: **معني ثاني** «معني مقصوده» سخي.

۴: **لفظ ثاني**: دلته ثاني هغه معني اوله ده یعني ډیرو هیرو والا. دغه ته معني اوله او دغه ډول لفظ ثاني هم ویل کیږی، ځکه دغه معني اوله دلالت په معني دویمه کوی، او کوم څه چې په معني دلالت کوی هغه ته لفظ ویل کیږی دغه ډول واولو معناګانو ته لفظ ویل کیږی. اوس الفاظ دلته دلالت په معنی اوله کوی، یعني ډیرو هیرو والا. او معني اوله بیا په معني دویمه یعني سخیوالي دلالت کوی. لهذا اولاً په ذهن کي د معناګانو ترتیب ورکول کیږی بیا د هغه موافق تکلم تر سره کیږی، نو شیخ اولاً په ترتیب داولو معناګانو او بیا په الفاظو د نظم، صور، خواص، او مزایاو اطلاق تر سره کړی دي. او د کوم ښه والي په وجه کلام د بلاغت او فصاحت مستحقه ګرزی هغه ښه والي په اولو معناګانو کي وی نه په الفاظو (کوم چې د قبیلي څخه د آواز او حروفو دي) او دویمي معناګانو کي. اوس چیری چې شیخ دا ویلي دي چې فصاحت او بلاغت د لفظ او یا د معني صفت دی ددې دواړو مطلب یو دی داډول چې د لفظ څخه مراد لفظ ثاني دی او لفظ ثاني معني اوله ده او دغه ډول د معني څخه هم دلته «چیری چې یې بلاغت صفت ورته ګرزولي دی» معني اوله مراد ده نو ددواړو خلاصه داده چې بلاغت صفت لپاره د معني اولي دی. او چیری چې یې نفي کړی دي "چې فصاحت او بلاغت د الفاظو او معناګانو صفت نه دی"

Maktaba Tul Ishaat.com

هلته يې د الفاظو څخه مراد الفاظي اَوَلِيه دی، کوم چې د قبيلې څخه د آواز او د حروفو دي يعني کثير الرماد. او د معني څخه معني دويمه مراد ده، کوم چې هر کس و ناکس تر لاسه کولای سي.

و لست انا احمل: **سوال**: کومه خبره چې شارح لپاره د دفعي د تعارض تر مينځ ددوو کلامو د شيخ وکړه دغه توجيه په هغه شي سره ده په کوم سره چې شيخ راضي نه دي؟

جواب: په دغه توجيه سره خپله شيخ په ځوځايونو کي تصريح کړيده دی يو ځای فرمايي "لما کانت المعاني تتبين الخ". اوس ددغه عبارت څخه داخبره په ډاګه معلوميږی چې شيخ بلاغت صفت لپاره د لفظ بولي نو دلته د لفظ څخه لفظ اول يعني منطوقه مراد نه دی بلکه معني اوله مراد ده کوم چې دلالت په دويمي معناګانو کوي. لهذا دغه معني اوله په حقيقت کي په فصاحت سره موصوفه کيږی.

﴿فائده﴾: دعبارت بيان: لما کانت المعاني تتبين بالالفاظ": څه وخت چې د اولو معناګانو «لغويه» وضاحت په الفاظو سره کيږی.

و لم يكن لترتيب المعاني سبيل الا بترتيب الالفاظ في النطق تجوزوا فعبرواعن ترتيب المعاني بترتيب الالفاظ "مګر دمعناګانو ترتيب بېله ترتيب ورکولو دالفاظوپه وېناکي فهمول کېدلای نه سي. نو ګواکي ترتيب د الفاظو سبب لپاره د ترتيب دمعناګانودی. نو ذکر سبب مراد مسبب دی يعني د ترتيب څخه د معناګانو يې په ترتيب سره د الفاظو تعبير وکړي. لهذا ذکر ترتيب لفظي او مراد ترتيب معنوی دی. د مثال په توګه اسد د وينا په صورت کي مراد دليره کس وی.

"ثم بالالفاظ بحذف الترتيب": بيا يو بل مجاز ترسره سو داوول چې د ترتيب الالفاظ څخه لفظ د ترتيب حذف کړل سو او "الفاظ" پاته سو. لهذا اوس ذکر لفظ او مراد ځني ترتيب د الفاظو دی. او څه وخت چې دا وينا ترسره سي چې دفضيلت رجوع و الفاظو ته کړل کيږی نو د هغه څخه دا مراد وی چې دغه فضيلت د ترتيب، و الفاظو ته راجع دی. او بيا د ترتيب الالفاظ څخه ترتيب المعاني مرادیږی. يعني ددغه څخه فضيلت د ترتيب المعاني مراد دی.

﴿حل الحواشي﴾

حاشيه نمبر ۱:

داعجمي د تعريف بيان: هر هغه کس چې فصيح نه وي. عربي هر هغه کس چې هغه مالک د فصاحت وي.

د عربي د تعريف بيان: هغه کسان چې په بنار او کلو کي وسيږي. او د عربو څخه اعراب هغه دي چې په صحراء کي وسيږي. (شرح الکشاف)

او د لغتو د کتابونو موافق عربي هغه کس دی چې فصيح وی او اعراب د دوی څخه هغه څوک دي چې دوی په صحراء کي وسيږي.

سوال: د "والقوي" څخه واو ساقطول حسن دي، ځکه "القوي و البدوي" تفصيل لپاره د "العربي" دي. او "واو" دلالت په مغايرت کوي؟

جواب: دغه بل تقسيم او خاص والي د ترعربي پورې نه لري. بلکه دغه تقسيم و اعجمي ته هم شامله دی. ځکه اعجميان هم په دوه ډلو باندې ويشل سوی دی. ۱: قروي. ۲: بدوي.

حاشيه نمبر۲:

دلته محشي دا ويل غواړي چې فصاحت د الفاظو په حيث د الفاظو صفت نه دي.

حاشيه نمبر۳:

سوال: عبارت د شارح ناقصه دی، ځکه شيخ يو ځای بلاغت صفت لپاره د لفظ گرزولي دي، او بل ځای يې بيا نفي ترسره کړی دي، دغه ډول يو ځای يې صفت لپاره د معني او بل ځای يې بيانفي ددې ترسره کړی دي چې دغه صفت لپاره د معني نه دي، نو دلته تناقض په دوو صورتونو کي وجود پيدا کړی. ۱: نفي کول د بلاغت د لفظ څخه او ثابتول لپاره د لفظ. ۲: نفي د بلاغت د معني څخه او اثبات د بلاغت لپاره د معني. مگر شارح د اول تناقض د دفع لپاره و فرمايل "فوجه توفيق بين الكلامين... حيث اثبت انها من صفات الالفاظ الخ". او ددويمي خبری (نفي کول د بلاغت د معني څخه، او اثبات لپاره د معني) په هکله يې څه و نه فرمايل؟

جواب: ددوارو سوالونو مدار يو شي دی دا ډول چې د لفظ او دغه ډول د معني په هکله دا اعتراض وارديږی چې نفي د بلاغت د لفظ څخه يو ځای او د معني څخه بيا ځای سوی دی او بل ځای بيا اثبات د بلاغت لپاره د لفظ يو ځای او بل ځای بيا لپاره د معني ترسره سوی دی. ځرنگه مدار د سوال يو شي وو نو په يوه جواب سره ددغه دواړه تناقض دفع کيږی. د شارح

Maktaba Tul Ishaat.com

خبره د لفظ په هکله ده، او معنې پر دغه قیاس سوېده، په دغه وجه د معنې په هکله ده څه نه وویل.

سوال: د تناقض دفع څرنګه راځي؟

جواب: دا ډول چې چیرې نفي د بلاغت د لفظ څخه سوی دی د دغه څخه یو ځای مراد دی او چیرې چې اثبات تر سره سوی دی هلته بیا بل ځای مراد دی، نو د نفي او اثبات محل جلا جلا دی، او دغه ډول د معنې په هکله خبره ده.

سوال: محلونه څرنګه جلا دی؟

جواب: دا ډول چې چیرې نفي سوی دی هلته محض لفظ په حیث د ذات مراد دی، یعنې فصاحت صفت د لفظ په حیث د لفظ نه دی. او چیرې چې یې اثبات د فصاحت لپاره د لفظ سوی دي هلته لفظ په حیث د ذات مراد نه دی، بلکه لفظ په دې حیث مراد دی چې دی معنې فائده کوی. لهذا نفي په اعتبار د ذات د لفظ او اثبات لپاره د لفظ په اعتبار د افاده د معنې دی. او دغه ډول د معنې په هکله خبره تر سره سوېده. دا ډول چیرې چې دا خبره تر سره سوېده چې بلاغت صفت لپاره د معنې نه دی، یعنې معنې په حیث د معنې، او چیرې چې ویل سوی دی چې دغه صفت لپاره د معنې دی نو هلته مراد دادی چې معنې په دې حیث چې دغه د لفظ څخه مستفاد یږی.

سوال: خلاصه د حاشیه څه سوه؟

جواب: دا سوه چې بلاغت نه صفت د لفظ په حیث د لفظ دی او نه د معنې په حیث د معنې دی، او دغه ته محشي په دې الفاظو سره اشاره وکړه " لان المنفي كونها راجعة اليه نفسه". او دغه ډول بلاغت صفت لپاره د لفظ په دې حیث دی چې دغه افاده د معنې کوی، او دغه ډول بلاغت صفت لپاره د معنې په دې حیث دی چې دغه د لفظ څخه مستفاد یږی. او دغه ته محشي په دې الفاظو سره اشاره وکړه "و اثبت كونها راجعة اليه بالمدخلية". یعنې مستقلاً یې صفت نه دی بلکه چې افاده ورسره ملګري سي نو بیا یې صفت دی.

حاشیه نمبر ۴:

مقصد د محشي بیان دشارح ددې عبارت "فان الخلوص من الصفات الخ" د ی. خلاصه داده چې څه وخت لفظ په خلوص سره موصوفه وګرزي نو منشأ ددغه موصوفوالي به د دوو حالو څخه

خالي نه وی. ۱: په خپله د غه لفظ به وی. ۲: د غه لفظ به نه وی بلکه معني به وی نو اوس د د غه عبارت څخه مراد دادی چې لفظ به په خپله منشأ او مرجع د د غه خلوصاتو وی. د مثال په توګه هغه شیان چې د هغو څخه خالي والي تر سره کیږی، د مثال په توګه تنافر، ضعف، تألیف تعقید معنوي په و خت کې د وجود موندولو د د غو شیانو په نفسي لفظ کې. اوس د د غو درو سرو ترمینځ فرق دادی چې په خلوص کې د تعقید معنوي نظر و معني ته وی، مګر یا هم د د غه منشأ په خپله لفظ وی. او د غه نظر و معني ته لفظ د منشأ والي څخه نه باسي. او د تعقید معنوي د خلوص څخه پرته نظر و نفسي لفظ ته وی. ځکه تعقید معنوي د دلالت څخه" د لفظ د لازم بعید په ملزوم " پیدا سوی وی. اوس که چیري د غه لفظ دلالت په ملزوم و نه کړی نو بیا معني په "کونه مقفدا" سره نه موصوف کیږي. او مراد دانه دی چې د غه لفظ په صفت سره د خلوص موصوفه کیږی که څه هم منشأ ډ د غه خلوصاتو لفظ نه وی. لکه فصاحت په معني سره د بلاغت. اوس لفظ په د غه فصاحت سره موصوفه کیږی. مګر د د غه فصاحت منشأ لفظ نه بلکه معني ده.

حاشیه نمبر۵:

سوال: "بَدَل" کوم صیغه دی؟

جواب: د غه د مجهول صیغه ده، معني یې داده "هغه کلام دی د کوم په لفظ سره چې دلالت قصدیږی". ځرنګه د غه لفظ مجهول دی، او مجهول لفظ بېله قصد وجود نه سي پیدا کولای (ځکه د معلوم معني دا جوړیږی "دلالت کوی" او د مجهول معني داجوړیږی "دلالت یې قصدیږی") په د غه وجه محشي و فرمایل چې د غه لفظ "بدل" دلالت پر قصد کوی.

حاشیه نمبر۶:

سوال: معني لغوی څخه څه مراد دی؟

جواب: هر هغه معني چې په توسط د وضع و لاس ته راځي.

سوال: د د ې کوم کوم صورتونه دي؟

جواب: د د ې صورتونو یو څه دادی. ۱: د خپلَ لفظ څخه د غه معني و لاس ته راځي لکه تعریف د لام څخه او تنکیر د تنوین څخه، لهذا هر یو د تعریف او تنکیر څخه د نفسِ لفظ څخه لاس ته راځي. ۲: د خپلَ لفظ څخه و لاس ته نه راځي، بلکه د اعراب څخه د یو کلمه و لاس ته راځي لکه فاعلیت او مفعولیت، اضافت (نسبت اضافي، د غه د حرفِ جر څخه مثلاً معلومیږی) حالیت (د یو

Maktaba Tul Ishaat.com

شي حال کېدنه، دغه د نصب څخه معلومېږي). ۳: هیئت ترکیبي: لکه مخکي کول د یوې کلمه پر بله باندې، اوس دغه تخصیص فائده کوي. او تخصیص لپاره د رد د هغه چا وي چې هغه د یو کار مشترک والي ترمینځ د څو شیانو متصور کوي. نو د تقدیم په توسط مثلا هغه د اشتراک تصور نفي سي. او دغه ډول حذف کول. اوس مثلاً دغه حذف کول د فاعل ددې لپاره تر سره کېږي چې فاعل و خلکو ته معلوم نه سي چې د هغه په وجه به بیا خلک و ده ته تاوان و رسوي. لهذا فاعل د شر څخه د ژغورلو لپاره مثلاً فاعل حذف سي.

سوال: تقدیم او حذف څرنګه د هیئت ترکیب څخه معلومېږي؟

جواب: داډول چې مخکي والي بېله کَلامَ نه سي راتلای، ځکه څه وخت چې کلام وجود و مو ندی نو اوس دا معلومېږي چې په دغه کلام کي یو کلمه د خپل ځای څخه مخکي سوېده. دغه ډول حذف کونه هم په کلام کي تر سره کېږي. ځکه څه وخت چې کلام وجود و موندی نو بیا هلته معلومېږي چې دلته یوه کلمه د دغه کلام حذف سوېده. څرنګه په کلام کي هیئتِ ترکیبي وجود لري په دغه وجه وویل سول چې دوی دواړه د هیئت ترکیبي په توسط معلومېږي.

حاشیه نمبر۷:

سوال: "لذالک" کي دغه لام د څه لپاره دی؟

جواب: په دغه کي دوه احتمالَ وجود لري.

۱: دغه لام صله لپاره د "تجد" دی، نو دغه لام د تعدیه لپاره دی. لهذا په دغه صورت کي اَوله معني په خپله پر دویمه معني دلالت کوي.

سوال: دغه دلالت ته دوم ولي ویل کېږي "دلالة ثانیة"؟

جواب: دغه وینا نسبتاً ده، دلته دوه دلالتونه وجود لري. ۱: دلالت د لفظ پر معني. ۲: دلالت د اولي معني پر دویمي. لهذا دغه دلالت د معني پر معني دوم بالنسبت د لفظ د دلالت پر معني دی. نو اول دلالت د لفظ پر معني دی په دغه وجه دغه دلالت د معني پر دویمي معني بیا دوم دی. (لهذا یو دلالت لفظ او بل معني کوي. نه دواړه دلالت لفظ په دغه صورت کي کوي او نه دواړه دلالت معني اول کوي)

۲: دغه لام لپاره د علت او جلیه دی. یعنی ته به د دغه اولي معني د وجي لفظ دلالت کونکي پر دویمي معني پیدا کړې. نو دلته دلالت کونکي پر دویمه معني هم لفظ دی، البته په واسطه د اولي معني دی. نو دلته لفظ دوه دلالته کوي. ۱: پر اوله معني. ۲: پر دویمه معني.

سوال: د دغه دوو صورتونو ترمینځ څه فرق دی؟

جواب: په اول صورت کې پر دویمه معني دلالت کونکې اوله معني ده. او دغه دلالت ته دوم ویل په اعتبار د دلالت د لفظ پر اول معني دی. او په دوم صورت کې دلالت کونکي پر دواړو معناګانو باندې لفظ دی. او دغه دلالت ته دوم ویل په اعتبار د خپل ځان دی.

حاشیه نمبر۸:

د دغه عبارت "معان اول" په بیان کې دوې ډلې دي.

۱): **ابن قاسم:** معني اوله ثبوت د محکوم و محکوم علیه ته دی. او دویمه معني بلیغ والي د لفظ په اعتبار سره د مقتضی الحال دی. (یعني خصوصیات او مزایا لکه تأکید). (شروح التلخیص ۱۳۵/ج۱)

۲: **علامه سیالکوټي:** معني اوله هغه ده چې په حسب د ترکیب د لفظ څخه فهمول کیږي. او دغه معني سره د خصوصیاتو مراد ده. او معني مراد عام تردې حقیقي او که مجازي وی. د مثال په توګه په "کثیر الرماد" کې معني مراده کریم او سخي دی. او معني ثاني هغه اغراض دي چې متکلم یې په دې باعثه کړې وی چې دی کلام مشتمل پر مقتضیاتو باندې د احوالو و ګرزوی. د مثال په توګه د انکار ردول، تعظیم او تحقیر او دغه ډول نور هغه شیان چې متکلم و داسې کلام راوړولو ته رابولي چې هغه مشتمل په هغه خصوصیاتو وی چې د هغه خصوصیاتو تقاضی احوال کوي. (شرح العالمی ۳۸۹/ج۲)

حاشیه نمبر۹:

سوال: "خواص" و څه ته ویل کیږي؟

جواب: هغه امور کوم چې د تراکیبو څخه تر لاسه کیږي. نه د وضعي معني څخه د الفاظو.

مثال: "انّ زیداً لقائم" اوس د دغه ترکیب څخه تأکید تر لاسه کیږي. دغه تأکید نه د زید او نه د قائم څخه تر لاسه کیږي. بلکه څه وخت چې دغه کلام مرکب په دغه خاص صورت سره سو نو دغه د تأکید فائده ورکړه. لهذا دغه تأکید خصوصیت دی. او دغه ته خصوصیت ویل کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: " مزایا" و څه ته ویل کیږی؟

جواب: مزایا څخه هغه خصوصیات مراد دي کوم چې فائده د اغراض ورکوی.

مثال: د منکر د انکار د ردولو لپاره کلام مؤکد راوړل کیږی.لکه" انّ زیداً لقائم". اوس معني وضعي د زید ولاړ ده. او غرض د دغه کلام څخه دفعَ د انکار ده. او دغه دفع د انکار په تأکید سره لاسه کیږی، نو دغه تأکید خصوصیت دی،او دغه ته مزیت هم ویل کیږی. او دفعَ د انکار غرض دی کوم چې د دغه خصوصیت څخه تر لاسه کیږی.والله اعلم بالصواب

سوال: اولو معناګانو ته خصوصیات ویل صحت نه لری. ځکه اولَ معني ، معني وضعي وی کوم چې د خصوصیت څخه جلا شي دي؟

جواب: دغه وینا مجازاً ده، ځکه معني لغوی سبب لپاره د فهمولو د دغه معناګانو ده دا دول چې څه وخت و معني لغوی ته د کلام کتنه تر سره نه سي تر هغه پورې دغه اغراض فهمیدلای نه سي. د یو کلام چې اصلي معني معلوم نه وی نو د هغه کلام څخه به غرض څرنګه تر لاسه سي. لهذا غرض د کلام څخه هغه وخت تر لاسه کیږی چې کتنه یې و لغوی معني ته وسي. نو معني لغوی سبب او اغراض مسبب سو، او دغه وینا د نامه د مسبب پر سبب ده، ځرنګه د مسبب د نامه اطلاق پر سبب مجازاً وی نو اطلاق د غرض او خصوصیت پر معني وضعي هم مجازاً دی.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: لفظ څه ته ویل کیږی؟

جواب: په دغه کي اختلاف دی.

بعضو ویلي دي چې لفظ "صوتٌ یُعتَبدُ علی مَخارِجِ الحُرُوفِ"لفظ کیفیت د هغه آواز دی کوم چې په استعانت سره د جنسِ مخرج حاصلیږی" ته ویل کیږی

محشي: لفظ یو کیفیت د آواز دی، په خپله آواز نه دی، او دغه آواز یو داسي کیفیت دی کوم چې په هواء کي وجود پیدا کوی. او دغه آواز د باد د باد سره په موښتولو سره وجود پیدا کوی.

سوال: مونږ دا خبره نه منو چې لفظ یو کیفیت د آواز دی. ځکه آواز هم یو عرض او دغه کیفیت چې و آواز ته ور عارضیږی هم عرض دی. نو قیام د عرض په عرض سره راغله، کوم چې باطل دی؟

جواب: دا هغه وخت که چیرې دغه کیفیت د آواز (چې حروف دي) په خارج کې وجود لرلای. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده نو څه وخت چې کیفیت د آواز وجود نه لري نو بیا یې په بل شي په سي قائمولای نه رائي.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: شارح لره د دغه عبارت "او نفیها" لري کول او نه ذکر کول پکار وه. ځکه متکلم همېشه اراده د هغو اغراضو د ثابتولولري د کوم د وجې صیاغت او جوړوالي د کلام ترسره کیږی. او دغه اغراض د الفاظو مدلول په واسطه د اولو معناګانو دي، او بېله کومې واسطه دغه اغراض د اولو معناګانو مدلول دي. نو اوس دا خبره څرنګه ترسره کېدای سي چې د دال د راوړلو څخه د مدلول نفي قصدیږی (یعني اولني معناګاني کومې چې دال پر اغراضو دي راوړل کیږی او مدلول د دغه اولني معناګانو چې اغراض دي نفي کیږی)؟

جواب: شارح دغه عبارت د هغه شي په مناسبت راوړي دی کوم چې داولو معناګانو د راوړلو څخه مقصود وی، او هغه اثبات د دغه اغراضو دي، نو دغه عبارت په مناسبت د اثبات راوړل سوی دي.

سوال: د دغه په راوړلو کې څه فائده وجود لری؟

جواب: فائده د دې خبرې بنوونه ده چې اصل مقصد د بلیغ دغه معناګاني دي. که چیرې دغه معناګاني وجود لری نو کلام به بلیغ وی او که چیرې وجود نه لری نو دغه کلام به بیا بلیغ نه وی. لهذا د کلامي بلیغ د وجود مدار پر وجود د دغه اغراضو دی، او د کلامي بلیغ د نفي مدار پر نفي د دغه معناګانو دي. نو د دغه خبرې د بنوولو لپاره شارح دغه کلام وراندی کړي.

سوال: دغه خبره "چې د نفیها ذکر کونه استطراداً ده" د کوم شي څخه معلومیږی؟

جواب: د دې خبرې څخه معلومیږی چې د اولو معناګانو د راوړلو په صورت کې کوم چې دال دي نفي د مدلول (چې اغراض دي) نه قصدیږی. لهذا د اولو معناګانو د مراد ولو څخه نفي د اغراضو قصد بدلای نه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۱۲:

سوال: ددغه کلام "فحیث بنت" څخه مقصد د شارح څه دی؟

جواب: د شیخ د کلامونو ترمینځ د تناقض د خبرې کولو ورسته تمهید لپاره د دغې ددغه تناقض وړاندې سو. او اوس تمهید و انتها، ته ورسېدې، نو شارح دفعَ د تناقض په دغه کلام سره ښوونه غواړي. لهذا دغه کلام لپاره د دغې د تناقض راوړل سوی دی.

حاشیه نمبر۱۳:

سوال: دغه اغراض ولې مطروح او غورزول سوی دي، او هر کس ناکس ددغه په راوړلو توا نیږي؟

جواب: د مثال په توګه یو سړی د یو حکم څخه انکار کونکي وی، نو اوس بلیغ او غیر بلیغ دواړه په دې پوهیږي چې مقصد د وینا څخه لرې کول انکار د منکر دی. اوس دغه انکار د منکر لرې کونه دواړو ته معلومَ ده. او دغه تخصیص تر بلیغَ پورې نه لرې. دغه انکار لرې کول په دوه ډولَ کیږي.۱: په صریح کلام سره دا ډول چې داسې کلام راوړل سي چې هغه صراحتاً پر دغه دفعَ د انکار دلالت کوي.۲: د کلام د اولنیو معناګانو (هغه معناګاني کوم چې په ذهن کې اولاً ترتیب ورکول سي، ورسته تر دغه ددغه معناګانو موافق الفاظ د کلام راوړل سي) په توسط د دغه دفعَ د انکار تر سره کول. اول عام و بلیغ او غیر بلیغ ټولو ته شاملَ دی، پاته دوم دغه محض تر بلیغَ پورې خاص دی، لهذا بلیغ هغه دی چې د اولنیو معناګانو په توسط ددغو اغراضو ادا ینه ترسره کړي. د بلیغ د بلاغة مدار دغه اولني معناګاني دي (څکه که چیرې ددغه معناګانو په توسط ادا نه سي نو بیا دغه کلام بلیغ نه دی) په دغه وجه دغه بلاغت د اولنیو معناګانو صفت و ګرزول سو.

حاشیه نمبر۱۴:

سوال: "مطروحةٌ" په څه معني سره دی؟

جواب: ددې معني داده چې ددغه په راوړلو هرکس ناکس توانیږي. البته بلیغ ددوی راوړنه په توسط د اولنیو معناګانو کوي او غیرې بلیغ دغه ادا ینه په توسط د اولنیو معناګانو ترسره کولای نه سي.

حاشیه نمبر۱۵:

سوال: ضمیر د واحد متکلم "انا" ورسته تر لسته د کوم مقصد لپاره راوړل سوی دی؟

جواب: مقصد د دغه څخه دفع د یو توهم ده، توهم دا کېدی چې د غه تېره سوې خبره "فحيث يت الخ" به د شیخ د مرضي موافق نه وی بلکه د شیخ د کلام په فهمولو کې به شارح خطا سوی وی. لهذا د غه توجیه په مالا یرضي قائله سره وی؟

جواب: نه، هیڅ کله خبره د غه ډول نه ده، بلکه په د غه سره خپله شیخ تصریح کړېده، لهذا په فهمولو کې زه سهو سوی نه یم. نو د غه راوړل لپاره د سهو د توهم کېدلو د دفعي لپاره دی.

سوال: آیا دلته دا خبره کېدلای نه سي چې یو کس دې توهم وکړی چې د غه توجیه د شارح خاص تر شارح پورې ده، د ده څخه سېوا بل چا د غه خبره تر سره کړې نه ده. نو د د غه توهم د دفع لپاره شارح "انا" راوړې، او اشاره یې و دې خبرې ته وکړه چې د غه توجیه کونه پر ما قصر نه ده؟

جواب: نه د غه کېدلای نه سي، د غه خبره هلته تر سره کېده که چیرې د غه توهم د قصر تر سره کېدای، مګر د غه توهم د قصر چا تر سره کړی نه دی په د غه وجه د غه "انا" راوړل لپاره د دفع د قصر د توهم نه دی.

سوال: "بل هو بصرح" دا یو داسي کلام دی چې مسند الیه "هو" پر مسند فعلي "يصرح" مخکې سوی دی. او د مسند الیه مخکې راوړنه پر مسند فعلي لپاره د قصر رائحي نو دلته د کوم شي قصر مقصود دی؟

جواب: د غه مخکې کونه لپاره د کوم قصر نه بلکه د خبری د تقویت لپاره تر سره سوېده. نو د غه مخکې کونه لپاره د تقویه د خبری ده نه د بل څه لپاره. او مقصود دا خبره ښوونه ده چې شیخ هرو مرو په د غه خبره سره تصریح تر سوه کړېده. والله اعلم بحقيقة الحال.

حاشیه نمبر عـــه:

سوال: مراد په اولني معني سره څه دی؟

جواب: د ترکیب مدلول او معني کوم چې معني اصلي د الفاظو د کلام وی.

سوال: په معني ثاني سره څه مراد دی؟

جواب: هغه معناګاني د کوم د تر لاسه کولو لپاره کلام تشکیلېږی.

سوال: د د غه کوم مثال وړاندی کړه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: "هو اسد في صورة انسان" يعني هغه د انسان په صورت کي زمری دی. نو اوس دغه معني اول او مدلول د ترکیب ده. او معني ثاني ښوونه دده د شجاعت ده. لهذا شجاعت د دغه کس معني ثاني ده. و

صفحه نمبر ۳۱:

عبارت

ترتيب اللفظ بترتيب الالفاظ ثم بالالفاظ بحذف المترتب وذاته وصفة اللفظ بما يدل على
تخيير فيه والملفوظ المنطوق ولكن سمي اللفظ الذي دل بهيئته على المعنى الثاني بالترتيب الهم
لو جعلوها اوصافا للمعاني لما فهم انها صفات للمعاني الاولى المفهومة من الالفاظ الكثيرة
والخصوص مثلا فضلوا كالمواضعة بينهم ان يقولوا اللفظ وهم يريدون اصوته التي تحدث
في الهواء والحاضر الذي تجلد به وفي اصوته قتيل وفي اساس البلاغة ذكره بعقولنا على ما
تذكر بالبنان امكان ان تبين اذا من ان يكون بعضو ضبتر وجد في هذا دون ذاك
كذلك بوجد بين المعنى في البيت وبينه نسبة الخرز عن ضبتر عن ذلك الخرز بان قلنا
للمعنى في هذا صورة غير صورته في ذلك وليس هذا من مهيد بقائنا بل هو مسمى في كلا
وكفاك الدخول الجاحظ واتفاق الشعراء وضرب من التصوير وهذا نبذ قد ذكرناه
ثم اشرنا اذا فكر على من زعم ان الفضاحة من صفات الالفاظ المنطوقة وبلغ في ذلك
ان بلغ وقال سبيل الفضاحة سبيل الطعم الفرق بين ما هو وصف في البيت وبين ما هو وصف
لمن اجل امر خص به فضاحة لم يعلموا انا انما نعلوا الفضاحة التي يجب للفظ لاجل
ما دخل في المنطوق من اجل الطائف تدل بها على المعاني الخ في الاخبار الخاصة
في الالفاظ ثم انا لا نحكم ان تكون من صفات الحروف وسلامتها تماما يجب له الفضيلة و
اما الاعجاز وانما نحكم ان يكون الاعجاز بسبب يكون هو الاصل والعلة وعنها اوهم في
الشهرة ان لم يتبع عاقل يقول معنى نتبع والجواب ان مرادنا ان الفضيلة التي بها يتحقق
اللفظ ان يوصف بالفضاحة انما تكون في المعنى حتى اللفظ والفضاحة عبارة عن كون
اللفظ على وصف اذا كان عليه دل على تلك الفضيلة فجميع ان يوصف بها المعنى كما يمتنع
ان يوصف بانه دال بها اي بالبلاغة في الكلام طريقا لاطلاقه بتلك البلاغة كذا في
الايضاح وهو يدل الاعجاز به وان يقول الكلام في بلاغة آكد ان يخرج عن طوق البشر
بجزم من بلاغة فان قيل البلاغة بوصول المتكلم بكلامه الى الغرض المقتضي الحال مع الفصاحة
فان قلت كما قال بتمام هذين الامرين قد تقصر واما طاهر لا يقولون بهما حتى يزعموا
فما في كلام صوفي الاطلق من البلاغة ولو بعد هذا رضوه ظنا لا يعرفه بهذا العلم
الا ان هذا الحال تقتضي ذلك الاعتبار مثلا واما الاحالة على كيفية الاحوال وكيفيتها
وردت بالاعتبار ان بحسب المقامات فمن الخير ولو تسلم فاسكاف الاخلاق بهذا العلم بغير
علم النحو ممنوع كما مر وكثير من مهرة هذا الفن تراه لا يقبل على ما ليس كلام بليغ

Maktaba Tul Ishaat.com

او څه وخت چې دوی لفظ په یو داسې وصف سره موصوفه کړی کوم چې په لوړ والي د دغه لفظ دلالت کوی نو دوی د دغه لفظ څخه لفظي منطوق نه مرادوي. بلکه ددغه څخه د لفظ اوله معنې مرادوي کومه چې په دویمه معنې دلالت کوی. او ددغه سبب دادی: که چیرې دوی دغه اوصاف "کوم چې دلالت په لوړوالي کوی" صفات لپاره د معناګانو و ګرزوي نو بیا به دا خبره نه فهمول کیږی چې دغه صفات د هغه اولو معناګانو لپاره دي کوم چې د لفظ څخه فهمیږی، او زما ددغه معناګانو څخه زیادات او خصوصیات مراد دي. ګواکې دوی په خپل مینځ کې په دې خبره یوه اصطلاح مقرره کړه چې د لفظ د ویلو په صورت کې به دوی هغه صورتونه مرادوي کوم چې په معناګانو کې وجود پیدا کوي او هغه خاصیتونه کوم چې په اوله معنې کې نوي کیږی. او زمور دا قول صورت «کوم چې په معنې کې پیدا کیږی» دغه تمثیل او قیاس کونه د هغه شي ده "د کوم چې مور ادراک په عقلوړ سره کوو". په هغه څه باندی "چې د هغه ادراک مور په ستر ګو سره کوو". لکه څرنګه جلاوالي د یوه انسان د بل انسان څخه په هغه خصوصیت تر سره کیږی کوم چې په دغه کې موجود او په هغه بل کې نه بیا نه وی. او دغه لومړی د یوې معنې چې په یوه بیت کې وی جلاوالي موجودیږی د هغه بلې معنې څخه چې هغه په هغه بل بیت کې موجود وی. لهذا مور د دغه فرق څخه د تعبیر کولو په صورت کې مور ویل: چې دغې معنې لره چې په دغه بیت کې ده یو صورت دی دغه پر ته د هغه صورت څخه دی کوم چې د معنې لپاره په بل بیت کې دی. او دغه زمور د ځان څخه جوړ کړی تعبیر نه دی، بلکه دغه تعبیر د علماؤ د بلاغت په کلام کې وجود لری. او ستا لپاره د جاحظ دا قول کافي دی چې دغه د شعر یوه زرګری او د تصویر یو قسم دی. او دغه د شیخ د کلام یوه حصه ده کومه چې ده مختلف ځایونه ذکر کړې ده. بیا شیخ په هغه خلکو باندی په ډیر سختي سره انکار کړی دي کومو چې دا ګمان کړي دي چې فصاحت په دویمه معنې سره صفت لپاره د الفاظو منطوقو دی. او په سلسله کې ددغه تردید دی و هر خای ته د رسېدلو رسېدلي دي. شیخ ویلي دي چې ددغه زعم د فساد سبب نه فرق کونه ده تر مینځ د وصف ذاتي د شي او دهغه شي کوم چې وصف ددغه شي لپاره د هغه شي د وجې دی کوم چې دده و معنې ته ور عارضیږی. لهذا دوی په دې سره پوه نه سوه چې مور د فصاحت څخه هغه څه مرادوو کوم چې د لفظ سره لازم دی نه د هغه شي په وجه سره کوم چې په نطق کې داخل دی. بلکه د هغه لطائفو او باریکیو په وجه د کوم فهمونه په ذوق سلیم سره کیږی ورسته تر سلامتیا د اعرابي غلطي اود خطاء صرفي څخه کوم چې په ماده کې د الفاظو وجود لری. او مور بیا ددې خبرې څخه انکار نه

کوو چې ملائم والي د حروفو د طبعي سليم سره او روان والي په خبرو کې هغه شيان دي په کوم سره فضيلت راځي، او دا اعجاز تأکيد په کيږي. بلکه مورِ ددې ځحه انکار کوو چې اعجاز محض په ده سره تړلاسه کيږي. او ددې ځحه يې کوو چې دوی په اعجاز کې اصل دي. او کوم شي چې دوی په دغه شبه کې واقع کړي دی هغه دادی چې دوی د يو عاقل ځحه د معنې فضيح وينا اور بدلې نه ده. او د شبه ځحه جواب دادی چې هغه فضيلت د کوم د وجې لفظ په فصاحت سره موصوفه ګرزی هغه په معنې کې دی نه په لفظ کې، او فصاحت د لفظ پر يو داسې وصف باندی د راتلنې ځحه عبارت دی چې څه وخت دغه لفظ په دغه وصف باندی وی نو دی به په دغه فضيلت باندی دلالت کوی. لهذا په دغه وصف سره د معنې موصوفه کېدنه ممنوع ده. لکه څرنګه چې دا خبره ممنوع ده چې معنې په دغه فضيلت دلالت کوی، ﴿ده لره﴾ يعنې بلاغت کلامې لره ﴿دوه طرفه وجود لری﴾ ددغه ځحه يو اعلیٰ وی په کوم چې انتهاء د بلاغت راځي، او دغه دول خبره په ايضاح کې راغلبده. ﴿او دغه حد اعجاز دی﴾، او دغه حد داد ی چې کلام په بلاغت کې يو داسې درجې ته ورسي چې دغه کلام د انساني طاقت ځحه ووزی او مقابل د مقابلې ځحه عاجزه کړی، که چيرې وويل سي چې بلاغت عبارت د مطابقت ځحه د کلام د مقتضي الحال سره دی سره د فصاحته د کلامه، او علمي بلاغت ددغه دوارو د مطابقت او فصاحت ذمه واره دی. نو کوم چې دغه په مضبوطي سره تړ لاسه کړی او په ده احاطه وکړي نو بيا ولې داسې کړنه روا؛ نه ده چې دغه کس ددغه دوارو شيانو په پورا رعايت کوني سره يو داسې کلام وړاندی کړی کوم چې د بلاغت په اعلي مرتبه کې وجود ولری، که څه هم دغه د يو کوشني سورت برابر ولې نه وی. نو **مورِ په جواب** کې فرمايو: په دغه علم سره پرته ددې خبرې شناخت نه سي راتلای چې دغه حال ددغه اعتبار تقاضې کوی، او پاته اطلاع راوستنه په مقدار او په کيفيت د احوالو او رعايت کونه د اعتبار او په اعتبار د مقاماتو دغه يو بل شي دی، که چيرې ومنل سي نو د احاطه کوني والي په دغه علم سره پرته د علام الغيوب د بل چا لپاره ممنوع ده. لکه دغه خبره چې تبره سوه. او ډير ددغه فن ماهران ته وينې چې دوی په تأليف د کلامي بليغ قدرت نه لری زيات تر دې چې دوی دي بيا په هغه کلام بليغ قدرت و لری کوم چې په طرفي اعلي کې د بلاغت وی.

تشريح

اذا وصفوا اللفظ بما يدل: **سوال**: شارح په دغه عبارت سره څه بيانونه غواړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: څه وخت چې لفظ په يو داسې وصف سره موصوفه سي کوم چې په لوړ والي د لفظ دلالت کوي، د مثال په توګه وويل سي: "اللفظ فصيح، بليغ". نو په دغه وخت کې علماء د بلاغت د دغه لفظ څخه لفظي منطوق نه مراد وي، بلکه هغه معني مراد وي د کوم په توسط چې لفظ دلالت په دويمه معني کوي. لهذا بلاغت صفت لپاره د معني دی نه د لفظي منطوق.

"لم تجد للذالک": **سوال:** بلاغت صفت لپاره د لفظ بلل او بيا د هغه څخه د معني مراد ول پرته د مجاز څخه بل څه نه دی «داډول چې دوی بلاغت صفت د لفظ وبلي، بيا يې لفظ په معني سره د اولي معني کړي» نو د علماؤ لپاره په کار دا وه چې د سره يې بلاغت صفت لپاره د معني بللي وای، او دغه به حقيقت وای کوم چې اولي ترمجاز دی؟

جواب: که يې چيرې بلاغت صفت لپاره د معني د سره اود شروع څخه بللي وای نو بيا يو بله خرابي پيښيدل هغه دا چې دا به نه معلوميدلای چې دغه بلاغت صفت د اولي او که دد ويمي معني دی. ځکه لکه څه ډول چې د معني وينا په اوله ترسره کيږي دغه ډول په ثاني هم ترسره کيږي. نو د معني صفت د سره په بلولو کې خلط دمقصود د غيري مقصود سره راتلي په دغه وجه يې معني نه وويل بلکه لفظ يې ووايي.

فجعلوا کالمواضعة: **سوال:** څه وخت چې لفظ ذکر او مراد لفظي منطوق سي نه معني اوله ،او بلاغت صفت لپاره د لفظ و ګرزول سي نو په دغه موقع دا نه معلوميږي چې د دغه لفظ څخه منطوق او که اوله معني مراد ده. نو په ښکاره توګه د لفظ څخه منطوق مراد ديږي، لهذا د لفظ بليغ دوينا په صورت کې دلفظي منطوق مراد والي ښکاره دی، اوحال دا چې لفظ منطوق بليغ نه سي کېدلای؟

جواب: څه وخت چې لفظ موصوفه په بلاغت او يا په فصاحت سره سي نو په دغه وخت کې د علماؤ په دې خبره اتفاق راغلي دي چې د لفظ څخه مراد معني اوله ده. په دغه وخت کې لفظي منطوق اخيست کېدلای نه سي.

الصورة التي حدثت: **سوال:** دمخکني کلام څخه دا خبره معلومه سوه چې لفظ مستعمل په خودی اوله معني کې کيږي.او دتني ذکر سوی کلام څخه بيا دا معلوميږي چې استعمال د لفظ په هغه صورت کې تر سره کيږي کوم چې په اوله معني کې پيدا کيږي او په خودی اوله معني کې يې استعمال نه تر سره کيږي.او دغه پرته د تدافع بل څه نه دی؟

جواب: دصورت څخه معني اوله مراد ده،اوددې قول څخه «حدثت في المعني» معني لغوی مراد ده، د مثال په توګه یو کس وواي "ان عمرا لجالس" یعني عمر هرمرو ناست دی، اوس دلته معني لغوی ثبوت د ناستي لپاره د عمر دی،او معني اوله تأکید دی کوم چې مقتضي د حال ده.نو اوس دلته دغه کلام په اوله معني کې چې تأکید دی استعمال سوی دی، او دغه معني په معني لغوی کې چې ثبوت د جلوس لپاره د عمر دی پیدا کیږی.نو د تني ذکر سوی کلام «الصورة التي حدثت في المعني» معني دا ده هغه اوله معني کومه چې په معني لغوی کې پیدا کیږی لهذا د دغه ذکر سوی خبری څخه د مصنف داهم معلومیږی چې استعمال په نفسي اوله معني کې دی نو تدافع دغه سوه.

سوال: د صورت وینا په اوله معني صحت نه لری، ځکه صورت د ذی صورت «دکوم شي لپاره چې دغه صورت وی» غوښتونکې وی. او ذی صورت هغه شیان وي کوم چې جسم لری. او حال دا چې معني جسم نه لری؟

جواب: وینا د صورت په معني باندی مجازا دی،او دغه قیاس د عقلي شي په هغه شي باندی ادی کوم چې په حس سره معلومیږی.او دغه قیاس کونه د زیات وضاحت لپاره ده یعني دغه عقلي شي دومره واضح دی لکه حسي شي.نو په نفس کې تشبیه د معني د انسان سره ده، او علاقه د تشبیه داده چې هریو دمعني او دانسان څخه مابه الاشتراک او ما به الامتیاز لری. او ما به الامتیاز په انسان کې صورت او په معني کې خصوصیات دي کوم چې په معني لغوی کې پیدا کیږی. لهذا تعبیر د دغه خصوصیاتو څخه په صورت سره وکړي.

کفاک قول الجاحظ: **سوال:** مقصود په دغه کلام سره څه دی؟

جواب: مقصد ددغه څخه دلیل وړاندی کونه په دې خبره باندی ده چې د صورت وینا په معني ترسره کیږی. خلاصه دده د کلام داده چې شاعر د زرګر غوندی دی لکه زرګر سره زر اوسپین زر په رنګا رنګ ګډي او د غاړې ګي په صورت کې وړاندی کوی، دغه ډول شاعر یوه معني په مختلفو صورتونو کې وړاندی کوي.

هلا نبل: **سوال:** تا «شارح» چې د شیخ کوم کلام ذکر کړی دغه به د هغه ترتیب سره موافق وی کوم چې ده په دلائل الاعجاز کې خپل کړی دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دغه ټول نه ده بلکه دغه یو لږ حصه د هغه کلامونو ده کومه چې ده په مختلفو ځایونو کې ذکر کړې ده.

ثم انه شدد النكير: **سوال**: مقصد د دغه عبارت څخه څه دی؟

جواب: د شیخ مقصد اثبات د دوو شیانو کونه ده.

۱: اولې معناګاني منشأ د فصاحت او د بلاغت دي.

۲: بلاغت او فصاحت ددویمي معناګانو د صفاتو څخه نه دي.

۳: بلاغت او فصاحت د الفاظو منطوقو څخه هم نه دي. نو اولني دوې دعوې مخکې صراحتاً ثابتې سوې، اوس دلته دغه درېیمه دعوی په اثبات سره رسوي.

سبب الفساد عدم التمیز: **سوال**: مقصد د شیخ ددغه کلام څخه څه شي دي؟

جواب: ۱): کوم چا چې فصاحت صفت لپاره د الفاظو ګرزولي دی دهغو د خطاء کېدنې منشأ بیا نوی. خلاصه داده چې دغه خلکو چې څه وخت د اخبره واوربده چې فصاحت صفت لپاره د الفاظو دی نو دوی دا و فهموله چې دغه فصاحت صفت لپاره د الفاظو په اعتبار د خپل ځان دی نه د بل په اعتبار سره، او حال دا چې دغه خبره غلطه ده، ځکه فصاحت صفت لپاره د لفظ په اعتبار د متعلق دی دا ډول چې فصاحت صفت لپاره د معنې دی، او معنې متعلق د لفظ ده نو فصاحت صفت لپاره د لفظ په اعتبار د معنې دی.

۲): څه وخت چې دوی د اخبره واوربده چې فصاحت صفت لپاره د لفظ دی نو دوی د فصاحت د دوو معناګانو ترمینځ په فرق کولو و نه توانیده. هغه دوې معناګاني دادي.

۱: "خلوصه من تنافر الحروف الخ". او فصاحت په دغه معنې سره صفت لپاره د لفظ دی.

۲: صفت لپاره د لفظ په اعتبار د هغه خصوصیاتو او مقتضي الحال دي کوم چې ومعنې لغوی ته عارضیږی. نو فصاحت په دغه دویمي معنې سره په معنې سره دهغه بلاغت دی کوم چې صفت لپاره د معنې دی. لهذا دغه بعضو فصاحت په دواړو معناګانو سره صفت لپاره د لفظ و بلي او حال دا چې دغه خبره خطاء ده.

انا لا نتكر: **سوال**: د دغه مطابق فضیلت نه لپاره د لفظي منطوق په اعتبار د خپل ځان سو او نه دغه لفظي منطوق په بلاغت کې دخل لري. او حال دا چې اهل البلاغت فرمایي: د طبعي سلیم سره په ملائموا لي او مناسبت لرلو سره فضیلت او اعجاز تر لاسه کیږی؟

جواب: مور د دغه خبرې څخه انکار نه کوو چې په مذاقة الحروف سره فضیلت نه راځي بلکه مور د دې خبرې څخه انکار کوو چې محض په دغه مذاقة الحروف سره فصیلت او اعجاز راځي نه په بل څه سره. لهذا په ملائموالي سره د حروفو د طبعي سلیمي سره" مذاقة الحروف" لکه څرنګه اعجاز راځي، دغه ډول په نورو سره هم اعجاز راځي. نو اعجاز په دغه ملائمت کي حصر نه دی.

والفصاحة عبارة: **سوال:** څرنګه چې دغه فضیلت په معنې کې ثابتیږی په دغه وجه په دغه فضیلت سره به لفظ موصوفه کېدلای نه سي، نو بیا ددوی دا ډول ویناصحت نه لری" لفظ فصیح"، او حال دا چې دغه وینا ددوی ترمینځ شهرت ته رسیدلي دی؟

جواب: د لفظ موصوف کونه په دغه فضیلت سره مجازاً دی نه حقیقتاً، او دغه وصف په اعتبار د متعلق الشي دی، یعني د لفظ په یو داسي وصف باندی کېدنه ده چې ترڅو پوری دغه لفظ په دغه وصف باندی ثابته او موصوف وی تر هغه پوری به دغه لفظ په دغه فضیلت دلالت کوی. نو موصوف والي د لفظ په دغه فضیلت په دې وجه سره دی چې دغه فضیلت په معنې کې موجوده دی. نو معنې موصوفه په دغه فضیلت په اعتبار د ذات او لفظ موصوف په دغه فضیلت په اعتبار د معنې دی.

﴿فائده﴾: بیان د وصف: دلته د وصف څخه مراد دادی چې لفظ په اعتبار د اغراضو په خصوصیاتو مشتمله وي.

مما اوقعهم في الشبهة: **سوال:** په کلام کې د شارح تدافع راغلې ده دا ډول چې ده مخکني وویل "علم التمیز بین ما هو وصف الشیء في نفسه"، د دغه څخه دا معلومه سوه چې منشأ د خطاء عدمي تمیز دی نه بل څه. او دلته یې بیا وویل چې منشأ د خطاء داده: دوی د علماؤ څخه د بلاغت دا ډول وینا وا نه وریدل چې په هغه کې معنې په فصاحت سره موصوفه ګرزېدلې وی، د دغه څخه دا معلومه سوه چې منشأ د خطاء محض نه اوریدنه د دغه قول ده؟

جواب: منشأ د خطا په عدمي تمیز کې حصر نه ده، بلکه منشأ د خطا د عدمي تمیز څخه سوا دا هم ده چې دوی دغه خبره اوریدلې نه ده، نو اوس تدافع نه راغلل.

هو ان یرتقي: **سوال:** د دغه څخه مصنف څه ښوول غواړي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دلته دوه شیان شوونه غواړي:

۱: **تعریف تفصیلي د حد الاعجاز:** د بلاغت و اعلي طرف ته حد الاعجاز ویل کیږي، او په حد الاعجاز کي اضافت د حد و اعجاز ته بیاني دی، او مطلب دادی: د بلاغت اعلي طرف حد یعني اعجاز دی. او د اعجاز څخه مخکي مضاف چي ذو دی محذوف دی، یعني د بلاغت طرفي اعلي خاوند د اعجاز وی(اعجار والا وی)، او مشتمل په اعجاز وی، او اعجاز دادی چي کلام په بلاغت کي و یو داسي اوچتي مرتبې ته ورسیږي چي هغه د انسان د قدرت او طاقت څخه ووزی، او انسان د مقابله څخه یې عاجزه کړی.

فان قیل: **سوال:** مورد دا خبره نه منو چي کلام په بلاغت کي و یو داسي مرتبې ته ورسیږي چي بیاانسان دا طاقت نه لری چي د هغه مثل وراندی کړی، ځکه بلاغت مطابقت د کلام د مقتضي الحال سره دی سره د فصاحته ددغه کلام، او علم البلاغت ددغه دوو شیانو چي مطابقت، او فصاحت دی ضامن دی، کوم څوک چي احاطه په علم البلاغت وکړی هغه په یو داسي کلام راوړنه قدرت و موندی کوم چي په حد الاعجاز کی وی، که څه هم دغه کم په مقدار کي د یو سورت وی. لهذا د انسان د قدرت څخه وتلي بلل صحت نه لری؟

جواب: په علم البلاغت سره محض د کلي شیانو علم ترلاسه کېدای سي د مثال په توګه د انکار حال تأکید غواړی او د ذهن خالي والي تقاضي د اطلاق کوی او دغه ډول نور، او د احوالو د مقدار پیژندنه "چي دیوه یا ددوو تأکیدو ضرورت دی او ددغه احوالو د شدت او د ضعف د کیفیت او د مقاماتو د تفاوتو موافق د اعتباراتو رعایت کونه او دغه ډول په نورو باندی د اطلاع راوړني" هیڅ قسم تعلق د علم البلاغت سره نه لری.

او که چیری مورد دغه خبره و منو چي دغه ذکر سوی شیانو د پیژندلو تعلق د علم البلاغت سره دی، او علم البلاغت ددغه ضامن دی، نو بیا مورد اخبره نه منو چي په دغه علم پرته د الله جل جلاله بل څوک احاطه کولای سي.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

سوال: اهل المعاني د مجاز ترسره کولو ورسته د ترتیب څخه د معناګانو تعبیر په ترتیب سره د الفاظو وکړي. لهذا ددغه مجاز د ترسره کولو څه وجه ده؟

جواب: بلاغت او دغه ډول فصاحت د معناګانو د صفاتو د ګرزولو په صورت کې دا خبره نه فهمېدل چې دوی "فصاحت او بلاغت" دا دواړه معناګانو صفات دي. ځکه دلته د معناګانو څخه د معناګانو ثانیو د مرادولو احتمال هم وجود لري. نو اهل المعاني دوی صفات د الفاظو او ګرزول، او بیا یې د الفاظو څخه معناګاني اولیه مراد کړلې.

سوال: څه ډول چې په معناګانو کې احتمال د معناګانو ثانویو وجود لري، دغه ډول د الفاظو د ذکر کېدولو په وخت کې الفاظ هم احتمال د الفاظو منطقو "چې په هغه سره نطق کول کیږي" لري بلکه په وخت کې "د اطلاق د الفاظو" د الفاظو منطوقو مرادول غوره ده. لهذا اطلاق د الفاظو په اطلاق د معناګانو څه وجي خپل کړل سو؟

جواب: که چیرې اهل المعاني فصاحت او بلاغت "او ددوی په ډول نور" صفت د معناګانو لپاره ګرزولي وای، نو بیا په ښکاره توګه دا خبره نه فهمېدل چې دوی صفات لپاره د معناګانو دي. ځکه دویمې معناګاني پوره دخل په بلاغت کې لري. حتي هغه کلام چې هغه لره معناګاني ثانویه نه وي هغه کلام د درجې څخه د اعتبارپه وړاندي د بلیغانو ساقطه وی. لکه دغه خبره چې مخکې تېره سوه. لهذا دده ذهن ترمینځ د معناګانو اولیو او ثانیو یو مترددہ سي. په خلاف ددې چې دوی د صفاتو څخه د الفاظو د ګرزول سي. ځکه لفظ منطوقه منشأ لپاره د فضیلت نه ده. او دغه خبره ښکاره ده. لهذا ذهن ودې ته وړاندې کیږي چې نفسي لفظ مراد نه دی. او څه وخت چې د الفاظو او معناګانو ترمینځ علاقه قوي او ښکاره وه په دغه وجه ذهن د معناګانو اولیو ته وړاندې کیږي.

حاشیه نمبر۲:

سوال: څرنګه بلاغت صفت لپاره د معني د ګرزولو په صورت کې ذهن په شک کې لوېږي چې آیا دغه صفت د اولنیو او که د دومو معناګانو دی، دغه ډول که چیرې د لفظ لپاره صفت و ګرزول سي، په دغه صورت کې هم بیا ذهن په شک کې لوېږي چې آیا دغه بلاغت صفت لپاره د منطوقو الفاظو دی او که د هغه الفاظو کوم چې په معني سره د اولو معناګانو دی، نو په هر صورت کې ذهن په شک کې لوېږي، لهذا که د لفظ صفت و ګرزول سي او که د معني ددوی تر مینځ هیڅ فرق نسته نو بیا د لفظ صفت ګرزول غوره بلل تر معني تر هغې دغه خبره ولې دلیله ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: د لفظ صفت ګرزول، او د معني صفت ګرزول ددوی تر مینځ فرق وجود لري، دا دول چې د معني اولي او د دويمي د هره يوه دخل په بلاغت کې وجود لري، لهذا که چيرې صفت لپاره د معني وګرزي نو ذهن په شک کې لويږي چې دغه د کوم معني صفت دی، ځکه د هري معني دخل په بلاغت کې وجود لري په خلاف د لفظ، ځکه لفظ منطوق هيڅ دخل په بلاغت کې نه لري، په خلاف هغه لفظ چې په معني سره د اولي معني وی. محض هغه په بلاغت کې دخل لري. نو څرنګه لفظي منطوق دخل په بلاغت کې نه لري په دغه وجه که چيرې صفت د لفظ وګرزول سي نو بيا ذهن په شک کې نه لويږي په دغه وجه صفت د لفظ وګرزول سي.

حاشيه نمبر ۳:

سوال: ددې عبارت "لم يريدوا اللفظ المنطوق لكن المعنى" او ددې عبارت "ان يقولوا اللفظ و هم يريدون الصورة التى احدثت الخ" ترمينځ ضديت وجود لري، ځکه د اول عبارت څخه استعمال د الفاظو په نفسي معانيو اوليو کې معلوميږي. او د دوم عبارت څخه استعمال د الفاظو په هغو صورت کې معلوميږي کوم چې په معناګانو کې موندل کيږي؟

جواب: مورد ددغو دوو عباراتو ترمينځ د ضديت راتګ نه منو، ځکه مراد د هغه معني څخه چې په اول عبارت کې واقع سوېده هغه معني ده کوم چې مشتمله په ترتيب او صورت باندې وی نه خودی معني. او د هغه معني څخه چې په دوم عبارت کې واقع سوېده ذات د معني "چې مجردې ثبوت د شي وشي ته دی" مراد دی. او د صورت څخه ترتيب او د کلام معنوي د اجزاؤ څخه د هر جزء په خپل مقام لائق کې واقع کېدل مراد دی. لهذا اوس منافات لري سو. (شرح الاماني ۳۹۸/ ج ۲)

حاشيه نمبر ۴:

محشي فرمايي: شارح چې کوم کلام د شيخ دلته ذکر کړي دغه کلام په دلائل الاعجاز کې يو ځای ذکر سوی نه دی، بلکه يو څه په شروع او يو څه يې په آخر کې ذکر سوی دی، په دغه وجه بعضو علماؤ فرمايلي دي چې د شارح په نقل کولو کې خلل واقع سوی دي، او د شارح په هکله دغه ډول وينا تر سره کونه مناسبه نه ده، ځکه شارح د شيخ متفرق کلام يو ځای کړي دي، او دغه کوم خلل نه دی.

حاشيه نمبر ۵:

سوال: "عدم التميز" څخه څه مراد دي؟

جواب: د دې دوه مطلبه کېدای سي.

(۱): په کلام کي د بلغاؤ فصاحت صفت د لفظ ګرزول سوی دی، او پر دغه لفظ باندی اجراء د فصاحت او حمل د فصاحت سوی دی. نو اوس دلته دوه شیان دي، د شي صفت په اعتبار د خپل ځان. صفت د شي د خپل ځان په اعتبار سره نه وی بلکه د یو داسي شي په وجه وی کوم چي و معنا ته د دغه شي پر عارضیږی، لهذا فصاحت صفت د لفظ په اعتبار د خودی لفظ نه دی بلکه د هغه شي په وجه دی کوم چي و معنا ته د لفظ ورعارضیږی، لهذا دغه کسانو د شي د صفت په اعتبار د خپل ځان او د شي د صفت په اعتبار د "هغه شي چي هغه و معني ته د دغه شي ورعارضیږی" تر مینځ په فرق کولو توانېدلي نه دی. نو دغه نه فرق کونه سبب د فساد جوړ سو.

(۲): فصاحت په دوو معناګانو سره رائي:

۱: فصاحت په مشهورَ معنا سره، په دغه اعتبار سره دغه صفت د لفظ دی،

۲: فصاحت په معني سره د بلاغت. لهذا دغه بعضو د دغه دوو معناګانو تر مینځ په فرق "کولو توانېدلي نه دي، نو دغه نه فرق کول د دغه دوو معناګانو تر مینځ سبب د فساد جوړ سو.

حاشیه نمبر ۶:

سوال: "مذاقة الحروف" و څه ته ویل کیږی؟

جواب: د سلیم طبعیت سره ملائمو الي یعني آسانو الي په تکلم او خبرو کي.

حاشیه نمبر ۷:

جواب: مورد دا نه وایو چي فصاحت صفت لپاره د معني دی، بلکه دغه صفت لپاره د لفظ دی، مګر هغه شي چي د هغه په وجه لفظ موصوفَ په فصاحت سره ګرزی هغه په معني کي وجود لری نه په لفظ کي.

حاشیه نمبر ۸:

سوال: د شارح رحمه الله دغه خبره "والفصاحة عبارة عن كون اللفظ علي وصف اذا كان الخ" صحت نه لری، ځکه د دغه څخه دا معلومیږی چي فصاحت درییمه معني هم لری کوم چي او س ذکر کیږی، او حال دا چي د شیخ د مخکني کلام "فان محصول كلامه فيه هو ان الفصاحة بطلق علي معنين احدهما

Maktaba Tul Ishaat.com

الخ" څخه دا معلومیږی چې فصاحت دوې معناګاني لری نه دریمه. نو دغه مخالفت د کلام څخه د شیخ دی کوم چې باطل دی؟

جواب: دغه "والفصاحة عبارة عن كون اللفظ عربي وصف اذا كان الخ" خبره یو مستقله معنی د فصاحت نه ده بلکه دغه دوه یمې معنی یو اثر او د هغه څخه یو جز، او حصه ده. لهذا دریمې معنی کوم وجود پیدا نه کړی چې بیا اعتراض وارد سي.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: اصل عبارت دلته دا دول "كما يمتنع ان يوصف بانه دال علي الفضيلة" دی، ځکه مخکنی خبره په فضیلت کې روا نه وه، نو دلته دا خبره ښوونه ده چې معنی دلالت پر دغه فضیلت نه کوی بلکه دلالت کونکي پر دغه فضیلت لفظ دی، څرنګه چې مقصود دغه خبره وه نو بیا شارح ولي دغه متعلق د "دال" چې "علي الفضيلة" دی ذکر یې نه کړي؟

جواب: شارح په نه ذکر کولو سره دا خبره ښوونه غواړي چې معنی مطلقاً موصوف په دلالت سره کېدلای نه سي.

سوال: که چیری دغه متعلق ذکر سوی وای نو بیا دغه خبره نه معلومېده؟

جواب: نه، ځکه متعلق قید لپاره د متعلق وی، او نفي "په هغه کلام کې چې قید راغلي وی" و قید ته متوجه کیږی، نو بیا به معلوم سوی وای چې معنی محض دلالت پر فضلیت کولای نه سي، ددې څخه سېوا دلالت کولای سي، او حال دا چې معنی مطلقاً دلالت کولای نه سي.

سوال: مور دا خبره نه منو چې معنی مطلقاً دلالت کولای نه سي، ځکه شارح په خپله مخکي وفرمایل" ثم تجد لذالک المعني دلالة ثانية علي المعني المقصود"(ص: ۳۰)، په دغه کې معنی دلالت کونکي پر مقصود ګرزول سوېده، ددغه څخه دا خبره معلومه سوه چې معنی دلالت کوي.

جواب: په هغه عبارت کې هم معنی دلالت کونکي نه ده، بلکه په "لذالک" کې لام اجلیه دی، نه لپاره د صله، او متعلق د "تجد" حذف سوی دی. تقدیر د عبارت دا جوړیږی" ثم تجدللفظ لاجل ذالک المعني دلالة علي المعني المقصود". یعنی ته به لفظ د وجې د معنی دلالت کونکي پر مقصود دی معنی پیدا کړې.

سوال: معنی ولي دلالت نه سي کولای نه؟

جواب: ځکه دلالت ددې خبرې څخه "کون اللفظ بحيث يفهم منه المعني" عبارت دی، نو دلالت صفت د لفظ دی. لهذا دغه صفت د لفظ دی نه د معنې په دغه وجه معنې موصوف په دلالت سره نه ګرزی.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: دغه کلام "کذا في الايضاح" شارح رحمه الله د کوم مقصد لپاره وړاندی کړی دي؟

جواب: د مصنف رحمه الله د کلام څخه یو توهم پیدا کیدی، د هغه د دفعې لپاره د توطیه په توګه دغه کلام "کذا في الايضاح" وړاندی سو.

سوال: دغه توهم څه دی؟

جواب: دغه توهم دادی چې د مصنف دا قول "ما يقرب منه" عطف پر دې قول د مصنف "حد الاعجاز" دی. د دغه مطابق معنې دعبارت داګرزی " د بلاغت اعلي طرف دوه جزء لری. ۱: حد الاعجاز. ۲: ما يقرب منه". او مصنف بیا د "طرف اعلي" تعریف په ایضاح کتاب کې داسې کړی دي "ما ينتهي اليه البلاغة". يعني حد الاعجاز هغه دی کوم ته چې انتهاء د بلاغت رسېدلي وی.

اوس خلاصه د توهم داده چې د ایضاح د خبرې څخه معلومیږی چې طرف اعلي هغه شي دی کوم ته چې پای د بلاغت رسېدلي وی، نو دغه طرف اعلي یو شي کېدای او هغه "حد الاعجاز" دی؛ نه متعدد شیان، ځکه هغه شي چې هغه ته پای د بلاغت رسېدلي وی، تر هغه لوړ بله مرتبه د بلاغت نه وی. که چیرې سي نو بیا پر دغه لاندني مرتبه باندی دا خبره نه صادقیږی "ما ينتهي اليه البلاغة". نو اوس داخبره معلومه سوه چې "ما يقرب منه" د طرف اعلي څخه ګرزول (لکه دغه خبره چې د عطف څخه د "ما يقرب منه" پر "حد الاعجاز" څخه معلومیږی) صحت نه لری، ځکه تر ده لوړ بله مرتبه وجود لری چې هغه "حد الاعجاز" دی.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: قرآن ولې معجز دی، او د بشر د طاقت څخه وتلي دي؟

جواب: په دغه کې څو قولونه تر سره سوی دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱: **اهل السنة و الجماعة:** څکه چې قرآن پر بلاغت مشتمله دی، او په دغه بلاغت کې و یو داسې مرتبه ته رسېدلې دی چې هغه د انسان او د ټولو مخلوقاتو د طاقت او وس څخه وتلې دي. او د یوه په وس کې هم د قرآن مقابله کول په مېدان کې د بلاغت ممکنه نه ده

۲: قرآن په دې وجه معجز دی چې دغه پر غیبي خبرو مشتمله دی، پر تېرې سوی واقعاتو باندې، او په راتلونکي معلوماتو لکه د آخرت ورځ، جنت او دوزخ، او دغه ډول نور، څرنګه د انسان په طاقت کې د غیب څخه خبر ورکول نه وي په دغه وجه د غیب په هکله معلومات ورکولو په وجه قرآن معجز و ګرزېدي.

۳: د قرآن د عباراتو د راوړلو د طرز او طریقه په وجه قرآن معجز دي.

۴: **شیعه ګان:** قرآن په دې وجه معجز دی چې الله جل جلاله د انسانانو څخه طاقت د مقابلې لرې کړي دي او د هغو څخه يې سلب کړي دي، کوم شي چې د قرآن د مقابله لپاره انسان ته ضرورت وو هغه ټوله شیان الله جل جلاله په خپل قدرت د انسانانو څخه واخیستل.

راجح قول: د اهل السنة الجماعة قول دی. (الاتحاف في علوم القرآن للصابوني)

سوال: د شارح دغه قول " الي ان يخرج عن طوق البشر" صحت نه لري، ځکه د دغه څخه دا خبره معلومېږي چې د انسان په وس کې د قرآن مقابله کول نسته، البته د پېرانانو او ملکو په وس کې یا دغه مقابله کول سته. او حال دا چې دغه خبره غلطه ده، د هیڅ په وس کې د قرآن مقابله کول وجود نه لري؟

جواب: دغه د "بشر" قید بناء بر شهرت راوړی دی دا ډول چې انسانان په بلاغت کې مشهوره دي، او دوی و معارضه ته د قرآن وړاندې کېږي، په خلاف د ملکو او پېرانانو، څرنګه بشر په بلاغت کې هم مشهور وو او هم په معارضه کولو کې په دغه وجه د بشر قید يې راوړی، نو دغه قید احترازي نه دی، بلکه دغه بناء بر شهرت د بلیغ والي ددوی دي، ورنه په حقیقت کې قرآن د ټولو مخلوقاتو د وس څخه دده سره مقابله کولو وتلې دی.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: بلاغة مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال دی، او دغه خبره د انسان د طاقت څخه وتلې نه ده، ځکه کوم څوک چې علم البلاغة تر لاسه کړی نو هغه د کلام مطابق د مقتضي سره

د حال سره د فصاحته د کلماتو په راوړنې توان او طاقت لري. نو بیا شارح ولې داخبره تر سره کړه چې قران په بلاغت کې دومره اوچته سې چې د انسان د طاقت څخه ووزی.

جواب: جواب په عبارت کې بیان سوی دی.

سوال: دغه کوم سوال دي، آیا استفساری او که انکاری؟

جواب: د غه سوال استفساری (بیان د بلاغت د معنې دلیل. یعنې بلاغت څه شي دی، او څه نه وایل کیږی) دی.

سوال: استفساریت یې د کوم ځای څخه معلومیږی؟

جواب: د دې قول څخه "لیست البلاغة الخ" معلومیږی، یعنې بلاغت نه دی پرته د مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال سره د فصاحت د کلماتو.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: د "علم البلاغة" څخه څه مراد دی؟

جواب: هغه علم چې دیر زیات تعلق د بلاغت سره لری.

سوال: د غه کوم علوم دي؟

جواب: علم المعاني او علم البیان.

سوال: مطابقة د کلام د مقتضي سره د حال او فصاحت د کلماتو په چا سره راځي؟

جواب: په علم البلاغة سره.

سوال: د غه څرنګه په د غه علم البلاغة سره راځي؟

جواب: ځکه د علم البلاغة یوه حصه علم المعاني ده، په علم المعاني سره مطابقة د کلام تر لاسه کیږی. او بله حصه یې علم البیان ده، په د غه سره فصاحت تر لاسه کیږی یعنې خالي والي د کلمه د تعقید معنوی څخه. او د دې څخه سوا نور کوم شیان چې په فصاحت کې معتبر دي په هغه سره کلام په بلاغة کې ترقي نه کوی.

حاشیه نمبر ۱۴:

سوال کونکي په خپل سوال کې څو شیان ذکر کړي وه. او شارح پر هغه رد ونه تر سره کړه، اوس محشې د هغه ټول ونه غواړي:

Maktaba Tul Ishaat.com

۱: دغه علم البلاغة ضامن د مطابقت د کلام د مقتضي سره د حال د ګرزولو دی. او دغه ډول په دغه علم سره فصاحت د کلماتو تر لاسه کیږی.

رد: ددې په رد کې شارح وفرمایل "لایعرف بهذا العلم الا ان هذه الحال" یعنې په دغه علم سره دغه دوه شیان تر لاسه کېدای نه سي، محض په دغه سره داخبره تر لاسه کیږی چې دغه حال ددې فلانکي اعتبار تقاضي کوی، نه بل څه. که چیرې دغه دواړه تر لاسه کېدای سوای نو بیا ستاد اعتراض واردېدنه پرځای وه.

۲: "فمن اتقنه و احاط به الخ" یعنې کوم کس چې د علم البلاغة قواعدی او د هغه دلائل په سمه توګه سره و پیژني نو بیا دغه کس په دې توانېدلای سي چې کلام په اعلي طرف کې د بلاغت وړاندی کړي.

رد: حاصلونه ددغه علم په طریقه دیقین، او پورا قواعدي او دلائل تر لاسه کول پرته د الله بل چاله ممکن نه دی، که چیرې ممکن وای نو بیا ستا خبرې صحت درلودی.

۳: "لم لایجوز ان یراعیهما حق الرعایة" کوم کس چې په یقین سره دغه علم په پورا توګه تر لاسه کړي نو بیا دغه کس په دې توانېدلای سي چې کلام مطابق د مقتضي الحال سره او کلماتي فصیحیه په داسي ډول تر سره کړي کوم چې ددوی حق وي.

رد: دېر ماهره کسان ددغه فن د کلامي بلیغ پر راوړلو نه توانیږی، فضلاً تر دې چې بیا دي هغه په اعلي طرف کې د بلاغت وړاندی کړي. داسي څوک نسته چې هغه د مقتضي الحال او د فصاحت پورا پورا حق ادا کړي چې په هغه سره بیا دوی کلام په طرفي اعلي کې د بلاغت وړاندی کړي. که چیرې داسي کس وجود درلودلای نو بیا ستا اعتراض به وارد سوی وای.

حاشیه نمبر عـــه:

دلته د شارح مقصد ددې عبارت "کذا فی الایضاح" څخه بیانیږی. او مقصد د شارح ددغه عبارت څخه دفع کول د هغه خبرې ده کوم چې په دغه کې د هغه سوال ویل سوې وه چې هغه سوال شارح په هغه څه وارد کړي وو چې هغه د متن څخه مستفاد کېده.

تفصیل: (۱): د مصنف د عبارت څخه دا معلومیږي چې دبلاغت د طرفِ اعلي څخه دحد الاعجاز تر څنګ "ما یقرب منه" هم دی.

۲):د شارح د رد خلاصه داده چې "ما يقرب من حد الاعجاز"طرفي اعلى نه دى.بلكه د مراتبو وسطانيو څخه دى.

۳): د شارح د رد جواب دادى چې "مايقرب منه" كه څه هم بالنسبت و خپل مافوق ته د مراتبو عاليو څخه دى مگر دغه "مايقرب منه"يې بالنسبت و خپل لاندى ته طرفي اعلي دى. لهذا د "مايقرب منه" په طرفي اعلي كي داخلول جائز دى.

۴): د شارح د طرف څخه رد ددغه جواب "چې په دغه عبارت سره "كذا فى الايضاح" سره يې كړېده" داده چې مصنف په ايضاح كي د طرفي اعلى داډول تفسير "مايتهى اليه البلاغة"كړى دى. لهذا اوس د "مايقرب منه" داخلول په طرفي اعلى كي صحى نه دى.ځكه "مايقرب منه" نه په انتهي حقيقي سره منتهى ده او نه په انتهى نوعي سره.

صفحه نمبر ۳۲ :

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

فضلا عما هو في الطرف الاعلى وما يقرب منه ظاهر هذه العبارة ان الطرف الاعلى هو حد الاعجاز وما يقرب منه حد الاعجاز وهو فاسد لان ما يقرب منه قد يتفاوت بالعلو والسفل بحسب الطرف الاعلى فلا يتحقق بتفاوتهما البلاغة المتفاوتة بحسب ذلك حقيقة كما انها تتفاوت قوة وضعفا كما ان الاعجاز كذلك قيل المراد ان الطرف الاعلى حد الاعجاز في كلام غير البشر وما يقرب منه في كلام البشر الاول حد لا يمكن للبشر ان يجاوزه وما يقرب منه لا يمكنه ان يجاوزه والثاني حد لا يمكنه ان يجاوزه والمراد ان الاعلى هو نهاية الاعجاز وما يقرب منه النهاية وكلاهما اعجاز قلنا اما الاول فبين لا يتوهم من اللفظ مع ان البحث في بلاغة الكلام من حيث هو هو من غير نظر الى كونه كلام البشر او غيره واما الثاني فلا يليق ان يقتصر على الحكم على احد الاعجاز بمعنى ما يتبادر منه الى الغير وهو الاعجاز الاضافي للبشر او قوله ما لم يعارض الكشاف في قوله تعالى لو جعلناه قرآنا اعجميا خلافا لاكثر اي لكان الكبرة منه مخلفا فان تفاوت نظم بلاغة غير فكان معارضا اتفاقا حد الاعجاز ومعجزة قاصرة عنه ويمكن معارضته ثم ما ذكر من الفرق بين الفوم والفيظ ان قوله وما يقرب منه عطف على هو والضمير في منه عائد الى الطرف الاعلى لا الى احد الاعجاز اي الطرف الاعلى مع ما يقرب منه في البلاغة ثم الا يمكن معارضته هو حد الاعجاز وهذا هو الموافق لما في المفتاح من ان البلاغة تتبادل الى ان تبلغ حد الاعجاز وهو الطرف الاعلى وما يقرب منه ترى من الطرف الاعلى فانه قد تتبادل منه اي من الطرف الاعلى فاعلم وما يقرب منه كلاهما حد الاعجاز لا هو وحده كذا في شرحه ولا يخفى بعد ان الاباء على الجبر من ان يعبر ان كان الضمير مشتركا في امتناع معارضته وفي نهاية الاعجاز ان الطرف الاعلى وما يقرب منه كلاهما هو الغير وأسفل وهو ما اي ما دون البلاغة اذا تم الكلام منه الى ما دون ترى الى من مرتبة هي ادون منه وانزل الى ان يقول الكلام وان كان صحيحا الاخراب عند ابلغاء اصوات الحيوانات التي صدقت عن غالبها بحيث تتفق من غير تباين اللطائف والخواص الزائدة على اصل المراد وبينهما اي بين الطرفين مراتب كثيرة متفاوتة بعضها اعلى بعض بحسب نفاوت المقامات وغاية الاختصار ان البعد من اسباب الاخلال بالفصاحة وتقييدها اي بالبعد الكلام وجوها اخر سوى الظاهرة والقصد توريث الكلام حسنا هذا تمهيد بيان الاصناف الى الظم البديع وبهذا شارة الى ان تحسين هذه الوجوه للكلام عرضي خارج عن صلب البلاغة ولفظ تقييدها اشعار بان هذه الوجوه انما تفيد بحسب بعد مغايرة الظاهرة و الفصاحة وحملها على ما يقرب البلاغة الكلام لان المتكلم لانها العيب فما لم يصل الكلام موصوفا

﴿او کوم چې حد اعجاز ته ژندې دی﴾ ددغه عبارت څخه ښکاره مطلب دادی چې طرفي اعلی حدی اعجاز او هغه دی کوم چې حد ی اعجاز ته ژندې وی .او دغه مطلب فاسد دی ، ځکه هغه څه چې حدی اعجاز ته ژندې وی هغه د اعلي مراتبو څخه دی . او هیڅ یو لار نسته چې "ما یقرب منه" دي دطرفي اعلي څخه وګرزول سي په کوم چې انتهاء د بلاغت ترسره کیږی ،ځکه په دغه صور ت کي مناسبه داده چې ددغه طرف څخه طرفي حقیقي واخیستل سي لکه د پای تکي ، او یا طرفي نوعي واخیستل شي لکه اعجاز . که **چیرې وویل** سي چې د انساني کلام څخه سېوا په نورو کلامو کي طرفي اعلي حدی اعجاز دی .او حدی اعجاز ته چې کوم ژندې وی هغه په انساني کلام کي دی . اولني یو داسي حد دی چې د انسان لپاره د هغه معارضه کونه ممکنه نه ده .او دوم قسم د اعجاز هغه مرتبه ده چې د بشر لپاره تر هغه مخکي تلنه ممکنه نه ده ، او یا مراد دادی چې اعلي نهایت د اعجاز او یا د هغه ژندې دی ، او دغه دواړه اعجاز دي . **موډورته وایو** چې اولني یو داسي توجیه ده چې د لفظ څخه د متن نه فهمول کیږی سره ددي چې بحث په بلاغت کي د کلام په حیث د هو هو کړل کیږی . قطع نظر ددي څخه چې دغه د بشر او که د غیرې بشر کلام وی . او دوم توجیه فساد نه سي دفعه کولای ، پر ته ددي حقه خبره داده چې حدی اعجاز په معنې سره د مرتبې د بلاغت اود درجې دی چې هغه اعجاز دی ، او اضافت بیاني دی . او دالله جل جلاله په دې قول کي «لوجدوا فیه اختلافا کثیرا» د صاحب الکشاف په وینا سره ددغه تائید کول کیږی ، یعني که چیرې قرآن مجید دالله نه سېوا د بل چا کتاب وای نو دوی به ډیر اختلاف په کي پیدا کړی وای ، یعني د قرآن څخه به ډیر مختلفه وای ، چې نظم او بلاغت به یې مختلف کېدی ، نو یوه حصه به د قرآن و حد اعجاز ته رسېدلې وای او یو څه حصه به یې د حد اعجاز څخه به نارسېدونکي وای . او په هغه وخت کي به ددې معارضه هم ممکنه وای .اودې کوم څه چې ماته د خوب او دوینې په حال کي الهام وسو هغه دادی چې د مصنف دا قول "هو ما یقرب منه" عطف په "هو" دی ، او ضمیر په "منه" کي و طرفي اعلي ته راجع دی نه و حدی اعجاز ته . یعني طرفي اعلي او هغه څه چې و طرفي اعلي نه په بلاغت کي ژندې وی د کوم سره چې معارضه کونه ممکنه نه ده هغه حدی اعجاز دی . او دغه دهغه څه سره موافق دی کوم چې په مفتاح کي ذکر ده چې بلاغت په زیاتېدلو زیاتېدلو سره و حدی اعجاز ته ورسیږی ، او دغه حدی اعجاز او "ما یقرب منه" دی یعني د طرفي اعلي . ځکه دغه طرفي اعلي او ددې سره قریب دواړه حد اعجاز دي . نه یو وازی طرفي اعلي . دغه ډول ددې په شرح کي دی . او په دې خبره کي پټ والي نسته چې بعضي آیاتونه په اعتبار د طبقه ترنورو لوړ دي . که

Maktaba Tul Ishaat.com

څه هم ټوله په دې کې سره شریک دي چې د دوی معارضه ممتنع ده. او په نهایت الاعجاز کې دا خبره راغلېده چې طرفي اعلي اود هغه ژندې عاجزه کونکي دي. ﴿او د بلاغت دوم طرف اسفل دی، او دغه هغه مرتبه ده﴾، یعني طرف د بلاغت ﴿چې څه وخت کلام د دې څخه و لاندې ته متغیر کړل سي﴾ یعني و هغه مرتبې ته کوم چې تر ده لاندې وی، ﴿نو دغه ملحقه سي﴾ یعني کلام، که څه هم دغه د اعراب په لحاظ سره صحی وی ﴿د بلغاؤ په وړاندې د آوازو نو سره د حیوانانو﴾ هغه آوازونه کوم چې د خپل محل څخه دا ډول راووزی څه ډول چې دوی سره یو ځای سي ببله معتبر ولو د لطائفو او نواصو، کوم چې تر اداینه د اصلي مراد زائد دي. ﴿د دوی تر مینځ﴾ یعني د طرفي اعلي او اسفل تر مینځ ﴿درې مرتبې دي﴾ کوم چې په خپلو کې سره مختلفې دي. په دوی کې بعضي اعلي تر نورو بعضو په اعتبار د مقاماتو او دامرې مناسب د رعایت کونې وي، او د هغه اسبابو څخه د لرې والي په اعتبار کوم چې فصاحت ته خلل رسوی. ﴿او تر ده ورسته﴾ یعني بلاغت د کلام ﴿نور داسي وجوهات سته﴾ د فصاحت او بلاغت څخه سېوا ﴿کوم چې په کلام کې ښائست او حسن پیدا کوی﴾، او دغه بیان ته د دې خبرې چې علم البدیع ته ضرورت سته تمهیددی. او په دغه کې د دې خبرې ته اشاره ده چې په دغه وجوه سره حسن په کلام کې عرضي دی، اود بلاغت څخه وتلې دی. اود "تتبعها" په لفظ سره آګاهي راوستنه په دې خبرې راځي چې دغه وجوهي ورسته تر رعایت د مطابقت او فصاحته حسن ور کونکي شمېرل کیږی. او مصنف دغه وجوهات د بلاغت د کلام تابع و ګرزولې نه د متکلم، ځکه په دوی سره د فصاحت او بلاغت غوندې متکلم موصوفه نه ګرزی. بلکه دوی خاص د کلام اوصاف دي.

تشریح

تشریح: سوال: "ما یقرب منه" معطوف په چا دی؟

جواب: په دې کې دوه قوله دي.

۱: **بعض علماء:** فرمایي چې "ما یقرب منه" په حد الاعجاز باندې عطف او خبر لپاره د "هو" دی. او مرجع د ضمیر د "منه" هم حد الاعجاز دی. او ترجمه یې دا جوړیږی: د بلاغت طرفي اعلي حد الاعجاز او قریب من حد الاعجاز دی. لهذا د دغه توجیه موافق طرفي اعلي دوه فرده لرې حد اعجاز او ژندې دې.

بیان د رد: دغه توجیه صحت نه لري، ځکه طرفي اعلي هغه نقطه او بسیط شي دی کوم چې تقسیم نه قبلوی. نو دوه شیان طرفي اعلي کېدلای نه سي. لهذ په دغه صورت کې ژرنګه

طرفي اعلي حد الاعجاز نه ژندې ددې دوه شيانو کيدنه لازمه سوه په دغه وجه دغه ترجيه باطله ده.

۲: **شارح:** "ما يقرب منه" عطف په "هو" دی، او ضمير د "هو" و "اعلي" ته راجع دی نو معني د عبارت دا جوړيږی "حد الاعجاز طرفي اعلي او دده ژندې دي". نو طرفي اعلي محض حد الاعجاز نه دی. او دغه دواړه «حد الاعجاز او دده ژندې» د بلاغت په داسي مقام موجود دي کوم چې د انساني طاقت څخه وتلي دي. او دغه د علامه سکاکي په مفتاح کي د کړل سوی کلام موافق دی.

فان قيل: **سوال:** طرفي اعلي په معني سره د مرتبې نوعي دی، نو د طرفي اعلي دوه قسمه دی. ۱: چې په کلام کي د غيری بشر وی نو په دغه وخت کي حد اعجاز دی.

۲: په کلام کي د بشر وی نو دغه وخت د حد اعجاز ژندې حدوی. دغه حدی اعجاز او دده ژندې دواړه د طرفي اعلي څخه دي، خلاصه د دغه قول داده چې "ما يقرب منه" عطف په حد الاعجاز دی، اوس د دغه څخه هغه فساد نه رائي کوم چې شارح ذکر کړی دي، ځکه دغه اعتراض هلته وارديږی که چيری طرفي اعلي لپاره يو طرف وای او حال دا چې دلته دوه دي. يو حد اعجاز په کلام کي د غيری بشر او يو د حدی اعجاز قريب په کلام کي د بشر دی.

الا يمکن ان يجاوز: **دوه جواب:** دلته حد په معني سره د انتهاء دی نه د مرتبې، او طرفي اعلي طرفي نوعي دی او ده لره دوه قسمونه دي. ۱: حد اعجاز ۲: دده ژندې. معني د عبارت دا سوه چې طرفي اعلي پای د اعجاز دی او يا دده ژندې دی دا ډول چې دده معارضه ممکنه نه وی. او دغه دواړه په هغه اعجاز کي داخل دي کوم چې منتهي د نوعي د بلاغت ده، لهذا "ما يقرب منه" د طرفي اعلي څخه د بلاغت خارج نه سو. (سيف الدين الابهري)

جواب د اولي توجيه څخه: دغه ستا توجيه «طرفي اعلي دوه قسمه گرزونه يو قسم په غير کلامي بشر اوبل په کلامي بشر کي بلنه» د عبارت څخه نه فهمول کيږی. ځکه په بلاغت کي کلام په حيث د ذات دی نه په دې حيث چې دغه په غير کلامي بشر او که په کلامي بشر کي دی. او حال دا چې حمل کونه د لفظ په ظاهره معني کي خپلدل اصل دی.

جواب ددويمي توجيه څخه: د دغه توجيه موافق طرفي اعلي به متعدد و گرزی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱: نهایت د اعجاز. ۲: دد نه ژندې. او حال دا چې طرفي اعلي که نوعي اوکه حقیقي وی تعدد نه قبلوی. لهذا طرفي اعلي یو سو لکه موږ چې وویل.

دوم جواب: موږ دا خبره نه منو چې حد په معني سره د نهایه او د پای د ټکي دی، بلکه په معني سره د درجې او مرتبې دی نو اوس په دغه کې "ما یقرب منه" په طرفي اعلي کې داخل نه سو، ځکه دغه طرفي اعلي به یا نوعي او یا حقیقي وی. او په یوه کې لاهم ما یقرب منه داخل نه دی که حقیقي سي نو هغه خو یو وی نه "ما یقرب منه" او که نوعي سي نو نوع و خپلو افرادو ته شامله وی نه هغه افراد و ته کوم چې ژندې دد غه نوعي سره وی، ځکه دغه ژندې والي په مغایرت باندې دلالت کوی.

"مرتبة البلاغة و درجته": **سوال:** اضافت د حد و اعجاز ته دغه اضافت لامي دی یعني حد د اعجاز نو ددغه څخه دا معلومه سوه چې حد د اعجاز څخه پرته یو بل شي دی او حال دا چې حد په خپله اعجاز دی نه پرته او سوا ددې نه؟

جواب: دلته اضافت د حد و اعجاز ته دغه اضافت بیاني دی نه لامي، او په اضافت بیاني کې مضاف او مضاف الیه دواړه د یوه شي څخه عبارت وی یعني حد چې اعجاز دی.

"و یؤیده قول صاحب الکشاف": **سوال:** په دې څه دلیل سته چې حد په معني سره د درجې او مرتبې دی؟

جواب: صاحب الکشاف په دې قولي الهي کې فرمایي: "لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلافًا كَثِيرًا". (سورة النساء: ۸۲) "یعني ډیر به د دغه قرآن سره مختلفه وای په تحقیق سره نظم او د بلاغت په لحاظ سره په ده کې فرق وای، نو بعض به دده څخه و حد ته د اعجاز رسېدونکي او بعضي بیا د هغه ته نه رسېدونکي وای.

محل د استشهاد: "فکان بعضه بالغا حد الاعجاز": نو اوس که چیرې دده په قول کې مرتبه په معني سره د مرتبې نه بلکه په معني سره د نهایه وای نو بیا به دوې خرابې پیښې سي.

۱: لازم والي د "یمکن معارضته" به ددې "د نهایت څخه د اعجاز قاصر کېدني" سره ثابت نه سي، ځکه کوم چې د نهایت څخه د اعجاز قاصر وی هغه دوه ډولې وی. ۱: معارضه یې ممکنه وی. ۲: معارضه یې ممکنه نه وی. لهذا د قاصر کېدني سره ملازمه د معارضې د امکان نه رائي، او

که چیرې حد په معني سره د مرتبې سي نو بیا ملازمه راځي د اډول چې کوم شي د مرتبې څخه د اعجاز قاصر وي د هغه سره بیا معارضه راتلای سي.

۲: "ممکن معارضة" تفسیر لپاره د "قاصر عن حد الاعجاز" دی. اوس که چیرې حد په معني سره د نهایه سي نو بیا به د غه تفسیر د اعم په اخص سره راسي. ځکه قاصر د نهایه څخه د اعجاز دوه اډوله دی لکه اوس چې لورې د غه خبره تېره سوه، او د غه اډول تفسیر نه نه دی.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱:

سوال: د اول قول او د دوم قول ترمینځ څه فرق وجود لري؟

جواب: فرق دا دی چې د اول قول موافق "حد" په "حد الاعجاز" کې په معني سره د مرتبه دی، او د دوم قول موافق "حد" په معني سره د نهایه دی، نو ځرنګه د مرتبه او نهایه تر مینځ فرق وجود لري د غه اډول د اول قول او دوم قول تر مینځ فرق وجود لري.

سوال: د اول قول خلاصه دي بیان سي.

جواب: دلته څو شیان د بیان ور دي.

۱: **طرفي اعلي:** هر هغه شي چې په هغه بلاغت پای ته رسېدلي وي.

۲: **حد:** حد په "حد الاعجاز" کې په معني سره د مرتبه دی.

۳: **حد الإعجاز:** یعني مرتبه د اعجاز او "ما یقرب مرتبة الاعجاز" هغه شي چې هغه و مرتبه ته د اعجاز ژوندي وي.

اوس د د غه قول موافق د طرفي اعلي مصداق محض مرتبة الاعجاز ده، نه "ما یقرب منه"، ځکه د طرفي اعلي مصداق دا بیان سوی دی "هغه شي چې په ده باندی بلاغت پای ته رسېدلي وي". اوس د غه شي "په کوم چې بلاغت پای ته رسېدلي دی" به فرد او یا نوع وي، که چیرې یو فرد سي نو معني به دا جوړیږي "هغه فرد چې په هغه بلاغت پای ته رسېدلي وي"، او د غه محض مرتبة الاعجاز ده، ځکه تر ده لوړ بل څوک نسته. او "ما یقرب منه" د ده مصداق نه دی، ځکه تر ده لوړ بل فرد چې مرتبة الاعجاز دی وجود لري. او که چیرې نوع مراد سي نو د د غه مصداق هم حد

Maktaba Tul Ishaat.com

الاعجاز دی نه "ما یقرب منه"، ځکه د حد الاعجاز چې څومره افراد دي هغه ټوله لاندی تر حد الاعجاز دی، د دغه افرادو څخه یو لاهم وتلی نه دی. او "ما یقرب منه" د دغه افرادو څخه نه دی، لهذا "ما یقرب منه" لوړ مرتبه کېدای سي مګر طرف اعلي کېدلای نه سي.

حاشیه نمبر ۲:

"لاجهة لحلقه" **سوال:** "مایقرب منه" که څه هم بالقیاس و خپل ما فوق ته د عالیو مراتبو څخه دی مګر دغه "مایقرب منه" بالنسبت و خپل ما تحت ته بیا اعلي دی. نو په دغه وخت کي د "مایقرب منه" داخلول په طرفي اعلي کي جائز دی؟

جواب: د "مایقرب منه" داخلول په طرفي اعلي کي ممکنه نه دی، ځکه د اعلي تفسیر په "ماینتهي الیه البلاغة" سره سمون دی. او منتهي په دوه قسمه ده.

۱): **منتهي شخصي:** دغه ته منتهي حقیقي هم ویل کیږي. او دغه هغه فرد دی چې تر ده لوړ یو بل فرد نه وی. د مثال په توګه موږ و وایو "اعلی الانسان یعني الشخص الذی ینتهي الیه الانسانیة و لا یکون فوقه شخص آخر". او د دغه مصداق سردار د دواړو جهانو ﷺ دي.

۲): **منتهي نوعي:** هر هغه شي چې تر ده لوړه بله نوعه نه وی. د مثال په توګه موږ و وایو "اعلی الحیوان هو الانسان". او اطلاق د منتهي "د دغو دواړو معناګانو په اعتبار سره" په "مایقرب منه" صحت نه لری، ځکه که چیرې "مایقرب منه" په طرفي اعلي کي داخل سي نو بیا به دغه "مایقرب منه" د بلاغت لپاره منتهي سي. اوس به دغه "مایقرب منه" دد و حالو څخه خالي نه وی.

۱: یا به منتهی حقیقي وی. ۲: یا به منتهي نوعي وی. او دلته یو لاهم صحت نه لري. اول په دې وجه صحت نه لری چې منتهي حقیقي هغه ده ترکوم چې لوړ بل فرد نه وی. او حال دا چې تر "مایقرب منه" لوړ بل فرد موجود دی چې هغه حد الاعجاز دی. او دوم په دې وجه صحت نه لری چې منتهي نوعي هغه ده ترکوم چې لوړه بله نوعه نه وی. او حال دا چې تر "مایقرب منه" لوړه بله نوعه موجوده ده چې هغه نوعه د حد الاعجاز ده.

حاشیه نمبر ۳:

که چیرې "حد" په "حد الاعجاز" کي په معني سره د "نهایة" (پای) سي نو په دغه صورت کي طرف اعلي و "حد الاعجاز" او "ما یقرب منه" دواړو ته شامل دی، د شامل والي بیان دادی چې "طرف

اعلي" هغه شي دی چې په هغه بلاغت پای ته رسېدلي وی. او "حد الاعجاز" په معنې سره د نهاية الاعجاز دی. او "ما يقرب منه" څخه مراد "ما يقرب من نهاية الاعجاز" دی. نو په دغه صورت کې "حد الاعجاز" مصداق د طرفي اعلي دی، لهذا بلاغت په اعجاز ختمېږی. او د اعجاز بيا دوه فرده دي. ۱: په اعجاز کې پای ته رسېدلي وی "نهاية الاعجاز".

۲: و پای ته د اعجاز ورژندې وی. دغه معنې "حد بمعنى نهاية" صحت لری، ځکه طرفي اعلي محض اعجاز دی. او اعجاز نوعَ و دواړو افرادو "نهاية الاعجاز و ما يقرب منه" ته شامله دی.

حاشيه نمبر۴:

سوال: د دغه عبارت "لا يفهم من اللفظ" څخه د شارح څه مراد دی، يا به دا مراد وی چې صراحتاً د لفظ څخه و لاس ته نه راځي. که چېرې دغه مراد سې نو بيا د شارح دغه خبره د تسليمولو وړ ده او دغه خبره ضرر نه رسوی. او که چېرې شارح مراد دا وی چې دغه لفظ احتمال د دغې خبرې نه لری نو بيا د شارح دغه خبره صحت نه لری. ځکه لفظ د دغې خبرې احتمال لری؟

جواب: د شارح مراد دادی چې لفظ د دغې خبرې نه احتمال لری اوٗ نه د لفظ څخه په فهم قريب (دادول چې دلالت کونکي قرينه پر موجوده وی) فهمېږي. او دلته په دغه احتمال قرينه وجود نه لری.

حاشيه نمبر۵:

سوال: دغه عبارت "وهو حد الاعجاز ومايقرب منه" صحت نه لری. ځکه د غه د نوعي څخه تعبير کونه په افرادو سره ده. او دغه صحت نه لری، ځکه طرفي اعلي واحدی نوعي دی، او و هيڅ ته نه تقسيمېږي؟

منعې جواب: د دې جواب څخه مخکې د يو فائدې و زدکړی ته ضرورت سته کوم چې لاندی راتلونکي ده.

﴿فائده﴾: هغه احکام چې و طبائع ته ثابتيږي دوه اقسام لري.

۱): هغه احکام چې طبعيت لره په ضمن کې د افرادو ثابتيږي. او دغه احکام په احکام الافراد سره نومول کيږي. د مثال په توګه جسميت چې ثابت و انسان ته وی. دغه قسم د احکامو په افرادو او دغه دول په طبعيت په دواړو صادقيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲): هغه احکام چې پېله کومې واسطې طبعیت لره ثابت وی، او دغه په ضمن کې د افرادو ثابت نه وی. د مثال په توګه نوعیت لپاره د انسان. اوس نوعیت محض طبعیت لره د انسان ثابتیږی نه و زید او عمر لره کوم چې افراد د انسان دي. او دغه په "احکام الطبعة" سره نومول کیږي. او دوی په طبعیت صادقیږي نه په افرادو. (شروح التلخیص ۱۳۹/ج۱)

د پورتني فائدې د بیان ورسته خلاصه د جواب داده چې د نوعي ځخه تعبیر په افرادو سره کول مطلقاً (یعني چې د هرې نوعي ځخه تعبیر په افرادو سره روا دی خبره دغه ډول نه ده) صحت نه لري. بلکه په هغه احکامو کې صحت لري کوم چې خاص تر طبعیت نوعي پورې نه وی. ځکه دغه ډول وینا "زید و عمر و بکر الی آخر افراد الانسان نوع" باطله ده. او د طرفي اعلي نوعه کېده د د طبعیت سره د اعجاز خاص دی. او دغه و افرادو ته د اعجاز شامل نه دی، ځکه د طرفي اعلي مفهوم په افرادو د اعجاز نه صادقیږي. ځکه په مفهوم کې د طرفي اعلي عدم المجاوزة اخیستل سوی دی. او دغه مفهوم و افرادو ته شامله نه دی. ځکه هر فرد "د طبعیتي اعجازي" تجاوز کونکي تر نهایه او پای د هغه بل فرد دی.

تسلیمي جواب: مونږ که چیرې داومنو چې د نوعي ځخه مطلقا تعبیر په واسطه سره د افرادو صحت لري نو بیا جواب خلاصه داده چې د نوعي ځخه تعبیر کول په ټولو افرادو سره صحی دی نه په بعضو افرادو سره. ځکه انتهاء د طرفي اعلي حد الاعجاز دی. او دغه "انتهاء ته نزدې" و هغه چا ته شامله دی چې هغه و دغه نهایه ته تر غیر ژندې وی. لهذا دغه خبره بیا مبدأ ته د اعجاز، دغه ډول وسط ته د اعجاز ته شامله نه سو او حال دا چې نوع "اعلي" دغو دواړو ته شامله ده. (شرح العلامي ۴۱۲/ج۲)

حاشیه نمبر ۷:

سوال: شارح ولې د "یؤید" وینا پرې وناد "یثبت" مختاره کړیده؟

جواب: د خپلولو وجه داده چې "حد" په عبارت کې د کشاف "په معني سره د مرتبه" دا نه ثابتوی چې په عبارت کې د مصنف هم "حد" په معني سره د مرتبه دی. او په کشاف کې "حد" په معني سره د مرتبه ددې خبرې تائید ونکي دی چې "حد" په عبارت کې د مصنف هم په معني سره د

مرتبه دی، څکه د راتلوځای د "حد" په عبارت کې د مصنف او د کشاف یو دی، او هغه اضافت د حد و الاعجاز ته دی.

سوال: شارح د کشاف قول لپاره د تائید د راوړلو څه وجه ده؟

جواب: وجه یې داده چې که چیرې حد په معني سره د نهایه سي نو بیا د دې قول "ان یکون بعض القرآن من عند غیر الله" او د دې قول "ان یکون بعضه بالغا حد الاعجاز و بعضه قاصرا عنه" ترمینځ ملازمه نسته. څکه دلته امکان د واسطې سته. او هغه واسطه داده چې بعض د قرآن څخه دي و حد ته اعجاز رسېدونکې نه وی دا ډول چې مبدأ یا وسط د اعجاز دي وی. او که چیرې حد په معني سره د مرتبې سی نو ملازمه صحی ده، څکه که چیرې بعض د قرآن څخه د الله د جانبه سي او بعض د قرآن د جانبه د الله نه سي بلکه د غیر د طرفه سي نو بیا به دالازمه سي چې هغه بعض چې د جانبه د الله دي معجز دی او هغه قرآن چې پرته د الله د جانبه دي هغه به قاصره تر حد د اعجاز سي، او دده معارضه به ممکن وی. نو اوس دا معلومه سوه چې دلته حد په معني سره د مرتبه دی. (شرح الموسی ۴۱۳/ج۲)

حاشیه نمبر ۸:

سوال: اختلاف په "کثیرا" سره موصوفه کول مناسب نه دی، څکه د عربیت د علماؤ په وړاندې د اعجاز وجه داده چې قرآن په اوچته درجه کې د بلاغت وجود لري. اوس که چیرې مور بعض د قرآن دا ډول فرض کړو چې دغه د الله جل جلاله د طرف څخه نه دی نو په دغه صورت کې به یو اختلاف لازم سي نه ډیر. او هغه یو اختلاف دادی چې بعض د قرآن څخه و حد ته د اعجاز رسېدلي دی او بعض بیا حد ته د اعجاز رسېدلي نه دی. او دغه پرته د یوه اختلاف بل څه نه دی؟

جواب: "کثیرا" که چیرې صفت لپاره د اختلاف وای نو بیا ستا اعتراض واردېدی، مگر خبره د غه ډول نه ده، بلکه صاحب الکشاف "کثیرا" مفعول اول او اختلاف په معني سره د "مختلفا" مفعول الثاني گرزولي دی.

حاشیه نمبر ۹:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: د شارح توجیه صحت نه لری، ځکه په دغه کې خبر "چې حد الاعجاز دی کوم چې معمول لپاره د مبتدا دی" ترمینځ د اجزاؤ د خپل عامل (عامل مبتدأ ده، او مبتدأ پر دو اجزاؤ مشتمله ده. ۱: هو. ۲: ما یقرب منه) واقع سوی دی" یعنې عامل مبتدأ ده، ځکه د راجح قول مطابق مبتدأ عامل په خپل خبر کې وی، ځکه د شارح په وړاندې طرف الاعلی و ما یقرب منه مبتدأ ده. او حد الاعجاز چې د مبتدأ معمول دی په مابین کې د اجزاؤ د مبتدأ واقع سوی دی" او دغه صحی نه دی؟

جواب: په توجیه کې د شارح عطف مقدم په اخبار باندی دی. لهذا معطوف سره د معطوف علیه مجموع مبتدأ او "حد الاعجاز" خبر دی. او د خبر واقع کیدہ ترمینځ د اجزاؤ د عامل هلته ښه نه وی چیرې چې اخبار په عطف مقدم وی. او دلته داسې نه ده، ځکه دلته عطف "ددې لپاره مقدم دی چې په حد الاعجاز سره محکوم علیه دواړه (طرف الاعلی و ما یقرب منه) و گرزی، نه هر یو دوی ځخه جلا جلا" مقدم دی.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: "ما یقرب منه" په حد الاعجاز کې داخله بلل صحت نه لری، ځکه "ما" په "ما یقرب منه" کې موصوله دی، نو عبارت دا جوړیږی "الذی یقرب منه". او دغه "ما" داطلاق لپاره دی، یعنې مطلق "ما یقرب منه". او د مطلق "ما یقرب منه" معارضه کول ممکنه ده. لهذا د "ما یقرب منه" داخلول په "حد الاعجاز" کې دغه داخلول د یوه ضد په بل ضد کې دی، ځکه د "مطلق ما یقرب منه" معارضه ممکنه ده، او د "حد الاعجاز" معارضه بیا ممکنه نه ده؟

جواب: "ما" په "ما یقرب منه" کې د اطلاق لپاره نه دی، بلکه دغه موصول لپاره د عهد دی، یعنې هغه معلوم او مخصوص ما یقرب منه. او دغه د خلکو په مینځ کې شهرت ته رسیدلی دی، هغه دادی چې دده معارضه ممکنه نه وی، نو اوس هغه افراد چې په "حد الاعجاز" کې داخله نه دی هغه د "ما یقرب منه" ځخه ووتل.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: شارح په عبارت کې محض د صاحب المفتاح خبره رانقل کړیده او که د مفتاح د شارح قطب الدین شیرازی خبره یې هم رانقل کړیده؟

جواب: د صاحب المفتاح او د شارح ددواړو خبری یې رانقل کړې دي.

سوال: د صاحب المفتاح خبره کومه ده او د شارح المفتاح خبره کومه ده؟

جواب: صاحب المفتاح خبره داده "ان البلاغة تتزايد الي ان يبلغ حد الاعجاز و هو طرف الاعلي و ما يقرب منه". او د شارح قول يې دادی " فانه و ما يقرب منه كلاهما حد الاعجاز".

سوال: د شارح د قول د را نقل كولو ضرورت ولې پيښ سو؟

جواب: د صاحب المفتاح عبارت محتمل دو احتمالو وو:

۱: "هو الطرف الاعلي و مايقرب منه". اوس دلته "الطرف الاعلي" معطوف عليه، او "ما يقرب منه" معطوف دی، او "هو" مبتدأ عبارت د حد الاعجاز څخه ده. نو عبارت داسي جوړيږی "حدالاعجاز هو الطرف الاعلي و ما يقرب منه".

۲: "هو" معطوف عليه عبارت د حد الاعجاز څخه دی، او "ما يقرب منه" پر ده عطف دی، نو معطوف عليه سره د معطف مبتدأ او "الطرف الاعلي" خبر دی، عبارت دا سازيږی "حد الاعجاز و ما يقرب منه حدالاعجاز الطرف الاعلي" يعني حد الاعجاز او "ما يقرب منه" دواړه حد الاعجاز دي. څرنګه د صاحب المفتاح په عبارت کي احتمالونو وجود درلودی، او د مقصود تعين شارح د مفتاح کړی وو نو په دغه وجه شارح تفتازاني هم دلته د شارح المفتاح شيرازی قول ذکر کړي چې تعين د مقصود راسي.

سوال: که چيری دوم احتمال مراد سي نو په دغه کي بيا کومه خرابي رائي؟

جواب: هغه خرابي رائي کوم چي په شکاره د متن راتلل "ظاهر العبارة ان الطرف الاعلي هو حد الاعجاز و ما يقرب من حد الاعجاز". د هغه خرابي څخه د ځان ساتولو په خاطر دوم احتمال مراد نه سو بلکه اول مراد سو.

حاشيه نمبر ۱۲:

سوال: د "حد الاعجاز" ولي دوه افراده سوه. ۱: طرفي اعلي. ۲: و طرفي اعلي ته ژندې. په کار داوه چي ټوله افراد د حد الاعجاز يو دول وای او دوی تر مينځ فرق وجود نه درلو دلای، ددې لپاره چي د افرادو تر مينځ مساوات او برابر وجود پيدا کړي؟

جواب: ټوله آياتونه په حد الاعجاز کي داخل دي، او د يوه فرد سره دوی هم معارضه او مقابله تر سره کېدای نه سي، البته دوی په خپل مينځ کي فرق سره لری، داډول چي بعض اعلي او بعضي بيا تر هغه کم وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: ددوی تر مینځ فرق وجود بلل باطل دی، خکه ددغه څخه دا لازمیږی چې الله جل جلاله د بعض په راوړلو په اعلي مرتبه کې پر دغه قادر دی، اود بعضو دا بیه په اعلي مرتبه کې اعجازیه راوړلو قادر نه دي؟

جواب: خبره دغه ډول نه ده ،بلکه په دغه نه راوړلو کې د الله جل جلاله خپل حکمت وو، د مثال په توګه یو مخاطب طاقت لري چې دی دي هغه کلام و فهموی کوم چې په اعلي مرتبه کې د بلاغت راغلي وی، او بل مخاطب بیا دغه طاقت نه لري نو اوس مقتضي د حال داده چې دی دي په هغه کلام سره نه مخاطبیږی کوم چې په اعلي مرتبه کې د بلاغت وجود لري، بلکه تر هغه دي په کمزوری سره مخاطب وګرزی. نو د مخاطب د حال خیال ساتل دغه بلاغت دي، په دغه وجه الله جل جلاله ټوله آیاتونه په اعلي مرتبه کې دبلاغت وړاندي نه کړه بعضي اعلي بعضي بیا تر هغه کښته، مګر معارضه دیوه سره هم تر سره کېدای نه سي.

سوال: "یعني ان بعض الایات" دغه د چا تفسیر دی؟

جواب: دغه د شارح د دې قول "و لا یخفي ان بعض الایات" تفسیر دی.

سوال: دغه " آی البعض المُتحدّی به " د چا تفسیر دی؟

جواب: دغه تفسیر د " بعض الایات" دي، یعني هغه بعض آیات چې مقدار یې برابر د یو کوشني سورت دی په کوم سره چې مقابله او معارضه د کفارو سره تر سره سوېده، "وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ". (البقرة: ۲۳)

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: شارح رحمه الله و لي د "ما هو" تفسیر په" طرف البلاغة" سره تر سره کړي؟

جواب: شارح رحمه الله څخه دا خبل رانقل سوېده چې دغه طرف اسفل هم په بلاغة کې شامله دی، او دغه د بلاغة څخه وتلي نه دی، او په دغه سره ردونه د هغه خبری وسوه کوم چې د نهایة الاعجاز په نامه سره په کتاب کې ذکر سوېده چې طرفي اسفل د بلاغت څخه وتلي دی.

حاشیه نمبر ۱۴:

په دغه حاشیه کې د "ما دونه" بیان تر سره سوی دی. په قاموس کې د "دون" دا معني بیان سوېده "دون" نقیض د" فوق" دی. او معني د "ما دونه"، "الی ما تحته "ده. لهذا د "دون" رجوع وهغه شي ته کیږي کوم چې شارح ذکر "هی ادنی منه" کړی دي. ځکه لاندی تر اسفل چې بالنسبت و ما فوق ته

د اسفل واخیستل سي نو دغه "ما دون" ادني تر دغه اسفل وی" یعني څه وخت چې مادون بالنسبت د فوق ته د اسفل واخیستل سي نو د غه ما دون تر اسفل ادنی تر اسفل وی" (شرح عبدالحق ۲۴۰/ج۱)

حاشیه نمبر ۱۵:

سوال: د مصنف دغه عبارت "باصوات الحیوانات" صحت نه لری، ځکه دغه مخالف د عبارت څخه د مفتاح راغلي دي هغه عبارت داډول دی "باصوات حیوانات". لهذا مصنف معرفه او صاحب المفتاح نکره راوړی دی، څرنګه تلخیص مأخود د مفتاح څخه دی، او د اصل څخه مخالفت باطل دی نو د مصنف عبارت په دغه وجه باطل دی؟

جواب: کوم مقصد د مصنف دی بعینه هغه مقصد د صاحب المفتاح دی، داډول چې مصنف دلته "الحوانات" معرفه ددې لپاره راوړي چې انسان ووزی، لهذا دغه راوړل د انسان د هیستو لو لپاره دی، او صاحب المفتاح نکره راوړی دي، او مقصد دده هم د انسان هیستل دی، د هیستولو صورت یې دا دی چې په دغه تنکیر کې دوه صورته کېدای سي.

۱: دغه تنکیر لپاره د تحقیر دی یعني "باصوات حیوانات حقیرة" نو په دغه سره انسان ووتي، ځکه انسان حقیر نه دی، لکه الله جل جلاله فرمایي "وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ" (الاسراء، ۷۰).

۲: دغه تنکیر لپاره د نوعیت دی، یعني هغه نوع د حیوان چې پرته د انسان دی، او پرته د انسان معلوم نه دی په دغه وجه "حیوانات" یې نکره راوړی. لهذا په دغه صورت کې هم انسان ووتي. څرنګه د مصنف او صاحب المفتاح مقصد یو وو په دغه وجه مخالفت نه راغلي، نو اوس اعتراض د مخالفت دفعه سو.

حاشیه نمبر ۱۶:

سوال: "ما" په "بحسب ما یتفق" کې کومه "ما" ده مصدریه او که موصوله او که کومه بله یوه ده؟

جواب: په دغه کې دواړه احتماله وجود لري.

۱: ما مصدریه ده، او دغه ځپل مدخول په مصدر سره اړوی نو تقدیر د عبارت دا جوړیږي "بحسب اتفاق الاصوات" یعني په حسب د اتفاق د آوازونو.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: "اتفاق" عبارت د موافقت څخه دي، اتفاق او موافقت راتلل د روح لرونکو شیانو خصوصیت وی، نو آوزاونه روح لرونکي شیان نه دي، بیا ددوی تر مینځ موافقه څرنګه تر سره کیږی؟

جواب: دلته "اتفاق" په معني سره د حصول دی، عبارت داجوړیږی "حصولها بلاعلة مقتضية لها قاصدة ایاها". دلته "علة" موصوف، "مقتضية لها" اول صفت او "قاصدة" یې دوم صفت دی، یعني آوازونه حاصل او دوی وجود پیدا کړي، مګر ددغه آوازونه د راتګ کوم داسي علت نه وی چې هغه تقاضي ددغه آوازونو کوي. او نه داسي علت وی چې حیوانان دهغه قصد کونکي وي. د مثال په توګه مخاطب منکر دی، نو اوس دده انکار یو داسي علت دي کوم چې تقاضي ددې کوی چې هغه کلام "په کوم سره ده ته خطاب تر سره کیږی" به مؤکد وی. نو اوس متکلم د دغه علت معتبرولو په وجه کلام مؤکد وړاندی کوي، او ووایي "إنَّ زَيْداً لَقَائِمٌ". حیوانان دغه ډول نه دي.

۲: ما موصوله ده، عبارت دا جوړیږی "بحسب الذی یتفق".

سوال: "ما" موصوله بلل دلته صحت نه لری، ځکه په صله کي عائد و موصول ته وجود لری، مګر دلته موجوده نه دی؟

جواب: دلته عائد ضمیر مستتر په "یتفق" کي دي کوم چې راجع و موصول ته دی، اصل عبارت داډول دی "بحسب الذی یتفق معها من الامور التی لاتقتضیها". او د "معها" ضمیر راجع و اصواتو ته دی، او "من الامور" بیان لپاره د "ما" موصوله دی. معني د عبارت داجوړیږی "په حسب د هغه شیانو کوم چې ملګری د هغه آوازونو سره سي د کومو تقاضي چې دغه شیان یې نه کوي". د مثال په توګه خر اوږی سي، نو دی و رایي او آواز و باسي او مالک اتفاقاً په پوه سي او ده ته خورک ورکړی. اوس لوږه تقاضي ددغه آواز هیستولو نه کوی. ځکه دغه یو آواز د لوږی په مهال هم دی کوی، د تندی په مهال یې هم کوی، او د درد په مهال یې هم کوی. او دغه ډول نور، نو اوس دلته د آواز سره دغه لوږه متفقه سوه، مګر لوږه ددغه آواز تقاضي نه کوی. او نه خر ددغه لوږی د اظهار کونه په دغه آواز سره قصد کړیده. ځکه دغه آواز ددغه لوږی د اظهار لپاره وضعه سوی نه دی. دغه آواز د لوږی په مهال بل وخت خر صادره کړی مګر مالک یې لوږه و نه فهموی بلکه یو عام آواز یې وبلي. او سوچ په کي نه وهی. و الله اعلم هذا لدی العاجز، فاغتنم و خذ، قد زلقت الاقدام في تشریح هذا المقام.

صفحہ نمبر ۳۳:

عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com

بهذه الركاكة فضاحة والبلاغة بل هو بين وصاف الكلام خاصة والبلاغة في المتكلم ملكة

يقتدر بها على تأليف كلام بليغ صلة تفريع على ما تقدم وتمهيد لبيان انحصار علم البلاغة

في المعاني والبيان والمختصار مقاصد الكتاب في الفنون الثلثة وغيرهم يعرض لصاحب المفتاح

حيث لم يجعل البلاغة مستلزمة للفصاحة وحصر رجوعها في المعاني والبيان اللغة والصرف

والنحو يعني علم بما تقدم امران احدهما ان كل بليغ كلاما كان او متكلما فصيح لان

الفصاحة ماخوذة في تعريف البلاغة على ما سبق ولا معنى لكون الشيء فصيحا بليغا او

ظاهر والثاني ان البلاغة في الكلام مرجعها وهو مالها ان حصل حتى يمكن حصولها كما قالوا

مرجع الصدق والكذب في الخبر الى الواقع ولا اعتبار بما يتخيله ويتخيل ان

الاحتراز عن الخطاء في تادية المعنى المراد والا فتما في المعنى المراد يسمى كلاما غير مطابق

لمقتضى الحال فلا يكون بليغا الا مع تحقق البلاغة والى تميز الكلام الفصيح من غيره والا

فربما اورد الكلام المطابق لمقتضى الحال غير فصيح فلا يكون اصابة بما سبق ان

البلاغة عبارة عن المطابقة مع الفصاحة ويدخل في تميز الكلام الفصيح من غيره

تميز الكلمات الفصيحة من غيرها لكونها قاصرة عليها فان قلت فلا يفتقر مرجع البلاغة بالتعلة الثانية

لها والغرض منها فهل له وجه قلت لا بل هو فاسد لانه ان اريد بالبلاغة الكلام

على ما صرح به المصنف قوله المعنى الى ان الغرض من كون الكلام مطابقا لمقتضى

الحال ضبطها هو الاحتراز عن الخطاء في اداء المقصود وتميز الكلام الفصيح من غيره وعناه

والنحو وكذا ان حمل كلامه على خلاف ما صرح به وارید بالبلاغة بالبلاغة المتكلم لا تتم

عاية ما علم مما تقدم هو ان بلاغة المتكلم تفيد هذين الامرين او تتوقف عليهما ولم يعلم

انها غرض منها وغايتها فالرجوع الى المحق حيث نا فالحاصل ان البلاغة ترجع الى هذين

الامرين والاستدراك عليها بتوقف على الاتصاف بهذين الوصفين وهو امر يحصل

ويكتسب من علوم متعددة بعد سلامة الحس فرجع البلاغة الى تلك العلوم جميعا

﴿بلاغت في المتكلم بو داسي ملكه ده په کوم سره چې متکلم د کلامي بليغ په حوړولو قدرت پيدا کوی، ﴿علم﴾ تفريع په هغه څه ده کوم چې تبر سو. او تمهيد لپاره د انحصار د علمي بلاغت په معاني او بيان کي دی. او مقاصد د کتاب په دري فنونو کي حصر دی. او په دغه تعريف کي تعريض په صاحب د مفتاح تر سره سوی دی، څکه ده بلاغت د فصاحت سره مستلزم کرزولی نه دي. ده د علم البلاغة موقوف عليه په علم معاني او بيان کي حصر کړی دي. ﴿به بلاغت موصوف﴾ نحو کي. يعني د مخکني کلام څخه دوه شيان معلوم سوه. ددوی څخه **يو دادی** ﴿هر بليغ﴾ عام تر دې کلام او که متکلم وی ﴿فصيح دی﴾. څکه فصاحت په تعريف کي د بلاغت د مخکني بيان موافق اخيستل سوی دی. ﴿او ددې عکس کونه نسته﴾ يعني هر فصيح بليغ نه دی، او دغه خبر ه ښکاره ده. او دوم شي دادی چې ﴿د بلاغت په کلام کي مرجع﴾ يعني هغه شي د کوم چې حاصلول ضروری ددې لپاره دی چې حاصلول د بلاغت د کلام ممکن سي. لکه څرنګه چې علماء فرمايي: د صدق او کذب مرجع د حکم د واقع سره موافقت او عدمي مطابقت دی. يعني د صدق او کذب مرجع هغه شي دی د کوم په سبب صدق او کذب ثابتيږي. ﴿د مرادا و مقصود په ادا ښه کي د خطاء څخه ژغورنه ده﴾ که چيرې دغه ډول نه وی نو بيا ډير ځلي معني مراده په يوه داسي کلام سره يې ادا ښه ترسره سي کوم چې د مقتضي سره د حال موافق نه وی. نو دغه به بليغ نه وی. څکه تعريف د بلاغت مخکي تبر سو. ﴿اوجلاکونه د فصيح﴾ کلام ﴿د غير څخه د فصيح ده﴾ که چيرې دغه ډول نه سي نو کلام به دا ډول راوړل سي چې د مقتضي سره د حال به موافق مګر فصيح به نه وی. لهذا هغه به هم بليغ نه وی، څکه دا خبره مخکي تبره سوه چې بلاغت عبارت د مطابقت سره د فصاحت څخه دی. او په تميز کي د کلامي فصيح د غيری فصيح څخه په دغه کي تميز د کلماتو فصيحيو د غيری فصيحيو څخه داخل دی. څکه تميز د کلامي فصيح په کلمه فصيحه موقوفه دی. بيا که ته **چيری ووايې**: د بلاغت د مرجع تفسير په علت غائي سره د بلاغت کړل کيږی، آيا ددغه تفسير کومه د صحت وجه لری؟ **مورووايو**: دغه د صحت وجه نه لری بلکه دغه يو فاسد تفسير، څکه که چيرې د بلاغت څخه بلاغت د کلام مراد سي لکه څرنګه چې مصنف ددغه تصريح په ايضاح کي کړيده، نو دغه وخت معني د عبارت دا جوړيږي: کوم کلام چې مطابق د مقتضي سره د حال وی فصيح دی، ددغه څخه غرض د مقصود په ادا ښه کي د خطاء د راتلو څخه احتراز کونه ده. او د کلامي فصيح د غيری فصيح څخه جلاوالي راتلنه ده. او ددغې معني فاسدوالي ښکاره دی. او دغه ډول د مصنف کلام چې ده په ايضاح کي ترسره کړي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

حمل په خلاف د هغه شي سي په کوم سره چي ده تصريح کړيده. او د بلاغت څخه بلاغت المتکلم مراد سي. ځکه انتهائي شي کوم چي د مخکني کلام څخه معلوميږي هغه دادی چي بلاغت المتکلم دغه دوه شيان فائده کوي. او يا دغه بلاغة المتکلم په دوی دواړو موقوفه دي. او دا خبره نه معلوميږي چي دغه دواړه غرض او غايه د بلاغت دي. نو و حق ته رجوع کونه غوره ده. لهذا **حاصل دادی:** د بلاغت رجوع و دغه دوو شيانو ته کيږی او په بلاغت قدرت پيدا کيدنه په دغه دوو شيانو سره په موصوف والي موقوفه دی. او دغه متصف والي يو داسي شي دی کوم چي ورسته تر سلامتيا د حس د متعددو علومو څخه تر لاسه کيږی. نو مرجع د بلاغت و دغه ټولو ته کيږی نه محض و معاني او بيان ته.

تشريح

تعريض: اشارتا يو شي معلوميږی البته په هغه سره تصريح سوی نه وی.

تعريض: [ع ر ض]. (مصدر عَرَّضَ). فَهِمَ مِنْ كَلَامِهِ تَعْرِيضاً بِهِ :- تَلْمِيحاً مِنْ غَيْرِ تَصْرِيحٍ. (المعجم الغنی)/// ۱. به کنايه و به اشاره چيزی گفتن؛ کنايه زدن؛ سخن سر بسته گفتن. ۲. به پهنای چيزی افزودن؛ عريض کردن.

خلاصه د عبارت: شارح رحمه الله فرمايي چي مصنف "فعلم" تفريع په مخکي تېر سوی شي کړزولي دي، او هغه تېر سوی شي تعريف د فصاحت او بلاغت دي، او دغه ډول په راروان کتاب کي دوه حصرونه ښوول کيږی.

۱: علم البلاغت حصر په علم المعاني او بيان کي دی.

۲: مقاصد د کتاب په دري فنونو کي حصر دی. لهذا دغه "فعلم" تمهيد د دغه دواړو حصرونو لپاره دی. او په دغه «فعلم» کي مصنف تعريض په صاحب د مفتاح کړی دي. هغه په خپل کتاب کي دوې خبری ذکر کړي دي.

۱: فصاحت د بلاغت سره لازم نه دی.

۲: موقوف عليه لپاره د بلاغت يې په علم المعاني او علم البيان کي حصر بللي دي. او مصنف تردید داسي وکړي چي فصاحت د بلاغت سره لازم او دغه ډول بلاغت محض په معاني او بيان موقوفه نه دي بلکه په لغت، صرف او نحو او دغه ډول په نورو هم موقوفه دی. او دغه ډول مصنف په دغه «فعلم» سره نسبت تر مينځ د بلاغت او فصاحت بيانول غواړي.

لهذا د فصاحت او بلاغت د مخکني کړل سوي تعريفونو څخه دوې خبری ښکاری.

۱: د بلاغت سره فصاحت لازم دي.

دليل: فصاحت د مطلقي بلاغت په تعريف "عام تردي دغه بلاغت د کلام او که د متکلم وی" کي اخيستل سوی دی، مگر محض دومره فرق وجود لری چي په کلام کي بلا واسطه او په بلاغت في المتکلم کي په واسطه سره د کلام اخيستل سوی دی. نو فصاحت جزء د تعريف د بلاغت دی، او کل بېله جزء وجود پيدا کولای نه سي. لهذا هر بليغ فصيح دی، مگر هر فصيح بليغ نه دی، ځکه داسي کېدای سي چي يو کلام فصيح وی، مگر د مقتضي سره د حال (به کوم سره چي بلاغت راځي) موافق نه وی.

۲: د بلاغت موقوف عليه (يعني هغه شي چي د بلاغت د حصول لپاره د هغه حصول ضروری وی) دوه شيان دي.

۱): د معني مرادي په ادا ښه کي د ترسره سوی غلطي څخه ځان ساتنه، ځکه که چيری د يو مرادی معني ادا ښه په يو فصيح لفظ سره ددې ترسره سي، مگر هغه لفظ د مقتضي سره د حال مطابق نه وی داډول چي په دغه لفظ کي د هغه خصوصياتو خيال ساتل سوی نه وی د کوم چي تقاضي، حال کوی. لهذا دغه کلام بيا بليغ نه دی.

۲): د هغه اسبابو څخه ځان ساتنه کوم چي فصاحت ته خلل رسوی هغه دادي:

۱: تنافر حروف. ۲: غرابت. ۳: مخالفت القياس. ۴: تنافر کلمات. ۵: ضعفي تأليف. ۶: تعقيد لفظي. ۷: تعقيد معنوی. او ددغه شيانو څخه مصنف داسي تعبير وکړي "کلامي فصيح د غيری فصيح څخه جلا کوني موقوفه دی". ځکه که چيری يو کلام د معني مرادی په ادا ښه کي د غلطي څخه ژغورل سوی وی د مثال په توګه هغه کلام د مقتضي سره د حال موافق وی، او په دغه کلام کي د هغه تولو شيانو خيال ساتل سوی وی د کوم چي تقاضي حال کوی، مگر په دغه کلام کي يو داسي سبب موجود وی په کوم سره چي خلل و فصاحت ته رسي نو دغه کلام بليغ نه ګرځي، ځکه د بلاغت د ثبوت لپاره د فصاحت وجود ضروری دی کوم چي دلته نسته.

سوال: "بلاغة في المتكلم" څه ته ويل کيږی؟

جواب: د يو داسي ملکي اوتينګ کيفيت نوم دی د کوم په وجه متکلم په هر قسم بليغ کلام په ادا ښي قدرت ولری.

Maktaba Tul Ishaat.com

تفريع: **سوال:** "فاء" دمختلفو معناګانو لپاره رائي. ۱: تعليل. ۲: تفصيل. ۳: جزاء، او دغه ډول نور. اوس دلته فاء د څه لپاره راغلېده؟

جواب: دغه فاء لپاره د تفريع ده، او مفرع عليه هغه تېر سوي تعريفونه د بلاغت او فصاحت دي.

تمهيد: **سوال:** په دغه ذکر سوي تفريع کي څه فائده ده؟

جواب: دغه تمهيد د ددې خبرې د بيان لپاره دی چې علم البلاغة په علم المعاني او علم البيان او ددوی دوو په توابعو کي حصر دی. او په دغه سره حاجت و علم المعاني او بيان ته ثابتيږی.

قيه تعريض: **سوال:** په تفريع کي دوه شيان ذکر سوی دي. ۱: هر بليغ فصيح دی نه برعکس.

۲: مرجع د بلاغت په کلام کي الخ. اوس دغه اولني شي په دې خبره کي دخل نه لری چې علم البلاغة په معاني او بيان کي حصر دی، او مقاصد د کتاب په درو فنونو کي حصر دي. نو مصنف دغه کلام د څه لپاره راوړی دي؟

جواب: په دغه کي يوه بله فائده وجود لری هغه داده چې مصنف په دغه کلام سره په صاحب د مفتاح رد کړی دي (دده فصاحت د بلاغت سره لازم ګرزولي نه دی)، او دغه ډول صاحب المفتاح مرجع د بلاغت په معاني او بيان کي حصر کړې ده، او مصنف په دغه د دوم شي په توسط رد کړی دي.

کلاما کان او متکلما: **سوال:** "کل" د هغه شي تعدد طلوبی کوم ته چې دی مضاف سوی وی، او دلته مضاف اليه بليغ دی کوم چې يو شي دی؟

جواب: بليغ عام دی، کلام او متکلم دواړو ته شامله دی، نو اوس دلته مضاف اليه متعدد سو.

لان الفصاحة: **سوال:** فصاحت ولي په بلاغت کي معتبر سوی دی؟

جواب: ځکه فصاحت په تعريف کي د بلاغت بالذات اخيستل سوی دی، او په تعريف کي د بلاغة المتکلم په واسطه سره د بلاغة الکلام اخيستل سوی دی. او هغه شي چې په تعريف کي د بل شي اخيستل سوی وی نو دغه اخيستل شي د هغه بل لپاره موقوف عليه وی نو

فصاحت موقوف علیه لپاره د بلاغت دی، او موقوف پرته د موقوف نه سې خصلتلای نو بلاغت بیله فصاحته نه سې تر لاسه کیدلای.

کما قالوا: **سوال:** مرجع په معني سره د موقوف علیه دغه یو نادره شي دی او دا نه لپاره د نظیر ضرورت وی، نو دلته دده لپاره نظیر څه شي دی؟

جواب: لکه ویل کیږی "مرجع الصدق و الکذب" یعني د رښتونوالي او دروغجن والي لپاره موقوف علیه.

و یدخل في تمیز الکلام": **سوال:** د مصنف کلام ددې خبرې تقاضي کوی چې بلاغتي کلام په جلاوالي د کلامي فصیح د غیر فصیح څخه موقوفه دی. او د کلماتي فصیحیه د غیر فصیحیه څخه په جلا والي موقوفه دی نو دوی د کلماتي فصیح په ډول د کلامي فصیح په جلاوالي موقوفه دی دغه ډول د کلماتي فصیحیه په جلاوالي هم موقوفه دي؟

جواب: جلا والي د "کلماتو فصیحیو د غیرې فصیحیو څخه" په جلاوالي کې د کلامي فصیح د کلامي غیرې فصیح څخه داخله دی. ځکه فصاحت د کلام په فصاحت د کلماتو موقوفه دی. لهذا کلام هلته فصیح ګرزی چې دده کلماتي فصیح وي. نو اوس دده وی د جلا ذکر کوني ضرورت نسته.

فان قلت: **سوال:** کله کله د بلاغت دموقوف علیه تفسیر په علت غائي سره و سي، آیا دغه تفسیر صحت لری؟

جواب: دغه تفسیر باطل دی، ځکه مورد تفسیر کونکي څخه پوښتنه کوو چې که چیرې ستا مقصد د بلاغت څخه بلاغة الکلام مراد وی لکه په دغه سره مصنف اتفاقا په ایضاح کي تصریح کړیده (او مقصد په دغه سره احتراز کونه نه ده). او په دغه سره شارح د مصنف سره د موافقت په خاطر تصریح کړیده. نو بیا معني دا ګرزی: په بلاغت في الکلام کي غرض احتراز او تمیز کونه ده. او ددغه فساد په دروو وجو سره ښکاره دی.

۱: غرض لپاره د فعل وی او بلاغت فعل نه دی.

۲: غرض د شي ورسته تر شي وی، احتراز او تمیز مخکي تر بلاغت دي، ځکه په دوی دواړو بلاغت موقوفه دی نو دوی موقوف علیه دي او موقوف علیه مخکي تر موقوف وی.

۳: غرض د بلاغت څخه اوچت والي د شان د کلام دی نه احتراز او تمیز کونه.

Maktaba Tul Ishaat.com

او که چیری د بلاغت څخه ستا مراد بلاغة في المتكلم وی «او دغه تقدیر د هغه تصریح په خلاف دی کوم چې مصنف په ایضاح کې تر سره کړی دي» نو بیا به معني داسي: د بلاغت في المتكلم څخه غرض احتراز اوتمیز دی، او ددغه فساد ښکاره دی، ځکه معلومه د تعریف څخه د بلاغت في المتكلم دا دی چې دغه تعریف به یا احتراز او تمیز لره فائده کونکي وی نو په دغه صورت کې دوی دواړه د بلاغت في المتكلم څخه مستفاد سوی وي، لهذا ددوی دواړو مستفاد والي د بلاغة في المتكلم څخه معلومیږی مګر دا نه معلومیږی چې دوی دواړه علت غائي لپاره د بلاغة في المتكلم دي (داهغه وخت چې د احتراز اوتمیز دافعالو څخه سي).

حاشیه نمبر ۱:

سوال: د "اشارة" او د "اشعار" مینځ هیڅ فرق وجود نه لری، ځکه په "فيه اشارة" او په "اشعار" کې به یا و قید "په اول کې قید عرضي او په دوم کې قید بعد رعایة المطابقة دی "ته نظر سوی وي. په دغه تقدیر هر یو د "اشارة" او د "اشعار" د لفظ څخه د "تبعها" مستفادیږی. او که چیري په دواړو کې نظر قید او مقید "او مقید په دواړو کې تحسین دی" دواړو ته سوی وی نو په دغه تقدیر دغه دواړه د تمام څخه د کلام دي. لهذا شارح لره دا ډول وینا "وفيه اشعار" په کار وه، او په کلام کې د معز الدین خان ودغه ته اشاره ده؟

جواب: د "اشعار" او د "اشارة" مینځ فرق وجود لری دا ډول چې په دغه ټوله کلام "تبعها وجوه آخر تورث آه" کې اشاره و دي کلام "ان التحسين آه" ته ده. ځکه د "تورث حسنا" څخه تحسین اخیستل کیږي. لهذا مراد ول د دغه کلام څخه دی. او د "كون التبعية فى الاعتبار" څخه "كون التحسين عرضيا" اخیستل سوی دی. لهذا؛ د دغه مراد ول د دغه کلام څخه دی. او "تبعها وجوه آخر" (چې د دغه تفسیر دغه ډول "ان الوجوه ليست تابعة للبلاغة فى الوجو و لازمة لها لكونها سوى الامرين الذين تحصل البلاغة بهما بل فى الاعتبار بان تعتبر فى الكلام بعد البلاغة "وسي. سیالکوټي) څخه "كون التبعية" بیا اخیستل سوی دی. لهذا دغه دواړه اجزاء د جملې "تحسين هذه الوجوه، عرضي" دلته مقصود دي. په خلاف د دې قول "اشعار بان هذه الوجوه" ځکه د دغه حصر (یعني حصر د وجوه په "تعد محسنة" کې) محل ورسته تر "رعاية المطابقة" دی. او د "رعاية

"مطابقة" بعديت د "تسعة" څخه ولاس ته راځي. او په بعدية المطابقة کي د حسن مراد ولو لره دخل نسته.

حاشیه نمبر۲:

دغه جواب د یو سوال مقدر څخه دی،تقریر د سوال دادی چې دغه وجوهات صفت لپاره د "بلاغة في الكلام" و گرزول سو "داډول چې دوی په بحث کې د بلاغة الكلام کې ذکر سوی دی نه په بحث کې د بلاغة المتكلم". او دوی د فصاحت او بلاغت غوندی" کوم چې د متکلم صفتونه دي"، صفتونه یې نه و گرزول؟

جواب: دغه وجوهات په عرف کې صفت لپاره د متکلم نه گرزول کیږی، د مثال په توگه که چیری یو متکلم په خپل کلام کې سجع، طباق، او یا تجنیس وړاندی کړی، نو دغه متکلم ته مسجِع، مطبِق او مجنِس نه ویل کیږی. په خلاف د فصاحت او د بلاغت، که چیری متکلم فصیح کلام وړاندی کړي. نو ده ته فصیح ویل کیږی، او که چیری بلیغ کلام وړاندی کړي نو ده ته بلیغ ویل کیږی، څرنگه په عرف کې د متکلم صفات نه واقع کېده په دغه وجه دوی د متکلم د فصاتو څخه و نه گرزول سوه.

حاشیه نمبر۳:

سوال: دغه کلام نکره په سیاق کې د اثبات واقع سوی دی.او نکره په سیاق کې د اثبات استغراق نه فائده کوی.بلکه عمومي بدلي فائده کوی. لهذا اوس تعریف مانع نه سو .حُکمَ دغه تعریف په هغه کس صادقیږي چې هغه لره داسي ملکه وی چې د هغه په سبب دی په یو خاص نوعه "لکه مدحه"کي په تألیف د کلام بلیغ قادره وی نه په بله نوعي " لکه ذم"کي. او حال دا چې دغه کس ته بلیغ نه ویل کیږي؟

جواب:نکره په سیاق کې د اثبات هغه وخت استغراق نه فائده کوي څه وخت چې دا موصوفه په یو وصف سره نه وی. او هغه وخت چې دا موصوفه په یو وصف سره وی نو بیا هغه وخت استغراق عمومي فائده کوی.او نکره په ذکر سوي مقام کي موصوفه په صفت سره د "ملكة يقتدر "ده.

بل عنوان: حاشیه نمبر۳:

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه جواب د يو سوال مقدر څخه دی، تقرير د سوال دا دی چې تعريف د " بلاغة المتكلم" مانع د اغيارو څخه نه دی، ځکه هغه کس چې يو داسې ملکه لری چې د هغه په توسط دی په يو خاص نوع د کلام پر راوړلو قدرت لری لکه تعريفاتي کلام يا پر ذم مشتمله کلام، نو اوس پر دغه تعريف صادقيږی ځکه "کلام بليغ" په "علی تأليف کلام بليغ" کې مطلق دی، او مطلق د يو فرد د موجوديت په صورت کې هم صادقيږی، او دلته يو داسې شي وجود نه لری کوم چې دلالت پر عموم او شمول و ټولو افرادو ته د کلامي بليغ کوی؟

جواب: دلته پر عموم قرينه وجود لری هغه قرينه داده: چيری چې نکره موصوفه په يو صفت سره راسي نو دغه نکره عموم فائده کوی "او دلته کلام په بليغ سره موصوفه گرزول سوی دی". لکه ويل کيږی "اُکرِمْ رجلاً عالماً" يعني اکرام د هر عالم کس وکړه کوم چې هم وی. نو دلته هم مقصد دادی " پر تأليف د بليغ کلام قدرت لری کوم چې هم وی". نو اوس سوال نه واردیږی. ځکه دغه کس پر تأليف د هر فرد د کلام قدرت نه لری بلکه پر يو مخصوص نوع باندی لری.

حاشيه نمبر ۴:

سوال: د شارح رحمه الله دغه قول "چې "فعلم" تمهيد لپاره د حصر دی" صحت نه لری. ځکه "فعلم ان کل بليغ فصيح و لاعکس" دغه هم تر "علم" لاندی دی، نو د شارح د قول مطابق دغه هم تمهيد لپاره د حصر د علم البلاغة په معاني او بيان کې دی، او حال دا چې دغه تمهيد لپاره د حصر نه دی بلکه دغه لپاره د بيان د نسبت تر مينځ د بلاغة او فصاحت دی، څرنګه د نسبت د بيانولو لپاره کوم کلام راوړل سوی وی هغه تمهيد لپاره د حصر کېدای نه سي په دغه وجه دغه کلام "فعلم الخ" تمهيد لپاره د حصر کېدای نه سي، نو بيا شارح دغه ته ولې تمهيد ويلي دي؟

جواب: دلته دوه شيان دي.

۱: "فعلم" تمهيد په اعتبار د ټوله کلام دی يعني" د "فعلم" څخه بيا تر "الی تميز الكلام الفصيح من غيره" په دغه ټوله عبارت سره دی تمهيد دی".

۲: د "فعلم" څخه بيا تر " تميز" پوری دغه تمهيد په اعتبار د دغه ټوله کلام نه دی بلکه دغه تمهيد په اعتبار د بعض د دغه کلام دی. نو دلته مراد دغه دوم دی، لهذا دغه تمهيد په اعتبار د بعض

ددغه کلام دی چې هغه "ان البلاغة في الكلام الخ" دی نه په اعتبار د ټوله چې بیا اعتراض وارد سي.

حاشیه نمبر۵:

سوال: مصنف رحمه الله د خپل کتاب د مقاصدو د حصر خبره و نه کړه چې دغه په درې فنونو کې حصر دي، او حال دا چې د دغه کتاب مقاصد په دغه فنونو کې حصر دي، نو مصنف ته دغه ښوونه په کار وه چې دده کتاب اجمالاً تر لاسه سوی وای؟

جواب: مصنف دغه خبره په خطبه کې تر سره کړېده چې مقاصد د کتاب په علم البلاغة او دده په توابعو کې حصر دی. او علم البلاغة سره د توابعه حصر په درې علومو کې دي، او دغه درې علوم په خپله دغه فنون دي. نو مقاصد د کتاب په دغه درې فنونو کې حصر دی، نو دغه خبره په خطبه کې ذکر سوېده، و دوم ځلي ذکر کولو ته کوم ضرورت پاته نه دی.

حاشیه نمبر۶:

سوال: د صاحب المفتاح د کومې خبرې څخه دا ښکاري چې دی فصاحت د بلاغت سره لازم نه ګڼي؟

جواب: صاحب المفتاح چې کوم تعریف د بلاغت کړې دي د هغه څخه معلومیږي، ده تعریف دا ډول کړې دي" متکلم په خپل کلام کې په پورا توګه سره د مقتضي د حال خیال و ساتي او د هغه موافق خصوصیات وړاندی کړي د مثال په توګه د تأکید ضرورت وی نو دی تأکید راوړی او که د تأکید څخه د خالي کلام ضرورت وی نو دی خالي کلام وړاندی کړي. او دغه ډول چې چیرې د کنایه، تشبیه او مجاز ضرورت وی نو دی خپل کلام په دغه مشتمل و ګرزوی، نو دغه ته بلاغت ویل کیږی". اوس ده په دغه تعریف کې کوم ځای د فصاحت خبره تر سره کړې نه ده، که چیرې ده فصاحت لازم د بلاغت سره بللای نو ده به هرو مرو په دغه سره تصریح کړې وای.

حاشیه نمبر۷:

سوال: دلته کوم عکس مراد دی، لغوی او که منطقي؟

جواب: دلته لغوی مراد دی نه منطقي.

سوال: ولي منطقي مراد نه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: څکه د منطقينو د اصطلاح موافق د مؤجبه کليه عکس مؤجبه جزئيه راځي. نو ددې قول "کل بليغ فصيح" منطقي عکس "بعض فصيح بليغ" راځي. (يعني بعضي فصيح بليغ نه دي. مګر ددغه بعض "کوم چې بليغ نه دي" څخه سېوا د نورو فصيح بليغ کېدل ضروري دي. او دغه خبره غلطه ده، څکه د يوه فصيح بليغ کېدل هم ضروري نه دی). او په لغت کې د مؤجبه کليه عکس مؤجبه کليه راځي. نو د "لاعکس" معنې دا جوړېږي "د کل بليغ فصيح عکس ضروری نه دی" يعني د هر فصيح بليغ کېدل ضروري نه دی، او دغه خبره صحي ده. څکه د يوه فصيح هم بليغ کېدل لازم نه دی.

حاشيه نمبر ۸:

ددغه عبارت "و مرجعها" په بيان کې دوه قوله دي.

۱): **شيخ محمد بن محمد:** "مرجع" مصدر ميمي دی، او په مصدريت يې قرينه صله "چې هغه الې ده" ده.

۲): **علامه سيالکوټي:** "مرجع" اسم مکان دی "يعني مکان رجوعها الاحراز والتميز". او د بلاغت لپاره د احتراز او تميز مکان کېدل مجازاً دی "يعني دوی دواړه مجازا مکان دي".

سوال: دغه مجازاً مکان کېدل په کوم اعتبار سره دی؟

جواب: په دې اعتبار سره چې د بلاغت توقف په احتراز او تميز داسې دی لکه توقف پر مکان باندی د هغه شي کوم چې حاصل په مکان کې وی. او د مرجع مصدر ميمي په معنې سره د مرجوع اليه کېده "بناء په حذف او ايصال" جائز نه دی. او مصدر ميمي کېده بناء په حذف او ايصال دادول وی چې "مرجعها" په اصل کې دادول وو "والبلاغة فی الکلام الامر الذی رجعتها العرب اليه راجع الی هذين الامرين". او بيا د "عما رجعت اليه" څخه په اسم مفعول سره "المرجوع اليه اياها" د تعبير کولو ارداه وسوه. بيا حرف جر "الی" حذف او ضمير يې مستتر و ګرزول سو. او دی په حقيقت کې نائب فاعل دی. او حذف يې دی وجې ترسره سو چې معنې د فعل و ضمير مجرور ته وصل سي. او بيا وويل سوه "المرجوع اليها". او بيا د اسم مفعول څخه په مصدر تعبير ترسره سو. او بيا ضمير "ضمير مجرور" په کې مستتر سو. لکه دغه ضمير په اسم مفعول کې مستتر سوی وو. او بيا دغه مصدر مضاف و ضمير ته د بلاغت سو. خلاصه داسوه چې د مرجع مصدر ميمي کېده

جائزه نه ده. ځکه په ده کې ضمیر مستتر وول ممکن نه دی. ځکه دده ځخه تعبیر په اسم مفعول سره کول ډیر د جامد والي ځخه نه باسي

سوال: "مرجع" اسم مکان بلل صحت نه لري. ځکه دده د اسم مکان د ګرزولو سره د "الي" راوړل منافات لري. ځکه "الي" تقاضي ددې کوي چې مصدر میمي دي په معني سره د رجوع سي. ځکه مرجع که چیري اسم مکان سي نو معني د عبارت به داجوړه سي "مکان رجوع البلاغة ینته الی الاحراز و التمیز" او دغه معني فاسده ده. ځکه دغه انتهاء لره د شي په خپل ځان لره لازمه ده. ځکه مرجع په خپله احتراز او تمیز دی، نه بل څه. (روح التلخیص ۱۴۴/ج ۱)

جواب: لکه څه ډول دا ډول وینا "مرجعها الاحراز" په اعتبار د تحقق صحت لري، ځکه مرجع یو امر کلي او احتراز یو جزئي د جزئیاتو ځخه ده دی. لکه څه ډول حمل کول د مرجع په احتراز په اعتبار د تحقق د مرجع په احتراز (ځکه هر کلي د خپل جزئي په ضمن کې موجود وی) کې صحت لري. دغه ډول مرجع په احتراز و پای ته رسیږی، ځکه دغه "مرجع په دغه احتراز کې ثابتیږی. (نفحات الفتاح ۲۴۵، جزء اول). لهذا خلاصه داسوه چې څه ډول مرجع پېله حرفي جرد احتراز سره راځي دغه ډول سره د حرفي جره هم راځي. نو دلته په عبارت کې سره د حرفي جره راغلی دی.

حاشیه نمبر ۹:

سوال: "طباق او لا طباق" په خپله صدق او کذب دي. نو دوی موقوف علیه لپاره د صدق او کذب بلل صحت نه لري. ځکه که چیري موقوف علیه سي نو بیا به توقف د شي په خپل ځان او دغه ډول مخکې والي د شي په خپل ځان راسي. ځکه موقوف علیه په موقوف مخکې وی؟

جواب: دلته صدق او کذب الخبر مراد نه دی بلکه ربنتیاوالي او دروغجنوالي د خبرورکو نکي مراد دی. نو اوس اعتراض نه واردیږي.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: په دغه قول کې د مصنف رحمه الله " الاحتراز عن الخطاء في تأدیة المعني" احتراز د تعقید معنوی ځخه داخل دی او که نه دی؟

جواب: داخل نه دی، ځکه دغه احتراز د هغه خطاء ځخه دی کوم چې په معني کې تر سره کیږی. نه د هغه خطاء ځخه کوم چې په کیفیت کې د ادیني د معني تر سره کیږی. نو دلته دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

شیان دي. ۱: په معني کې خطاء. ۲: په اداینه کې د معني خطاء. څرنګه احتراز د اول څخه جلا داحتراز څخه د دوم دی. په دغه وجه په دغه احتراز کې احتراز د تعقید معنوی داخل نه دی.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: که چیرې مرجع د بلاغت "د مرادی معني په اداینه کې تر سره سوی خطاء څخه" احتراز نه سي نو بیا څه پیښیږي؟

جواب: دلته به دا پیښه سي چې بلاغت به بیله د دغه خطاء څخه د احتراز تر لاسه سي. او دغه خبره صحت نه لري، ځکه دغه د فرض سوی خبرې خلاف راتلل دی، داډول چې مونږ دا فرض کړی وو چې بلاغت په مطابقت د مقتضي سره د حال تر لاسه کیږي (او مطابقت هلته تر لاسه کیږي چې د مرادی معني په اداینه کې کومه خطاء تر سره نه سي، که چیرې ترسره سی نو بیا دغه مطابقت نه دی). د دې څخه پرته نه حاصلیږي. او حال داچې دلته بیله مطابقت د مقتضي سره د حال تر لاسه سو. او خلاف المفروض باطل دی، نو دغه ذکر سوی احتراز مرجع د بلاغت نه بلل باطل دی. او دغه حال په دوم صورت کې یعني " تمیز الکلام الفصیح من غیره" هم دی.

حاشیه نمبر ۱۳:

سوال: شارح "الکلام" ولې موصوفه کړی. په دغه وجه دی و عذر وړاندی کولو ته محتاجه سو. ده که چیرې "الفظ" موصوفه کړې وای نو بیا به هیڅ کله و دغه عذر ته احتیاج پاته سوی نه وای؟

جواب: شارح په مقدرولو کې د "الکلام" اشاره و دې خبرې ته وکړه چې بلاغت اولاً و بالذات په "فصاحة الکلام" موقوفه دی، او ثانیاً و بالواسطه په فصاحت د کلماتو موقوفه دی. او دغه اشاره په مقدرولو سره د "الفظ" نه راتلله. ځکه لفظ کې احتمال د کلام او کلمه د دواړو وی. او په محتمل شي سره اشاره و یو معین شي ته ځپدای نه سي.

حاشیه نمبر ۱۴:

د مثال په توګه د مرادی معني په اداینه کې د خطاء څخه ځان ساتنه ددې صلاحیت لري چې دغه غرض د علم المعاني جوړ سي. لکه ویل کیږي "الغرض من المنطق الاحتراز عن الخطاء فی الفکر" او دغه خبره ثبوت ته رسېدلې ده، ځکه په یو شي د علم راتلو څخه احتراز راتلل د خطاء څخه مقصود وی. او احتراز د مطابقت لپاره غرض ګرزولولره هیڅ وجه نسته. ځکه په مطابقت سره

احتراز د خطاء څخه نه طلبيږي. ولي چې مطابقت دغه تحرز نه فائده کوي. ځکه مطابقت يو وصف لپاره د کلام دی نه يو علم. اوس ددغه کلام "طابق الکلام للاحتراز" وښا صحت نه لري. او دغه ډول تميز غرض ګرزولو ټره هم هيڅ معني نسته. که څه هم تميز او احتراز د متکلم د افعالو څخه دي. لهذا دوی دواړه غرض ګرزول لپاره د "کون الکلام مطابقا" بې معني دی. ځکه فاعل لره د خپل فعل څخه غرض لاس ته راوړنه مقصود وی. او مطابقت د کلام د متکلم فعل نه دی. او که چيرې "تأليف الکلام" (چې د متکلم فعل دی) د متکلم د فعل د کېدو د وجې مقدر سي، او ووېل سي "الغرض من تأليف الکلام مطابقا لمقتضى الحال آه"، نو بيا هم احتراز او تميز د تأليف څخه غرض نه دي. بلکه د تأليف څخه غرض فائده کول د معني علي ما ينبغي ده. (فيض الفتاح ۲۴۷)

حاشيه نمبر ۱۵:

د تعريف څخه دا لاس ته راځي چې بلاغة المتکلم د کلامي بليغ د تأليف لپاره سبب دی. او تأليف د مرادی معني په اداکولو سره (په واسطه د احتراز کولو د خطاء څخه) او په تميز سره د فصيح د غيري فصيح څخه حاصليږي. لهذا بلاغت دوی دواړو فائده کوي. ځکه ددې څخه چاره نسته چې سبب به په مسبب کي کفايت کونکي وی. نو سبب به ضرور هغه شي فائده کوی کوم چې د مسبب لپاره موقوف عليه وی. او دغه هغه مهال ترلاسه کيږی چې د احتراز او تميز څخه په خپله تميز او احتراز (څان ساتل، فرق او جلاوالي) مراد سي. که چيرې ددوی څخه قدرت لرل په احتراز او تميز مراد سي نو بيا بلاغة المتکلم په دوی دواړو موقوفه دی.

حاشيه نمبر ۱۶:

متکلم قدرت پر بلاغت هلته موندی چې دی بليغ کلام ډير استعمالوی، حتي ددغه استعمالولو څخه دی يو داسي قوت پيدا کړي چې د هغه په توسط دی پر تأليف د کلام بليغ چې کوم هم وی طاقت پيدا کړی. لهذا بلاغة المتکلم پر استعمال د بليغ کلام موقوفه دی، او بلاغة في الکلام بيا پر دغه دوو شيانو (احتراز د خطاء څخه. ۲: تميز د فصيح د غيری فصيح څخه راوستل) موقوفه دی. نو بلاغة المتکلم په واسطه د بلاغة في الکلام پر دغه دوو شيانو موقوفه دی.

حاشيه نمبر ۱۷:

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر ۱۸ :

صفحه نمبر ۳۴ :

عبارت

عبارت : و اما تحقيق قوله: و الثاني اى تميز الفصيح من غيره يعني معرفة ان هذا الكلام فصيح و ذالک غير فصيح فهو انه مركب اجزاؤه تميز السالم من الغرابة .....يعني البيان و البديع ، علم البيان و الثلثة علم البديع.

ترجمه

او دده د ددې قول تحقيق «والثاني» يعني تميز د فصيح د غيرى فصيح څخه يعني ددې خبرى پيژندنه چې دغه كلام فصيح او دغه كلام بيا فصيح نه دى : لهذا تميز د فصيح د غيرى فصيح څخه مركب دى ، او اجزاء يې دادى ۱ :تميز د سالم د غرابت څخه د غيرى سالم د غرابت څخه. يعني ددې خبرى پيژندنه چې دغه لفظ سالم د غرابت څخه دى نه هغه ، ددې لپاره چې ځان ساتنه د غرابت څخه راسي. او تميز د سالم د مخالفة څخه قانون د غيرى سالم څخه. اودغه ډول هغه ټوله اسباب كوم چې و فصاحت ته خلل رسوي. او بيا بيان د تميز د سالم د غرابت څخه د غيرى سالمه څخه په علمي متنِ لغت كې تر سره كيږى. څكه په دغه علم سره دا معلوميږى چې په "تكاكاتم" او "مسرج" كې غرابت وجود لرى. او په "اجمعتم" او "سراج" كې بيا غرابت وجود نه لرى. څكه كوم كس چې د لغاتو د كتابونو تتبع وكړى ، او په هغه مفرداتو احاطه وكړى كوم چې مانوس الاستعمال وي نو ددغه څخه دا معلوميږى چې ددغه مفرداتو څخه سهوا و دې ته محتاجه دى چې ددوى د معناګانو تفتيش تر سره سي. يا دوى ددې محتاجه دى چې بعيد مناسبات ددوى لپاره رواهيستل سي. لهذا هغه د غرابت څخه سالمه نه دى. څكه په خپل ضد سره د شيانو پيژندنه راځي. او بيان د تميز د سالم د مخالفة القياس څخه د غيرى سالم څخه په علم الصرف كې ترسره كيږى ، څكه په دغه علم سره محض دا معلوميږى چې "اجلل" د قياس څخه مخالفه دى نه "اجل". او په دغه نور پاتني قياس كړه. دا خبره واضح سوه چې تميز د فصيح د غيرى فصيح څخه﴿د بعضو بيان په علم متن اللغة كې ترسره كيږى﴾ يعني وضاحت په دغه علم كې ترسره كيږى. لكه غرابت يعني د غرابت څخه د سالم د غيرى سالمه څخه. او په تحقيق سره مصنف وويل "متن اللغة" يعني د مفرداتو د اوضاعو پيژندنه. څكه د لغت كله كله په ټولو اقسامو د عربيت

ويناتر سره كيږي. ﴿او يا په علم صرف كې يې بيان تر سره كيږي﴾ لكه د قياس څخه مخالفت. ﴿او يا په علم نحو كې يې بيان تر سره كيږي﴾ لكه ضعفي تأليف او تعقيد لفظي. ﴿او يا يې ادراک په حس سره تر سره كيږي﴾ لكه تنافر، څكه په دغه سره ادراک ددې خبرې كيږي چې "مستثر" متنافر دی نه "مرتفع" او دغه ډول تنافر الكلمات. ﴿او دغه﴾ يعني همغه شي د كوم چې بيان په دغه علومو كې تر سره كيږي او يا هغه شي د كوم چې ادراک په حس سره كيږي هغه ﴿د تعقيد معنوی څخه سبوا دی﴾. څكه پيژندنه د سالم د تعقيدی معنوی د غيرې سالم څخه نه په دغه علومو سره او نه په حس سره تر سره كيږي. او غرض په دغه كلام سره د هغه شي تعين كونه ده د كوم بيان چې په دغه درې علومو كې تر سره كيږي. او يا د كوم چې ادراک او پيژندنه په حس او ذوق سره كيږي. او په دغه درې علومو سره احتراز د هغه شي څخه راځي د كوم څخه احتراز كونه واجبه ده. ددې لپاره چې دا خبره معلومه سي چې زمور لپاره د هغه شيانو څخه څه پاته نه سو كوم ته چې رجوع د بلاغت كيږي. سبوا ژغورنه د هغي خطاء څخه كوم چې دمعني په اداينه كې ترسره كيږي، او جلاوالي د سالم د تعقيد د غيرې سالمه څخه. ددې لپاره چې د تعقيد څخه هم احتراز راسي. نو اوس ويوه داسي علم ته احتياج پيدا سو په كومه سره چې ژغورنه د خطاء څخه راځي. او ددا سي علم چې په هغه سره ژغورنه د تعقيد څخه راځي ددې لپاره چې كار د بلاغت پوره سي. نو دوی ددغه لپاره علم المعاني او بيان مقرر كړه. او دوی يې په علم البلاغت سره په دې وجه مسمي كړه چې ددوی ډير زيات خاص والي د بلاغت سره سته. او دغه ته يې په دې خپل قول سره اشاره وكړه ﴿او هغه څه چې په هغه سره احتراز د اول څخه راځي﴾. يعني د معني دادايني په صورت كې "د خطاء د راتلو څخه ژغورنه ترسره كيدنه" ﴿علم المعاني ده﴾. مراد په اول سره اول د هغه امرينو دی كوم چې باقي پاته دي، او د هغو څخه احتراز كوني ته احتياج پاته دی. او اول چې مقابل د هغه دوم دی كوم چې تميز د فصيح د غيرې فصيح څخه دی، لهذا هغه د خطاء څخه احتراز دی نه په خپله خطاء. ﴿او هغه څه چې په هغه سره احتراز د تعقيدی معنوی څخه راځي هغه علم البيان دی﴾. اوس دا معلومه سوه چې علم البلاغة په علم المعاني او بيان كې منحصره دی كه څه هم ددوی دوو څخه سبوا و نورو علومو ته هم د بلاغت رجوع ترسره كيږي. ته دلته فكر ووهه. څكه دغه خای د پښو د شوبدولو دی. بيا دوی په پيژندنې كې د توابعو و بل علم ته محتاجه سوه نو دوی علم البديع وضعه كړې. او و دغه ته مصنف په دې قول سره اشاره وكړه ﴿او هغه علم چې په هغه سره پيژندنه د وجوهاتو د تحسين راځي علم البديع دی﴾. او څه وخت چې دغه مختصر په علم البلاغة او دده د توابعو په بيان كې دی، په دغه وجه دده مقصود په

Maktaba Tul Ishaat.com

دري فنونو کي حصر دی. ﴿او دير﴾ د خلکو څخه ﴿دغه ټوله په نامه سره د علم البيان مسمي کوي. او بعض ددوی څخه بيا اول په علم المعاني او آخری دوه﴾ يعني بيان او بديع دي ﴿په علم البيان سره مسمي کوي. او دري سره په علم البديع سره﴾. او د مناسبت وجوهات پټ نه دي.

تشريح

دلته مصنف رحمه الله د بلاغت دوم موقوف عليه "فصيح کلام د غيری فصيح څخه جلا کول" تفصيل ښوونه غواړي، لهذا هغه شيان کوم چي فصاحت ته خلل رسوي د هغو څخه بعض په علم متنِ لغت کي بيانيږی. لکه غرابت، او بعضي بيا په علم الصرف کي بيانيږی لکه مخالفت د قياس څخه. او بعضي بيا د هغو څخه په علم النحو کي بيانيږی لکه ضعفي تأليف او تعقيدی لفظي. او د بعضو ادراک بيا په حس سره ترسره کيږی لکه تنافر.

"ای تميز الفصيح من غيره" **سوال:** د مصنف دا وينا" الثاني منه ما يبين في علم اللغة الخ" صحت نه لری، ځکه مراد د امری ثاني څخه دوم جزء د تفريع "فعلم ان کل بليغ فصيح" دی، او هغه دا دی "ان البلاغة في الکلام مرجعها الخ". او د دغه څخه بحث په دغه ذکر سوی علومو (نحو، صرف، معاني وغيره) کي نه ترسره کيږی. څرنګه چي د دغه څخه په يوه علم کي د دغه ذکر سوو څخه بحث نه ترسره کيږی نو بيا د مصنف دا وينا" چي د دغه څخه په دغه علومو کي بحث کول کيږی" صحت نه لری؟

جواب: دلته دوم جزء د تفريع مراد نه دی، بلکه دوم جزء د مرجع د بلاغت مراد دی، او دوم جزء د مرجع د بلاغت "تميز الکلام الفصيح من غيره" دی. او په دې کي شک نسته چي د دغه څخه بحث په دغه علومو کي ترسره کيږی.

"يعني معرفة ان هذا الکلام الخ" **سوال:** مورږ دا خبره نه منو چي په دغه علومو سره تميز د فصيح د غيری فصيح څخه ترلاسه کيږی، ځکه په دغه علومو سره معرفت او پيژندنه ترلاسه کيږی نه تميز، ولي چي تميز د يو شي د بل شي څخه په هغه خصوصيت سره ترلاسه کيږی کوم چي په دغه شي کي موجوده وی، او په هغه بل کي بيا موجوده نه وی. او تميز په دغه علومو سره نه ترلاسه کيږی؟

جواب: دلته مراد د تميز څخه معرفت دی نو معني ددې عبارت "تميز الفصيح عن غيره" داڈه " معرفت او پيژندنه ددې خبری چي دغه کلام فصيح او دغه بل کلام بيا فصيح نه دی". لهذا تميز که چيری په خپله اصلي معني سره مراد وای نو بيا به اعتراض وارد سوی وای.

سوال: مقصد د شارح په دغه عبارت سره "ثم تميز السالم من الغرابة عن غيره" څه دی؟

جواب: هغه شیان چې فصاحت ته خلل رسونکي وي، او هر یو د دغه شیانو څخه په جلا علومو کې ذکر کیږي. مګر مصنف دا نه وښوول چې کوم د خلل سبب په کوم علم کې بیانیږي، نو د دغه د تعینولو لپاره شارح و فرمایل "تميز السالم" یعني پیژندنه د قیاس موافق او د مخالف القیاس دغه په علم الصرف کې تر سره کیږي دغه ډول تر آخره پوري.

لان تتبع الكتب المتداولة الخ" سوال: د مصنف ښکاره کلام تقاضي د دې خبرې کوي چې په علم متن اللغة کې دا بیانیږي چې دغه فلانکي لفظ لکه "تكاكأتم" غریب دی، او دده د معنې د لاس ته راوړلو لپاره احتیاج و دې خبرې ته وجود لري چې دده څخه بحث په غټو کتابونو کې د لغا تو تر سره سي. او مثل د "مسرج" بیا احتیاج و دې ته لري چې یو بعید مناسبت دده لپاره و لټول سي. او حال دا چې په علم اللغة کې دغه ډول بحثونه نه تر سره کیږي، بلکه په هغه کې د مفرداتو معناګاني ښوول کیږي؟

جواب: د مصنف رحمه الله مقصد دادی چې هغه کس کوم چې غټ غټ کتابونو د لغاتو کتلي وي او هغه په مفرداتو د لغت احاطه تر سره کړې وي نو هغه دا پیژني چې د دغه څخه سهوا چې کوم نور الفاظ دي هغه و تفتیش او تخریج ته ضرورت لري. نو اوس اعتراض نه وارد یږي.

سوال: "منه ما يبين" څه ترکیبي کیفیت لري؟

جواب: "من" لپاره د تبعیض دی، "ما" موصوله په معني د "الذي" دی. "يبين" فعل، ضمیر مستتر فاعل دی، دغه جمله فعلیه صله لپاره د موصول سوه، موصول سره د صله مبتدأ مؤخره او "منه" خبر مقدم دی. مبتدأ سره د خبره جمله اسمیه خبر لپاره د "الثاني" دی. نو اصل عبارت دادول دی" تميز الفصيح من غيره بعضه التميز الذي يبين في علم اللغة ".

ای یوضح: سوال: د مصنف د دغه عبارت " منه ما يبين" څخه دا خبره معلومیږي چې بعض د تمیزه څخه په علم اللغة سره معلومیږي او حال دا چې په علم اللغة کې د دغه تمیز "په حیث د تمیز" څخه بحث نه تر سره کیږي؟

جواب: د دې مطلب دا نه دی چې علم اللغة د بعضي تمیز څخه بحث کوی بلکه د دې مطلب دادی چې علم اللغة هغه اسباب د بعضي تمیز واضح کوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

انما قال متن اللغة: سوال: تلخيص متن دی، او د متن بنیاد پر اختصار دی، نو مصنف ته داسې وینا پر کار وه "علم اللغة"؟

جواب: کله کله د علم اللغة وینا پر ټولو عربي علومو تر سره کیږي پر صرف، پر نحو او پر نورو ددوی. لهذا که یې علم اللغة ویلي وای نو بیا مقصد نه معلومیدی چې دلته څوک مراد دی، په خلاف د "علم متن اللغة" څکه د دغه اطلاق محض پر علم اللغة کیږي دڅې نه سبوا پر بل چا یې اطلاق نه تر سره کیږي.

تمیز الکلام من التعقید المعنوی" سوال: کلام د مصنف په مستثني او مستثني منه مشتمله دی، مستثني منه "ما یبین" دی، او مستثني "تعقید المعنوی" او دغه استثناء په توسط د "ما عدا" تر سره سوېده. او س دغه استثناء صحت نه لري، ځکه په استثناء کي مستثني په مستثني منه کي داخله او په توسط د ادات د استثناء خارجه سي، او دلته دغه ډول نه ده ځکه "ما یبین" عبارت د تمیز څخه دی او تعقید معنوی تمیز نه دی؟

جواب: دلته عبارت په تقدیر د مضاف دی یعني "ما عدا تمیز التعقید المعنوی".

و الغرض من هذا الکلام" سوال: دلته مقصود بیان د بلاغت د مرجع دی، او مرجع د بلاغت عبارت د دوو شیانو څخه دي. ۱: احتراز. ۲: تمیز (د کومو دواړو بیان مخکې تېر سو). لهذا مصنف دوم په دې قول "الثاني مه ما یبین" سره بیان کړی. او اول یې په دې راتلونکي قول "ما یحترز به عن الاول" سره بیان کړي. نو "ما عدا التعقید المعنوی" ته کوم ضرورت نسته. لهذا مصنف دغه ولي راوړی دي؟

جواب: په دغه قول کي فائده تعینول د مراد ددغه ذکر سوی علومو او د حس دی او دغه ډول تعینول د مراد د علمینو "معاني او بیان" څخه دی. او دغه ددې لپاره تر سره کیږي چې شان د بلاغت تام او په بنه توګه و پیژندل سي.

لمکان مزید اختصاص" سوال: فائده د بلاغت لکه څرنګه په دغه دوو علومو علم المعاني او بیان سره تر لاسه کیږي دغه ډول په دغه ذکر سوی علومو او حس سره هم تر لاسه کیږي. نو دغه علوم هم په دغه نامه سره یې مسمي کول په کار وه؟

جواب: مور ستاد غه خبره منو مگر دد غه دوو علومو او دد غه نور ذکر سوی علومو ترمینځ دا فرق وجود لری چې علم البلاغة زیات خاص والي دد غه دوو علومو سره لری. د پاته نورو ذکر سوی علومو ور سره د یو سره تعلق نه لری. په دغه وجه دوی دواړه په علم البلاغة سره و نومول سوه نه پاته نور ذکر سوی علوم.

هو سيز الفصيح عن غيره" سوال: دلته د ثاني څخه مراد علم البيان دی، ځکه دی بالنسبت و معاني ته دوم دی. مګر دلته دد وم مقابله د اول سره تامانه ده، ځکه اول "احتراز عن الخطاء" په معنی سره د علم المعاني نه دی، نو مقابله د اول او دوم ترمینځ تامه نه سوه، ځکه دوم د علم او اول د احتراز څخه عبارت دی د کوم ترمینځ چې ډیر زیات فرق وجود لری؟

جواب: دلته د دوم څخه مراد علم البیان نه دی بلکه تمیز د فصیح د غیری قبیح څخه مراد دی، نو اوس مقابله تام سوه.

وحل الحواشي:

حاشیه نمبر ۱:

سوال: دغه خبره "كون مرجع البلاغة الى التمیز" دد ې تقاضي کوی چې بلیغ هر هغه کس دی کوم چې په داسي بلیغ کلام سره راتګ کړي وی چې هغه د غیر څخه ممیز او جلا وی. او هغه کس ته بلیغ نه ویل کیږي کوم چې تر اوسه پورې په بلیغ کلام سره راتګ کړي نه وی، البته په راتلونکي کې قادره وی. او حال دا چې دغه ته په اصطلاح کې هم بلیغ ویل کیږي؟

جواب: مراد د تمیز څخه پیژندنه د فصیح والي د عدمي فصیح والي څخه ده نه راتګ په داسي بلیغ کلام سره چې هغه د غیر څخه ممیز وی. (کذا فی شرح الیامانی ۴۴۹/ج ۲)

حاشیه نمبر ۲:

ببیان د ترکیب: "واما تحقق قوله" دغه اوله مبتدأ او "فهو" دویمه مبتدأ او ضمیر راجع و "تحقق قوله" ته دی. "انه مرکب" خبر دی. او د "انه" ضمیر راجع و "الثاني" ته دی. او "مرکب" موصوف او "اجزائه" مبتدأ او "تمیز السالم من القرابة" بیا خبر دی. مبتدأ سره د خبره صفت لپاره د "مرکب" ده. موصوف سره د صفته خبر لپاره د "انّ" دی.

سوال: تقسیم د تمیز فصیح د غیري فصیح څخه به د دو حالو څخه خالي نه وی. دغه به یا تقسیم د کلي و جزئیاتو ته وی، او یا به د قبیلې څخه د تقسیم د کل و اجزاؤ ته وی. او دلته یو

Maktaba Tul Ishaat.com

هم صحت نه لري. اول يه دې وجه صحت نه لري چې تميز د فصيح د غيري فصيح څخه په يوه د اقسامو نه صادقيږي. او حال دا چې کلي په خپلو اجزاؤ صادقيږي. او دوم په دې وجه صحت نه لري چې تميز بسيط خاوند د اجزاؤ نه دی؟

جواب: دلته زمور دوم شق خپلوو. او مور بساطت د تميز نه منو، ځکه تميز په سبب دا ضافت و فصيح ته مرکب او مجموعه د پنځو تميزاتو څخه (پنځه تميزونه په اعتبار سره د خلل رسونکو فصاحت ته) و ګرزېدی. او هغه پنځه تميزات دادي.

۱: د غريب تميز د غيری غريب څخه.

۲: د مخالف القياس تميز د غيری مخالف القياس څخه.

۳: د متنافر تميز د غيری متنافر.

۴: د هغه شي تميز په کوم کې چې تعقيد وی د غير څخه.

۵: د ضعفي تأليف تميز د غير ضعف التأليف څخه.

حاشيه نمبر ۳:

سوال: د "بين" نسبت و تميز ته صحت نه لری، ځکه د لغاتو په کتابونو کې دا خبره نه بيانيږي چې دغه د غرابت څخه سالمه دی او دغه بيا د غرابت څخه سالمه نه دی؟

جواب: اسناد د "بين" و تميز ته مجازی دی (يعني د قبيلې څخه د اسناد د هغه شي دی کوم چې سبب لپاره د مسبب وی). او معني ددې قول "کون التميز مبينا فی علم متن اللغة" داده "تميز د سالم د غيري سالم څخه د هغه شي په سبب حاصليږي کوم چې په علم متن کې بيا نيږي".

حاشيه نمبره:

سوال: د متن څخه بنکاره دا معلوميږي چې بعض د دغه تميزاتو په يوه کې د دغه ذکر سوی علومو بيانيږي. ځکه مصنف په متن کې "او" راوړی دي. او حال دا چې بعض د دغه تميزاتو څخه په جميع علومو کې بيانيږي نه په يوه کې. نو د "واو" راوړل پر ځای د "او" غوره دی؟

جواب: دلته کلمه د "ما" مجمله ده، ځکه کلمه د "ما" د تولو هغه تميزاتو څخه عبارت ده کوم چې د دغه شيانو په توسط حاصل سوی وی. او "ما" ورسته تر نشر راغلېده. او په مثل کې د داسي

شر کلمه د "او" شائع وی. لکه یه دې الهي قول کې "وقالوا لن يدخل الجنة إلا من كان هودا أو نصارى تلك أمانيهم (البقرة ۱۱۱)".

﴿فائده﴾: دولس علومو ته علم اللغة شامله دی. او شاعر دغه دولس علوم په خپل دې شعر کې داسې بیان کړیدي.

لغات، المعاني، نحو، صرف، اشتقاقهم ① بيان، قوافي، قل، عروض، و قرضهم.

و إنشاء، تاريخ، و خطّ و أسقطوا ② بندها و وضعها قرت بالعلم بعدهم (حاشية الدسوقي على المختصر ۲۷۱)

سوال: خلل رسونکي اسبابو تعیین او د تمیزاتو تعیین د څه لپاره تر سره کیږي؟

جواب: تعین د تمیزاتو او تعین د هغو اسبابو چې خلل رسونکي وی د دې لپاره وی چې په دغه تعیین د دې خبرې پیژندنه مرتبه سې چې د هغو شیانو څخه (کوم ته چې د بلاغت رجوع تر سره کیږي) پرته د دې دو شیانو "؛ احترا ز عن الخطاء، ۲: تميز السالم من التعقيد آه" بل څه پاته نه دی. او دغه د مرتب والي وجه داده چې څه وخت د مصنف دې قول سره "و هو ما عدا التعقيد آه" دا خبره فائده کړه چې د تمیزاتو څخه محض تمیز د تعقید معنوي پاته دی د دې څخه سېوا بل تمیز پاته نه دی. او خلل رسونکي اسبابو څخه پرته د تعقید معنوي بل سبب پاته نه دی. ځکه د تعقید څخه سېوا بل سبب وتلې نه دی. او په هغه مخکښ شیانو کې "په کوم سره چې د مرادی معنې په اداکولو کې د خطاء راتلو څخه احتراز راځي" ذکر سوی نه دی. او څه وخت چې د هغه شي "په کوم سره چې د هغه خطاء څخه احتراز راځي چې هغه په اداکولو کې د مرادی معنې واقع کیږي" ضمبدل و هغه شي ته راغلي چې په هغه سره احتراز د تعقید معنوي څخه راځي نو بیا دغه دوه ذکر سوي شیان پاته سوه. لهذا د مصنف دغه قول "و هو ما عدا التعقيد آه" په معنې سره دې وینا دی "په علمِ متنِ لغت کې تمیز د غریب د غیر غریب څخه بیانیږي، او هغه شي چې د هغه څخه تمیز راځي هغه غرابت دی. او دغه دول نور پاته "مکذا الباقي". گواکې مصنف دغه دول ویناتر سره کړېده" دغه تمیزات چې په دغه علومو کې ذکر سوي دي، او ادراک یې په حس سره کیږي دهغه تمیز څخه سېوا دی کوم چې د تعقید معنوي څخه راځي. لهذا په دغه تمیزاتو سره پرته د تعقید معنوي احتراز راغلي، او هغه تمیز چې په هغه سره د تعقید معنوی څخه احتراز راځي پاته سو. (فيض الفتاح ۲۵۱/ج۱)

حاشیه نمبر۶:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: د شارح دغه وينا "في علم الصرف" صحت نه لري، ځکه د قياس څخه هغه شي مراد دی کوم چې واضع وضع کړی وی. خلاف القياس مطلب دادی چې يو لفظ د هغه خلاف راسي کوم چې واضع وضع کړی وی، او دغه خبره په علم الصرف کې نه بيانيږی چې دغه خلاف د هغه څه دی کوم چې د واضع څخه ثابت سوی دی، بلکه د مفرداتو معناګاني بيانيږی. نو بيا "في علم الصرف" وينا صحت پيدا نه کړي؟

جواب: صرفيان په خپلو کتابونو کې "څه وخت هغه الفاظ ذکر کړي کوم چې شاذ او ذکر سوی د لغاتو په کتابونو کې وی" ذکر کوي چې دغه شاذ دي. اوس د دغه څخه دا خبره معلوميږی چې هغه شذوذ کوم چې اهل اللغة ذکر کړی دي هغه خلاف القياس نه دي، او د دغه شواذو (کوم چې په علم اللغة کې ذکر کيږی) څخه سېوا چې کوم نور شاذونه دي هغه ټوله خلاف القياس دي. اوس چې چيرې شاذ رائي او په علم اللغة کې د واضع څخه ثابت نه وی نو د صرفو مطابق دغه خلاف القياس دی. لهذا دغه خلاف القياس شوونه علم الصرف کې تر سره کيږی.

حاشيه نمبر۸:

سوال: مورد دا خبره نه منو چې د تعقيد لفظي بيان په علم النحو کې تر سره کيږی، ځکه کله کله د تعقيد لفظي سبب د داسي شيانو يو ځای والي وی چې هر يو د دوی څخه د نحوی قانون موافق وی، نو اوس دغه قسم د تعقيد لفظي په علم النحو کې نه بيانيږی ځکه دغه خو د نحوی قانون موافق دی، او په نحو کې چې د قانون نحوی مخالف وی هغه بيانيږی، د مثال په توګه چيرې چې دا خبره بيانيږی چې اصل په فاعل کې تقديم دی نو هلته دا هم بيانيږی چې ورسته والي يې خاف الاصل وی. نو بيا في النحو مثال تعقيد لفظي ورکول صحت نه لري؟

جواب: دلته خبره د اکثريت ده، اکثره سبب د تعقيد لفظي يا ضعفي تأليف وی او يا د داسي شيانو يو ځای والي وی کوم چې هر يو د دوی څخه خلاف الاصل وی، او په دې کې شک نسته چې دغه دواړه په علم النحو کې بيانيږی.

حاشيه نمبر۹:

سوال: "يدرک بالحس" عطف پر "بين" دی، حاصل د عبارت دا تر لاسه کيږی "منه ما يدرک بالحس" يعني بعض د تميزاتو څخه هغه دی چې د هغه ادراک په حس سره تر سره کيږی. او دغه خبره صحت نه لری، ځکه تميز عبارت د معرفت څخه دی لکه شارح چې وويل. نو معني دا ګرزی

چې بعضې د معرفت څخه هغه دی چې د هغه ادراک په حس سره کیږی. او حال دا چې د معرفت ادراک په حس سره نه کیږی. بلکه په حس(هغه باطني قوتدی کوم چې ادراک کونکي د کلام د باریکیو او د کلام د نزاکتونو د وجوهاتو دي) سره خفي او باریک شانو ادراک کیږی؟

جواب: دلته عبارت پر تقدیر د صفت بناء دی، تقدیر د عبارت دا دی"منه تمیز یدرک متعلقه بالحس" یعني بعض هغه معرفت او تمیز دی د کوم د متعلق ادراک په حس سره کیږی یعني دغه معرفت او تمیز چې تر چا پوری تعلق لری د هغه شي ادراک په حس سره کیږی، او هغه شي تنافر دی، لهذا دغه تمیز تعلق تر تنافر پوری لری، او د تنافر ادراک په حس سره کیږی. نو اوس کوم اعتراض نه واردیږی.

حاشیه نمبر ۱۰:

سوال: د "هو" ضمیر مرجع څوک ده؟

جواب: مرجع یې "ما یبین" ده.

سوال: په دغه څه دلیل وجود لری؟

جواب: دلیل دادی چې مخکې تر ضمیر دوه شیان تیر سوی دي. ۱: "ما یبین". ۲: "ما یدرک بالحس". اوس په دغه ضمیر یا و "مایبین" ته راجع وی او یا به و "ما یدرک بالحس" ته راجع وی، که چیری "ما یدرک بالحس" ته راجع سي نو د معني فساد رائي، ځکه معني د عبارت به دا وگرزی "کوم چې مدرک بالحس دی هغه د تعقیدی معنوی څخه سبوادی". یعني د تعقیدی معنوی څخه سبوا هغه توله اسباب چې و فصاحت ته خلل رسونکي وي د هغو ادراک په حس سره تر سره کیږی. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده، ځکه د بعضو ادراک په حس سره ترسره کیږی لکه تنافر، مگر د بعضو نورو ادراک بیا په حس سره نه تر سره کیږی لکه غرابت، مخالفت قیاس، تعقیدی لفظي، ضعفي تألیف، بلکه ادراک یې په هغه نورو ذکر سوی علومو تر سره کیږی. څرنگه "ما یدرک بالحس" د مرجع گرزولو په صورت کې معني باطلیږی په دغه وجه دغه مرجع د ضمیر نه ده، نو د دغه څخه دا معلومه سوه چې مرجع "ما یبین" دی.

سوال: آیا په دغه صورت کې معني نه فاسدیږی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: نه، نه فاسد یږی، ځکه معنې د عبارت دا ګرزی "هغه خلل رسونکي اسباب و فصاحت ته کوم چې په دغه ذکر سوی علومو کې بیانیږی او یا یې ادراک په حس سره کیږی دغه د تعقیدی معنوی څخه پرته دی"، ځکه تعقیدی معنوی نه په ذکر سوی علومو کې بیانیږی او نه یې ادراک په حس سره تر سره کیږی. او دغه صحی معنې او مطلوب ده.

سوال: دلته د "التعقید المعنوی" څخه مخکې لفظ د "تمیز" و لې محشي مقدر و ګرزوي او وېویل "تمیز التعقید المعنوی"؟

جواب: د دغه جواب په تشریح کې تېر سو.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: "ما" په دې عبارت کې "تعین ما یبین" د چا څخه عبارت ده؟

جواب: دغه عبارت د "تمیزاتو" څخه ده، کوم چې په دغه درو پاسه ذکر سوی علومو کې بیانیږی او یا یې ادراک په حس سره تر سره کیږی.

سوال: په دغه څه دلیل دی چې دغه څخه مراد تمیزات دي؟

جواب: ۱: ځکه د دغه "ما" ورسته "یبین في العلوم" راغلي دي، یعنې هغه څه چې په دغه علومو کې بیانیږی. او د علومو څخه دغه پاسني درې ذکر سوی علوم مراد دي. او هغه شي چې په دغه درې علومو کې ذکر کیږی او یې ادراک په حس سره تر سره کیږی هغه "تمیزات" دي.

۲: "یحترز بها عما یجب ان یحترز الخ". یعنې هغه شي چې په هغه سره احتراز د خلل رسونکي اسبابو څخه راځي. او دغه پرته د تمیزاتو بل څه نه دی. په دغه وجه دلته "ما" عبارت د تمیزاتو څخه و ګرزول سوه.

سوال: تعیین د تمیزاتو څرنګه راځي؟

جواب: څه وخت چې تمیزات معلوم سوه. نو هغه اسباب هم معلوم سوه کوم چې خلل و فصاحت ته رسوی، او د دغه تمیزاتو په توسط د هغو څخه ځان ساتل راځي. نو اوس دا معلومه سوه چې د هغه اسبابو څخه کوم چې فصاحت ته خلل رسونکي دي هغه پرته د تعقید معنوی دي، البته پیژندنه د تمیز "تر مینځ د هغه کلام چې سالم د تعقیدی معنوی څخه او هغه کلام چې د تعقیدی معنوی څخه سالمه نه وی" نه په دغه ذکر سوی علومو تر سره کیږی او نه په حس سره

ترسره کیږی. په دغه وجه داسي علو موته ضرورت وجود پیدا کړی چي د هغو په سبب سره احتراز دهغه خطا. څخه راسي کومه چي د مرادي معني په ادائینه کي ترسره کیږی، او دغه دول د معنوی تعقید څخه راسي. په دغه وجه د علم البلاغة تصنیف ترسره سو

سوال: "یحترز" عطف پر چا دی؟

جواب: دغه عطف پر "یبین" دی.

سوال: "بها" ضمیر و چا ته راجع دی؟

جواب: و "ما" ته په "ما یبین" کي.

سوال: ضمیر د مؤنث ولي ورته راجع سو؟

جواب: ځکه "ما" عبارت د تمیزاتو څخه ده، څرنګه "تمیزات" جمع ده په دغه وجه دغه ضمیر مؤنث راوړل سو.

حاشیه نمبر۱۲:

سوال: دمصنف رحمه الله دغه عبارت "ما یحترز عن الاول" صحت نه لری، ولي چي دغه پر تضاد مشتمله دی، ځکه "الاول" عبارت د "الاحتراز عن الخطاء في التأدیة" څخه دی، نو حاصل د عبارت دا ترلاسه کیږی "ما یحترز عن احتراز عن الخطاء في التأدیة" یعني هغه دی کوم چي احتراز د احتراز څخه راځي، او ځان ساتنه (احتراز) "دمرادی معني د اداینې په صورت کي د تر سره سوی خطاء څخه" د احتراز دی او دغه نه ده پرته ددې " د مرادی معني د اداینې په صورت کي د تر سره سوی خطاء څخه احتراز نه کول دغه علم المعاني دی". او دغه خبره باطل ده، "څکه په علم المعاني سره د هغه خطاء څخه ځان ساتل کیږی کوم چي د مرادی معني د اداینې په صورت کي تر سره کیږی". د احتراز نو دغه ذکر سوی عبارت باطل دی؟

جواب: په دغه عبارت "ما یحترز عن الاول" کي "الاول" په تقدیر د مضاف دی، اصل عبارت دا دول دی "ما یحترز عن متعلق الاول" یعني علم المعاني هغه علم دی چي په هغه سره احتراز د متعلق څخه د اول راځي. او متعلق د اول خطاء ده نو معني داسوه چي "هغه علم چي په هغه سره ځان ژغورنه د هغه خطاء څخه راځي کوم چي د مرادی د اداینې په صورت کي تر سره کیږی. نو او س معني او عبارت صحت پیدا کړي.

حاشیه نمبر۱۳:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: په دغه مقام کي کومي خطاوي تر سره سوی دي ؟

جواب: ۱: د بلاغت د مرجع تعريف په علت غائي سره تر سره سوی دی، کوم چي صحت نه لری.

۲: د دغه عبارت "بين في علم متن اللغة" معني و نه فهمول سوه نو اعتراض دا وارد سو چي په علم متني لغت، کي د دې څخه بحث نه تر سره کيږی چي د بعضو الفاظ په پيژندنه کي احتياج په غټو کتابونو کي و بحث کولو ته دی او په بعضو کي بيا احتياج و لری مناسباتو پيدا کولو ته دي.

۳: او ضمير د "هو" په دې عبارت "هو ما عدا التعقيد المعنوی" کي راجع و "ما يدرک بالحس" ته گرزولي دی.

۴: او اول په دې عبارت کي " ما يحترز عن الاول" مقابل د ثاني گرزول سوی دی کوم چي عبارت د تميز څخه د فصيح د غيری فصيح څخه دی.

صفحه نمبر ۳۵:

الفن الإول علم المعاني

عبارت

قدمه علي البيان لكونه منه بمنزلة المفرد من المركب، لان البيان علم يعرف به ايراد المعني الواحد.....فلا يكون هذا العلم حاصلاً لاحدٍ او البعض، فيكون حاصلاً لكل من عرف مسئلةً منه ، فالمراد باحوال اللفظ الامور العارضة له من التقديم و التأخير و التعريف و التنكير و غير ذالک.

ترجمه

فن اول علم معاني دي. مصنف رحمه الله علم المعاني په علم البيان مخکي کړل، ځکه علم المعاني بالنسبت و علم البيان ته داسي ده لکه مفرد بالنسبت و مرکب ته. ځکه علم بيان يو داسي علم دی چي په ده سره راوړل د يوې معني په مختلفو طريقو سره ورسته تر مطابقت د مقتضي سره د حال پيژندل کيږی. لهذا په دغه علم کي د يوه داسي اعتبار زيات والي دی کوم چي په علم المعاني کي نسته. او مفرد طبعاً په مرکب مخکي وی. او مصنف مخکي تر شروع کولو د علم المعاني په مقاصدو سره، ددې و تعريف ته اشاره وکړه. او اجمالاً د ابوابو و جمعه والي ته يې اشاره وکړه. ددې لپاره چي طالب لره زيات بصيرت او پوهي تر لاسه سي. او هر علم لره ډيری

مسائلي وي، او دغسو ضبط په يو جهت سره تر سره کيږي، او په دغه جهت سره دغې مسائلي يو علم شميرل کيږي د کوم چې مستقله تدوين او تصنيف تر سره کيږي. او کوم کس چې د داسي ډيرو مسائلو د تر لاسه کولو اراده او قصد وکړي کوم چې په يوه جهت سره يې ضبط تر لاسه سوی وی نو په هغه دا لازمه ده چې دغه مسائلي په دغه جهت سره وپيژني ددې لپاره چې دده څخه خپل مقصد فوت نه سي. او په پرته د خپل مقصد کي وخت ضائع نه کړي.﴿ او دغه علم دی﴾ يعني يوه ملکه ده د کوم په وجه د جزئي مدرکاتو په ادراک قوت لاس ته راځي. او دغه ته صناعت هم ويل کيږي. او ددغه بيان دادی چې ددغه فن واضع يو څه اصول او قواعدی وضعه کړلي د کو مو چې د بلغاؤ د تراکيبو څخه استنباط سوی دي. د کوم په استعمال او ممارست سره يو داسي قوت تر لاسه کيږي چې د هغه په وجه چې نفس څه وخت وغواړي نو دی هغه مسائلي په حاضرولو او و هغه ته د متوجه کېدولو او د هغه په تفصيل قدرت لری دغه علم دی. او په دغه وجه علماؤ فرمايلي دي چې د علم او د ژوند تر مينځ د مشابهت وجه داده چې دواړه د ادراک کوني اسباب دي. آيا ته و دې ته کتنه نه کوې چې څه وخت ته وايې چې فلانکي کس نحو پيژني. نو ستا مطلب دا نه وی چې دده په ذهن کي تولې مسائلي حاضری دي. بلکه ستا مراد داوی چې په دغه سره يو داسي اجمالي طاقت تر لاسه کيږی کوم چې مبدأ او منشأ لپاره د نحوي مسائلو وی. او په دغه قوت سره دی د مسائلو په حاضرولو قادره وګرزی. اودده لپاره د علم څخه د نفسي اصولو مرادونه هم صحت لری. ځکه د علم وينا ډير په اصولو او قواعدو تر سره کيږی. بيا د معرفت وينا په علم، ادراک جزئي او په بسيط هم تر سره کيږی. او د علم وينا په کلي او يا مرکب تر سره کيږی. په دغه وجه د "عرفت الله" وينا صحی او "عصمة الله" وينا صحی نه ده. او دغه ډول د معرفت وښا په هغه ادراک تر سره کيږی د کوم څخه مخکي عدم وی. او د يوه شي د ادراکينو څخه په آخری ادراک تر سره کيږی څه وخت چې ددغه دوو ادا کولو تر مينځ عدم واقع سي دادول چې اولنی ددغه شي ادراک او علم وی او بيا د هغه څخه غفلت راسي، او ورسته دغه علم بيا راسي. او د علم وښا په هغه ادراک تر سره کيږی کوم چې ددغه دوو اعتبارو څخه خالي وی. په دغه وجه "الله عالم" ويل کيږی. او "الله عارف" نه ويل کيږی. او مصنف د معرفت استعمال په جزئياتو کي تر سره کړی دي. لهذا مصنف﴿ چې په هغه سره د عربي الفاظو حالات پيژندل کيږی﴾ ووايي نه "يعلم". ګواکي علم معاني يو داسي علم دی چې په ده سره د جزئي ادراکاتو استنباط تر سره کيږی. او دغه جزئي ادراکات پيژندنه د هر هر فرد د جزئياتو څخه د ذکر سوی احوالو دي. په دې معني

Maktaba Tul Ishaat.com

سره چې هر فرد ددغه احوالو څخه وجود تر لاسه کړي نو زمونږ لپاره دا ممکنه وی چې ددغه علم په توسط دده معرفت تر لاسه کړو. او دا مطلب نه دی چې هغه احوال ټوله بالفعل حاصل سي. ځکه د غیری متناهي وجود محاله دی. او په دغه صورت کې به هغه اعتراض دفعه سي کوم چې په دې سره وارد سوی دی چې د "یعرف به" سره د ټولو احوالو معرفت مراد دی. او دغه معرفت خو محاله دی، ځکه دغه ټوله احواله غیر متناهي دي. او که چیری بعضي غیر معین احوال مراد دي نو دغه تعریف په مجهول سره دی. اوکه چیری مراد بعضي معین وی نو په دغه هیڅ یو دلالت کونکي نسته. او دغه دول هغه اعتراض به دفعه سي کوم چې ویل سوی دی چې مراد کل احوال وي نو دغه علم هیڅاته هم حاصل نه سي. او که چیری بعضي مراد وی نو بیا به دغه علم هر هغه چا ته حاصل سي کوم چې ددغه علم په یوه مسئله علم تر لاسه کړی. او د احوالو څخه د لفظ مراد هغه شیان دي کوم چې و لفظ ته د تقدیم، تأخیر تعریف او تنکیر څخه ورته عارضیږی.

حل الحواشي

حاشیه نمبر۲:

سوال: حمل د علم المعاني په فن الاول صحت نه لری، ځکه فن اول د الفاظو څخه عبارت دی "ځکه ماتن د کتاب په شروع کې دا وینا کړیده "رتب المختصر علي ثلثة فنون". او مختصر د داسي الفاظو نوم دی چې هغوي په مخصوصو معناګانو دلالت کونکي وي. لهذا ددغه څخه دامعلومه سوه چې فن اول عبارت د الفاظو څخه دی". او دلته علم المعاني عبارت د ملکې یاد نفسي اصولو څخه دی. نو اوس به څرنګه د علم المعاني حمل په "الفن الاول" صحت پیدا کړي. ځکه ترمینځ د هغه شي چې هغه د مقولې څخه د الفاظو وی او دهغه شي چې د مقولې څخه د معانیو وی منافرت او تضاد وی؟

اول جواب: دلته عبارت بناء په حذف د مضاف په طرف کې د مبتدأ یا د خبر دی. لهذا تقدیر د عبارت داګرزی "معاني الفن الاول علم المعاني". "الفن الاول الفاظ علم المعاني".

دوم جواب: مراد د فن اول څخه معناګاني دي او دغه مدلول په نامه سره د دال مسمی کول دی. او یا په علم المعاني سره الفاظ دي او دغه دال په نامه سره د مدلول مسمي کول دی. لهذا اوس حمل صحت پیدا کړی. (شرح طاهري ۱۳۳)(شرح الموسي، ۴۶/ج۲)

حاشیه نمبر۴:

ددغه عبارت په بیان کې "بمنزلة المفرد من المرکب" دوې ډلې دي.

اول: شیخ محمد: د علم المعاني ثمره "ای رعایة المطابقة لمقتضی الحال" موقوف علیه لپاره د ثمرې د علم البیان "ای ایراد المعنی الواحد بطریق متعددة مختلفة الدلالات فی الوضوح والخفاء"،"په حیث د حاصلېدولو ددغه ایراد په رعایت کولو سره د مقتضی د حال " دی. لکه په دغه سره آګاهي دعلم البیان تعریف راولي، یعني "علم یعرف به ایراد المعنی الواحد بطریق مختلفة الوضوح والخفاء بعد رعایة المطابقة لمقتضی الحال".او دغه ډول علم البیان پر خپله ثمره "ایراد المعنی آه" موقوفه دی. نو علم البیان په دوو شیانو موقوفه و ګرزېدی.

۱: په خپله ثمره باندې. ۲: په ثمره باندې د علم المعاني چې هغه موقوفه لپاره د ثمره د علم البیان دی،ځکه موقوف "علم البیان" پر موقوف "ثمرة علم البیان" پر شي " ثمرة علم المعاني" موقوفه پر شي وی.لهذا علم البیان په دوو شیانو موقوفه دی، او علم المعاني په یوه شي موقوفه ده. ددغه وجې علم المعاني په منزله د جزء د علم البیان ده. او طبعاً جزء په کل مقدم وی.(شرح المدرس ۱۵۴/ج۲)

دوم: علامه سیالکوټي: دلته دوې مدعاګاني دي.

اوله مدعي: نه علم المعاني حقیقتاً مفرد او نه علم البیان مرکب حقیقتاً دی. ځکه که چیرې حقیقتاً سي نو بیا به مفهوم د علم المعاني جزء د مفهوم څخه د علم البیان سي. او یا به مصداق د علم المعاني جزء د مصداق څخه د علم البیان و ګرزی. او ددغو دواړو څخه یو هم صحت نه لري. ځکه د علم المعاني مفهوم "هو علم یعرف به آه" بعض د مفهوم څخه د علم البیان "ایراد المعنی آه" ګرزېدلای نه سي. او نه مصداق د علم المعاني "مسائل علم المعاني" بعض د مصداق څخه د علم البیان ګرزېدلای سي. ځکه ددواړو مصداق مستقلي مسائلي دي.

دومه مدعي: علم المعاني په منزله د مفرد او علم البیان په منزله د مرکب دی. ځکه په علم البیان کي دوه شیان معتبر دي.۱: ایراد.۲: رعایة المطابقة. او په علم المعاني کي یو شي "رعایة المطابقة" معتبر دی. او په علم البیان کي مراد د "رعایة المطابقة" څخه نه مفهوم دده او نه مصداق دده دی، بلکه مراد دادی چې یوه معنی راوړل په مختلفو تراکیبو کي ببله مطابقت د مقتضی

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د حال د اعتبار وړ نه ده. لهذا "رعاية المطابقة" په علم البيان کې په حيث د اعتداد او اعتبار معتبر دی.

حاشیه نمبر ۵:

سوال: په عبارت کې د "اشارة" لفظ راوړل صحت نه لري، ځکه په تعريف او ضبط الابواب سره تصريح سوېده، او هغه ته اشاره سوې نه ده چې بيا د اشارة لفظ صحت پيدا کړي؟

جواب: د "اشارة" لفظ قصدي او تبعي دواړو بيانونو ته شامله دی. لهذا د "اشارة" لفظ بالنسبت و ضبط الابواب او تعريف (که چيرې علم په معني سره د ملکې سي نو بيا تعريف لپاره د مسائلو تبعاً دی. او که په معني سره د مسائلو سي نو بيا تعريف لپاره د مسائلو قصداً او صراحتاً دی) ته په معني سره د تصريح دی.

حاشیه نمبر۶:

که چيرې طلبونکي د کثير شي دغه شي په يو داسي جهت سره و نه پيژني چې هغه جهت د دغه شي برابر وی نو دغه طلبونکي حال به د درو صورتونو نه څخه خالي نه وی.

۱: دغه طلبونکي دغه کثير د سره و نه پيژني نو دغه طلبونکي ته طلب د دغه شي ممکن نه دی. ځکه د شي هغه طلبول چې په ټولو اعتباراتو سره مجهول وی ممکن نه دی. او دغه د فرض سوي صورت څخه خلاف دی. ځکه خبره په هغه چا کې فرض سوېده ده چې هغه د دغه کثير شي د حاصلولو قصد کړی وی.

۲: دغه طلبونکي دغه کثير شي په حيث د زياتوالي وپيژني، د مثال په توګه څه وخت چې دا خبره معلومه سي چې زورو (۱۰۰۰) مسائلو ته علم النحو ويل کيږي. نو دغه طلبونکي به د دغه کثيرو پيښدنه په يو وجه ما سره هرو مرو کوی. او په دغه وخت کې د دغه طلبونکي وخت په پيژندولو کې د دغو وجوهاتو ضائع کيږي. او د دغه څخه حاصلول د دغه کثير دلاسه وزي.

۳: دغه طلبونکي دغه کثير په يوه جهت عامه سره و پيژني. د مثال په توګه دا خبره وپيژندل سي چې ۱۰۰۰ مسائلي د لفظ عربي څخه بحث کونکي دي. او د دغه طلبونکي مقصود د علم النحو مسائلي وی. اوس دغه طلبونکي لره که څه هم و دغه کثيرته په دغه جهت عامه سره رسېدل ممکن دی، مګر دلته دا ممکنه ده چې دغه طلبونکي په دغه جهت عامه سره و غيري

مقصود ته ورسيږي. نهذا په دغه صورت کي دده وخت به په هغه شي کي ضائع سي کوم چي دده مقصود نه دی.

حاشیه نمبر۷:

سوال: د جزئي ادراکاتو څخه کوم ادراکات مراد دي؟

جواب: هغه ادراکات مراد دي کوم چي د هغه فروعاتو سره تعلق لري چي هغوی د کلي قواعدو څخه په واسطه ددغي ملکي ثابت سوي وي. د مثال په توګه زمونږ دا قول "کل کلام یلقی الی المنکر یجب توکیده" یوه کلي قاعده ده .او هغه فرعه "چي ددغي کلي قاعدې څخه په واسطه د ملکي ثابته سوي وی" دا ده "هذا الکلام الملقی لهذا المنکر یجب توکیده".

حاشیه نمبر۸:

د تصو په اعتبار نفسي ناطقه لره څلور مرتبې وجود لري.

اوله: عقلِ هیولاني: په دغه مرتبه کي نفس محض د حاصلولو استعداد لري.

دوهمه: عقل بالملکه: نفس په ضروریاتو او بدهیاتو علم لري او ددغه ضروریاتو د پیژندولو په وجه نفس استعداد د دغه ضرو. یاتو څخه د نظریاتو د حاصلولو پیدا کړي.

دریمه: عقل بالفعل: ددغه بدهیاتو په واسطه عقل د ټولو نظریاتو تعقل او تصور کوی. که څه هم بعض د دغه نظریاتو څخه په نورو بعضو موقوفه وي.

څلورمه: عقل مستفاد: د عقل په وړاندی ټوله نظریات دا ډول حاضر وي چي دده څخه یو هم نه غائبیږي. (شرح الاشارات ۳۵۳/ج۲)(الاسفار ۳، ۴۲۳، ۴۱۸)(بدایة الحکمت ۱۷۹)

حاشیه نمبر۹:

شارح په دغه عبارت "یتمکن من استحضارها" کي و دي خبری ته اشاره کړیده چي ملکه د استحضار (حاضرول) ددو وجو په هغه علم کي معتبره وی کوم چي په معني سره د ملکي وي.

۱: معتبر ملکه د استحضار او قدرت پیدا کول پر حصول د هغه شي وی کوم چي د کلي قواعدو څخه پاته سوي وی. او دغه قدرت پر حصول پیدا کول معتبر په علم کي نه دی. ځکه ملکه د استحضار مرتبه د عقل بالفعل ده. او عقل بالفعل ورسته تر ملکي د حصول وی. اوس که چیري قدرت د پاته سوی شیانو پر حصول په علم "په معني سره د ملکي" کي معتبر سي نو بیا

Maktaba Tul Ishaat.com

به مراتبي تر څلورو زياتي سي، ځکه دغه مرتبه د حاصل سوي شي د حاضرولو او د پاته سو ي شيانو د حصول ده.

۲:(د متقدمينو د طرف څخه واقع سوي مسائلي د کلام محصوريدي، او زيات والي په دوی نه سي راتلای. لهذا په دوی احاطه کول محاله نه ده) او په دغه علم کي د پاته سوي شيانو حصول نه ثابتيږي. ځکه د دغه علم په ټولي مسائلي حاصلي سوي دي. او حاصلولو ته د نظر په واسطه احتياج نه لري.

صفحه نمبر ۳۶:

عبارت

ووصف الاحوال بقوله التي بها يطابق اللفظ مقتضي الحال احتراز عن الاحوال التي ليست بهذه الصفة كالاعلال و الادغام و الرفع و النصب ....

ترجمه

او احوال په دي قول سره موصوفه کړزول ﴿هغه احوال چي د هغه په توسط سره لفظ د مقتضي سره د حال موافق کړزی﴾ احتراز د هغه احوالو څخه دي کوم چي په دغه صفت سره موصفه نه وي لکه اعلال، ادغام ، رفع او نصب. او ددغه مثل هغه احوال د کومو رعايت کونه په اداينه کي د اصلي معني ضروری وی، او دغه ډول محسناتي بديعيه چي عبارت د تجنيس ، ترصيع او په مثل سره ددوی دي د کومو چي رعايت ورسته د مطابقت د مقتضي سره د حال کيږی. او دغه يو خفي قرينه په مراد ددې خبری ده چي علم المعاني يو داسي علم دی چي په ده سره پيژندنه د احوالو په دې حيث ترسره کيږی چي دده په وجه لفظ د مقتضي سره د حال مطابق کړزی، ځکه که چيری ددغه حيثيت اعتبار و نه سي نو بيا به علم المعاني د پيژندني څخه د ددغه احوالو عبارت وکړزی دا‌ډول چي تصور د معني د تعريف، تنکير، تقديم او تأخير تر سره سي. او دغه د لزوم او د فساد په اعتبار سزه ښکاره ده. او په دغه سره د تعريف څخه علم البيان ووتي، ځکه د لفظ حقيقت او يا مجاز کېدل د مثال په توګه که څه هم دغه احوال د لفظ دي کله کله ددوی تقاضي حال کوی مګر په علم البيان کي ددوی څخه په دې حيث بحث نه تر سره کيږی چي په دوی سره لفظ د مقتضي سره د حال مطابق کړزی، ځکه په علم البيان کي دا نسته چي فلانکي حال د تشبيه، استعاره او کنائي او په مثل ددوی تقاضي کوی. **که چيری ته دا اعتراض وکړې:** څه وخت چي

احوال د لفظ تأکید ذکر کوي ، حذف کوي او دغه ډول نور دی او دعه بعینه هغه اعتبار مناسب دی کوم چې مقتضي د حال دی ده لکه ددغه وضاحت لفظ د مفتاح کوي ، څکه هغه فرمایي: هغه حال چې د تأکید ، ذکر ، حذف او دغه ډول د نورو تقاضي کوي نو بیا به دده دا قول "هغه احوال چې په دوی سره لفظ د مقتضي سره د حال موافق ګرزي" څرنګه صحت پیدا کړي. او حال دا چې مقتضي د حال پرته د عیني د دغه حال بل شي نه دی. **اوزه فرمایم:** دوی په دغه قول کې "دغه مقتضي د حال په خپله تأکید ، ذکر او حذف دی" کې تسامح تر سه کړېده. او ددې تسامح بنیاد دادی چې دغه تأکید ، ذکر او حذفول هغه احوال دي د کوم په وجه مقتضي د حال ثابتیږي ، که چیرې دغه ډول نه وی نو بیا د تحقیق په اعتبار سره مقتضي د حال کلام مؤکد وی ، او یوداسي کلام وی په کوم کې چې مسند الیه ذکر سوی وي یا داسي کلام دی په کوم کې مسندالیه حذف سوی وي ، او پر دغه نور دي قیاس کړل سي. او دمقتضي سره د حال د کلام د مطابق والي معنې داده چې بېله شکه کوم کلام چې متکلم راوړی نو دغه یو جزئي د جزئیاتو څخه ددغه کلي کلام وی. او دغه کلام کلي په دغه جزئي کلام صادقیږی ، لکه د کلي صادقوالي په جزئي تر سره کیږی. د مثال په توګه په "اِنَّ زَیْداً قَائِمٌ" دا صادقیږی چې دغه یو مؤکد کلام دی. او په "زَیْدٌ قَائِمٌ" دا صادقیږی چې دا یو داسي کلام دی په کوم کې مسند الیه ذکر سوی دی. او زمونږ په دې قول "الهلال و الله" دا صادقیږی چې دا یو داسي کلام دی په کوم کې مسند الیه حذف سوی دی. او بنکاره خبره داده چې دغه احوال هغه دي په کوم سره چې کلام د مقتضي سره د حال مطابق ګرزی ، ته یې وفهموه. د **اسناد احوال هم** د لفظ داحوالو څخه دي په دې حیث چې د جملې مؤکده کېده او غیر مؤکده کېده یو داسي اعتبار دی کوم چې و جمله ته راجع دی. او د عربي سره د لفظ خاصو نه محض یوه اصطلاح ده ، څکه دغه فن د معاني د لفظي عربي د پیژندنې لپاره وضعه سوی دی نه د بل لپاره.

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۲:

سوال: د مصنف دغه قول "احوال اللفظ العربي" **جمعه او مضاف ده. او هغه جمعه چې مضاف وی داسي ده** (په حمل کېدو کې په جنس ، استغراق ، عهدذهني او خارجي) **لکه هغه جمعه چې په الف لام سره معرفه ګرزېدلې وی. او په ذکر سوي مقام کې یو دد غه ځلورو څخه صحت نه لری. اول** "جنس" **په دې وجه صحت نه لری چې ددغه څخه د هغه کس په علم المعاني سره عالم ګرزېدل لازمیږي چې هغه د دغې ملکې په توسط یو حال د احوالو څخه د عربي لفظ وپیژني. او د دغې**

Maktaba Tul Ishaat.com

خبري باطلوالي ښکاره دی. او دوم هم په دې وجه صحت نه لري چې يو کس دې هم په علم المعاني سره عالم ونه ګرزي. ځکه دلفظ عربي احوالو لره پای نسته. او وجود د هغه شي چې هغه لره پای نه وي په خارج کې محال وی. نو د دغه شي پيژندنه هم محال ده. او د دغه څخه دا لازمه سوه چې په دنيا کې دې هيڅ څوک هم عالم په علم المعاني سره وجود پيدا نه کړی. لهذا تعريف د علم المعاني د هغو شيانو څخه وګرزېدی کوم چې په خارج کې مصداق نه لری. او درېيم په دې وجه صحت نه لری چې معهود دی ذهني دوه قسمه لری.

۱: د متکلم په وړاندې معين او د مخاطب په وړاندې معين نه وی. لکه د ويونکي په دې وينا کې " لَقَدْ مَرَرْتُ عَلَى اللَّئِيمِ يَسُبُّنِي ".

۲: د متکلم او مخاطب د دواړو په وړاندې معين نه وی دا دول چې بعضي مطلق بېله تقييده او تعينه مراد سي. د مثال په توګه "اُدْخُلِ السوق و اشتری اللحم" دا هغه وخت چې په خارج کې يو معهود نه وی. او د دغه دواړو څخه يو هم دلته صحت نه لری. ځکه د اول قسم په صورت کې تعريف د شي په مجهول سره راځي. ځکه هغه قدر معلوم نه دی کوم چې د مصنف مراد دی. او ده معني د تعريف په مجهول سره ده. او د دوم د عدمي صحت وجه داده چې هر هغه کس چې هغه علم په يوه حال د احوالو لري دغه کس به عالم په علم المعاني سره وګرزی، او تا د دغه د عدمي صحت وجه وپيژندل. او څلورم په دې وجه صحت نه لری چې عهد خارجي لره د معهود في الخارج وجود ضروری دی. دغه معهوديت په ذکر کې وی او که په قرائنو خارجيو سره وی (جامع الدروس ، شرح شذور الذهب) او دلته يو لا هم نسته.

حاشيه نمبر۳:

سوال: د قيل د وينا څخه دا معلوميږي چې که چيرې يو کس پيژندنه د يو مسئلې تر لا سه کړي نو دغه کس ته علم المعاني حاصليږي. ځکه پر دغه د علم المعاني تعريف صادقيږي. او حال دا چې په حقيقت کې پر دغه د علم المعاني تعريف نه صادقيږي ځکه په تعريف کې لفظ د علم اخيستل سوی دی، او علم په معني سره د ملکه دی، او ملکه په حصول د يوې مسئلې نه حاصليږي. چې بيا تعريف پر صادق سي. بلکه ملکه په استعمال سره د ډيرو مسائلو حاصليږي؟

جواب: د دې عبارت "فيكون حاصلا" معني دا نه ده چې علم المعاني هر هغه کس ته حاصليږي کوم چې يوه مسئله د علم المعاني پيژني. "ځکه تعريف د علم المعاني په ده صادقيږي". حتي چې بيا

اعتراض وارد سي. بلکه معنې يې داده کوم کس چې يوه مسئله د علم المعاني وپيژني نو دغه ته علم المعاني ترلاسه کيږي، ځکه ثمره د علم المعاني "معرفت او ادراک د مسئلې" ده ته حاصله سوه. او و ده ته حصول د ثمرې دلالت پر دې خبرې کوي چې ده ته علم المعاني حاصل سوېده. خلاصه داسوه چې د سائل په نظر کې صادقېدل د تعريف د علم المعاني په ده باندې دی. اود جواب ورکونکي په نظر کې دغه خبره نه ده بلکه هغه د ثمرې د صادقوالي د وجې د علم المعاني د حصول قول کونکي دی. والله اعلم بالصواب

حاشيه نمبر ۴:

سوال: په موصول سره موصوفه کول قرينه پرذکر سوی خبری د شارح د ګرزولو څه وجه ده؟

جواب: وجه يې د شيخ عبد القاهر فائده سوې خبره ده يعني که چيرې نفي په يو داسې کلام داخلې سې کوم چې مقيد په يوه وجه ما سره وی نو په دغه صورت کې نفي و دغه قيد ته متوجه ګرزي. اودغه حکم د اثبات په صورت کې هم دی. اوس تقاضې دکلام د شيخ داده چې مقصود په دغه مقيد کلام کې دغه قيد دی. بيا عام تردې دغه کلام منفي او که مثبت وی. د مثال په توګه ستا دغه وينا "أكْرِمْ رَجُلاً عَالِمًا". يعني عزت د عالم وکړه. د شيخ د قول موافق مراد د مصنف دې قول "يعرف به احوال اللفظ العربي" څخه پيژندنه د احوالو په دې حيث سره ده چې په دغه احوالو سره لفظ مطابق د مقتضی سره د حال ګرزی. او دغه معنې د اعتبار د حيثيت ده.

سوال: د شارح د دې وينا "دغه وصف قرينه خفيه په مراد باندې ده" څه وجه ده؟

جواب: د دې دوې وجې دي.

۱: دغه خبره د شيخ قاعده کليه نه ده. ځکه هغه کلام چې په هغه کې تقييد وي کله کله د هغه څخه مطلق اثبات دشي وشي ته يا نفي دشي د شي څخه مراد وګرزی. او تقييد محض د وضاحت لپاره وی.

۲: د بلغاؤ په نظر کې د شيخ دکلام موافق عمل کول په خطابي مقاماتو کې ترسره کيږي. نه په مقام کې د تعريف. (شرح العالمي ۴۸۵/ج۲)

حاشيه نمبر ۵:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: که چیري شارح دغه ډول "لزم ان یکون معرفة تلک الاحوال ثمرة علم المعاني" وینا ترسره کړي وای نو بیا په طرف کې د خبر و حذف ته د مضاف ضرورت نه پاته کېدی؟

جواب: د شارح د دې عبارت "یکون علم المعاني" معني داده "یکون ثمرة علم المعاني". لهذا د شارح د دغه عبارت او د سوال کونکي د عبارت مفاد او خلص یو دی.

حاشیه نمبر ۷:

سوال: د محشي دغه عبارت "او منع لصحته" صحت ځکه نه لري چې په تعریف کې حکم وجود نه لري، بلکه تعریف یو تصوري محض وی او په تصور محض منع، نقض او معارضه څخه یو هم نه واردیږي. ځکه منعه عبارت د طلب څخه د دلیل ده. او نقض په دوه قسمه دی.

اول: اجمالي: او اجمالي لره دوې طریقې وي.

۱: دلیل د ټولو مقدماتو په اعتبار مستلزم محال لره وی.

۲: د دلیل جریان "جاري والي" هلته ترسره کیږی چیري چې د دلیل څخه مخالفوالي د مدلول را غلي وی.

دوم: نقض تفصیلي: د دلیل په یوه معینه مقدمه کې خلل راغلي وی. د مثال په توګه صغری. معارضه عبارت د قائمولو څخه د دلیل په خلاف د هغه شي ده چې په هغه خصم او مقابل دلیل قائم کړی وی. (سلم العلوم ۱۰۶/ح۱) (قاضي محمد مبارک ۲۶۹/ح۱۷)، او دغه درې سره په هغه شي واردیږي په کوم کې چې حکم وجود لری؟

جواب: تعریف په ضمني احکامو او مدعاګانو مشتمله وي. (سلم العلوم ۱۰۶) (مسلم الثبوت ۱۰)، د مثال په توګه یو سړی د انسان تعریف په حیوان ناطق سره وکړی. نو دغه سړی ضمنا د دې خبري دعوی کونکي دی چې دغه حد انسان دی. یا دغه تعریف جامع او مانع دی. نو اوس نقض په دې خبره سره واردیږي چې دغه تعریف مستلزم و محال لره د مثال په توګه تسلسل لره دی. نو د محشي د دغه قول "استدلال علي فساد التعریف" معني داده چې دغه تعریف محال لره مستلزم دی. او دغه محال متحد والي د سبب د مطابق د مطابَق سره دی. نو ګواکې یو سړی دا ډول وویل "هذا التعریف مستلزم للمحال. و کل تعریف کذالک فهو فاسد". (شرح لعبدالرحمن ۲۱، الجزء الثاني)

حاشیه نمبر ۱۱:

په مقتضی الحال سره هغه کلي کلام مراد دی کوم چي موصوفه او مکیف په یو خاص کیفیت سره وی، او په خپله احوال مراد نه دي.

سوال: بناء په دغه ذکر سوي خبري متحد والي د مطابِق د مطابَق سره لازم سو. ځکه فاعل د "یطابق" په دې قول کي د مصنف "بها یطابق مقتضي" هغه ضمیر دی کوم چي راجع و لفظ ته "یعني و کلام ته" دی. نو اوس که د مقتضی الحال څخه هم مراد کلام سي نو د عبارت معني به دا وګرزی "ان علم المعاني علم یعرف به احوال اللفظ العربي التي یطابق بها الکلامُ الکلامَ"؟

جواب: په مقتضی الحال سره مراد هغه کلي کلام دی کوم چي مکیف په یوه خاص کیفیت سره وی. او مستتر ضمیر په "یطابق" کي راجع و هغه جزئي کلام ته دی کوم چي متکلم راوړی وی. او مراد په مطابقت سره د جزئي کلام دادی چي دغه جزئي کلام به مصداق د دغه کلي کلام کلي څخه وی. او دغه کلي کلام په جزئي کلام په صدق سره د کلي په جزئي باندي صادقیږي. (المفصل ۴۹۰/ج۲)

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: دلیل پر دې خبري "احوال په حقیقت کي مقتضي الحال نه دي بلکه مجازا مقتضي الحال دی" څه دی؟

جواب: دلیل دادی: که چیري احوال په حقیقت کي مقتضي د حال سي . او مقتضي د حال موضوع لپاره د مسائلو د فن ده. اودا یوه قاعده ده چي موضوع د مسائلو د فن رجوع به و موضوع ته د فن (علم المعاني) کیږی. او موضوع د فن لفظ عربي دی. او دغه احوال لکه تأکید، تقدیم، تأخیر او دغه ډول نور احوال، د متکلم د صفاتو څخه دي نه د صفاتو څخه د لفظ. نو رجوع د دوی و موضوع ته د فن صحی نه سوه. لهذا دوی حقیقتاً مقتضي د حال نه سوه. او مقتضي الحال د کلام مؤکد کېده د مثال په توګه دی. او دغه د صفاتو څخه د لفظ دي. نو رجوع د دوی و موضوع ته د فن "الفظ العربي" صحی ده، د دغه وجي دغه کلام چي مکیف په یوه خاص کیفیت سره وی مقتضي د حال حقیقتاً ده.

صفحه نمبر ۳۷:

Maktaba Tul Ishaat.com

و انما عدل عن تعريف صاحب المفتاح علم المعاني بانه تتبع خواص تراكيب الكلام في الافادة و كيف ظوا بالسكاكي انه اخل بتعريف بلاغة المتكلم تراكيب البلغاء، فعرق الشي بنفسه، و مفاسد قلة المناهل مما يضيق عن الاحاطة بها نطاق لسان. ثم الاوضح في تعريف علم المعاني "انه علم يعرف به كيفية تطبيق الكلام العربي لمقتضى الحال"

ترجمه

مصنف رحمه الله د هغه تعريف څخه عدول کړی دی کوم چې صاحب المفتاح د علم المعاني په دې الفاظو سره تر سره کړي دي "پيژندنه د اغراضو د تراکيبو د کلام (دغه پيژندنه د اغراضو په دې) اعتبار سره د چې دغه اغراض: ترکيبونه څخه څرنګه تر لاسه کيږي (داوول چې دا پيژندل سي چې دغه ترکيب پر دغه مخصوص کيفيت باندې د مشتمل والي په وجه دغه خاصيت فائده کوي) او پيژندنه د هغه شيانو ده کوم چې د تراکيبو سره متصله ګرزي چې هغه عبارت د استحسان او پرته د استحسان څخه دی. ددې لپاره چې تتبع کړنکي د دغه خواصو په پيژندني سره د هغه خطاء څخه ځان وژغوری کوم چې ترسره کيږي په تطبيق کې د کلام د هغه غرض سره د کوم د ذکر کولو تقاضي کلام کوي "د مصنف دغه عدول کول" ددو وجو څخه دي. ۱: تتبع نه علم دی او نه پر علم صادقيږی. لهذا د هيڅ يو علم تعريف په تتبع سره تر سره کول صحت نه لری. ۲: سکاکي د تراکيبو تفسير په تراکيبو سره د بليغانو کړي دي، ده داسي فرمايلي دي "زما مراد د تراکيبو څخه هغه تراکيب دي کوم چې د هغه چا څخه صادر سوی وی چې هغه د فضل تميز او پيژندني مالک وی". او دغه تراکيب، تراکيب د بليغانو دي. او په دې خبره کې پټوالي نسته چې د بليغ پيژندنه په حيث د بليغ موقوفه پر پيژندنه د بلاغت ده. او سکاکي په خپل کتاب کې د بلاغة تعريف په دې الفاظو سره تر سره کړي دي "بلاغت دادی، د متکلم يو داسي درجه ته په ادا ښه کې د معنا ګانو رسيدنه ده چې دغه درجه د کلام د اغراضو د حق په پوره توګه ادا ښي سره خاص وی، او د تشبيه قسمونه ، د مجاز او کنايه د انواعو په صحي طريقه سره ذکر کول دی". که چيری د علامه سکاکي په کړل سوی تعريف کې لپاره د بلاغت د تراکيبو څخه مراد تراکيب د بليغانو وي نو دغه خبره ښکاره ده. نو په دغه صورت کې دوړ تر سره کيږي. او که چيری پرته د بليغانو د تراکيبو کوم نور تراکيب مراد وي نو هغه بيا ده ذکر کړي نه دي. د اول څخه په دې سره جواب و رکول سوی دی: د سکاکي مراد په تتبع سره معرفت او پيژندنه ده، لکه څرنګه چې ده دغه خبره په خپل کتاب کې تر سره کړې ده، او دغه (د باب څخه) د ملزوم د وبنا پر لازم ده. (ده دغه وبنا ددې لپاره تر سره کړې ده چې) آګاهي پر دې خبره راسي چې علم المعاني يو داسي معرفت دی کوم چې په تتبع سره د بليغانو د تراکيبو تر لاسه کيږي (يعني دغه معرفت کسبي دی نه اصلي). حتي عربو ته دغه خواص د تراکيبو په فطرت اصليه سره تر

ژباسه سوی دی مگر دغه ته علم المعاني نه وایل کیږی. او د ادب د خاوندانو تعریفونه په مجاز سره ډک دي. او ددوم څخه داجواب ورکول سوی دی، ورسته تر منولو ددې خبرې "چې د سکاکي مراد د هغه تراکیبو څخه کوم چې په تعریف کې بلاغت ذکر سوی دي تراکیب د بلیغانو مراد دی" مراد د تراکیبو څخه تراکیب د هغه بلیغانو مراد دي کوم چې موصوفه په بلاغت سره دي. او د بلیغانو پیژندنه پر بلاغت "په ذکر سوې معني" موقوفه نه دی، ځکه د بلیغ پیژندنه په اعتبار د عرف د خلکو ممکنه ده. امرء القیس د مثال په توګه بلیغ دی، نو دده د تراکیبو خواص "پله تصور د ذکر سوی معني د بلاغت" طلب کړل سي. لکه څرنګه هر یوه لره د عامو خلکو دا ممکنه ده چې د خپل ښار فقاهت لرونکي علماء و پیژني او بیا ددوی اقوال طلب کړي پله پیژندنې ددې خبرې چې فقه داسي پیژندنه د فقهي احکامو ده کوم چې د تفصیلي دلائلو څخه ترلاسه سوی وی. او دغه خبره ښکاره ده. **او وزه فرمایم:** د سکاکي ددې قول څخه "بتوفیة خواص التراکیب حقها" پرته ددې خبرې بل څه نه فهمیږی چې متکلم د معني په ادا ښه کې یو داسي مقام ته ورسیږي چې خپل هر ترکیب په مناسب مقام کې وړاندی کړي. دادول د مثال په توګه "ان زیداً قائم" و هغه مخاطب ته وړاندی کړي کوم چې شک کونکي او یا انکار کونکي وی. او دغه کلام "والله انه لقائم" هغه چا ته وړاندی کړی کوم چې پر خپل انکار اصرار کونکي او ټینګ ولاړ وی. او دا کلام " زیداً ضربت" هغه چا ته وړاندی کړي کوم چې د صواب او خطاء سره خلط او گډ حکم کونکي وی. ځکه خاصیت د "ان زیداً قائم" نفي د شک او انکار دی. او خاصیت د "زیداً ضربت" حصر، تخصیص او د نورو شیانو فائده کول دی. لهذا د تراکیبو داغراضو حق پورا کونه داده چې متکلم خپل ترکیب په خپل مقام کې راوړی، او په هغه ځای کې کوم چې ددغه ترکیب سره مناسبه وی. او دغه بعینه معني د تطبیق د کلام د مقتضي سره د حال ده. د سکاکي ددې قول " خواص د تراکیبو حق ادا کېدنه" معني داده چې هر کلام د مقتضي سره د حال موافق راوړل سي. لهذا مراد د تراکیبو څخه په تعریف کې د بلاغت تراکیب ددغه متکلم دي. لکه ددغه وضاحت د سکاکي دا قول کوي "په ادا ښه کې د معني". او دغه دول ددده دا قول "انواع د تشبیه، مجاز او کنایه د خپلې طریقه موافق راوړل". ځکه ددده د قول معني پرته ددې بل څه نه ده چې دغه متکلم دادول وی چې دی تشبیه، مجاز او کنایه دادول وړاندی کړي لکه څرنګه چې مناسبه وی. او د هغه موافق کوم چې ددوی حق وي. او ددې معني دا نه ده چې متکلم د بلیغانو تشبیه او مجازونه د هغو د طریقه موافق وړاندی کړي. او دغه معني په ډیر زیات حسن او باریکي کې ده. او تعجب پر مصنف او پر نورو ددې خبرې چې پردوی دغه معني د وضاحت سره سره څرنګه پټه پاته سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

او دوی څرنګه پر سکاکي ددې خبرې ګمان وکړي چې ده په تعریف کې د بلاغت المتکلم ترا کیب د بلیغانو اخیستې دي. بیا یې تعریف د شي په خپل خان سره وکړي (کوم چې دور دی). او د لږ تأمل کولو مفسدات دومره ریات دي چې پر هغه د بیان کمر بند احاطه کولای نه سي. ورسته تر دې ترټولو واضح دادول تعریف کړل د علم المعاني دي" دا یو داسي علم دی چې په ده سره کیفیت د تطبیق د کلام عربي د مقتضي سره د حال پیژندل کیږي.

حاشیه نمبر۲:

علامه سکاکي د علم المعاني تعریف کړی دي، او په هغه کي څلور الفاظ واقع سوی دي او دغه حاشیه د هغو څلورو الفاظو د بیان لپاره ده.

بیان: ۱: تتبع: تتبع په لغت کي د اتباع ته ویل کیږي. او دلته مراد معرفت او پیژندنه ده. بلکه ملکه یا مسائلي ځني مراد دي.

۲: خواص: دغه د خاصة جمعه ده. او خاصه د شي هغه ته ویل کیږي کوم چې په پرته کي د ده نه موجودیږي. د مثال په توګه د تأکید خاصه نفي د شک کولو دی. او دلته هغه اغراض ځني مراد دي چې د دوی د وجي جوړیدل د کلام ترسره کیږي. لکه د انکار رد کول.

۳: تراکیب الکلام: د "تراکیب الکلام" څخه مراد مقتضي الاحوال دي.

سوال: سکاکي د کلام د وینا پر ځای د ترکیب وینا ولي خپله کړې ده؟

جواب: وجه یې اشاره کول ودې خبرې ته ده چې دغه خواصي په وخت کي د ترکیب د کلام حاصلیږي. په تأکید سره "په وخت کي د ترکیب د کلام" نفي د شک حاصلیږي. بیا عام تردې دغه خواصي په مفرد کي پیدا سي . د مثال په توګه په "ذالک الکتاب" کي داسي بعد او لري والي دی چې هغه په تعظیم سره آګاهي ورکونکي دی. او که په مرکباتو کي پیدا سي بیا عام تر دې دغه مرکبات په ترکیب اولي سره مرکب وی، د مثال په توګه د تأکید پورې ښول "په زید قائم کي" چې په خالي والي سره د ذهن آګاهي او خبرتیا ورکونکي دی. اوس "زید قائم" مرکب په ترکیب اولي سره دی. ځکه دغه جمله اسمیه مرکبه د مبتدأ او خبره څخه ده. او که په مرکب ثانوي سره مرکبه وی. د مثال په توګه په "ان زیدا قائم" کي تأکید آګاهي ورکونکي په تردد سره دی. اوس "ان زیدا قائم" مرکب په ترکیب ثانوی سره دی. ځکه په دغه ترکیب کي "ان" چې یو

حرف د حروفي مشبه بالفعل څخه دی وجود لری. او حروف مشبه بالفعل یر مبتدأ داخلیږي. لهذا اولاً مبتدأ او خبر وه، او ثانیاً اسم د "انّ" او خبر د "انّ" سوه.

۴: في الافادة: "افادة" مصدر په معني سره د اسم مفعول ده. او دغه ظرف (افادة) تعلق د "تتبع" سره لری "ای تتبع الخواص من حیث افادتها بالتراکیب المطلوبة" او جستجو کول د خواصو په دې حیث چې دوی په تراکیبو سره ترلاسه کیږي). لهذا د سکاکي د تعریف خلاصه دا جوړیږي. "ان علم المعاني عبارة عن التصدیقات آه".

حاشیه نمبر۳:

"ما یتصل بها" عطف پر "خواص التراکیب" باندې دی. او "بها" کې دوه احتمالونه وجود لري.

۱: ضمیر مجرور راجع و ترکیب ته دی. او په دغه تقدیر معني د عبارت دا جوړیږي "هغه شي چې و تراکیبو ته عارضیږي". او دغه عروض هم تبعاً د هغه شي وی کوم چې د تراکیبو څخه مقصود وی. او هغه حسن ذاتي چې حاصل په بلاغت سره وی. اوس یو کلام بلیغ دی. او دغه بلاغت مقصود د دغه کلام څخه وی. نو دغه کلام ته حسن ذاتي ورعارضیږي.

۲: ضمیری مجرور راجع و "خواصه" ته دی. او معني پر دغه تقدیر دا جوړیږي "هغه شي چې (تکمیلاتو (تکمیل ته رسونکي، کاملونکي) څخه د خواصو شمیرل کیږي "لکه استحسان او پرته دده لکه استهجان (هجواوبدي). او د استحسان د تراکیب د متصلاتو او خواصو څخه کېدل ښکارده ده. او د استهجان د متصلاتو څخه د تراکیبو او د خواصو څخه کېدل په دې وجه سره دی چې دغه استهجان کله د بلیغانو په کلام کې واقع سوی وی. او د دوی کلام په دغه استهجان په وجه سره عیبناکه سوی وی. او صاحب المعاني دغه استهجان وپیژني او بیا خپل کلام په دغه سره د عیناکه کېدو څخه وساتي. او کله دغه استهجان د بلیغانو په کلام کې واقع سوی وی. او بلیغانو په دغه استهجان سره حصول د هغو اغراضو کړی وی چې هغوی تعلق په دغه استهجان سره لري. د مثال په توګه اضاحیک (خندونکي شیان) هزلیات (مسخري) او محکیات (قصې). نو بیا صاحب المعاني د دغه استهجان پیژندنه د دې لپاره وکړي چې دی دغه شیان په مثل کې دغو ځایو راوړی.

اضاحیک: اضحوکه. [اُ کَ] (ع اِ) آنچه از آن بخندند. ج، اضاحیک، اَضاحِک. (اقرب الموارد). آن چیز که مردمان را به خنده درآورد. (مهذب الاسماء). آنچه از وی خنده آید. (ناظم الاطباء) (آنندراج) (منتهی الارب).

Maktaba Tul Ishaat.com

آن چیز و سخن که مردم را به خنده آرد. (غیاث اللغات): این اضحوکه را در خدمت سلطان بار گفتند. (ترجمه تاریخ یمینی چ تهران ص 346).

هزلیات: بذله گویی، جوک، شوخی، طیبت، ظرافت، لاع، لافی، لطیفه، لودگی، مزاح، مسخرگی، مسخره، مطایبه، هجا، هجو، هجو.

محکیة: اِمَ کی یَ (ع ص) مؤنث محکی. (یادداشت مرحوم دهخدا). حکایت کرده شده. (غیاث) (آنندراج). رجوع به محکی شود.

حاشیه نمبر۴:

سوال: شارح چې کومه دویمه وجه د عدول د مصنف "د تعریف څخه د سکاکي" لپاره وړاندی کړې ده هغه د عدول وجه جوړیدلای نه سي. ځکه دغه وجه په کړل سوي تعریف د بلاغت بناء ده. او مصنف د سکاکي غوندي تعریف کړی نه دي. چې بیا سبب لپاره د عدول وګرزی؟

جواب: استعمال د دغو درو "تتبع، تراکیب او پرته ددوی" څخه د یوه هم په کړل سوی تعریف کي د سکاکي صحت نه لری. مصنف د دغه عدمي صحت د وجې د سکاکي د کړل سوی تعریف څخه عدول وکړی. ځکه که چیري مصنف د سکاکي غوندي تعریف کړی وای نو بیا دا فهمیده چې د دغو درو سرو استعمال د سکاکي په کړل سوی تعریف کي صحت لری. لهذا د مصنف عدول کول په دې خبری د تنبیه لپاره دي چې د سکاکي کړل سوی تعریف لپاره د علم المعاني فاسد دی. (فیض الفتاح ۲۸، الجزء الثاني)

حاشیه نمبر۵:

دور به په دوو شیانو کي راسي.

۱: په تعریف کي د بلاغت د متکلم تعریف د بلاغت د متکلم دا دول راغلي دی چې سکاکي د بلاغة المتکلم تعریف دا دول ترسره کړی دي "بلوغ المتکلم اه". اوس په دغه تعریف کي لفظ د "تراکیب" راغلي دی. او د تراکیبو څخه تراکیب د بلغاؤ مراد دي. او بلغاء د بلیغ جمعه ده. او بلیغ مشتقي او پیژندنه یې په معرفت د مبدأ او مصدر موقوفه ده. او مبدأ یې بلاغة المتکلم دی. لهذا معرفت د تعریف په پیژندنه د معرَف موقوفه سو. او معرفت د معرَف په پیژندنه د تعریف موقوفه دی.

۲: دور په تعریف کي د علم المعاني رائي. ځکه د علم المعاني دادوول تعریف "تتبع خواص التراکیب آه" ترسره سوی دی. اوس د تراکیبو څخه تراکیب د بلغاؤ مرادديي.او بلغاء د بليغ جمعه ده. او بليغ مشتقي او پيژندنه يې په معرفت د مبدأ او مصدر موقوفه ده. او مبدأ يې بلاغة المتكلم(بلوغ المتكلم فى تادية المعاني حدا له اختصاص بتوفية خواص التراكيب) دی.اوس که په دغه ترا کیبو سره تراکیب د بلغاؤ مراد سي نو تراکیب البلغاء په تراکیب البلغاء باندي به موقوفه سي. ځکه تراکیب البلغاء په پیژندنه د بليغ موقوفه دی. او معرفت د بليغ په پیژندنه د بلاغت موقوفه دی. او معرفت د بلاغت په تراکیبو البلغاء باندي موقوفه دی. ځکه معرَف په ټولو اجزاؤ باندی د تعریف موقوفه وی. او د تعریف د بعضو اجزاؤ څخه تراکیب البلغاء دي. نو تراکیب البلغاء په تراکیبو البلغاء موقوفه سو.ځکه موقوف (تراکیب البلغاء) پر موقوف(بلاغة المتكلم) پر شي (التراكيب التي وقعت فى تعريف البلاغة) موقوفه پر شي دی.

حاشیه نمبر۷:

سوال: دغه علوم په دغه قید سره "یحترز" خارجیږي. نو بیا د "تتبع" راوړل لغو او فائده په کي نسته؟

جواب: د "تتبع" په تعبیر کي اشاره په اول واري ددغه علومو د وتولو و طرف ته ده.او دغه ډول د خروج اسناد ددغو علومو و "تتبع" ته اولي او غوره دی. ځکه څه وخت چې تعریف په داسي شیانو مشتمله وی کوم چې په یوه فائده کي سره شریکان وي .او ددغو شیانو څخه هر یو په یو داسي فائدې سره خاص وی.کوم چې په هغه بل شي سره نه حاصلیږي. نو په دغه وخت کي اسناد ددغي مشترکي فائدې و هغه اولني شي ته اولي دی. او پرته ددې په لفظ کي د "تتبع" نو ري فائدې هم سته، او د هغو څخه یوه تنبیه ورکول په دې خبري ده چې مطلب صعوبت او سختوالي لري.

حاشیه نمبر۹:

مورد تردید دوم شق "مراد د تراکیبو څخه تراکیب د غیري بلغاؤ دي" خیلوو . مګر مورد تعریف په مجهول شي سره راتلل نه منو . ځکه دغه تعریف په مجهول سره هلته لازمېدی که چیري دده په کلام کي هغه څه نه وای چې په هغه سره بیان ددغه غیر رائي . او بیانونکي په دغه مقام کي

Maktaba Tul Ishaat.com

موجود نه بلل موږ نه منو. بلکه په دې مقام کې بیانونکي موجود دی. او هغه بیانونکي به په لسم نمبر حاشیه کې انشاءالله بیان سي.

حاشیه نمبر ۱۰:

دلته مبین او بیانونکي دوه شیان دي.

۱: تادیة المعانی: ددې څخه دا معلومیږي چې مراد د تراکیبو څخه تراکیب المتکلم دی. ځکه د غیر د مقاصدو او معناګانو اداکولو لره هیڅ وجه نسته. او نه دې خبرې لره کومه وجه سته چې خپل مقاصد او معناګاني د غیر په تراکیبو سره ادا سي، ځکه متکلم د غیر د معناګانو اداکول د غیر په تراکیبو سره نه کوی. بلکه دغه غیر خپل مقاصدو او معناګاني په خپلو تراکیبو سره ادا کوی. ځکه انسان د غیر په فعل قدرت نه لری.

۲: ایراد انواع التشبیه و المجاز: د سکاکي ددغه قول څخه دامعلومیږي چې مراد د تراکیبو څخه تراکیب د متکلم دي. او شارح یې وجه بیان کړیده.

حاشیه نمبر ۱۱:

خاصیت په اصل کې خاصة وه. او د مبالغې (مبالغه په لروم کې ددغه خاصیت د تراکیبو سره د بلغاؤ) لپاره "یاء" زیاته سوه. او اشاره و دې خبرې ته دد چې خاصه په خاصوالي په شي سره یو دا سي مرتبې ته رسېدلې وی چې ګواکې دغه خاصه به خلپه خصوصیت دی. او په خصوصیت باندې خاصه مرتبیږي. لکه "انّ" چې د تأکید لپاره دی. او خاصه "کونه لنفي الشک "ده.

سوال: داډول وینا "خاصة ان زیدا قائم نفي شک او انکار" اخصر او اظهر ده؟

جواب: که یې چیرې دغه ډول ویلي وای نو بیا ددغه څخه دا فائده کېدل چې نفي د شک په "ان زیدا قائم" کې موجود دی. او سره ددې چې نفي د شک په "ان زیدا قائم" کې موجوده نه دی. بلکه دغه نفي د شک مدلول د "ان زیدا قائم" دی. ځکه دغه قول "ان زیدا قائم" دلالت په تأکید او تأکید دلالت په نفي د شک کوی. لهذا نفي د شک مدلول ددغه قول دی.

حاشیه نمبر ۱۲:

سوال: د مفتاح په شرح کې دا خبره ذکر سوېده چې معني د تطبیق د کلام عامه تر ایراد او حمل ده. نو اوس تطبیق په معني سره د ایراد بلل صحت نه لري؟

جواب: دده په دې قول کې "و هذا بعينه معنى التطبيق" مراد د تطبيق څخه مطلق تطبيق نه دی چې بيا اعتراض وارد سي، بلکه هغه تطبيق مراد دی کوم چې په ايراد سره ترسره سي. (شرح العوسي ۵۰۶/ح۲)

حاشيه نمبر ۱۳:

سوال: تعريف په اضافت سره د عهد لپاره وی. او خواصي د متکلم د تراکيبو لپاره معلومي سوی نه دي. حتي چې بيا د غه خواصي مضافي و متکلم ته سي. نو بيا د سکاکي د دې قول څخه "بتوفية خواص التراكيب حقها" مراد ول د تراکيبو د متکلم صحت نه لري؟

جواب: اصل په تعريف کې د اضافت که څه هم عهد دی مګر استعمال د دغه تعريف په اضافت سره ډير ځلي په غير کې د اصل شائع وی.

صفحه نمبر ۳۸:

عبارت

﴿ و ينحصر ﴾ المقصود من علم المعاني ﴿ثمانية ابواب﴾ انحصار الكل في اجزائه لا الكلي في جزئياته، و الا لصدق علم المعاني على كل باب

ترجمه

﴿او منحصره دی﴾ د علم معاني مقصود ﴿په آته بابونو کې﴾. (نکه) کل چې په خپلو اجزاؤ کې منحصره وي. نه دکلي (غوندې) په جزئياتو کې. که چيرې دغه ډول نه سي نو بيا به علم المعاني پر هر باب صادقه وګرځي. او شکاره د دغه کلام آګاهي د دې خبرې راولي چې علم "د هغه معني موافق کوم چې ښه سوه" عبارت د خپله مسائلو څخه دی. د علم تعريف. بيان د انحصار او راتلونکې تنبيه د مقصود څخه وتلي دي. اول ﴿احوال د اسنادي خبرې دي﴾ دوم ﴿احوال د مسند اليه دي﴾ دريم ﴿د مسند احوال دي﴾، څلورم ﴿احوال د فعل د متعلقاتو دي﴾، پنځم ﴿قصر دی﴾، شپږم ﴿انشاء ده﴾. اوم ﴿فصل او وصل دي﴾، آتم ﴿ايجاز، اطناب او مساوات دي﴾. مقصود په دغه آته بابونو کې څخه حصر دی چې کلام به خبر او يا انشاء وی. څخه کلام هرو مرو د طرفينو تر مينځ پر يو داسي نسبت تامه مشتمله وی کوم چې په نفس پوری د متکلم قائم وی. او تفسير د نسبت تامه دلته په وقوع او لا وقوع سره ترسره کيږی، او دلته يې تفسير په علم راتلل پر دې خبره چې نسبت مطابق د واقع سره دی او يا مطابق د واقع سره نه دی فاسد دی. څخه دغه تفسير و انشائي نسبت ته

Maktaba Tul Ishaat.com

شامله نه دی، نو تقسیم صحت پیدا نه کړی. بلکه دلته نسبت د کلام د یوه جزء تعلق د هغه بل سره دا ډول لري چې پر هغه یې خوله کېدل صحت لري. عام تردي ایجابي او که سلبي وي. او که پر ته ددوی وی کوم چې په انشائیاتو کې وی. لهدا کلام ﴿که چیرې دده د نسبت لپاره خارج وی﴾ په یوه کې د درو زمانو یعني په خارج کې د طرفینو تر مینځ ثبوتي او یا سلبي نسبت وی ﴿ددغه مطابق وی﴾ یعني دغه نسبت ددغه خارج موافق وی دا ډول چې دواړه ثبوتي او یا سلبي وي. ﴿او یا مطابق نه وی﴾ دا ډول چې یو ثبوتي او هغه بل سلبي وی. ﴿نو دغه خبر دی﴾ یعني دغه کلام خبر دی. ﴿که چیرې دغه ډول نه وو﴾ یعني نسبت لره دده دغه ډول خارج نه وی ﴿نو دغه انشاء ده﴾. او ژر دی چې دغه به وضاحت په اول کې د تنبیه اضافه کړی. ﴿خبر لره چارد د مسند الیه، مسند، او د اسناد څخه نسته، او مسند که چیرې فعل او په معني د فعل وی نو بیا دده لپاره کله کله متعلقات وي﴾ لکه مصدر، اسمي فاعل، مفعول اوظرف او په مثل ددوی. دغه در سره واخله. او دغه کلام تر خبره پورې د خاصولو لپاره کومه وجه وجود نه لري. ځکه د انشاء لپاره ددغه ذکر سوی شیانو څخه چاره نه لري. کله کله دده د مسند لپاره هم متعلقات وي. ﴿هر یو د اسناد او تعلق څخه به یا سره د قصره وی او یا به نه وی، او هره جمله چې د بلې سره ملګري سي یا به پر دغه عطف سوې وی او یا به نه وی. بلیغ کلام به پر اصلي مقصد یو فائدې په خاطر زائد وی﴾. په دغه سره احتراز د تطویل څخه راغلې بناء پر راتلونکي خبرې. په بلیغ سره د کلام د مقیدولو ورسته و قید ته د فائده ضرورت پاته نه دی. ځکه په کوم شي کې چې فائده نه وی هغه د مقتضي سره د حال موافق نه وی. کوم زائد چې ببله کومې فائدې وې هغه بلیغ نه دی.

تشریح

الاول احوال الاسنا الخبری: سوال: دغه څه تر کیبي حیثیت لري؟

جواب: دغه خبره د حذف سوی مبتدأ لپاره دی، اصل عبارت دا ډول دی "الاول احوال الاسناد الخ".

و انما انحصر فیها: سوال: په دغه راتلونکي عبارت کې د مصنف "لان الکلام الخ" لام لپاره د علت دی، نو معلول ددغه لپاره څوک دی؟

جواب: معلول ددغه حذف سوی دی. او دغه د مخکني عبارت څخه معلومیږی. لهذا تقدیر د عبارت دا ډول دی" مقصود یعني علم المعاني په آته بابونو کې ددې وجې حصر دي چې کلام به خبر او یا انشاء وی".

قائمة بنفس المتكلم" سوال: د نسبت څو قسمونه دي؟

جواب: درې. ۱: كلامي: د مبتدأ او خبر ترمينځ چې كوم تعلق د كلام څخه فهمول كيږي دغه ته نسبت كلامي ويل كيږي.

۲: ذهني: ددغه نسبت كلامي چې كوم تصور او حاضر والي په ذهن كي د متكلم وي دغه ته نسبت ذهني ويل كيږي.

۳: خارجي: د طرفينو ترمينځ چې كوم خارجي تعلق دي هغه ته نسبت خارجي ويل كيږي.

مثال: "قام زيد" په دغه كلام كي ثبوت د ولاړي لپاره د زيد په دې حيث چې دغه د كلام څخه فهمول كيږي دغه ته نسبت كلامي ويل كيږي او په دې حيث چې دغه په ذهن كي د متكلم مو جوده او متصور دي دغه ته نسبت ذهني ويل كيږي، او په دې حيث چې دغه په حقيقت كي حاصل او موجوده دي دغه ته نسبت خارجي ويل كيږي.

سوال: دغه دري نسبتونه د چا سره ولاړ وي؟

جواب: نسبت كلامي او خارجي دواړه قائم د طرفينو سره د كلام وي او نسبت ذهني قائم په ذهن پوري د متكلم وي.

سوال: د شارح دغه خبره "قائمة بنفس المتكلم" صحت نه لري، ځكه ددغه څخه دا معلوميږي چې نسبت كلامي هم قائم په ذهن پوري د متكلم وي، او حال دا چې نسبت كلامي قائم په طرفينو پوري د كلام وي؟

جواب: مطلب "دنسبت كلامي د قائموالي په ذهن پوري د متكلم" دا نه دي چې هغه د متكلم صفت دي، او متكلم په دغه سره موصوفه گرزي، بلكه ددغه مطلب دادي چې مدرك ددغه نسبت نفس د متكلم دي، نو مراد د "قائمة بنفس المتكلم" څخه قيام د علم او ادراك ددغه نسبت دي.

هو تعلق احدى الشئين الخ" سوال: ددغه تعلق څخه څه مراد دي؟

جواب: تعلق عام دي، عام تردي دغه تعلق، هغه تعلق وي كوم چې د نسبتي حكميه (يعني ثبوت د محمول لپاره د موضوع) په صورت كي وي او يا هغه تعلق وي كوم چې په صورت كي نسبت انشائيه وي. لهذا ددغه تعلق څخه خاص نسبت حكمي مراد نه دي، ځكه په انشاء كي

Maktaba Tul Ishaat.com

ثبوت د محمول لپاره د موضوع نه وی. د مثال په توګه "اضرب یا زید عمراً" د وهلې او ضرب تعلق د زید سره په حیث د طلب دی. او دغه ډول نور.

في احد الازمنة الثلاثة: **سوال:** هغه خبر چې موجبه او لپاره د استقبال وی لکه "سیقوم زید" د دغه خبر د نسبت کلامي لپاره نسبت خارجي وجود نه لری، ځکه دغه کار تر اوسه تر سره سوی نه دی چې بیا ده له حقیقت وجود پیدا کړی. لهذا دغه خبره دې کاذب وګرزی. ځکه خبری کاذب هغه دی چې نسبت کلامي د خارجي موافق نه وی، نو دلته هم دغه ډول دی. ځکه نسبت خارجي وجود نه لری، نو بیا به یې موافقت څرنګه راسي. او حال دا چې دغه ته کاذب نه وایی کیږی؟

جواب: تحقق او ثبوت د نسبت کلامي عام دی، بالفعل او که بالقوه وی. نو په اخبار استقبالیه کې که څه هم نسبت بالفعل وجود نه لری مګر بالقوه وجود لری دا ډول چې دغه به په مستقبل کې وجود پیدا کړی. او بالقوه هم دغه دی چې بالفعل خو وجود نه لریو مګر په راتلونکې زمانه کې وجود پیدا کولای سي.

سواء کان ایجاباً او سلباً: **سوال:** نسبت کلام کې دوه مذهبه دي. ۱: متقدمین مناطقه. ۲: متأخرین مناطقه. نو دلته کوم یو مراد دی؟

جواب: دلته د متقدمینو مذهب مراد دی، دوی وایي چې په قضیه مؤجبه کې د نسبت کلامي اعتبار په معني سره د شي لپاره د شي وی او په سالبه کې په معني سره د انتفاء د شي د شي څخه وی.

فالکلام خبر: **سوال:** دغه قول د مصنف "فخر" صحت نه لری، ځکه دغه جواب د شرط دی. او د شرط د جواب لپاره جمله کېدل ضروری وی او حال دا چې دلته دغه جواب د شرط جمله نه ده؟

جواب: دلته جواب د شرط جمله ده. مګر مبتدأ دلته محذوف او ذکر سوی خبر لپاره دده دی. اصل عبارت دا ډول دی "فالکلام خبر".

و لا حاجة الیه الخ: **سوال:** مصنف رحمه الله د غه قول "لفائدة" ولې اضافه کړي؟

جواب: چې احتراز د تطويل څخه راسي. ځکه په هغه کې هم زيادت وی مګر د کومې فائده ولاس ته د راوړلو لپاره نه وی.

سوال: څه وخت چې کلام په بلاغت سره مقيده و ګرزول سو نو بيا د تطويل څخه د ځان ساتولو لپاره دغه قيد ته د "لفائدة" ضرورت پاته نه سو، ځکه بليغ کلام هغه ته ويل کيږی کوم چې د مقتضي سره د حال موافق وی. کوم کلام چې د مقتضي سره د حال موافق وی هغه به هرو مرو پر فائده مشتمله وی. که چيرې دغه ډول نه وی نو هغه بيا بليغ کلام نه دی؟

جواب: ددغه وتنې لپاره که څه هم قيد د بلاغة کفايت کوی مګر دغه وتنه يې ضمناً وه نه صراحتاً. لهذا مصنف دصراحتاً د هيستولو لپاره "لفائدة" ووايي.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۹:

د شارح په دغه قول "قائمة بنفس المتكلم" کې دوه قوله دي.

اول. شيخ عدوي: دلته په شارح داسوال واردېدی چې دده په دې قول "قائمة" کې نظر دی، ځکه دده دغه قول تقاضي ددې کوي چې نسبت کلامي قائم په ذهن پوري د متکلم وی. او حال داچې خبره دغه ډول نه ده. بلکه نسبت کلامي قائم په يوه سره د طرفينو وی؟

جواب: معني ددې کلام چې نسبت کلامي په نفس سره د متکلم قائم وی دانه ده چې دغه نسبت صفت د نفس دی بلکه مطلب يې دادی چې نفس ددغه نسبت ادراک کوی. لهذا قائم په نفس سره ادراک ددغه نسبت دی نه نفس نسبت.

دوم: علامه فنري: نسبت کلامي "يعني هغه نسبت چې په هغه باندې کلام مشتمله وی" قائموا لي يې په ذهن پوری د قبيلې څخه د قيام د عرض په محل سره دی. لکه قيام د علم په خپل محل پوري "چې هغه نفس دی". لهذا قائم په نفس پوري په خپله نسبتي کلامي دی نه ادراک د نسبت کلامي. لهذا دغه نسبت کلامي يو صفت او په ذهن کې د متکلم په وجود اصلي سره "لکه نور صفات د نفس لکه علم" موجود دی. اوس د شارح دغه قول محمول په دې خبره دی چې په خبر کې مراد د نسبتي کلامي څخه ايقاع ددغه تعلق "ادراک ان ذالک التعلق مطابق للواقع" او انتزاع ددغه تعلق "ای ادراک انه غير مطابق للواقع" ده. او په انشاء کې مراد د نسبتي کلامي څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

طلب دی. ایقاع، انتزاع او طلب د هغه شیانو څخه دي چي هغوی موجود او قائم په نفس پوري بناء په دې دی چي دوی صفات لپاره د نفس دي. او په دې باندي "چي نفس تصور ددوی کوي" او ددوی صورتونه په نفس کي حاصل دي" نه دی. ځکه دا خبره یقیني ده چي تصدیق په خپله ایقاع او انتزاع ده. او په تصدیق کي ضرورت و تصور ته د ایقاع او انتزاع نسته. او دغه خبره هم یقیني ده چي په نفس کي د هغه سړي چي هغه وایي "اضرب" طلب د ضرب دی نه مجردی تصور د ضرب. (كذا في شرح شيخ محمد ۱۷۸/ج۱)(شروح التلخيص ۱۶۴/ ج۱)

﴿فائده﴾: د علامه عدوی او د شارح د کلامونو ترمینځ منافات وجود نه لري، ځکه د علامه عدوي مراد په نسبت کلامي سره "چي صورت دده قائم په ذهن پوري وی" تعلق دی. او د شارح مراد په نسبت کلامي سره "چي په خپله قائم په ذهن پوری دی" طلب د ایقاع او انتزاع دی. او دغه د حکماؤ په وراندي په تصدیق سره مسمي سوی دی. (شروح ۱۶۴/ج۱)

﴿تنبیه﴾: تعلق د یوه طرف د هغه بل طرف سره په نسبت او ارتباط سره نومول کیږي. او په لحاظ لو سره د اعتباراتو او حیثیاتو نسبت و څلورو اقسامو ته تقسیم سوی دي. ځکه د طرفینو څخه د یوه طرف ارتباط د هغه بل سره په دې حیث چي دی د کلام څخه فهمول کیږي دغه ارتباط ته نسبت کلامي ویل کیږي. او په ذهن کي د متکلم د موجودوالي په اعتبار سره په نسبت ذهني سره نومول کیږي. او په اعتبار سره د مورد والي د اذعان د متکلم بیا دی په نسبت تصدیقیه سره نومول کیږي. او تحقق دده په خارج او په نفس الامر کي دده د حصول په اعتبار سره دی په نسبت خارجیه سره نومول کیږي.

مثال: "زید قائم". اوس ارتباط د ولاړي د زید سره په اعتبار د فهم د کلام څخه په نسبت کلامي سره مسمي کیږي. په اعتبار سره د حاضر والي په ذهن کي د متکلم په نسبت ذهنیه سره نومول کیږي. او په اعتبار د تعلق نیولو د متکلم د اذعان "تر ده پورې" په نسبتي تصدیقیه سره نومول کیږي. او په اعتبار د متحقق والي په خارج او نفس الامر کې دی په نسبت خارجي سره نومول کیږي.

حاشیه نمبر ۱۰:

څه وخت چي یو کلام وراندی سي نو هلته دري نسبتونه وجود پیدا کوی.

۱: **کلامي**: تعلق د یوه د طرفینو د هغه بل سره او دغه تعلق د کلام څخه فهمول کیږي.

۲: نسبت ذهني: هغه نسبت چې دی په ذهن کې متحقق او وجود لری.
۳: خارجي: د یوه طرف تعلق د هغه بل سره په خارج کې.
دغه نسبتونو ترمینځ فرق: نسبت کلامي په یوه سره د طرفینو قائم وی. او نسبت خارجي هم په یوه سره د طرفینو ولاړ وی، او نسبت ذهني په ذهن کې موجود او متحققه وی.
سوال: د شارح دغه خبره "قائمة بنفس المتكلم" صحت نه لری، ځکه د دې څخه دا معلومیږی چې مراد د نسبت څخه نسبت ذهني دی او حال دا چې زمونږ خبره په نسبت کلامي کې ده؟
جواب: دلته دوه شیان دي. ۱: قیام (درېدل). ۲: تحقق (متحققه کېدل). متحققه کېده د معلوم مرتبه ده او درېدل د علم مرتبه ده. لهذا نسبت ذهني په ذهن کې متحقق وی، او دغه متحقق والي یې په مرتبه کې د معلوم وی. او د نسبت کلامی په ذهن کې موجود والي د ذهن سره درېدل وی، لهذا دغه د علم مرتبه ده. او علم په خپله د ذهن سره قائم وی لکه نور صفاتي نفسانیه. نه په واسطه سره د صورت. لهذا نسبت کلامي د ذهن سره په خپله قائم وی او نسبت ذهني په واسطه د صورت په ذهن کې متحققه وی. نو دلته د قائمة بالنفس سره قیامه مراد نه ده تحقق. یعني ادراک دغه نسبت کلامي د ادراک قائموالي په ذهن سره د متکلم دی نه صورت دغه نسبت. نو اوس خبره صحی سوه.
د حاشیه خلاصه: مراد د نسبت کلامي څخه ایقاع او انتزاع ده. او په ذهن سره د متکلم قائموالي د ایقاع او انتزاع قائموالي د عرض په محل سره دی. ایقاع او انتزاع په ذهن کې د متکلم په وجود اصلي سره موجود دی. ځکه دوی ذواړه ادارک او علم وی. ایقاع: ادراک ان النسبة واقعة. انتزاع: ان النسبة ليست بواقعة. او علم په وجود اصلي سره موجود او قائم په ذهن پورې وی. او د طرفینو د تصور کېدو او ددوی صورتونه په ذهن کې د راتلو په صورت کې ایقاع او انتزاع راځي. ځکه ورسته تر تصور د طرفینو متکلم ادراک د نسبت کلامي کوي. او دغه ډول نه ده چې متکلم تصور د نسبت وکړی. لکه په نسبت ذهني په صورت کې. ځکه د نسبت څخه ایقاع او انتزاع مراد ده. دلالت د کلام په هغه نسبت چې هغه په ذهن پورې قائم وی تقاضي ددې نه کوی چې دغه نسبت به په واقع کې هم ثابت وی. ځکه که چیرې دغه مراد سي نو بیا به تعریف د خبر جامع نه سي. ځکه شک کونکي څه وخت د یوشي څخه اخبار کوی نو په دغه وخت کې دغه نسبت کلامي په ذهن پورې د دغه کس ولاړ وی مګر په واقع کې نه وی (دده د شک وجې)

Maktaba Tul Ishaat.com

او دغه ډول د ټهوني کلام دی، ځکه نسبت يې په ذهن پوری ولاړ مګر په واقع کې نه وی. نو دا معلومه سوه چې نسبت کلامي چې قائم په ذهن پوری د متکلم وی د هغه لپاره دا ضروری نه ده چې هغه به په واقع کې هم قیامه لری.

حاشیه نمبر ۱۱:

سوال: حمل د خبر په مبتدأ صحت نه لری. ځکه مبتدأ عبارت د ایقاع او انتزاع څخه ده. ځکه ضمیر د "هو" راجع و نسبت تامه ته دی. او دغه خبره مخکې تېره سوه چې مراد د نسبت کلامي څخه ایقاع او انتزاع ده. او خبر د نسبت کلامي څخه عبارت دی؟

جواب: په جانب کې د خبر حذفول د مضاف "مدلول تعلق آه" تر سره سوی دی. او مدلول د نسبت کلامي ایقاع او انتزاع ده. لهذا وس يې حمل صحت پیدا کړی.

﴿فائده﴾: د مخکنې سوال په جواب ک علامه چلپي لیکي: د شارح په دې قول کې "هو تعلق احد جزء الکلام بالاخر" مسامحه ترسره سوېده، ځکه په دغه معني سره نسبت قائم په یوه سره د طرفینو دی. (چلپي ۱۵۸). علامه معز الدین لیکي چې د علامه چلپي د دغه خبري څخه که څه هم جواب ورکول ممکن دی دا ډول چې دغه نسبت کلامي که څه هم قائم په یوه سره د طرفینو دی مګر ثانیا و بالعرض د نفس سره د متکلم قائم دی. لهذا دغه خبري ته د چلپي ضرورت نسته.

صفحه نمبر ۳۹:

عبارت

او غیر زائدةٌ هذا کله ظاهر لکن لا طائل تحته لان جمیع ما ذکره من القصر و الفصل و الوصل و الایجاز.....فانه لاخارج له یقصد مطابقته له بل البیع یحصل في الحال بهذا اللفظ و هذا اللفظ مؤجِدٌ له. و لا یقدح في ذالک ان النسبةَ من الامورِ الاعتباریةِ دونَ الخارجیةِ للفرق الظاهرِ بین قولنا القیامُ حاصلٌ لزیدٍ في الخارج و حصول القیام له امرٌ متحققٌ في الخارجِ فانّا لو قطَعْنا النظرَ عن ادراکِ الذهنِ و حکمه فالقیامُ حاصلٌ له و هذا معني وجود النسبةِ الخارجیّةِ.

ترجمه

﴿یا به زائد نه وی﴾ دغه ټوله بالکل بیکاره دی، ددوی په ذکر کولو کې کومه فائده وجود نه لری. ځکه کوم شیان چې ذکر سوی دي هغه عبارت د قصر، فصل، وصل، ایجاز او دده دوه مقابل اطناب او مساوات دي، دغه ټوله یا د جمله د احوالو څخه دی یا د مسند الیه او یا د مسند د احوالو

څخه دی. او دلته مهم شي دادی چې مصنف باید سبب ددې خبرې ذکر کړی وای چې دعه احوال د مخکښ څخه ولې جلا سوه، او هر یوولې یو مستقل باب و ګرزول سو. که چیرې خبره دغه ډول نه وی نو بیا مور وایو: هر یو د مسند الیه او مسند څخه مخکې او یا ورسته کېدل. معرفه او یا نکره کېدلاو ددې نه سېوا نور دغه د احوالو څخه دي، نو بیا هر یو ددغه څخه ولي یومستقل باب و نه ګرزول سو. کوم جا چې ددغه تقریر د نفي او اثبات په صورت کې د وړاندی کولو قصد کړی دی نو د هغه د کلام فسادډیر ښکاره او زیات دی. ترټولو نږدې دا ډول وینا ده :لفظ به مفرد او یا جمله وی، احوال د جمنه اول باب دی. مفرد به عمده او یا فضله او زائد شي وی. او عمده به مسند الیه او یا مسند وی. نو دغه دري احوال دري باب و ګرزول سوه. ددې لپاره چې جلاوالي په مینځ کې د فضله او عمده مسند الیه او مسند راسي. ورسته تر دې په کومو احوالو کې چې زیات پټوالي اوسختوالي دی او بحثونه پې ډیر دي، او د راوړلو مختلفي طریقې لري، او هغه قصر دی نو په دغه وجه دغه پې پنځم باب و ګرزول سو. او دغه ډول د جمله د احوالو څخه کوم چې زیات اهمیت او شرافت لری، هغه فصل او وصل دي نو دغه شپږم باب و ګرزول سو. او که چیرې پې اهمیت په نظر کې نیول سوی نه وی نو بیا دغه هم د احوالو څخه دجمله دی. ځرنګه فصل او وصل د جمله د احوالو څخه وه او قصر د مفرد نو په دغه وجه پې احوال القصر ، احوال الفصل و الوصل ونه وایي (بلکه هغه مخکښ احوال پروبنايي کفایت ترسره کړي). څه وخت چې بعض داسي احوال وه کوم چې خاص تر مفرد یا جمله پورې نه دی، بلکه په دوی دواړو کې جاری کیږي. نو دوی ډیر بحثونه او تفریعات لرونکي دي نو دغه یو مستقل اوم باب و ګرزول سو. یه دغه باب و احوالو کې خبر او انشاء دواړه شریکان دي. څه وخت چې دلته بعضې داسې بحثونه ول کوم چې خاص را جع و انشاء ته ول، نو دغه آتم باب و ګرزول سو. نو اوس مقصود په آنه یا بونو کې حصر سو. ﴿دغه خبر تیا ده﴾ دغه باب پې په لفظ سره د تنبیه نامداره کړي، ځکه ددغه بحث څخه یو حصه په دې قول کې "تطبقه او لا تطابقه" کې ذکر سوه، او دا معلومه سوه چې خبر یو داسي کلام دی د کوم نسبت لره یو داسي خارج په یوه کې د دروزمانو وي چې دغه نسبت کلامي د هغه مطابق او یا مطابق نه وی. نو ددغه خبری مطابق خبر یو داسي کلام دی په کوم سره چې خبر ورکول سوی وی لکه دغه چې ددوی په دې قول کې مراد دی" خبر یو داسي کلام دی په کوم کې چې ربښتیاوالې او دروغجن والې احتمال وی". او کله کله خبر په معنې سره داخبار او خبر ورکولو راځي. لکه ددوی په دې قول کې " یو شي چې پر کوم حال په واقع کې وی د هغه ښکاره کولو او د هغه په هکله معلومات ورکولو ته صدق ویل کیږي " . دلیل پر دغه خبره متعدی والي د اخبار په "به" سره دی. نو اوس دور نه لازمیږی. دغه ډول په صدق او

Maktaba Tul Ishaat.com

کذب سره کلام او متکلم دواړه موصوفه ګرزي. او د خبر په تعریف کې چې کوم صدق ذکر سوی دی دغه صفت د کلام لپاره دی په دې معنې سره چې دغه نسبت کلامي مطابق د واقع سره دی اویا مطابق نه دی. او تعریف د (صدق) په دې سره چې اخبار د شي په هغه څه سره دی پر کوم چې دی په نفس الامر کې ثابت وی تعریف (د هغه صدق دی) کوم چې صفت د متکلم دی. نو اوس دوړ لازم نه سو. دوی اتفاق پر دې خبره تر سره کړی دي چې خبر په صدق او کذب کې حصر دی په خلاف د جاحظ. ورسته تر دې هغه علماء چې هغه د حصر خبره کونکي دي د صدق او کذب په تعریف کې دوی اختلاف تر سره کړي دي، جمهور و هغه څه ته تګ کړي دي کوم چې دلته مصنف ذکر کړي دي ﴿صدق د خبر، مطابقت دده دی﴾ یعنې مطابقت دده د حکم دی، ځکه د صدق او کذب رجوع و حکم ته اولاً و بالذات دی او خبر ته ثانیا او بالواسطه دی. ﴿د واقع سره﴾ واقع هغه خارج دی کوم چې د کلام خبری د نسبت لپاره وی. ﴿او کذب دده عدمي مطابقت دی﴾. یعنې عدمي مطابقت دده د حکم د واقع سره. ددغه بیان دادی چې کلام دلالت پر حصول د نسبت تر مینځ ددو شیانو کوي. دغه به یا په طریقه سره د ثبوت وی دادول چې دغه هغه دی. او یا به په طریقه سره د نفي وی دادول چې دغه هغه نه دی. د نسبتي ذهني څخه د نظر د قطعه کولو په صورت کې ددغه طرفینو تر مینځ د نسبت ثبوتي یا سلبي څخه چاره نسته. ځکه دغه به هغه وی او یا به نه وی. دغه نسبت چې په ذهن کې حاضر او د کلام څخه فهمول سوی دی که چیرې مطابق د نسبتي واقعي خارجي سره وی دادول چې دواړه ثبوتي او یا دواړه سلبي وي نو دغه صدق دی، او نه مطابق والي یې کذب دی. او دغه معنې ددې قول ده "مطابقت د کلام د واقع سره، د خارج سره د نفس الامر سره". څه وخت چې ته "زه رانیول کوم" ووایې او ستا اراده ددغه څخه حالاً وی نو په دغه صورت کې ببله دغه الفاظو ویولو بیع په خارج کې به وجود لری، او مطابقت به دده د خارج سره قصد سوی وی. په خلاف د "بعت یعني زه في الحال رانیسم" کوم چې د انشاء لپاره استعمالیږی. ځکه دغه لره خارج نسته چې د هغه سره مطابقت مقصود و ګرزی. بلکه بیع په دغه لفظ سره في الحال حاصلیږی. او دغه لفظ و بیع لره وجود ورکونکي دی. ددغه په هکله دي څوک دا عیب ویل نه کوی چې نسبت د اعتباری شیانو څخه دی نه د خارجي شیانو څخه. ځکه بشکاره فرق زمور ددې قول "زید لره په خارج کې ولاړ حاصله ده" او د ولاړی ثبوت ده لره یو متحقق شي دی. او موجود په خارج کې دی. ځکه که چیرې مور د ذهني ادراک څخه نظر قطعه کړو نو ولاړه زید لره حاصله ده او دغه معنې د نسبت خارجي د وجود ده.

حاشيه نمبر۴:

فساد د خلخالي د كلام زيات تر فساد د كلام د مصنف دى. ځكه د خلخالي كلام د هغه شي په بيان مشتمله نه دى كوم چې سړى په تكليف كې اچوي. او دوم دا چې د خلخالي تقسيم ترمينځ د نفي او اثبات راوړل سوى دى. او حال دا چې د حصر عقلي او يا استقرائي په صورت كې تقسيم ترمينځ د نفي او اثبات راوړل سوى وى. او دلته يو هم صحت نه لرى. اول په دې وجه صحت نه لرى چې د حصر عقلي په صورت كې عقل د اقسامو څخه سېوا د بل قسم راتلل ممكن نه بولي. او دلته حال دا چې عقل د بل قسم راتلل جائز او ممكن بولي. او دوم په دې وجه صحت نه لرى چې عقل كه څه هم په دغه صورت كې د بل قسم راتلل ممكن بولي مگر دده څخه مقصود د انتشار كم والي سره د ضبط د اقسامو وى. او دلته ضبط او كم والي د انتشار نه حاصليږي. ځكه مراد په خارج كې د موجود شي بيان نه دى. بلكه بيان د دې خبرې دى چې جواب په آتو كې ولې حصر دي. لهذا دغه حصر جعلي دى، او دده مدار په داسي مناسبت وى چې هغه تقاضي كوى نكي د دغه جعل وى. گواكي يو چا داسي وويل "انما جعلت الابواب ثمانية حاسب هذه الجملة من الاحوال فجعل لها باب علي حدة و تلك الجملة كذالك و هكذا" ابواب ځكه آته گرزول سوه چې دغه يو څو احوال او ټولي مناسبت ترخپل مينځ سره لرى په دغه وجه دوى يو مستقل باب وگرزول سوه. او دغه څو احوال هم خپل مينځي مناسبت سره لرى په دغه وجه دوى يو مستقل باب و گرزول سوه، دغه د ډول تر پايه پورى.

حاشيه نمبر۵:

سوال: څه وخت چې بيان د مصنف فاسد وو نو بيا شارح ته د "فالصواب" وينا پر ځاى د "فالاقرب" څه كار وه؟

جواب: د "فالاقرب" وينا پر ځاى د "فالصواب" د هغه كلام په هكله ويل كيږي كوم چې په واقع كې فاسد وى او كلام د مصنف دغه ډول نه دى بلكه دده كلام په واقع كې صحى (څكه د سبب او د دليل بيان د شارحينو وظيفه ده نه د مصنفينو، د دغه وجې مصنف تعليل بيان نه كړي. او شارح بيا په خپل قول سره "فالاقرب" بيان كړي). مگر په نظر كې د اهل الفن فاسد دى. (شرح العالمي ۵۲۹/ج۲)

حاشيه نمبر۷:

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته دد و شيانو بيانول د فائدې څخه خالي نه دی.

اول: د تنبيه د معني لغوي بيان: تنبيه په لغت کې د خوب څخه پورته کېدو او جګېدو ته ويل کيږي. او "وسم" په لغت کې داغ هيښوولو او لګولو ته ويل کيږي. او ددې عبارت "وسم هذا البحث" معني داده "أعلمه أي جعله ذا علامة".

دوم: د تنبيه د اصطلاحي معني بيان: دغه اسم لپاره د هغه مفصل کلام (راتلونکي) دی کوم چې اجمالاً د مخکني کلام څخه معلوم سوی وی.

حاشيه نمبر ۹:

په دې حاشيه کې دوه شيان د بيان ورديږي.

اول: د شارح د غرض بيان: مقصد بيان د شارح ددې عبارت "و قد علم ان الخبر آه" دی. او د شارح مقصد د دغه عبارت څخه دفع د هغه سوال ده کوم چې د صدق لپاره د مصنف په کړل سوی تعريف "الصدق مطابقة الخبر للواقع" وارد ېدسوی دی.

دوم: سوال: د مصنف کړل سوي تعريف لپاره د صدق صحت ځکه نه لری چې دغه مستلزم دور لره دی. ځکه ده د صدق دا ډول تعريف "مطابقة الخبر للواقع" کړيدی. لهذا صدق په خبر موقوفه دی. ځکه خبر په تعريف کې د صدق واقع سوی دی. او خبر بيا په صدق ځکه موقوفه دی چې خبر و "ما يحتمل الصدق والكذب" ته ويل کيږي. لهذا خبر موقوفه په "صدق" سو. نو دا خبره ثابته سوه چې "صدق" پر "خبر" او "خبر" پر "صدق" موقوفه دي، او دغه پرته د دور بل څه نه دی؟

جواب: د مصنف تعريف په دور مشتملوالي موږ ځکه نه منو چې "صدق" او "کذب" په تعريف کې د مصنف که څه هم موقوفه په خبر دی مګر "خبر" په دوی موقوفه نه دی. ځکه مصنف د خبر دا ډول تعريف "ما يكون لنسبته خارج تطابقه اولا تطابقه" کړی دي، او دغه ډول تفسير "ما يحتمل الصدق والكذب" يې کړی نه دی. چې بيا سوال واردسي.

حاشيه نمبر ۱۱:

سوال: کړل سوی تعريف د قوم لپاره د خبر ځکه صحت نه لری چې دغه تعريف "ما يحتمل الصدق والكذب" مستلزم دور لره دی. لهذا خبر په "صدق" ځکه موقوفه دی چې "صدق" دده په تعريف کې راغلي دی. او هر معرَف په هر قيد د معرِف موقوفه وی. او "صدق" بيا په خبر ځکه موقوفه دی

چې دوی د صدق دا ډول تعریف "الصدق الخبر عن الشي علي ما هو علیه" کړیدي. لهذ د دغه تعریف په وجه صدق پر "خبر" موقوفه دی. نو دا ثابته سوه چې "خبر" په "صدق" او "صدق" په "خبر" موقوفه دی. او دغه پرته د دور بل څه نه دی. او دور باطل دی؟

جواب: مورد خبرینو متحد والي نه منو ځکه "خبر" په دو معناګانو سره راځي.

۱: "الکلام المخبر به". ۲: د اعلام په معني سره راځي. لهذا "خبر" په دې قول "ما یحتمل الصدق والکذب" کې په معني اوله سره مراد دی. او د "صدق" په تعریف کې واقع سوي "خبر" په معني دوهمه سره مراد دی. نو اوس د تغایر د جهت په وجه دور نه راغلي.

دوم: د شارح د اعتراض بیان: شارح په شرح کې د مفتاح په صاحب المفتاح داسي اعتراض تر سره کړیدي چې یو د دغه دوو تعریفینو (خبر د تعریف او د صدق د تعریف) څخه لا علي التعین فاسد دی. او د خبر د تعریف فاسد والي متعین نه دی.

حاشیه نمبر ۱۲:

په دې حاشیه کې څو خبري د تحقیق وړ خبرې وجود لري.

اول: بیان د جواب: په "صدق" او "کذب" سره کله کله کلام موصوفه وګرزي، او و ویل سي "کلام صادق و کلام کاذب". په دغه تقدیر د دوی څخه مراد دادی "مطابقة الکلام للواقع و عدم مطابقته له". او کله بیا متکلم موصوفه وګرزي، او ویل سي "متکلم صادق او کاذب". په دغه تقدیر د دوی څخه مراد دادی "کون المتکلم آتیا بکلام مطابق للواقع او غیر مطابق له". لهذا "صدق" او "کذب" په تعریف کې د "خبر" په اوله معني سره مراد دي. او د هغه "خبره" څخه کوم چې په تعریف کې د "صدق" اخیستل سوی دی مراد دغه صدق په دوهمه معني سره دی.

دوم: بیان د توهم: د دغه ذکر سوي کلام د نښکاره څخه داتوهم پیدا کیږي چې دغه جواب په مختلفو الي د صدقینو قائم دی نه په مختلفوالي د خبرینو. او دغه خبره ځکه صحت نه لري چې د خبرینو د متحد والي په صورت کې په تعریف کې د خبر یا د صدق تعریف د شي په مباین سره د شي لازمیږي. (یعني که چیرې خبرین متحد وي. نو اوس که چیرې خبرین په معني سره د "صدق" چې هغه "کون الکلام مطابقا للواقع" دی سي او خبرین په معني سره د هغه "صدق" چې په معني سره د "کون المتکلم آتیا آه" سي نو په دغه وخت کې د غه تعریف د شي په مباین سره دی).

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم: بیان ددفعي ددغه توهم: مختلف والي ترمینځ د "صدقیو" خصوصاً د دفعي لپاره کفا یت کوی بېله اعتباره د مختلفوالي د خبرینو. او په دې معني سره نه دی چې مختلفوالي د صدقینو د ټولو جهاتو په اعتبار سره صحی ګرزونکي لپاره د تعریف دی.

حاشیه نمبر ۱۴:

په دې حاشیه کې څو شیان د تحقیق وړ دي.

اول: د قیل د قول بیان: د شارح ددغه قول "مطابقة حکمه" څخه مقصود د هغه دور څخه ځان ژغو رل دی کوم چې په تقدیر د راجع کولو د ضمیر و خبر ته په تعریف کې د صدق او کذب لازمېد ی دا دول چې معرَف "صدق الخبر" دی. اوس که چیرې ضمیر راجع وخبر ته سي نو دور لازمیږي

دوم: بیان د رد په قیل باندي: دغه قول دیو صحی محل خاوند نه دی. ځکه معرَف هغه "صدق" دی کوم چې و خبر ته مضاف دی. نو بناء بر دغه خبره د معرَف څخه وتلي دی. لکه څرنګه چې عموماً دغه د قیودو اضافیو حال وی. لهذا بناء بر دغه راجع کول د ضمیر و خبر ته صحت لري. او دغه دول که چیرې خبر د معرَف جزء سي نو بیا د مضاف "حکم" په مقدر ولو سره د دور څخه ځان خلاصېدل نه سي راتلای، ځکه بیا هم ضمیر و خبر ته راجع دی. لهذا د محدو د د جزء اخیستل په حد کې لازم سو.

دریم: ددغه رد جواب: د ضمیر ذکر کول په تسامح باندي (په دې معني سره چې ضمیر د تعریف څخه جزء نه دی) حمل دی. او دغه ضمیر تسامحاً د دې خبري د بیان لپاره ذکر کړی دی چې حکم بېله خبره نه موجودیږی.

څلورم: بیان د اصلي وجې: په دغه تفسیر کې (چې بناء په ظاهر باندي د تعریف د شاح دی) اشاره و دې خبري ته ده چې خبر اولاً بېله کومې واسطې په "صدق" او "کذب" سره نه موصوفیږي. ځکه خبر د لفظ څخه عبارت دی. "صدق" او "کذب" عبارت د مطابق والي د خارج سره او عبارت د عدمي مطابق والي د خارج سره دی. او لفظ لره عارضېدل د مطابقت او د عدمي مطابقت یو ښکاره خبره ده. بلکه لفظ په واسطه سره د حکم (د همه نسبت چې هغه د لفظ څخه فهمیږي) په "صدق" او "کذب" سره موصوفه ګرزي.

حاشیه نمبر ۱۵:

د حکماؤ په وړاندې د خارج اطلاق په دوو شیانو ترسره کیږي.

۱: خارج د ذهن څخه (یعني د عقل او حواسو باطنو څخه). او خارج په دغه معنې سره په اعیانو سره نومول کیږي.

۲: خارج د ذات څخه د ادراک کونکي. او دغه په "ما یترتب علیه الآثار" او په خارج بمعنی الاعم سره نومول کیږي. (میر زاهد علی الحلال ۸۹/ح۷/تعلیق التعجب ۲۷)(بحرالعلوم علي میر زاهد ۲۶)

صفحه نمبر ۴۰:

عبارت

﴿و قیل﴾ قائله النظام و من تابعه صدق الخبر ﴿مطابقته لاعتقاد المخبر و لو کاذبا﴾ ذالک الاعتقاد ﴿خطاء﴾..... و هذا ظاهر.

ترجمه

﴿او ویل سوی دی﴾، ددغه ویونکي نظام او هغه څوک دي چې دنه اتباع یې تر سره کړیده. ﴿مطابقت د حکم د خبر د اعتقاد سره د خبر ورکونکي دی﴾ که څه هم دغه اعتقاد ﴿خطاء وی﴾ مطابق د واقع سره نه وی. او د خبر د روغ کېدل عدمي مطابقت د حکم د خبر د خبر ورکونکي د اعتقاد سره نه دی. که څه هم دغه اعتقاد غلط وی. [illegible] ویونکي دا قول [illegible] یې په دې حال کې چې د دغه اعتقاد کونکي وي نو دغه صدق دی. او د ویونکي دا قول "آسمان تر مور لوړ دی" په دا سې حال کې چې د اعتقاد کونکي نه وی نو دغه کذب دی. او واو په دې قول کې "و لو خطاء" لپاره د حال دی. او ویل سوی دی چې دغه د عطف لپاره دی، یعني که څه هم خطاء نه وی او که څه هم خطاء وی. مراد په اعتقاد سره جازم ذهني حکم او یا راجح دی. لهذا دغه علم ته هم شامله دی کوم چې جازم حکمي ذهني دی. او شک نه قبلوی. او مشهور اعتقاد ته هم شامله دی کوم چې جازم حکم دی او شک قبلوی. او ظن ته شامنه دی او دغه د راجح طرف سره حکم دی. لهذا معلوم معتقد او مظنون خبر صادق وی. او موهوم کاذب دی. څکه (وهم) حکم دی په خلاف د راجح طرف، او په مشکوک خبر کې اعتقاد وجود نه لري. څکه شک د طرفینو تر مینځ برابري او په دوی کې تردد "پله ترجیح ورکونکي" وجود نه لري. لهذا دغه به نه صادق او نه کاذب وی. او واسطي وجود پیدا کړي. البته په جواب کې دا ویل کېدای سي چې په (شکمن خبر کې) اعتقاد وجود نه لري نو د اعتقاد سره به عدمي مطابقت متحقق و ګڼړی. لهذا دغه خبر به دروغجن وی. او دغه اعتراض دي نه کړل کیږي چې مشکوک خبر نه دی چې بې رستیونې یا دروغجن و ګڼړول سي،

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه نه دغه سره حکم ملګری دی او نه تصدیق ، بلکه هغه محض تصور دی لکه دغه په هکنه د معقولاتو خاوندانو تصریح تر سره کړېده . **موږ وایو:** حکم او تصدیق شک کونکي لره نسته په دې معني سره چې ده لره د نسبت د وقوع او نه وقوع علم حاصل نه دی. او ذهن دده په هیڅ شي سره د نفي او اثبات څخه حکم کونکي نه دی. مګر چې څه وخت دی په جمله خبریه سره تلفظ تر سره کړی او دی سره د شک ووایي "زید په کور کي دی" د مثال په توګه، نو دده دغه کلام هرو مرو خبر دی. بلکه که چیرې دده په دې سره یقین وی چې زید په کور کي وجود نه لری او بیا ووایي زید په کور کي دی نو دده دغه کلام خبر دی او دغه خبره ښکاره ده.

حل الحواشي

حاشیه نمبر۲ :

په دې حاشیه کي یو څو شیان د بیان ورکړي.

اول: د فائدې بیان: اعتباري شي په دوه قسمه دی.

۱ : **اعتباري بمعني الاخص:** دغه عبارت د هغه فرضي شیانو څخه دی کوم چې د سره وجود او واقعیت نه لري. د مثال په توګه "انیاب الاغوال".

۲ : **اعتباري بمعني الاعم:** دغه د هغه شیانو څخه عبارت دی کومو لره چې خارج ظرف نه وي. بیا عام تردې دغه شیان فرضي وي (او دواقعي شیانو څخه نه وی) او یاد واقعي شیانو څخه وي. دغه ډول خارجي شي په دوه قسمه دي.

۱ : **خارجي بمعني الاخص:** هر هغه شي چې خارج د دوی لپاره ظرف وي.

۲ : **خارجي بمعني الاعم:** هغه شیان چې دوی لره نفس الامر او واقعوالي وي. بیا عام تردې خارج د دوی د نفس او که د دوی د وجود لپاره ظرف وی.

دوم: د وجود بیان: نفسي وجود په خارج کي موجوده وی. او په وجود زائد سره (په ذات باندې دده) موجوده نه وی. او پاته موجود شي، دغه په زائد وجود سره موجود وی. او دغه مخکني خبره ځکه ثابته ده چې وجود بعینه تحقق دی. او دی په "کونه متحققا" (دده په متحقق کېدو کي) کي و بل تحقق ته احتیاج نه لری. بلکه دی په خپله متحقق وی. او پرته د تحقق څخه نور شیان په "کونه متحققا" کي و ضمیر ولو ته د تحقق د دوی ته محتاجه وي. د مثال په توګه ضوء

(روښانتيا). اوس ضوء په خپله مضي او روښانه ده. او په نفس الامر کي دا په ضوء زائد سره روښانه نه ده. او پرته د ضوء بيا روښانه په ضوء زائد سره دی. (کذا فی المدرس الافضل ۱۹۸/ج۲)

دريم: د موجود فی الخارج بيان: موجود په خارج کي هر هغه شي وی د کوم د وجود لپاره خارج ظرف وی. د مثال په توګه "زيد موجود فی الخارج". او هر هغه شي چې خارج دده د نفس لپاره (نه دده د وجود لپاره) ظرف وی. لکه وجود زموږ په تېر سوي مثال کي. او دا جزم او يقين کېدای نه سي چې دغه شي د موجود اتو د قبيلې څخه يو موجود دی. ځکه خاوند د عقل په دې کي "ان زيدا موجود في الخارج" شک لرونکي نه وی او په دې کي "ان وجود زيد موجود فی الخارج" شک لرونکي وی. لهذا وجود د يوشي لپاره ظرف کېدل مستلزم دې خبری لره نه دی چې خارج ظرف لپاره دوجود ددغه شي دی. اوس موږ د متکلم و دې "زيد متصف بالسواد فی الخارج" ته کتل کوو. نو دکتولو ورسته ددغه قول قطعا ربښتيا والي معلوم سي. او خارج په دغه قول کي د اتصاف لپاره ظرف واقع سوی دی. او د متکلم دغه قول "اتصاف زيد موجود فی الخارج" دسره صادقه نه دی. ځکه نسبتونو په خارج کي هيڅ يو وجود نه لری. او خارج نفسي دوی لره ظرف واقع کيږي نه لپاره د وجود ددوی.

څلورم: بيان د قولينو: ددوی ترمينځ فرق دا دی چې دغه وينا "حصول القيام له امر متحقق موجود فی الخارج" ځکه صحت نه لری چې حصول (نسبت خارجي) په دو وجو سره موجود خارجي نه دی.

۱: د حصول موجود والي منافات د اعتباري والي سره د نسبت لری. ځکه د نسبت امري اعتباري کېده فرض سوی دی.

۲: د حصول موجودی خارجي کېدل د موجود خارجي د مفهوم سره منافات لری. ځکه موجود خارجي هغه دی چې خارج دده د وجود لپاره ظرف وی نه دده لپاره. او نسبت خارجي دغه ډول نه دی. ځکه خارج دده لپاره ظرف دی نه دده د وجود لپاره. او دغه قول "القيام حاصل لزيد فی الخارج" ربښتني دی. او ددغه دليل شارح په خپل دې قول "فانا لو قطعنا" سره بيان کړی دی.

پنځم: بيان دوسوال او جواب: سوال: دغه قول "ان الكلام الخبري الدال علي وقوع النسبة بين شيئين أه" د هغه خبري "نسبت مطلقا د اعتباري شيانو څخه دی" سره منافات لری په کوم چې آئمه د معقولاتو اتفاق سرګند کړي دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: څه وخت چې موږ وايو "نسبة خارجة". نو زموږ د نسبت څخه هغه شي مراد دی د کوم نفس نپاره خارج ظرف ږی. او دا مراد نه وی چې خارج دده د تحقق لپاره ظرف دی. د اول صدق د دوم صدق لره مستلزم نه دی.

عنوان آخر: مصنف او شارح نسبت د امورو خارجیو څخه شمېرلی دی. او د خارجي څخه مراد خارجي بمعنی الاعم دی. او دوی یې د اعتباري شیانو څخه نه بولي. او ددوی د اعتبار ي څخه اعتباري بمعني الاخص مراد دی. او د اهل المعقول (چې دوی نسبت د اعتباري شیانو څخه بولي) د اعتباري څخه مراد اعتباري بمعني الاعم دی. او دوی چې نسبت د امورو خاجیو څخه نه بولي ددوی مراد د خارج څخه خارجي بمعني الاخص دی.

سوال: دغه قول "فانا لو قطعنا" په بیان کي مستدرک دی. (حاشیة السید علی المطول ۱۶)

جواب: دغه قول ځکه مستدرک نه دی چې د شارح د مخکني قوله څخه دوې مدعاګانې معلومیږي.

۱: نفس القیام موجود في الخارج. او ددغې دعوې دلیل دا قول "فانا لو قطعنا" دی.

۲: وجود القیام نفس بموجود في الخارج". او ددې مدعي دلیل دا قول "للظهور" دی.

حاشیه نمبر ۳:

بیان ددې عبارت "ان النسبة خارجية": دادی چې خارج په دو معناګانو سره راځي.

۱: په معني سره د نفس الامر. ۲: خارج په معني سره داعیانو. او س خلاصه دا سوه چې ددې قول "ان النسبة خارجية" معني داده چې خارج په اوله معني سره ظرف لپاره د نفسي نسبت دی. او ددې قول "ان النسبة ليست خارجية" معني داده چې خارج په دومه معني سره ظرف لپاره د وجود د نسبت نه دی.

سوال: شارح ددوم "حصول القيام لذاته امر متحقق موجود" و فساد ته د تعرض نه کولو څه وجه ده؟

جواب: دغه څو وجې دي:

۱: ددوم فساد بنکاره مقرر دی. او بنکاره والي یې په دې وجه [illegible] اعتباري شیانو څخه ګڼل دي او دغه خبره په حاشیه نمبر ۲ کي تېره سوه.

۲: ددوم د فساد سره غرض په دې وجه تعلق نه لري چې ددوی په وړاندې مقرر او ثابت سوې شي(هغه دادی چې نسبت د ذهنیو شیانو څخه دی او د خارجیو"په معنی سره د اعیان"شیانو څخه نه دی) نقصان نه رسوی.او تردغه خبری (چې د نسبت په خارج کې کیدل په هغه معنی سره دی کوم چې موږ ذکر په دې عبارت سره"خارج سعی نفس الامر"ذکر کړی)پورې فساد تعلق نه لري.

حاشیه نمبر۶:

د شارح په دغه قول "غیر معتقد"کې دوې ډلې دي.

اوله: شیخ محمد بن محمد: د شارح ددې وینا پر ځای "غیر معتقد ذالک" داډول وینا "معتقدا خلاف ذالک"اولې او غوره وه.او د اولویت وجه داده چې د شارح قول پر دغه دواړو صورتونو صادقه ګرزی.

۱:اعتقاد د عدم د هغه خبري درلول کوم چې د کلام څخه فهمیږي.

۲: د متکلم د طرف د سره اعتقاد موجود نه سي؛ بلکه د ی شک کونکي وی. نو خبر د شک کونکي په کذب کې داخل دی. لهذا د شارح قول په دغه دواړو صورتونو صادقیږي. لهذا د شارح خبر په کذب کې داخل دی. نو بیا د شارح راتلونکي اشکال "وهذا یشکل بحر انسلاک نه سي راتلای. او که چیرې دغه ډول "معتقدا خلاف ذالک" وویل سي نو بیا دغه قول "معتقدا"په اول صورت صادقیږي.او دوم صورت د صدق او کذب ترمینځ واسطه ګرزی.نو په دغه وخت کې د شارح اشکال راتلای سي.(شروح التلخیص ۱۷۷/ج۱)

دوم: عبدالحکیم سیالکوټي: د شارح دغه قول "غیر معتقد آه" د تعریف سره "عدم مطابقة الاعتقاد آه"مطابق دی. او دغه تعریف په دواړو صورتوباندې صادقه دی.لهذا دغه قول "غیر معتقد"هم په صورتینو صادقه دی. (السوفی ۱۹۴/ج۱)

﴿فائده﴾: دردبیان: د شیخ قول د تعریف سره څکه مخالفه دی چې تعریف په صورتینو باندې صادقه دی لکه په دغه باندې د شارح دغه قول "اللهم الا ان یقال"ډلالت کوی.او د شیخ خبره په دوه صورته باندې صادقه نه دی.

حاشیه نمبر۸:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: د شارح دغه عبارت "لانه الحكم بخلاف آه" صحت څكه نه لري چې د دغه څخه د معلومېږي چې عتقاد په موهوم شي کې وجود لري. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده؟

جواب: مردا د حكم څخه په دې قول کې د شارح "لانه الحكم بخلاف آه" اعتقاد نه دی بلکه مراد هغه حکم دی کوم چې د کلام څخه (يعني نسبت كلامي) فهميږي. (المفصل ۵۵۴/ح۲ مع الزيادة)

صفحه نمبر ۴۱:

عبارت

و تمسک النظام ﴿بدليل﴾ قوله تعالي اذا جاءک المنافقون..... فانزل الله تعالي "اذا جاءک المنافقون" فبعث الي النبي ﷺ فقرأ، فقال ان الله قد صدقک يا زيد!

ترجمه

او نظام داقول ﴿د دليل﴾ په توګه وړاندی کړي دي، څه وخت چې منافقين تا ته راسي نو دوی وايي "مونږ دا ګواهي ورکوو چې ته د الله رسول يې. او الله ته معلومه ده چې ته د الله رسول يې او الله دې ګواهي ورکوي چې منافقين دروغجن دي". الله جل جلاله پر دوی قوي حكم کړي دي چې دوی په خپل دغه قول کې دروغجن دي سره ددې چې ددوی دغه حكم د واقع سره مطابق دي. لهذا که چيرې صدق دواقع سره د مطابقت څخه عبارت سي نو دغه حكم به صحت و نه لري. ﴿او دغه رد سوی دی﴾ دغه دليل دا ډول چې ﴿ددغه معني داده چې دوی په دغه ګواهي کې دروغجن دي﴾. او د موافقت په دعوی کې دروغجن دي. لهذا تكذيب ددوی ودې قول "نشهد" ته راجع دي (په اعتبار د ذات نه بلکه) په دې اعتبار سره چې دغه يو دروغجن خبر لره متضمنه دي. او دغه (دروغجن خبر دادی) چې زمونږ دغه ګواهي (پر دې خبره چې ته د الله جل جلاله رسول يې) په پورا توجه او د زړه په اخلاص سره ده. په دليل سره د "إنّ"، "لام" او جمله اسميه. او په دې کې کوم شک نسته چې (دغه خبر چې متضمنه ګواهي لره دی، او په پورا زړه سره کېدل) د واقع سره مطابق نه دی. څكه دوی داسي منافقين دي کو مو چې په ژبو سره هغه څه ويل کوم چې ددوی په زړو کې وجود نه لري. او کوم چې دا خبره تر سره سوېده "چې دغه كذب ددوی دې قول "نشهد" ته راجع سوی دی. او دغه خبر د واقع سره مطابق نه دی" دغه صحت نه لري، څكه مونږ دا خبره نه منو چې "نشهد" جمله خبريه ده بلکه دغه انشائيه ده. ﴿او﴾ معني داده چې دوی ددغه په مسمي کولو کې دروغجن دي. يعني دغه خبر "کوم چې د موافقت څخه خالي دی" په نامه سره د ګواهي په مسمي کولو کې دروغجن دي. څكه په ګواهي کې موافقت شرط سوی دی. او **په دغه کې نظر دی**، څكه دغه غلطي په لفظي اطلاق کې تر سره سوې وی. او دغه

دروغ نه دی. ځکه مسمي کول د شي په شي سره د باب ځخه د اخبار نه دی. او که **چیرې دغه خبره و منل سي** چې دغه مسمي کول خبر دی نو بیا دغه خبره کول چې په مطلقه ګواهي کې موافقت د زړه د ژبې سره شرط دی دغه د منلو وړ نه ده. **حاصل د جواب دادی** چې تکذیب ددوی و دې قول ته "چې ته د الله رسول یې" راجع کېدل په سند سره د دوو وجو ممنوع دی. د تسلیمولو په صورت کې جواب هغه دی د کوم و طرف ته مصنف په خپل دې قول سره اشاره تر سره کړې ده ﴿یا په مشهود به کې﴾ یعنې معنې داده چې هغوی په مشهود به کې دروغجن دې. یعنې په دې قول کې "ته د الله رسول یې" نه په واقع کې. ﴿بلکه په خپل فاسد زعم او باطله عقیده کې﴾. ځکه ددوی دا عقیده ده چې دغه "انک لرسول الله" مطابق د واقع سره نه دي. لهذا دغه قول ددوی په وړاندی دروغجن دی. مګر په حقیقت کې دغه رښتیونې دی. ځکه په دغه کې مطابقت د واقع سره وجود لري. پس په دغه کې ته فکر ووهه ددې لپاره چې ددې خبرې توهم تر سره نه سي چې دغه اقرار ددې خبرې دی چې صدق او کذب "په اعتبار د مطابقت او عدمې مطابقت د اعتقاد" سره دی. د دغه دوو معناګانو تر مینځ ډیر زیات فرق وجود لري. زمور په دغه ذکر سوی خبرې سره فساد د هغه قول نښکاره سو کوم چې دادول تر سره سوی دی چې حقیقي جواب دادی چې تکذیب ددوی و دې قول ته راجع کول "چې ته د الله رسول یې" ممنوع دی، او دغه درې وجې د دغه منعې د سند په توګه وړاندی سوی دي. په دې سره پوه سه چې دلته یوه بله وجه هم وجود لري کوم چې قوم ذکر کړې نه ده، هغه داده چې تکذیب راجع و قسم ته د منافقینو او ددوی و دې قول ته ده" دوی دا وېنا تر سره کړې نه ده چې تاسو پر هغه خلکو مه خرڅوی کوم چې د رسول الله ﷺ سره وجود لري. حتې چې دوی د نبي ﷺ ځخه لري سي. ځکه په صحی بخاری کې د زید بن ارقم ځخه روایت نقل سوی دی چې زه په جنګ کې شریک وم نو ما د عبدالله بن ابي بن سلول ځخه واورېده چې هغه ویل چې کوم خوک د علیه السلام سره دي پر هغوی خرڅول مه کوي ددې لپاره چې دوی د رسول الله ځخه لري سي. او څه وخت چې مور ددې ځخه (د هغه خای ځخه جېرې چې دوی موجود وه) و مدینه ته لاړ سو نو مور ځخه چې کوم عزت مند وی هغه به بې عزته و باسي. ما ددغه خبرې په هکله خپل آقا، آګاه کړي. هغه دغه خبره و رسوسل الله ﷺ ته وړاندی کړه. نو علیه السلام زه راوغوښتم، نو ما دغه حقیقتي حال ورته ورته وړاندي کړي، نو علیه السلام عبدالله بن ابي او ددې و ملګرو ته خبر ولېږي، لهذا دوی قسم پر دې خبرې واخیستي چې دوی دغه خبره کړې نه ده. په دغه وخته رسول الله ﷺ زما تکذیب او ددوی تصدیق یې تر سره کړي. نو ما ته داسي غم ورسېدی کوم چې ما ته هیڅ کله رسېدلي نه وو. زه په کور کې کښېنستم. ما ته آقا

Maktaba Tul Ishaat.com

وويل زما خو دا اراده نه وا چې رسول الله ﷺ دې ستا تکذيب او پر تا غضب وکړي. نو الله جل جلاله [illegible] راوليږل کړي [illegible] نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللهِ وَاللهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللهُ يَشْهَدُ إِنَّ [illegible] مُنَافِقُونَ [illegible] نبي ﷺ زه راوغوښتم، او ما ته يې دغه آياتونه وويل. او ما ته يې وفرمايل: اې زيد! الله جل جلاله ستا تصديق وکړي.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

سوال: صدق ددې خبرې څخه عبارت کړې [illegible] چې "مضمون دې" په دغه صورت کې د "کاذبون" ددې قول ته "انک لرسول الله" راجع کول صحت نه لري. ځکه دغه قول ددو ی د اعتقاد سره مطابق نه دی که څه هم مطابق د واقع سره دی؟

جواب: صدق ددې خبرې څخه "مطابقت د اعتقاد د واقع سره" عبارت [illegible] ګيرو ولې ورته نه لري. ځکه په دغه صورت کې به کذب ددو حالو څخه خالي نه وی.

۱: عبارت به د عدم المطابقتين څخه وی. نو بيا اطلاق د کذب "به [illegible] صحت ځکه نه لري چې ددوی دغه قول "انک لرسول" د واقع سره مطابق دی. لهذا اطلاق د کذب په دغه قول باندې به څرنګه صحت پيدا کړي. ځکه کذب د علم المطابقتين څخه عبارت دی. او حال داچې په ذکر سوي قول کې يو د مطابقتينو څخه وجود لري.

۲: يا به عبارت د عدمي احد المطابقتين څخه وی، په دغه صورت کې مفهوم د کذب اعم الصدق نه دی. که چيرې سي نو بيا به په هغه صورت کې چې رفع د عدم احد المطابقتين راسي صدق به ثابت سي. او حال داچې خبره دغه ډول نه ده. ځکه صدق د مطابقتينو په صورت کې ثابتيږي. او حال داچې مفهوم د کذب سلب الصدق دی. نو دا خبره ثابته سوه چې صدق عبارت د مطابقت څخه د اعتقاد او کذب عبارت د سلب څخه د مطابقت د اعتقاد دی. او دغه هم مطلوبه دی. (الزبدة ۲۰۰)

حاشيه نمبر ۴:

سوال: دغه تأکيدات په مشهود به کې دي (او مشهود به دادی "انک لرسول الله"). نه په شهادت کې (چې قول "نشهد" ددوی دی) حتی چې بيا وويل سي چې تأکيد د شهادت دا فائده کوی چې دغه شهادت د صميم (خالصه) القلب څخه دی؟

جواب: دغه تأکید ونه بالنظر ولازم ته د فائدې خبر دي. او هغه لازم د فائده سره د خبر دادی علمهم بانه رسول الله". ځکه دلته مخاطب د اصلي حکم "انک لرسول الله" څخه انکار کې نکي نه دي بلکه منونکي د اصل حکم او منکر د لازم فائدة الخبر "علمهم بانه رسول الله" څخه دی. نو دغوی مقصود د راوړلو څخه د دغه خبر ي و مخاطب ته "رسول الله ﷺ" د اخبره فائده رسول وه چې دوی عالمان او اعتقاد لرونکي په مضمون سره د دغه خبرې دي. او مخاطب انکار کونکي وو نو دوی خپل مقصود مؤکد کړي. او څه وخت چې خبر بالنسبت و لازم ته د فائده د خبر ته مؤکد وو نو بیا د دې قول "نشهد انک لرسول الله" رجوع زموږ و دې قول "علمنا بانک رسول الله ثابته تحقیقا" ته کیږي. لهذا په دغه ذکر سوي قول سره "علمنا آه" شهادت د صمیم القلب څخه دی. ځکه څه وخت چې مشهود به مؤکد وی نو بیا شهادت په دغه مشهود به سره د صمیم القلب څخه وی. (شروح التلخیص ۱۸۰/ج۱ مع زیادتی)

حاشیه نمبر۵:

په دې حاشیه کې څو شیان د تحقیق کولو لائقه دي.

اول: د قول د قیل بیان: قائل د دغه قیل علامه شیرازي دي. او مصنف د شیرازی د دغه عبارت "بان المعني لکاذبون فی الشهادة" څخه دافهمولېده چې موږ د تکذیب راجع کول و خبر ته (چې مشهود به دی) نه منو. ځکه راجعوالي د کذب د دوی و دې قول ته "نشهد" ممکنه نه دی.

دوم: د نظام د طرف څخه د رد بیان: په دغه قول سره "لظهور" نظام د "منعي" لانه خبر غیر مطابق آه "سند منعه کوي. منع د سند که څه هم مساوي د سند سره وی بیا هم د مقدمې منعیت "ان التکذیب راجع للمشهود به" اثبات نه فائده کوی. لهذا نظام د دې قول "کونه خبرا" د منعي "څخه اخیر اب وکړی او دعوی یې د دې خبري وکړه چې دغه د منعه سوی مقدمې د دعوې د اثبات انشاء ده. ځکه څه وخت چې "نشهد" انشاء سوه نو بیا د تکذیب راجع کول و دې قول ته "نشهد" صحت نه لری. لهذا تکذیب و مشهود به ته راجع سو.

دریم: بیان د سوال او جواب: سوال: دغه دعوي "کونه انشاء" دلیل نه لری. او ممنوع مقدمه په مجردی مدعي سره نه ثابتیږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: څرنګه دغه دعوي ښکاره وه په دغه وجه ددې دليل ذکر نه سو. او په حقيقت کې هغه دليل دادی که چيرې "اشهد" د شهادت څخه خبر ورکول سي نو دغه "اخبار د شهادت" بيا ددوی څخه د بل شاهد وجود تقاضي کوی. او دلته ددوی سره وجود د بل شاهد نسته. ځکه دوی په مقام کې د حکايت او خبرور کولو د بل شهادت څخه (چې هغه بالفعل په خارج يا په مستقبل کې وی) نه دي. بلکه دوی په دغه الفاظو سره په داسي مقام کې دي چې هغه انشاء او ايجاد د شهادت ده. (المفصل ۵۶۱/ج۲، مع الزيادة)

حاشيه نمبر۶:

سوال: د مصنف په دې قول "او في تسميتها" کې ځکه نظر دی چې مورږ دا نه منو چې دغه قول "لكا ذبون" راجع ودې قول ته دی چې دوی خپل قول په شهادت سره مسمي کړی دي. ځکه صدق او کذب په خبر کې جاری کيږي. او د شي مسمي کول په شي سره خبر نه دی. حتي چې بيا و دې ته تکذيب راجع سي؟

جواب: مراد د تکذيب د راجع کولو څخه و تسميه ته په اعتبار د هغه خبردی کوم ته چې تسميه متضمنه ده. او هغه خبر دادی "ان خبرنا هذا مسمى الشهادة اى من جزئياتها". لهذا خلاصه داسوه ددوی دغه قول "نشهد انک لرسول الله" مستلزم ومسمي کولو ته ددغه اخبار (چې خالي د مواطات څخه دی) په شهادت سره دی. او ددغه خبر په شهادت سره مسمي کول مستلزم و وخبر ورکولو ته دې خبري دی چې "ان قولنا هذا مسمى الشهادة". او تکذيب و دغه ضمني خبر ته راجع دی.

سوال: مورږ شرطول د مواطات په شهادت سره نه منو. ځکه کله دوی په دروغجني شهادت هم اطلاق د شهادت کوي. نو تکذيب راجع کول و تسميه ته صحت نه لری. ځکه دغه تسميه رښتني ده؟

جواب: ددوی د کلماتو څخه دا خبره مستفاديږی چې مواطات په شهادت کې معتبر دی. او اطلاق د شهادت په دروغجني ګواهي مجازاً وی. او دغه خبره د فوائدي غياثيه څخه منقوله ده.

حاشيه نمبر۱۱:

د محشي مقصد بيان د فساد د قيل دی. بيان دادی چي اولي دوي وجي که څه هم د جواب د سند جوړيدولو لپاره صلاحيت لري مګر درپيمه وجه دغه صلاحيت نه لري. ځکه دغه که چيري د جواب لپاره سند سي نو د ممنوعي مقدمي "ان التکذيب راجع الی المنهود به" او د سند تر مينځ به متحد والي راسي. او دغه متحد والي باطل دی.

صفحه نمبر ۴۲:

عبارت

﴿الجاحظ﴾ انکر انحصار الخبر في الصدق و الکذب و اثبت الواسطة . و تحقيق کلامه ان الخبر اما مطابق للواقع او لا . و کل منهما اما مع اعتقاد انه غير مطابق.....ان الاعتراض بانه لايلزم من عدم اعتقاد الصدق عدم الصدق ليس بشيء لانه لم يجعل عدم اعتقاد الصدق دليلاً علي عدم کونه صادقا بل علي عدم ارادتهم کونه صادقاً علي ما قررنا و الفرق ظاهر.

ترجمه

﴿جاحظ﴾ دخبر په صدق او کذب کې د منحصر کېدو څخه انکار کړی دي. او ده واسطه ثابته کړېده. تحقيق دده د کلام دادی چي خبر به يا د واقع سره مطابق وی او يا به نه وی. او هر يو ددوی څخه به سره د اعتقاد د موافقت (د واقع سره) وی او يا به سره د اعتقاد د عدمي موافقت (د واقع سره) وی، او يا به سره د دغه اعتقاد نه وی. نو دغه شپږ قسمونه دي. او يو ددغه څخه رښتيوني دی. هغه دادی چي دی مطابق د واقع سره وی او اعتقاد هم ددغه خبری وی. او يو دروغجن دی هغه دادی چي دغه خبر د واقع سره مطابق نه وی او اعتقاد هم ددې خبری وی چي دغه خبر د واقع سره مطابق نه دی. او پاته ځلور قسمونه نه رښتيوني او نه دروغجن دي. نو دده په وړاندی د خبر رښتياوالي عبارت ﴿د مطابقت څخه د خبر﴾ د واقع سره دی. ﴿سره ددې اعتقاد﴾ چي حکم ددغه خبر مطابق د واقع سره دی. ﴿او﴾ دروغجنوالي د خبر ﴿دده نه مطابقوالي دده سره دی﴾ يعني عدمي مطابقت د خبر د واقع سره دی سره ددې اعتقاد چي دغه خبر د واقع سره مطابقت نه دی. په اول کي مطابقت د خبر د اعتقاد سره لازميږی. او په دوم کي عدمي مطابقت د خبر د واقع سره لازميږی، ځکه دغه بدهي خبره ده چي دلته واقع او اعتقاد سره موافق وي. ﴿او ددوی دوو څخه سېوا﴾. او هغه پاته ځلور دي. **مراد زما دادی(۱)**: مطابقت د واقع سره وی او اعتقاد د عدمي مطابقت وی. (۲) او يا اعتقاد د سره نه وی. (۳) مطابقت د واقع سره نه وی سره د اعتقاد د

Maktaba Tul Ishaat.com

مطابقته.(۲) او یا د سره مطابقت نه وی. ﴿صادق او کاذب نه دي﴾. او دده د تعریف مطابق هر یو د صدق او کذب څخه خالص نر هغه صدق او کذب دي کوم چې جمهورو او نظام یې تعریف تر سره کړی دي. ځکه جاحظ په هر یوه کې د صدق او کذب یوځای والي د هغه دوو (۱: مطابقت د واقع سره، ۲: مطابقت د اعتقاد سره) معتبر کړي دي. د کوم پر یوه جمهور او نظام کفایت کړی دي. ته په دغه کې فکر ووهه. دیر ځلي په دغه ځای کې او په تقریر کې د نظام د مذهب فساد تر سره کیږی. د مفتاح په شرح کې په دغه ځای کې هغه خبری تر سره سوی دي د کوم څخه چې تعجب و کمال ته رسي. او جاحظ د دلیل په توګه ﴿دا قول "آیا پر الله یې دروغ ویلي دي او که ده له هغه نه نوتوب ثابت دي"﴾ وړاندی کړي دي. ځکه کفارو په طریقه د منعي الخلو د رسول الله ﷺ د حشر په هکله خبر په دغه دوو صورتونو کې حصر کړی دي چې هغه دروغ او د نبوتوب په حالت کې خبر ورکول دی. او په دې خبره کې شک نسته چې ﴿مراد په دوم سره﴾ یعني د نبوتوب په حال کې خبر ورکول ﴿پرته د کذب دی، ځکه دغه دوم د هغه مقابل دی﴾ یعني د نبوتوب په حال کې خبر ورکول مقابل د کذب دی. ځکه د آیت معني داده: ده دروغ ویلي دي او که یې خبر په حال کې د نبوتوب ورکړي دي. لازمه داوی چې مقابل د شي پرته د هغه شي وی. ﴿او صدق هم نه دی، ځکه دوی د دغه عقیده نه لری﴾ یعني د صدق. لهذا ځه وخت چې دوی د رسول الله ﷺ د کذب اظهار و کړي نو دغه وخت دوی اراده د دې خبری نه لری چې د رسول الله ﷺ کلام هغه رښتیوني دی کوم چې د دوی د عقیده څخه یوه ډیر لری خبره ده. که چیری مصنف د دغه پر ځای (لانهم لم یعتقدوه) دا ډول وینا تر سره کړې وای چې کفارو د رسول الله د عدمي صدق اعتقاد لری نو دغه به د ډیره شکاره وای. او دغه ډول دغه قول ام به جنۍ پر دی دلالت نه کوی چې دی په یو وجه سره د وجوهو رښتیوني دي. لهذا د ام صدق څخه تعبیر په ام به جنۍ سره کول صحت نه لری. نو د دوی مراد "په وخت کې د نبوتوب خبر ورکولو څخه" نه صدق او نه کذب دی. دوی عقل مند او خاوندان د ژبې دي. او دوی پیژندونکي د لغت عربي وه. نو دلته دا لازمه ده چې د خبر یو داسي قسم وجود پیدا کړی چې هغه نه رښتیوني او نه دروغجن وی. د دې لپاره چې د جنون په حال کې خبر ورکول د دوی د ګمان مطابق د دغه قسم څخه ګڼل کیږی. که څه هم دی (ﷺ) په واقع کې رښتیوني وو. نو دا خبره معلومه سوه چې هغه اعتراض "کوم چې پر دغه توجیه وارد سوی وو چې ویل سوی دی چې د عدمي اعتقاد څخه د صدق عدمي صدق نه لازمیږی" د اعتبار وړ نه دی. ځکه مصنف عدمي اعتقاد د صدق د عدمي صدق دلیل ګرزولي نه دي. بلکه ده عدمي اعتقاد د صدق یې دلیل پر دې خبری ګرزولي دي

چې کفارو د نبي د کلام د رښتيوالي اراده نه لرل، او دعه خبره بناء پر هغه ده کوم چې مور بيان کړه. او ددوی ترمينځ فرق ښکاره دی.

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱:

د قولينو بيان: د شارح په دې عبارت کې "مع الاعتقاد" دوې ډلې دي:

(۱): **علامه لاهوري رحمه الله تعالى:** په قرينه سره د مقام هغه شي حذف سوی دي د کوم سره چې اعتقاد تعلق لری. ځکه دلته صدق او کذب لپاره د جاحظ په کړل سوی تعريف کې اعتقاد راغلي دی. او دغه راتلل دلالت په مراد د دې کوی چې اعتقاد په جانب کې د صدق په معنې سره د "اعتقاد بكون الخبر مطابقا للواقع" دی.

۲): **علامه فنري:** الف لام په "الاعتقاد" کې لپاره د عهد دی، او معهود هغه اعتقاد دی کوم چې د دې قول "كون الخبر مطابقا للواقع" سره تعلق لری.

بيان د دې په علامه فنري باندې: که چيرې الف ولام لپاره د عهد سي. او معهود هغه اعتقاد سي کوم چې د دې "كون الخبر مطابقا للواقع" سره تعلق لری نو دغه وخت د راجع او مرجع ترمينځ د اختلاف راتلل لازميږي. ځکه د "معه" ضمير راجع و اعتقاد ته دی. او شارح د دغه اعتقاد تفسير په هغه اعتقاد سره کړی دی کوم چې تعلق د "كون الخبر غير مطابق للواقع" سره لری. نو مرجع د هغه اعتقاد څخه عبارت ده کوم چې تعلق د "كون الخبر مطابق للواقع" سره لری. او راجع بيا د هغه اعتقاد څخه عبارت ده کوم چې تعلق د دې قول "كون الخبر غير مطابق للواقع" سره لری.

سوال: کوم اعتراض چې په علامه فنري واردږي هغه اعتراض په علامه لاهوري هم واردږي، ځکه څه وخت چې د اعتقاد څخه په قرينه سره د مقام هغه اعتقاد واخيستل سي کوم چې تعلق د "كون الخبر مطابقا للواقع" سره لری نو بيا دغه اعتقاد مرجع او ضمير د "معه" ورته راجع دی؟

جواب: تعريف د حقيقت لپاره وی. اعتقاد د مطابقت او د عدمي مطابقت خاصو الي په واسطه سره د قرينه لری. لکه څه ډول چې په "ادخل السوق" کې دغه خبره ترسره سوېده (چې مدلول ماهيت دی. او بعضيت د خارج څخه معلوميږی، او دغه په بعضيت باندې قرينه ده). لهذا د اول شق څخه سوا قرينه پر دې دلالت نه کوي چې د اعتقاد متعلق مطابقت دی. او دغه قرينه بيا دلالت

Maktaba Tul Ishaat.com

په مطابقت بالنسبت راجع کولو ته د ضمیر نه کوی. بلکه قرینه په دغه وخت کې دلالت په دې کوی چې متعلق د دغه اعتقاد (چې دهغه څخه ضمیر عبارت دی) عدمي مطابقت دی خلاصه داسو چې څه وخت د اعتقاد څخه معهود اعتقاد مراد سي نو بیا جلاوالي د معهود ممکن نه دی. په خلاف ددې چې د اعتقاد څخه مطلق سره د تقییده په واسطه د قرینې مراد سي. ځکه قرینه پر هغه شي دلالت کوی د کوم تقاضي چې حال کوی. (فیض الفتاح ۶۷ الجزء الثاني)

حاشیه نمبر۲:

سوال: د جاحظ په وراندې صدق د "مطابقة الخبر للواقع والاعتقاد معا" څخه عبارت دی. او دده په وراندې کذب عبارت د "عدم مطابقة الخبر للواقع والاعتقاد جمیعا" څخه دی. او دغه د کلام څخه د مصنف نه مستفاد دیږي. ځکه مصنف په اول کې "مطابقة الاعتقاد" او په دوم کې "عدم مطابقة [illegible]" ذکر کړی نه دي؟

حاشیه نمبر۳:

جواب: د مصنف ذکر سوې خبره که څه هم د جاحظ پر مذهب مطابقتاً دلالت نه کوی مګر پر هغه التزاماً دلالت کوی. ځکه د مصنف ددې قول "مطابقته للواقع مع الاعتقاد" څخه مراد دادی چې خبر په دوو عنوانو سره معنون دی.

۱: "کون الخبر مطابقا للواقع". ۲: "کون الخبر مصاحبا لاعتقاد انه کذالک". نو اعتقاد او واقع سره موافق دي. د مثال په توګه یو متکلم ووایي "العالم حادث". نو خبر د واقع سره مطابق دی. او متکلم د دې اعتقاد لري چې خبر د واقع سره مطابق دی. نو اعتقاد او واقع سره موافق دي. (کذا فی شروح التلخیص ۱۷۵/ج۱). مطابقت د اعتقاد او واقع سره مستلزم دې خبری لره "کون الخبر موافقا للاعتقاد ایضا" دی. ځکه موافق د موافق د شي موافق د دغه شي وی. او په دغه صورت کې ترتیب د قیاس دادول دی "الخبر موافق للواقع. والواقع موافق للاعتقاد. فینتج الخبر موافق لموافق الاعتقاد". او بیا مورِ ووایو "الخبر موافق لموافق الاعتقاد. و کل موافق لموافق الاعتقادموافق للاعتقاد. فینتج الخبر موافق للاعتقاد". او دغه هم زمورِ مطلوب دی. او د مصنف ددې قول څخه "کذب الخبر عدمهامعه" مراد دادی چې خبر په عنوانینو سره معنون دی.

"كون الخبر غير مطابق للواقع" كون الخبر مضاحيا لاعتقاد انه كذا"ك" نو واقع "او" اعتقاد" سره موافق دي. د مثال په توګه يو کس ووايي "العالم قديم". نو خبر د واقع سره موافق نه دی. "او" نه دغه کس اعتقاد د عدمي مطابقت د واقع سره لري. نو واقع او اعتقاد سره موافق دي. (خروج المحصر ۱۱۵/ج۱). موافقت د اعتقاد او د واقع مستلزم دي ځکه "كون الخبر غير مطابق للواقع ايضا" دی. ځکه غير دي مطابق د موافق سره دشي غيري مطابق د دغه شي سره وی. او په دغه صورت کي قياس دا ګرزي "الخبر مخالف لموافق الاعتقاد. و كل مخالف لموافق الاعتقاد مخالف للاعتقاد. فينتج الخبر مخالف لموافق الاعتقاد" او بيا مورږ ووايو "الخبر مخالف لموافق الاعتقاد. و كل مخالف لموافق الاعتقاد مخالف للاعتقاد. فينتج فالخبر مخالف للاعتقاد". (المفصل ۵۷۱/ج۲)

حاشيه نمبر۵:

په دې حاشيه کي دوه شيان د بيان ورږ دي.

اول: دعدمي خبط بيان:

بعضو خلکو (خلخالي) د کذب او صدق ترمينځ د واسطه راتلو څخه دځان ژغورولو په خاطر مشکوک خبر نه بولي (ځکه د خبر کېدو په وجه سره خبر به په صدق او کذب کي حصر نه سي ځکه مشکوک به ددوی ترمينځ په حيثيت د واسطه راسي. لهذا ددغه واسطې څخه د ژغورولو په خاطر دی د سره خبر نه دی. نو خبر په صدق او کذب کي حصر سو). او حال داچي مشکوک خبر او واسطه نه لازميږي (ځکه دی په کذب کي داخل دی نو خبر صادق دي يا کاذب وی پرته ددې بل څه نه وی). نو د دغه توهم د ترسره کېدلو "چي مشکوک خبر نه دی" خبط راتلل دی. او دغه خبط په نفسي تقرير کي د مذهب د نظام نه دی. ځکه دده د مذهب مطابق واسطه منتفي ده. او بناء بر دغه ددغه بعض د قول مطابق په مذهب کي د نظام هم واسطه منتفي ده. لهذا منتفي والي د واسطه بعينه مذهب د نظام دی.

دوم: د تأمل بيان: په دغه کي اشاره و تأمل ته کېدای سي داډول چي ددغو بعضو په قول کي "کوم چي په بيان کي د مذهب دی" خبط دی. ځکه دغه بعض قول په انتفاء سره د واسطه په دې وجه کوی (يعني مشکوک واسطه نه بولي) چي مشکوک کلام تام نه دی. او دغه د نظام مذهب نه دی. ځکه مذهب د نظام دادی چي مشکوک په کذب کي داخلېدو په وجه واسطه وجود نه پيداکوی. والله اعلم بحقيقة الحال.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۶:

اول دلیل: دغه آیت "لوکانوا یعلمون" (یعنې که چیری دوی لره ددغه شراء په هکله علم وای نو دوی به ددغه شراء څخه منعه سوی وای، مګر دوی لره په دغه هکله علم نسته په دغه وجه دوی ددغه شراء څخه منعه نه سوه) یو داسي خبر دی کوم چې و یهودو ته وړاندی سوی دی. او دوی په دغه دواړو فائدو (فائده د خبره، او لازم د فائده د خبر) علم لري. بیا دوی په منزله د جاهلانو و ګرځول سوه او دغه آیت ورته وړاندی سو.

دوم دلیل: "لقد علموا الخ" دغه آیت هم یهودو ته ملقي او وړاندی سوی دی. او سره د دې چې یهودو په دغه فائده سره د خبر علم لری مګر بیا هم دوی د جاهلانو غوندی و ګرځول سو، او دوی ته یو داسي کلام وړاندی سو کوم چې و جهالو ته وړاندی کیږی.

۲: بعضي علماء بیا فرمایلي دي چې دغه آیت د دویمي قبیلې څخه دی. او دغه رأی د ماتن او شارح هم معلومیږی.

علامه سکاکي: ده په مفتاح کې دغه آیت وړاندی کړي دي او د دغه په هکله یې ویلي دي "و ان شئت فعلیک بکلام رب العزة الخ". او ماتن د تلخیص دغه قول د سکاکي په خپل کتاب ایضاح کې ذکر کړی دي او تر هغه ورسته یې فرمایلي دي "و فیه ایهام ان الایة الاوالي من امثلة تنزیل العالم

بفائدة الخبر و لازم فائدته منزلة الجاهل بهما، و ليس منها بل هي من امثلة تنزيل العالم بالشيء منزلة الجاهل به لعدم جريه علي موجب العلم و الفرق بينهما ظاهر" يعني د سكاكي د وړاندې سوې مثال څخه دا خبره ښكاري چې ده اونني آيت " لقد علموا "ته" عالم په دو فائدو (فائده: خبر او لازم د فائده: خبر) سره په منزله د جاهل "په دغه فائدو سره" د ګرزولو لپاره مثال بللي دی او حال دا چې دغه ذکر سوی آيت دغه مثال نه دی بلکه تنزيل العالم بمنزلة الجاهل لپاره مثال دی. او ددوی دواړو تر مينځ فرق ښکاره دی. ګواکې د ماتن په وړاندې دغه ذکر سوی آيت تنزيل العالم بفائدة الخبر بمنزلة الجاهل د قبيله څخه نه دی او د شارح هم دغه رأی ده. په دغه وجه شارح د سکاکي د قول د رانقل کولو ورسته ددغه سکاکي د قول تفسير په دې الفاظو سره وړاندې کړي "که چيرې ستا دغه خوښه سي چې ته دا خبر وپيژني الخ".

سوال: په دې خبره څه دليل وجود لري چې دغه آيت مثال لپاره د عالم بفائدة الخبر بمنزلة الجاهل مثال نه دی؟

"لان هذا الكلام يلوح عليه اثر الاهمال" **جواب:** (دغه رد پر اول دليل دی) که چيرې دغه آيت مثال لپاره د عالم بفائدة الخبر بمنزلة الجاهل و ګرزول سي نو دغه آيت به پر نقيضينو مشتمله و ګرزی، ځکه په دغه آيت کې په دې الفاظو سره "لقد علموا لمن اشتراه" يهودو لره علم ددې خبر ثابت سوی دی چې دوی په مضمون ددې خبرې علم لری چې دوی لره په آخرت کې کومه صحه نسته، او بيا ددغه علم نفي ددوی څخه په دغه آيت کې په دې الفاظو سره "لو كانوا يعلمون" سوی دی. او تنزيل د عالم "په فائده سره او يا په لازم سره د فائدې خبر" په منزله د جاهل د ګرزولو په صورت کې اثبات د علم د سره نه وی، او دلته په "لقد علموا" سره علم ثابت ددوی لپاره ګرزول سوی دی. او دغه ډول په دغه صورت کې (تنزيل العالم بفائدة الخبر منزلة الجاهل) نفي د علم صراحتاً نه وی بلکه ضمناً وی (او حال دا چې دلته صراحتاً نفي په دې قول " لوكانوا يعلمون" سره تر سره سوی دی). لهذا دغه آيت په صورت کې د تنزيل العالم بفائدة الخبر بمنزلة الجاهل بې معنې و ګرزېدی.

"لان هذا الخطاب لمحمد عليه السلام"۲: (دغه رد پر دوم دليل دی) خلاصه د رد داده چې دغه دليل (کوم کس دغه آيت مثال د عالم بفائدة الخبر بمنزلم الجاهل لپاره بللي دی د هغه په وړاندې دغه آيت " لقد علموا الخ" القاء و يهودو ته سوبده، سره ددې چې دوی په دغه سره خبر دي. بيا دوی په منزله د جاهل بفائدة الخبر و ګروزول

Maktaba Tul Ishaat.com

سوه) باطل دی ځکه دغه خطاب و یهود و ته نه دی بلکه علیه السلام او دده و اصحابو ته دي. او علیه السلام وددده صحابه رضی الله عنهم په فائده سره ددغه خبر علم نه درلودي (پاته داخبره چي علیه السلام به په دعه فائده سره خبر وو. بیا دوی په منزله د ناخبره وگرزول سوه او دوی ته دغه کلام وراندی سو، چي بیا دعه تنزیل العالم بفائدة الخبر بمنزلة الجاهل و گرزول سي، او دوی ته بیا دغه کلام وراندی سو. نو پر دغه خبره کوم دلیل وجود نه لری، که یې چیری لرلای نو بیا دغه خبره صحت پیدا کوی چي دغه آیت مثال لپاره تنزیل العالم بفائدة الخبر بمنزلة الجاهل گرزول سوی دی).

۳: دغه دوارِه دلائل (کوم چي دغه علماؤ وراندی کړي دي چي دغه آیت مثال لپاره د عالم بفائدة الخبر بمنزلة الجاهل گرزول دی) د مفتاح د کلام سره مخالفت لري، لهذا دغه یو داسي توجیه ده چي په کوم سره قائل راضي نه دی.

قال الشیخ: سوال: د ماتن کلام د شیخ د کلام څخه مخالفه دی، ځکه د ماتن د کلام څخه دا معلومیږی چي یو مؤکد (هغه شي چي د تأکید لپاره استعمالیږی) د مثال په توگه "ان" هلته استعمالیږی چیرې چي مخاطب مترددِ وی، او د شیخ کلام څخه بیا دا معلومیږی چي استعمال د "ان" د هغه مخاطب لپاره استعمالیږی کوم چي گمان په خلاف د هغه څه کوی کوم چي ته په جواب کي دده وراندی کوې؟

جواب: دلته د ماتن په کلام کي مترددِ په معني سره د هغه چا دی چي جزم کونکي نه وی، نو د غه ذکر د خاص (مترددِ) او مراد عام (غیری جازم) دی، ددغه قبیله څخه ذی. او عدمي جزم تردد او ظن دوړو ته شامله دی.

حاشیه نمبر۲:

سوال: مفعول د "شئت" په دې قول کي د صاحب المفتاح "و ان شئت فعلیک" څوک دی؟

جواب: د "شئت" مفعول "تنزیل العالم بالفائدة و لازمها منزلة الجاهل بهما" دی.

سوال: پر دغه خبره څه دلیل وجود لري چي مفعول د "شئت" "منزیل العالم الخ دی؟

جواب: دلیل دادی چي صاحب المفتاح مقصد د استبعاد او لروالي ختمول دی (یعني دغه راوړل د عالم په مرتبه د جاهل کي یو لری خبره ده نو ددغه لری والي لپاره صاحب المفتاح دغه کلام راوړی). او استبعاد په راوړولو کي دالعلم په منزله سره د الجهل دی. او په دغه کي ددغه

استبعاد خصوصیت لره د متعلقاتو دخل نسته. ځکه استبعاد په تنزیل کې د وجود د شي په منزله د عدم دشي دی، (قطعه نظر ددې خبرې څخه چې دغه موجود شي علم او که بل څه وی). لهذا صاحب المفتاح دد غو شیانو د اثبات لپاره دغه خبره راوړه.

حاشیه نمبر۳:

سوال: دغه آیت مبارکه دلیل پر "تنزیل العالم بمطلق الشي منزلة الجاهل" باندې صحت نه لری. ځکه په دغه آیت مبارکه د هغه کس راوړل" چې هغه په کمزور والي او ردي والی باندې د رانیولو علم لري "په منزله د هغه کس دی چې هغه په دغه سره ناپوه وی. او دلیل پر تنزیل العالم بمطلق الشي بمنزلة الجاهل نه دی چې بیا دغه پر هغه باندې دلیل و ګرزی؟

جواب: خبره دا ستا ډول ده مګر د خارج څخه عدمي تخصیص معلومیږی. لهذا د خارجي قرینه (یعني خصوصیت لره د "کون متعلق العلم رداءة الشراء" دخل په علم کې پر دې خبره نسته چې عالم په منزله د جاهل ګرزول سوی دی) په معاونت سره د آیت څخه تنزیل د علم مطلقاً فائده کیږي. او د آیت څخه مستفاد عموم د متعلّق د علم دی. نو خلاصه د مخکني بیان داسوه چې صحت د تنزیل مطلق العلم په معاونت سره د خارجي قرینه مستفاد یږي.

حاشیه نمبر۵:

په دغه حاشیه کې څو شیان د بیان لائقه دي.

اول: د صاحب المفتاح د قول بیان: د صاحب المفتاح کلام څخه صراحتاً دا خبره معلومیږی چې عالم اهل الکتاب دي، او منفي ددوی هغه علم دی کوم چې دوی لره په مضمون د "لمن اشتراه ماله فی الآخرة الآیة" ثابت دی. لهذا عالم اهل الکتاب او معلوم منفي مضمون ددغه آیت "لمن اشتراه" دی.

دوم: د کلام داول ویونکي سره د ما یلزم بیان: هغه معلوم" چې علم پر ده په منزله د جهل ګرزول سوی دی" مضمون ددې حکم "لو کانوا یعلمون" دی، او مضمون ددغه آیت "لبس لهم علم" دی. نو د دغه کلام مطابق دلته دا خبره لازمه ده چې هغه کس کوم چې علم پر "لبس لهم علم" لری هغه به مخاطب په دغه مضمون سره وی، ځکه فائده او لازم الفائدة بالنسبت و مخاطب ته وی. او ددغه کلام مخاطب سردار ددوارو جهانو ﷺ او دده صحابه رضوان الله اجمعین دي. نو عالم

Maktaba Tul Ishaat.com

به هم دوی وي. لهذا د صاحب المفتاح به کلام موافق عالم اهل الکتاب وو. او د دغه قول موافق عالم نبي الله ﷺ او دده صحابه دي. او د مفتاح په قول کي معلوم مضمون د "لمن اشتراه" دی او بناء بر دغه مضمون د دغه حکم "لو کانوا یعلمون" دی.

درېیم: ددوم ویونکي د کلام او د هغه سره د لازم بیان: د دغه ویونکي کلام څخه صراحتاً دا معلومیږی چي معلوم مضمون د دې قول "لقد علموا لمن اشتراه" دی. او د دغه کلام مطابق مخاطب د دغه کلام عالم په دغه سره دي. او په دغه کلام سره مخاطب اهل الکتاب نه دي لکه تا چي دغه خبره وپیژندل. بلکه مخاطب په دغه سره نبي الله ﷺ او دده صحابه دي. لهذا دلته اختلاف د قولي اول غوندی دی.

حاشیه نمبر۹:

سوال: مراد د شارح د دې قول "بوقوع النسبة" څخه دادی "ان النسبة واقعة او لیست بواقعة". او دغه مرکبي تام دی، مګر شارح د دغه مرکبي تام څخه تعبیر په مرکبي تقیدي سره وکړي، د دې څه وجه ده؟

جواب: چي تصریح د دې خبره راسي چي خلود حکم څخه عبارت د نه تعلق لرو د علم د وقوع او لا وقوع سره دی (یعني علم تعلق د وقوع او لا وقوع سره نه لري. او دغه مقصد په مرکب تقیدي سره لاس ته راځي. ځکه د مرکب تقیدي په صورت کي نسبت موضوع ګرزول سوی نه وی. حتي چي بیا دغه خبره تر لاسه چي مجهول فقط وقوع او لا وقوع ده نه نسبت. لکه په دې قول "ولا مترددا فی ان النسبة الخ" کي د محشي نسبت مجهول نه بلکه وقوع او لا وقوع یې مجهول دي).

سوال: خلو عن الحکم په صورت کي علم تعلق د وقوع او لا وقوع سره نه لري د دې مطلب څه دی؟

جواب: مطلب د دې دادی چي په خالي والي کي د ذهن د حکم څخه دا خبره کفایت کوی چي علم تعلق تر وقوع او لا وقوع پورې و نه لري، ځکه تا دا خبره و پیژندل چي حکم عبارت د دې خبرې څخه دی "نسبت تر مینځ د طرفینو واقع دی". او څه وخت چي علم تعلق تر وقوع پورې و نه لري نو ذهن د حکم څخه خالي و ګرزی، عام تر دې بیا علم محض تر نسبت پورې تعلق و نیسي دا دول چي د نسبت په دې حیث تصور و سي چي دی یو تعلق تر مینځ د طرفینو دی قطعه نظر د دې څخه چي دغه واقع په نفس الامر کي دی او که نه دی.

سوال: خلو عن التردد څه حکم لري؟

جواب: په دغه صورت کې د تصور څخه د نسبت چاره نسته. ځکه که چيرې د نسبت تصور و
يسي نو ذهن به د علم څخه خالي و ګرزي مګر د تردد څخه به خالي و نه ګرزي، بلکه هغه ب-
ته سي . او محشي په حاشية العقائد کې ويلي دي چې شک په دې حيث چې دي تصور لپاره
نسبت په حيث د نسبت دي نو بيا ده لره نقيض نسته. او شک په دغه اعتبار په علم کې داخل
ي. او شک په دې حيث چې په ده کې راتلل د نفي او اثبات په طريقه د مساوات جائز دي، په
غه صورت کې تردد او اضطراب حاصل سي.نو په دغه وخت کې ده لره نقيض سته. ځکه
ک په دې اعتبار سره چې دده سره نفي تعلق نيسي نقيض د هغه شک دي کوم سره چې
ثبات تعلق لري. او شک په دغه اعتبار د علم څخه وتلي دي. او مراد په هغه نسبت سره چې د
غه تصور سوی وي نسبت في نفسها دي قطعه نظر د نفس الامر څخه، بلکه په دې حيث سره
ي چې دغه نسبت يو تعلق ترمينځ د طرفينو دي. لکه پر دغه د محشي دا قول "بذكر الاستفهام
د النسبة" دلالت کوي. ځکه حکم وقوع او لا وقوع ده. نو حاصل د بيان داسو چې دمخکني
ان دپيژندلو څخه ورسته ددې خبرې پيژندل رائي چې محشي خلو عن التردد په صورت کې
تبار د وجود د تصورد نسبت کړې دي. ځکه خالي والي د تردد څخه عبارت ددې خبرې
خه نه دي چې په دغه صورت کې علم تر يو شي پورې تعلق نه لري. بلکه د تردد څخه د خالي
لي معني داده چې دده په ذهن کې هغه تردد حاصل نيسي کوم چې د نفي او اثبات د دواړو د
نګ د برابرې په صورت کې پيدا سوی وی. لهذا نفي سوی محض تردد دی. په خلاف
الي والي د حکم څخه . ځکه د حکم څخه خالي والي دادی چې علم تعلق تر يو خاص شي
ری نه لري. او دغه نفي د هغه شي دی چې هغه په قيد سره مقيد "تعلق العلم بشي خاص"
ي.لهذا خلو د حکم په نفي کولو سره د قيد او د مقيد صادقيږي. او محض په نفي والي سره
يدد نه صادقيږي.

حاشيه نمبر ۱۰:

ال؛ په نحو کې داخبره ثابته سوېده چې د "هل" مقابل راوړل صحت نه لري، ځکه "هل" لپاره د
ديق د طلب وضعه سوی دی. او دده مقابل راوړل تقاضي ددې کوی چې "هل" د طلب څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

د تصديق خارجه او لپاره د طلب د تصور وګرزي. لهذا د شارح دغه عبارت "هل هي واقعة ام لا" صحت نه لري؟

جواب: دلته "ام" منقطعه په معني سره د "بل" دی. د عبارت معني دا ګرزي "ولا ترددا في ان السبة هل هي واقعة بل ا ليست واقعة". اوس "هل" لره مقابل نه راغلي. بلکه کلام په حقيقت کي دوه استفهام څخه و بل استفهام ته په منتقل والي مشتمله دی. او شارح اشاره کونکي ودې خبرې ته سو چې ګواکي سوال کونکي اول ګمان ددې خبرې وکړي چې د مخاطب په وړاندې دغه کس زيد دی نو بيا ده د مخاطب څخه سوال وکړي. و رسته تر دې بيا سوال کونکي ته دا ګمان وړاندی سو چې د مخاطب په وړاندې زيد نه دی نو بيا استفهام سوال کونکي د مخاطب څخه وکړي. او د "ام" منقطعه استعمال سره د "هل" او دغه ډول د نورو استفهامي حروفو سره روا دی. (کذا في الشروح ۲۰۳/ج۱)

حاشيه نمبر۱۱:

سوال: په قسم سره د حکم تأکيد کيږي، اودی د مخاطب د انکار په صورت کي راوړل کيږي. او حال دا چې دلته شارح ذکر کړی نه دی نو د نه ذکر کولو يې څه وجه ده؟

جواب: حُکه د مستغني والي ددغه مؤکداتو څخه مستغني والي د قسم څخه وی. حُکه د راوړ ولو څخه ددغه بعضو مؤکداتو سره د د قسم چاره نه وی. لهذا څه وخت مستغني والي ددوی څخه مستغني والي لره د قسم مستلزم وو نو بيا دده د ذکر کولو ضرورت پاته نه سو.

حاشيه نمبر۱۲:

مقصد د محشي بيان د شارح ددې عبارت "واسمية الجملة" دی. خلاصه داده چې بعضو دا خبره ذکر کړيده چې د شارح په دغه قول سره مراد "صيرورة الجملة اسمية" ده. اودغه د عدول په مقام کي د جمله فعليه څخه د جمله اسميه جوړول دا ډول وی چې د طبعيت تقاضي داوی چې راتګ په فعليه سره وسي، مګر څه وخت په فعليه سره راتګ ونيسي، نو بيا په اسميه سره راتګ وسي. او دغه ډول نه ده (لکه دغه بعضو چې ويلي دی). بلکه د شارح مقصد دادی "کونها اسمية". او تأکيد په جمله اسميه سره تابع د مقتضي د حال او مقام دی. د مثال په توګه لکه څه وخت چې مخاطب ډير زيات انکار کونکی حکم لره وی. او يا حکم د هغه شيانو څخه وی چې ډير زيات

ددې په شأن سره غم خوردني او دده خيال ساتل کيږي. په دغسي ځايونو کې جمله اسميه تأکيد فائده کوي. که څه هم دغه معدوله نه وي. لکه څه ډول چې جمله اسميه دلالت په دوام کوي، او دغه دلالت يې تابع مقتضي لره د مقام وي.

حاشيه نمبر ۱۳:

و دغه حروفو ته زوائد او صله ويولو د تسميه د وجې بيانول د دغه حاشيه څخه مقصد دي. خلاصه داده چې دغه حروفو ته حروف د صله ځکه ويل کيږي چې دغه حروف تأکيد کونکي هغه اتصال او ربط لره دي کوم چې په مابين د طرفينو د کلام موجود وي. او دغه حروفو ته ځکه زوائد ويل کيږي چې دوی په اصلي معني باندې د کلام زيات سوی وي.

حاشيه نمبر ۱۴:

سوال: دغه عبارت "اکثر مواقع ان آه" صحت نه لري، ځکه د دغه عبارت څخه دا معلوميږي چې جواب محصوره په "ان" کې دی. ځکه په دغه عبارت کې ضمير د فصل راغلې دی. او دغه ډول لفظ د جواب هم معرفه راغلې دی. او حال دا چې عبارت په جواب باندې محصوره نه دی. ځکه د مؤکد اتو څخه پرته د "ان" بل هم په جواب کې راځي؟

جواب: دغه عبارت صحی دی، او ضمير فصل لپاره د حصر نه دی. بلکه لپاره د تأکيد دی او لفظ د جواب معرفه کېده هم لپاره د حصر لپاره نه دی، بلکه دغه الف ولام د عهدی ذکر لپاره دی. او دغه دې خبری د دعوی کولو لپاره دی چې په دې قول "اکثر مواقع ان" کې جواب ضمناً تېر سوی دی. ځکه مشهوره دا وی چې "ان" په مقام کې د جواب واقع کيږي. لهذا په محض ذکر کولو سره د اکثرو مواقعو د "ان" متبادره ددغه څخه جواب دی.

صفحه نمبر ۴۸:

عبارت

﴿کما قال الله تعالى حكاية عن رسل عيسى عليه السلام اذ كذبوا في المرة الاولى انا اليكم مرسلون﴾ مؤكداً بان و اسمية الجملة. .....﴿فيجعل غير السائل كالسائل اذا قدم اليه﴾ أى الى غير السائل ﴿ما يلوح له﴾ أى لغير السائل ﴿بالخبر﴾ أى يشير اليه.

ترجمه

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه څرنګه الله جل جلاله د حضرت عیسي علیه السلام د قاصدینو د قصه د رانقل کولو په مهال فرمایلي دي "څه وخت ددوی تکذیب اولني ځل و سو ، بیله شکه مونږ تاسو ته راستول سوی یو" ﴿ددغه تأکید په "ان" ، او جمله اسمیه سره سوی دی.﴾ او دوم ځلي "زمونږ رب خبر دي چې په تحقیق سره مونږ تاسو ته هرو مرو راستول سوی یو" ﴿مؤکد په قسم او "ان" او جمله اسمیه سره، د اوربدو نکي په انکار کي د مبالغه کولو په وجه سره. ځکه دوی ویلي وه "تاسو نه یاست مګر زمونږ غوندی انسانان، او الله جل جلاله هیڅ یو شيء راستولي نه دي، او تاسو نه یاست مګر دروغ ویونکي". ګواکي قاصدینو دوی و اسلام ته په داسي طریقه سره راوبلل چې مخاطبینو دا ګمان کوي چې دغه قاصدین خاوندان د وحي دي، او د الله جل جلاله د طرف څخه راستول سوی دي. او ددوی دغه قول بناء بر دې دی چې د الله د رسول د طرف څخه استول د الله د طرف څخه استول دي. په دغه وجه الله جل جلاله و فرمایل "هغه وخت چې مونږ دوه تنه راوستول". نو دوی د رسالت د صریح نفي څخه تګ و کنایه ته وکړي کوم چې په بلاغت کي زیات تر صریح دی. او دوی ورته وویل "تاسو نه یاست مګر زمونږ غوندی انسانان". ددوی دا فکر وو چې انسانان رسول هیڅ کله کله کېدای نیسي. که چیرې دا ډول نه وای (ددوی ګمان دغه نه وای چې دغه د الله رسولان دي) نو بیا ددوی د اعتقاد موافق بشر والي د الله د طرف څخه د رسول د راستولو سره منافات لرې، نه د الله د رسول د طرف څخه د راستولو سره. او ددوی دغه قول "کذبوا" یعني د هغه دري قاصدینو بناء بر دې ده چې تکذیب د دوو تکذیب د دریېم هم دی. ځکه د هستونکي او د هستول سوی تر مینځ اتحاد وجود لري، که چیرې دغه ډول نه سي نو بیا اول ځلي ددوو تنو تکذیب په دلیل سره ددې الهي قول تر سره سوی وو "هغه وخت چې مونږ دوی ته واستول" یعني د کلي و خاوندانو ته. اودغه خاوندان د انطاکیه ول. او دغه دوه ول د شمعون او یحیي په نامه سره. نو کلیوالو ددوی تکذیب وکړي. "بیا ما دوی محکمه په دریېم سره کړل" یعني ما دد وی تقویت په دریېم کس سره وکړي. او دغه دریېم کس حبیب نجار یا بولس بناء بر اختلاف د روایت دی. ﴿او دغه اول قسم په ابتدائي سره نومول کیږي. او دوم په طلبي او دریېم په انکاري سره نومول کیږي. او کلام ددغه وجوهاتو موافق وړاندی کولو لپاره نوم هیښول کیږي﴾ یعني هغه ذکر سوی وجوهات، چې هغه عبارت دی په اول کي د تأکید څخه د خالي والي. او په دوم کي د مؤکد سره د تقویت ورکولو په طریقه د استحسان. او په دریېم کي وجود د تأکید په اعتبار د انکار دی. ﴿د مقتضي ظاهر موافق وړاندی کول﴾ مقتضي د ظاهر مطلقاً خاص تر مقتضي د حال دی. ځکه معني د مقتضي د ظاهر داده "مقتضي د ظاهر د حال". نو هره

مقتضي د ظاهر مقتضي د حال ده مگر هره مقتضي د حال مقتضي د ظاهر نه ده. لکه په هغه صورت کي چي کلام د مقتضي د ظاهر موافق ووړاندي نه سي. که چيرې وويل سي: څه وخت ته انکار کونکي په مثل د غيرې انکار کونکي و ګرزوي، ددغه سره سره ته کلام مؤکد و ګرزوي، او ته "ووايي" په تحقيق سره زيد ولاړ دی". نو دغه موافق د مقتضي سره د ظاهر دی. ځکه ظاهر تقاضي د تأکيد د کلام کوي. او دغه موافق د مقتضي سر د حال نه دی. ځکه حال تقاضي د تأکيد د پورېنولو کوی. مګر دغه قسم د عدمي بلاغت په وجه پورېنول سو. لهذا اوس د مقتضي الظاهر او مقتضي الحال ترمينځ عموم و خصوص من وجه وجود لري، نه عموم و خصوص مطلق. **مورِ ورته وايو:** مورِ دا خبره نه منو چي دغه د مقتضي سره د حال موافق نه دی، ځکه د تأکيد د پورېنولو تقاضي کونکي هغه حال دی کوم چي ظاهر نه دی، نه مطلق حال. او ددغه ذکر سوی کلام (ان زيداً قائم) خلاف د مقتضي د حال په حسب د غير ظاهر څخه دا نه لازميږي چي دغه کلام دي، خلاف د مطلق مقتضي الحال دی. ځکه د خاص منتفي والي مستلزم منتفي والي لره د عام نه دی. او علاوه تر دي دا هيڅ يوه معني نه لري چي انکار عدم و ګرزول سي او بيا هم کلام مؤکد راوړل سي. ځکه د انکار او عدمي انکار معتبرول په تأکيد او په ترک سره د تأکيد معلوميږي. ﴿او ډير ځلي﴾ دغه منصوب والي يې يا په وجه د ظرف دی او يا په وجه د مصدر والي دی، نو تقدير دا جوړيږي "ډير ځلي"، "ډير اخراج" ﴿راوړل کيږي﴾ کلام ﴿ دده په خلاف ﴾ يعني په خلاف د مقتضي الظاهر راوړل کيږي. يعني په خلاف د مقتضي الظاهر راتګ پخپله ډير دي او دغه ډير يې نسبتي نه دی (يعني بالنسبة و مقابل ته دده). حتي چي بيا کلام د مقتضي الظاهر موافق راوړل به لږ سي. ﴿ نو نه سوال کونکي د سوال کونکي غوندی و ګرزول سي ﴿ څه وخت چي ده ته وړاندی سي ﴾ يعني دغه نه سوال کونکي ته ﴿ يو داسي کلام کوم چي و جنسي خبر ته اشاره کونکي وی ﴾ غيرې سائل ته.

حل الحواشي

حاشيه نمبر۵:

د معارضه خلاصه داده: که څه هم ستاسو سره په دې خبره دليل سته چي د "مقتضي الحال" او د "مقتضي الظاهر" تر مينځ نسبت د عموم و خصوص مطلق وجود لري مګر زمورِ سره بيا يو داسي دليل سته چي هغه نفي کونکي ستاسو خبري لره دی. د هغه دليل خلاصه داده چي "مقتضي الظاهر" د "مقتضي ظاهر الحال" څخه عبارت بلل مورِ نه منو، حتي چي بيا "مقتضي الظاهر" مطلقاً

Maktaba Tul Ishaat.com

خاص تر "مقتضي الحال" پوری سي. بلکه "مقتضي الظاهر" د امري ظاهره څخه عبارت دی بیا عام تردې دغه ښکاره شي حال وی او که بل څه. نو بناء بر دغه که متکلم انکار کونکي، نه انکار کونکي وګرزی او ددغه ته کلام مؤکد په تأکید سره وړاندی کړی او ووایي "ان زیدا قائم". نو دغه د "مقتضي الظاهر" موافق دی نه د "مقتضي الحال" سره، ځکه حال د یو داسي شي څخه عبارت دی کوم چي په کلام کي د خصوصیت د معتبرولو غوښتونکي وی. او زیات پر هغه شي وی کوم چي هغه اصل معني فائده کوی. او په ذکر سوي فرضي صورت کي پرته د خلوی ادعائي بل داعي او بلونکي نسته. او دغه د ترک د تأکید تقاضي کوی. لهذا ددوی ترمینځ عموم و خصوص من وجه سته.

ماده د اجتماع: کلام د هغه ظاهر موافق وی چي هغه داعي وی.

ماده د افتراق د جانب څخه د مقتضی الحال: کلام موافق د هغه ظاهر وی چي هغه داعي نه وی لکه په مخکني ذکر وي فرضي صورت کي.

ماده د افتراق د جانب څخه د مقتضي الحال: موافق د هغه مقتضي الحال وی چي هغه تنزیلي وی. نو په ذکر سوی بیان سره دا ښکاره سوه چي ددغي معارضي بناء بر دې نه ده چي مقتضي الحال د مقتضي الحال څخه عبارت دی. بلکه د مقتضي الامر الظاهر څخه عبارت دی بیا عام تر دې حال او که پرته دده وی. په تېر سوی بیان سره اوس هغه اعتراض دفعه سو چي یو چا داډول وارد کړی وو: څه وخت چي مقتضي الحال د مقتضي الظاهر څخه عبارت سي نو بیا خاصوالي د مقتضي الظاهر ضروری دی. نو اوس دغه اعتراض (مذکوره معارضه) نه واردیږي. وجه ددفعي ددغه "قیل" داده چي معارضه ځکه واردیږي چي صاحب المعارضه مقتضي الظاهر عبارت د مقتضي الحال څخه نه ګرزوی.

حاشیه نمبر ۸:

سوال: د مصنف دغه عبارت "فیجعل غیر السائل" د ضعف څخه خالی نه دی، ځکه فاء په دغه قول کي "فیجعل" تفریعیه ده، نو دغه قول د مصنف دلالت په دې کوی چي "جعل" ورسته تر اخراج دی. او حال دا چي خبره ددې بر عکس ده. ځکه متکلم اول ځلي په خپل ذهن کي سوال کونکي په

ځای د غیر سوال کونکي نازل او وبلی. او ورسته تر دغه بیا یو داسي کلام وړاندی کړي کوم چي مؤکد په تأکید استحساني سره وی؟

جواب: دلته "فاء" تفریعیه نه ده، بلکه تفصیلیه ده. او که چیري د دې تفریع والي و منل سي نو بیا اخراج مجازاً په معني سره د قصد او ارادې د تخریج دی. او په دې کي شک نسته چي قصد د تخریج مخکي ترجعل او تنزیل وی. او مؤخر پخپله تخریج دی.

صفحه نمبر ۴۹:

عبارت

﴿فیستشرف﴾ ای غیر السائل ﴿له﴾ ای للخیر یعني ینظر الیه یقال استشرف الشیء اذا رفع رأسه ینظر الیه و بسط کفه فوق الحاجب کالمستظل من الشمس.....مما لا یصح ان یحکم به لکثرة المرتابین فضلاً عن ان یوکد.

ترجمه

﴿د کوم په وجه سره دی﴾ نه سوال کونکي کس ﴿یو قسم متردد او دده طلبونکي وګرزی﴾ یعني د خبر. یعني هغه ته کتل وکړی. "استشرف الشیء" دغه قول هغه مهال ویل کیږی چي یو کس سر دادول راپورته کړي چي پر ورځو یې لاس هیښي وی او داسي ګوری لکه د لمر د شغلو څخه د ځان د ساتولو په مهال لاس پر ورځو ایښوول. ﴿لکه انتظار د هغه طلبونکي کي چي په تردد کي لوبدلي وی، لکه " ته زمور سره د ظالمانو په هکله خطاب مه کوه"﴾. یعني أي نوح علیه السلام ! ته د خپل قوم په هکله دعاء مه کوه، او ددوی څخه د عذاب د لرې کولو شفاعت مه کوه. لهذا دا یو داسي کلام دی کوم چي و مقصد ته یو څه اشاره کونکي دی سره د هغه کلام کوم چي مخکي تېر سوی دی، او هغه عبارت د ددې الهي قول څخه دی "په خپل حضور کي کښتي تېاره کړه". نو دغه مقام داسي مقام و ګرزېدی د کوم په هکله مخاطب تردد په دې خبره کي تر سره کوی چي آیا پر دوی باندی حکم په غرقېدلو سره تر سره سوی دی او که نه دی. نو اوس دغه مخاطب طلب د جنسي خبر کوي. او دی نازل په منزله سره طلب کونکي سو. او **ویل سوی دی** چي دوی غرقېدونکي دی په تأکید سره، یعني پر دوی باندی حکم په غرقېدلو سره سوی دی. او مراد دادی چي مخکني کلام یو ډول د اشاره و جنسي خبر ته کوی. حتي چي وینې نفس، او تېز تلونکي فهم ژندي و دې ته وی چي په دغه خبر کي تردد تر سره کړی. او طلب ددغه خبر تر سره کړي. او **ددې مطلب دا نه** دی چي دغه کلام اشاره و حقیقت ته د خبر او خصوصیت ته د خبر کوی. او ددغه مثل دا الهي قول دی " "، او دغه ډول دا قول دی " ستا صلوة ددوی لپاره تسلي

Maktaba Tul Ishaat.com

دە". او دا قول "أي خلکو! د خپلە ربە څخە ووېرېږي". "ان زلزلة " او ددې څخە سبوا کوم چې عبارت د هغه شیانو څخه دي کوم چې به ورسته تر اوامرو او نواهیو راوړل سي . او دغه خورا ډېر زیات دي په قرآن کي. او شیخ ویلي دي چې "انّ" په دغه مقاماتو کي د مخکني کلام د تصحی لپاره دی، او په دغه سره د مخکني کلام لپاره حجت ویل کېږی. او دغه په مخکني کلام کي د فائدې دوجي د بیان لپاره دی، او ددې په راتلګ سره استغناء د فاء څخه راځي. ﴿او غیری منکر د منکر غوندی و ګرزول سي هغه وخت چې پر ده﴾ نه انکار کونکي باندی ﴿علاماتي د انکار ښکاره سي﴾ لکه د حجل بن نضله دا قول ﴿شقیق راغلي﴾ دغه د یو کس نوم دی. ﴿او خپله نېزه یې په پوسارە هیښې وه﴾ یعني پر عرض یې هیښې وه. او دغه ددې قول څخه د عربو اخیستل سوی دی "لرګي یې پر لوښي کښېښووی"، توره یې پر ورانه کښېښووه". هغه ددې خبرې څخه انکار کونکي نه وو چې دده د آکا دزامونو سره نېزې دي. مګر دده په داسي حال کي راتلګ" چې نېزه دده په پسور والي پرته وه ببله تېاري سي" علامت ددې خبرې دي چې دی په دې عقیده سره دی چې په دوی کي نېزه وجود نه لری. بلکه دوی تولە خالي لاسي دي. او ددوی سره وسله نسته . په دغه وجه دی د انکار کونکي په مرتبه کي وګرزل سو. او ده ته په طریقه د التفات خطاب تر سره سو. ﴿او انکار کونکي د غیری منکر غوندی و ګرزول سي څه وخت چې دده سره﴾ یعني ددغه انکار کونکي سره داسي شواهد او دلائل وي که چیری دی په هغه کي ﴿فکر وکړی﴾ نو دی به د هغه ﴿انکار څخه ګوښه سي﴾. او معني ددې قول" د منکر سره دلیل وی" داده چې هغه دلیل ده ته معلوم وی او محسوس دده په وړاندی وی. لکه ته چې د اسلام څخه انکار کونکي ته ووایي "اسلام حق دی" ببله کومه تأکیده. ځکه ددغه انکار کونکي سره داسي دلائل وجود لری کوم چې پر نبوت د علیه السلام دلالت کونکي دي. مګر دغه انکار کونکي په هغه کي فکر نه وهي چې بیا د هغه انکار څخه لاس پر سر سي. او کله کله د متن په لفظ کي "معه" داسي وجوهاتي ذکر سي کومي چې د تعسف او سختي څخه ډکي دي، او ددوی په راوړلو کي کومه فائده وجود نه لری. او د مصنف رحمه الله دغه قول ﴿لکه په دغه کتاب کي کوم شک نسته﴾ په ډې خبره کي ښکاره دی چې دغه د مخکني قاعدې لپاره مثال دی. ځکه مور بیان ددغه قاعده کي بوخت یو. که چیری وویل سي چې د مصنف دغه قول تمثیل ګرزول صحت د دوو وجو نه لری، یوه د هغه دوو وجو څخه داده چې دغه حکم چې نفي د شک بالکلیه دی په دغه سره حکم صادرول صحت نه لری، ځکه په قرآن کي شک کونکي ډېر دي(لهذا دغه حکم د سره صحت نه لری، که یې چیری صحت لرلای نو بیا دده

مؤکد کېدہ په کار وه، مګر څرنګه منکر غیر منکر ګرزول سوی دی نو په دغه وجه دغه تأکید پرېښودل سوی وای او حکم وړاندې سوی وای).

حل الحواشي

حاشیه نمبر۱:

سوال: په دې عبارت "فیسشرف له" کې د "لام" راوړل صحت نه لري، ځکه "یستشرف" پخپله متعدي وی، نو بیا د مصنف لپاره "یستشرف" متعدی په لام سره ګرزول صحت نه لري، او "لام" پر تقویه حمل کول هم صحت نه لري، ځکه د تقویه لپاره لام هلته راځي چیرې چې مفعول پر فعل مخکې سوی وي؟

جواب: "لام" په "له" کې یا زائد دی لکه په "ردف لکم" کې. او یا "یستشرف" متضمن معني لره د هغه فعل دی کوم چې متعدی په لام سره ګرزی، او هغه "ینهیا، یا ینظر" دی. او دوی دواړه "ینهیا، ینظر" متعدي په لام سره وي.

سوال: دغه تېر سوی اعتراض هلته وارديږی چې مرجع د ضمیر خبر و ګرزی، لکه دغه چې د شارح مسلک دی، او که چیرې ضمیر د "له" راجع و "ملوح" ته سي او مفعول د "یستشرف" حذف وګرزول سي (او تقدیر د عبارت داوول ګرزی "فیستشرف الخبر لالجل الملوح") نو بیا دغه اعتراض نه واردیږي؟

جواب: که چیرې ضمیر د "له" و "ملوح" ته راجع سي نو بیا استدراک لازمیږي. ځکه "فاء" هغه څه (تعلیل) فائده کوی کوم چې د "لام" څخه مستفاد یږی. او استدراک باطل دی.

حاشیه نمبر۲:

که چیرې د دغه قول "تخاطني" سره دا قول "واضع الفلک" ملګری سي نو بیا دغه و خصوصیت ته د خبر (غرق) اشاره ده. ځکه صنعت د کښتي خلاصوالي د غرق څخه وی. او که چیرې د دغه قول سره "لا تخاطني" دا قول ملګری نیسي نو بیا په دغه کې اشاره و جنسي خبر ("کونهم محکوما علیهم بالعذاب") ته ده. (شروح التلخیص ۲۱۱/ج۱)(شرح المواقف ۸۲/ج۳)

حاشیه نمبر۷:

Maktaba Tul Ishaat.com

شارح د شیخ کلام رانقل کړی دی، ددغه انقل کولو څخه چې کوم مقصد د شارح دی هغه په دغه حاشیه کې بیانیږی. حاصل دادی: مقصد د شارح په نقل کولو سره ددغه کلام رد کول په هغه خبره دی کوم چې هغه سیدسند په اوائلو کې د مفتاح ترسره کړیده . د سید د کلام خلص دادی: "ان" د اصولینو څخه سببوا په سببیت دلالت نه کوی. او پر اصولینو د "إنّ" مکسوره "کو م چې دلالت په تحقیق کوی" او "أنّ" (کوم چې دلالت پر تعلیل کوی)ترمینځ فرق کول خفي ګرځېدلي دي. د رد خلاصه داده: د سید قول هیڅ بنیاد نه لری، ځکه دغه خبره "چې إنّ" دلالت په تعلیل کوی" پرته د اصولینو شیخ الفن عبد القاهر هم کړیده.

حاشیه نمبر۱۳:

سوال: څه وخت چې معني ددې قول "کونه مع المنکر" دا "ان یکون معلوما له او محسوسا عنده" وګرځېد ل نو بیا دغه قول "ان تامله" صحت پیدا نه کړی. ځکه څه وخت چې د یو کس علم پر دال راسې نو بیا دده علم په مدلول هم راځي. ځکه هغه شي چې په ده علم راتلو څخه علم په بل شي راځي په دغه وخت کې رجوع کول په تأمل باندې موقوفه نه وی؟

جواب: مراد په دلیل سره دلیل منطقي "ما یلزم من العلم به العلم بالمدلول" نه دی، بلکه دلیل اصولي "ما یمکن التوصل بصحیح النظر فیه الی مطلوب خبري" دی. او په دې خبره کې شک نسته چې محض علم په دلیل (په معني اصولي سره) راتلل مستلزم علم راتللو لره په مدلول باندې نه دی. بلکه وصحیح نظر او وتأمل ته احتیاج وی.

حاشیه نمبر۱۴:

په دې حاشیه کې څو شیان د بیانولو وړ دي.

اول: بیان د وجوه: ۱): ضمیر په "معه" کې راجع وخبر "اذا کان مع الخبر شیء من الدلائل لو تأمله المنکر لارتدع عن انکاره" ته دی. "ما" عبارت د عقل "اذا کان مع المنکر عقل لو تأمل به لارتدع عن الانکار" څخه دی. او دجار د حذف کولو څخه ورسته فعل وصل کړل سو.

۲): "ما" عبارت د عقل او په "تامله" کې ضمیر مستتر راجع و عقل ته دی. او ضمیر بارز و "الخبر المنکر" ("اذا کان مع المنکر عقل ان تأمله ذالک العقل الخبر لارتدع عن الکاره") ته راجع دی.

دوم: د تعسف دوجو بيان: په اول کې د تعسف وجه داده چې دغه تقاضي ددې خبرې کوي چې منکر د هغه خبر څخه د کوم سره چې دليل نه وي (که څه هم دې عالم په داسې دليل خارجي سره وي که چيرې دې په دغه دليل خارجي کې فکر ووهي نو دې به دانکار څخه رجوع وکړي) په مربته د غيرې منکر ګرزول صحت نه لري. او ددغې خبرې فاسد والي واضح دي، ځکه مناسب دادي چې دمنکر خبرتيا او علم درلول په دليل سره موقوف عليه وګرزول سي. بيا عام تر دې دغه دليل د خبر سره ذکر وي او که نه وي.

ددومي وجې د تعسف وجه داده: څه وخت ضمير و منکر ته راجع سو او ما د عقل څخه عبارت وګرځېدي نو معنې داګرزي "اذا کان مع المنکر عقل لو تامل المنکر فی العقل آه". او دغه خبره باطله ده، ځکه تأمل په دلائلو کې وي نه په عقل کې. بلکه عقل سبب لپاره د تأمل وي، نو دلته به هرومرو داويل کيږي چې "فاء" په "فيه" کې په معنې سره د "باء" ده. لهذا بناء بر دغه موږ و حذف ته د جار او مجرور "الدلائل" مجبوره بيله کومه داعي سو او دغه باطل دي.

د درېيمې وجې د تعسف بيان دادي: څه وخت "ضمير" په "معه" کې راجع و منکر ته سو او کلمه د "ما" عبارت د عقل څخه سوه او ضمير مستتر په "تامله" کې و عقل ته راجع سي، او ضمير بارز و خبر ته راجع سي نو په دغه صورت کې معنې داګرزي "اذا کان مع المنکرعقل لو تأمل العقل الخبر". او دغه هم باطل دي، ځکه تأمل کونکي عاقل دي نه عقل.

صفحه نمبر ۵۰:

عبارت

الثاني انه قد ذكر في بحث الفصل و الوصل انه قوله لاريب فيه تأكيد لقوله ذالک الكتاب فيكون مما اكد فيه الحكم بالتكرير.....ففي هذه الجملة اخراج الكلام علي غير مقتضي الظاهر لعدم السوال تحقيقاً.

ترجمه

دوم دادي: په تحقيق سره د فصل او وصل په بحث کې دا خبره ذکر سوې ده چې "لاريب فيه" تأکيد لپاره د "ذالک الکتاب" دی. نو دغه د هغه قبيله څخه سو به کوم کې تأکيدد حکم په تکرار سره تر سره سوی وی. لکه "زيد ولاړ دی، زيد ولاړ دی". نو دغه "لاريب فيه" د ظاهر د مقتضي موافق دی. (نو دغه مثال لپاره د منکر د غيرې منکر غوندې ګرزولو لپاره نه سو، ځکه په هغه کې کلام خلاف د مقتضي د ظاهر وی). بلکه د مصنف مقصود دادی چې کله کله د منکر انکار د نه انکار غوندې د دې وجې و ګرزول

Maktaba Tul Ishaat.com

سي چې اعتماد پر هغه شي سره وي کوم چې انکار لره لري کونکي وي، لکه "لاريب". حتي چې نفي د ريب بالکليه صحت لري، سره ددې چې شک کونکي ډير دي. نو دغه نظير لپاره د وجود د شي په منزله د عدم ګرزولو دی،(او دغه ګرزول يې) په وجه د اعتماد کولو پر هغه شي دی چې هغه لري کونکي دی. **د اول څخه جواب** دادی: څه وخت چې د شک په طريقه د استغراق نفي تر سره سوې سره د زيات شک کونکو، نو دوی دغه لره دوه تأويل ذکر کړل. **اول** ددغه تأويلو څخه هغه دی کوم چې په سوال کې ذکر سو، هغه دادی چې ريب د عدمي ريب غوندی په دې وجه و ګرزېدی چې اعتماد پر هغه څه سوی دی کوم چې دغه ريب لره لري کونکي دی. نو په دغه صورت کې د هغه څه لپاره مثال نه دی د کوم شي چې مورِ يې بيان تر سره کوو. او دوم ددغه څخه هغه دی کوم چې صاحب د کشاف ذکر کړی دي. هغه دادی چې د قرآن څخه د ريب نفي تر سره سوی نه دی په دې معنې سره چې په قرآن کې څوک ريب کونکي نسته، بلکه ډډې معنې داده چې قرآن د ريب د واقع کېدولو محل نه دی. ځکه د قرآن د ښکاره دلالت او واضح دليل په وجه نه ښائي چې څوک دې په دغه کې ريب تر سره کړي. ګواکې داسي وويل سوه" قرآن د هغه شيانو څخه دي د کوم چې د الله د طرف څخه په کېدو کې شک کونه مناسبه نه ده. او دغه صحي حکم دی. مګر ډير بدبخت ددغه څخه انکار تر سره کوی. نو ماسبه ددغه مؤکد کېدنه وه، مګر دده مؤکد کونه پاته ځکه سوه چې دوی د غيرې منکر غوندی و ګرزول سوه. ځکه ددوی سره داسې دلائل وجود لري کوم چې ددوی دغه انکار لري کوی که چيرې دوی په دغه کې فکر ترسره کړي. او دغه مذکور (يعني دلائل چې ددوی سره موجود دي) دادي چې دغه قرآن داسي معجز کلام دی په کوم سره هغه چا راتاګ کړي دي چې د هغه پر نبوت ښکاره معجزاتو دلالت کونکي دي. د **دوم څخه جواب** دادی چې د فصل او وصل په بحث کې ذکر سوی دادی چې لاريب په منزله د معنوی تأکيد دی. او دغه د "نفسه" غوندی دی (په دې قول کې "زه پخپله زيد په تعجب کې واچولم").دغه د سهوی او مجاز تر سره کونې په هکله د کرل سوی توهم د دفعي لپاره دی. نو دغه د مکرر کېدلو د قبيله څخه نه دی. **مګر په دلائل الاعجاز** کې دا ذکر سوی دی چې سوال مؤکد ګرزی، او دغه ذکر سوې خبره داده چې شيخ ويلي دي چې "لاريب فيه" بيان، تأکيد او تحقيق لپاره ددې الهي قول "ذالک الکتاب" دی. او ددغه قول د زيات اثبات لپاره دی. اوستا ددې وپناتر سره کولو "هو ذالک الکتاب، هو ذالک الکتاب" غوندی دی. او په منزله ددې دی چې دغه قول دوه ځله د تحقق لپاره مکرر کړي. که **چيرې** ته ووايې: صاحب المفتاح په تحقيق سره دا خبره تر سره کړېده: د مقتضي ظاهر په خلاف

کلام راوړلو ته په علم البیان کې کنایه ویل کیږی. او دغه کنایه دشي د لازم ذکر کونه ددې لپاره ده چې ددغه لازم څخه و ملزوم ته انتقال راسي، ددې څه وجه ده؟ **زه وایم:** ددغه وجه دا کېدای سي چې کلام په یو داسي محل کې راوړل "چې هلته دده راوړل ظاهراً مناسب نه وی" کنایې ددې څخه ده چې ته دغه مقام او حال "چې په حقیقت کې ثابت دي" په منزله د هغه مقام او حال راوړې چې د هغه سره ظاهر د کلام موافق وی. او ته په دغه کلام کې هغه اعتبارات معتبر کړې کوم چې ددغه مقام سره مناسب وي. ځکه دغه معني د هغه شیانو څخه ده د کوم سره د کلام مکیف په دغه خاص کیفیت سره راوړنه لازمه ده. او ددغه کلام څخه و دغه معني ته انتقال تر سره کیږی. د مثال په توګه ته د اسلام څخه منکر کس ته ووایې: اسلامم حق دی" او دغه ببله تأکید ویل کنایه ددې خبری څخه ده چې تا دده انکار د عدمي انکار غوندی ګرزولي دی. او تا دی د خالي الذهن غوندی ګرزولي دی. پر هغه څه د اعتماد کولو په وجه کوم چې دده انکار لری کوی. ځکه کلام سره د منکره د هغه کلام غوندی راوړل کوم چې خالي الذهن ته وړاندی کیږی دغه دهغه شیانو څخه دی کوم (منکر خالي الذهن غوندی ګرزول) څخه ذهن و دغې معني ته (انکار دده د عدمي انکار غوندی ګرزول) منتقلیږی: ددغه مثال د هغه قول غوندی دی کوم چې صاحب اللباب په شرح کې ددې قول " دې په زانګو کې دخلې خوشحتي خبری کولې:: د کره والي اثر واضح دلیل دی" ویلې دی چې "اثر النجابة ساطع البرهان" جمله مستأنفه جواب د سوال څخه دی، کواکې داسي وینا تر سره سوه" څرنګه ده دغه خبری کولې حال دا چې دی کوشني او په زانګو کې وو". په دغه جمله کې کلام د مقتضي ظاهر په خلاف راوړل سوی دی. ځکه دلته حقیقتاً سوال وجود نه لری.

حل العواشي

حاشیه نمبر ۸:

سوال: په دغه آیت مبارکه سره مخاطب نبي ﷺ او دده صحابه رضوان الله اجمعین دي. او ددوی څخه د یوه هم منکر نه دي. او دغه خبره نښکاره ده. بلکه ددغه حکم څخه انکار کونکي کفار دي، مګر دوی په دغه آیت سره مخاطب نه دي. لهذا په دغه وخت کې دوم تأویل مو ته هیڅ ګټه ونه رسول. ځکه په دوم تأویل سره دغه آیت مثال لپاره د مبحوث عنه کېدل صحت نه پیدا کوی؟

جواب: خلاصه د جواب داده چې مراد د مخاطب څخه "من یلقي الیه الکلام" نه دی، بلکه "من یتوجه الیه الکلام" (چې هغه ته کلام متوجه کیږي). او "من قصد افهامه" (چې د هغه فهمېدل قصد سوی وی) مراد

Maktaba Tul Ishaat.com

دی.او صرف "من یلقی الیه الکلام" مراد نه دی.او په دې کې شک نسته چې "من یتوجه الیه الکلام" نبي ﷺ صحابه رضوان الله اجمعین او انکار کونکو کفارو ټولو ته شامله دی.

حاشیه نمبر۱۱:

سوال: د "دفعا لتوهم السهو" ذکر کول سهو دی. ځکه تأکید معنوي توهم د سهوي نه دفعه کوی لکه په دغه سره شارح پخپله تصریح کړیده. لهذا دغه ډول هغه شي چې په مثل د تأکید معنو ی وی هم هغه توهم د سهوي نه دفعه کوی؟

جواب: د سید سند دغه قول "کما صرح به" او دغه ډول دغه قول "فلایدفعه ماهو بمنزلته آه" صحت نه لری. او په دې کې لاندې تفصیل ذکر سوی دی.

اول: مور تصریح د شارح په طریقه د اطلاق کول نه منو، بلکه شارح په بحث کې د "تأکید المسند الیه" کې تصریح په دې خبره سره کړیده چې تأکید په مثل کې د "جائنی زید نفسه" توهم مخصوص نه دفعه کوی. او هغه مخصوص توهم دادی چې راتلونکي به عبدالرحمن وی مګر متکلم به سهواً زید پر ځای د ده ذکر کړی وی. او شارح و دغې خبرې ته اشاره په "هذا" سره و کړه. او دا ډول یې وویل :د ذکر سوی توهم د صورت د وراندی کولو ورسته دغه توهم "لا یدفع هذا التوهم" په تأکید معنوي سره نه دفعه کیږي. او دا ډول یې نه دی ویلي چې په دغه سره مطلقا توهم نه دفعه کیږي. "نفسه" او دغه ډول نور لکه "اکتع، ابتع" ذکر سوي توهم په نه دفعه کولو کې شک نسته. او دا ډول نه ده چې په دغه سره مطلقا توهم د سهوي نه دفعه کیږي. ځکه شارح پخپله هلته په دې تصریح کړیده چې تأکید په مثل کې د "جائني الرجلان کلاهما" دفع د توهم د دې خبرې کوی چې راتلونکي به یو د دوی څخه وی او د راتګ اسناد و دوی دواړو ته سهواً به سوی وی. لهذا تحقیق دادی چې تأکید معنوي مخصوص سهو (چې هغه داده چې د متبوع ذکر کیده په ځای د هغه شي سهواً سوی وی چې هغه د متبوع سره په مفرد والي تثنیه والي او جمعه والي کې مخالفت لری) او تأکید معنوي هغه سهو نه دفعه کوي کوم چې د متبوع ذکر کول سهواً د هغه شي پر ځای وی چې هغه په مثل د متبوع په افراد، تثنیه او جمعه کې وی. د مثال په توګه زمور په دې قول "جائني زید نفسه" کې لفظ د "نفسه" دی. اوس دغه لفظ دفعه د دې توهم کوي چې زید به سهواً د تثنیه او جمعې په ځای ذکر سوی وی. او دغه لفظ دا نه دفعه کوی چې زید به د عمر په ځای

سهواً راغلي وي. او دغه دول "کلاهما" دا دفعه کوي چې د متبوع ذکر کول سهواً پر ځای د مفرد او جمعې راغلي دي. او دغه توهم نه دفعه کوي چې د متبوع ذکر کول سهواً په ځای د بلې تثنیه راغلي دي. او کله بیا دا دفعه کوي چې د متبوع ذکر به سهواً د هغه شي پر ځای راغلي وي چې هغه لره جزء نه وي، او دغه نه دفعه کوي چې د متبوع ذکر کول به سهواً د هغه شي په ځای وي چې هغه شي د اجزاؤ خاوند او پرته د متبوع څخه بل څه وي.

دوم: دمحشي قیاسول (یعني دهغه شي چې په مثل سره د تاکید معنوی وی په تأکید معنوی باندې قیاسول) صحت نه لري. ځکه دد وی دوو ترمینځ فرق وجود لري. هغه فرق دا دی: هغه شي چې په مثل د تأکید معنوی وی هغه تعلق د معني سره د جمله لري. په خلاف د تأکید معنوی. ځکه تأکید معنوي تعلق د یو طرف سره د جمله لري. او دغه دول د تأکید معنوي په مثل سهو په حکم کې دفعه کوي، ځکه دی حکم مقرره وی. په خلاف د تأکید معنوي، ځکه دی سهو په حکم کې نه دفعه کوي، بلکه سهو په طرف کې دفعه کوي. (الجلبي۱۸۴) (فیض الفتاح ۱۴۰ الجزء الثاني مع الاضافة)

حاشیه نمبر ۱۲:

کله د اصل سوال څخه دا جواب ورکول کیږي چې د قوم په وړاندې "لاریب فیه" تأکید لپاره د "ذالک الکتاب" نه دی. ځکه د "لاریب فیه" او د "ذالک الکتاب" صریح مفهومونه سره جلا دي. او صراحتاً "لاریب فیه" اعاده د "ذالک الکتاب" لپاره نه ده. او قوم په تأکید لفظي کې صریح اعاده شرط ګرزولېده. البته دیوه ثبوت هغه بل لره منسلزم دی. ددغې وجې شیخ دغه تأکید لفظي بللي دي. ځکه دی په تأکید لفظي کې صریح اعاده شرط نه بولي. بلکه دا خبره شرط بولي چې تأکید به هغه شي فائده کوی کوم چې یې مؤکد فائده کوی.

صفحه نمبر ۵۱:

حاشیه نمبر ۱: سوال: شارح ولې د صاحب اللباب ذکر سوې خبره نظیر وبلل نه مثال؟

جواب: ځکه په بیت کې جمله "اثر النجابة" په طریقه دهغه استیناف راوړل سوېده چې هغه دلالت په جواب کېدولو د یو سوال څخه کوی. او دغه جمله استنافیه کنایي بېله واسطې د هغه شي څخه ده چې هغه صاحب اللباب ذکر کړېده (چې مخکښې حکم نادر او غریب په دا دول سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چې محتاجه د سبب په هکله سوال کولوته دی).او سوال کونکي په منزله د نه سوال کونکي د بللو ځخه په واسطه سره کنایه ده. لهذا بناء په دغه هغه معني چې کنایي اول ده سبب التنزيل "**أي الغرابة**"دی. او هغه معني چې دومه کنایه ده هغه پخپله تنزيل دی. په خلاف د هغه خبري چې شارح ذکر کړيده. ځکه د شارح په ذکر سوی خبره کې کنایي اول پخپله تنزيل دی.او کنايي دوم سبب د تنزيل"**أعني التعويل**" دی.

حاشيه نمبر۵: شارح لپاره د اشاره کولو و دې خبرې ته چې دا قول د مصنف "**وهكذا اعتبار ات النفي**"بناء په حذف د مضاف "**امثلة اعتبارت النفي**"دی راتګ په لفظ سره د امثله وکړی. او بناء په دغه تقدير وجه داده چې نفسي ذکر سوی اعتبارات "**التأكيد استحسانيا او وجوبا او تركه آي تنزيل مذكور**"په تير سوي کلام کې لپاره د راوړل د کلام په مقتضي د ظاهر يا په خلاف د مقتضي د ظاهر وی. او دغه اعتبارات عام او خاص والي تر اثبات پوري نه لری. او خاصوالي په امثلو کې چې دوی د اثبات د قبيلې ځخه پرته د "**لاريب**"دی د تير سوي اعتبارا تو"**كون المخاطب منكرا، و كونه مترددا، تنزيل المنكر منزلة غيره والعكس، و تنزيل غير منزلة السائل والعكس**" په خاطر دی .ځکه که چيري "**لاريب فيه**"تمثيل سي نو بيا دی د قبيلې ځخه د نفي دی.

حاشيه نمبر۶ : سوال:شارح مخکې په دې خبري سره تصريح وکړه چې "لاريب فيه"تمثيل دی او ددغه وجې شارح د امثلو ځخه استثناء د "**لاريب فيه**"وکړه او په "**لاريب فيه**"په دې حيثيت سره چې دی د قبيلې ځخه د نفي دی جزما د توهم دفعه حاصله سوه. نو بيا حمل کولو لره د مصنف ددغه کلام "وهكذا اعتبارات النفي"په دفعه د توهم د تخصيص ته هيڅ وجه نسته؟

جواب:شارح مخکې ددې خبرې لازموالي نه دی کړې چې "**لاريب فيه**" د قبيلې ځخه د تمثيل په طريقه د جزم دی. او دغه سوال په هغه چا واردېږي چې هغو دغه الزام کړی وی. بلکه په "لار يب فيه"کې احتمال د تمثيل او د نظير د جوړېدو ددواړو سته. نو اوس دغه سوال نه واردېږي ځکه دغه به هلته واريدلی که چيري "**لاريب فيه**"په طريقه د جزم تمثيل وای او خبره داسي نه ده.

حاشيه نمبر۱۵ :په دې حاشيه کې څو شيان د بيان ورکړ دي.

اول: بيان د لغاتو: الشواء: هغه غوښې چې په اور سره کبابي سويوی. **النشوة**: مستي.

الخبب: يو قسم د چابک تگ چې هغه ته ډوبلي ويل کيږي. **الباذل** هغه اوښ چې ډډه داړه چاودلې وي. او دغه يه آتم يا نهم کال کې وي. **امون**: قوي او ښه. **اللذة**: د تکلف نقيض دی. **العيش**: ژوند. **الفتي**: ځوان، ياسخي. **الفنون**: د فن جمعه ده او فن قسم ته د شي ويل کيږي. او فنون د هر اقسام د هر دي چې هغوی انقلاب او ډډوکي او چم څخه عبارت دي.

دوم: د شعر د معني بيان: کباب سوی غوښې مستيا اود داسو آتو کالو اوښو زغلول چې هغه قوي وی د خوندو څخه د ژوند دي* او ځوان کس خاص په زمانه سره دی او حال داچې زمانه خاوند د مختلفو اقسامو ده چې هغه غدر او انقلاب دی.

دريم: بيان د تركيب: "ان" حرف تحقيق، "شواء، نشوة و خبب **الباذل**" دغه مفردات يو په بل سره عطف او اسم لپاره د "ان" دي. "و" استينافيه، "**الفتي**" مبتدأ او "**للدهر**" جار او مجرور تعلق د محذوفه سره لری او خبر لپاره د "**الفتي**" دی. "و" حاليه او "**الدهر**" مبتدأ او "**ذوفنون**" مضاف سره د مضاف اليه خبر لپاره د "**دهر**" دی. او مجموع حال د اول "الدهر" څخه دی. او ددې قول "والفتي" معني داده چې انسان د دهر محکوم دی. او دغه دهر په انسان کې د مالک غوندې تصرف کوی. دا ډول چې دغه زمانه خاوند ه د اقسامو ده. او انسان په يوه قرار دوام کولای نسي. او دغه جمله مستأنفه لپاره د تنبيه ورکولو په ډې خبره باندې ده چې دغه ذکر سوي شيان که څه هم د ژوند د لذاتو څخه دي مګر دوی د خړوالي څخه ځکه خالي نه دي چې دهر د انقلاباتو خاوند ه ده.

حاشيه نمبر ۱۷: په ډې حاشيه کې څو تحقيقه دي.

اول: د لغاتو بيان: **يلف**: جمعه کوی. **الشمل**: متفرق شيان. **سعدی**: د محبوبې نوم او يا نوم دی وئای دی. **تهم**: همت کوی. **الاحسان**: د بدي ضد دی.

دوم: بيان د معني د شعر: په تحقيق سره زمانه په سبب سره د وصال د سعدی سره زما تت ويرک او غورزول سوي شيان سره يو ځای کوي* داهغه زمانه ده چې دا همت په نيکي کولو سره کوی.

دريم: بيان د تركيب: "ان" حرف لپاره د تأکيد "**دهرا**" اسم د "ان" او "**يلف** فعل سره د فاعل، **شملی** مفعول **بسعدی** سره د متعلقه جمله او صفت لپاره د دهر دی. "**لزمان**" لام لپاره د

Maktaba Tul Ishaat.com

تأکید او زمان خبر لپاره د "لان" دی. "تهم الاحسان" فعل سره د فاعل او سره د متعلق جمله او صفت لپاره د زمان دی.

صفحه نمبر ۵۲:

حل الحواشي

حاشیه نمبر ۱ :اول سوال: اسم تفضیل تقاضي د مشترکوالي د کلامو په قوت او تأکید کي کوی. او حال دا چي د دوی په دې قول "امنا" کي قوت نسته. لهذا اوس د "**اقوی او د اوکد**" ذکر کولو هیڅ وجه نسته؟

دوم سوال: ددې قول "**لیس جدیرا باقوی الکلامین واوکدهما**" تقاضي داده چي د مؤمنانو مخاطبوالي د هغه خبري په وجه سره مناسب په کلام قوی سره دی چي هغه په اول سوال (افعل تفضیل تقاضي د اشتراک د کلامینو په اصلي قوت کي کوی) کي تېره سوه. او سره ددې هغه دلیل "**انهم کانوا في مقام ادعاء حدوث الایمان الخ**" چي ده ذکر کړی دی دلالت په دې کوی چي مخاطبوالي د مؤمنانو مناسب په قوی کلام سره نه دی؟

جواب عن الاعتراضین: وجه اول: هغه افعل چي مضاف وی کله د مطلقي زیاتوالي لپاره استعمالیږی او د هغه زیاتوالي لپاره نه استعمالیږي چي هغه دده په مضاف الیه باندي وی. او په دغه مقام کي هم دغه ډول ده. لهذا مشترکوالي په اصل قوت او تأکید والي کي لازم نسو .حتي چي بیا دغه دوه اعتراضه وارد سي. بلکه د افعل تفضیل سره لازم دادی چي یو د کلامو څخه به په زیات قوت او تأکید باندي بالنسبت و غیر ته د یوه د کلامو مشتمله وی (یعني هغه کلام چي په کمزوري تأکید باندي مشتمله وی که څه هم دغه کلام مضاف الیه لپاره د اقوی او داوکد نه وی لکه داقول "**ان زیدا مؤمن**". او شک په دې خبره کي نسته چي یو د کلامو څخه په ذکر سوي مقام کي (اعني ددوی داقول "**انا معکم انما نحن مستهزون**" دغه ډول دی. ځکه دغه یو د کلامو څخه جمله اسمیه او په "**ان او انما**" باندي دی.

دومه وجه: صیغه د تفضیل په ذکر سوي مقام کي خالي د معني څخه د تفضیل او په اصل معني کي ببله زیادت استعمال سوېده. او داسي افعل چي مضاف وی په معني سره د اصل فعل رائي. لکه په دغه سره چي صاحب التسهیل او شارح د تسهیل علامه مصری کړ

پدې.لهذا اشتراک لازم نسو. حتي چې بيا داوويل سي چې ددوی په دغه قول "امن"کې قوت نسته.او چې بيا وويل سي چې د عبارت تقاضي داده چې مخاطبو الي د مؤمنانو مناسب په قو ی کلام سره دی.او حال داچې د دليل تقاضي دغه ډول نه ده.

حاشيه نمبر ۶: سوال: محشي د "اسناد"تفسير په نسبت سره ولي وکړي ددې څه وجه ده؟

جواب: ځکه د "اسناد"اطلاق پرته د نسبت تامه په بل څه باندې نه کيږي. په خلاف د نسبت ځکه دغه دواړو ته شامله دی او دلته دغه هم مراد دی.

سوال: کوم مانع چې ددې خبرې څخه موجوده دی چې قسمين (حقيقت عقلي او مجاز عقلي)اسناد لره د مشتقاتو او د مصدر شامله او مقسم دې ورته شامله نسي لهذا نه شمول د مقسم دې هم بناء په جائزوالي ددې خبرې سي چې قسم اعم تر مقسم دی؟

جواب: په اعتبار د اصل داخبره واجب ده چې هر قسم به خاص تر مقسمه وی. لهذا په مابين کې د هر قسم او د مقسم عموم و خصوص مطلق داډول سي چې هر کله هر قسم ثابت سي نو مقسم هم هلته ثابت سي بېله عکسه.

سوال: د شارح تعميم وخبر او انشاء ته دليل په دې خبرې باندې دی چې نسبت و نسبت ناقصه ته شامله نه دی؟

جواب: شارح په دغه تعميم باندې قصر ددې لپاره وکړي چې دفعه د هغه توهم راسي چې هغه په دې هکله وو چې دغه تخصيص د خبرې سره لری.

حاشيه نمبر ۸: سوال: د "اما"راوړل د وجود سره د واسطې منافات نه لری. ځکه د قضيې حمل په داسي انفصال باندې چې مانع الجمع وی ممکن دی نوخلو يې جائز ده.لهذا اوس په دغه وخت کې واسطه ثابته سوه؟

جواب: کلمه د "اما" په پرته کې د انفصال(چې مانع الجمع وی)نص نه دی بلکه دغه("اما") د انفصال حقيقي، مانع الجمع او د مانع الخلو احتمال لری. البته دغه("اما") په مقام کې د تقسيم د مانع الجمع احتمال نه لری.بلکه دغه د انفصال حقيقي او د مانع الخلو د کيدو نيږه احتمال لری.

په بل طرز سره بيان: د تقسيم په مقام کې چاره د داسي "اما" څخه نسته چې هغه په معني اعمه سره(چې مانعة الخلو اخص او انفصال حقيقي دواړو ته شامله وی) د مانعة الخلو

Maktaba Tul Ishaat.com

وی. ځکه د تقسیم په مقام کښې مقصد د اقسامو ضبطول وی. او دغه مقصد په قضیه منفصله مانعة الجمع سره نه حاصلیږي. ځکه دلته امکان د افتراق سته. "انتهى حاشية نمبر ۸(المفصل ۱۲۷)او پرته ددې د "اما" څخه د عدول په کولو کې توهم ددې خبرې رائې چې "اما" د منع الخلو او یا د انفصال الحقیقي لپاره دی. او دد عدول کولو په صورت کې دا لازم نه دی چې "اما" به نص په منع الخلو او په انفصال حقیقي کې وی. "خلاصه حاشية نمبر ۹"

حاشيه نمبر ۱۲: سوال: پخپله د اسناد موصوفه کیده په حقیقت او مجاز سره موږ منو او دغه ډول د کلام موصوفوالي په دوی دوو سره په واسطه سره هم موږ منو مګر نسبت کول و عقل ته د حقیقت او مجاز (مجاز عقلي، حقیقت عقلي) موږ نه منو. ځکه د فعل په مفهوم کې نسبت و فاعل ته وضعا اخیستل سوی وی. لهذا و فاعل ته اسناد حقیقتا او پرته ته د فاعل مجازا وی. لهذا د اسناد موصوفوالي په حقیقت او مجاز سره د وضعي ځخه فائده کیږی. اوس خلاصه داسوه چې دا ډول وینا "**حقیقت وضعي، مجاز وضعي**" صحی او دغه ډول وینا "**حقیقت عقلي، مجاز عقلي**" صحی نه ده؟

جواب: فعل دد اسي حدث د اثبات لپاره وضعه سوی دی چې هغه مقترن په یوزمانه سره وی او دغه ډول د فعل په مفهوم کې نسبت و یو فاعل ما ته اخیستل سوی دی. د فاعل تعیین او دغه ډول دده مشخصوالي په وضعه سره نه حاصلیږی بلکه دغه تعین په قصد سره د متکلم حاصلیږی. او تعین د فاعل د اسناد حقیقي او مجازي کیدو لپاره موقوف علیه دی.

صفحه نمبر ۵۳:

حاشيه نمبر ۱: د حقیقت عقلي او د مجاز عقلي د بحث محض د احوالو څخه د لفظ په توسط سره دیو واسطه (دا ډول چې دوی دواړه "حقیقت، مجاز" د اسناد د احوالو څخه دي. او اسناد د احوالو څخه د لفظ دي. لهذا ددوی دواړو په واسطه سره د اسناد د احوالو څخه د لفظ دي) څخه دا نه لازمیږی چې په علم المعاني کې ددوی دوو څخه بحث کول صحی دی. ځکه هغه احوال چې ذکر په علم المعاني کې کیږي مطلق نه دی. بلکه دوی په دې قید سره "**التي بها يطابق اللفظ مقتضى الحال**" مقید دي. او ددغه قید څخه قید د حیثیت معلومیږي.

لهذا علم المعاني د دغه احوالو څخه په دې حيثيت سره بحث کوی چې لفظ د دغه احوالو په واسطه سره مطابق د مقتضى الحال سره ګرځي. او علم المعاني د مطلق احوالو څخه د لفظ بحث نه کوی. د مثال په توګه اعلال او ادغام او په مثل سره د دوی چې د هغو رجوع و افادې ته د اصلي معني کيږي. لهذا د حقيقت عقلي او د مجاز عقلي په علم المعاني کي ذکر کول پېله کومي وجهي دی. ځکه د دوی دوو څخه بحث په ذکر سوی حيثيت سره "**من حيث يطابق اللفظ مقتضى الحال**" نه کيږی بلکه پخپله د دوی څخه بحث کول "**داډول ان الحقيقة العقلية كذا و المجاز العقلي كذا**" کيږي. نه دا ډول "**ان الحال الفلاني يقتضي الحقيقة العقلي والحال الفلاني يقتضي المجاز العقلي**".

حاشيه نمبر۸: سوال: د شارح دغه عبارت "**او لغيره**" صحی نه دی ځکه د ده دغه عبارت څخه دا معلوميږی چې د بندګانو افعال د بندګانو مخلوق دي. او په حقيقت کي دغه ډول نه ده ځکه د اشاعرو د مذهب مطابق د بندګا نو افعال مخلوق د بندګلنو نه بلکه د الله جل جلاله مخلوق دي؟

جواب: حقيقت دغه ډول دی لکه تا چې وويل مګر د شارح دغه بره د معتزلو و په خبره بناء ده. او که چيرې دغه خبره درسره ومنو چې دغه خبره په مذهب د معتزلو بناء نه ده نو بيا جواب دادی چې مراد د "**لغيره**" څخه په طريقه د کسب دی د مثال په توګه "**ضرب زيد**". لهذا خالق الله جل جلاله او کسب کونکي يې بنده دی. لهذا د خلق څخه هغه معني مراد ده چې هغه و کسب ته هم شامله وی.

سوال: د شارح دغه عبارت "**اولا کمرض و مات**" صحی نه دی ځکه مرض او مرګ پرته د الله د بل چا څخه بالکل حاصلېدلای نسی. لهذا مثال په دې قول سره "**تحرک المرتعش(ګزنږ وهلي**" راوړل پکار وه؟

جواب: مراد د صدور څخه ښکاره کېده دی نه واقع کېده. د موت او د مرض ښکاره کېده د بندګاو څخه کيږي. که څه هم يې واقع کېده د الله څخه کيږي.

حاشيه نمبر۱۱: د مثال په متن کي د نه ذکر کولو څخه توهم د دې خبری نه کيږي چې حقيقت عقلي د مصنف په وړاندي حصر په درو اقسامو کي دي. ځکه مصنف په ايضاح کي

Maktaba Tul Ishaat.com

تصریح په دې خبره سره کړه: چې حقیقت عقلي لره څلور قسمه دي. او ده ټولو لره مثالونه وړاندې کړي دي. او ده ورسته تر تعریف د حقیقت عقلي دغه ډول ویلي دي "فهي اربعة اضرب":

۱: د متکلم داعتقاد سره مطابق وي د مثال په توګه د مؤمن دا قول "انت الله البقل".

۲: مطابق د واقع سره وي نه د اعتقاد سره د مثال په توګه د معتزلي دا ډول وینا و هغه چا ته چې هغه د دغه معتزلي حال نه پیژني او دی د هغه څخه خپل حال پټوي "خالق الافعال کلها هو الله الخ" (الایضاح ۱۶). لهذا د ایضاح د عبارت مطابق مصنف د څلورو اقسامو د کېدو قائله دي. که څه هم ده دغه مثال په متن کې د وجهې څخه د اختصار د قصد کولو ذکر کړی نه دی. دې سره سره دغه ډول ویل هم ممکن دی چې درېیم مثال په منزله سره د دو مثالو دی دا ډول چې دده د دغه قول څخه "انت تعلم انه لم یجئ" مراد داسي چې ته دده د نه راتګ اعتقاد لرې بیا عام تر دې ستا دغه اعتقاد د واقع سره موافق وي او که نه وي. او "نحو جائني زید" د قسمینو "ما لا یطابق شیئا منهما . ما یطابق الواقع دون الاعتقاد" لپاره مثال سي. لهذا د دغه وینا مطابق ټوله مثالونه په متن کې ذکر سوی دي.

حاشیه نمبر۱۳: سوال: د مصنف دغه قول "و انت تعلم انه لم یجئ" تقاضی د دې خبری کوی چې مثال د دې خبري په فرض کولو کې دی چې مخاطب حقیقتا علم په "انه لم یجئ" سره نه لری. عام تر دې مخاطب د دې خبری (چې "ان المتکلم معتقد بانه لم یجئ") اعتقاد لری او که یې نه لری. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده. ځکه مخاطب چې څه وخت د دې خبری "ان المتکلم معتقد انه لم یجئ" اعتقاد لری نو بیا متکلم ته د مخاطب د معتقد والي لحاظ ساتل جائز دی. او متکلم لره اعتقاد د مخاطب په دې خبري باندې "چې اسناد په مثال کې ر غیر ما هو له لره دی" قرینه ګرزول جائز دی. لهذا اوس بیا مثال مجاز سو او د مخاطب اعتقاد د رلول په دې خبره "ان المتکلم معتقد بانه لم یجئ" باندې قرینه ګرزول موقوفه په علم د مخاطب په عدمي مجیئت سره نه دی؟

جواب: دغه اعتراض هغه وخت وارديږي که چیرې په دې قول کې د مصنف "انت تعلم" علم په معني سره د اعتقاد سي بیا عام تر دې د واقع سره موافق وي او که نه وي. او حال دا چې د شارح په وړاندې خبره دغه ډول نه ده. او په دغه باندې قرینه دا خبره ده چې شارح د دې خبری الزام کړی دی چې د مصنف څخه په متن کې د درېیم لپاره مثال راوړل پاته سوی دی. ځکه که

چيري علم په متن کي په معني سره د اعتقاد (عام تر دې د واقع سره مطابق وي! او که نه وي) سي نو په دغه وخت کي علم بيا دې خبرې لره واجبونکي دی چي درپيم مثال په څلورم کي داخله دی. لهذا په دغه وخت کي مثال پاته نسو. بلکه د شارح په وړاندې د علم څخه مشهوره معني چي په هغه کي مطابقت معتبر دی مراد ده. او په دغه وخت کي علم درلول د مخاطب په دې خبره باندې دی چي متکلم په دې خبره باندې "**انه لم يجئ**" علم لری. ځکه په مطابق والي د حکم د اوقع سره علم درلول مستلزم د مطابقوالي اعتقاد درلولو لرد دی. لهذا په دغه وخت کي متصور کېدل د علم د مخاطب په دې خبره باندې "**انه لم يجئ**" بېله علم درلولو د مخاطب په دې خبره باندې "**انه لم يجئ**" ممکن نه دی.

صفحه نمبر ۵۴:

حل الحواشي

حاشيه نمبر ۱: سوال: سهو او نسيان ورسته تر علم متصور کيدای سي. ځکه سهو د زوال څخه د صورت د مدرکې او حافظې د دواړو څخه ورسته تر پيدا کېدو عبارت دی. او نسيان د زوال څخه د صورت د مدرکې او حافظې د دواړو څخه ورسته تر حدوث د صورته عبارت دی. لهذا په وخت کي د توهم کولو د مخاطب د دې خبرې چي متکلم سهوه سوی يا دده څخه هېره راغلېده د مخاطب علم په دې خبره باندې رائي چي متکلم په "**انه لم يجئ**" باندې علم لری. او دغه اول قسم دی. او حال داچي د شارح کلام په دوم قسم کي دی؟

جواب: په وخت کي د تکلم علم د متکلم په دې خبره باندې "**انه لم يجئ**" معتبر دی (يعني مخاطب علم په دې خبره باندې لری چي متکلم په وخت کي د تکلم علم په "**انه لم يجئ**" باندې لری). لهذا په دغه وخت کي سهو او نسيان په قسم اول کي ممکن نه دی. بلکه دوی دواړه په دوم قسم کي متصور کېدای سي. ځکه څه وخت چي مخاطب توهم د دې خبرې وکړی چي متکلم په وخت کي د تکلم سهو سوی دی نو مخاطب و متکلم ته د سهوي نسبت په دې وجه کوی چي مخاطب په علم د متکلم په "**انه لم يجئ**" باندې په حالت کي د تکلم علم نه لری. او دغه دوم قسم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: په دوم قسم (مخاطب علم په دې باندې نه لري چې متکلم "انه لم یجئ" باندې مخاطب علم لري.)کې درېیم قسم د جهل ابتدائي متصور کېدلای سي. لهذا شارح لره د دغه ذکر کولو پکار وو؟

تفصیل:تفصیل د دې خبري چې جهل ابتدائي په دوم قسم کې متصور کېدای سي دادی چې جهل ابتدائي بالنسبت و حال ته د مخاطب متصور کېدای سي ځکه متکلم ته حال د مخاطب معلوم نه دی.او دغه حال بالنسبت و حال ته د متکلم نسي متصور کېدای. ځکه په حالت کې د تکلم بالنسبت و متکلم ته پرته د سهو او نسیاني د بل شي عارضېدل متصور کېدای نسي. ځکه دلته دا خبره فرض سوې ده چې متکلم مخکې تر تکلم عالم په دې خبره "**انه لم یجئ**"سره دی.لهذا دغه حالت بالنسبت و مخاطب ته متصور کېدای سي ځکه ثاني دوه قسمه لري.

۱:مخاطب عالم په علم سره د متکلم بالکل نه وی. نه مخکې تر تکلم او نه ورسته تر تکلم او دغه په جهل ابتدائي سره د مخاطب هم مقصود دی. او په دغه وخت کې فهم د سهو او نسیان متصور کېدای نسي.

۲: مخکې تر تکلم مخاطب په علم د متکلم ابتداء عالم وی.او په وخت کې د تکلم بیا په علم سره د متکلم عالم نه وی. او په دغه وخت کې دغه په سهو او نسیاني باندې حمل کیږي؟

جواب:په توجیه کې د دې قول د علامه سکاکي "**غیر مشوب بتجوز و سهو و نسیان**"د علامه د کړل سوی کلام څخه دا فهمیږي چې د سهوی اطلاق په جهل ابتدائي باندې کیږي. او دغه خبره لری او بعیده نه ده چې د محشي په دې قول کې "**فی المشهور**"اشاره و دې خبري ته وی چې د سهوي اطلاق په جهل ابتدائي باندې په بله معني سره هم کیږي. لهذا د سهوی او نسیاني څخه د دغې معني مراد ول ممکن دی. سهو او نسیان په دغه معني سره تقاضي د دې خبری نه کوی چې مخاطب علم په دې خبره باندې لری چې د متکلم په دې خبري باندې "انه لم یجئ "علم سته. لهذا اوس اول او دغه دوول نه دوم اعتراض وارد ږیږي.

حاشیه نمبر ۷:په دې حاشیه کې دوه شیان د بیانولو ورکړي.

اول: بیان د جواب: مراد د عموم څخه (چې د دې قول څخه د شارح "اعم من ان یکون"مستفادیږی) عموم بدلي دی. لهذا د جواب حاصل داسو چې "**ما عند المتکلم**"(هغه شي چې په ورانديد

متکلم وی) احتمال ددو شیانو لری. ۱: "ما عند المتکلم فی الحقیقة". ۲: "ما عند المتکلم فی الظاهر". او دغه تصریح په "ما عند المتکلم فی الحقیقة" کې نه دی حتي چې بیا اعتراض په تعریف باندې په نه جامعوالي سره وارد سي.

سوال: تعریف مشتمل په ابهام او اجمال باندې دی. ځکه "ما عند المتکلم" مجمل او احتمال د "ما عند المتکلم فی الحقیقة" او د "ما عند المتکلم فی الظاهر" ددواړو دالری او تعریف مجمل صحی نه دی؟

جواب: شارح ددغه ابهام د ددفعې او لپاره د ثابتوالي ددخول ددغو دوو قسمونه تعریف "ما لا یطابق الاعتقاد سواء یطابق الاعتقاد اولا" اضراب ددغې خبرې څخه وکړی او وېویل "بل دلالته علی الثانی اظهر" او شارح په دغه دوم باندې "ما عند المتکلم" حمل کړی. او ددغه سره لازم صحی والي د تعریف دی. ځکه تعریف مانع او جامع وګرزېدی او مشتمل په ابهام باندې نه دی.

دوم: دردیان: د محشي مقصد رد کول په بعضو باندې دي. ددغو بعضو د قول حاصل دادی چې مراد د هغه عموم څخه چې د شارح ددغه قول څخه "اعم من ان یکون عند المتکلم" مستفاد ېږی عموم اطلاقي دی.

حاصل د جواب دادی چې مراد د "ما عند المتکلم" څخه مطلق "ما عند المتکلم" دی عام ترڅو په حقیقت او که په ظاهر کې وی. لهذا اوس سوال په نه جامعوالي سره د تعریف نه وارد ېږي. ځکه په دغه وخت کې "ما عند المتکلم" و "ما عند المتکلم فی الحقیقة" او ؤ "ما عند المتکلم فی الظاهر" دواړو ته شامله دی. لهذا اوس تعریف جامع سو.

سوال: که چیرې د "ما عند المتکلم" څخه مراد مطلق "ما عند المتکلم" مراد سي نود حقیقت په تعریف کې د مجاز دقسمو "ما یطابق فی اللاعتقاد فی الحقیقة سواء طابق الواقع ام لا" داخلېدل لازم سو؟

جواب: شارح ددغه اعتراض څخه د خلاصوالي په خاطر د مخکني خبرې څخه ده اضراب وکړی او وېویل: "بل دلالته علی الثانی اظهر الخ" او د رد خلاصه داده چې هغه خبر ددغو بعضو چې و هغه ته شارح اضراب وکړی اعتراف په دې سره دی چې په تعریف کې وړاندې والي و عموم ته مستدرک دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۱۱: په تعریف کې د مصنف مراد د ماخذه "**ما یلابس الفعل**" دی. ځکه د فعل او "**ما یلابسه**" ته اسناد کیدولو لره هیڅ معنی نسته. او مراد په "**ملابس**" سره فاعل نحوی په "**ما بنی للفاعل**" کې دی. او په "**ما بنی للمفعول**" کې مراد مفعول نحوي په قرینه سره د دې قول د مصنف (چې ده په مجاز عقلي "**وهو اسناده الی ملابس له غیر ما هو له بتأول و له ملابسات شتی الی ان قال : فاسناده الی الفاعل او المفعول به اذا کان آه**"کړی دي) دی. ځکه دغه کلام زموږ په خبره باندې صراحتا دلالت کوی. او دغه اسناد و مبتدأ ته دی. او دغه د مصنف په وړاندی نه حقیقت او نه مجاز دی. اوس اشکال دفعه سو ځکه ورسته تر خاصوالي د **ما** په فاعل او مفعول سره تعریف په مثل د "**انما هی اقبال و ادبار**" باندی نه صادقیږی.

سوال: د مصنف د راتلونکي خبری څخه دا لازمیږی چې و فاعل او مفعول ته اسناد حقیقتا دی. او د دغه څخه دا نه لازمیږی چې هر حقیقت به دغه ډول وی (یعنې چې اسناد فاعل او مفعول ته سوی وی)؟

جواب: د حد او د محدود د مساوی والی څخه دا خبره لازمیږي چې هر حقیقت به دغه ډول وی که څه هم په دغه سره تصریح سوې نه ده.

سوال: مراد په "**ما سیأتي**" سره فاعل حقیقي او مفعول به حقیقي دي. ځکه د مجاز په صورت کې اسناد و فاعل او مفعول به نحوی ته هم ثابت وی. لهذا اوس د فاعل او مفعول نحوي د مراد ډولو باندې "**ما سیأتي**" د قرینې د جوړیدولو صلاحیت نه لری. حتي چې بیا مبتدأ خار جه سي؟

سوال: مراد په "**ما سیجئ**" کې د فاعل او مفعول څخه فاعل نحوی او مفعول نحوي مراد دی. لکه دغه خبره چې ښکاره هم ده. او د فاعل نحوي او د مفعول نحوي وجود په مجاز کې ضرر نه رسوی. ځکه په مجاز کې موجود په عنوان سره د "**غیر ما هو له**" دی. او په حقیقت کې موجود په عنوان سره د "**ما هو له**" دی.

حاشیه نمبر۱۲: ضمیر په "**ما هو له**" کې و فعل او یا معنی ته د فعل به راجع وی. او د دغه څخه متبادره دا دی چې فعل یا معنی د فعل به په دغه سره قائم وی او یا به دده لپاره وصف وی. لهذا د حقائقو منفیو وتل لازم سو ځکه په حقائقو منفیو کې فعل وصف د هغه شي لپاره وی چې هغه ته د فعل اسناد سوی نه وی نه په حقیقت او نه په ظاهر کې.

په بل طرز بیان: د تعریف مقتضي داده چي فعل او یا معني د فعل به مسند و فاعل او یا مفعول ته وی. او دغه په حقائقو منفیو کي نسته. ځکه دوی په اسناد باندي مشتمله نه وي. بلکه په دوی کي سلب الاسناد وی. او که چیري د اسناد څخه مطلق اسناد د فعل مراد سي عام تر دي مثبت او که منفي وی (حتي چي بیاپه کلام منفي کي مراد د اسناد څخه اسناد د فعل او یا معني د فعل په حیثیت سره د نفي د ما هو له وی) نو په دغه وخت کي بیا تعریف مانع نه گرزی؟

صفحه نمبر ۵۵:

حل الحواشي

حاشیه نمبر۲: (شرط) څه وخت چي په تقریب کي د اشکال په ذکر سوی طرز باندي احتمال ددي ویولو وو چي ذکر سوی تعریف په قرینه سره د اسناد د ذکر کېدولو فقط لپاره د مثبتو حقائقو دی (ځکه په منفي حقائقو کي اسناد نسته) نو په دغه وخت کي دتعریف په مثل ددي اقوالو "ما ضرب عمرو، ما قام زید او ددي امثال" باندي د نه صادقېدولو څخه مانع نسته. ځکه تعریف خاص دی نه عام حتي چي بیا وویل سي چي تعریف جامع نسو. ځکه په هغه ټولو شیانو باندي نه صادقیږي چي په هغه باندي محدود صادقیږي. (جزاء) نو شارح د اشکال تفصیل په لفظ سره د "**حاصل**" وکړی او وېویل: "**حاصل الاشکال**". او په حاصل کي په دي سره تصریح سوېده چي د اسناد ذکر کول صلاحیت د قرینې جوړېدولو په دې خبرې باندي نه لري چي تعریف دي خاص لپاره د مثبتو حقائقوسی. ځکه اسناد عام و مثبتو او منفیو دواړو ته دی. او دوم قسم د اسناد په کلام منفي کي موجود او اسناد مثبت پکي معدومه وی. لهذا اوس په دغه وخت کي تعریف لپاره د مطلقو حقائقو دی عام تردي دوی مثبت او که منفي وي.

حاشیه نمبر۳: مراد د نفي څخه د فعل او یا معني د فعل د "**ما هو له**" څخه اول شق (نفي د فعل او یا معني د فعل د هغه شي څخه دی چي د هغه لپاره فعل او یا معني د فعل وصف او یا په هغه سره قائم وی) مراد دی. او معتبرول یې داډول دی چي مورږ کلام منفي د حرف نفي څخه خالي ګرزو او بیا دغه کلام د اثبات په صورت کي راوړو. د مثال په توګه "**ما قام زید**".

Maktaba Tul Ishaat.com

اوس موږ دغه کلام د حرف نفي "ما" څخه خالي کړو او د اثبات په صورت کې يې راوړو "قام زيد". او په دغه صورت کې اسناد د فعل و فاعل ته سوی دی.

سوال: تاسو کلام منفي ورسته د خالي کولو څخه د حرف نفي په صورت کې د اثبات ولې راوړی؟

جواب: کلام منفي د کلام مثبت تابع دی ځکه کلام منفي په اضافه سره د حرف نفي کلام مثبت وی. د مثال په توګه "ما قام زيد" په اصل کې "قام زيد" په اضافه سره د "ما" دی. د دغه تابعوالي د وجې موږ دغه کار کوو.

حاشيه نمبر۴: سوال: نفي د هغه طريقې مطابق چې هغه مخکې تېره سوه تابع د اثبات کړزول مستلزم دې لره دی چې په مثل کې د "**ما صام نهاری**" اسناد مجازی سی. ځکه که چيری "**ما صام نهاری**" د نفي څخه مجرد سي او په صورت کې د اثبات راوړل سي او وويل سي "**صام نهاری**" نو په دغه وخت کې به اسناد و غير ما هو له ته سي. او حال داچې دغه دغه "**صام نهاری**" ببله کومه شکه حقيقت دی؟

جواب: موږ د سوال دوم شق خپلو او وايو چې ثابتوالي د نفي سوی ضرب او د قيامي د نسبت و زيد لره دی. او ستاسو دغه قول "د مجاز عقلي منفي اقسام پکې داخليږي" **ممنوع دی** ځکه چيری په "**ما صام نهاری**" سره مراد "**افطر نهاری**" سي نو په دغه وخت کې اسناد د "**افطار**" و "**نهار**" ته اسناد و ما هو له ته نه دی. ځکه "**افطار**" د افعالو څخه د انسان دی نه د "**النهار**". او که چيری په "**ما صام نهاری**" سره مراد نفي د صوم د نهاري څخه حقيقتا سي نو په دغه وخت کې دغه حقيقت دی ځکه په "**ما صام نهاری**" کې اسناد په طريقه د نفي وما هو له ته دی. اوس په دغه وخت کې "**ما صام نهاری**" داخلبدل ضرر نه رسوی. بلکه داخلبدل يې ضرور ی دی. او ستا دغه قول چې دغه مجاز عقلي دی ممنوع دی.

حاشيه نمبر۵: سوال: مجاز عقلي په حکمي سره مسمی کولو لره هيڅ وجه نسته. ځکه مجاز عقلي لکه څه ډول چې په حکم (نسبت تامه) کې واقع کيږي دغه ډول په نسبت اضافي کې هم واقع کيږی د مثال په توګه "**مکر اللیل**". او په نسبت ايقاعيه کې هم واقع کيږي د مثال په توګه "**نمت اللیل أی اوقعت النوم علیه**".

اول جواب: مراد د حکم څخه معني لغوی ده نه په معني سره د نسبت تامه. نو معني داسوه "**انه منسوب الی حکم العقل بان النسبة فیه الی غیر ما هو مه سواء کانت تامة او ناقصة**".

دوم جواب: په تسمیه کي اشرف قسم معتبر سوی دی او دغه قسم حکم دی (نسبت تامه) او په تسمیه کي معتبر ول د اشرف قسم د تحقق سره د مجاز عقلي په غیر کي د نسبت تامه ضد یت نه لری.

دریم جواب: مراد د حکم څخه مطلق نسبت دی. او نسبت عام تر نسبت تامه وی.

سوال: لکه څرنګه چي مجاز عقلي په اثبات کي وی دغه ډول په نفي کي هم وی نو بیا دغه تسمیه "**تسمیة المجاز العقلي بالمجاز فی الاثبات**" لره وجه نسته؟

اول جواب: مراد د اثبات څخه نسبت دی. او نسبت مراد په معني مصدری سره دی "انتسا ب". او انتساب عام دی په جهت د ایجاب او که د نفي وی. ځکه په هر یوه کي د ایجاب او د نفي وی.

دوم جواب: مقید والي په اثبات سره د وجهي څخه د اصلیت دی ځکه مجاز په نفي کي فرع هغه مجاز لره دی چي هغه په اثبات کي وی. ځکه نفي چي تر څو پوري اثبات ګرزول سوی نه وی تر هغو پوری دغه نفي مجازا نه وی لکه تا چي دغه خبره وپیژندله.

حاشیه نمبر ۱۴: دا قول "**حاصله**" عطف په دې قول "**و حقیقة قولک**" باندی دی.

سوال: د مجاز عقلي په تعریف کي مصنف د جمهورو څخه مخالفت کړی دي ځکه ده په تعریف کي لفظ د تأول راوړی دی په خلاف د جمهورو چي هغو لفظ د قرینې راوړی دی او د جمهورو مخالفت کول صحی نه ده؟

جواب: مصنف د جمهورو مخالفت کړی نه دی ځکه د تأول ذکر کول د قرینه د روارولو او قائمولو څخه کنایه ده. لهذا د تأول دوې معناګاني دي. ۱: طلبول او التفات کول و ما یؤل الیه ته. ۲: نصب د قرینې او موجودوالي د قرینې. اوله معني حقیقي د تأول ده او دومه یې معني کنایي ده ځکه د ما یؤل الیه طلبول تابع او ورسته تر قرینې د موجودوالي راځي. لهذا دلته ذکر ملزوم (چي مراد د تأول څخه تطلب دی) او مراد ځني لازم "**نصب القرینة**" دی. ذکر ملزوم او مراد ځني لازم پرته د کنایې بل څه نه وی. لهذا کوم شي چي د جمهورو مراد دی هغه د مصنف هم مراد دی نو مخالفت راتلل لازم نسو.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۱،۲: تشبیه د ربیع په قادر سره تشبیه اصطلاحي نه ده. ځکه اصطلاحي تشبیه مقصود په کلام سره وی. په خلاف د تشبیه د ربیع په قادر سره. ځکه دغه تشبیه مقصود په کلام سره نه ده.

حاصل: حاصل د بیان دا دی چې تشبیه د ربیع په قادر سره مقصود په افاده سره نه ده بلکه مقصود په افاده سره اسناد د فعل و ربیع ته دی. اود تشبیه رعایت کول د دې لپاره دی چې اسناد د فعل و ربیع ته صحی سي. ځکه اسناد د فعل او معني د فعل او هر غیر ما هو له ته صحی نه وی. او په حقیقت او نه په مجاز کي شمیرل کیږي. بلکه په مجاز کي چاره د دې څخه نسته چې دغه غیر به ملابس او مشابه د ما هو سره وی.

توضیح: په دې قول کي د عربو "**انبت الربیع البقل**" تشبیه د ربیع په قادر سره ورکول سوې ده. اوس په دغه قول کي نسبت د "**انبت**" و "**ربیع**" ته سود دی. او دغه هم نسبت د فعل و غیر ما هو له ته دی. او نسبت د فعل او هر غیر ما هو له ته صحی نه وی بلکه و هغه شي ته صحی وی چې هغه ملابس د ما هو له سره وی. اوس دلته غیر ما هو له "**الربیع**" او ما هو له "**قادر مطلق**" دی. اوس د دغه ملابسوالي د صحی کولو لپاره دوی د ربیع تشبیه د قادر سره په دې کي ورکړېده چې لکه څه ډول چې قادر بقل سمسوروی دغه ډول ربیع هم سمسورول د وښو د هغه قوت په سبب چې نما ورکونکي دی کوی. لهذا دلته دوه شیان راغله.

۱: د تشبیه وجه ورسته تر تشبیه ورکولو بیان سوه. ۲: دغه وجه د تشبیه بیانول لپاره د دغه قول د صحی والی لپاره دی. لهذا دغه تشبیه د تشبیه اصطلاحي ډول نه ده ځکه په هغه کي اولاد تشبیه د وجې بیان کیږي. ورسته بیا تشبیه د یو شي د بل شي سره ورکول سي. او دغه ډول تشبیه اصطلاحي لپاره د کلام د صحی والي د بیان لپاره نه وی.

سوال: آیا په کلام عربي کي په مثل د "**انبت الربیع**" نور څه هم سته؟

جواب: هو لکه په کلام عربي کي مالره حکم د "**لیس**" ورکول سوی وو. نو بیا عربو د دې وجه او سبب معلومول و غوښتل. نو بیا دوی دغه سبب تشبیه وبلل. دا ډول چې نحاتو په خپلو

ذهنو کي دافرض کړی چي ما په مثل د ليس عمل کوی لهذا په عمل کي د مشترک والي په خاطر ما په مثل د ليس په مبتدا او خبر باندي داخليږي. اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوی.

سوال: شارح ويلي دی چي دغه تشبيه د ربيع پ. قادر سره په مثل زمور ددې قول دی چي ما په مثل د ليس دی. ارس ددغو (تشبيه د ربيع په قدر سره، تشبيه د ما په ليس سره) دوو تشبيه په څه کي ده؟

جواب: په دې کي ده چي څه رنګه تشبيه د ربيع په قادر سره مقصود بالذات نه ده (بلکه د پاره د صحی والي د اسناد د فعل و ربيع ته ده) دغه ډول تشبيه د ما په ليس سره هم مقصود بالذا نه ده (بلکه ما لره د ليس د حکم ورکولو د صحی والي د بيان لپاره ده).

حاشيه نمبر ۱۵: آلم درد ته ويل کيږي. اوس که چيرې آليم "**فعيل**" په معنې د آلِم "فاعل" وګرزول سی نو په دغه وخت کي **آليم** په معنی سره د **متوجِع** دی (يعنې غم ښکاره کونکي، شکايت کونکي) نو په دغه وخت کي "معذَب" په صيغه سره د اسم مفعول په معنی سره د هغه کس دی چي هغه ته عذاب ورکول کيږي.

سوال: آليم په معنی سره د اسم فاعل او معذب په صيغه سره د مفعول ګرزول د شارح ددې کلام "**فوصف به فعله**" سره ضديت لری. ځکه دلته عذاب ته يې د معذَب فعل ويلی دی او حال دا چي عذاب د معذب (په صيغه سره د اسم فاعل) فعل دی ځکه عذاب دده څخه صادر ږيږي او دغه د معذَب (په صيغه سره د اسم مفعول) فعل نه دی؟

جواب: "**فعله**" کي فعل و معذَب ته مضاف ديو لږ تعلق په بنياد باندی دی هغه دادی چي دغه فعل په دغه معذَب باندی واقع سوی دی نه دده څخه. لهذا و دغه عذاب ته د معذَب فعل ويل دده تعلق په بنياد باندي دی.

او که چيرې آليم په معنی سره د مؤلِم (په معنی سره د درد ورکونکي، تکليف ورکونکي) سي نو په دغه وخت کي معذِب په صيغه سره د اسم فاعل دی. لکه سميع په معنی سره د مسمِع دی (اوورونکی) نو بيا به د "**عذاب اليم**" معنې داسي "عذاب تکليف ورکونکي". لهذا په دغه وخت کي د فاعل فعل (عذاب) په اليم سره موصوفه سو.

سوال: فعيل په معنی سره مفعِل نه رائي لکه په دغه خبره سره صاحب الکشاف تصريح کړيده چي سميع په معنې سره دسامع دی نه د مسمِع؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: سو، دغه خبره نه منو چې فعيل په معني سره د مفعل په کلام عربي کې نه راځي بلکه راغلي دی لکه د عمرو بن معديکرب په دې قول کې "أمن ريحانة الداعي السميع" آيا د ريحانة د طرف څخه يو بلونکي ددې سره د عشق او اورونکي ددې د حال و ما ته ښته. دغه د عمرو بن معديکرب شعر دی. او اصل واقعه داوه چې عمرو د ريحانة ملګرې وو. او ريحانه د دريد بن الصمه خور وه. او عمرو د صمه څخه دا وغوښتل چې دا و ده ته په نکاح ورکړی مګر صمه د دغه څخه انکار وکړی.

سوال: په دغه شعر کې د عمرو دي بايد سميع په معني سره د سامع سي او دغه دي دليل لپاره د صاحب الکشاف جوړ سي؟

جواب: دغه خلاف د ظاهره څخه ده ځکه په دغه کې د اوږدولو سبب موصوفه په سميع سره سوی دی. او دليل جوړيدل بناء په ظاهر بادي وی نه په خلاف د ظاهر باندې.

حاشيه نمبر ۱۸: سوال: که چيرې ملابست عام تر دې سی چې په واسطه د حرف وی او که نه وی نو بيا ذکر د زمان، مکان او د سبب ورسته تر مفعول په دې قول کې دده "**يلابسه الفاعل والمفعول به والمصدر والزمان والمكان والسبب**" به لغوه سي ځکه دغه دې سره په دغه وخت کې په مفعول کې درج دي. دا ډول چې ددغه درو سرو سره فعل په طريقه د مفعوليت په واسطه سره د حرف ملابست لری؟

جواب: مراد په مفعول سره اعم تر دې دی چې په واسطه سره د حرف وی او که نه وی ځکه که چيرې دغه مراد نسي بلکه فقط هغه مراد سي چې بېله واسطې د حرف وی نو بيا به "**ضرب للتأديب، صلى فى الدار**" او ددوی په مثل نور به مجاز سي. او حال داچې دغه دواړه حقيقت دي لهذا ددې څخه دا معلومه سوه چې د مفعول څخه عامه معنې مراد ده. او پاته داخبره چې د سبب، مکان او زمان ذکر کول ورسته تر مفعول به لغو سي نو مونږ دغه خبر نه منو. ځکه دوی که څه هم په مفعول کې درج دی مګر په دغه کې خفي والي وو نو ددغه خفي والي او غفلت د لرې کولو په خاطر په دوی سره تصريح وسوه. او ډير ځلي (دا هغه وخت چې شاملوالي د عام و خاص ته په دغه کې خفي والي وی) ذکر د خاص ورسته تر عام د دغه کار لپاره وی.

صفحه نمبر ۵۷:

حاشیه نمبر۲: په دغه حاشیه کې څو شیان د بیانولو وړ دي.

اول: بیان د دې عبارت "**ان المجاز العقلي**": د دغه عبارت څخه بیا تر دې عبارت "**والمذکور في الکتاب**" پورې مقصد د شارح تقریر د ذکر سوی اشکال دی نه تردید. او دغه ذکر سوی اشکال څخه جواب د دې عبارت "**فالمذکور في الکتاب**" څخه شروع دی. او شارح په دغه کلام سره راتلک د دغې د هغه اعتراض وکړی چې هغه به داډول واردېدی چې نسبت ایقاعیه او اضافیه مجاز نه دی. بلکه د مجاز عقلي سره د مشابهت درلولو په خاطر په دوی د مجاز عقلي اطلاق کېده په طریقه د مجاز دی. نو اوس ذکر سوی اشکال نه واردیږي. نو شارح د دغه اعتراض د دغې د لپاره په دې کلام سره مخکې تر شروع کولو په جواب سره وکړی.

دوم: بیان د جواب: مراد د اسناد څخه عام تر دې دی چې صراحتا وی لکه زمونږ په دې قول کې "**انبت الربیع البقل**" او که صریح لره مستلزم وی لکه په دې قول کې "**مکر اللیل**". لهذا د اسناد څخه مطلق نسبت مراد دی. او په "**مکر اللیل**" کې نسبت په مجاز سره موصوفه دی. ځکه دغه نسبت و اسناد حقیقي و غیر ما هو له ته مستلزم دی. لهذا مجاز عقلي یا عین اسناد و غیر ما هو له ته دیاو یا هغه نسبت ته وی چې هغه مستلزم و اسناد ته د غیر ما هو له ته وی. حاصل داسو چې په ذکر سوی تعریف کې اسناد عام تر دی دې چې پهدغه باندې کلام صراحتا دلالت کوی او که په ده خو صراحتا دلالت کوی مګر دی بیا و اسناد ته د فعل او یا د معني د فعل و غیر ما هو له ته وی. لهذا اوس تعریف مخکني مثالو ته شامله سو. ځکه دوم شق د تعمیم پهدغه مثالو باندې منطبق دی. داډول چې دوی په هغو نسبتونو باندې دلالت کوي چې هغو په دوی کې صراحتا موجود دي او دغه نسوب بیا و اسناد ته د فعل او معني د فعل و غیر ما هوله ته دی. لکه دغه شارح پخپل دې قول "**فان النسب الاضافیة آه**" بیان کړی دي.

سوال: محشي چې کومه توجیه د کلام د شارح کړېده دا یو داسي توجیه ده چې په هغه سره شارح راضي نه دي. د دغې خبرې تفصیل دادی چې د شارح د کلام څخه ښکاره داده چې په کتاب کې ذکر سوی تعریف محض د هغه مجاز عقلي دی چې هغه په اسناد کې موجود وی او یا مطلق مجازی عقلي لره دی داډول چې د مصنف په کلام کې اسناد عام تر دې و ګرزول سي

Maktaba Tul Ishaat.com

چې مدلولي صريحي د کلام وي لکه په دې قول کې "انبت الربيع البقل" او که مدلول التزامي لپاره د کلام وي لکه په دغه مثالونو کې. لهذا اوس په دې خبرې کې شک نسته چې دده په کلام کې تعميم بالنسبت د دوو قسمو (صريحي، التزامي) ته د اسناد دی. نه بالنسبت د ايقاعيه او اضافيو ته. لهذا په کلام کې د شارح مقابله په مابين کې د مدلول صريحي او التزامي ده. او حال دا چې محشي مقابله په مابين کې د مدلول صريح او د دال بالالتزام گرزولې ده؟

جواب: د محشي بيان، بيان په ما لا يرضى شارح سره نه دی ځکه د شارح په ښکاره کلام باندې اعتراض واردېدی چې په دغه وخت کې تعريف لپاره د مطلقي مجاز نه دی لکه په دغه سره چې د شارح په کلام کې تصريح سوېده بلکه تعريف لپاره د مجاز اسنادی سو. لهذا حاصل دا سو چې د شارح مقصد تعميم لپاره د مطلقي مجاز دی. او د ښکاره څخه د تعريف دا معلوميږي چې دغه تعريف لپاره د مجاز اسنادی دی. او دغه تعارض په مابين کې د مقصد د شارح او د ښکاره د شارح د کلام په مابين کې دی. لهذا د دغه څخه دا معلومه سوه چې مقصد د شارح هغه څه نه دی کوم چې د ښکاره څخه د کلام معلوميږي. بلکه مقصد دده هغه څه دی کوم چې محشي بيان کړی دی.

دريېم: دوم جواب: مراد په اسناد سره مطلقي نسبت عام تر دې دی چې ايقاعيه او که اضافيه وی او که اسناد په معنې اخص (نسبت تامه) سره وی. لهذا بناء په دغه تعريف د معرَف سره مساوي او ټولو اقسامو ته شامله وگرزېدی.

﴿فائده﴾: فرق په مابين کې د اول او ددوم جواب: په دواړو جوابو کې مراد د اسناد څخه مطلق نسبت دی مگر محض فرق ددوی په مابين کې دادی چې په اول کې دغه قيد "**انها مستلزمة للاسناد الحقيقي**" معتبر دی مگر په دوم کې دغه قيد معتبر نه دی. او د اظهريت وجه يې داده چې په دې کې د استلزام ته د نظر کولو تکليف نسته.

حاشيه نمبر۵: "**سهل الهموم**" د "**لا تطيعوا امر المسرفين**" د قبيلې څخه دی. او په دغه کې اشاره د دې خبرې ته ده چې په مثل کې دده مجاز په دوو طريقو سره ثابتيږي.

اول: "**لا تطيعوا امر المسرفين**": دغه مجاز عقلي دی (ځکه په دغه کې اضافت د اطاعت و امر ته سوی دی). او دغه په دوو طريقو سره دی.

۱: امر په دغه قول کې مطلق (هغه شي چې د هغه اطاعت کول کيږي) ګرزول سوی دی. او دغه مجاز دی ځکه په اصل کې اطاعت د اسراف کونکي کس کيږي نه د امر.

۲: په دغه کې امر آمر ګرزول سوی دی ځکه اطاعت د اسراف کونکي آمر کس کول کيږي. او په دغه نسبت ایقاعیه مجاز په کې کنایي ده د هغه نسبت چې هغه و فاعل ته وو او اوس مفعول بالواسطه ته (چې هغه امر دی) سوی ی. ځکه داډول "**لا تطيعوا المسرفين فى امرهم**" ویل کيږي.

دوم: "**سل الهموم**": دغه مجاز عقلي دی (په قرینه سره د اضافت د تسلیې و هموم ته) داډول چې هموم محزون ګرزول سوی دی. لهذا ایقاع د تسلیې په هموم باندې مجاز دی ځکه تسلي و هغه چا ته ور کول کيږي چې په هغه باندې غم راغلی وی نه و غم ته چې و دغه کس ته عارض سوی وی. او په دغه قول کې د "**كون الهموم حزينة**" څخه کنایه ده. ځکه تسلي پرته د غمګینه د بل چا نه کول کيږي. لهذا په دغه نسبت ایقاعیه مجازی کې کنایه د هغه نسبت چې و فاعل ته وو ده چې اوس و مفعول بالواسطې (هموم) ته سوی دی. ځکه "**حزن فلان لهمومه او فى همومه**" ویل کيږي.

حاشيه نمبر ۷،۸: په دې حاشیه کې دوه بحثه دي.

اول: د خلاف لفظ دوم خلي دراوړلو بيان: شارح لفظ د خلاف ددې لپاره راوګرزوی چې په **بواسطة** لفظ کې د راغلي باء تعلق دده سره ښکاره سي او دی د خپل **متعلّق** څخه لرې نسي. او افاده يې ددې لپاره ذکر کړه چې لام په **للخلاف** کې دده سره **تعلق** ونسي. او معني يې دا جوړيږي "**افادة لما هو مخالف لما هو عند المتكلم بواسطة العقل لا بواسطة الوضع**".

دوم: شارح ددغه قول "**لا بواسطة الوضع**" اضافه ددې لپاره وکړه چې احتراز د هغه مجاز لغوي څخه راسي چې هغه په دې صورت کې واقع سوی دی "دغه خبره فرض سي چې نسبت و قادر مطلق ته په مفهوم کې د اثبت په اعتبار د هغې وضعي دی چې هغه په وضعي لغوي باندې عارض سوېده". ځکه په دغه وخت کې د اثبت استعمال په پرته کې د قادر مختار (لکه په "اثبت الربيع" کې) وتل د موضوع له څخه و بلي معني ته دی. لهذا دی په دغه وخت کې مجاز لغوی (وضعي) سونه مجاز عقلي. او سره ددې ستا په دغه قول باندې دا خبره "**انه كلام مفاد به خلاف ما عند المتكلم من الحكم فيه بضرب من التأول**" صادقيږي. لهذا تحرز کول دده څخه په

Maktaba Tul Ishaat.com

واسطه سره د مقید کولو د لفظ د "الخلاف "په دې "بکونه خلافا بواسطة العقل لا بواسطة الوضع "قید سره دی.

صفحه نمبر ۵۸:

حل الحواشي

حاشیه نمبر۱: "**ما عند العقل**" د اهلي لغتو په وړاندی هغه دی چې د عقل په وړاندې ثابت او ده لره حاصل وی. او دده څخه خصوص ما فی النفس مراد نه دی. ځکه "**ما عند العقل**" وکواذب ته شامل او "**ما فی نفس الامر**" ورته شامل نه دی. ځکه کواذب عند العقل حاضر وی مګر دوی په نفس الامر کې موجود نه وی. لهذا "**ما عند العقل**" عام تر دې دی چې ثابت په نفس الامر کې وی او که نه وی. لهذا د ما عند العقل څخه تعبیر په ما فی نفس الامر سره کول جائز نه دی. ځکه عام په حیثیت سره د عموم دلالت په خاص په حیثیت د خصوص نه کوی.

صفحه نمبر ۵۹:

حل الحواشي

حاشیه نمبر۲: **سوال**: د مصنف دغه قول "**لم یحمل نحو قوله**" دمخکني کلام سره (چې هغه تعریف د حقیقت او مجاز دي) منافي دی. ځکه دده مخکني کلام صراحتا په دې دلالت کوی چې حقیقت او مجاز د اسناد صفتونه دي. او اوسني کلام په دې دلالت کوی چې دوی د کلام صفتونه دي؟

جواب: د مصنف دغه قول "**لم یحمل نحو قوله**" په حذف د مضاف "**لم یحمل اسناد نحو قوله الخ**" او یا په اسناد مجازی باندې حمل دی. ځکه د "**لم یحمل**" اسناد و "**نحو قوله**" ته اسناد و غیر ما هو له ته دی. او ما هو له هغه اسناد دی چې په مخکني کلام کې دی. او یا دغه په مجاز باندې حمل قول محمول دی چې دغه جاری والي دو صف د جزء په کل باندې دی. ځکه هغه شي چې په حمل منفي سره موصوفه کیږي هغه اسناد دی. او څه وخت چې اسناد جزء صوري لپاره د قول وو نو وصف د اسناد په قول باندې جاری سو.

حاشیه نمبر ۶: مقصد د محشي د شارح ددغه عبارت د راوړولو د وجې بیانول دی. شارح په راوړولو سره ددغه عبارت "**مثل الاستدلال**" واشراه ودې ته وکړه چې د مصنف په کلام کې حذف د مشبه سوی دیاو اصل عبارت داډول دی "**ما لم یعلم او لم یظن ان قائله لم یعتقده ظاهره و لم یستدل بشیء علی ذالک استدلالا کمل استدل الخ**".

سوال: مخکښې خبره دې لره مستلزم ده چې حمل کول په مجاز موقوفه په "**استدلال**" باندی دی. او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده ځکه ډیر ځلي" د وجهې څخه د ښکاره والي د محالتوب د قیام د مسند په مسند الیه پوری عقلا او هم بداهتا "حمل کول په مجاز باندې بدهي وی؟

جواب: د استدلال څخه مراد معني لغوی (**مطلق الاسناد لشیء لو بدهیا**) ده نه معني اصطلاحي چې مقابل د بداهت ده. نو اوس دغه اعتراض " چې عدم اراده د ظاهر کله بدهي وی لکه محا لوالي د قیام د مسند د مسند الیه سره" نه واردیږي.

حاشیه نمبر ۴: **سوال**: مصنف حرف نفي په معطوف باندې نه را وګرزوې مګر شارح راوګرزولي ددې څه وجه ده؟

جواب: مصنف په دې وجه حرف نفي راونه ګرزولي چې ده قصد ددې خبرې کړی وو چې کلام عموم د نفي بالنسبت و علم او ظن ته فائده کړی داډول چې "**أو**" (**هغه "أو" چې د احد الامرین لپاره وی**) په سیاق کې د نفي واقع سي. لهذا دغه "**أو**" قرینه پر دې ده چې نفي بالنسبت و هر یوه ته د طرفینو عامي دی. ځکه نفي د داسې احد چې په مابین کې د امرینو وی په انتفاء سره د هر یوه د طرفینو ثابتیږي. نو اوس که مصنف چیرې نفي راوګرزوی نو بیا توهم ددې خبرې کیږي چې نفي په حقیقت باندې د حمل کولو لپاره انتفاء د یو د طرفینو کفایت کوی. او حال دا چې په حقیقت باندې د حمل کولو لپاره د انتفاء څخه د طرفینو په یوه پولا چاره نسته. او شارح د مصنف د مقصد د بیان په خاطر نفي راوګرزولي. اوشارح د یوه توهم دفعه کول غوښتل هغه دادی چې دغه قول "**یظن**" مرفوع او عطف په مجموع نفي او منفي باندی دی. لهذا د عبارت معنی داسوه "**لزوم الحمل علی الحقیقة عند الظن بانه لم یرد ظاهره او خبره**" او حال دا چې خبره دغه ډول نه ده ځکه په دغه وخت کې حمل په مجاز باندی رائي.

عبارت سوال: د راتلونکي عبارت څخه دا ښکاره کیږي چې "**اطلعي**" بیان او یا بدل د مصنف ددې قول "**قیل**" څخه دی او حال دا چې دغه صحی نه دی ځکه "**قیل**" مصدر په معني

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د "**قول**"دی او "**اطلعي**"امر دی. لهذا د قول او د امر په مابین کې موافقت ښکاره کیږي وای نو بیا به یې بدلیت او عطف بیان ته صحي ښوی وای؟

جواب: "**قيل**"په معني سره "**قول**"نه دی بلکه په معني سره د امر دی. لهذا اوس "**قيل**"د امر سره "**اطلعي**"موافق و ګرځېدی.

سوال: مشهوره او متعارفه داده چې د افعالو اسناد و ارادې الهي ته کیږي نه و امر ته دده؟

جواب: امر الهي پرته د ارادې الهي څخه بل څه نه وی ځکه الله فاعل مختار دی نو اسناد دده او امر ته اسناد دده وارادې ته دی لهذا د مصنف قول د متعارف څخه مخالف نه دی.

حاشیه نمبر ۱۴ : په "**قيل**" کې دوه احتماله دي. ۱: دی مصدر دی. ۲: اسم په معنی سره د مقول دی. دغه ډول په امر کې هم دوه احتماله دی. ۱: مصدر دی. ۲: اسم په معنی سره د صیغې دی. لهذا اوس که چیرې "**قيل**"مصدر سي نو په دغه وخت کې دې په معني سره د امر دی ځکه راتلونکي قول "**اطلعي**" مفعول به لپاره ددغه "**قيل**"دی. او "**اطلعي**" صیغه د امر ده. او صیغې د امر څخه به لفظ د امر به وی دا ډول چې د الله امر و لمر ته وو چې ته راوچت سه. لهذا بناء په دغه د قیل تفسیر په امر سره وسو. او که چیرې "**قيل**" په معنی سره د "**مقول**" سي نو بیا "**اطلعي**"بدل او یا عطف بیان د "**مقول**"څخه دی. لهذا بناء په اول امر هم مصدر دی. او بناء په اخرینو اسم په معني سره د صیغې دی. او څه وخت چې امر په معني سره د طلبولو د ایجاد د شي اویا په معني سره د صیغې په وړاندی د بعضو موجود نه وو. (او دغه بعض په دې سره قول کونکي دی چې دغه قول الهي "**انما امرنا لشیء اذا اردناه ان نقول کن**"تمثیل لپاره د حصول د شي په سرعت او تیزی سره دی. او هلته د سره امر نسته.) نو عطف د ارادې په امر باندې دغه عطف تفسیر دی. لهذا دا خبره معلومه سوه چې په "**قيل الله**" سره اراده د الله جل جلاله مراد ده. او د هغو علماؤ په وړاندې چې دوی په خطاب حقیقي کېدو سره د "**کن**"ورسته تر ارادې قول کونکي دی امر پخپله معني حقیقي سره مراد دی. لهذا "**لان اطلعي**" په معني سره د "**کوني طالعة**"دی. بهر صورت مراد په امر سره امری تکویني (هر هغه امر چې په اومورو تخلیقیو سره وی) دی نه تشریعي (هر هغه امر چې په امورو شرعیو سره وی).

صفحه نمبر ۶:

حل الحواشي

حاشیه نمبر۲: سوال: "شباب الزمان" قائم د زمان سره دی او "ازدیاد قوی الارض" قائم په مځکه سره دی. لهذا پهدغه وخت کي تفسیر د "شباب الزمان" په "ازدیاد قوی نامیة فی الارض" سره صحی نه دی ځکه دغه په مباین سره دشي تفسیر دی؟

جواب: تفسیر د "شباب الزمان" په "ازدیاد قوة الارض" په سبب سره د "لطافة الهواء و اعتداله" دی او دغه صحی دی. او په دغه وخت کي د زماني لپاره ددغو صفاتو څخه یو شي لا هم نسته. نو په دغه وخت کي اضافت د شباب و زمان ته د وجي د ادني ملابست او مناسبت دی او هغه مناسبت دادی چي دغه ځواني او کمزوری په دې کي و شیانو ته حاصلیږي. لهذا حاصل داسو چي شباب په زماني سره قائم نه دی بلکه نسبت یې د ادني ملابست د وجي څخه سوی دی.

حاشیه نمبر۴: سوال: په مذهب د مصنف د مجاز عقلي حصر صحی نه دی ځکه یو د طرفینو څخه مجاز عقلي یا دواړه کنایي کېده ممکن دی. او کنایي مقابل د هریوه څخه د حقیقت او د مجاز په وراندی د مصنف دی. نو بیا د مصنف دغه قول "**و اقسامه اربعة**" بنا په قصد د حصر (لکه په دغه چي دده قول په ایضاح کي "**ثم المجاز العقلي باعتبار طرفیه اعني المسند و المسند الیه اربعة اقسام لا غیر**" دلالت کوی) صحی نه دی؟

جواب: مقصد د مصنف حصر د مجاز عقلي په اعتبار سره د حقیقت اود مجاز والي د طرفینو دی. لکه په دغه خبره سره شارح په مختصر المعاني کي "**اقسام المجاز العقلي باعتبار حقیقة الطرفین و مجازیتهما**(**مختصر المعاني**۵۷) "تصریح کړېده. نه په اعتبار سره د مطلق طرف حتي چي بیا اعتراض وارد سي.

سوال: که چیري موږ دغه اعتبار معتبر کړو نو بیا اشکال په اعتبار د انحصار په مذهب د سکاکي هم نه واردیږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: منشأ د اشکال په مذهب د سکاکي منافي والي د هغه شي دی چي هغه تقضي د تعريف ده د هغه شي سره چي هغه تقاضي د تمثيل ده .او دغه منشأ په معتبرولو سره د ذکر سوی اعتبار نه دفعه کيږي.

حاشيه نمبر۷:د سکاکي د رائې مطابق حصر په څلورو لره وجه نسته ځکه ده د مجاز عقلي دا دول تعريف کړيدي "**الكلام المفاد به خلاف ما عند المتكلم من الحكم بتأول**".لهذا دده په وړاندي د مسند داسي جمله کېده جائزه ده چي اسناد يې و مبتدأ ته سوی وی د **مثال په توګه "زيد صام نهاره أو نهاره صائم"**.او جمله دده په وړاندي احتمال ددې لری چي دا په حقيقت او مجاز سره موصوفه سي او د نه موصوفه والي احتمال هم لری.ځکه ده د حقيقت او د مجاز په تعريف کي لفظ د کلمې راوړی دي. او ده د مجاز لغوي د دو اقسامو کېدو (۱: حقيقت .۲: مجاز) سره تصريح کړې نه ده.مګر ده مثال د استعاري(چي هغه قسم مجاز لغوي دی) په مرکب سره راوړی دي. لکه دا قول "**أراك تقدم رجلا و تؤخر أخرى**". اوس که مورږ هغه شي ته نظر و کړو چي هغه مقتضی د تعريف د سکاکي دی(چي هغه د حقيقت او مجاز منحصر والي په مفرداتو کي دی) نو بيا حقيقت عقلي او مجازعقلي په دغه اقسامو کي حصر نه دی.او که مورږ هغه شي ته نظر وکړو چي هغه دغه د مثال تقاضی ده نو بيا حصر والي د حقيقت عقلي او د مجاز عقلي په دغه څلورو اقسامو کي هم ظاهره دی. لهذا څه وخت چي مقتضی د تعريف دده او مقتضی د تمثيل دده د يو د بله سره منافي وو نو ددغه وجي انحصار بناء په مذهب دده مشکل او مجمل و ګرزېدو.

صفحه نمبر۶۱:

حاشیه نمبر ۶: سوال: مثل د شاعر د قول او ددهري د قول په استحاله کې داخل دي. ځکه عقل قائموالي د انبات په ربیع سره او افناء په کر الغداة سره محاله بولي. نو په دغه وخت کې د مؤحد څخه صادروالي مقابل ددغه استحالې څرګندولو لره هیڅ وجه نسته؟

جواب: مراد د استحالې څخه استحاله ضروریه (چې عقل او نفس ببیله د تجربې، نظر او عادت د معتبرولو دی حکم په دغه استحاله سره وکړي) ده. او په ذکر سوی مثالونو کې خبره دغه ډول نه ده؟

حاشیه نمبر ۱۲: سوال: خلو د وضعي بناء په دغه لازمیږي. نو دغه لفظ عبث او محال سو؟

جواب: مور حصر والي د فائدې په استعمال کې نه منو ځکه کله کله صحی والي د مجاز وی او که چیرې دغه ومنم نو بیاد لازم باطلوالي نه منم ځکه عبث دوې نوعي لري.

۱: چې په ده سره فائده نه قصدیږي دغه که څه هم محال دی مګر دغه دلته نه لازمیږي.

۲: هغه شي چې په ده باندې فائده نه مرتبیږي. او دغه دلته لازم مګر محال نه دی.

سفحه نمبر ۶۲:

حاشیه نمبر ۹: سوال: تبره سوې خبره "په ذکر سوی مثال کې انتفاء د فاعل حقیقي" ددې تقاضي کوی چې دغه مثالونه کواذب دي. ځکه انتفاء د فاعل مستلزم انتفاء لره د فعل ده. نو بیا د ثبوت څخه د فعل خبر ورکول د واقع سره مخالفت لري. او دغه هم کاذب دی؟

جواب: ددوی په مابین کې فرق موجود دی ډاډول هغه معني چې متکلم د کلام څخه قصد کړیده دغه معني په ذکر سوی مثالونو کې موجوده ده. په خلاف د کذب او ددروغ. ځکه دغه معني په کواذبو کې موجوده نه ده. لکه په "**اقدمني بلدک**" اوس قدوم که چیرې متحقق نه سي نو بیا مجاز عقلي کاذب دی او که چیرې سي نو بیا مجاز عقلي صادق دی.

حاشیه نمبر ۱۳: مراد په مساوات سره دا ډول جلا والي نه دی چې دغه لوازم داډول وي چې دوی هر چیرې موجود سي نو هلته مشبه به هم موجود سي او هر هغه ځای چې دوی منتفي وی نو هلته مشبه به هم منتفي وی. بلکه مراد دده څخه دادی چې دغه لوازم داډول خاص په

Maktaba Tul Ishaat.com

مشبه به پوری وی چې دوی په پرته کې د مشبه به په بل چا کې نه موجودیږي. بیا عام تر دې د مثال په توګه سره متلازمین وي او که مشبه به بېله دوی ثابتیږي. خلاصه داسوه چې تعبیر کول په مساوات سره لپاره د احتراز کولو د لازم اعم څخه دی. ځکه لازم اعم دلالت په ملزوم باندی نه کوی. نو اوس دغه اعتراض نه واردیږي چې انبات د لوازمو څخه د الله جل جلاله نه دی.

حاشیه عه: محشي فائده ددې خبرې بیانوی چې شارح د فاعل حقیقي لپاره د انبات تفسیر په قادر مختار سره ولي وکړی. حاصل یې دادی چې شارح په دغه کې اشاره و دفعي ته د هغه اعتراض وکړه کوم چې په سکاکي باندي واردېدی. د هغه اعتراض خلاصه داده چې قول په دې سره **کول** "چې هغه شي چې د قوم په وړاندي مجاز عقلي دی دغه شي داخل په استعاره بالکنایه کې دی" صحی نه دی ځکه بناء په دغه تشبیه د ربیع په الله جل جلاله سره ورکول او ادعاء ددې کول چې ربیع بعینه الله دی لازمیږي. او دغه پیر ضعیفه دی. ځکه تغایر په مابین کې ددو متغایرینو (الله جل جلاله، ربیع) شیانو واضح دی. په خلاف د مجاز عقلي ځکه په دغه کې تشبیه د ملابست د ربیع په انبات سره د هغه ملابست سره ده چې هغه د فاعل حقیقي د انبات سره دی؟

جواب: تشبیه د ربیع د فاعل حقیقي سره هغه وخت به ضعیفه وای که چیرې تشبیه د فاعل حقیقي سره په حیثیت د خصوصیت د ذات دده معتبر وای او داډول نه ده بلکه دلته تشبیه د فاعل حقیقي سره په حیثیت د عنوان ددغه مفهوم کلي (قادر مختار) معتبر دی لهذا اوس تباین نسته.

صفحه نمبر ۶۳:

حاشیه نمبر ۶: دلیل په دې خبره باندي "چې نداء و هامان ته دې لره وأجیونکي ده چې خطاب او امر په بناء سره هم و ده ته سي" دادی چې د مخاطب متعدد والي په یوه کلام کې بېله تثنیې او عطفه جائز نه دی؟

سوال: کښه دامر و هامان ته په دې صورت کې جائز دی چې د فرعون په قول سره "**ابن لي صرحا**" امر په جوړولو سره د مانې و عملې ته سي. لهذا معنې داسوه "**يا هامان أومر العملة بان يبنوا لي صرحا**". نو اوس په دغه وخت کې نداء هامان او خطاب ده ته سو؟

جواب: په دغه وخت کې آيت دليل لپاره د مجاز عقلي کېدو څخه خارجيږي. ځکه امر دبناء جوړولو و هامان ته اسناد د شي و ما هو له ته دی. نو آيت په مجاز لغوي کې داخل سو. او حال داچې زمونږ خبره دلته په مجاز لغوی کې نه ده. بلکه زمونږ خبره په دې کې ده چې چيرې مسند په خپل حال باندې باقي پاته سي اوداډول تصرف په هغه ضمير کې وسي چې هغه و هامان ته راجع دی چې مراد په ضمير سره عمله سي نو بيا امر په بناء سره و هامان ته لازم سي.

حاشيه نمبر۸: **سوال**: مرګ لره د سبعيت دعوی کول او انکار د دې څخه کول چې مرګ پر ته د سبع بل څه نه دی دغه دعوی کول په اسم سره د مشبه د تصريح کولو سره منافات لري لکه "**منية**". ځکه دغه کامل اقرار په دې خبره سره دی چې مرګ مرګ دی او درنده نه ده داډول چې مراد په مرګ سره داسې معنې چې پرته د موضوع له څخه وی نه ده؟

جواب: متکلم لکه څه ډول مرګ زمری ګرزوی او دعوی د دې خبری کوی چې مرګ پرته د زمر ي څخه بل څه نه دی دغه ډول متکلم نوم د مشبه هغه اسم ګرزوی چې هغه لپاره د مشبه به وو. او اسم د مشبه مرادف د اسم حقيقي سره د مشبه به ګرزوی يعني څه وخت چې متکلم د دې خبر ي دعوی وکړه چې سبع لره دوه فرده دي.[۱]: متعارف: هغه فرد چې په مخصوص شکل او په غا يت جرأت او زور پرتيا کې دی.

[۲]: غير متعارف: هغه فرد چې ده لره دغه جرأت وی خو ده لره دغه مخصوص شکل نه وی نو متکلم د دې دعوی وکړه چې هغه لفظ چې په سبع کې استعمال ليږي هم په دوه قسمه دی.

[۱]: حقيقي سبع لره وضعه سوی وی. [۲]: ادعائي سبع لره وضعه سوی وی. لهذا بناء په دغه لفظ د سبع او د منية لکه مترادفين داسې وګرزېده. لهذا په دغه وخت کې په نامه سره د مشبه تصر يح کول د ذکر سوی ادعاء سره منافات نه لری.

صفحه نمبر ۶۴:

Maktaba Tul Ishaat.com

حاشیه نمبر۲ : سوال:د هغه اعتراض خلاصه چې په مذهب د سکاکي په بحث کې د استعارې بالکنایه واردیدی داده چې د مثال په توګه لفظ د منیة په معني موضوع له کې په طریقه د تحقیق په دغه وخت کې استعمالیږی،لهذا بیا د منیه لفظ په هغه استعاره بالکنایه کې درج نسو کوم چې دده په وړاندې مجاز ده ځکه ده مجاز و مرسل او مستعار ته تقسیم کړی دي او بیا یې استعاره و مصرحه او مکنیې ته ویشلېده. لهذا مکنیه یو قسم د استعاره ده او استعاره بیا یو قسم د مجاز ده او دغه بیا معلومه خبره ده چې قسم (مکنیه)د قسم (استعاره) د شي (مجاز) قسم ددغه شي وی. نو مکنیه د مجاز یو قسم سوه. لهذا مرګ لره د سبعیت ادعاء کول (چې سکاکي یې وکړی) فائده نه رسوی. ځکه دغه ادعاء مرګ منیه د معني مو ضوع له څخه حقیقتا نه باسي حتي چې بیا استعمال په غیر موضوع له کې سي؟

جواب: ذکر سوې ادعاء مرګ د موضوع له والي څخه باسي ځکه هغه شي چې د موضوع له څخه وتلي نه وی او په د

ه سره یو خارجي شي معتبر سي نو دغه ، شي د موضوع له والي څخه باسي. نو لفظ د منیه یه پرته کې د موضوع له(موت) استعمال سو.

حاشیه نمبر۳: بناء په ادعاء د سکاکي (کوم شي چې قوم مجا زعقلي بولي هغه زما په وړاندې په استعاره بالکنایه کې داخل دی) حاصل دده د استدلال دادی چې هر هغه شي چې قوم یې مجاز عقلي بولي هغه په واسطه د قرینې هغه ذکر مشبه او مراد مشبه به وی . او هر شي چې دغه ډول وی هغه استعاره بالکنایه وی نو دغه استعاره بالکنایه ده لهذا نتیجه داسوه چې مجاز عقلي په وړاندې د قوم استعاره بالکنایه په وړاندې د سکاکي وی.

د مصنف د اعتراض حاصل بیا تر دې ځای یې پوری "فیه نظر" منعه د ذکر سوی قیاس د صغری ده. او دغه قول د مصنف د طرف څخه دا ډول نقض اجمالي دی چې د سکاکي دلیل سره د تخلف د مدلوله په هغه مجاز عقلي کې جاری کیږي چې په هغه کې طرفین د تشبیه ذکر وي. ځکه دغه مجاز عقلي استعاره بالکنایه نه ده. ځکه د تشبیه د طرفینو ذکر مانع د حمل څخه د کلام (په اقرار سره د سکاکي) دّی په استعاره باندې. والله اعلم بحقیقة الحال

تمت بالخیر

د مؤلف نورى علمي ملغلرى:

اشرف العطايا شرح اصول الإفتاء لمحمد تقي العثماني (اردو / پښتو)

علم الكلام:

اشرف العطايا شرح شرح العقائد
اشرف العطايا شرح الخيالي

علم المعاني:

اشرف العطايا شرح مختصر المعاني
اشرف العطايا شرح المطول

علم النحو:

اشرف العطايا شرح نحومير
اشرف العطايا شرح هداية النحو
اشرف العطايا شرح كافية
اشرف العطايا شرح ملا جامي رحمه الله
اشرف العطايا شرح ملا غفور

علم المنطق:

اشرف العطايا ايساغوجي
اشرف العطايا شرح مير ايساغوجي
معصوم البيان شرح بديع الميزان
اشرف العطايا كنديا

المواعظ:

الدرر الغالية
اسلامي زندگي (اردو)
اسلامي ژوند

علم الحديث

اشرف العطايا ترجمه مع مختصر تشريح للبخاري
اشرف العطايا ترجمه مع مختصر تشريح للترمذي
اشرف العطايا ترجمه مع مختصر تشريح للمسلم

اصول الفقه:

اشرف العطايا شرح اصول الشاشي
اشرف العطايا شرح نور الانوار
اشرف العطايا شرح حسامي
اشرف العطايا شرح مسلم الثبوت
اشرف العطايا التوضيح و التلويح

علم الفقه:

اشرف العطايا شرح القدورى
اشرف العطايا شرح كنز الدقائق
اشرف العطايا شرح الوقاية (پښتو)
اشرف الرواية شرح شرح الوقاية (اردو)
د حج مناسک
د لمانځه احكام
د روژې احكام

د تخصص في الفقه كتابونه

اشرف العطايا شرح رسم المفتي (اردو / پښتو)
اشرف العطايا شرح مقدمة الشامي (اردو / پښتو)
اشرف العطايا شرح الاشباه و النظائر لابن النجيم المصرى رحمه الله (اردو / پښتو)

Maktaba Tul Ishaat.com